امثال تمرین ضوابط ترکیب تخصیص عبارت ترجمه

# انوار النمیر

پښتو شرح د

# نحو میر

تالیف


مولانا نور محمد مدقق

فاضل جامعه امداد العلوم پشاور ووفاق المدارس ملتان پاکستان



مکتبہ فاروقیہ محلہ جنگی پشاور

0300-9007550
0300-5999052
0333-9268900

ترجمہ عبارت تشریح ترکیب ضوابط تمرین امثال

# انوار النمیر

د پښتو شرح

# نحو میر

تالیف




مولانا نور محمد مدقق

فاضل جامعہ امداد العلوم پشاور

وفاق المدارس ملتان پاکستان





مکتبہ فاروقیہ

عقب قصہ خوانی بازار

محلہ جنگی • پشاور فون: 217181

باسمه تعالیٰ

اَللّٰهُمَّ

رَبِّ یَسِّرْ وَلَا تُعَسِّرْ وَتَمِّمْهُ
بِالْخَیْرِ لَا بِالشَّرِّ یَا فَتَّاحُ
وَبِكَ نَسْتَعِیْنُ

انی احمد الله العلی الاکرم . علی المرسل رحمة للعلمین واماماً للمتقین وقدوة للعلمین الذی علم بالقلم . علم الانسان ماله یعلم . ثمَّ اتبع ذلك بالصّلوة والتّسلیم لمحمد النبی الامّی والرّسول العربی وعلی آله الهادین الرّافعین لقواعد الدّین . امّا بعد!

هرطالب علم چه شروع کوی په یوعلم کښے هغه لره لا بُدی وی دَ معرفت امور سبّعه نه (١) تعریف دَ هغه علم (٢) موضوع دَ هغه علم (٣) غرض دَ هغه علم (۴) شرافت دَ هغه علم (۵) داضع دَ هغه علم (٦) تدوین دَ هغه علم (٧) احوال دَ مصنّف دَ ماتن .

او س تفصیل دَ دے بیان داده چه علم نحو په لغت کښے څه ته وائی ؟ . (جواب) علم نحو په دیر ومعانیو سره راغلے ده (١) قصد او اراده سره لکه یقال نحوت هذا نحواً ای قصدت قصداً (٢) جهت من نحو البیت عامدات (٣) مثل یقال هذا نحوه ای مثله (۴) نوع یقال هذا علی اربعة انحاء ای انواع (۵) طریق

ای هذا النحو السوی ای الطریق المستوی (۶) فصاحت یقال ما احسن نحوك فی الکلام (۷) صرف یقال نحوت بصری الیه ای صرفتُ صاحب شمه (۹) معانی ذکرکری دی . او صاحب دَامام الاذدی دانی . دَ نحوی دَ پارۀ (۷) نومونه دی لکه مبارك عالم فرمائی خو دَ شعر په واسطه (للنحو سبع معانٍ قد اتت لغةً . جمعتها ضمن بیت مفرد کملاً . قصد و مثل و مقدار و ناحیة . نوع و بعض وحرف فاحفظ المثلاً .) (او علم نحو په اصطلاح کښے) هو علم باصول یعرف بها احوال اواخر الکلم الثلث من حیث الاعراب والبناء مع کیفیة ترکیب بعضها مع بعض

(سوال) تعریف دَ علم لرۀ ولے لا بدی دہ ؟ (جواب) که تعریف دَ علم نحو ك ونه پیژنی طلب دَ مجهول مطلق به را شی او طلب دَ مجهول مطلق دا باطل دہ من کل الوجوہ یعنی حد تام سرہ هم رسم تام سرۀ هم حد ناقص سرہ هم رسم ناقص سرۀ . ځکه چه تعریف دیته وائی چه دا به من کل الوجوہ انسان ته معلوم وی ځکه چه تعریف ما یعرف به شئ ته دائی . لکه دَ انسان تعریف په حیوان ناطق سرۀ وشی حد تام دہ . یوا ځے جنس سرہ حد ناقص دہ . جنس بعید فصل قریب سرۀ تعریف وشی رسم تام دہ . او که یوا ځے جنس بعید سرۀ تعریف وشی رسم ناقص دہ . پورۀ تفصیل حُما یوہ رساله دہ په ایسا غوجی باندے (شرح انوار النوری)

## موضوع دَ علم نحو

موضوع دَ علم نحو کلمه او کلام دے . موضوع په لغت کښے کیخودل شوی ته وائی او په اصطلاح کښے ما یبحث فیه عن عوارضه الذاتیة . او په علم نحو کښے هم بحث کولے شی دَ عوارضو ذاتیو دَ کلمه او کلام نه .

سوال :- هرکله چه موضوع دَ علم نحو دوہ شو . نو لازم داده چه علم نحو هم دوہ شی ځکه چه قاعدہ داده چه تعدد دَ موضوع مستلزم وی تعدد دَ علم لرۀ . نو بکار داده چه علم نحو هم دوہ شی .

جواب :- تعدد دَ موضوع مستلزم تعدد دَ علم لرۀ هله وی چه په علم کښے بحث شی دَ موضوع متعدد نه په حیثیت دَ مختلف سرۀ نه په حیثیت واحد سرہ او هرکله چه حیثیت دَ واحد سرہ وی نو بیا تعدد دَ علم لرۀ حاجت پاتے نشو .

سوال :- موضوع لره ولے لابدی دہ ؟

جواب :- کہ موضوع دَعلم ځوك ونه پيژنی فرق به نشی کولے په ما بين دَعلم مشروع فيه او غير مشروع فيه ځکه چه امتياز دَعلومو په سبب دَ موضوعا تو سره کيږی نو موضوع دَعلم لره ځکه لابُدی دہ .

## غرض دَعلم نحو

صيانة الذهن عن الخطاء فى كلام العرب اى صيانة الذهن المبتدى

سوال :- غرض دَعلم لره ولے لابدی دہ ؟

جواب :- کہ غرض دَعلم ځوك ونه پيژنی بيا به سعی عبث لاړشی (كُلُّ عَبَثٍ حَرَامٌ) غرض دائی ديته چه مقدمٌ تصوراً موجود دی موخراً . مثال کټ جوړول . تصور دَ سملاستيدو مقدم دی . وجود دَ سملاستيدل به وروسته دی . تفکر اوکړئ څه عجيب حالت انسان بانديے راځی .

## شرافت دَعلم نحو

دَ مدينة العلوم او صاحب دَ مفتاح السعادة فرمائی : چه علم نحو زده کول فرض کفائی دہ . ځکه چه کتاب الله او سنت رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ سَلَّمْ) په استدلال کښے هغه ته احتياج واقع کيږی . دَحضرت عمرؓ نقل دہ (تعلموالنحو کما تعلمون السنن والفرائض) . يو بل قول کښے راځی حضرت ابو بکر صديقؓ فرمائی اعراب القرآن احبُّ الينا من تعلم حروفه . يو بل عالم حضرت علامه ايوب سجستانی فرمائی (تعلموالنحو فانه جمال للوضع وتركه) نومُشت نمونهٔ خرداد بانديے عمل اوشو . خلق ورته سمپل (Semal) وائی . ځکه چه هره کمپنی دخپل جوړ شوی څيز ځ (Sempal) نمونه دوکاندارانو وغيره ته بنکاره کوی

## واضع دَعلم نحو

ځوك وائی چه دَ حضرت امير المؤمنين علی کرم الله وجههُ نه راغلے دہ . ځکه چه ابوبکر محمّد بن الحسن زبيدیؒ وائی چه په دوره دَ جاهليت کښے خلقو به خپل نطری عادت مطابق بلا تکلف فصيح او بليغ زبان بانديے گفتگو کول . لکن کله چه ظهور دَ مقدس اسلام وشو نو په قولو اديانو بانديے غلبه حاصله شوه . او

مختلف لغات او مختلف لسان یو بل سره خلط شو . اهل عرب خلق دَ خپل لسان د پر لحاظ کوی . او دَ خپل نسب هم د پر لحاظ کوی . دا دَ عربو خلقو عادت دَی . نو نزهة الاولیاء کښې راغلی دی چه یو ورځ حضرت ابو الاسود ظالم بن عمرو بن جندل بن سفیان دوئلی نه روایت دے چه حضرت علی کرم الله وجهه ته حاضر شو . دَ هغه په لاس مبارک کښې څه رقعه وه . ما عرض اوکړو چه حضرت ستا سو په لاس مبارک کښې څه دی . هغه عرض وکړ چه ما په کلام دَ عربو کښې غور وکړ چه دَ عجمو خلقو دَ خلط دَ وجے نه عربی کلام کښې تغیرات راغلی دی . نو ما څه اصول منضبط کړی دی . نو تاسو هغه طرف ته رجوع اوکړئ . نو دغه خرابی ازاله اوکړئ . نو حضرت الاسود وائی ما هغه رقعه واخسته . حضرت علی کرم الله وجهه ما ته عرض وکړ چه دوئ سره نور هم قواعد جمع کړه . ما هغه رقعے ته چه وکتل صرف دا خبرے لیکل شوے وے ( الکلام کله ثلاث اسم وفعل وحرف فالاسم ما انباء عن المسمّٰی والفعل ما انبی به والحرف ما افاد معنیً )

ابو الاسود دوئلی نه چا سوال اوکړ ( امن این لک هذا النحو قال لفقت حدوده من علی بن ابی طالب ) -

## طبقات دَ نحات

دَ حضرت ابو الاسود دوئلی نه بعد دَ هغه تلامذه ( *students* ) په تدریج سره دے علم ته ترقی ورکړه . لږه زمانه بعد ابو عمر بصری او دَ هغه شاګرد خلیل بن احمد دغه علم منضبط ، مرتب او مهذب کړ . او دَ خلیل مشهور شاګرد سیبویه بیا په علم نحو کښې یو جامع کتاب دَ ( الکتاب ) په نامه ولیکه -

(۱) عنبه بن معدان المعروف بعنبة الفیل متوفی ۹۳ھ (۲) میمون الاقرن متوفی ۱۰۰ھ . دا دواړه دَ ابو الاسود دوئلی مشهور شاګردان دی (۳) ابو البحر عبدالله بن ابی اسحق حضرمی متوفی ۱۱۷ھ عربیت او قراءت کښې امام وو - امام یونسؒ نه چا تپوس اوکړ دَ هغه دَ علم په باره کښې نو وے فرمائیل دریاب او دَ هغه

---

سلہ ظالم ظلم وائی چه دا دَ یو ے علاقے قوم دے چه خاقو به ژر ندی لونړه خبنول

علم برا بر دی (۳) ابو سلیمان یحیٰ بن یعمر عدوانی متوفی ۱۲۹ھ تابعی دے او دَ ابو الاسود دوئلی شاګرد وه. او دَ اهل بیت خصوصی تفضل قائل وه۔
(۵) عطاء بن ابی الاسود متوفی ۱۳۰ھ

## دوهم طبقات دَ نحات

(۱) ابو عمر عیسیٰ بن عمر ثقفی متوفی ۱۴۹ھ چه په عربیت، نحو او قرائت کښې ډیر عظیم عالم وو. دوه ذخیم کتابونه الاکمال او الجامع ئے لیکلی دی. څکه چه خلیل بن احمد نحوی دَ هغوی متعلق وائی:

ذهب النحو جمیعًا کله غیر ما احدث عیسیٰ بن عمر
ذاك اکمال وهذا جامع للناس شمس قمر

(۲) ابو عمرو بن العلاء بن عمار بن عبد الله بن الحصین التمیمی المازنی متوفی ۱۵۴ھ (۳) ابو عبد الرحمٰن خلیل بن احمد بصری فراهیدی متوفی ۱۷۰ھ (۴) ابو بشر عمرو بن عثمان بن قنبر معروف بسیبویه متوفی ۱۸۰ھ. دَده کتاب (کتاب سیبویه) علم نحو کښې بے مثاله کتاب دے. لکن شاه صاحب یعنی شاه انورشاه کشمیریؒ په فیض الباری شرح البخاری کښې لیکلی دی. چه علم نحو کښې بهترین کتاب څما په نظر دَ رضی صاحب کتاب چه دَ رضی په نامه مشهور دے (۵) ابو الحسن علی بن حمزه کسائی متوفی ۱۸۹ھ (۶) ابو ذکریا یحییٰ بن زیاد الفراء الکوفی متوفی ۲۰۷ھ چه په کوفه کښې په لغت او ادب کښې زیات واقف سړے وه.

## دریم طبقات دَ نحات

(۱) ابو الحسن سعید بن مسعده مجاشعی معروف په اخفش بانده متوفی ۲۱۵ھ یا ۲۲۱ھ په بصرة کښې ممتاز نحو کښے عالم وُو. صاحب کشف الظنون په علم نحو کښے دَده یو کتاب ذکر کوی (الاوسط) په نامه (۲) ابو عمر صالح بن اسحٰق جرمی متوفی ۲۲۵ھ (۳) ابو عثمان بکر بن عثمان المازنی البصری متوفی ۲۴۸ھ دَ کتاب نوم ئے دے (علل النحو) (۴) ابو العباس محمد بن یزید معروف بالمبرد بصری متوفی ۲۸۵ھ په علم نحو کښے دَده کتاب دے (المقدمه) (۵) ابو العباس احمد بن یحییٰ معروف بالثعلب متوفی ۲۹۱ھ په علم نحو کښے دَ کتاب نوم دَے (الاوسط)

(۶) ابو اسحٰق ابراهیم بن محمد بن السری بن اسهل معروف بزجاج نحوی متوفی ۳۱۱ھ (۷) ابوبکر محمد بن السری بن سهل معروف بابن السراج متوفی ۳۱۶ھ (۸) ابوالحسن محمد بن احمد معروف یا بن کیسان بغدادی متوفی ۳۲۰ھ په علم نحو کښے ئے دوه کتابونه المهذب او علل النحو لیکلی دی.

## شلورم طبقات د نحاتو

(۱) ابوجعفر احمد بن محمد معروف په نحاس بانلے متوفی ۳۳۸ھ ده په علم نحو کښے دوه کتابونه (التفاحه - الکافی) لیکلی دی. (۲) ابوالقاسم عبدالرحمن بن اسحٰق زجاجی متوفی ۳۳۹ھ د کتاب نوم ئے دے (الجمل الکبیرة) (۳) محمد بن مرزبان متوفی ۳۴۵ھ (۴) ابومحمد عبدالله بن جعفر معروف بابن درستویه الفارسی بانلے متوفی ۳۴۷ھ د ده د کتاب نوم دے (الارشاد) سوچ اوکړئ (۵) ابوسعید حسن بن عبدالله المرزبان معروف په سیرافی سره متوفی ۳۶۸ھ په دغه تولوعلوموکښے بهترین علم علم نحو ده تذکرا وکړی (۶) حسین بن احمد معروف بابن خالویه همدانی متوفی ۳۷۰ھ (۷) ابوعلی حسن بن احمد بن عبدالغفار الفارسی متوفی ۳۷۷ھ (الایضاح) ئے د کتاب نوم دے (۸) ابوالحسن علی بن عیسٰی الرمانی متوفی ۳۸۴ھ (۹) ابوالفتح عثمان بن جنی الموصلی متوفی ۳۹۲ھ -

دا ټو طبقات د نحویانو - هر نحوی په خپله زمانه کښے پوره پوره کوشش کړیدے حتی چه د هغوئ د کتابونو نه مونږ ته علم دا ورسید. لکه شرح جامی، کافیه هدایة النحو، شمه، نحومیر ...... وغیره - اصل حقیقت دا دے چه علم نحو تو عجیب غریب علم دے. الله پاک دے مونږ له دوے علم شوق ذوق زیات کړی. او دغه علم دے په کامله طریقے سره مونږ ته را زده کړی. چه علم نحو د قرآن او حدیث پوهیدا سره داسے ده لکه په باغ کښے اوبه - چه مطرشدید یا مطر نافیل چه باغ ته رسیږی. هم د باغ میوه طریق کوی. نو هر انسان چه علم نحو کښے طریق او معلومات زیات ولری د هغه طریقے او معلومات په قرآن او حدیث کښے زیات کیږی. اصل د دے علم غوجور ولو طریق دیروؤ. لکه چه انسان دیر عاجز شی د معمولی زبر زیر پیش (رفع. نصب. جر. فتحه

ضمه ،کسره ) وغیره سره ډیر و معانیو کښے تغیر او تبدیل راځی . دَ دے وجے نه
علماؤ رحمهم الله په دغه علم کښے زیات کوشش اوکړو او دَ هغې قوانین ئے
منضبط کړه او دَ فخرالمرسلین اُمت ته ئے پیش کړه . چه دا ستاسو دَ آینده
شوند دَ پاره یو دستور العمل علم دے . چه دَ دے په واسطه تاسو به په علومو
کښے شرافت حاصل کړی . دَ خدائے پاک معرفت حاصل کړی . بغیر دَ علم نه
انسان دَ خدا ی پاک معرفت نشی حاصلولے کما حقه
الله پاک دے ما او نورو متعلمین حضراتو ته علم کامل را نصیب کړی ( آمین )

**بعضے شراحو دَ علم نحو اصلیت جمع کول علت باعث دا سے بیان کړیدی**
چه یو شخص حضرت عمر فاروق رض ته حاضری وکړه عرض ئے وکړ چه ( اِنَّ اللّٰهَ
بَرِیٓءٌ مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ وَرَسُوْلَهٗ ) په فتح دَ لام سره هغه په کسرے دَ لام سره
ولوستل وَرَسُوْلِهٖ عطف مشرکین باندے کیږی . او په فتح سره عطف په لفظ
الله باندے کیږی . هغه اسم دَ اِنَّ دے دا هم اسم دَ اِنَّ شو . بَرِیٓءٌ ئے خبر دے
حضرت عمر فاروق ترینه تپوس اوکړو دا درته چا تعلیم درکړیدے . هغه عرض
وکړ مدینه منوره کښے ما ته یو بنی آدم دا سے تعلیم را کړے . نو حضرت عمر فاروق رض
ابوالاسود دوئلی را وغوښتلو عرض ئے ورته وکړ چه دَ علم نحو دَ پاره قواعد راجمع
کړه . ځکه چه عربی ژبان کښے په آخر کلمه ضمه په مقام فتحه . فتحه په مقام ضمه
لوستلو سره ډیر تغیر او تبدیل راځی لکه دغه حکایت ته توجه وکړی چه دَ هارون
الرشید او دَ ولید بن عبد الملک زمانے قصه - ولید بن عبد الملک چه عربی
نسل هم وو . او اوله صدئ هجری کښے مشهور خلیفه تیر شویدے نو هغے ته یو اعرابی
غرنی سړی دَ خپل دَ حُوم شکایت کول دَ خلیفه په مخکښے . نو خلیفه عبد الملک
ورته فرمائی مَا شَاْ نُكَ یعنی ستا حال ډیر بد دے . اصل خو دَ ولید مقصد دا وو
چه ستا څه حال دے نو نون نه فتح ورکړه هغه ترجمه غلط شوه چه په تا کے خو
ډیرے خرابئ دی . نو اعرابی ورته عرض کړ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ
زه دَ بدئ نه دَ خدائے پاک نه پناه غوارم . بیا دغه نظاره دَ ولید ورور سلیمان
کتل هغه ورته عرض وکړ اے اعرابی دَ باد شاه دا مقصد دے مَا شَاْ نُكَ ستا

حال ښکنه دے. بیا اعرابی عرض وکړو ظَلَم عَلَیَّ خَتَنِیْ یعنې ځما خوم ماسره ظلم کړیدے.
بیا ولید بن عبدالملک وفرمائیل مَنْ خَتَنَكَ یعنی ته چا سنّت کړے. مقصد دَ
ولید خو دا وُو چه ستا خوم څوك دے. چونکه دَ نون په فتحه ئے وئیلو سره معنٰی بدله
شوه. اعرابی وائی چه زه کوم ځائے یمه یعنی نائی سنّت کړے یم بیا سلیمان دَدے تصحیح
وکړه چه دَ بادشاه مقصد دا دے چه مَنْ خَتَنُكَ نون ته ضمه ورکړه یعنی ستا
خوم څوك دے نو نظر اوکړئ یوه حرکت بدلولو سره څومره معنٰی کښے نقصان راغے
لکه اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ کښے اَنْعَمْتُ عَلَیْهِمْ او وئیلے شی. په ضمه دَ تا سره قصداً کفر
دے. بغیر دَ قصد نه خطره دَ فساد دَ مانځه شته. وَاِذِ ابْتَلٰی اِبْرَاهِیْمَ رَبُّهٗ په
ضمه دَ باء سره فاعل دے دَ ابراهیم دَ پاره. کښے فتحه ورکړے شی بیا به مفعول جوړ
شی. فاعل به ابراهیم شی. مقصد او معنٰی به تول غلط شی. قصداً کفر او بغیر
قصد خطره دَ فساد دَ مانځه ده علی بعض. دغه رنګه اِنَّمَا یَخْشَی اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ
الْعُلَمٰٓؤُا په ضمه دَ همزه دَ علماء سره. په فتحه ده دَ جلالهٗ سره. کښے اللّٰهُ کښے
ته ضمه ورکړے شی او په علماء کښے همزه ته فتحه ورکړے شی بیا مقصد او معنٰی
دواړو ته نقصان راځی. یعنی معنٰی به دا رنګه شی اللّٰه پاك دَ علماء نه یره کوی
دَ یخشی فعل فاعل اللّٰه کیده. علماء به دَ هغے مفعول کیده. حقیقت کښے تقدیم
ماحقه تاخیر فائده کوی حصر اختصاص لره. علماء دا فاعل دَ یخش ده لفظ دَ
اللّٰه مفعول به مقدم ده. دغه رنګه قَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ نو جالوت مفعول به
ده او لفظ دَ داوُد فاعل ده. کښے داوُد دَ مفتوح او جالوتُ مضموم او وئیلے شی
بیا معنٰی داسے راځی چه دَ داوُد علیه السّلام قاتل جالوت وُو. حال دا ده چه په
تاریخ کښے دا نه دی ثابته چه داوُد علیه السّلام قتل شوے وی. دَدے وجه نه
لَا تُعَدُّ وَلَا تُحْصٰی بے شمار په قرآن شریف کښے راغلی دی. نو دَدے وجه نه
ما مشت نمونهٔ خروار یاد کړه. چه څومره ذوق لرئ نو قرآن کښے تفکر وکړئ

# احوال دَ مصنف

دَ ماتن نوم علی بن محمد بن علی دے ۔ په جرجان کښے په شعبان المعظم ۷۴۰ھ کښے پیدا شوے دے ۔ دَدے وجه نه دیته جرجانی وائی ۔ او په شیراز کښے اوسیدلو ۔ اودَ نسب په لحاظ سره دَدے تعلق دَ سادا تو خاندان سره دے نو دَدے وجه نه دیته سید شریف او سید سند او میر هم ویلے شی ۔ اودَ میر په نامه دَدے بعض کتابونه هم مشهور دی ۔ لکه (نحو میر ۔ صرف میر میرقطبی ۔ میرایساغوجی ) دَ پنځو سوونه زیات کتابونه ئے لیکلی دی په مختلفو علومو کښے او مختلفو بوکښے ۔ اودَ تیمور لنګ په زمانه کښے تیر شوے دے ۔ تیمور لنګ سره سمرقند ته هم لاړو ۔ نو دغه زمانه کښے تیمور لنګ سره په دربار عالیه کښے علامه تفتازانی صاحب دَ مطول اودَ مختصر المعانی هم موجود وو ۔ دغه دواړه عالمانو کله کله به علمی بحثونه هم کول ۔ نو تیمور لنګ به دَ میر صاحب دَ نسب دَ وجه نه ډیر لحاظ کولو ۔ دَ تیمور لنګ دَ وفات نه بعد میر صاحب بیا شیراز ته لاړو او په (۶) دَ ربیع الاول په ۸۱۶ھ دَ (۷۵) کالو په عمر کښے او (۷) میاشتے شلوار لسمي ورځے دَ پاسه دَ چهار شنبے په ورځ وفات شو په درس نظامی کښے دَدے کتاب هم معتبر دے ۔ اودَ وفاق المدارس په نصاب کښے هم دَدے کتاب یو ممتاز حیثیت لري ۔ لکن کتاب دَ نحو میر په فارسی ژبه کښے لیکل شویدے ۔ فارسوانان علماء او طلباء بښه استفاده ورنه کولے شی ۔ لکن څوبنږ پښتانه ورونړو کما حقه استفاده ورځنے نشی کولے ۔ دَدے وجه نه ما په دغه رساله باندے یوه مختصره شرح و لیکله چه څما عزتمند طلباء کرام به ترے فائده واخلی ۔ حال دا دا چه شروح ډیرلری لکه الفجر المستطیر تاج منیر بسط المنیر وغیره لکن څنے طویل دی څنے مختصر ۔ ماپه خیر الامور اوسطها باندے عمل اوکړو ۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ اَجْمَعِيْنَ اَمَّا بَعْدُ

ترجمه :- په برکت دَنوم دَالله سره چه بے حده مهربان او ډیر رحم والا بادشاه دے زه دا کتاب شروع کوم -

ټوله ثنا دَهر ثناویونکی نه په هره زمانه کښے چه دے ثناوانی دا به ثابت دی الله لره - دا سے الله چه رب دَعالم ده - او ښه انجام دَآخرت خاص متقیانولره ده - فیضان دَالله دے او سلامتیا دے دی په هغه بهترین دَ مخلوق باندے چه نوم ئے پاك محمد دے - او دَده په آل باندے هم او په ټولو صحابو باندے هم -

## تشریحات

سوال :- دَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ نه مصنفؒ ولے ابتداء اوکړه ؟

جواب :- دَ اووه وجوهاتو نه ئے ابتداء په بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سره اوکړه ·
(۱) موافقت ئے اوکړو دَکتاب الله سره (۲) موافقت ئے وکړو دَحدیث مشهوره سره چه (كُلُّ امرذي بال لم يبدء فيه ببسم الله فهوا بتر (۳) موافقت ئے اوکړو دَ کتبو دَ سلفو صالحینو سره (۴) بسم الله ئے ذکر کړه دپاره دَحصول د تبرك لپاره (۵) بسم الله ئے ذکر کړه لپاره دَدفع دَ وسوسے دَ شیطان (۶) بسم الله ئے ذکر کړه دَپاره دَ تزین دکتاب چه کتاب خائسته شی (۷) بسم الله ئے ذکر کړه دَپاره دَ تقویت دَ قلب چه خما زړه قوی شی -

سوال :- دا خو په بسم الله سره شروع شو - په با الله سره خو شروع نه ده شوے

جواب :- که با الله سره ئے شروع کړے وے بیا به فرق نه راتلو په مابین دَقسم او دَ یمین کښے - ځکه چه دَ مصنف مقصود دلته تیمن ده نه قسم یعنی برکت مقصد دے نه قسم - ځکه ئے با الله سره شروع اونکړه - خلق به وائی چه اول نه مصنفؒ چل

کتاب په سر باندے قسمونه خوری. ځکه مصنف رح په بسم الله سره کتاب شروع کړ.

**سوال :-** اسم خو نه د خدائے پاك نوم نه د رسول الله بیا تبرك ځنګه حاصل شو؟

**جواب :-** دا حقیقت ده چه اسم نه د خدائے پاك نوم ده نه د رسول صلی الله علیه وسلم لکن د دیې د قرب داوستولو د پاره بسم الله سره شروع کړی چه زرق د تبرك د قسم ماشی. او بل لوجه د قرب دا تلر د نوم د الله سره دے باندے هم اثر کړی کل مجلس تاثیر. په بنی د اسم باندے هم اثر شو. اسم کښے دوه منهبه دی. مذهب د کوفینو او مذهب د بصرینو. کوفینو سم شل وادی نه والی او بصرین ناقص داوی سمو نه دالی. هر واحد د پاره طرق شته ده. لکن مذهب د بصرینو اعلی او فوق ده.

**سوال :-** بیا د دے نومونه د الله پاك دلے یاد کړه؟

**جواب :-** مرد ئے اوکړو په مشرکینو باندے. چه هغوی په لات. منات او عزی په نامه کار شروع کولو. ځکه مصنف رح هم په الله. رحمن او رحیم په نامه شروع اوکړه. او بل دا د دے وارد نومونه په یهود دواو نصاری ذکر کښے دینیات مشهود دو. ځکه دغه نومونه ئے ذکر کړه. باقی تفصیل په انوار المبتدی کښے اوکوری.

**قوله :-** په لفظ د الله کښے معرفت د دے خبر وضروری دے (۱) معنی لغوی د لفظ د الله (۲) معنی اصطلاحی د لفظ د الله (۳) وجه د اختلاف. آیا الله اسم جامد دے او که اسم مشتق ده.

الله په لغت کښے معبود برحق ته وائی. او په اصطلاح کښے علم ده د پاره د ذات د واجب الوجود. چه مستجمع دے جمیع صفات کما لیوله. او په اصل د دیکښے اختلاف ده. یو مذهب د امام ابوحنیفه رح دے. بل مذهب د امام ابویوسف رح دے. بل مذهب د سیبویه رح دے. امام اعظم رح وائی چه لفظ د الله غیر مشتق ده. دیکښے تغیر او تبدل نه راځی. ځکه چه ذات د الله منزه ده د تغیر او تبدل نه. دغه دنکه لفظ د الله هم منزه ده د تغیر او تبدل نه. امام ابویوسف رح وائی چه لفظ د الله کښے تغیر او تبدیل راځی. ځکه چه الفاظو کښے تغیر او تبدل راځی. دغه رنګه لفظ د الله هم الفاظ دی. او سیبویه رح وائی چه لفظ د الله کښے تغیر او تبدل

راځي. ځکه چه داالفاظ دی او الفاظو کښې تغیرا وتبدیل راځي. لکن تغیر دَالفاظولره دا مستلزم دَ تغیردَ ذات لره نه ده. لیکن اولٰی مذهب دجمهورو علماؤ دے. چه په لفظ کښې تغیر راځي. ځکه چه لفظ عبادت دے دَ الفاظو نه. او الفاظو کښې تغیر راځي غالبًا. کچرے الفاظو کښې تغیر راشي دا قول الفاظ به مهمل شي اوس صیغه دَالله کښې چه داکومه صیغه ده. صیغه صفت مشبه ده دَباب وَلِهَ. یولِه. دالِهٌ نه چه قیاس ده په عَلِمَ. یَعْلَمُ باندے. معنیٰ ئے ده پناه ورل. اوکه لام کلمه مفتوح شي وَلَهَ یَوْلَهُ نه، دَ فَتَحَ یَفْتَحُ نه شي بیا معنے ئے داده. بے خوده او سرګردان په عشق کښې. لکه عرب وائي: وَالَهَ رجل وَالِهَةَ امرأةً. هغه مفتوح دَلام کلمه وَالَهَ شي. بیا دَ عِشق په معنیٰ سره راځي کما مرّ انفًا چه قیاس شي په سَمِعَ یَسْمَعُ باندے. بنا په دے مذهب باندے اِلٰهٌ په اصل کښې وِلٰهٌ ؤو. واو بدل شو په همزه سره دَوجه دَ ثقل نه چه په واو باندے کسره ده لکه وجوهٌ اُجوهٌ شو. بیا همزه حذف شوه. په عوض کښې الف لام راغے دَپاره دَ تحسین اللاٰهُ شو. اوس دوه حرفه دَیوجنس نه راغلل اول ثاني کښې مدغم شو اَللّٰهُ جوړ شو. یاخو الله مصدر دے. کله په معنیٰ دَ فاعل سره راځي اوکله په معنیٰ دَ مفعول سره. او دلته په معنیٰ دَ مفعول سره دے دَباب لَاهَ. یَلِیْهُ. اِلٰهٌ نه راځي په معنیٰ دَ احتجاب سره راځي نو دا قول ځکه صادق دے چه الله پاک دَ هرچانه په پرده کښې ده. دا اجوف یائي ده. قیاس ده په باب ضَرَبَ یَضْرِبُ باندے. الف لام راغل غیر عوض په اول کښې راوړے شو نو اَللّٰهُ شو. دوه حرفه دَیوجنس نه راغلل. اول په ثاني کښې مدغم شو نو الله شو. او بعض وائي چه دَ تَاَلَّهَ یتألّهُ نه راځي په معنیٰ دَ تضرع سره راځي اوکه هر واحد معنیٰ مذکور چه کوری صادق دے ولے ځکه چه عبادت خلق الله ته کوی. تضرع خلق الله ته کوی. خلق دَ الله قدرت ته حیران دی. او خلقو دَ ستر کونه الله پاک په پرده کښې وی. یا الله په اصل کښې اِلٰهٌ صیغه دَ صفت مشبه ده په وزن دَ فِعَالٌ معنی عبادت کول دی. یا الله په اصل کښې اَلْاِلٰهُ وو په وزن دَ الفعال حرکت دَ همزه نقل کړے شو ماقبل ته همزه حذف شو اَلِلَاهُ شو په وزن

دَ العالَ. دوه حرفه مشترك دَ يوجنس نه رَاغلل حركت دَاول حرفـ وغورځولو اول ساکن ثاني متحرك. اول په ثاني کښې مدغم شو نوالله شو. معنيٰ دده حيران کيدل عظمت دَ باری تعالیٰ ته او تضرع کول شان دَ باری تعالیٰ ته او عبادت کول خالق لايزال ته. داځه بعيدٌ خبره نه ده ځکه چه جمهورو علماؤ دا قول غوره کړې چه په لفظ کښې تغير او تبدل راځي. او ذات دَ باری تعالیٰ کښې نقصان نه راځي

قوله، الرَّحْمٰنِ :- دلته معرفت دَدوه خبرو ضروری ده (۱) صيغه دَ رحمٰن (۲) سوالات او جوابات.

الرحمٰن صيغه دَصفت مشبه ده په وزن دَ فعلان سره په معنيٰ دَ فاعل سره دَ پاره دَ مبالغې. دَ باب دَ رَحِمَ يَرْحَمُ رَحْمًا وَرَحْمَةً وَمَرْحَمَةً نه قياس دے په سَمِعَ يَسْمَعُ باندے په معنيٰ دَ مهرباني کولو سره راځي فَهُوَ رَحْمٰنٌ پس دا ډير مهربان ده. بيا الف لام تعريفي ورباندے داخل شو په وزن دَ الفعلانُ سره الرحمن شو. قاعده داده چه قبل دَ حروف شمسيه وُ نه الف لام تعريفي راځي. نو دغه الف لام تعريفي هم کړځي. دَ جنس دَ حروف شمسيه وُ نه او ادغام يکښې کولے شي نو لام دَ حروفو تعريفي نه دے او راء دَ حروفو شمسيه وُ نه ده. اعلال به دغه رانګه کوے دے سره راء په راء کښې مدغم کړے شوه.

سوال :- الف لام تعريفي ولے کرځي دَ جنس دَ حروفو شمسيه وُ نه ؟

جواب :- الف لام تعريفي په منزله دَ کواکيبو دے او حروف شمسيه په منزله دَ شمس ده. او شمس چه کله بنکاره شي نو ستوری پټ شي او بے نوره شي. ځکه الرَّحْمٰن شو په وزن دَ الفعلان سره. بيا په بسم الله سره متصل شو، همزه په درج کښې ساقطه شوه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ شو. نو او س الف لام په لوستلو کښې ساقط ده او په ليکلو کښې نه دے ساقط عند البصريين وزن دَ بسم الله الرحمٰن بفع العال الفعلان. او عند الكوفيين وزن بع للعال الفعلان. دا شو وزن دَ بِسْمِ اللّٰهِ عند المذهبين.

سوال :- لفظ دَالله ولے مقدم شو په رحمٰن او رحيم باندے ؟

جواب :- الله اسم ذات دے او رحمٰن او رحيم اسمين صفتين دی او ذات

مقدم دی په صفا تو بانـدے . فلاجل ذلك لفظ دَ الله هم مقدم شو په رحمن او رحيم بانـدے.

**سوال :-** بیا رحمٰن ئې ولے مقدم کړ په رحیم باندے ؟

**جواب :-** رحمٰن کښے حروف ډیر دی دَ رحیم نه - العزت للتكاثر

دوهم جواب - رحمٰن کښے مبالغه ډیره ده نسبة دَ رحیم نه . ځکه چه دَ رحمٰن اطلاق بغیر دَ خالق نه په بل چا نه کیږی بغیر دَ اضافت نه . او دَ رحیم اطلاق کیږی په چا بغیر دَ اضافت نه -

دریم جواب - رحمٰن لفظاً خاص ده او معنیٰ عام ده . تعلق دواړو فریقو پورے لرے هم دَ مسلمان هم دَ کافر . او رحیم لفظاً عام ده اطلاق ئې غیر دَ الله نه په بل چا هم کیږی . او معنیٰ خاص ده تر مسلمانانو پورے . هر هغه لفظ چه لفظاً خاص وی او معنیٰ عام وی هغه مقدم وی په هر هغه لفظ باندے چه لفظاً عام وی معنیً خاص .

**سوال :-** لازم خو دا وو چه رحیم ئې مقدم کړے وے په رحمٰن باندے ځکه چه ترقی کیږی ادنیٰ نه اعلیٰ ته . دلته خو ترقی اعلیٰ نه وشوه ادنیٰ ته -

**جواب :-** دا ترقی دَ ادنیٰ نه اعلیٰ ته هغه ځاے کښے کیږی چه موصوف په نهایت وضاحت کښے او کمال نه وی . دلته خو الله موصوف ده په نهایت وضاحت او کمال کښے ده . ځکه رحمٰن مقدم شو په رحیم باندے .

او بل جواب دا ده چه :- دا لفظ دَ خالق نه راغلے په هم دغه کیفیت باندے په هم دغه طریقے باندے ، اصل حقیقت کښے علماء پخپل تحقیق سره ته رسول غواړی په هغے کښے دَ کفارو اعتراضات دفع شی . دَ علماء خلقو ته معلوم شی ځکه چه دَ تولو قیل قلنا اصل جواب دا ده چه (هی جملة نزلت بهذه صفتٍ لاحاجة الی تقدم وتاخرلنا) نو ځکه مونږ اصل موقوف ته پریږودل

**قوله - الرَّحِیْم :-** رحیم هم صیغه دَ صفت مشبه ده په وزن دَ فعیل سره په معنیٰ دَ فاعل سره په باب دَ رَحِمَ . یَرْحَمُ الخ په معنیٰ دَ مهربانی کول فَهُوَ رَحِیْمٌ او دا هم دَ باره دَ مبالغے ده . پس الف لام تعریفی ور باندے داخل شو په تا نون سابقه سره مدغم شو . الرَّحیم شو بیا بسم الله سره متصل شو . همزه په درج کښے

ساقطه شوه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ شو.
مکل وزن عند البصرين بِفِعِ الْعَالِ الْفَعْلَلَنِ الْفَعِيْلِ - عند الکوفيين بِعُلِ الْعَالِ الْفَعْلَانِ الْفَعِيْلِ شو.

**سوال:** - بِسْمِ اللّٰه الخ په لغت کښے څه ته وائی؟
**جواب:** - بِسْمِ اللّٰه په لغت کښے نوم دَ خدائے ته وائی. او په اصطلاح کښے. (هيئة مرکبة من اسماء ثلاثة) دا هغه الفاظ دے چه په حضرت ادم علیه السلام بانذے نازل شوے دو. په اول مرحله کښے

## ترکيب دَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

باء په بسم اللّٰه کښے حرف جاره ده. اسم مجرور ده. جار مع المجرور هميشه دَ فعل يا شبه دَ فعل چه اسم فاعل ده يا اسم مفعول ده. ديته شبه جمله هم وائی. دوئ سره تعلق وی که فعل يا شبه دَ فعل په جمله کښے وی. بيا ديته ظرف لغو وائی. هغه پوے متعلق شی. که په جمله کښے نه وی نو بيا موقع مناسب فعل يا شبه دَ فعل ورته فرض کړے شی. هغه ته بيا ظرف مستقر وائی. دلته اوس دَ موقع مناسب اشرع پکار ده. ځکه چه کتاب شروع کيږی اشرع باستعانت اسم اللّٰه الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ داباء دَ باره دَ استعانت ده په مدد دَ اسم دَ اللّٰه سره. دا سے اللّٰه چه نهايت مهربان او رحم والا ده. اوس تعلق دَ جار مجرور کښے اختلاف ده عند البصرين والکوفيين.
با حرف جار اسم مجرور مضاف لفظ دَ اللّٰه مضاف اليه موصوف. الرحمٰن صفت اول الرحيم صفت ثانی. موصوف چه لفظ دَ اللّٰه ده سره دَ صفتينو چه الرحمٰن او الرحيم ده دا مضاف اليه شو دَ پاره دَ مضاف چه اسم ده. مضاف سره دَ مضاف اليه مجرور شو دَ پاره دَ جار چه باء ده. جار سره دَ مجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نيسی ترابتدئ يا اشرع فعل مؤخر پورے. دا مذهب دَ بصريينو ده چه متعلق دَ جار مجرور فعل به وی مؤخر به وی. ځکه چه اصل په عمل کښے فعل بيا ابتدء يا اشرع صيغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم چه ابتداء باب دَ افتعال نه ده او اشرع باب دَ فتح يفتح نه ده ضمير پکښے مستتر چه تعبيرئے کيږی په انا سره هغه ئے فاعل. فعل سره دَ فاعل او

سره دَ متعلق نه چه بسم الله الخ دَه داجمله فعلیه خبریه شوه صورةً انشائیه معنیً دَه . او په مذهب دَ کوفیانو متعلق دَجارمجرور اسم به وی مقدم وی. تقدیر دَعبارت به دا رنګ شی ابتدائی ثابتٌ بسم الله الخ ابتداء مضاف یای ضمیرمتکلم مضافٌ الیه دا مبتداء شوه .ځکه چه هغوئ وائی اسم به وی مقدم وی ځکه مبتداء مقدم وی معرفه به هم وی ځکه چه اضافت دَپاره دَ معرفه هم راځی. ثابت صیغه دَاسم فاعل دَه باب دَ نَصَرَ یَنْصُرُ نه ثَبَتَ یَثْبُتُ ثابت کښے ضمیر دَه چه تعبیر قرینه کیږی په هُوَ سره هغه ئے فاعل شو . مضاف مع مضاف الیه تعلق ئے پیدا شو ثابتٌ پورے . ثابتٌ صیغه دَاسم فاعل سره دَفاعل نه چه هو دَه اوسره دَ متعلق چه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ دَه داجمله اسمیه خبریه صورةً انشائیه معنیً . ذیات تفصیل ددے په مطولاتو کښے کتل پکار دی. لیکن بعضے ضروری خبرے لیکل ضروری دَه .

مثال په الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ کښے احتمالات تسعه دی. سبْع احتمالات جائز او دوه احتمالات ممتنع دی . (۱) ممتنع چه الرَّحْمٰنَ منصوب شی بنا برمفعولیت دَپاره دَاعنی یا اَمْدَحُ دَپاره او الرَّحِیْمِ مجرور شی بنا برصفتیت دَپاره دَلفظ الله نولفظ دَالله خومجرور دَی بنا براضافت دا موصوف شو او الرحیم هم مجرور شی بنا برصفتیت . نوصفت او موصوف کښے مطابقت ضروری وی خلور شی پو دلښ اشیاؤ نه . تقدیر دَعبارت به دا رنګ شی بِسْمِ اللّٰهِ اَعْنِیَ الرَّحْمٰنَ الرَّحِیْمِ دا احتمال جائز نه دے ځکه چه موصوف چه لفظ دَالله دَه اوصفت چه لفظ دَالرحیم دَه .فصل راغے په مابین دَصفت اوموصوف کښے په اعنی الرَّحْمٰنَ سره .حال دا دَه چه په مابین دَصفت او موصوف کښے اتصال وی نه انفصال دلته خو انفصال راغے (۲) دویم احتمال هم ناجائز دَه یعنی ممنوع دَه . هغه دا دَه چه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمِ کښے لفظ الرحمٰنُ مرفوع شی بنا برخبریت دَپاره دَ مبتداء محذوف چه هو دَه . نو هو ضمیر به مبتداء شی او الرَّحْمٰنُ به ورته خبر شی. تقدیر دَعبارت به دا رنګ شی بِسْمِ اللّٰهِ هُوَالرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمِ نو مبتداء سره دَخبر نه داجمله اسمیه خبریه او الرحیم مجرور صفت واقع شی دَپاره دَ الله نو

صفت او دَ موصوف اعراب شريك دی . مبتدأ او دَ خبر اعراب شريك دی نو موصوف مجرور ده او صفت هم مجرور ده . مبتداء مرفوع ده خبر هم مرفوع ده . نو په مابين دَ صفت او موصوف کښې فصل راغے . بيا اتصال ضروری دے او دلته انفصال راغے . انفصال بين صفت والموصوف غير جايز دا هم ممتنع شو دوه ساقط شو . احتمال سبع باقی پاتے شو .

## احتمالات سبع جايزه

(١) اول احتمال دَ جواز چه الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ دواړه منصوب دی بنا بر مفعوليت فعل محذوف ده چه اَمْدَحُ يا اَعْنِيْ ده . نو فعل مذکور مع فاعل او الرَّحْمٰن او الرَّحِيم به ورته مفعولين شی . نو فعل مع فاعل مع مفعولين دا جمله فعليه خبريه شوه . تقدير دا سے شو بِسْمِ اللّٰهِ اَعْنِی الرَّحْمٰنَ الرَّحِيمَ .

(٢) دويم احتمال دَ جواز چه الرحمٰن مجرور شی بنا بر صفتيت او الرَّحِيمَ منصوب شی بنا بر مفعوليت اعنی دَ پاره . نو دا به جمله فعليه خبريه شی حکه چه اعنی فعل انا فاعل الرحيم ورته مفعول شو . فعل سره دَ فاعل او سره دَ مفعول دا خو جمله فعليه خبريه وی . الرحمٰن خو مجرور دو دَ پاره دَ صفتيت دَ لفظ الله نه نو تقدير دَ عبارت به دا رنګه شی بسم الله الرحمٰن اعنی الرَّحِيمَ

(٣) دريم احتمال دَ جواز چه الرَّحْمٰنُ الرَّحِيمُ دواړه مرفوع شی بنا بر خبريت او مبتدا او ورته محذوف ده چه هُوَ ده . نو تقدير دَ عبادت به دا رنګه شی بِسْمِ اللّٰهِ هُوَ الرَّحْمٰنُ هُوَ الرَّحِيمُ . اوله جمله هم اسميه شوه . دوهمه جمله هم اسميه شوه .

(٤) څلورم احتمال دَ جواز چه الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ دواړه مجرور شی بنا بر صفتيت دَ پاره دَ لفظ الله که څرنګه چه موجود دے په کتاب کښې . فتفکر ولا تکسل ولا تکن غافلا

(٥) پنځم احتمال دَ جواز چه الرَّحْمٰنَ الرَّحِيمُ اول منصوب بنا بر مفعوليت ثانی مرفوع بنا بر خبريت . تقدير دَ عبارت به دا رنګه شی بسم الله اعنی الرَّحْمٰنَ هو الرَّحِيمُ اوله جمله فعليه شوه ثانی جمله اسميه شوه .

(٦) شپږم احتمال دَ جواز چه الرَّحْمٰنِ مجرور شی بنا بر صفتيت او الرَّحِيمُ مرفوع شی بنا بر خبريت . نو لفظ دَ الله موصوف الرحمن ورته صفت الرَّحِيمُ

مرفوع خبر شو ۔ مبتداء ورته محذوف چه هو ضمیر ده ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه ۔ تقدیر دَعبارت بِسْمِ الرَّحْمٰنِ هُوَ الرَّحِیْمُ
(۷) اوۀم احتمال دَجواز چه اَلرَّحْمٰنُ مرفوع شی بنابر خبریت ۔ اَلرَّحِیْمَ منصوب شی بنا بر مفعولیت ۔ تقدیر دَعبارات دا رنګه شو ۔ بِسْمِ اللّٰہِ هوالرَّحْمٰنُ اعنی الرَّحِیْمَ

## قوله اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

حمد کښے لابدی ده دَ معرفت دَ امورخمسه وُ نه (۱) بیان دَ معنٰی لغوی او اصطلاحی دَحمد (۲) اقسام دَحمد (۳) بیان اعتراضات (۴) ارکان دَحمد (۵) بیان دَ ذکر دَحمد
اَلْحَمْدُ په لغت کښے هو الثناء باللسان علی الفعل الجمیل الاختیاری علی جهة التعظیم و التبجیل کان فی مقابلة نعمة اولا ۔ او په اصطلاح کښے فعل ینبئ عن تعظیم المنعم بسبب کونه منعماً علی الحامد وغیره ۔
او س تحقیق په معنی لغوی دَحمد کښے چه لسان ذکر شو مراد تری نه کلام ده چه شامل شی قدیم او حدیث کلام ۔
سوال :- دیته خو مجاز وائی ۔ ذکر دَیو شئ وی مراد تری نه بل شئے وی ۔
جواب :- دا هم مجاز ده ۔ خو مجاز کښے بیا مجاز مرسل ده چه ذکر دَسبب وی مراد تری نه مسبب ده ۔ او س کلام اختیاری ځکه ذکر شو اضطراری تری نه خارج شو ۔ ځکه چه هغه مدح ده او حمد نه دے علی جهة التعظیم و التبجیل ذکر شو خارج شو تری نه مسخره ۔ او دَ ذے مقابله کښے شکر دے ۔ شکر په لغت کښے عیناً معنٰی ئے اصطلاحی دَحمد ده ۔ او په اصطلاح کښے شکر صرف العبد جمیع ما انعم الله تعالٰی لما خلق لاجله ۔ دَ دوی په ما بین کښے عموم خصوص من وجه ده ۔ حمد به وی شکر به هم وی لکه مقابل دَ انعام کښے صفت دَ شی په لسان سره حمد ده ځکه چه لسان واسطه سره صفت وشو شکر ده ځکه چه نعمت مقابله کښے ده ۔ شکر به وی حمد به نه وی ۔ مثال یو سړی نا سره احسان اوکړو ته صفت نه کوے لسان سره دَ هغه اطاعت کوے په جوارح سره شکر ده حمد نه دے ۔ حمد به وی

شکر به نه دی. لکه یو انسان تاسره احسان نه وی کړے مفت دَهغے صفت کوے په لسان سره حمد شو شکر نه شو.

## اقسام دَحمد په څلور قسمه دَه

(۱) حمد دَ قدیم قدیم لکه حمد دَ الله جَل جَلالهٗ دَ پاره. دا حمد دَقدیم قدیم دَه
(۲) حمد دَقدیم حادث دَپاره لکه دَالله صفت خپلو خاصو بندګانو ته.
(۳) حمد دَحادث حادث ته لکه زه ستا صفت کوم ته زما صفت کوے.
(۴) حمد دَحادث قدیم ته. لکه مونږ دَ الله پاك صفت کوو.
دَ (۱) اول مثال لکه الله فرمائی: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ
د (۲) دوهم مثال لکه نِعْمَ الْعَبْدُ اِنَّهٗ اَوَّابٌ
د (۳) دریم مثال لکه قُلْنَا زَیْدٌ نِعْمَ الْعَبْدُ
د (۴) څلورم مثال لکه سُبْحٰنَ الَّذِیْ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ

## اعتراضات

اول اعتراض:- الحمد کلام واحد دَه. په دغه کلام واحد کښے تعمیمات ثلاثه یا تعمیمات اربعه څنګه راغلل. (۱) اول تعمیم دَحمد چه دَهر فرد نه وی (۲) دوهم تعمیم دَزمانے (۳) تعمیم دَحامد (۴) عندالبعض تعمیم متعلق دَه.
جواب:- تعمیم دَحمد خو معلومیږی الف لام نه ځکه چه الف لام په دے کښے جنسی یا استغراقی دَه. دغه دواړه وصورتونو کښے عموم بروت دے. اوبل تعمیم دَزمانے معلومیږی. اعتراض کول دَجمله فعلیه نه اسمیه ته ځکه چه جمله اسمیه فائده کوی دوام او استمرار لره. او ثالث تعمیم دَحامد معلومیږی له وجه دَعدم ذکر دَ فاعل دَحمد نه. نو په ترك سره دا تصریح شو په تعمیم دَ حامد باندے. اصل داخبر تا ته معلومیږی په علم المعانی کښے چه تلخیص مختصر المعانی او مطول دی. (۴) رابع تعمیم متعلق معلومیږی مفهوم دَحمد نه چه عدم تعین دَه چه مقابل دَ نعمت وی یا نه وی.
اعتراض:- چه تا داخبره اوکړه چه جمله اسمیه دلالت کوی په دوام استمرار باندے او جمله فعلیه دلالت نه کوی په دوام استمرار باندے ځکه چه هغه دلالت کوی

په تجدد او حدوث باندے . ذه به درته دبنایم چه جمله اسمیه به وی خو دلالت به نه کوی په دوام استمرار باندے . لکه زَیدٌ قَائِمٌ دا جمله اسمیه ده لکن دلالت نه کوی په دوام استمرار باندے .

جواب :- چه نفس جمله اسمیه دلالت نه کوی په دوام استمرار باندے بلکه دا حمله دلالت کوی چه معدول شی دَ جملے فعلیه نه او یا دی سره قرینه موجود وی بیا به دلالت کوی تنها جمله اسمیه دلالت په دوام استمرار باندے نه کوی .

## دَ حمد پنځه ارکان

(۱) حامد (۲) محمود (۳) محمود علیه (۴) محمود به (۵) صفت دَ حمد

سوال :- او س به راته معلوم کړئ چه حامد څوك ده ، محمود څوك ده ، محمود علیه ، محمود به او صفت دَ حمد څه شے ده ؟

جواب :- حامد خو مصنفؒ ده . محمود هغه څوك ده چه دَ هغے ثنا ویل کیږی . لکه دلته محمود الله پاك ده . محمود علیه هغه څه دی چه . دَ هغے په وجه ثنا واقع کیږی . لکه دلته تصنیف دَ کتاب ده . محمود به هغه شے ده چه دَ هغے په واسطه دَ محمود ثنا ویل کیږی . لکه دلته لفظ دَ الحمد لله وغیره خطبه ده . او صفت دَ حمد په جمله الحمد شریف صفت دَ حمد ده . ځکه چه کله الحمد شریف نه وائے لیکل شوے دلته دومره خبره به نه لیکل کیدهٔ دا صرف برکات دَ الحمد شریف دی .

او س تحقیق په دے پکار ده چه محمود به او محمود علیه کله خو په ذات او اعتبار کښے مختلف کیږی . لکه زید په تا احسان وکړ او تا وُرته دَ دے په مقابله کښے زَیْدٌ عَالِمٌ او ویل . او کله به ذات کښے متحد وی او په اعتبار کښے مختلف وی لکه زید په تا احسان وکړ . او تا وُرته دَ دے په مقابله کښے زَیْدٌ کَرِیْمٌ او ویل او س کوم احسان په دے اعتبار سره چه دَ حمد سبب ده محمود علیه ده . او په دے اعتبار سره چه دا دَ صیغے مدلول ده محمود به ده -

اعتراض :- فرق په مابین دَ شکر او دَ حمد کښے څه دی ؟

جواب :- دغه دواړه مینځ کښے دوهٔ فرقه دی . (۱) شکر عام ده په لسان

سره وی اوکه بالجنان سره وی ۰ اوحمد خاص دے صرف په لسان سره وی
(٢) دویم فرق دا دے چه شکر صرف مقابلے دَ نعمت کښے وی اوحمد په مقابل کښے
نعمت وی اوکنه کښے موږ د دَحمد خاص ده صرف لسان سره وی ۔ تعلق
دَ دے عام ده ۔ نعمت دی اوکه نه موږ د دَ شکر عام ده باللسان وی یا بالجنان
وی متعلق خاص ده چه مقابل دَ نعمت کښے وه ۔
اعتراض :- وارديږی چه بسم الله نه بعد ئے الحمد لله و لے ذکر کړه ؟
جواب :- دَ پنځو وجوهو نه ئے ذکر کړه (١) موافقت ئے وکړ کتاب الله سره
(٢) موافقت ئے وکړ دَحدیث مشهور سره چه (کل امر ذی بال لم یبداء
بحمد الله فهو اقطع واجزم (٣) موافقت ئے وکړ دَ کتبو دَ احادیثو سره
(٤) موافقت ئے وکړ عامو کتابونو دَ سلف صالحینو سره (٥) دَ پاره دَ اداء
کولو دَ هغه شکر چه واجب شویدی په مصنفؒ باندے چه علم اوتصنیف دَکتاب دَ
اعتراض :- وارديږی چه الحمد لله ئے وویل ولے ئے لِلّٰهِ الْحَمْدُ ونه ویل
سره دَ دے چه تقدیم دَ صفت په ذات جائز نه دے ؟
جواب :- (١) اول چه کله وصف مختص شی تر دغه ذات پورے . بیا تقدیم
دَ وصف په ذات جائز دے . (٢) تقدیم دَ وصف په ذات جائز ده کله چه
مقصود په بیان سره صرف وصف وی او ذکر دَ ذات صرف دَ دے په تعلق
کښے دی نو دلته ځکه چه وصف مقدم شو چه الحمد ده په ذات چه لفظ دَ الله ده
ځکه الحمد لله او وئیلے شوه لله الحمد ونه ویلے شو ۔ (٣) الحمد مبتداء ده ۔
لله دلته خبر ده ۔ او مبتداء مقدم وی په خبر باندے ځکه دلته الحمد مقدم شو په
لِلّٰهِ باندے ۔
اعتراض :- وارديږی چه مقصود دَ مصنفؒ جوړول دَ کتاب نه دی بلکه ذکر
کول دَ علم صرف دی . دَ بسم الله ، الحمد لله اوصلوٰة اشتغال بمالا یعنی دے او
مصنفؒ عمداً ده ۔ خلاف چه په عمداً کښے یو شی هغه لره لابدی وی دَیوے نکتے
نه دلته څه نکته ده ؟
جواب :- ذکر دَ بسم الله وجوه سابق کښے تیر شو او ذکر دَ الحمد لله او سر تیره

شوه چه دے سره هم تبرك راشي .

**اعتراض :-** واردیږی چه ابتداء خو یو امر بسیط دے په یو باندے راشي په بل باندے نه راشي . ولیکن بسم الله حدیث هم تقاضا دَ ابتداثبت کوی او حدیث دَ الحمد لله شریف هم تقاضا دَ ابتداثبت کوی . دواړو باندے په آن واحد کښے ابتداء نه راشي . نو او س عمل په دواړو احادیثو باندے به څرنګه وشی .

**جواب :-** ابتداء په دوه قسمه سره ده (۱) ابتداء اضافی (۲) ابتداء حقیقی

(۱) ابتداء حقیقی دیته وائی چه مقدم په مقصود اوغیر مقصود وی .

(۲) ابتداء اضافی دیته وائی چه مقدم وی په مقصود اونه په غیر مقصود .

او س ابتداء دَ بسم الله په حقیقی باندے حمل ده مقدم ده په مقصودچه مسائل دَ کتاب دی . او مقدم ده په غیر مقصود چه هٰذا الحمد لله اوصلوٰة ده او ابتداء دَ اضافی مقدم وی په مقصود چه مسائل دَ کتاب دی . نه به وی مقدم په غیر مقصود چه بسم الله ده .

**اعتراض :-** واردیږی چه بسم الله دلے حمل شوه په ابتداء دَ حقیقی باندے . او الحمد لله حمل شوه په ابتداء دَ اضافی باندے .

**جواب :-** (۱) په بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ کښے نوموته دخدائے پاك زیات دی . العزت لتکاثر (۲) بسم الله کثیر الاستعمال ده نسبتًا دَ الحمد لله نه (۳) بسم الله صرف تبرګا ذکر کړه او الحمد لله په مقابل دَ نعمت کښے ذکر کړه صرف تبرك نشو لیکن دَشکرو بیستل مقصود شو (۴) جواب عند نا داده چه بسم الله هم مقصود ده او الحمد لله هم مقصود ده ځکه ئے بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ذکر کړه دَ اوّل وجوهونه او الحمد لله ئے ذکر کړه دَ څلورو وجوهونه . بیاموافقت دَ خدائے کتاب سره دغیر مقصود وی حدیث سره موافقت دَغیر مقصود دے اصل جواب زما په خاطر راځی هغه داده چه : بِسۡمِ اللّٰهِ هم مقصود ده او الحمد لله هم مقصود ده . خو دے مقصود کښے فرق دے (۱) یو مقصود دَ مسائل دی . یو مقصود دَ تبرك وی . مقصود دَ مسائل لعیرته وی . مقصود

دَ تبرك خاتمه وي. نو بسم الله الخ او الحمد لله دا مقصود دَ تبرك ده
چه نو ماکتاب ذِي بركت شي . او ذكر دَمسائيلو مقصود الى الغيرته ده چه
نو ماكتاب نه خلق استفاده واخلي.
اوس تحقيق دا شو کله چه نسبت دَ كتاب مصنفٌ ته شي بيا بسم الله او الحمد لله
ذكركول هم مقصود شو. او كه نسبت دَ كتاب غير ته شي بيا به مسائيل مقصود
وي نه بسم الله او الحمد لله. دلته اصلي غرض دَ كتاب جوړولو نه مقصود فهم
الى الغير ده نه الى نفس. حکه بسم الله او الحمد لله غير مقصود شو. خو تقديم او تاخير
خبره هغه داده چه موجوده قرآن پاك سره ئې موافقت کړيدے. هغه کښې
بسم الله مقدم دے او الحمد لله مؤخر دے. دلته مصنفٌ هم داکار وکړو. حکه چیل
ذات دَ مصنفٌ ته چه داخلي بيا خطبه کښې څه عجائب غرائب الفاظ ذکرکوي.
(۲) جواب داده چه مصنفٌ به نزد ترڅو چه مسايل نه وي راغلي دا به منزله دَ
ابتداء کښې شامل وي. (والله اعلم بالصواب)

## ترکيب دَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

الحمد مرفوع لفظاً مبتداء لِلّٰهِ لام جار اَللّٰهِ مجرور. جارمع المجرور دا
ظرف مستقر تعلق نيسي ترثابتٌ مقدره پورې. ثابتٌ صيغه دَ اسم فاعل ضمير
پکښې مستتر ده چه تعبير ترينه کيږي په هُوَ سره هغه ورته فاعل. اسم فاعل
سره دَ فاعل نه او سره دَ متعلق نه دا شبه جمله خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه الحمد ده
مبتداء سره دَ خبرنه جمله اسميه خبريه: دا يو ترکيب.
دوهم ترکيب دېکښې دا سے راځي. الحمد مرفوع لفظاً مبتداء لام حرف جر لفظ
الله مجرور موصوف. رب العلمين داورته مجموعه صفت ده. يا لفظ دَالله
مبدل منه رب العلمين ترينه بدل راغلے ده. يا ربُّ العلمين بجمله مرفوع ده
رفع ئے بنا برخبريت ده هو ورته محذوف مبتداء ده -

# قوله رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

دیکښې څلور خبرې ذکر کړل کیږي (۱) رب العلمین نې ولې ذکر کړ (۲) رب څه ته وائي (۳) عالمین څه ته وائي (۴) بیان دَ ترکیب دَه چه رب العلمین په ترکیب کښې څه واقع شوید ے.

اول تحقیق ذکر د رب العلمین د لته دا په منزله دَ دلیل دَ ماقبل دَپاره دَه چه مصنف عَلَیْہِ الرَّحْمَۃ راغې وے فرمایل الحمد لله. قائل راغې اعتراض ئې وکړ چه حمد ولې الله پاك لره دی؟ مصنف دَهغې جواب وکړ ځکه چه دغه الله رب دَ عالم دَه. یعني تربیت ورکونکې دَ عالم دَه. او بل دَ رَبِّ دا مجرور دَه صفت دَ پاره دَ الله دَه. الله خو مجرور دَه لوجه دَ لام نه دا مجرور شو لوجه دَ صفت نه ځکه چه مابین دَ صفت او موصوف کښې مطابقت شرط وی. څلور شئ یو دَ لسو اشیاؤ نه که هغه مرفوع وی صفت به مرفوع وی که هغه مجرور وی صفت به مجرور وی. که هغه منصوب وی صفت به هم منصوب وی. نور وجوه ئې مخکښې تیر شوی دی په ضمن دَ بِسْمِ اللهِ الخ کښې

اوس تحقیق په رب صیغه کښې دَه چه دا رب کومه صیغه دَه. صیغه دَ مصدر دَه. صیغه دَ اسم فاعل. او که صیغه دَ صفت مشبه دَه. پکارے صیغه دَ صفت مشبه شي نو بیا په اصل کښې رَبِیْبٌ دو. وزن دَ فَعِیْلٌ سره. قانون داده چه صیغه صفت مشبه کښې چه تخفیف کوی نو بیا به یکښې حذف شي خلاف القیاس یائے حذف کړه نو رَبْبٌ شو. بیا دَ نورادی قانون ورته متوجه شو چه دوه حرفه دَ یو جنس نه راشي هغې کښې ادغام جائز وی. اول حرف ساکن کړه. بیا اول ساکن ثاني متحرك وی هغې کښې ادغام واجب وی اول په ثاني کښې مدغم کړه رَبٌّ شو. بیا ضمه په کسره باندے بدل کړے شوه لوجه دَ صفتیت دَ الله نه هغه مجرور وو دا هم مجرور شو بیا ربِّ العلمین شو. او که صیغه دَ اسم فاعل شي نو بیا اصل دَدے رابِبٌ وو. رَبَبَ یَرْبِبُ ضَرَبَ یَضْرِبُ باندے قیاس دَه. دَ ثلاثي مجرد

وزن دَ اسم فاعل سره راځي لکه ضَارِبٌ . عَالِمٌ ، مَانِعٌ ، نَاصِرٌ . حَاسِبٌ
فَاتِحٌ . بیا الف اسم فاعل حذف شو خلاف القیاس دَ پاره دَ تخفیف نو رَبٌ شو
بیا دوه حرفه دَ یو جنس نه یو ځانے کښے راغلل دواړه متحرک چه ادغام
پکښے جوازی ده . اول نے ساکن کړو ثانی متحرک پاتے شو . اوس ادغام پکښے
واجب شو . اول نے په ثانی کښے مدغم کړو رَبٌّ شو . بیا ضمه په باندے ثقیله
په کسره سره بدل کړه وجه دَ واقع کیدلو دَ دے صفت دَ پاره دَ لفظ دَ الله . الله خو
مجرور دے دا هم مجرور شو . تنوین وغورزیدلو له وجه دَ اضافت نه ځکه
چه اضافت دلالت په اتصال کوی . تنوین دَلالت په انقطاع کوی . اتصال او
انقطاع نه یو ځائے کیږی . یا پخپل مرفوع حالت کښے پاتے شو صرف تنوین ساقط
شوله وجه دَ اضافت نه . ځکه چه دیکښے اختلاف ده . آیا مرفوع ده یا مجرور
ده یا منصوب ده . درے واړه احتمالات شته . اګرچه مجرور اولیٰ ده عند
فصول اکبری . یا دا صیغه دَ مصدر ده . په اصل کښے دَ رَبْبٌ وو په وزن دَ فَلْسٌ
باندے . بیا دوه حرفه دَ یو جنس نه راغلل اول ثانی کښے مدغم شو وجوبًا
ځکه چه ادغام په درے قسمه سره ده (جوازی - وجوبی - ممتنع ) دَ جوازی
امثال مخکښے تیر شو . دَ وجوبی امثال اوس تیر شو . دَ ممتنع مثال چه اول
حرف ساکن وی ثانی حرف ساکن وی بیا ادغام پکښے ممتنع ده . که دواړه متحرک
وی ادغام جائز ده . اول ساکن ثانی متحرک ادغام وجوبی ده . لکه دلته
مصدر کښے دوه حرفه راغلل اول ساکن ثانی متحرک نو رَبٌّ شو بیا اضافت
دَ وجه نه تنوین ساقط شو یا رَبَّ الْعٰلَمِیْن شو یا رَبِّ الْعٰلَمِیْن یا رَبُّ الْعٰلَمِیْن
شو . درے واړه تعبیره صحیح دی . که مجرور شی صفت دَ الله کیږی . که منصوب
شی مفعول به به شی دَ پاره دَ فعل مقدر چه اَعْنِیْ ده . او که مرفوع شی بیا
خبر کیږی دَ پاره دَ مبتداء محذوف چه هُوَ ده . تقدیر دَ عبارت به داسے لکه شی
الحمد لله رب العلمین په حالت جر کښے الحمد لله هو ربُّ العلمین په حالت دَ
رفع الحمد لله اعنی ربَّ العلمین په حالت نصب کښے ( فتفکر )
سوال ۱ :- چه صیغه دَ مصدر ده . مصدر خو صرف وصف وی . الله خو ذات

دہ . حمل دَ وصف په ذات باندے باطل دہ . ځکه چه کذب راځی . معنیٰ به دا رانګی شی چه (الله پاك پالنه دَ عالم دہ) اوحال دا دہ چه الله پاك پالونکے دَعالم دہ . نه پالنه دہ -

جواب : - که صیغه دَ مصدر شی دا حمل به مبالغهٔ شی لکه زید عدل ځکه چه الله پاك کښے وصف دَ ربوبیت ډیر زیات دہ . ګویا چه دا وصف عین ربوبیت شو حمل بیا صحیح دہ . هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ کښے حمل مبالغهً دہ . زید عادل دہ . عدل نه دہ . قرآنکریم هادی دہ هدایت نه دہ . او س قرآنکریم کامل هدایت والا کتاب دہ . ګویا چه دا عین هدایت شو . دَبّ په لغت کښے تربیت ورکونکی ته وائی . او په اصطلاح کښے تبلیغ الشئ الی کماله بحسب استعداده شَيْئًا فَشَيْئًا -

اعتراض :- وارډیری چه رَبِّ الْعٰلَمِينَ کښے اضافت لفظیه دہ . نه مفید دَ تعریف دہ اونه مفید دَ تخصیص دہ . بیا دا څرنګه صفت دَالله معرفه واقع شو ؟

جواب :- دا قاعده دہ کله چه صیغه دَ صفت معنیٰ دوام او استمرار وی په هغے کښے اضافت مفید دَ تعریف وی . دلته هم دا سے شوید دہ . نو لوصفاتو الٰهیه کښے دوام استمرار معنیٰ وی . کله چه الحمد لله فاطر السّمٰوٰت والارض وغیره چه خومره په قرآنکریم کښے په نظر راځی تفکر وکړئ .

قوله الْعٰلَمِينَ دلته پیژندل دَ درے خبرو ضروری دی (۱) معنیٰ دَ عالمین (۲) صیغه دَ عالمین (۳) اعراب دَ عالمین .

(۱) عالمین جمع دَ عالَم دہ په فتح دَ لام سره او عالم صیغه دَ اسم اٰله دہ مایعلم به شئ ته وائی . نو عالمین ته ځکه عالم وائی چه دے سره خدائے پاك پیژندل کیږی . یا ما یعرف به شئ ته وائی . یا عالمین جمع دَعالم دہ . عالم ما سویٰ الله ته وائی . سویٰ دَ ذات دَ خدائے نه نور ټول عالم دہ او په هغوی سره معرفت دَخالق راځی یعنی ما یعرف به الشئ ای خاتم به یعنی راځی ما یختم به . او کل ماخلق الله فی الدنیا والاخرة فهو عالمٌ .

صیغه دَ عالمین دا جمع مذکر سالمه دہ . او صیغه دَ جمع مذکر سالم په حالت

دَجرکښے په یاسره راځی . ځکه عالمین سره راځے . بیا عالمون واؤ، نون سره راتله نو مجرور ځکه دهٔ چه مضافٌ الیه دهٔ

اعتراض :- هرکله چه دا جمع مذکر سالِم شو بیا خو جمع دَدے واو نون سره یکاروو . دلته ولے په یا او نون سره جمع شو ؟

جواب :- له وجه دَاضافت نه واو اونون سره جمع نشو.

اعتراض :- وارے دینے چه عالمین جمع شو په یا اونون سره او واؤ نون سره داخاص دهٔ تر ذوی العقول پورے . ما سویٰ الله کښے خو غیر ذوی العقول هم راځی لکه : مرغان - فرس - حجر - شجر - فلک - بیا ولے شو په یا اونون سره ؟

جواب :- داجمع تغلیبی دهٔ یعنی غلبه ورکړی شوید ذوی العقول ته په غیر ذوی العقول باندے له وجه دَ شرافت دَ ذوالعقولو نه په غیر ذوی العقولو باندے

اعتراض :- وارے دینے چه جمعیت دَدے په یا اونون سره غیر صحیح دهٔ ځکه چه یا او نون سره جمع صرف دَ مذکر دَپاره راځی . او ما سویٰ الله کښے مؤنث هم داخل دے

جواب :- داهم جمع تغلیبی دهٔ . مذکر دَپاره غلبه ورکړے دهٔ په مؤنث باندے له وجه دَ شرافت نه . لکه چه قرآن پاک کښے دَحضرت مریم بی بی په باره کښے فرمائی (وَکَانَتْ مِنَ الْقَانِتِیْنَ) نو دلته خو غلبه ورکړے شوه مذکر ته په مؤنث باندے یا داجمع صیغه ئے ذکر کړه اشاره ئے وکړه کثیر عالم ته لکه په اعتبار دَ انواع سره لکه عالم انس - عالم جن - عالم ملائکه - عالم فرس - عالم حمار - عالم جمل عالم بقر - عالم شجر - عالم حجر - عالم طیور - عالم فلك ، عالم دنیا ، عالم آخرت ، عالم برزخ

د ریمه خبره په اعتبار دَ اعراب سره دهٔ . عالمین دا مجرور دهٔ ځکه چه دا مضاف الیه داقع شویدے دَپاره دَرب او مضافٌ الیه مجرور وی داهم مجرور شو خو صیغه دَجمع مذکر سالم اعراب بالحروف وی . ځکه چه جرے په یا سره راځی . ځکه عالمین شو لکه ویل کیږی ؛ جاء المسلمون - رأیت مسلمین مررت بمسلمین . دا ځکه چه مضاف عوامل لفظیه نه او تیا سونه شو چل مدخول باندے عمل کوی نو ځکه دلته جرورکړ په یا سره عالمین شو.

# ترکیب دَ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

رَبِّ مصدر مضاف العلمین مضاف الیه . بیا مضاف سرهٔ دَ مضافٌ الیه نه دا صفت شو دَ پارهٔ دَ الله مؤخر حق . موصوف مع صفت مجرور شو دَ پاره دَ جار جار مع المجرور ظرف مستقر تعلق نیسی تر ثابتٌ مقدره پورې . هغه صیغه دَ اسم فاعل هُوَ ورته فاعل . اسم فاعل مع الفاعل مع المتعلق دا شبه جمله خبر شو دَ پارهٔ دَ مبتدا اچه الحمد ده . یا دا مضاف العٰلمین مضافٌ الیه . مضاف سره دَ مضافٌ الیه نه دا بیا بدل شو دَ پارهٔ دَ لفظ دَ الله . هغه ورته مبدل منهٗ شو . مبدل منه سره دَ بدل نه دا مجرور شو دَ پاره دَ جار . بیا سابقه غوندې کار کول پکار دی . تفکر وکړئ . یا رَبُّ العٰلمین مرفوع ده ربُّ مضاف او العٰلمین ورته مضافٌ الیه . مضاف سره دَ مضافٌ الیه نه دا خبر شو دَ پارهٔ دَ مبتدا محذوف چه هُوَ دے . تقدیر دَ عبارت به دا رنګه شي اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ هُوَ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ نو هُوَ مبتداء ده رَبُّ العلمین ورته خبر ده . مبتداء سره دَ خبر دا جمله صفت واقع شو دَ پارهٔ دَ لفظ دَ الله . بیا به مجرور دَ پاره دَ جار شي . تعلق به ئے تر ثابتٌ پورې شي بیا به خبر واقع شي دَ پارهٔ دَ الحمدُ . یا رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ منصوب ده . او نصب دَ ده بنا بر مفعولیت ده . او دا مفعول ده دَ پارهٔ دَ فعل محذوف . تقدیر دَ عبارت به دا رنګه شي اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَعْنِیْ رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ اعنی لفظ به پکښې مقدر وی . اعنی خو فعل ده انا پکښې فاعل ده . او رَبَّ العٰلَمِیْنَ ئے ورته مفعول به ده . فعل سره دَ فاعل او سره دَ مفعول به دا جمله صفت واقع شو دَ پارهٔ دَ لفظ دَ الله . بیا الله مجرور دَ پارهٔ دَ جار تعلق ئے تر ثابتٌ مقدره پورې خبر شو دَ پارهٔ دَ الحمد شریف . که بدل شي دَ پارهٔ دَ الله هغه ورته مبدل منه شي هم تعلق تر ثابتٌ مقدره پورې راځي . او که صفت شي هم تعلق تر ثابتٌ مقدره پورې راځي . بیا هغه شبه جمله خبر کیږي دَ پارهٔ دَ مبتداء . او س الحمدُ مبتداء دا مجموعه ورته خبر شو . مبتداء سره دَ خبر نه جمله اسمیه خبریه صورةً انشائیه معنیً جمله اسمیه خو ځکه ده چه الف لام ور باندې داخل ده نو صورةً خبریه شوه معنیً انشائیه ځکه ده . او س دَ الله پاک حمد وائی . دا ز مانه حالیه ده . او زمانه حالیه

اول مانه مستقبل دا په انشا تو کښے راځی. ځکه چه امر صیغه کښے نرمانه وے انشاده
دَدے وجه نه دیته صورتًا خبر یه دانی معنی انشاء دانی.

## قوله وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ

وَالْعَاقِبَةُ کښے شلور خبرے ضروری دی (۱) بیان دَ وَاو عطف (۲) بیان دَصیغه
دَ عاقبة (۳) بیان دَسوال او جواب (۴) بیان دَ وَالْعَاقِبَةُ په ترکیب کښے څه واقع
شویدے.

(اول بیان) دَ واو حرف عطف دے. وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ جمله عطف ده په الحمد لله بانده
دلته خو عطفیت نه صحیح کیږی. ځکه چه عطف خو دیته وانی چه په واسطه دَحرف
عطف سره عطف کیږی دا تابع مقصود دی په نسبت سره متبوع ته وړوسته دَحرف
عطف نه. لکه جاء نی زید وعمر. اوس دلته دا بحیثیت یو نسبت ده زید ته هم
ثابت ده په واسطه دَحرف عطف چه وَاو ده عمرته هم ثابت ده. دیته عطف نسق
هم وانی. نسق معنی ده دَ ترکیب لحاظ ساتل. دلته به معنی دا شی حمد ونه ثابت
خدائے پاک لره دی. او ښه انجام متقیا نو لره دے. یا دا جواب کوو چه دا جمله معترضه
ده. جمله معترضه دیته وانی چه هغه راغلوی په مابین دَ کلامونو کښے. نه ماقبل
سره ئے نسبت صحیح وی او نه ما بعد سره.

سوال :- بیا ولے ذکر کیږی ؟

جواب :- صرف یو غرض دَپاره چه دفع دَوهم دشی. وا هم دا وهم کوی چه الله
پالونکے ده. نو بیت ورکونکے ده. یعنی هر شے پخپله اندازه سره تدریجًا دَ نعمت
ورکوی. پخپله اندازه سره تدریجًا نقصان ورکوی. دیته رب وانی. ځکه چرګه
کښے هګۍ پیدا کوی. غواء کښے چیلئ کښے بچی پیدا کوی پخپل اندازه سره.
کاموش (میخه) کښے پخپل اندازه سره پکښے بچی پیدا کوی. کچرے چرګے ته دَ غوا بچے حواله
شی یا دَ میخے بچے ورته حواله شی. دا په برداشت کړی. ځاے په ځاے به وچوی
لیکن دَ کاموش (میخے) صبر ته کوره. څه کم یو من بچے پکښے موجود وی. شور
او فساد نه جوړه وی. چرګه کښے تیره وپی اندازه قیمت کښے هګۍ وی چناکي نه

کم مقدار کینے وزن وی . بیائے هم دومرة شور جور کړے دی چه تول کوں ئے په سر
را ختتے وی . نو داد رب تربیت ورکولکی معنی ده . اوس اصل خبرة په دے مقام
کښے داده چه دَ عالمو پالونکے خو الله پاك ده نو آخرت هم یو عالم ده . اوجنت
ورکول مؤمن لره ، دوزخ ورکول کافر لره داهم تربیت ده . آیا دَدے تربیت
مالك څوك ده ؟ نو مصنفؒ راغے وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ئے ذکر کړو
څرنګه چه دَحمد و نو مالك الله ده ، دَتربیت ورکولو مالك الله ده دغه رنګه
دَجنت مالك هم الله ده - یا داجواب کوو چه داواؤ دَ استئناف ده مستقل ده
چاسرة ئے تعلق نشته . او مصنفؒ ذکر کړو پدے صرف ترغیب الی طلباء کړامو ته
چه چل علم کښے کوشش کوئ چه آخر انجام دَ مسلمان په خیر کښے ده ځکه چه دنیا
فانی ده . او آخرت په بقاء کښے ده . نو اصل دکامیابی دَبقاء ده نه دَ فنا -
(دویم بیان) دَصیغه دَ دالعاقبة ده . عاقبة صیغه دَ مصدر ده . عَقَبَ يَعْقِبُ
عَقْبًا وعَاقِبَةً قیاس په ضَرَبَ يَضْرِبُ او مصدر ئے په وزن دَ فاعلة سرة راځی
په کلام دَعربو کښے . او فعیل وزن بانده هم او مفعول وزن باندے هم راځی
مثال لکه کَاذِبَةٌ حَرِيْقٌ مَفْتُوْنٌ (فاعلة وزن - فعیل وزن - مفعول وزن شو)

—— دریم بیان دَ سوال او جواب ——

سوال :- عاقبت خو ډیل کیږی صرف انجام ته . انجام خو دَخیر هم وی او دَ
شر هم وی . نو عالم آخرت ده دی (جنت ، دوزخ) انسانان او جنیات هم دوه
قسمه دی (مسلمانان ، کافران) اوس کوم انجام دَ مسلمانانو ده اوکوم انجام دَکافرو ده ؟

جواب :- غوره انجام دَ مسلمانانو ده او خراب انجام دَکافرو ده -

سوال :- دا دَڅه نه معلومه شوه چه غوره انجام دَمسلمانانو ده او خراب انجام دَکافرو

جواب :- دَ ا دَحذف دَ مضافٌ نه معلومه شوه.

سوال :- مضافٌ دَڅه نه معلومه شوه چه دلته شته ده ؟

جواب :- قرینه وربانده داللمتقین دے ځکه چه بنه انجام دَ قیامت متقیانو لپاره دے . لیکن مشهور قانون دا دے چه مضاف
الیه دَ مضاف په مقام کښے قائمیږی . او مشهور قانون دا دے چه په ډیرو مقامونو کښے عبارت په حذف دَ مضاف سره وی . لکه دلته هم دغه
رنګه دے تقدیر دَعبارت . نو تقدیر دَ عبارت به دا رنګه وی . خیر العاقبة یا حسن العاقبة للمتقین

بیا مضافْ حذف شو۔ نو مضافُ الیہ دَ ھغے پہ مقام قائم کرے شو۔
وَالْعَاقِبَۃُ شو۔ بیا مضافُ الیہ خو مجرور وُو ۔ قانون داد ے چہ مضاف حذف شی اعراب دَ مضاف مضاف الیہ تہ ورکرے شی نو والعاقبۃ مرفوع شو۔ اگرچہ بعضے حضراتو دغہ الف لام چہ والعاقبۃ کے دے داخل دے داعوضَ مضاف نہ دانی لیکن داخبرہ ضعیفہ دہ۔ ځکہ چہ مضافُ الیہ پہ عوض کښے الف لام راځی، تنوین راځی، تکرار راځی۔ نہ دَ مضاف پہ عوض کښے الف لام سرہ اشارہ کوی حُسنُ العاقبہ یا خیرالعاقبہ یا منافع العاقبۃ تہ۔ نو الف لام بہ عهدی شی۔ معهود بہ دے سرہ بہ دغہ منکورہ اشیاء شی خو دغسے مثال پہ قرآن پاک کښے ھم ویرے۔ لکہ وَاسْئَلِ الْقَرْیَۃَ ای اَھْلَ الْقَرْیَۃِ دلتہ اھل حذف شوے دے۔ دا اهل مضاف دے۔ القریۃ ورتہ مضافُ الیہ دے۔
سوال:۔ دَ مضاف اعراب چہ قایم شو پہ مقام دَ مضافُ الیہ کښے اومضاف حذف آیا داسماعی دو یا قیاسی۔ کہ چرے سماعی وی سماعی خو هغه ځاے کښے راځی چہ دَمضافُ الیہ مستقل دالے هم صحیح وی۔ او قیاسی دیتہ دانی چہ قیام دَ مضافُ الیہ پہ ځاے دَ مضاف کښے معنیٰ صحیح نہ وی هغہ بیا کلہ پہ فاعل کښے راځی۔ لکہ جاء ربك یعنی جاء امرُ ربك کلہ پہ مفعول کښے راځی۔ لکہ اشربوا فی قلوبہم العجل ای حُبَّ العجل یا وسئل القریۃ ای اھل القریۃ کلہ پہ مفاعیل اربعہ کښے راځی۔
جواب:۔ لیکن اصل داده چہ فیما نحن فیہ سماعی مراد دہ بنیر دَخَیْرُ العاقبۃ نہ یاحسن العاقبۃ۔
(خلوم بیان) دالعاقبۃ مرفوع راتلو اوس رفع بنا بر ابتداء ثیت دہ والعاقبۃ دا مبتداء شوہ "للمتقین داجار او مجرور سرہ بہ ورتہ خبر شی۔ وروستہ ترکیب کښے نظر وکړئ۔

## قولہٗ لِلْمُتَّقِیْنَ

پہ متقین کښے شلور خبرے پیژندل ضروری دی۔ (۱) صیغہ دَمتقین (۲) ... ام دَمتقین (۳) ذکر دَ متقین (۴) متقین پہ ترکیب کښے څہ واقع شوی دے۔

(اول بحث) متّقین ۔ دا صیغه دَجمع مذکر سالم ده دَ باب افتعال نه ۔ اتّقی یتّقی ۔ اتّقاءً ۔ نو متّقین په اصل کښے موتقیین وو ۔ کسره په یآ ثقیله ده ساقطه شوه ۔ التقاء ساکنین راغلل په ما بین دَ دوؤه یا ییانو کښے علیٰ غیر حدّه اوله یاء مدّه ده ځکه چه حرف علت ساکن وی ما قبل حرکت دَ هغے موافق وی هغه ته مدّه وائی ۔ نو اوس قاعده داده چه مده به حذف کیږی ۔ دلته اوله یا مدّه وه حذف شوه لهٰ وجه د التقاء ساکنین نه او غیر مده پاتی شو ځکه چه ما قبل دَ غیر مده دا سے حرکت نشته چه دلالت اوکړی په حذف دَ یا باندے ځکه اوله یآ حذف شوه ثانی باقی پاتے شوه نو مُوتقین پاتے شو ۔ بیا وَاوُ بدل کړے شو تاء سره ځکه چه دا قانون ده دَ دستور المبتدی او دنزادی چه وَاوُ واقع شی په ځاے دَ فاء کلمه کښے په باب دَ افتعال کښے نو هغه وَاوُ به بدل کړے شی تاء سره ۔ او تا به په تاء کښے مدغم کړے شی ۔ ځکه چه تاء د حروفو شدیده و نه ده ۔ او وَاوُ دَ حروفو لین یا مدّه نه ده ۔ او په مابین دَ شدت او لینیت کښے منافات دے ځکه وَاوُ بدل شو تاء سره

سوال :۔ دا وَاوُ چه بدلیږی تا سره دَدے اصل علت څه ده سوی دَ ماسبق نه

جواب :۔ اصلی علت داده چه وَاوُ او تاء قریب المخرج دی ۔ ځکه چه وَاوُ د حروفو شفتینو نه ده او تاء هم اداکیږی په سر دَ ژبه کښے هغه شفویتو ته قریب ده دَدے وجه نه وَاوُ بدل شو تا سره ۔ نو منتقین شو ۔ دوه حرفه دَ یو جنس نه راغلل اول ساکن ثانی متحرك ، تقاضاے دَ ادغام وجوبی کوله نو تآ په تاء کښے مدغم شوه مُتَّقِیْنَ شو ۔ وَاوُ بدل شو (ضمه دَ میم دلالت کوی په بدل دَ وَاوُ باندے) یا حذف شوه (کسره دَ قاف دلالت کوی په حذف دَ یاء باندے)

سوال :۔ مصنفؒ خو وَاوُ بدل کړه تاء سره آیا په کلام دَ عربو کښے داسے امثال راغلی دی چه وَاوُ بدل شوے وی تا سره ؟

جواب :۔ صاحب دَ دستور ملا دیر ذکر کړی دی ۔ صاحب دَ ارشاد الصرف او صاحب دَ جمالی صاحب د قانونچه ، او صاحب دَ تسهیل الارشاد داسے بے شمار امثال ذکر کړی دی ۔ لیکن مشت نمونه خروار په بنا به زه هم یو څو امثال ذکر کړم ۔ لکه تُجَاهٌ ۔ تُرَاثٌ ۔ و علیه تکلان ۔ اصل دَ دوی وجاه ۔ وراث

وکلانْ وو ۔ وَاوْ بدل شوتاء سرہ تجاہ ۔ تراثْ ۔ تکلانْ شو ۔
اوس اختلاف دَمذهبینو راغے په حذف دَیاء باندے ۔ اخفشؒ وائی چه اوله یاء حذف شویده ۔ او سیبویهؒ وائی چه ثانی یاء حذف شویده نه اوله ځکه چه ثانی یاء زائده ده نه اوله ۔ وَالزَّائِدُ اَوْلیٰ بِالْحَذْفِ خلاف من غیر نا ۔ ئــلـ اصل دَدوی اختلاف په وَاو دَمفعول کښے موجود ده ۔ کمافی المراح والزنجانی وشانیه ود ستورالمبتدی ۔ دیته توجه اوکړیٔ شک به مورفع شی ۔
(دویم بحث اقسام دَمتقین) متقین درے قسمه دی (۱) الذی یتقی الشرك وکسب الکبائر صرف شرك اوکبائر نه ځان ساتی (۲) اذاقال قال لله واذاسکت سکت لله (۳) الذی لا یریٰ نفسه خیراً من احد ۔
دویم تعریف ۔ پښتو کښے متقین درے قسمه دی (۱) حرامو نه ځان ساقی او شرك نه (۲) شرك نه هم ځان ساتی اوحرامونه هم ځان ساتی اوشبهاتو دَحرامونه هم ځان ساتی (۳) صرف شرك نه ځان ساتی فقط ۔
اوّل قسم چه حرامو نه ځان ساتی او شبهات دَحرامو خوری اوشرك نه هم ځان ساتی ۔ دا په درجه اوسط کښے متقین دی ۔ دوّیم قسم چه شرك نه هم ځان ساتی او شبهات دَحرامو نه هم ځان ساتی دا په درجه اعلیٰ کښے متقین دی ۔ درّیم قسم چه صرف شرك نه ځان ساتی ۔ نورحرام هم خوری او دَشبهاتو دَحرامو خو یعنی پرواه نه ساتی دا په درجه ادنی کښے متقین دی ۔ اوجنّت ته به انشاء الله تول ځی خو په درجه کښے به فرق وی (اعلیٰ ۔ اوسط ادنیٰ) ځکه چه وو ۔
(دریم بحث متقین ولے ذکرشو ؟) (جواب) دا ترغیب ده دپارهٔ دَطالبانو چه اعمالو ته ضرورت شته ده ۔ ځکه مونږ متقیان په قسمونو سره تقسیم کړل ۔ داخو په اعتبار دَاعمالو سره وُو نه په اعتبار دَجسم او انسانیت سره ۔ چه علم بلاعمل هیڅ فائده نه ورکوی ۔ شجر بلا ثمر هیڅ فائده نه ورکوی ۔ په اعتبار دَثمرسره نه په اعتبار دَجسم دَشجرسره ۔ ځکه چه جسم دَشجرخو فائده لری نو جسم دَانسان (مؤمنین اوکافر) علی السویه دی ۔ لیکن فرق په اعتبار دَایمان

اوعدم ایمان سره ده . بیا فرق په مابین دَ مؤمنانوکښې په اعمالوسره ده . دَچا اعمال چه زیات دی درجه ئے زیاته ده . اودَچا اعمال چه کم وی درجه ئے کمه ده . ځکه چه طبقات دَجنّت هم مختلف دی . اوعلم بلاعمل هیڅ شرافت نه لری . لکه چه وائی : لوکان لِلْعِلْمِ شَرَفٌ بِدُوْنِ التَّقْوٰی لَکَانَ الشَّیْطَانُ اَعْلٰی مَنْزِلَةً مِنْ غَیْرِهٖ بِاِعْتِبَارِ الْعِلْمِ )

(څلورم بحث چه متقین په ترکیب کښې څه واقع شوی دی ؟) (جواب) متقین په ترکیب کښې خبر واقع شوے دے .

اوس سوال راځی چه خبر مرفوع دی . داخو مجرور دی . اوجر په یاء سره ده .

جواب : . لام ورباندے داخل شوے دے . داجرئے په یاء سره ځکه راغلے دے ځکه چه صیغه دَجمع مذکرسالم اعراب بالحروف دی . رفع ئے په واؤ سره وی . جرئے په یاء سره ، نصب ئے په الف سره دی . (فتفکر)

## ترکیب دَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ

وَاؤحرف عطف ، یاوَاؤ استنافیه العاقبةُ مرفوع لفظاً مبتداء لام حرف جر للمتقین ئے مجرور . جار سره دَ مجرور دا ظرف مستقر تعلق نیسی ترثابتٌ مقدّرٌ پورے . ثابتٌ صیغه دَاسم فاعل دَ ثَبَتَ یَثْبُتُ نه ، قیاس په ضَرَبَ یَضْرِبُ باندے اوضمیر پکښے مستتر ده چه تعبیر ترینه کولے شی په هُوَ سره هغه ورته فاعل شو اوس اسم فاعل چه ثابتٌ ده سره دَ فاعل چه هُوَ ده اوسره دَمتعلق چه للمتقین ده داشبه جمله خبر شودَپاره دَمبتدا چه دالعاقبةُ ده . مبتدا سره دَخبرنه داجمله اسمیه خبریه معطوفه یاجمله اسمیه خبریه مستأنفه .

ترجمه :- غوره انجام دَآخرت فلاح انجام دَآخرت خاص مؤمنانولره ده .

## قوله وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ

ترجمه :- فیضان دَ الله پاك سلامتیا دَ الله پاك نازل وی په بهتره دَ مخلوقاتو باندے چه حضرت محمّد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دے .

اوس په دے مقام کښے پنځه خبرے پیژندل ضروری دی (۱) معنٰی لغوی دَصلٰوة

(۲) معنیٰ اصطلاحی دَصلوٰۃ (۳) بیان دَ اختلاف (۴) دفع اعتراضات (۵) په ترکیب کښے څه واقع شویدے -

(اول بحث) صلوٰۃ په لغت کښے په څلورو معانیو سره راغلے دے . (۱) په معنیٰ دَدعاء سره (۲) په معنیٰ دَرحمت سره (۳) په معنیٰ دَ تسبیح او تهلیل سره (۴) په معنیٰ دَ استغفار سره -

(دوهم بحث) معنیٰ اصطلاحی دَصَلوٰۃ - لِنَد تعریف په ارکان مخصوصه سره کوی علماء کرام په مخصوصو اوقاتو کښے -

(دریم بحث) بیان دَ اختلاف ده په معنیٰ لغوی کښے . او س معنیٰ لغوی کښے لږ شان ته اختلاف ده . جمهورعلماء وائی : صلوٰۃ په لغت کښے مطلق دعاء ته وائی اوجار الله زمخشریؒ وائی : چه صلوٰۃ په لغت کښے تحریك صلوین (کوناتو) خوزولو ته وائی . اولیٰ ، اعلیٰ او غوره مذهب په دے مقام کښے دَجمهورعلماء ده څکه موږ دَجمهور علماء رائے غوره کړه -

(څلورم بحث) دفع دَ اعتراضاتو ده..

سوال :- دا به څرنګه معلومه شی چه دلته په معنیٰ دَدعا سره ده . دلته په معنیٰ دَ استغفار سره ده . دلته په معنیٰ دَ تسبیح تهلیل سره ده . دلته په معنیٰ دَ رحمت سره ده -

جواب :- دا په اعتبار دَ نسبت سره . کله دَصلوٰۃ نسبت خالق لایزال ته وشی مراد به ورنه رحمت وی . اوکله چه نسبت عبادو ته وشی . مراد به ورنه دعاء وی اوکله چه نسبت طیورو ته وشی مراد به ورنه تسبیح او تهلیل وی . اوکله چه نسبت ملائکو ته وشی مراد به ورنه استغفار وی - په اصطلاح کښے خو صلوٰۃ ارکان مخصوصه ته وائی . کما مرآ نفًا . چه قیام - رکوع - سجده او قعدهٔ آخره ده .

سوال :- دا صلوٰۃ دلته ولے ذکر کړے شو ؟

جواب :- څکه چه الله پاك منعم حقیقی ده . دَ هغے تعریف وشو . نبی کریم صَلّی الله علیه وسلم منعم مجازی ده . دَ هغے تعریف هم په امت واجب دے . دوهم الله تعالیٰ په نهایت دَ تقدس کښے ده . او عُباد په نهایت تدنس کښے دی

نو دَدے مینځ کښے څه مناسبت نشته چه حصول شی نیضان دَمفیض نه مستفیض ته . نو دَدے مینځ کښے مناسبت ضروری دے چه تعلق پکښے پیدا شی او س دا یے دا سطه پکار ده لهو هم مفیض سره ئے تعلق وی او هم مستفیض سره دا یے څوك نشته سوئی دَحضرت محمّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه . نو ځکه خاوند دَ داسطے بانده هم تحفه ورل ضروری ده . نو مصنفؒ ودئیل وَ الصَّلٰوةُ

سوال :- ادس مخکښے ذکر شوچه صَلٰوة تعلق ته دائی . دلته دَصلٰوة نه څه مراد دے ؟

جواب :- دلته دَصلٰوة نه رحمت مراد دے ځکه چه نسبت ئے الله پاك ته شویدے

سوال :- دلته خو ترجیح بلا مرجح راځی . که رحمت مراد شی داخو باطل ده او که قول مراد شی عموم مشترم راځی ؟

جواب :- مونږ مراد ترینه رحمت وکړ . ترجیح بلا مرجح نه لازمیږی لکن ترجیح مع المرجح ده . ځکه چه نسبت دَصلٰوة دلته الله پاك ته شویدے . سابق کښے تیر شو . چه که نسبت دَصلٰوة الله پاك ته دشی مراد به ترینه رحمت وی وی . ځکه دلته مراد ترینه رحمت ده .

سوال :- رحمت خو رقة القلب بحیث یقتضی المفضل والاحسان ته دائی الله پاك خو منزّه ده دَ قلب نه . بیا رقتِ قلب څرنګه پیدا شو ؟

جواب :- دلته یو معنٰی ئے ثالثه اخلو چه دادواړه مراد ین دَحفی شی چه هغه ته عموم مجاز دائی . او عموم مجاز عبارت ده دَفیضان نه یعنی اِفَاضَةُ الْخَیْرِ مِنَ الرَّبِّ الْمَعْبُوْدِ نَازِلَةٌ عَلٰى نَبِیِّهِ الْمَحْمُوْدِ نو ترجیح بلا مرجح راغے او نه عموم مشترك راغے .

سوال :- افاضة الخیر وئیل کیږی تیولو دَخیر دَ مکان عالی نه . نو الله پاك ته خو مکان ثابت نه دے ( باران نه تختیل ناوے لاندے ودرابیدل شو ) قلب ته تختیدل او س ئے ورته مکان ثابت کړ .

جواب :- قاضی بیضاوی شریف کښے دَدے جواب کوی چه مراد دلته دَافاضة نه مکان عالیه نه دے . بلکه مرتبه عالیه ته اشاره ده . لهذا داده چه دَ دین اسلام مقدس

شی اولوے نعمت دَخدائے پاک کیدلی شی . نو هرکله چه حضور پاک صلّی الله علیه وسلم دا دین مقدس مونږ ته را رسولے دے . نو ضرور هر هوښیار او پوهٔ بنی آدم ته پکار دهٔ چه څه دعا او تحفه دَصلوٰة دَحضور پاک صلی الله علیه وسلم حضور اقدس ته وړاندے کړی . الله پاک پخپل کتاب مقدس کښے پرے پخپله دړ وددانی اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ط (سورة احزاب) ځکه حضرت شیخ دَالحمد نه بعد نورا صلوٰة لفظ ذکر کړ -

سوال :- دلته خو دَصلوٰة نه بعد لفظ دَعلیٰ را غلے دے . صلوٰة خو په معنیٰ دَدعا سره ده . کله چه لفظ دَعلیٰ راشی په دعاء کښے مراد تربینه دعاء شروی .

جواب :- دُعاء شرحله مراد کیدے شی چه پخپله لفظ دَدعا راشی . اوکه لفظ دَصلوٰة راشی بیا ور سره علیٰ راشی مرا د تربینه خیر دی نه شر .

سوال :- صلوٰة ذکر شو سلام ته څه ضرورت وو .

جواب :- صلوٰة خاص ور ته مما ت پورے او سلام خاص وو ته حیات پورے نو حضور صلی الله علیه وسلم به خالی نه وی یا به حیات کښے وی یا به ممات کښے وی لیکن اعتبارین مختلفین دی . په یو اعتبار سره حیات دهٔ . چه حیات برزخی دهٔ لکه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ؛ الا نبیاء احیاء فی قبورهم یصلون دویم په اعتبار دَممات سره . ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ اوس که حیات کښے وی سلام کافی . اوکه ممات وی صلوٰة کافی شو . ځکه دواړهٔ ذکر شو . دریمه وجه دا دهٔ چه صلوٰة په حق دَالله پاک کښے ذکر دهٔ . او سلام په حق دَعبادو کښے ذکر دهٔ . نو سلام نه دا مقصد شو . یا نبی ته ز مونږ دَلاس او دَخپو دَضرر نه هم په آمان کښے ئے . صلوٰة نه مراد خو دَ ثبے ضرر دهٔ چه دَ ش په دَضرر نه په آمان کښے ئے نو سلام نه مراد دَلاس ځپے هم داخل شو . او بل حضرت فرمائیلی دی المؤمنون لایموتون بل ینتقلون من دار الفناء الی دار البقاء ومن جوار الشیطٰن الی جوار الرّحمٰن ومن الغرور الی دار السّرور . نو انسان سره سلام ځکه ښایت دهٔ چه دَ انسان په فطرت کښے اسلام سره سرهٔ دَضرر ماده هم پرته دهٔ چه یو بل ته ضرر

د سوی. دا ماده په ملایکو کښې نه ده. او د الله پاك خپل خاصو بندګانو ته کله تکلیف ورکوی بغیر د درجې بلندئ نه كَلَّا وَحَاشَا قول اذا كان حق فهو من الله واذا كان خطاء فهو من جانبی لقلة العلم -

(پنځم بحث) چه صلوة په ترکیب کښې څه واقع شوې؟ صلوة په اصل کښې صَلَوَةٌ راغلے دے. بعضې وائی چه صلوة په اصل کښې صَلْوَةٌ نه راغلے دے. ځکه صلوة په اصل کښې دَصَلَوَةٌ نه شی. نو قانون د نړ ادی او د دستور متوجه شو. واؤ متحرك ماقبل مفتوح واو بدل شو الف سره. لکه قال. باع. خاب. نو صَلٰوةٌ شو. واؤ به لیکلے کیږی خو لوستل کیږی به نه. پنځه محاله دا سے دی. لکه صَلٰوة. زکٰوة. مشکٰوة. ربٰوا بعضې چه وائی صَلْوَةٌ نه راغلے دے صفوی وائی. واو متحرك ماقبل ساکن. حرکت د واؤ نه نقل کړ ماقبل ته. بیا واو بدل شو الف سره خلاف القیاس. واؤ په لیکلو کښې موجود دے په تلفظ کښې غیر موجود دے. ځنې صلوه دَصَلِّیْ نه جوړ شوے بولی چه معنی ئے دا دہ چه کوبڼ شین لرګی د اور په کړمی سره نیغ کړے شی. نو کوم بنی آدم چه مونځ کوی هغه به خامخا نیغ شوے وی. او س که مونږ نه نیغیږو دا زمونږ نقصان دے ځکه چه د الله پاك دا فیصله دہ. اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ. یا صلوٰة دَصِلَةٌ نه جوړ شوے دے. او صِلَة په عربئ ژبه کښې تعلق ته وائی. نو په دعصورت کښې مونځ ته صلوٰة ځکه وائی چه د دے سره ځمونږ تعلق پیدا کیږی خدای پاك سره لکه دیل کیږی. لکل شئ علم وعلم الایمان الصلوة. واؤ بدل شو الف سره الف لام ور باندے راغے. بیا تنوین هم ساقط شو نو صلوةٌ نه الصلوةُ شو صلوة یا اسم مصدر دے یا صرف مصدر. اسم مصدر خو دیته وائی چه هغه صرف دلالت کوی په معنٰی مصدری باندے چه حدث دے. اشتقاق د افعالو قرینه نه کیږی. او مصدر خو دیته وائی چه دلالت کوی په حدث باندے. او اشتقاق د افعالو قرینه کیږی. او س واؤ حرف عاطفه دے یا واؤ استنافیه دے. که واؤ عاطفه شی ماقبل به ورته معطوف شی. که واؤ استنافیه شی مستقل کلام شو چیچا سره ئے تعلق پیدا نشو الصَّلٰوةُ مرفوع لفظاً معطوف علیه. واؤ حرف عطف السّلامُ مرفوع لفظاً ورته معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه دا مبتدا شوه یعنی په ترکیب کښې مبتدا واقع شو.

# قوله وَ السَّلَامُ

دلته دوه خبرے پیژندل ضروری دی (۱) صیغه دَ سلام (۲) معنیٰ مراد دَ سلام (۳) سلام په ترکیب کښے څه واقع شویدے .

(اول بحث) سلام صیغه دَ اسم مصدر ده . او مصدر رحقیقی ده . دَدے مادہ تسلیمًا نه راځی .

(دویم بحث) سلام په اصل کښے یو ترخے شجره دائی . نکه یو صاحب بل صاحب ته عرض وکړ السّلام علیك . بجیب جواب ودکړ الجسیا س علیك نو صفه سابق عرض وکړچه تا ما ته څرنګ جواب را کړ . قایل ثانی جواب وکړ ها شجران مُرّان نجعلت علیّ واحدةً نجعلت علیك الاُخریٰ . بیا انسلاخ دَدے معنیٰ وشو په معنیٰ دَ انقیاد سره . اوس معنیٰ داشوه و السّلام علی رسوله ای انقیاد واجب علی رسوله او بل سلام نوم دَ الله پاك ده . معنیٰ داشوه چه و السّلام علی رسوله . الله پاك همیشه حفاظت دَخپل رسول کوی . یا سلام دَجنت نوم ده . معنیٰ داشوه السّلام علی رسوله . الله ادخل رسوله فی الجنة . نو اوس معنیٰ مراد دَ سلام داشوه چه سلامتیا دے وی په رسول صلی الله علیه وسلّم باندے . علیٰ نه مخکښے به نزلت یا نازلةٌ محذوف مقدر وی . تقدیر دَعبارت به داسے نکه شی . و السّلام مدام علی حفظ رسوله . یعنی سلامتیا دَ آفتونو نه دے وی په غوره دَمخلوقاتو باندے چه محمّد صلی الله علیه وسلّم ده .

(دریم بحث) و السّلام په ترکیب کښے معطوف واقع شو .

# قوله عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ

دَ خلوس وخیرو معرفت دلته ضروری دے (۱) تحقیق په لفظ دَعلیٰ (۲) تحقیق په صیغه دَخیر خلقه کښے (۳) داو لے بدل دَرسول نه راغلی ده (۴) دا په ترکیب کښے څه واقع شویدے .

(اول بحث) علیٰ دادَ حروف جارو نه دے په دے مقام

سوال :- لفظ دَعلیٰ را شی په مقام دَدعا کښې هغې نه خومراد دعائی شردی۔
جواب :- که لفظ دَدعا نه بعد لفظ دَعلیٰ را شی یقیناً مراد ترینه دعاء د شر دی او که لفظ دَ صلوٰة او سلام نه بعد علیٰ را شی مراد ترینه دَخیر دعاء وی. دلته لفظ دَصلوٰة او سلام نه بعد علیٰ راغلے ده. مراد ترینه فیضان او احسان دَ الله پاك ده په جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندے.
اوس تحقیق په لفظ دَعلیٰ کښې - دا علیٰ صیغه دَ ماضی هم واحد. عَلیٰ. یَعْلُوْ. عُلُوًّ قیاس په نَصَرَ یَنْصُرُ باندے. علیٰ په اصل کښې عَلَوَ وو. وَاوْ متحرك ماقبل مفتوح. وَاوْ بدل شو الف سره علیٰ شو - یَعْلُوْا په اصل کښې یَعْلُوُ وو ضمه په وَاوْ ثقیله وه دغو رخیله یَعْلُوْ شو. عُلُوًّا په اصل کښې عُلُوْ وًا وو. بیا دوه حرفه دَ یو جنس نه راغلل. اول ساکن ثانی متحرك. دَدستور دَ قول مطابق دغه ادغام واجب ده. اول ئے په ثانی کښې مدغم کړو عُلُوًّا شو. (دویم قول) عَلِیٌّ په اصل کښې عَلِیْوٌ وو. دا قانون ده چه واو او یا جمع شی دَ اوّ بدلیږی په یاء سره. یا واو چه په طرف کښې واقع شی وَاوْ بدلیږی په یاء سره. دلته واو بدل شو په یاء سره. بیا قانون دَ ناز ادی او دد ستور متوجه شو. اول ساکن ثانی متحرك. اول ئے په ثانی کښې مدغم کړو عَلِیٌّ شو. دریے قسمه ادغام وی (واجب. جائز. ممتنع)
(دریم بحث) په قوله. خیر دا مجرور ده خو صیغه دَ اسم تفضیل ده. صیغه دَ اسم تفضیل استعمال ئے راځی په دریے طریقو باندے. یا په واسطه دَ من یا په واسطه دَ الف لام یا په واسطه دَ اضافت. دلته په واسطه دَ اضافت سره شوی دے. ځکه چه علیٰ جار خیر مجرور مضاف خلق دا مضاف الیه مضاف ه ضمیر دا مضاف الیه شو نو خیر اضافت خلق ته شوی دے. او س معنیٰ به دا رنګه شی چه دا درود او سلام په هغه چا دے وی چه دَ تمامو مخلوقاتو نه بهتر دے چه هغه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ده (خلقه) خلق مضاف الیه مضاف ه ضمیر مضاف الیه محلاً ځکه چه دا ضمیر ده ضمیر کښې اعراب محلی وی نه لفظی. ځکه چه ضمائر مبنی وی. مبنی کښې اعراب نشی راتلے

(دریم بحث) دَ رسول په ځائے خیر خلقه ذکر کړی دے.

دوه خبرے پیژندل

ضروري دي . (اوله وجه) له وجه دَ عظمتِ شان دَ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ (دويمه وجه) دادة چه عادت دَ مصنفينو دادة چه په خطبه كښے الفاظ غريبه عجيبه راوړي . دلالت وكړي په خپل مقصود باندے . دَدے وجه نه مصنفٌ هم الفاظ غريبه راوړل چه دلالت وكړي په مقصود خپل باندے . كه يو اخي لفظ دَ رسوله نے ذكر كړے وے . بيا دا فهم نه راتلوچه آيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ نورو انبياؤ نه فضيلت لري اوكنه ؟ نورو خلقو نه فضيلت لري اوكنه نو مصنفٌ دا سے يو لفظ ذكر كړچه اشاره نے وكړه په هغے سره فضيلت دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په تولو انبياؤ ، اولياؤ وغيره مخلوقاتو باندے چه محمّد رسول الله په تولو مخلوقاتو باندے فضيلت لري . نو دَدے وجه نه مصنفٌ اعراض وكړ دَ ذكر كولو دَ رسول دَ لفظ نه على خير خلقه نے ذكر كړو . اوبل دا دلالت كوي په فصاحت ، بلاغت اوذكاوت دَ مصنفٌ باندے چه مصنفٌ خومره اندازه ذهين سړے دة اوبليغ سړے دة .

(خلوم بحث) چه تركيب كښے څه واقع شوے - على حرف جار خير مجرور مضاف خلق مضاف اليه مضاف ة ضمير مضاف اليه مضاف چه خلق دة . سره دَ مضاف اليه نه چه ة ضمير دے دا بيا مضاف اليه كيږي دَ پاره دَ مضاف چه خير دة . خير مضاف سره دَ مضاف اليه نه چه خلقه دة دا مبدل منه يا مبين او محمّد چه وروسته راځي داور ته بدل واقع شوے . يا داعطف بيان دة دَ پاره دَ خير خلقه ځكه چه هغه مبين دُو . بيا ئے غوښته داور ته بيان شو.

اوس قانون دادة چه كه بدل شي دا خير خلقه په اسم لقبي دَ رسول الله صَلَّى الله عليه وسلم شي . ځكه بدل خوداني دي چه مخكښے لقب دي يا مخكښے تعداد دي يا مخكښے اشارة دي . دا دَ علاے دَ بدل دي . نو معلومه دا شوه چه دا اسم لقبي دَ رسول الله صَلَّى الله عليه وسلم دة عند المصنفٌ ځكه ئے ذكر كړے دة . كه عطف بيان خير خلقه دا متبوع دة . دروسطه ور ته محمد لفظ دا عطف بيان دة چه داخير خلقه بنهٔ واضحه شي چه دا څوك دة . نو محمّد لفظ راغے واضح شو. نو حاصل دَ سبق دا شو چه خير خلقه په تركيب كښے دوهٔ شے واقع شو يا بدل يا عطف بيان . مبدل منهٔ سره

دَ بدل نه یا مبین سره دَ عطف بیان نه معطوفٌ علیه شو .

## قوله مُحَمَّد

دلته درې خبرې ضروری دی (۱) محمّد کومه صیغه ده دَ کوم باب نه ده او په کوم باب با ندې قیاس ده (۲) وجه دَ تسمیه دَ حضور پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ په اسم محض په دغه نوم با ندې (۳) ترکیب کښې څه واقع شویدې.
(اوله خبره) چه محمّدٌ صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب تفعیل نه حَمَّدَ يُحَمِّدُ تَحْمِيْدًا دَ باب تفعیل نه راغی دَ پاره دَ مبالغې یعنی ډیر صفت کړې شوې . یا ډیر صفت کونکې . که صیغه دَ اسم فاعل شی . او مجرد دَ دې راغی حَمِدَ يَحْمَدُ قیاس ده په سَمِعَ يَسْمَعُ با ندې .
(دویم بحث) وجه دَ تسمیه دَ حضور پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم په دې نوم با ندې دا مجرد په پیدایش سره دَ دې وجه نه فاضل اسفرائنی وائی په اطول کښې چه دَ حمد نه دوه اسمه راغی دَ پاره دَ مبالغې اشتقاق شوې ده یو دَ هغې نه محمّد دَ پاره دَ مبالغې چه محمودیت ده . دویم اسم احمد ده دَ پاره دَ مبالغې چه احمدیت په معنی سره دې یا دَ حامدیت په معنی سره دې . او س په دغه دوارو کښې محمّد نوم زیات مشهور وو . ځکه حضرت په مخلوق کښې په محمّد سره مشهور شو .
علماء کرام وائی چه دَ محمّد په نامه با ندې دَ حضرت نه مخکښې هیڅوك نه دې راغلې صرف درې یا څلور کسان داسې تیر شوی دی چه مور او پلار ئې کله دَ اهل کتابو نه دَ نبی اخرالزمان نوم واورېدو نو خپلو بچو با ندې ئې محمّد نوم کیښود ده . هغه هم دَ دې نوم په وجه وُو . جناب ابوطالب دَ حضرت محمّد رسول الله صلّی الله علیه وسلّم په مدح کښې یوه قصیده د ویلې ده . چه یو شعر ئې دا دې :

وَشَقَّ لَهٗ مِنْ اِسْمِهٖ لِيُجِلَّهٗ - فَذُوالْعَرْشِ مَحْمُوْدٌ وَذَالِكَ مُحَمَّدٌ

دا دَ سابقه زمانې په اشعارو کښې دَ حضور پاك صلّی الله عَلَيْهِ وَسَلَّمْ صفت وُو . الله پاك دې دَ حضرت محمّد صلّی الله علیه وسلّم دَ لوی شان په وسیله مونږ دَ هغه متبعین وګڼوی . او دَ هغه پوره پوره اتباع دې زمونږ ته نصیب کړی .

( ترکیب) وَاوْ حرف عاطف الصّلوٰة معطوفٌ علیه وَاوْ حرف عاطف السّلام معطوف . معطوفٌ علیه چه الصّلوٰة ده سره دَ معطوف نه چه السّلام ده دا مبتداء شوه . علیٰ حرف جار خیر مجرور متعلق ایه مضاف خلق مضافٌ الیه مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره دَ مضاف الیه نه دا بیا مضاف الیه شو دَ پاره دَ مضاف چه خیر ده . خیر مضاف سره دَ مضافٌ الیه نه چه خلقه ده دا مبدل منه یا مبین شو او محمّد یا بدل یا عطف بیان شو . اوس مبدل منه سره دَ بدل نه چه محمد ده یا مبین سره دَ عطف بیان نه چه محمد ده دا معطوف علیه شو .

## وَاٰلِهٖ اَجْمَعِیْنَ

دا وَاوْ عطف ده . معنیٰ دا شوه چه صلوٰة او سلام دے نازل وی په آل دَ محمّد او په ټولو باندے .

اوس دلته دَ پنځو خبرو معرفت ضروری ده (۱) په صیغه دَ آل کښے چه دا کوم صیغه (۲) اختلاف په آل اصل کښے (۳) استعمال دَ آل او اقسام دَ آل (۴) علم ذکر لفظ دَ اصحابه (۵) وَاٰلِهٖ اجمعین په ترکیب کښے څه واقع شوے دے .

( اول بحث) یا آل صیغه دَ اسم جمع ده . صیغه دَ اسم جمع په دَرے قسمه ده -

(۱) قسم جمع هغه ته دا ئی چه دلالت کوی په افراد دو خپلو باندے او مفرد دَ ئے بالکل نه وی . نه دَ خپل لفظ نه او نه دَ غیر نه . مثال لکه رهط شو چه قرآن پاک کښے لفظ ده . رَهْطُ قَوْمٍ .

(۲) قسم هغه جمع ده چه دلالت کوی په افراد دو باندے . نو مفرد لری خو دَ خپلو الفاظو نه نه وی . لکن دَ نورو الفاظو نه وی . مثال لکه نِسَاءٌ چه جمع دَ اِمْرَاَةٌ ده . اِمْرَاَةٌ یعنی یوه ښځه او نِسَاءٌ معنیٰ ډیرے ښځے -

(۳) قسم هغه جمع ده چه دلالت کوی په افراد دو باندے . او مفرد ورته دَ خپل لفظ نه وی . مثال لکه عام جمع شو . یا رُکْبٌ جمع دَ راکب ده . دَدے تحقیق نه خو معلوم شو چه آل جمع نه دے . ځکه دغه دورے دا اردو کښے راغے نو معلومه شوه چه جمع نه ده

دَبابِ دَالَ يَؤُلُ اَوْلاً وَمَآلاً دويم آل يا صيغه واحد مذكر صفت مشبه ده په معنیٰ د بازه گشتن. مهموز الفاء ده. او بل یا اجوف واوی دے. قیاس دے په نَصَرَ يَنْصُرُ باندے. ځکه آل په اصل کښے اَوَلٌ وو. دَاوْ بدل شو دَ قانون مطابق الف سره آل جوړ شو. لیکن بیا هم دَ علماؤ تحقیق ته ډیر ضرورت وه. خصوصًا دَ حضرت موسیٰ روحانی صاحب بازی خیل لطائف البالی کښے

(دويم بحث) په اختلاف کښے ده چه آل په اصل کښے څه وو؟ (جواب) دیکښې اختلاف ده. اول قول چه مشهور قول ده دَ امام سیبویهؒ ده، دوهم قول دَ امام کسائیؒ ده. سیبویهؒ چه دَ بصرے امام ده. او جمهور دَ نحاتو هم دَ امام سیبویهؒ قول ته ترجیح ورکړیده. سیبویهؒ صاحب وائی چه آل په اصل کښے اهل وو په دلیل دَ اُهیل سره چه دَ هغے اسم تصغیر دے. ځکه چه شے ر دکیږی خپل اسم تصغیرته. بیا ها بدل شو همزه سره. بیا ده همزا کانے په یوځایے کښے راغللے بیا ثانی همزه ئے بدل کړے شوه الف سره. کما ذکر فی الحاشیة نرّادی. وشرح التهذیب وفی لطائف البالی علامه کسائیؒ چه دَ اهل کوفه رئیس او امام ده هغه مبارك فرمائی چه: ما یو اعرابی کس نه اوریدلی دی چه هغه به ویل اَهْلٌ وَاُهَیْلٌ وَآلٌ وَاُوَیْلٌ کما ذکر فی المطول. نو علامه کسائیؒ چه آل تصغیر دَ اُهَیْلٌ نه دے بلکه اُوَیْلٌ ده. نو دَ علامه کسائیؒ قول دا ده چه آل په اصل کښے اَوَلٌ وو ځکه اسم تصغیر دَدے اُوَیْلٌ راځی. نو تصغیر خو شے ر دکوی خپل اصل ته. نو آل چه په اصل کښے اَوَلٌ وو په فتح دَ واؤ سره. بیا وَاؤ بدل شو په الف سره له وجه دَ فتحے دَ ماقبل نه. ځکه چه دا قانون دَ زرادی او دَ دستور او دَ ارشاد الصرف وغیره ده بکه قال غوندے. نو دغه خبرے ته حضرت علامه محقق ابن امیر الحاجؒ هم صحیح قول وئیلے دے او ترجیح ئے هم ورله ورکړے دے. او بل حضرت علامه شوکانیؒ په نیل الاوطار کښے وئیلے دی چه آل په اصل کښے اَهْلٌ ده په دلیل دَ اُهَیْلٌ سره که چیرے غیر دَ اُهَیْلٌ نه بل څه په نظر کښے راتلے نو خامخا به هغه مونږ ته رسیدلی وو.

(دویم بحث) په اقسامو دَ آل او په استعمال دَ آل کښے - آل په دوه قسمه ده (۱) آل نسبی (۲) آل حسبی.

سوال :- آل نبي چا ته وائي ؟

جواب :- آل نبي هغه چا ته وائي چه زکوٰة او صدقه اخستل ور باندے حرام دي. مثال لكه- اولاد د حضرت علي كرم الله وجهه او لاد د حضرت عقيل او د حارث او د حضرت سيد الشهداء (حمزه) او د حضرت جعفر طيار رضي الله عنهم

سوال :- آل حبي چا ته وائي ؟

جواب :- آل حبي ديته وائي چه صادق وي په عقيده باندے دا قول د نبي عليه السلام كُلُّ تَقِيٍّ وَنَقِيٍّ فَهُوَ آلِي - تقي هغه چا ته وائي چه ځان ساتي صرف د حرامونه او نقي هغه چا ته وائي چه ځان ساتي له شبهاتو نه هم - ليكن محققين علماؤ دا په داده چه آل هغه خوك دے چه ايمان ئے راوړے وي په نبي كريم صلى الله عليه وسلم باندے او س تحقيق په استعمال د آل كښے دا دے -

سوال :- د اهل او آل په مينځ كښے څه فرق دے ؟

جواب :- امام راغبؒ وائي چه آل خاص دے په اضافت كښے اعلام الناطقين ته - نه منكرات او نه زماني ته او نه مكا نونو ته مثال لكه ويل كيږي آل فلان او داسے نه ويل كيږي آل دجل ولا آل زمان ولا آل موضع كذا كرمانه - داسے هم نه راځي لكه آل الخياط (دويم فرق) داده - چه آل مستعمليږي په اشرافو كښے او اهل مستعمليږي په كل كښے - مثال داسے ويل كيږي آل الله وال السلطان او اهل لكه اهل الله واهل الخياط - لكه داسے هم ويل كيږي اهل الزمان كذا واهل البلد كذا (دريم فرق) بعضے وائي چه آل مستعمليږي په اشرافو كښے او اهل مستعمليږي په ارزالو كښے - ليكن په دے خبره باندے اعتراض راځي چه فرعون د پاره استعمال شويدے حال داده چه فرعون د ارزالو نه وو - (جواب) فرعون سره شرافت دنيوي موجود وو - اگر چه حقيقت كښے د ارزالو نه دے په آخرت كښے لكه چه بلا ايمان د دنيا نه تلے دے - او شرافت خو دا وو چه د خپلے زمانے يو مغرور سلطان وه

سوال :- شرافت د دنيوے خو غير معتبر دے ؟

جواب :- بيا هم عالم وو په تورات باندے نو دا نوع د شرافت ورته حاصل شوه

سوال :- چه څوك علم باندے عمل نه وي هغه خو داسے دے لكه شجر بلا ثمر

نهر بلا ماء . بیا هم شرافت ورته حاصل نشو؟

جواب :- حضور پاك صلی الله علیه وسلم یو صحابی ته عرض وکړ چه علم زده کوه اګرکه دغه وخت ستا په حق باندے عمل نه وی بیا هم د نورو کعتونو نفلو ثواب درته حاصلیږی . لیکن دا سوال جواب عند الفقیر بلا دلیل دے . ځکه چه فرعون علیه اللعنة عنادی کافر وو . نو حق ته به څه شرافت حاصل وی لکه سابق جواب کښے چه حضور پاك صلی الله علیه وسلم یو صحابی ته عرض وکړ چه علم زده کړه . لیکن فضائل اعمال کښے مولانا محمد زکریا صاحبؒ دا حدیث ذکر کړے دے په فضیلت د علم کښے . لیکن اصل دلته ایمان شرط دے . فرعون کښے خو ایمان نشته . بیا کفر کښے عنادی کافر د رسولانو (موسیٰؑ ـ هارونؑ) د شمن . هغه جواب چه مونږ وکړ چه سلطان وو . دا یو قسم شرافت دے د دنیا په لحاظ سره لیکن حقیقت دا دے چه آل په اصل کښے اسم د شخص دے او مستعملیږی په هغه کښے خاص وی تر انسان پورے په اختصاص ذاتی سره یا په قرابت د قریب سره یا په موالات سره . لکه قال عزّ وجلّ وَآلَ اِبْرَاهِیْمَ وَآلَ عِمْرَانَ وقال ادخلوا آل فرعون الله العذاب (انتهٰی) (خلوم فرق) بعضے افاضلو ویلے دی په حواشی المغنی کښے ص ۳ ج ۱ لکه شمنی صاحب وائی چه اضافت د آل کیږی صرف مذکر ته کیږی نه مؤنث ته . لکه ویل کیږی آل محمد صلّی الله علیه وسلم فلا یقالُ آل فطمه لیکن دغه قول باندے وصی زادهؒ رد کړیدے په دغه قول د زهیری باندے عنا من آل فاطمة الحواء وفی آخر أمن آل سلمٰی الطول ذکر فی الحواشی المغنی لیکن دا خو مره خبره چه ذکر شوے دی دا غالبًا دی (بخم فرق) دا دے په آل کښے امام راغب صاحب وائی چه اهل الدین دوه قسمه دی . یو مختص دی تر علم المتیقین والعمل المحکم باندے . نو دیته آل النبی وامته (عَلَیْهِ الصَّلٰوةَ وَالسَّلَام) او بل خاص دی تر علم پورے خو په طریقه د تقلید سره دیته اُمت د محمد صلّی الله عَلَیْهِ وَسَلَّمْ) ویلے شی . او آل محمد نه شی ویلے نو نتیجه دا سے شوه (فکل آل النبی اُمّةٌ له ولیس کل اُمّةٍ له آله) اصل خبره دا شوه چه هم آل دی هم صحابی علی صاحب ، حسن صاحب ، حسین صاحب ، جعفر صاحب آل دی . صحابی نه وی

نکه نو مونږ د دې ماننې بستید ان صاحبان آل نه دي نکه عام اصحاب کرام شو۔ دا پخه فرقه شو۔ فتفکر۔

**فوائد مهمه** شیعه حضرات کلمه د علی نه ذکر کوي چه فاصل راشي په ما بین د آل النبي علیه الصلٰوة والسلام نو دا بیه د ته ورد وائي صلی الله علی النبي علیه الصلٰوة والسلام د آل النبي بحذف کلمه علی هغوی ناجائز نه بولي چه لفظ د علی ذکر شي او دلیل یو حدیث موضوع کرځوي ( مَنْ فَصَلَ بَيْنِيْ وَبَيْنَ اٰلِيْ بِعَلٰى فَعَلَيْهِ كَذَا ) او په دروایت کښے وائي چه (وَلَا تَفْصِلُوْا بَيْنِيْ وَبَيْنَ اٰلِيْ بِعَلٰى ) او مونږ اهل السنّت و الجماعت او جمهور علماء وایو چه : ( لَاحَرَجَ فِيْ ذِكْرِ كَلِمَةِ عَلٰى وَحَذْفِهَا )

**جواب خمونږ اهل تشیعو ته**

(۱) چه داحدیث مذکور چه اهل التشیع ذکر کړے دے۔ لا اصل له بل هو من مفتریات الشیعة۔ الموضوعات الکبرٰی ملا علی القاری الحنفی۔

(۲) دا روایت چه اهل تشیع حضرات ذکر کوي صحیح احادیث باطل کوي چه وارد دے په تشهد کښے په لفظ د علی سره۔

(۳) دا دوه چه که دا حدیث صحیح وي بیا هم اهل تشیع حضرات د دے حدیث په ماهیت او حقیقت با نه دي نه دي رسیدلي۔ اصل خبره دا ده چه په ما بین د علی او علی کښے تجنیس خطی ده۔ دالفظ مشدد ده۔ یعنی عبارت د حدیث به داسے شي مَنْ فَصَلَ بَيْنِيْ وَبَيْنَ اٰلِيْ بِعَلِيٍّ په مشدد یا سره مراد علی صاحب ده۔ یعنی نما او د علی صاحب مینځ کښے چاجدائي اوکړه ظلم ئے ما سره وکړ۔ نو په حقیقت کښے دا نه ده په اهل تشیع حضرا تو باندے۔ الله پاک دِ ورله فهم سلیم ورکړي۔

(۴) دا ده چه چا زما او ماد آل په مینځ کښے چا مستقل درود سره جدائي وکړه یعنی علی صاحب باندے ئے خاڼله مستقل درود شروع کړ۔ هغوی ما سره زیاتے وکړ۔

ببین تفاوت از کجا تا بکجا۔ ترسم نه رسی بکعبه ای اعرابی۔ این راه که تو میروی به ترکستان است (خلوصه بحث) عدم ذکر د وصحیح (جواب) هر کله چه آل مونږ تقسیم کړ حسبي او نسبي ته۔ نو حسبي کښے اصحاب کرام هم داخل شو۔ کوم اصحاب کرام ؟ هغه اصحاب

کرام چه آل نبی کښې داخل نه وو. نو په نبي کښې نسبي صحابه کرام داخل شو وحسبي د هغې نه عام شو. بیا ذکر کول د اصحابه لفظ تخصیص بعد تعمیم تلو نو مصنفؒ له وجه د کمال محبت د صحابه کرامو سره نو کلاً ئې په آل کښې داخل کړل څکه ئې ذکر نه کړو. دا کله کله تخصیص بعد تعمیم کیږی. قرآن پاك په دے خبرۀ باندے ګواه دے لکه (تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ) په سورت تنزیل کښې. نو دا روح جبریل آمین وو. دا په ملائکو کښې داخل دے. بیائے هم ذکر کړو. یا له وجه د تخصیص بعد التعمیم نه. لیکن دا تخصیص بعد تعمیم هم فائدۀ لري. لکه دلته له وجه د عزت د جبرئیل آمین نه دوباره صراحتاً ذکر کړو. اول خوضمناً په عامو ملائکو کښې داخل وو. بیائے صراحتاً ذکر کړو عزتاً. په کرتاتو او مرتاتو سره په قرآن پاك کښې دا سے مقام شته چه هلته یو لفظ ذکر مابقیه پکښې مراد کړے شي. لکه یَآ اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لفظ مذکرد مؤنث پکښې هم مراد دے. یَآاَیُّهَا النَّاسُ ولے ناس نه مراد انسانان دی لیکن جنیات پکښې هم مراد دی. (فتفکر)

(بقیه بحث) چه آلِهٖ اَجْمَعِیْنَ په ترکیب کښې څه واقع شوی دے؟

۱- جواب:- اجمعین لفظ باندے تشریح وکړے شي چه دا ولې ذکر شوی دے؟

۲- جواب:- اجمعین لفظ دا عام طور سره ملحی د پاره د تاکید. دلته هم تاکید په معنوی شکل سره ملخ دے. او غرض د مصنفؒ د دے ذکر کولو سره دکول دی په اهلِ روافضو باندے. څکه چه هغوی بعضې اصحاب کرامو باندے بد وائی. او تعن وائی. نو مصنفؒ ور باندے سخت رد وکړو. (اولاً) د خو دا وو چه لفظ د اصحابه ئې ذکر نکړو. چه اشاره ئې وکړه دے خبرے ته چه صحابه کرام تول په آل کښې داخل دی. لیکن بیا هم بعضې عنادی کسانو دماغ کښې به دا خبره ګرځیده چه بعضې صحابه کرام به شاید چه بنسه خلق نه وی تیر شوی. نو مصنفؒ د هغوی د بیخ کندی د پاره لفظ د اجمعین ذکر کړو. چه صحابه کلهم عدول. اصحابی کالنجوم فبایهم اقتدیتم اهتدیتم - نو تاکید په دوه قسمه سره دے. یو تاکید لفظی دے چه تکرار د لفظ وی اِنَّ اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ. ضَرَبَ ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا. ضَرَبْتُ ضَرَبْتُ عَمْرًا وَخَالِدًا - او که حکمی وی. لکه ضَرَبْتُ ضَرْبًا. دلته اګرچه حقیقتاً مکرر نه دے لکن

حکمًا مکرر دے. دا د دے قبیلې نه دہ ضَرَبْتُ ضَرَبْتُ او بل تاکید معنوی دہ.
د دغه الفاظ معلوم دی چه تقریبًا (اتّه) الفاظ دی: نفس - عین - کِلَا - کِلْتَا
کُلُّ - اَجْمَعُ - اَکْتَعُ - اَبْتَعُ - اَبْصَعُ - او اجمعین د اَجْمَعُ نه دہ. دا صیغه د جمع
سالم مذکر اسم فاعل نه دہ. په حالت جری او نصبی کښې. او په حالت رفعی کښې
اجمعون راځی. لکه د ملایکو په شان کښې چه آیات کریمه نازل شوی دے چه
فَسَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ.

اوس ترکیب د دے دا دے. واو حرف عاطف آل مضاف ہٗ ضمیر مضافٌ الیه
آل مضاف سره د مضافٌ الیه نه چه ہٗ ضمیر دے دا مؤکد شو. او اجمعین صیغه د
جمع مذکر سالم دا ورته تاکید شو. مؤکد چه آله دے سره د تاکید نه چه اجمعین دے
دا معطوف شو د پاره د معطوفٌ علیه چه خیر خلقه محمّد دہ. معطوفٌ علیه سره
د معطوف نه چه آله اجمعین دہ دا مجرور شو د پاره د جار چه علیٰ دہ علیٰ جار
سره د مجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نیسی تر نازلةٌ مقدره پورے. نازلة صیغه د اسم
فاعل واحده مؤنثه چه قیاس دہ په باب د ضَرَبَ یَضْرِبُ باندے. یعنی نَزَلَ
یَنْزِلُ نُزُلًا دے. او س په نازلةٌ کښې ضمیر مستتر دے چه تعبیر ترینه کیږی
په هِیَ سره هغه ورته فاعل شو. او س اسم فاعل سره د فاعل نه او سره
د متعلق نه چه علیٰ خیر خلقه محمّد واٰله اجمعین دہ. دا شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء
چه د الصّلوٰة والسّلام دہ. او مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه صورةً انشائیه
معنیً.

گذارش:- ز ما گرانو طالبانو ورونړو! اصل غرض د نحومیر د ویلو نه د
نحوے قواعد او ضوابط زده کول دی. زه به انشاء الله العزیز حتی الوسع کوشش
کوم چه تاسو ته د نحومیر شریف په لاندے طریقه سره (تشریح - ترکیب - قواعد
او تمرین) باندے داخپله شرحه مشتمل کړم. ځکه چه ځو مره طلباء کرام و ته امثال
کثیر ذکر شی. هغوی ته عظیمه فائده حاصلیږی. او امثال به هم حتی الوسع د قرآن
او د حدیث وی چه تاسو ته په قرآن او حدیث په الفاظو باندے فهم سلیم او علم راسخ
نصیب شی. او ما گنهګار بنده او کاتب د دے کتاب ته هم د علم نافع او د فهم سلیم دعاء او کړئ.

# قوله اَمّا بَعْدُ

ترجمه :- پس له دې یواوړو نه چه عبادت دے دَ بسم الله - الحمد لله - اوصلوٰة سلام نه دے . په دے مقام کښے څلور خبرے معرفت ضروري دے .

(۱) تحقیق قائلین دَ اَمّا بَعْدُ (۲) تحقیق په اَمّا کښے (۳) تحقیق په بعدُ کښے (۴) تحقیق اَمّا بعدُ په ترکیب کښے څه واقع دہ -

۱- قائلین دَ اَمّا بَعْدُ شپږ دی . (۱) حضرت یعقوب علیه السلام (۲) حضرت داؤد عَلَیْهِ السَّلَامُ (۳) حسان بن وائل (۴) یعرب بن قحطان (۵) کعب بن لوئی (۶) قیس بن سعید .

۲- تحقیق په اَمّا کښے :- اَمّا کښے څلور مذهبه دی . (۱) اول مذهب دَ ابوالبقاء دے حفه دائی . هی کلمة موضوعة براسها (۲) مذهب دَ خلیلؒ دے . حفه دائی چه اَمّا په اصل کښے مَهْمَا وو . بیا هَا بدل شو همزه سره مأما شو . بیائے قلب مکان اوکړو په مابین دَ همزه او ما کښے . همزه دَ ما په مقام کښے راغله او مادَ همزه په مقام کښے اَمْمَا شو . بیا قانون دَ ادغام وجوبی ورته متوجه شو . چه دوه حرفه دَ یو جنس نه راغلل اول ساکن ثانی متحرک . اول په ثانی کښے مدغم شو وجوباً او همزه بدل شو یَ ما سره له وجه دَ قریب المخرج نه - (۳) مذهب دَ سیبویهؒ دے حفه دائی : اَمّا په اصل کښے اِن ما وُو . نون او مَا قریب المخرج وو . نون میم سره بدل شو اِمْمَا شو . بیا دوه حرفه دَ یو جنس نه راغلل . قانونی وجوبی ادغام ورته متوجه شو . اِمّا شو . بیا کسره دَ همزه بدل شوه په فتحه سره چه فرق راشی په مابین دَ اَمّا تفصیل او اِمّا عاطفه کښے اَمّا شو . (۴) مذهب دَ جمهور وعلماء دَ نحوی دائی چه اَمّا په اصل کښے مأما وُو . همزه او میم په مینځ کښے ئے قلب مکانی اوکړه . همزه دَ مَا په مقام کښے راغلله او مَادَ همزه په مقام کښے راغے . ځکه چه همزه صدارت دَ کلام تقاضا کوی . نو اِمْمَا شو . بیا قانون وجوبی دَ ادغام ورته متوجه شو . اول په ثانی کښے مدغم شو اَمّا شو .

دَ اَمّا اقسام :- اَمّا په دوه قسمه سره دے . اَمّا تفصیلیه او اولَمّا استئنافیه اَمّا تفصیلیه دیته وائی : چه مدخول دَ هغے تفصیل واقع شی . بیا په جزاء کښے

فاء راځي . ځکه چه دا اَمّا شرطیه ده (وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ) الی آخره او اَمّا استئنافیه :- دیته وائي چه فعل راغلی وي په ما بین دَکلام سابق اولاحق کښې -

۳- تحقیق په لفظ دَبعد کښې :- لفظ دَ بَعْدُ ذا دَظروفو نه مانیه ؤنه دے او بَعْدُ اسم ظرف دے . اسم ظرف همیشه مضاف کښې واقع کیږي یا مضاف الیه ورسره ذکر وي یا مضاف الیه نه محذوف وي . او س بعد لره دے حالته دي په دوه حالتو کښې معرب ده . په یو حالت کښې دے مبني ده . وجه دَحصر په بَعْدُ کښې داده چه مضاف الیه دَ بَعْدُ به خالي نه وي . یا به ورسره ذکر وي یا به حذف وي . که ورسره ذکر وي بیا خو معرب ده . دے دَخپل عامل محتاج ده . دَ دے اعراب به موافق وي دَخپل عامل سره . که عامل رافع وي بَعْدُ به مرفوع وي که عامل ناصب وي بَعْدَ به منصوب وي . که عامل جار وي بَعْدِ به مجرور وي مثال لکه لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلِ كُلِّ شَيْءٍ وَمِنْ بَعْدِ كُلِّ شَيْءٍ . مِنْ ورباندې داخل شو جرئے ورکړو .

دویم حالت :. چه مضاف الیه دَلفظ نه حذف وي خو نیت کښې باقي وي . دغه حالت کښې دے مبني ده . لکه دغه قول دَمصنفؒ چه اَمَّا بَعْدُ ده . ځکه چه نیت کښې بِسْمِ اللهِ الحمد لِلّٰه او صلوٰة او سلام موجود دي . نو احتیاج راغے . احتیاج علامه دَمبنیا تو نه دے دریم حالت داده :- چه مضاف الیه دَلفظ نه حذف او په نیت کښې هم باقي نه وي نَسْيًا مَنْسِيًّا سره حذف وي . دغه حالت کښې بیا معرب ده ځکه چه په دے حالت کښې علت دَبنا نشته . مثال لکه رُبَّ قَبْلٍ خَيْرٌ مِنْ بَعْدٍ دلته مجرود شو ځکه چه مِنْ جاره ورباندے داخل شو . او س اعتراض راځي چه هر کله دا مبني شو بیا خو اصل په بناء کښې سکون وي . دا ولے متحرك شو . (جواب) دا ځکه متحرك شو چه سکون دلته نقصان محض ده . متحرك ځکه شو چه نقصان لره مستلزم شي بیا حرکات خو دیر دُو (ضمه - فتحه - کسره) نو مبني چه متحرك کیږي اکثر په فتحه سره ځکه چه فتحه اخف الحرکات ده (جواب) دلته نقصان قوت راغلے دُو . نقصان قوت جبیریه قوته غواړي . جبیریه قوته نه دُو مگر صرف

ضمه ده. نو دے وجه نه اَمَّا بَعْدُ مبنی شو. مبنی په ضمه سره -

۴ - تحقیق - دَ اَمَّا بَعْدُ ترکیب ده :-

اَمَّا په اصل کښے مَهْمَا یکن شَیْئٌ مِنَ الاشیاء ثابتًا بعد البسملة والحمدلة والتَّصْلِیَةِ - مَهْمَا اسم شرط یکون دا یو فعل دے دَ افعال ناقصه نه تقاضی کوی اسم مرفوع خبر منصوب - شَیْئٌ موصوف مِنَ الْاَشْیَاءِ جار مجرور په اعتبار دَ متعلق سره چه موجودٌ ده دا صفت شو دَپاره دَ موصوف چه شَیْئٌ دے. موصوف سره دَ صفت نه چه من الاشیاءِ ده دا اسم شو دَپاره دَ یکن - ثابتًا دا صیغه دَ اسم فاعل ده دَ باب نَصَرَ یَنْصُرُ نه چه تعبیر نے دا رنگه کیږی ثَبَتَ یَثْبُتُ ضمیر پکښ مستتر چه تعبیر ترینه کیږی په هُوَ سره چه هغه راجع ده شَیْئٌ ته دا ئی فاعل شو بَعْدَ مضاف التسمیة معطوفٌ علیه دَ اوْحرف عاطف الحمدلة معطوف اول دَ اوْحرف عاطف التَّصْلِیة ئے معطوف ثانی. معطوفٌ علیه سره دَ دواړو معطوفینو نه دا مضافٌ الیه شو دَپاره دَ مضاف چه بَعْدُ ده. مضاف سره دَ مضافٌ الیه نه چه جمله ثلاثه ده دا مفعول فیه شو دَپاره دَ ثابتٌ یا ثابتًا. نو ثابتٌ یا ثابتًا صیغه دَ اسم فاعل هُوَ ضمیر پکښے فاعل دا شبه جمله خبر شو دَپاره دَ یکن، یکن سره دَ اسم نه چه شَیْئٌ مِنَ الْاَشْیَاءِ ده او سره دَ خبر نه چه ثابتًا بعد البسملة والحمدلة والتصلیة دا جمله فعلیه خبریه شوه -

سوال :- اَمَّا بَعْدُ سره ولے مصنفٌ اختصار وکړو؟

جواب :- ځکه چه دَ رو ستنه خپل کتاب کښے مختصره فقره ذکر کوی نو ځنے ته ئے اشاره اوکړه - نو اختصار ویلے شی اداء المطالب الکثیرة بالفاظ قلیلَةٍ -

کتاب په څلور قسمه سره دے (۱) رساله (۲) فتاوی (۳) مختصر (۴) مطول تفصیل قلیل الالفاظ قلیل المعانی ته علماء حضرات رساله وائی لکه ایساغوجی ته چه منفصل صاحب رساله ویلے ده.

دویم - کثیر الالفاظ کثیر المعانی ته علماء حضرات فتاوی وائی - اصل فتاوی فتوٰیا نه ده. فتویا خوان ته وائی. او ځوان هر قسم تکالیف برداشت کولے شی دغه رنګه کثیر الالفاظ کثیر المعانی هم رنګه مسائل عیان کولے شی او طاقت ورسره

موجود وی۔

دریم - قلیل الالفاظ کثیر المعانی ته علماء کرام مختصر وائی . لکه مختصر الوقایه . مختصر القدوری . مختصر المعانی -

۴ - کثیر الالفاظ قلیل المعانی ته مطول وائی . لکه مطول د مولوی یعقوب یا میبذی یا قطبی . د دوی الفاظ بنه ډیر دی لیکن حاصل به ډیر قصیر وی . اګرچه پخپله مطول سخت او ګران کتاب دے . خو تفصیل د دے په یوے مختصر فقرے باندے به نے طویل بحث شروع کړے وی . فَاِنْ اَصَبْتُ الحق فهو من الله وان اخطاء فهو مِنِّیْ

## بِدان اَرْشَدَكَ اللّٰهُ تَعَالٰی

ترجمه :- پوه شه اے طالبه نیکه لاره دے او ښائی تا ته الله تعالیٰ

دلته دخلور وخبرو معرفت ضروری دے . (۱) تحقیق په ذکر د بدان کښی (۲) تحقیق ارشدك الله کښے (۳) تحقیق تعالیٰ کښے (۴) تحقیق په ترکیب کښے .

۱- تحقیق :- اعتراض وارد یږی چه مصنف غرض د تصنیف د کتاب نه مسائل د نحو دی او شروع کول په بدان باندے دا اشتغال بمالا یعنی دے .

جواب :- دا اشتغال بمالا یعنی نه دے بلکه اشتغال بما یعنی ده . ځکه چه دا د مصنفینو طریقه ده چه کله یوه اهمه خبره ذکر کوی . اول مخاطب خپل ځان ته بیدار کوی . د هغے نه بعد ورسره خبرے کوی . د دے لپاره چه زما خبره ضائع او عبث لاړه نشی . نو ځکه ئے بدان ذکر کړ -

سوال :- بیا دے لپاره اعلم هم کاد کولو نو اعلم به ئے ذکر کړے وائی . لکه نحو ئانی یا بعضو نورو کتابونو چه ذکر کړے دے .

جواب :- اعلم لفظ عربی ده . او دا کتاب د فارسی ده . نو مصنف اولاً اشاره او کړه په بدان سره چه ځما کتاب د فارسی په ژبه دے نه د عربی په ژبه نو ځکه ئے اعلم ذکر نکړ .

سوال :- بیا خو به فارسی کښے پښتو لفظ هم موجود دو هغه به ئے ذکر کړے وو .

جواب :- د پښتو تعلق صرف غوږ و نو سره دے او د بدان تعلق د زړه او غوږ و نو

دواړو سره دے نو ځکه ئے بدان ذکر کړ او بشنو ئے ذکر نه کړ۔

سوال :- بیا خو به ئے بفهم لفظ ذکر کړے وائی ۔ ځکه د دے تعلق هم دواړو سره دے ۔
جواب :- د بفهم لفظ تعلق یقیناً نزره او غوږ دواړو سره دے ۔ لیکن د بفهم بیا دویم تعلق هغه الفاظو او معانیو سره دے چه په زمانه گذشته کښے تیر شوی دی ۔ او د بدان تعلق بیا هغه الفاظو او معانیو سره دے چه هغه مستقبل زمانے کښے راروان وی ۔ او غرض د مصنف هم د مستقبل د قواعدو او ضوابطو نحو مراد ده ځکه بفهم ئے ذکر نکړ او بدان ئے ذکر کړ ۔ په بدان کښے دغه شیان ضروری دی ۔

(۱) آمر - دا مصنف پخپله ده (۲) مامور - چه مخاطب ده (۳) مامور بهٖ - کتاب د منتهٔ په تحقیق :- اَرْشَدَكَ اللهُ - دا جمله معترضه ده چه راغلے ده په مابین د بدان او کرا بن مختصراست قولینو کښے ۔ او غرض د مصنف د دے د ذکر کولو نه ترغیب الى الطلباء کړا مو ته ده ۔ چه تاسو په علم کښے ښه کوشش وکړئ ځکه چه هم تاسو خدائی پاک کامیاب کړی هستئ او د دین مقدس عالی خدمت د پاره الله پاک تاسو منتخب کړی یاست ۔ د هر انسان طبیعت داده چه زه پخپله رائی باندے یو کار وکړم نو لیکن هغه کار د هغه نه مخالف شی ۔ لیکن هغه کار پکار ده چه د هغه موافق شی خو په واسطه د الله سره ۔

سوال :- بدان ئے د فارسی په لفظ کښے ذکر کړ او دعا ئے د عربئ په ژبه کښے ذکر کړه دا ولے ؟
جواب :- مصنف عَلَيْهِ الرَّحْمَة اشاره اوکړه دے خبرے ته چه دعاء په عربئ ژبه کښے دیر زر قبلیږی ۔ د دے وجه نه مصنف دعاء په عربئ ژبے سره ذکر کړه ۔
سوال :- دا خو صیغه د ماضی ده ۔ د لته د مضارع صیغه پکار ده ۔
جواب :- مصنف اشاره وکړه دے خبرے ته چه گویا ځما دعا خدائی پاک قبوله کړیده ځکه ئے اَرْشَدَ صیغه د ماضی سره ذکر کړه ۔
(دویم جواب) :- داده چه دا مقام مقام د دعاء ده ۔ او دعاء کښے ماضی په معنی د مضارع سره ډیرو ځایونو کښے راغلے ده ۔ چه فعل ماضی په معنی د فعل مضارع سره ذکر کیږی ځکه د قیامت د واقعات نزول مضارع دی ۔ لیکن د متحقق وجود د پاره تعبیر د هغوی

الله پاك په ماضي سره کوي . دلته هم له وجه دَکمال يقين دَمصنفؒ نه چه څما دَعاء خداى پاك قبوله کړيده . ځکه ئے ماضي صيغه ذکر کړه .

(دريم جواب) - داده چه يائے دَپاره دَ تفاؤل ذکر کړيده . او جمله دعائيه کله کله تفاؤلاً خلق دَماضي په صيغو سره ذکر کوي . لکه يو شاعر وائي .

آمد ماضي بمعنی مضارع چند جا - عطف ماضي بر مضارع در مقام ابتدا
بعد موصول نداو ولفظ حيث كلما - در جزا و شرط باشد هردو باشد در دعاء

نو مقام دَابتداء دوجه نه جمله خبريه راغلے ده . صورةً انشائيه ده معنیً ځکه چه اَرْشَدَ صيغه دواحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم ده دَباب دَافتعال نه اِرْتَشَدَ يَرْتَشِدُ اِرْتِشَادًا . قياس ده په نَصَرَ يَنْصُرُ باندے . رَشَدَ يَرْشِدُ . رَشْدًا او رُشْدًا - او کاف دا خطاب دَپاره راغلے ده دا مفعول بہٖ ده او لفظ دَالله ورته فاعل ده .

سوال :- دلته خو تقدم دَ فعل راغلے په فاعل باندے اصل خو فاعل مقدم وي په مفعول باندے .

جواب :- تقدم دَفاعل په مفعول باندے واجب ده خو کله چه مانع موجود نه وي . او کله چه مانع موجود شي بيا تقدم دَمفعول واجب وي په فاعل باندے او دلته مانع موجود ده چه هغه ضمير منصوب متصل ده چه کاف دَخطاب ده . دلته تقديم دَفاعل ممتنع دَے که فاعل مقدم شي اتصال دَضمير منصوب به ختم شي .

۲ - تحقيق په لفظ دَ تعالیٰ کښے ده :- تَعَالیٰ صيغه دَواحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم ده دَباب دَتفاعل نه - تَعَالیٰ يَتَعَالیٰ تَعَالُوًا ، او ماده دَدے عَلَوَ يَعْلُوُ عَلُوًا قياس ده په فَتَحَ يَفْتَحُ فَتحًا باندے . او دَ طريقه کار دَدے داده چه وَاوْ دَ ماده په دريمه باب کښے ده ځکه چه ناقص واوي ده . او هر کله دَدے نه باب دَتفاعل جوړيدل نو اول کښے تا راغے . دريم ځاے کښے الف راغے نو تَعَالَوَ شو . وَاوْ پنځمه کلمه مقام کښے دغود خيدل بيا واؤ بدل شو په ياء سره ځکه چه دا قانون دَصرف ده چه وَاوْ په طرف کښے واقع شي هر ليرې په ياء سره نو تَعَالَیَ تر ينه جوړ شو . بيا يا متحرك ما قبل تر ينه مفتوح قانون دَ نرَا دي ورته متوجه شو يا بدل شو الف سره تعالیٰ تر ينه جوړ شو

او تعالیٰ داحال واقع دہ دَ لفظ دَ اللہ نه حفه ذوالحال ده. دا ترینه حال ده. معنیٰ یه دا سانګه شي. حال کون ده الله کښې چه لوئے دے او صفت دَ الله نه کیږی ځکه چه دا تعالیٰ دَ جمله فعلیه خبریه ده او جمله فعلیه خبریه صفت د نکرے واقع کیږی نه دَ معرف ځکه چه دوارو ترمابین کښے منافات ده. معرفه دلالت کوی په ذات معینه باندے او جمله دلالت کوی په نسبت مبهمه باندے. او په مابین دَ تعین او دَ ابهام کښے منافات دَ دے وجه نه تعالیٰ حال واقع شو دَ الله لفظ دَ پاره او صفت واقع نه شو.

تحقیق په ترکیب کښے دے :- اَرْشَدَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دَ باب افعال نه اَرْشَدَ یُرْشِدُ اِرْشَادًا (کَ) ضمیر مخاطب منصوب متصل مفعول به لفظ دَ الله ورته فاعل ذوالحال تعالیٰ صیغه دَ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دَ باب تفاعل نه تَعَالیٰ یَتَعَالیٰ تَعَالُوًا قیاس ده په باب دَ فَتَحَ یَفْتَحُ فَتْحًا باندے چه مجرد دَ دے عَلَوَ یَعْلُوُ عَلُوًّا راځی. ضمیر پکښے مستتر ده چه تعبیرئے ترینه کیږی په هُوَ سره چه راجع ده لفظ دَ الله ته حفه ئے ورته فاعل شو. تعالیٰ فعل سره دَ فاعل نه چه هُوَ ده دا جمله فعلیه خبریه حال ده دَ ذوالحال نه چه حفه لفظ دَ الله ده لفظ دَ الله ذوالحال سره دَ حال نه چه تعالیٰ ده دا فاعل شو دَ پاره دَ اَرْشَدَ فعل، ارشد فعل سره دَ فاعل چه الله تعالیٰ ده او سره دَ مفعول به چه ضمیر دَ خطاب ده چه کاف ده داجمله فعلیه خبریه دعائیه معترضه صورۃ الشانیه معنیً

که ایں مختصر ایست مضبوط در علم نحو که مبتدی را بعد از حفظ مفردات لغت و معرفت اشتقاق و ضبط مهمات تصریف باسانی بکیفیت ترکیب عربی راه نماید و زود در معرفت اعراب و بنا و سواد خواندن توانائی دہد۔ بِتَوْفِیْقِ اللّٰهِ تَعَالیٰ وَعَوْنِه

ترجمه :- یوه شه چه دا یو مختصر کتاب دے. لیکلے شوے دے په علم نحو کښے چه شروع کونکی ته پس دَ یاد ولو دَ مفردا تو دَ لغت نه او پس له پیژندلو دَ جوړولو دَ الفاظو نه او قابو سا دستلو دَ ضروری مسئلو دَ صرف نه په آسانئ سره په طریقو دَ ترلو دَ عربی

الفاظو ته به لاره خاتی اونه دتونره به په پښتو لودَمعرب اودَمبنی کښے اودَعبارت لوستو کښے طاقت ورکوی ـ داخبره مکمل دَ الله پاک په توفیق اودَهغے په مدد سره کیږی بغیره دَهغے دَمدد نه مشکل ده -

## تشریحات

قوله مختصر :- صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب افتعال نه اومصدر دَدے اختصار آ راځی ـ او س اختصار په لغت کښے کوتاهی ته وائی ـ او په اصطلاح کښے اداء المطالب الکثیرة بالفاظ قلیلة ـ لکه شاعرچه وائی :

ـ لایمکن الثناء کما کان حقهٗ - بعدازخدابزرگ توئی قصه مختصر

بعضے حضرات وائی چه دَ مختصراو مقتصر سره فرق ده ـ مختصر خو دیر مطالب په الفاظ قلیل سره حاصلولو ته وائی ـ او مقتصر چه الفاظ او مطالب دواړه قلیل وی ـ یعنے جامع کتاب دے طویل نه دے ـ

قوله مضبوط :- دا دَ ثلاثی مجرد دَباب نه راغلے ده ـ صیغه دَ اسم مفعول ده ـ مضبوط معنی محفوظ او مکتوب معنی سره هم راغلے دے ـ

قوله درعلم نحو :- علم په لغت کښے دا نستلو ته ویل کیږی ـ او په اصطلاح کښے یولس معنی سره راغلی ده ـ لکه شرح عقاید څانله معنی کوی، سلم العلوم څانله معنی کوی ـ قاضی محمد مبارك څانله معنی کوی، دَفقهی کتابونه څانله معنی کوی ـ دَ علم اصول کتابونه څانله معنی کوی ـ او نحو په لغت په اتلہ معنی سره یا فقط معنی سره یا اتلہ معنی سره راغلے ده ـ لکه کښے تیره شویدی ـ نحو دَ سا تلو معنی سره هم راځی ـ لکه دحضرت علی کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ په باب کښے راځی چه دَ هغه دا قول « اذاجاء النحویون فی یوم القیمة قیل فی حقهم من جانب الله تعالیٰ یا ملا ئکتی انحوهم عن النار کانحو کلامی عن الخطاء » - او په اصطلاح کښے کما مر فی تعریف علم النحو -

قوله مبتدی :- په لغت کښے شروع کونکی ته وائی ـ او په اصطلاح کښے هو الذی شرع فی اول جزء من الشئ مع قصد تحصیل باقی الاجزاء ـ دَدے مقابله کښے منتهی ده نو منتهی ما یصل الی اٰخرجزء من الاشیاء ـ نو مبتدی صیغه دَ اسم فاعل ده دباب افتعال نه -

قوله مفردات :- په لغت کښې خورځښې جوړولو په وخت چه کوم الفاظ ذکو ے معنی دپاره راخارج شی . نوذغه الفاظوته مفردات وائی . مفردات جمع ده دَ مفرد اوبیا مفرد په ډیرو قسمونو سره راځی . مقابل دتثنیه . مقابل دَجمع مقابل دَمرکب . مقابل دَمضاف . مقابل دَجملے . دلته مراد دَمفرد نه هغه مفرد دے چه مقابل دَمرکب وی .

قوله لغت :- په لغت کښې نطق ته وائی . اولغت په اصطلاح کښې مایعبر کل قوم عن اغراضهم . لغت دا صیغه دَمصدر ده . په اصل کښې لُغَوٌ وو . وَاوْ متحرک ماقبل مفتوح بدل ئے کړ الف سره . بیا التقاء دَ ساکنینو راغلله دالف اودَ تنوین په مابین کښې . الف مده حذف شو . او په عوض کښې ئے تاء راوړے شوه لغة جوړشو لکه ناقص یا یونو کښې چه دَاو حذف شی عوض کښې آخر کښې تاء راځی .

قوله معرفت :- دا صیغه دَمصدر ده دَباب دَثلاثی مجرد نه دَضرب دَباب نه راعلے ده معنٰی ئے پیژندل دی .

قوله اشتقاق :- په لغت کښې پاره کردن . او په اصطلاح کښې ان تجد بین اللفظین مناسبة فی اللفظ والمعنی کما جاء فی المراح الارواح علی ثلاثة اقسام . نو اشتقاق دا صیغه دَمصدر ده دَباب دَافتعال نه . شِقَق دَدے ثلاثی مجرد راځی . ضبط معنٰی یادول یالیکل

دَ مهمات تصریف :- مهمات دا صیغه دَجمع سالم مؤنث اسم فاعل ده دَباب افعال نه اومفرد دَدے مِهِمَّة راځی . معنٰی دَدے په لغت کښې غم اوفکر ته وائی . اودلته بجائی مستعملیږی په امرعظیم بانډے .

قوله تصریف :- په لغت کښې تغیر ته وائی . اوپه اصطلاح کښې هو تحویل لفظ واحد الی الالفاظ متعددة بحسب الزمان والمکان . لیکن دلته مضاف محذوف ده . علم تصریف یعنی علم صرف مراد ده ..

حاصل دَدے خبرے دا شوچه ترغیب الی الطالب ده - اے طالبه ! په دے کتاب کښې دے خبرے امرعظیم در ته حاصلیږی (۱) دَعربی کلما تو ترکیب در ته اسانیږی (۲) هغه کلمات چه دَعربی سره تعلق دار وی دَهغې معرفت چه دا معرب ده . دا مبنی ده . دا مرفوع ده یا دا منصوب ده . دا مجرور . (۳) دَعربی کتابونو عبارت

په صحیح طریقے سره لوستل. او س دا دسے وایه کا ره دعلم نحو سره تعلق ساتی او د علم نحو د زده کولو د پاره دریے دیے شرائط دی. (۱) علم لغت (۲) علم اشتقاق (۳) علم صرف. (۴) خبره دے سره لا نو غیر منفك حقه توفیق خدا ورکوی دا دے.

قوله بکیفیت ترکیب عربی :- ترکیب په لغت کښے جوړولو ته وائی او په اصطلاح کښه ربط الکلمة بکلمة الاخرىٰ من ارتباط معتبرة عندهم.

قوله اعراب :- مراد تزیینه اعراب ده. اعراب صیغه د مصدر ده د باب افعال نه او کله کله همزه د پاره د سلب هم راځی. اعراب په لغت کښے اظهار ته او بل فساد لرے کولو ته هم وائی. او په اصطلاح کښے ما اختلف اخر المعرب به. او بل بناء ده په لغت کښے قرار ته وائی. او په اصطلاح کښه هو عبارت عن الحرکة والسکون فی اٰخر المبنی ای فی اٰخر المبنی.

قوله توفیق :- په لغت کښے دست دادن کسی را درکار او په اصطلاح کښے جعل اسباب العبد موافق لما هو خیر فی حقه عند الله لا عنده. دا عند الله لفظ سره فضولات خارج شو. لکه چه غل غلا ته ځی امداد وس سره خیر ده د ده په حق کښے نه عند الله.

قوله وعونه :- عون صیغه د مصدر ده. عَانَ. یَعُوْنُ. عَوْنًا په معنی د مدد سره یعنی هر انسان چه یو کار کوی دا د الله پاك په اراده سره کوی. بیا د خیر کار کښ اراده او مشیت دواړه شامل حال وی. او په کفر. شرك. بدعت. رسم او رواج وغیره کار چه اسلام نه مخالف وی اراده ئے شته مشیت ئے نشته.

اخیر کښے ترکیب. بِتَوْفِيْقِ اللهِ تَعَالٰى وَعَوْنِهٖ :- باء حرف جار توفیق دا مصدر دے د باب تفعیل نه د وَفَّقَ يُوَفِّقُ تَوْفِيْقًا مجرور مضاف لفظ د الله ذو الحال تعالٰی صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم د باب تفاعل نه کما مر. ضمیر پکښ مستتر چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره راجع ده الله لره هغه ئے فاعل. تعالٰی فعل سره د فاعل چه هُوَ ده دا جمله فعلیه حال شوه د پاره د ذو الحال چه لفظ د الله ده. ذو الحال مع الحال دا مضاف الیه شو د پاره د مضاف چه توفیق ده. مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف علیه شو. واؤ حرف عطف. عون مصدر مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف شو د پاره د معطوف علیه. معطوف علیه

سره دَ معطوف نه دا مجرور شو دَ پاره دَ جار. جار مع المجرور دا ظرف مستقر تعلق نیی تر استعین مقدر پورې. استعین صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم دَ باب استفعال نه چه استعان یستعین استعانا ضمیر پکښې مستتر چه تعبیر ئې کیږی په انا سره هغه ئې فاعل شو. استعین فعل مع الفاعل چه انا ده مع المتعلق چه بتوفیق الله وعونه دا جمله فعلیه خبریه شوه.

**فصل** بدانکه لفظ مستعمل در سخن عرب بر دو قسم ست مفرد و مرکب مفرد. لفظے باشد تنها که دلالت کند بر یک معنیٰ و آن را کلمه گویند و کلمه بر سه قسم است اسم چون رَجُلٌ و فعل چون ضَرَبَ و حرف چون هَلْ چنانکه در تصریف معلوم شده است

ترجمه :- دا فصل دے - ته ده کړه دا خبره چه کوم لفظ مستعمل وی په ژبه دَ عربو کښې هغه په دوه قسمه سره دے. یو مفرد او بل مرکب. مفرد هغه لفظ ده چه دلالت کوی یوازې په یوه معنیٰ باندې. او هغې ته کلمه وائی. بیا کلمه په درې قسمه ده. اسم ده لکه رَجُلٌ یعنې سړے. او فعل لکه ضَرَبَ وهل وکړه یو سړی. او حرف لکه هَلْ شو. معنیٰ ئې دا شوه چه دا په علم صرف کښې خه په واضح طور سره معلومه شوید ه

# تشریحات

دَ دې یو خبرو معرفت ضروری ده. (۱) تشریح دَ الفاظو (۲) سوال جواب (۳) مشق تمرین

قوله فصل :- په لغت کښې جدائې ته وائی او په اصطلاح کښې هو الحاجز بین الحکمین یا بین الکلامین - اول کلام ختم ثانی شروع شی. دَ اول کلام خاتم او دَ ثانی کلام ابتداء دا فصل ده.

قوله لفظ :- لفظ په لغت کښې مطلق غورځولو ته وائی. لکه عرب وائی اکلت التمرة ولفظت النواة او په اصطلاح کښې ما یتلفظ به الانسان حقیقة کان او حکما. موضوعا کان او مهملا کما فی الکافیه دَ دې پوره تفصیل کافیه یا هدایة النحو کښې

قوله مستعمل :- داصیغه دَ اسم مفعول دہ دَباب دَ استفعال نه معنیٰ ئے دادہ چه مستعمل کرے شوے ۔

قوله د سخن عرب :- دَ عربو په خبرو کښے ۔ داقید ئے چه ونکولو نو مطلب دا شو چه په دے کتاب کښے دَ عربی ژبے قوانین بیانول مقصود دی ۔

قوله مفرد و مرکب :- دا دواړه دَ اسم مفعول صیغے دی دَ باب افعال څخه اَفْرَدَ، یُفْرِدُ، اِفْرَادًا ۔ او مرکب دَ باب دَ تفعیل څخه جوړ دہ ۔ دا دواړه یو بل سره مقابل کښے دی ۔ او س مفرد په لغت کښے یواځے والی ته وائی ۔ او په اصطلاح کښے هغه دہ چه متن شریف کښے داخلے دہ ۔ او مرکب په لغت کښے ترکیب ته وائی ۔ او اصطلاحی معنیٰ ئے په خپل مقام کښے راځی ۔ (او س وجه دَ حصر) دا دہ چه دا لفظ به خالی نه دی ۔ یا به جُزْءِ دَ لفظ دَلالت کوی په جزء دَ معنیٰ باندے یا به ئے نه کوی که نه ئے کولو نو مفرد شو ۔ او که جزء دَ لفظ ئے دلالت کولو په جزء دَ معنیٰ باندے نو دا مرکب شو ۔ مثال دَ مفرد لکه زید شو ۔ مثال دَ مرکب لکه زَیْدٌ قَائِمٌ شو او س زید تنها دلالت نه کوی په جزء دَ معنیٰ باندے ۔ ځکه چه په زید کښے یو جزء ئے (زا) دہ ۔ او س دغه (زا) په څه هم دلالت نه کوی ۔ خلاف دَ زَیْدٌ قَائِمٌ نه ځکه چه یو جزء دَدے زَیْدٌ دہ ۔ دغه زیدٌ او س دلالت کوی په جزء دَ معنیٰ دَدے باندے چه (سړے) دہ ۔ نو ځکه دَ مفرد تعریف کښے ئے داالفاظ ذکر کړہ ۔ چه مفرد دیته دائی چه دلالت کوی صِرف په یوے معنیٰ باندے ۔ یعنے جزء دَ لفظ به دلالت نه کوی په جزء دَ معنیٰ باندے ۔ او دلالت معنیٰ یو شے دَ بل شئ پته لګول ۔ لکه لوګی نه دا پته لګی چه دلته ناردہ ۔ لکه په سړکونو باندے میل کانړے وی دلالت کوی په مسافت باندے ۔ اشارہ دلالت کوی په مشار الیہ باندے ۔ او دګوتو بندونه دلالت کوی په شمیر باندے ۔ او س داکلمه درے قسمه سره دہ ۔ اسم ۔ فعل ۔ حرف اسم هغه کلمه دہ چه دلالت کوی پخپله معنیٰ باندے ۔ خو ظاهرہ ولے شی دا معنیٰ مگر زمانے ته محتاج نه دے ۔ لکه سړے ۔ آسپ وغیرہ ۔

فعل هغه کلمه دہ چه دَ خپلے معنیٰ ظاهرولو کښے زمانے ته محتاج دہ لکه ضَرَبَ شو هلته معنیٰ سره دَ دهلو زمانے ته محتاج دہ ۔ چه دا کاد په تیرہ زمانه کښے

شوی ے . یا یَضْرِبُ نو تلو کلے زمانے کښے به دا کار کیږی یا به وشی .
او حرف هغه کلمه ده چه خپله معنیٰ ظاهرولو کښے احتیاج لری یا اسم ته یا فعل ته . بغیر
کوے نه حرف نشی راتلے . ځکه چه حرف یو واسطه ده په مابین کوویٔ کښے . مثال لکه
هَلْ ضَرَبَ حَمِیْدٌ ایا وهل کړیدی حمید - ا سم غیر مقترن فعل مقترن ذی نو دیسته
مفردات واخلی . چه اسم معنیٰ خانله معلومه شی . فعل معنیٰ خانله معلومه شی . حرف
معنیٰ خانله معلومه شی . بیا به مرکب معنیٰ معلوم شی .

## دویم بحث سوالات او جوابات

سوال :- تعریف دَلفظ جامع نشو ځکه چه او ته دو ته . خارج شو ترینه ملفوظات
دَالله پاک او ملفوظات دَملائکو او ملفوظات دَجنیاتو . ځکه چه په حقوی انسان
تلفظ نه کوی . بلکه الله پاک او ملائکے او جنات هم تلفظ کوی . او تا په لفظ دَ تعریف کښے
ما یتلفظ به الانسان ذکر کړیده . او انسان ورته فاعل واقع شویده دَ فعل دَپاره .
جواب :- دا تلفظ عام دے اوّلاً وی ثانیاً وی . اګرچه اوّلاً تلفظ دَ انسان ور باندے نه وی
لیکن کله چه نقل انسان ته شی بیا ثانیاً تلفظ ور باندے راشی . لیکن دا تلفظ عام دے
لکه ځکه چه ما په تعریف دَلفظ کښے اشارة او کړه حقیقةً لکه تلفظ دَ انسان لکه ضَرَبَ
زَیْدٌ حکماً لکه نفس ضَرَبَ چه هُوَ مقدر ده حکماً . مهمل لفظ لکه دیز نو ځکه ما
تعریف کښے راغلی او کړه .
سوال :- مستعمل چه وویل احتراز نے دَچا نه وکړو ؟
جواب :- احتراز نے دَغیر مستعمل نه وکړ ځکه چه نحات دَهغے نه بحث نه کوی .
سوال :- چه درسخن عرب قید نے وکړو لو نو نور وش بوکښے الفاظ مستعمل نه دی
حال دا ده چه الفاظ مستعمل ده . بیا دا قید ته څه ضرورت شو .
جواب :- دا قید قید احترازی نه دے . بلکه دا قید ے ولکولو اشارة نے وکړه
دے خبرے ته چه مقصود په دنیا کښے وی دی . خو څما مقصود دَدے کتاب نه صِرف
عربی الفاظ صحیح دی . ځکه مصنفؒ قید دَعربی لفظ ذکر کړ چه مقصود اصلی خپل
معلوم شی .
سوال :- چه دا لفظ ولے په دوه قسم سره شو یو مفرد بل مرکب ؟

جواب :- ځکه چه دالفظ به خالي نه وي. یا به جزء دَدے لفظ دلالت کوي په جزء دَدے معنیٰ باندے. یا به ئے نه کوي. که کولوئي دا مرکب شو. که نه ئے کولو دا مفرد شو نو دَدے وجه نه لفظ په دوه قسمه سره شو.

دویم جواب :- دالفظ به خالي نه وي. یا به دلالت کوي صرف یوے معنیٰ باندے. یا به دلالت کوي په ډیرو معنیٰ گانو باندے. که دلالت ئے کولو په یوے معنیٰ باندے دا مفرد شو. اوکه دلالت ئے کولو په ډیرو معنیٰ گانو باندے نو مرکب شو. نو دَدے وجه نه دالفظ هم تقسیم شو مفرد او مرکب ته -

سوال :- بیا کلمه ولے په درے قسمه شوه ؟

جواب :- داکلمه به خالي نه وي یا به دال وي په ذات یا دال وي په وصف یا به دال وي په ربط باندے. کهچرے دال وو په ذات نو دا اسم شو. اوکچرے دال وي په وصف دا فعل شو. اوکچرے دال وي په ربط دا حرف شو. اوس دَاسم معنیٰ سابق کښے تیره شوه چه بصریین حضرات ئے دَ ناقص واوي نه وائي سمو نه وائي او کوفیین ئے دَ وسم مثال واوي نه وائي. علامے ته وائي. (دَفعل معنیٰ) فعل په لغت کښے حدث ته وائي. او په اصطلاح کښے فعل هغه کلمه ده چه دَلالت کوي په معنیٰ خپله باندے خو بغیر دَ ضم دَ اخر نه . او مقترن دَ زمانے وي. خاصخا په تعلق لرئ (ماضي - حال - مستقبل) یوے او په اصطلاح دَ فعل کښے درے اشیاء راځي (حدث - نسبت - زمانه) او (حرف) په لغت کښے طرف ته وائي لکه عرب وائي . جلست حرف الوادي اے طرف الوادي. او په اصطلاح کښ حرف کلمه ده چه دلالت نه کوي پخپله معنیٰ باندے بغیر دَضم دَ اخر نه . لکه هَلْ شو. نو دَدے معنیٰ استفهام ده. ترڅوچه ورسره بل جزء ذکر نشي دَدے معنیٰ لغوي کیږي. لکه هَلْ ضَرَبَ زَیْدٌ داطرف ځکه ده چه دَکلام دوه طرفه وي. یوطرف مسند الیه او بل طرف مسند ده . نوحرف نه مسند ده او نه مسند الیه.

سوال :- دا خو په مینځ دَکلام کښے هم واقع کیږي. لکه سِرْتُ مِنَ الْبَصْرَتِ اِلَی الْکُوْفَتِ

جواب :- دا مراد نه دے چه دا به خامخا په طرف کښے واقع کیږي او مینځ کلام کښ

به نه واقع کیږی. بلکه دَدے اصلی جواب دادہ چه دا حرف نه مسند الیه واقع کیږی او نه مسند اګرچه په مینځ دَ کلام کښے واقع شی -

# تمرینات

ضَرَبَ زَيْدٌ قَدْ فَرَسٌ ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامُ زَيْدٍ بَقَرٌ خَمْسَةَ عَشَرَ غَنَمٌ زَيْدٌ قَائِمٌ عَمْرٌو قَاعِدٌ مَاءُ الْبِئْرِ صَلٰوةُ الظُّهْرِ مَكَّةٌ مَدِينَةٌ بَعْلَبَكَّ حَجُّ الْبَيْتِ ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا مَلِكٌ مَلَكُ الْمَوْتِ ذَهَبٌ فِضَّةٌ ذَهَبَ ذَهَبٌ حَمِيدٌ سَاعَةٌ سَاعَتِيْ عِلْمُ السَّاعَةِ رِدَاءٌ قَمِيصٌ قَمِيصِيْ قَمِيصٌ جَدِيدٌ رَسُولُ اللهِ نَبِيُّ الرَّحْمَةِ لَحْمٌ اَلْجَنَّةُ اَلْجَنَّةُ حَقٌّ اَلنَّارُ حَقٌّ لا با تا واو ثم رب مَنْ فی

# مشق

سوال :- (استاذ) ضَرَبَ - ذَهَبَ دا فعل دے که اسم او که حرف.
جواب :- (شاګرد) دا فعل دے. ولے فعل دے. ځکه چه علامه دا سم لتْرکی یا بولٹ دی. هغه پکښے نشته. او فعل ځکه دے چه ضَرَبَ کښے وهل ده داحدث ده. او ذهب کښے تلل ده دا هم حدث ده: او حدث په فعل کښے ماضی -
سوال :- (استاذ) بیا دا ضَرَبَ او ذَهَبَ مفرد ده او که مرکب ده؟
جواب :- (شاګرد) دادواړه مفرد دی. ځکه چه تنها دلالت کوی په یوے معنٰی باندے. چه وهل او تلل دی. که جزء دَدے واخستے شی بیا خو دلالت نه کوی په جزء دَ معنٰی دَ دے باندے قطع نظر دَضمیر مستتر نه. بیا خو جمله کیږی.
سوال :- (استاذ) زَيْدٌ فَرَسٌ بَقَرٌ غَنَمٌ مَكَّةٌ مَدِينَةٌ ذَهَبٌ فِضَّةٌ سَاعَةٌ رِدَاءٌ قَمِيصٌ دا آسماء دی که افعال دی او که حروف دی.
جواب :- (شاګرد) دا آسماء دی. علامه دَ اسم پکښے تنوین دے. یا نو مونه دَ آشیاء دی
سوال :- (استاذ) بیا مفردات دی او که مرکبات دی؟

جواب :- (شاګرد) دا مفردات دي چه دلالت کوي هريو دَ تنها په پوره معنیٰ باندے .

سوال :- قَنْدَ - من - فی - ثم - رُبَّ - کاف - با - تا - واؤ - دا اسماء دي که افعال دي - که حروف ؟

جواب :- دا نه اسماء دي نه افعال دي بلکه حروف دي ځکه چه دوی محتاج دي ضم دَضم آخر ته -

سوال :- دا مفردات دي که مرکبات ؟ (جواب) دا نه مفردات دي نه مرکبات بلکه دا حروف دي ځکه چه مفرد دلالت کوي په پوره معنیٰ باندے . او مرکب دلالت کوي په دوه معنیٰ یا زیات دَ دوه نه او حروف خله معنیٰ ظاهر ولو کښے محتاج وي مسند او مسند الیه ته او مسند او مسند الیه اسم او فعل وي او حرف خو مسند نه واقع کیږي او نه مسند الیه ځکه دا حروف دي -

سوال :-(استاذ) ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامُ زَيْدٍ خَمْسَةَ عَشَرَ زَيْدٌ قَائِمٌ عَمْرٌو قَاعِدٌ مَاءُ الْبِئْرِ صَلٰوةُ الظُّهْرِ بَعْلَبَكَّ حَجُّ الْبَيْتِ ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا مَلَكُ الْمَوْتِ ذَهَبٌ حَمِيْدٌ سَاعَتِيْ عِلْمُ السَّاعَةِ رِدَائِيْ قَمِيْصِيْ قَمِيْصٌ جَدِيْدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ نَبِيُّ الرَّحْمَةِ اَلْجَنَّةُ حَقٌّ اَلنَّارُ حَقٌّ دا مجموعه اسماء دي که افعال دي او که حروف دي

جواب :- (شاګرد) دا اسماء دي . ځکه چه په دوی کښے اضافت راغلے دے او اضافت علامه دَ اسماء ده نه دَ افعالو او نه دَ حروفو

سوال :- (استاذ) بیا مفردات دي او که مرکبات دي ؟

جواب :- (شاګرد) دا مجموعه مرکبات دي . ځکه اضافت نه دي مکر په مرکباتو کښے وي . ځکه بعضو کښے یائی نسبتی راغلے ده - دا هم مضافٌ الیه دي . لکه : رِدَائِيْ او قَمِيْصِيْ کښے شو .

خدا دَ عزت مکرو طالبانو ورورو ! دغه رنګه قانون سره اجراء اوکړی اِنْشَاءَ اللّٰه عنقریب وخت کښے به تاسو په علم کښے او په عربيْ الفاظو لوستلو کښے پوره قدرت حاصل کړئ . او خما ګنهګار عاصی بنده ته هم دعاء اوکړئ چه اللّٰه پاك ماله دَ عالی دین خدمت نصیب کړی . (آمین)

نوټ :- بیا دَ اختصار دَ وجه نه سوال جواب به لیکل کیږی خو استاذ او شاګرد لفظ به نه لیکل کیږی .

اما مرکب لفظے باشد که از دو کلمه یا بیشتر حاصل شده باشد و مرکب بر دو گونه است مفید و غیر مفید مفید آنست که چون قائل بر آن سکوت کند سامع را خبرے یا طلبے معلوم شود . و آن را جمله گویند و کلام نیز پس جمله بر دو قسم است خبریه و انشائیه .

ترجمه :- نو مرکب هغه لفظ دے چه دَ دوؤ یا دَ زیا توکلمو نه جوړ وی. بیا مرکب په دوه قسمه دی. مرکب مفید او مرکب غیر مفید - مرکب مفید هغه دے چه ځکله ویونکے په هغې چپ شی نو اوریدونکی ته څه خبر که جمله خبریه وی یا طلب که جمله انشائیه وی معلوم شی. او دے ته جمله وائی او کلام هم وائی بیا جمله په دوه قسمه سره ده خبریه، انشائیه -

# تشریحات

دلته دَ څلورو خبرو معرفت ضروری دے (۱) تحقیقات دَ الفاظو (۲) سوال جواب (۳) تمرین او مشق (۴) دَ بعضے الفاظو ترکیب -

قوله مُرَکَّبْ :- مرکب په لغت کنبے مطلق جوړ کړے شوی ته وائی. او په اصطلاح کنبے لفظ مرکب هغه دے چه دَ دوه یا دیرو کلمو نه حاصل شوے وی. مثال دَ دوؤ کلمو لکه زَیْدٌ قَائِمٌ. او یا دَ دیرو کلمو نه لکه ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا شو. مرکب صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب تفعیل نه

قوله مفید و غیر مفید :- مفید دا صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب افعال نه معنیٰ دا ده چه بل ته فائده ورکول. نو مرکب مفید هم دیته وائی چه قائل قول وکړی دَ قول نه بعد مخاطب ته خبر یا طلب معلوم شی. که دا قول دَ زمانے تیرے شوے تعلق وی جنړ ته خبریه وائی. که دا قول دَ زمانے مستقبل سره ئے تعلق وی هغې ته جمله انشائیه وائی. او دے قسم مرکب ته مرکب تام هم وائی او کلام هم وائی او مرکب مفید هم وائی. مثال لکه یو شخص وائی خَالِدٌ نَائِمٌ خالد ولاړ دے. او مخاطب ته سامع حاضر مخاطب یا ورته طلب معلوم شی لکه اِضْرِبْ.

قوله قائل :- دا دَ ثلاثی مجرد قَالَ یَقُوْلُ نه دَ اسم فاعل صیغه ده معنے ویونکے

قوله سکوت :- دا مصدر دے دَ ثلاثی مجرد باب دَ نَصَرَ یَنْصُرُ سَکَتَ یَسْکُتُ سَکْتًا په معنیٰ دَ چپ کیدو سره یعنی ویونکے دَ مرکب مفید دَ ویلو نه بعد چپ پاتے شی.

قوله سامع :- دا دَ اسم فاعل صیغه ده دَ ثلاثی مجرد نه. باب ئے دَ سَمِعَ یَسْمَعُ نه دے معنی اوریدونکے.

قوله خبرے :- دا مصدر د ه خو د مزید باب نه راځی ۔ اخبار په معنی سره ۔
قوله معلوم :- دا صیغه د اسم مفعول ده د ثلاثی مجرد ونه ۔ عَلِمَ یَعْلَمُ
قوله جمله :- معنی ده د خو الفاظو مجموعه ۔
جمله خبریه هغې ته وائی چه په کومه جمله کښې د یو تکے د څه خبرے کید و په مثبت کښے او د نه کید و په منفی کښے خبره د رکړی ۔ او جمله انشائیه هغه جمله ده چه د را تلونکے زمانے سره ئے تعلق وی ۔ طلب وی لکه امر یا نهی یا عرض یا تمنی وغیره چه لس قسمه جمله انشائیه ده ۔ غالباً وروسته به تفصیل سره راځی انشاء الله تعالیٰ ۔ نو حاصل د دے تشریح دا شو چه مرکب مفید دیته وائی چه قائل قول اوکړی مخاطب ته طلب یا خبر معلوم شی دوباره د قائل قول ته ضرورت نه وی ۔ بس دا مفید شو ۔ جمله خبریه په څلور قسمه ده ۔
(۱) اسمیه (۲) فعلیه (۳) ظرفیه (۴) شرطیه ۔ او غیر مفید پنځه قسمه وی
(۱) مرکب اضافی (۲) مرکب بنائی (۳) مرکب صوتی (۴) مرکب منع صرف (۵) مرکب تعدادی
مابعد به انشاء الله پوره تفصیل سره راځی فقط ۔

## سوال او جواب

سوال :- مرکب ولے په دوه قسمه شو ۔ درے قسمه ولے نشو یا زیات د ده نه ۔
جواب :- دا مرکب به خالی نه وی ۔ یا به مفید وی په فائدے تامے سره یا به نه وی که فائده ئے تامه نه وه نو دا مرکب غیر مفید شو ۔ او که فائده ئے تامه وه نو دا مرکب مفید شو ۔ قسم ثالث نه وو چه مونږ درے قسمه کړے وے یا څلور قسمه موکړے وے ۔ نو د دے وجه نه مرکب دوه قسمه شو ۔
سوال :- مرکب مفید ولے مقدم شو په غیر مفید باندے ؟
جواب :- مرکب مفید اصل د ه د غیر مفید نه ۔ اصل مقدم وی په غیر اصل باندے
سوال :- مرکب مفید څنګه اصل شو او مرکب غیر مفید غیر اصل شو ؟
جواب :- مرکب مفید مفید ده په فائدے تامے سره ۔ نو مرکب مفید ته مرکب تام هم وائی ۔ او غیر مفید ته مرکب ناقص وائی ۔ نو څکه مرکب مفید مقدم شو په

مرکب غیر مفید بانده . بعضے حضرات وائی چه دمرکب مفید شپږ نوم ونه دی .
(۱) مرکب تام (۲) مرکب مفید (۳) مرکب اسنادی (۴) جمله (۵) کلام (۶) مرکب کلامی
او دَ مرکب غیر مفید دپاره پنځه نوم ونه دی :
(۱) مرکب غیر مفید (۲) مرکب غیر تام (۳) مرکب غیر اسنادی (۴) مرکب غیر ناقص (۵) مرکب غیر کلامی . دَدے وجه نه مرکب مفید مقدم شو العزت للتکا ثر عزت دَ دیره وی -
سوال :- دا قید چه قائل سکوت وکړی او مخاطب ته طلب یا خبر حاصل شی دا غیر صحیح ده . ځکه نو به دے ته وبنایم مرکب مفید به وی او قائل به بیرے چپ نشوے وی . او سامع ته به نه خبر او نه طلب حاصل شوے وی . که بو سرے عالم وی . یو جاهل ته وائی چه زَيْدٌ قَائِمٌ یا اِعْطِنِیْ الْمَآءَ نو هغه خو په دے خبره بانه پوهه به هم نشی . یا یو قائل یو کونړ سړی ته دائی هٰذا البقرة نو هغه ته به څه پته نکی . او حال دا ده چه دا مجموعه مرکب مفید دے .
جواب :- دا قاعده مشروطه ده په دے شرط پورے چه هغه سامع به د موانع نه به خالی وی . خلاف دَدے مذکوره قواعد و نه چه سامع دَ موانع نه خالی نه دے ددے وجه نه دا یکینے داخل شو خارج نشو .
سوال :- دا جمله ولے په دوه قسمه سره ده ؟
جواب :- وجه دَ حصر په دے جمله کښے دا ده چه دا جمله به خالی نه وی یا به قائل دَدے متصف کیږی په صدق او کذب سره یا به نشی متصف کولے که قائل متصف کیدلے شو په صدق او په کذب سره نو دیته جمله خبریه وائی او که نشو کیدلے دیته جمله انشائیه دائی .
(دوم جواب) دا جمله به خالی نه وی یا به احتمال دَ صدق او کذب پکښے وی یا به نه وی . که احتمال دَ صدق او کذب پکښے وو دا جمله خبریه شوه . او که نه وُو دا جمله انشائیه شوه .
سوال :- چه ناسو وائی چه جمله خبریه دیته وائی چه احتمال دَ صدق او کذب لری . نو به دے وبنایم چه احتمال دَ صدق بُوی او دَ کذب به نه وی بیا هم جمله خبریه به وی . که محمد رسول الله - قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد - الله ربنا - السماء فوقنا

والارض تحتنا . د اتول صادق دی . دَکذب احتمال پکښې نشته . اوجله خبریه هم ده دویم . کذب به وی صدق به پکښې نه وی و السماء تحتنا والارض فوقنا .

جواب :- دا جمله خبریه هغه ده چه احتمال دَصدق اوکذب لری خوقطع نظر دَ قایل نه خارجیو نه . په دغه شان مذکوره کښې هم احتمال دَصدق اوکذب شته هرکله چه خارج کښې نظروکړے شی بیا صادق صادق دی احتمال دَکذب پکښې نه وی اوکاذب کاذب دی احتمال دَصدق پکښې نه دی نوځکه مونږ قطع نظر دَنسبت خارجیو نه اوکړو . ففهم بعقلٍ سليم

# تمرین اومشق

اَللّٰهُ رَبُّنَا صَلّٰى زَيْدٌ زَيْدٌ قَائِمٌ اِنْ اَكْرَمْتَنِيْ اَكْرَمْتُكَ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ اَلطَّعَامُ حَاضِرٌ اَلْمَاءُ بَارِدٌ اَلْاِنْسَانُ حَاكِمٌ جَلَسَ زَيْدٌ ذَهَبَ عَمْرٌو شَرِبَتْ هِنْدٌ اَكَلَ خَالِدٌ نَصَرَ بَكْرٌ اِضْرِبْ لَا تَضْرِبْ اَلصَّلٰوةُ وَاجِبَةٌ اَلْمُؤْمِنُوْنَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامُ زَيْدٍ - خَمْسَةَ عَشَرَ مَاءُ الْبِئْرِ صَلٰوةُ الظُّهْرِ زَيْدٌ فِيْ دَارٍ الْقُرْاٰنُ حَقٌّ وَالْاَحَادِيْثُ حَقٌّ اِذْهَبْ لَا تَقْعُدْ وَلَا تَنْصُرْ سَمِعَ اللّٰهُ اَللّٰهُ سَمِيْعٌ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ -

# مشق

سوال :- اَللّٰهُ رَبُّنَا زَيْدٌ قَائِمٌ اَلطَّعَامُ حَاضِرٌ اَلْمَاءُ بَارِدٌ اَلْاِنْسَانُ حَاكِمٌ اَلصَّلٰوةُ وَاجِبَةٌ اَلْمُؤْمِنُوْنَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اَلْقُرْاٰنُ حَقٌّ وَالْاَحَادِيْثُ حَقٌّ اَللّٰهُ سَمِيْعٌ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ دا مجموعه مذکور مفردات دی اوکه مرکبات دی .

جواب :- دا مرکبات دی .

سوال :- بیا مرکبا تو کښې مفید دی اوکه غیر مفید

جواب :- دا مجموعه مرکبات مفید دی .

سوال :- دا جمله خبریه ده اوکه انشائیه ؟

جواب :- دامجموعه جملے خبریه دی . مفید ے دَ فایدے دی او تعلق ئے تیرشوے دے

سره لری.

سوال :- دا مذکور جملے فعلیه دی اوکه شرطیه دی اوکه اسمیه دی اوکه ظرفیه دی

جواب :- دا مذکور جملے په سوال کښے ټولے جملے اسمی دی. جمله اسمیه دیته

ویلے شی چه اول لفظ ئے اسم وی او مسند الیه وی.

سوال :- صَلّی زَیْدٌ ذَهَبَ عَمْرٌو ضَرَبَ زَیْدٌ جَلَسَ زَیْدٌ قَرَأَ زَیْدٌ

شَرِبَتْ هِنْدٌ اَکَلَ خَالِدٌ نَصَرَ بَکْرٌ جَاءَ عَمْرٌو دا مفردات دی که مرکبات

جواب :- دا مرکبات دی.

سوال :- بیا مرکبا تو کښے مرکب مفید دے که غیر مفید ؟

جواب مرکب مفید دے.

سوال :- بیا خو دا جمله خبریه ده اوکه انشائیه ؟

جواب :- دا جمله خبریه ده.

سوال :- جمله خبریه کښے اسمیه ده که فعلیه ده که ظرفیه ده اوکه شرطیه ده ؟

جواب :- دا جمله فعلیه ده

سوال :- جمله فعلیه چاته وائی ؟

جواب :- جمله فعلیه دیته وائی چه لفظ اول ئے دے فعل وی. دلته مذکور جملو

کښے لفظ ئے دوی تو لو فعل دے او فعل خو مسند واقع کیږی خو مسند الیه نشی واقع کیدے

سوال :- اِنْ اَکْرَمْتَنِیْ اَکْرَمْتُكَ اَسْتَغْفِرُ الله اِضْرِبْ لَا تَضْرِبْ

مَا یُدْرِیْ دَاہِ دا مذکور مفردات دی اوکه مرکبات دی ؟

جواب :- دا مرکبات دی.

سوال :- بیا مرکبا تو کښے مفید دی که غیر مفید ؟

جواب :- مفید دی.

سوال :- بیا مفید وکښے جمله خبریه ده که انشائیه ده ؟

جواب :- بعضے انشائیه دی او بعضے خبر یه دی.

سوال :- انشائیه کوم دی او خبریه کوم دی ؟

جواب :- ثانی، ثالث، رابع انشائیه دی. خامس اول خبریه دی.

سوال :- اول خامس چه خبریه دے. خبریه خو بیا څلور قسمه دے. داکوم یو دے
جواب :- اول شرطیه ده خامس ظرفیه دے.
سوال :- دا ثانی - ثالث - رابع چه انشائیات دی بیا انشائیات لس قسمه دی داکوم یو دی؟
جواب :- ثانی مضارع ده. ثالث امر - رابع نهی ده.

## څلورم بحث دَ بعضو جملو ترکیب

اَللّٰهُ مرفوع لفظاً مبتداء دَ بُّنَا داور ته خبر شو جمله اسمیه خبریه زَیْدٌ مبتدا مرفوع لفظاً - قَائِمٌ صیغه دَ اسم فاعل هُوَ پکښے ضمیر د اور ته خبر شو. یا مثال زَیْدٌ عَالِمٌ هم داسے ده. زَیْدٌ مبتداء عَالِمٌ ور ته خبر شو جمله اسمیه خبریه - دانور ورباندے قیاس دی (فتفکر)

او دَ جمله فعلیه خبریه :- صَلّٰی دا فعل دے دَ ماضی معلوم زَیْدٌ ور ته فاعل ده. ځکه چه کله دَ فعل نسبت اسم ظاهر ته وشی بیا ضمیر ته ضرورت نه وی. فعل چه صَلّٰی ده سره دَ فاعل حه زَیْدٌ ده دا جمله فعلیه خبریه. ذَهَبَ عَمْرٌو ضَرَبَ زَیْدٌ جَلَسَ زَیْدٌ قَرَءَ زَیْدٌ شَرِبَتْ هِنْدٌ اَکَلَ خَالِدٌ نَصَرَ بَکْرٌ جَاءَ عَمْرٌو دا ټول جمله فعلیه خبریه دی. لفظ اول دَ دوی فعل دے ځکه ور ته جمله فعلیه وائی مثال عَلِمَ زَیْدٌ - عَلِمَ فعل زَیْدٌ ور ته فاعل ده. فعل چه عَلِمَ ده سره دَ فاعل چه زَیْدٌ ده. جمله فعلیه خبریه شو.

اِنْ اَکْرَمْتَنِیْ اِنْ حرف اکرمتنی فعل شرط اَکْرَمْتُكَ جزاء دَ شرط شوه - اَسْتَغْفِرُ فعل اَنَا فاعل الله ورته مفعول به. فعل سره دَ فاعل او سره دَ مفعول به نه دا جمله فعلیه انشائیه شوه - (ثالث) اِضْرِبْ امر ده اَنْتَ فاعل ده جمله انشائیه شوه. لَا تَضْرِبْ نهی ده اَنْتَ فاعل ده جمله انشائیه شوه. زَیْدٌ فِی الدَّارِ زید مبتداء ده فِیْ جار ده دَارِ مجرور ده. جار مع المجرور ظرف مستقر تعلق نیسی ترا ستقر مقدره پورے. استقر فعل هُوَ ور ته فاعل. فعل سره دَ فاعل سره دَ متعلق دا جمله خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه زَیْدٌ ده (فتفکر)

**فصل** بدان که جمله خبریه آن ست که قائلش را بصدق وکذب صفت توان کرد وآن بر دو نوع است **اول** آنکه جزو اولش اسم باشد وآن را جمله اسمیه گویند چون زَیْدٌ عَالِمٌ یعنی زید دانا ست جزو اولش مسند الیه است وآن را مبتدا گویند وجزو دوم مسند است وآن را خبر گویند **دوم** آنکه جزو اولش فعل باشد وآن را جمله فعلیه گویند چون ضَرَبَ زَیْدٌ بزد زید جزو اولش مسند ست وآن را فعل گویند وجزو دوم مسند الیه است وآن را فاعل گویند بدانکه مسند حکم ست ومسند الیه آنچه بر وحکم کنند واسم مسند ومسند الیه تواند بود وفعل مسند باشد ومسند الیه نه تواند بود وحرف نه مسند باشد ونه مسند الیه ۔

ترجمه :- دا فصل دَ پوه شه اے طالبه! جمله خبریه هغه ده چه قائل دَدے په صدق او کذب باندے صفت دَ هغے کیږی. او ویل کیږی چه ددے قول قائل یا صادق دے یا کاذب. دا بیا په دوه قسمه سره ده. اول. دا هغه ده چه جزء اول دَدے اسم وی. هغے ته جمله اسمیه وائی. مثال لکه زَیْدٌ عَالِمٌ معنیٰ زید پوه دے جزء اول دَدے جملے مسند الیه دے. دیته مبتدا هم وائی. او جزء دوهم دَدے مسند دے. دیته خبر وائی. دویم قسم دَ جملے جزء اول دَدے فعل وی هغے ته جمله فعلیه وائی. مثال ضَرَبَ زَیْدٌ یعنی وهل وکړه زید. جزء اول دَدے مسند دے. او دیته فعل هم وائی. او جزءِ ثانی دَدے مسند الیه دے. او دیته فاعل هم وائی. پوه شه اے طالبه! یعنی ن ده کړه داخبره اے طالبه چه مسند حکم دے او مسند الیه هغه دے چه په ده حکم کوی یا دیته حکم کیږی. او اسم مسند او مسند الیه دواړه راتلے شی. او فعل مسند راتلے شی خو مسند الیه نشی راتلے او حرف نه مسند او نه مسند الیه راتلے شی.

## تشریحات

دلته معرفت دَ څلورو خبرو ضروری دے (۱) تحقیق دَ بعضے الفاظو (۲) سوال جواب (۳) تمرین او مشق (۴) دَ بعضو جملو ترکیب.

(اول تحقیق) جمله خبریه هغه ده چه ویونکے دَ هغې په رشتیا او دروغو سره موصوف کیږی. چه قائل دَدے به یاصادق وی یا کاذب. لکه یو سرے اُوائی سیّد شاه عطاء الله بخاری قائم لکه زَیْدٌ عَالِمٌ. که صادق وی دا موصوف کیږی په صدق سره اوکه کاذب وی دا موصوف کیږی په کذب سره.

قوله فصل:- په لغت کښے قطع ته وائی او په اصطلاح کښے الحاجز بین الکلامین اول مضمون خلاص شو ثانی مضمون شروع شو. فصل مبتداء ده هذا او ته خبر دے. یا هٰذا مبتداء فصل ورته خبر دے. هذا اسم اشارة مبتداء فصل ور ته خبر شو.

قوله قائل:- صیغه دَ اسم فاعل ده کما مرّ فی سابق.

قوله صِدْقٌ:- مصدر باب نَصَرَ یَنْصُرُ دے معنیٰ ده رشتیا لیکن دَصدق نسبت ویونکی ته او شی لکه مصنف قائل ته دا نسبت کړے دے. نو مطلب به ئے داوی چه ویونکی په خیال کښے خبر دَ واقع سره موافق دے نو دیته صدق ویلے شو او که صدق نسبت قول ته دکړے شی چه داقول صادق ده یا کاذب. نو مطلب به ئی داوی چه دا خبره دَواقع سره موافق دے نو صدق شو. اوکه یو خبره دَحقیقت سره موافق ده لیکن دَ ویونکی په عقیدة کښے دَحقیقت سره مطابق نه وی نو خبر ته به صدق وائیو او ویونکی ته به کاذب وائیو. لکه الله پاک دَ منافقانو په باره کښے وائی. وَاللّٰهُ یَشْهَدُ اِنَّ الْمُنَافِقِیْنَ لَکَاذِبُوْنَ دلته داقول دَدوی منافقانو دَواقع سره مطابق نه ؤ ځکه چه دَ هغوی په عقیدة داقول دَواقع سره مطابق نه دے. ځکه الله پاک لَکَاذِبُوْنَ لفظ سره یادکړو.

قوله کذب:- دا هم دَمصدر صیغه ده دَباب ضَرَبَ یَضْرِبُ نه کذب دَصدق مقابله ده. نو دغه جمله په دوه قسمه سره ده جمله اسمیه جمله فعلیه. جمله اسمیه دیته وائی چه جزء اول دَدے اسم وی نو قولے جملے ته نوم جمله اسمیه ور کړے شوه. تسمیه دَکل په اسم دَجزء سره لکه زَیْدٌ عَالِمٌ شو. زَیْدٌ مبتداء ده عَالِمٌ ور ته خبر شو. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه. جزء اول ته مسندالیه هم وائی.

قوله مُسْنَدٌ:- دا صیغه دَ اسم مفعول ده دَباب افعال نه اَسْنَدَ یُسْنِدُ اِسْنَادًا. دَاسناد معنیٰ نسبت کول دَ اسم مفعول معنیٰ نسبت کړے شوے دے. دغه مسندالیه ته مبتداء هم وائی. مبتداء صیغه دَ اسم مفعول ده. دَباب افتعال نه. او معنیٰ دَدے مقام

نه شروع کړے شوے دے . او مبتداء په اصطلاح کښے هغه اسم دے چه مجرد وی دَعوامل لفظی نه . بعضے وائی چه مبتداء پخپله عامل دے . بعضے وائی چه خبر عامل دے په مبتداء او مبتداء عامل ده په خبر کښے .

**الفائدة الجمیلة** مسند الیه ته په مثال مذکور کښے مبتداء هم وائی او محکوم علیه هم ورته وائی . لیکن دا لازم ملزوم نه دے چه هر مسند الیه او محکوم علیه مبتداء به وی . بلکه مسند الیه او محکوم علیه عام دے او مبتداء خاص ده . لکه مثال زَیْدٌ عَالِمٌ زید مبتداء هم ده . مسند الیه هم ده . او محکوم علیه هم دے . او ضَرَبَ زَیْدٌ . زَیْدٌ مسند الیه او محکوم علیه دے . لیکن مبتداء نه دے . بلکه فاعل دے . دا مبتداء ځکه نه ده چه مبتداء خو دیته وائی چه خالی وی دعوامل لفظی نه . دیکښے عوامل لفظی شته دے چه هغه ضَرَبَ فعل دے .

او مسند الیه دَاوو ځیزونو نه راځی . (۱) فاعل (۲) نائب فاعل (۳) مبتداء (۴) دَحروف مشبه بالفعل اسم (۵) دَحروف مشبه بلیس اسم (۶) دَافعال ناقصه اسم (۷) دَلائی نفی جنس اسم - دا اووهٔ قسم نه مسند الیه راځی .

دویم جُزء مسند دے . چه عالم دے . مسند صیغه دَاسم مفعول ده کما مَرّ آنفًا - دغه مسند ته خبر هم وائی . خبر خو ځکه وائی چه دَ مبتداء خبر ورکوی . مخاطب ته او بل دیته محکوم به هم وائی او محکوم به معنیٰ ده هغه شے ده چه په هغه سره حکم کړے شوے وی په بل شی باندے . او په دے مسند سره چه عالم دے حکم کړے شویدے په بل شی باندے چه مسند الیه دے .

مسند هم دَ اووهٔ اشیاؤ نه واقع کیږی (۱) فعل (ضَرَبَ زَیْدٌ) (۲) اسم الفعل (۳) خبر دَمبتداء (۴) خبر دافعال ناقصه (۵) دَحروف مشبه بالفعل (۶) دَمشبه بلیس خبر (۷) دَلائی نفی جنس خبر -

اول جمله فعلیه ده :- جمله فعلیه دیته وائی چه جزاول دَدے فعل وی او دا جمله منسوب وی فعل ته .

**الفائدة الجمیلة** (د جملے تقسیمات) جمله څلور تقسیمه لری . یعنے جمله څلور قسمه سره ده (۱) جمله اسمیه (۲) جمله فعلیه (۳) جمله ظرفیه (۴) جمله شرطیه

دویم تقسیم ـ صغریٰ اوکبریٰ (دریم تقسیم) جمله خبریه اوجمله انشائیه .. خبریه
څلورۍ دی . انشائیه لسۍ دی . (څلورم تقسیم) هغه جمله چه لا محل لها من الاعراب
(۲) هغه جمله چه لها محل من الاعراب

هغه جملے چه اعراب محلی نلوی هغه (وۀ دی . (۱) ابتدائیه یا مستانفه (۲) جمله معترضه (۳) جمله مفسره (۴) جمله صله (۵) جمله جواب قسم (۶) جمله شرط غیرجازم (۷) چه د دغه مذکوره جملو نه په کوم باندے عطف د شی -

هغه جملے چه دَ هغے اعراب محلی لری دا نهۀ دی - (۱) هغه جمله چه جزء واقع شی (۲) حال دی (۳) مفعول به دی (۴) مضافٌ الیه دی (۵) مسند الیه دی (۶) جملهٔ مستثنیٰ (۷) هغه شرطِ جازمه چه په جواب کښے فَاء یا ذَاء مفاجات راغلے وی (۸) جمله چه دَ مفرد تابع وی (۹) دغه مذکوره جملونه دَچا تابع شی -

دَجملے اسمیه قوانین :- (۱) ضمیر مرفوع منفصل چه کوم ځائے کښے راشی هغه به همیشه دَپاره مبتداء وی . اودَ هغے نه بعد چه کوم لفظ راشی هغه به خبر وی په دے شرط چه هغه ضمیر مرفوع منفصل دَضمیر مرفوع متصل دَپاره تاکید نه وی . اوفصل دَ پاره نه وی . لکه ضَرَبْتَ انت نفسك . ضَرَبْتُ اَنَا وَ زَیْدٌ .

مثالونه :- هُوَ الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَ الظَّاهِرُ وَ الْبَاطِنُ - هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ
هی اِسْمٌ وَ فِعْلٌ وَحَرْفٌ هو مُعْرَبٌ وَمَبْنِیٌّ -

۲- دَکوم کلام په شروع کښے چه الف لام والا اسم وی . اودَ هغے نه بعد بغیر دَ الف لام نه اسم راشی . نو شروع والا اسم مبتداء دے . او دویم والا اسم چه بغیر دَ الف لام نه دَی دا به خبر وی
مثال :- اَللّٰهُ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ اَلدُّنْیَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّتُ الْکَافِرِ اَلْقُرْاٰنُ حُجَّةٌ لَكَ اَوْ عَلَیْكَ -

۳- دَکوم کلام ابتداء کښے چه مضاف مضافٌ الیه راشی . اودَ هغے نه پس بغیر الف لام څه اسم راشی دا به مبتداء او خبر وی . (مثال) خیارالشرط جائز صدقة الفطر واجبةٌ

۴- دَکلام په شروع کښے چه الف لام والا اسم وی . اودَ هغے نه بعد فعل راشی . دا به مبتداء او خبر وی (مثال) البیع ینعقد بالایجاب والقبول النکاح ینعقد بالایجاب والقبول .

۵- دَکلام په شروع کښے الف لام والا اسم وی . دَهغے نه بعد جار مجرور وی دا به هم مبتداء

اوخبر وی (مثال) الشرکة علیٰ ضربین الطلاق علیٰ ثلاثة اوجه الصلح علیٰ ثلاثة اَضْرُبٍ :

۶ - کله اسم اشارے نه بعد بغیرالف لام نه یو اسم راشی نو اسم اشاره به مبتداء وی او ما بعد والا اسم به خبر وی (مثال) هٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ اَنْزَلْنَاهُ -

۷ - شروع دَ کلام کښے جار مجرور راشی . هغه به خبر مقدم وی او ما بعد به اسم مبتداء مؤخره وی (مثال) لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ الخ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ رِجَالٌ -

۸ - یو اسم چه بغیر الف لام نه اضافت وشی بل اسم ته چه مع الالف لام وی عام طور سره هغه خبر وی دَ کتابونو په عنوانا تو کښے چه راځی (مثال) کتاب الطهارت . کتاب الصلوٰة ای هٰذا کتاب الصلوٰة - کتاب الحج هذا کتاب الحج -

۹ - کله چه دَ یونوم نه بعد بغیر الف لام یو اسم راشی دا اسم معرفه وی او که نکره دا هم مبتداء خبر وی (مثال) وَ اللّٰهُ عَلِیْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ اِبْرَاهِیْمُ خَلِیْلُ اللّٰهِ

۱۰ - کله چه اَنَّ اِنَّ نه بعد متصل جار مجرور راشی هغه به خبر مقدم وی او ما بعد لفظ به ورته مبتداء مؤخر وی . یعنی اسم مؤخر وی (مثال) اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِی الْاَبْصَارِ اِنَّ مِنَ الْبَیَانِ لَسِحْرًا .

اصل خبره دا ده چه (۲۴) قوانین په حصر استقرائی سره نه په حصر عقلی سره. لیکن دا کتاب مختصر دے ددے وجه نه په دے اکتفاء ضروری ده -

## دَ جملے فعلیه قوانین :

- دو لس (۱۲) صیغو کښے جمله فعلیه ذکر کیږی - ضَرَبَا کښے الف ناعل ضَرَبَ کښے هُوَ فاعل ضَرَبُوْا کښے واؤ فاعل ضَرَبْنَ کښے نون فاعل ضَرَبْتَ کښے تَ فاعل ضَرَبْتُ کښے تُ فاعل ضَرَبْتُمَا کښے تما فاعل ضَرَبْتُمْ کښے تُمْ فاعل ضَرَبْنَا کښے نَا فاعل. که معلوم دی که مجهول وی خو جمله فعلیه دی اسم فاعل کښے هم ضمائر فاعل دی . اسم مفعول کښے هم ضمائر فاعل دی . بیا فعل لازمی وی او که متعدی دی. لازمی چه صرف یو شی بانددے اکتفیٰ کیږی . لکه مثال جَاءَ زَیْدٌ ذَهَبَ زَیْدٌ - دَ متعدی مثال دوه څیزونه کار کوی مثال قَتَلَ زَیْدٌ عَمْرًا

دوه سری پکاردی ضَرَبَ زَیْدٌ خَالِدًا -

دجمله فعلیه اقسام :- (۱) چه فعل معلوم وی مثال خَلَقَ اللّٰهُ دَ فعل مجهول مثال خُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِیْفًا -

۲- افعال قلوب نه وی مثال وَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا یَعْمَلُ الظّٰلِمُوْنَ -

۳- افعال ناقصه مثال وکان اللّٰه عَلِیْمًا حَکِیْمًا -

۴- افعال مقاربة مثال عَسٰی رَبُّنَا اَنْ یُّبْدِلَنَا خَیْرًا مِّنْهَا -

۵- افعال مدح ذم مثال فَنِعْمَ الْمَوْلٰی وَ نِعْمَ النَّصِیْرُ -

۶- افعال التعجب مثال اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ مَاَاحْسَنَهٗ وَاَحْسِنْ بِهٖ

## دویم بحث په سوال او جواب کښے

سوال :- مصنفؒ و ویل چه جمله خبریه دیته دائی چه قائل دَدے په صدق او په کذب باندے صفتی کیږی . نو صدق او کذب په یو کلام کښے راتله دا غیر معقول دی . ځکه چه دا دواړه ضدین دی . چه کوم ځائے کښے صدق وی هلته کذب نه راځی او چه کوم ځائے کښے کذب وی هلته صدق نه راځی .

جواب :- (اول جواب) دادے . چه دا وَاوْ په معنیٰ دَ اوسرهٔ دے یعنی قائل شی او کذب صفت توان کړده . نو کله چه دا وَاوْ په معنیٰ دَ اوسرهٔ شو نو بیا صحیح دے یعنی معنیٰ داشوه . چه قائل دَدے په صدق باندے هم صفت نه کیږی او په کذب باندے هم صفت نه کیږی . (دویم جواب) دادے . چه جمله خبریه دَدے دواړو احتمال لري . یعنی که صادق وی احتمال دَ کذب لري او که کاذب وی احتمال دَصدق لري . مثال که یو سړے دائی زَیْدٌ قَایِمٌ دا احتمال شته دے چه دا به صادق وی او دا احتمال هم شسته چه دا به کاذب وی . مطابق دَ واقعے سرهٔ به نه وی .

سوال :- تاسو عرض وکړ چه دَ دواړو احتمال لري . نو به دړته وښایم چه دَدواړو احتمال نه لري . دَ یو احتمال به وی . دَ ثانی احتمال به نه لري . که دَ صدق احتمال ئے وی دَ کذب احتمال به ئے نه وی . که دَ کذب احتمال ئے وی دَ صدق احتمال به ئے نه وی مثال . اَللّٰهُ وَاحِدٌ اَللّٰهُ رَبُّنَا مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ اَلْاَرْضُ فَوْقَنَا وَالسَّمَاءُ تَحْتَنَا

اوس دادریٔ اولنۍ صادق دی. احتمال دکذب پکښې نشته. اودادوهٔ آخرین کاذب دی احتمال دصدق پکښې نشته

جواب :- هرکله چه احتمال ددلائل خارجیو نه قطع نظرشی. نوبیا دصدق او دکذب احتمال پیداکیږی. هرکله چه احتمال ددلایل خارجیو پکښې موجود شی نوکه صادق دی احتمال دکذب پکښې نه راځی. که کاذب دی احتمال دصدق پکښې نه راځی. ځکه چه شی خارج کښې وجود پیداکړی.

سوال :- جمله خبریه په انشائیه دلے مقدم شوه ؟

جواب :- له وجه داصالت نه چه جمله خبریه اصل دی دجملے انشائیه نه. ځکه چه بناد عقایدو اسلامیه ټول په جمله خبریه کښې موجود دی. لکه اَللّٰهُ حَقٌّ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ اَلْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ اَلصِّرَاطُ حَقٌّ والحِسَابُ حَقٌّ -

سوال :- جمله تقسیم شو . جمله اسمیه اوجمله فعلیه ته . چه جزءِ اول اسم وی هغے ته جمله اسمیه وائی . او چه جزءِ اول ئے فعل وی هغے ته جمله فعلیه وائی . نو پکار دی چه جزءِ اول دے حرف وی هغے ته جمله حرفیه او ویلے شی اوحال دادے چه جمله حرفیه په کلام دعربو کښې موجود نه ده

جواب :- مراد دجزءِ اول نه هغه مسند اومسند الیه دے اوحرف نه مسند اونه مسند الیه واقع کیږی . ددے وجه نه جمله په دوه قسمه سره شوه . یوه جمله فعلیه اوبله جمله اسمیه . وجه دحصر په دواړو کښې داده چه داجمله به خالی نه وی یا به جزءِ اول ددے فعل وی . یابه جزءِ اول ددے اسم وی . که فعل وو نو ټول جمله ته فعلیه وائی اوکه اسم وو نو ټول جمله ته اسمیه وائی. تسمیه دکل په اسم دجزءِ سره . مثال د اسم لکه زَیْدٌ قَائِمٌ شو . مثال دفعل ضَرَبَ زَیْدٌ شو .

سوال :- ته وائی چه اسم مسند الیه واقع کیږی . اوفعل مسند الیه نشی واقع کیدے . ځکه چه فعل مستقل بالذّات نه دے لیکن زمانے ته محتاج دے . ځکه نشی واقع ڪیږی نو دا به درته وبنایم چه فعل مسند الیه واقع وی . لکه اَنْ تَصُوْمُوْا خَیْرٌ لَّکُمْ دغه اَنْ تَصُوْمُوْ فعل دے اومسند الیه واقع شوید ے ځکه چه مبتدا ده . اوبل سَوَاءٌ عَلَیْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ دلته ءَاَنْذَرْتَهُمْ مبتداء مؤخرواقع شوید ے

او سره دَدے چه دا فعل دے۔

جواب :- دا اسم عام دے حقیقۃً دی او که حکماً وی۔ دَحقیقۃً مثال زَیْدٌ عَالِمٌ شو۔ او دَحکماً یعنی تاویلاً سَوَاءٌ عَلَیْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ په تاویل دَاِنْذَارُكَ اِیَّاهُمْ، اَنْ تَصُوْمُوْا په معنیٰ دَصِیَامُكُمْ مضاف مضافٌ الیه خبر اسم تفضیل په واسطه دَکلام سره اضافت دشو کُمْ ته هغه مبتداء خَیْرٌ لَّکُمْ ورته خبر شو اِنْذَارُكَ دا مضاف مضافٌ الیه مبتداء مؤخر شو ظاهرًا۔ یو کلام موخر ته فعل بلکاره شی هغه به حقیقت کښے اسم وی تاویلاً

## امثال

اِسْتَغْفَرَ زَیْدٌ اِجْتَنَبَتْ هِنْدٌ اَلشَّمْسُ طَالِعَةٌ طَلَعَتِ الشَّمْسُ اَلصَّلٰوةُ حَاضِرَةٌ اَلْمَاءُ بَارِدٌ اَللّٰهُ اَکْبَرُ اِنْفَطَرَتِ السَّمَاءُ اِحْمَرَّتْ هِنْدٌ زَیْدٌ قَائِمٌ زَیْدٌ قَامَ قَامَ زَیْدٌ اَلْحَجُّ فَرِیْضَةٌ اَلصَّوْمُ فَرْضٌ اَلْقِیٰمَةُ اٰتِیَةٌ اَلْجَنَّةُ حَقٌّ اَلنَّارُ حَقٌّ اَلصِّرَاطُ حَقٌّ اَلْمِیْزَانُ حَقٌّ اَلْقَبْرُ رَوْضَةٌ اَلرَّبُّ غَفُوْرٌ اِسْتَخْلَفَ بَکْرٌ اِخْضَرَّتِ الْاَرْضُ اَسْلَمَ خَالِدٌ اِذْهَبْ عُمَرُ صَدَقَ عَمْرٌو صَامَ مَحْمُوْدٌ صَلّٰی حَامِدٌ ذَهَبَ حَمِیْدٌ سَمِعَ اللّٰهُ اَللّٰهُ سَمِیْعٌ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ زَیْدٌ کَاتِبٌ اَلْعَدْلُ مَحْمُوْدٌ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَیْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ طَلْحَةُ وَزُبَیْرٌ صَحَابِیَّانِ اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَی النِّسَاءِ نِسَاءُ الْحَیِّ جَمِیْلَاتٌ زَیْدٌ اَخُوْكَ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ عِنْدِیْ مَالٌ فِی الدَّارِ زَیْدٌ اَیْ مَوْجُوْدٌ عِنْدِیْ اِسْتَقَرَّ فِی الدَّارِ۔

## دریم بحث مشق او تمرین

په دا دریم بحث کښے چه څو مره تمرین راغلی دی۔ دَدے جملو مسند او مسند الیه معلومول ضروری دی۔ دویم مبتداء او خبر معلومول ضروری دی دریم کوم یوئے فاعل دی او کوم یوئے فعل دی۔ څلورم دا هم ضروری دی چه کومه یوه جمله فعلیه ده او کومه یوه جمله اسمیه ده۔

سوال :- اِسْتَغْفَرَ زَیْدٌ اِجْتَنَبَتْ ھِنْدٌ طَلَعَتِ الشَّمْسُ اَلشَّمْسُ طَالِعَۃٌ اَلصَّلٰوۃُ حَاضِرَۃٌ اَلْمَاءُ بَارِدٌ اَللّٰہُ اَکْبَرُ - دا مذکوره الفاظ مفردات دی که مرکبات

جواب :- مرکبات دی ۔

سوال :- بیا مرکبا تو کښے مفید دی او که غیر مفید ۔

جواب :- مفید دی ۔

سوال :- بیا مفید د مرکبا تو کښے جمله اسمیه ده او که فعلیه ۔

جواب :- درے جملے پکښے فعلیه دی ۔ څلور پکښے اسمیه دی ۔

سوال :- مسند او مسند الیه فعل او فاعل مبتداء او خبرے معلوم کړی ۔

جواب :- د درے اولنی جملے فعلیه دی ۔ اِسْتَغْفَرَ اِجْتَنَبَتْ طَلَعَتْ دا فعل دے ۔ مسند دے ۔ زَیْدٌ ۔ ھِنْدٌ ۔ اَلشَّمْسُ د ا فاعل دی ۔ مسند الیه دی ۔ فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه ۔ اَلشَّمْسُ اَلصَّلٰوۃُ اَلْمَاءُ اَللّٰہُ دا مسند الیه دی مبتدا دی ۔ طَالِعَۃٌ حَاضِرَۃٌ بَارِدٌ اَکْبَرُ دا ورته خبر او مسند دی ځکه چه د اول معرب بالام دی ۔ مبتدا واقع شو یدی ما بعد ورته خبر دی جمله اسمیه خبریه شوه

سوال :- اِنْفَطَرَتِ السَّمَاءُ اِحْمَرَّتْ ھِنْدٌ زَیْدٌ قَائِمٌ زَیْدٌ قَامَ قَامَ زَیْدٌ اَلْحَجُّ فَرِیْضَۃٌ اَلصَّوْمُ فَرْضٌ اَلْقِیٰمَۃُ اٰتِیَۃٌ

فعل فاعل مسند مسند الیه ۔ مبتدا او خبر جمله فعلیه او اسمیه ئے معلوم کړی ؟

جواب :- اول ۔ ثانی او خامس فعل فاعل ۔ اول لفظ مسند ثانی لفظ مسند الیه جمله فعلیه دی ۔ ثالث ۔ رابع ۔ سادس ۔ سابع ۔ ثامن مسند مسند الیه مبتدا خبر دی ۔ اول لفظ مسند الیه دے ثانی ورته مسند دے جمله اسمیه شوه ۔ یعنی رابع کښې جمله خبر واقع شویدے ۔ ځکه چه قام فعل ضمیر پکښے فاعل جمله خبر واقع شو ۔ دا نور تمرین ورباندے قیاس کړئ ۔ کچرے هر یو لفظ مونږ ذکر کړو نو کتاب به را ته طویل شی ۔ بهتر اختصار دے نه طوهن

## څلورم بحث د بعضو ترکیب

زَیْدٌ قَائِمٌ ۔ زَیْدٌ مرفوع لفظا مبتداء قَائِمٌ ورته خبر یا زَیْدٌ مبتداء قَائِمٌ ورته خبر

یا زَیدٌ مسند الیه . قَائِمٌ او عَالِمٌ ورته مسند شو . یا زَیدٌ محکومٌ علیه قَائِمٌ
یا عَالِمٌ محکوم به . مبتداء مع الخبر مسند مع المسند الیه محکوم علیه مع المحکوم به
جمله اسمیه خبریه .

ضَرَبَ زَیدٌ . ضَرَبَ فعل زَیدٌ فاعل . ضَرَبَ مسند زَیدٌ ئے مسند الیه
مسند مع المسند الیه . فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه .

اَلدِّینُ اَلنَّصِیحَةُ . اَلدِّینُ مرفوع لفظًا معرف باللام مبتداء اَلنَّصِیحَةُ ورته
خبر شو . اِستَغفَرَ فعل باب استفعال زَیدٌ ورته فاعل . فعل مع الفاعل
جمله فعلیه . (اَلشَّمسُ طَالِعَةٌ) اَلشَّمسُ مرفوع لفظا معرف باللام مبتداء طَالِعَةٌ
صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښے مستتر چه تعبیرئے کیږی ورته په هِیَ سره هغه ورته
فاعل . اسم فاعل . اسم فاعل مع الفاعل د شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء
طَلَعَتِ الشَّمسُ د لته طَلَعَتِ فعل دے الشَّمسُ ورته فاعل دے . فعل مع الفاعل
جمله فعلیه . (اَلمَاءُ بَارِدٌ) اَلمَاءُ معرف باللام مرفوع لفظا مبتداء او بَارِدٌ صیغه
د اسم فاعل دا ورته خبر شو (وَاَن تَصُومُوا خَیرٌ لَّکُم) ای صِیَامُکُم خَیرٌ لَّکُم
مضاف مضافٌ الیه مبتداء خَیرٌ صیغه د اسم تفضیل استعمال ئے په واسطه
د لام سره خبر شو .

اَسلَمَ خَالِدٌ اَذهَبَ بَکرٌ صَدَّقَ عُمَرُ صَامَ مَحمُودٌ جَاءَ رُوحُ اللهِ
قَرَءَ الحَدِیثَ عَطَاءُ اللهِ صَنَعَ رِضوَانُ اللهِ .

اَسلَمَ اَذهَبَ صَدَّقَ صَامَ جَاءَ قَرَءَ صَنَعَ دا مجموعه فعل دی
خَالِدٌ بَکرٌ عُمَرُ مَحمُودٌ رُوحُ اللهِ عَطَاءُ اللهِ رِضوَانُ اللهِ
دا مجموعه ورته فاعل دی . صرف روح الله عطاء الله رِضوَانُ اللهِ مضاف
مضافٌ الیه فاعل شو . فعل مع الفاعل جمله فعلیه .

بدانکه جمله انشائیه آنست که قائلش را بصدق وکذب صفت نتوان کرد و آں
برچند قسم است امر چوں اِضرِب ونهی چوں لَا تَضرِب واستفهام چوں هَل
ضَرَبَ زَیدٌ وتمنی چوں لَیتَ زَیدًا حَاضِرٌ وترجی چوں لَعَلَّ عَمرًا غَائِبٌ

وعقود چون بِعْتُ وَاشْتَرَیْتُ و ندا چون یَا اَللّٰہُ و عرض
چون اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِیْبَ خَیْرًا و قسم چون وَاللّٰہِ
لَاَ ضْرِبَنَّ زَیْدًا و تَعَجُّب چون مَا اَحْسَنَہٗ وَاَحْسِنْ بِہٖ

ترجمہ :۔ نو دہ وکړہ اے طالبہ ! چہ جملہ انشائیہ هغه ده چه د هغې قایل په صدق او په کذب سره بللے نه شي یعنې صفت ئې نه کیږي . دغه جمله انشائیه څو کسمه ده. (۱) امر لکه اِضْرِبْ و هل وکړه ته (۲) نهي لکه لَاتَضْرِبْ وهل مه کوه ته (۳) استفهام لکه هَلْ ضَرَبَ زَیْدٌ ایا وهل کړیدی زید (۴) تمنی لکه لَیْتَ زَیْدًا حَاضِرٌ کاش یا افسوس چه زید حاضر وے (۵) ترجی لکه لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ شاید چه عمر غائب وی (۶) عقود لکه بِعْتُ وَاِشْتَرَیْتُ خرڅ کړه ما واخسته یعني اخستل او خرڅول څما کار دے (۷) ندا لکه یَا اَللّٰہ ای الله یا والله (۸) عرض لکه اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِیْبَ خَیْرًا ۔ آیا ته مونږ ته نه را کوزیږې چه ته به ورسیږې خیر ته (۹) قسم لکه وَاللّٰہِ لَاَضْرِبَنَّ زَیْدًا څما دے په خدا ے قسم وی زه به ضرور زید وهم (۱۰) تعجب لکه مَا اَحْسَنَہٗ وَاَحْسِنْ بِہٖ چه څه شي خائسته کړیدے زید لره او خائسته شویدے په دے سره

# تشریحات

څلور خبرے معرفت ضروری دے (۱) تحقیقات د بعضې الفاظو (۲) ذکر د امثالو (۳) تمرین ۔ مشق ۔ سوال او جواب (۴) د بعضو جملو ترکیب ۔

۱۔ **تحقیق** :۔ جمله انشائیه خو دیته وائي چه منسوب شي انشاء ته یعني را تلونکے زمانے ته . د انشاء معنی ده ایجاد عالم یوجد ته وائي . یعني پیدا کول د هغه شي چه موجود نه دی . چونکه متکلم ئے پخپله پیدا کوی نو ځکه انشاء ورته وائي . دا خو معنی لغوی د انشاء ده . هرچه معنی اصطلاحی د انشاء ده هغه متن کښے پخپله ذکر ده چه قائل د دے په صدق او په کذب با ندے صفت ئے نه کیږی . یعني نه ورته صادق ویلے شی . نه ورته کاذب ویلی شي . بیا دا جمله انشائیه څو قسمه سره ده ۔ یعنې لس

قسمه سره ده . لکه چه یو شاعر وائی :

تمنی ترجی عقود ای اخی - نداء دقسم عرض امرونهی
استفهام وتعجب بخوان ای جوان - ده اقسام انشاء بخوابی بدان

اول قسم دَجمله انشائیه امر دے :- اَمَرُ دا صیغه دَمصدر ده دَباب نَصَرَ يَنْصُرُ باندے قیاس ده . اَمَرَ يَأْمُرُ اَمْراً مهموز الفاء دی . د دے معنیٰ لغت کښے حکم کول . او په اصطلاح کښے هُوَصِيْغَةٌ يُطْلَبُ بِهَا الْفِعْلُ مِنَ الْفَاعِلِ الْمُخَاطَبِ - مثال لکه اَقِيْمِ الصَّلٰوةَ یعنی اَطْلُبُ مِنْكَ فِعْلَ الصَّلٰوةِ - اَمَرَ مفرد دے . او جمع دَدے اَوَامِرُ راځی . کله چه دَدے معنیٰ په حکم سره وی . او کله چه دَدے معنیٰ په شئ سره بیا دَدے جمع په اُمُوْر سره راځی . د لته خو مراد حکم ده چه اِضْرِبْ دے - او وهه ته -

سوال :- تاخو دیلی وُو چه مرکب مفید دیته وائی چه مرکب دَ دوّو کلمونه جوړ وی او مفید فائده ورکونکی ته وائی . نو به ورته و بنایم چه مرکب به وی او حال دا دے چه یوه کلمه یه وی . لکه اِضْرِبْ لَا تَضْرِبْ

جواب :- مرکب عام دَ حقیقةً وی او که تقدیراً - دَحقیقة مثال زَیْدٌ قَائِمٌ دتقدیراً مثال لکه اِضْرِبْ لَاتَضْرِبْ شو . چه اَنْتَ پکښے فاعل مقدر دے . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه انشائیه امریه او نهیه - امر معلوم دی او که مجهول وی . مخاطب وی . که غائب وی . جمله انشائیه کښے داخل دی -

دویم قسم نهی ده :- په لغت کښے بازداشتن ازکار . مثال لَاتُشْرِكْ بِاللّٰهِ شوارلس صیغو امر دے غائب کښے (۲) مخاطب کښے - او نهی هم شوارلسو صیغو باندے مشتمل ده . او په اصطلاح کښے هغه فعل دے چه په هغے سره طلب دَترک دَفعل کولے شی دَفاعل نه - خواه معلوم دی او که مجهول وی . حاضر وی او که مخاطب وی . نو لے جملے انشائیه کښے داخل دی .

دریم قسم استفهام ده :- استفهام دَمصدر صیغه ده دَباب استفعال نه . او دَدے باب ډیر خاصیتونه دی . فصول اکبری کښے موجود دی . یو مشهور خاصیت هغه طلب دے . نو معنیٰ دَاستفهام طلب دَفهم دے ناوافقه متکلم دَمخاطب نه

طلب د فهم کوی. داخو لغوی معنیٰ شوه. اصطلاحی معنیٰ هُوَ اِسْمٌ مُبْهَمٌ يُسْتَعْمَلُ بِهٖ عَنْ شَيْءٍ. يعنی هغه جمله ده چه د دے په ذریعه سره متکلم د مخاطب نه نامعلوم اشیاء معلومول غواړی. لکه حضرت عيسیٰ عليه السّلام عرض کړے وو چه. مَنْ اَنْصَارِيْ اِلَى اللهِ. د استفهام د پاره حروف دی. هَلْ. مَا. مَنْ. مَتٰى. اَيَّانَ كَيْفَ. او س متکلم زيد دے. مخاطب عمرو دے. متکلم زيد عمرو ته وائی هَلْ ضَرَبَ خَالِدٌ. آيا خالد وهل کړیدی يا نه. ديته انشاء وائی.

څلورم قسم تمنّٰی ده:- تمنّٰی په لغت کښے د څه شیٔ ارزو کولو ته وائی. او په اصطلاح کښے ارزو کول دی د حصول د يو امر په طريقه د محبت سره. لکه مثال: لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ کاش! چه زيد حاضر دے. د زيد د حاضريدو خواهش ظاهريږی. آرزو لرم زه چه ملته زيد حاضر دے. تمنّٰی د مصدر صيغه ده د باب تفعل نه. په اصل کښے تَمَنُّيٌ وُو. ضمه د ما قبل د يا بدل شوه په کسره سره لوجه د يا نه. بيا اعلال د قاض وشو تَمَنٍّ شو. ليکن په فارسی کښے تنوين نه راځی نو هغه يا بيا رامعاد شوه تَمَنِّيْ شو. ترکيب د دے ما بعد راځی.

پنځم قسم د انشاء تَرَجِّيْ ده:- د باب د تفعّل نه. د مصدر صيغه ده. په لغت کښے اميد کولو ته وائی. اظهار د اميد د پاره د حصول د يو شیٔ. او په اصطلاح کښے تَرَجِّيْ هغه جمله ده چه په هغے سره اظهار د اميد کيږی د حصول د يو امر ممکن بعيد الوقوع خواه په طريقه د محبت سره دی يا نه دی. لکه لَعَلَّ عَمْرًوا غَائِبٌ يعنی اميد کوو چه ملته عمرو غائب دے.

## الفائدة الجميلة

فرق په ما بين د تمنّٰی او ترجّی کښے. دوه فرقه دی (۱) د تمنّٰی استعمال صرف محبوب اشياؤ کښے راځی. او ترجّی عام ده محبوب دی او که غير محبوب (۲) د تمنّٰی استعمال په ممکناتو او غير ممکناتو دواړو کښے کيږی. ليکن په ممکناتو کښے اقل دی. او د ترجّی استعمال صرف په ممکناتو کښے وی. مثال د ممکنات لکه لَعَلَّ زَيْدًا حَاضِرٌ. مثال د غير ممکنات لَعَلَّ الشَّبَابَ يَعُوْدُ

شپږم قسم عقود دی:- عقود جمع د عقد ده. عقد په لغت کښے غوټه کولو ته ويلے شی. د يو خبرے فيصله کولو ته ديلے شی. او په اصطلاح کښے عقود هغه الفاظ دی چه مستعمليږی

نیا تر په تجارت کښې لکه بعتُ ما خرڅ کړ. اِشْتَرَیْتُ ما د اخسته. اګرچه دالفظ حقیقةً د ماضی د پاره وی. لیکن دلته په مضارع کښې مستعلیږی ځکه دې ته انشائی صورة داجمله خبریه ده. اوس یو سړے دا ئی بِعْتُ الفرس ما آسپ خرڅ کړ داجمله خبریه ده. اوکله چه بائع اومشتری خرڅولو او اخستلو وخت کښې مستعلوی بیادغه بِعْتُ او اِشْتَرَیْتُ جمله انشائیه جوړیږی.

اووم قسم نداء :- دا صیغه د مصدر ده د باب مفاعله نه. معنے ئے ده آواز کول نادٰی یُنَادِیْ مُنَادَاةً په لغت کښې آواز کولو ته وائی. او په اصطلاح کښې هغه جمله ده چه په هغې سره طلب د توجه د منادٰی کولے شی خپل نفس ته. حروف نِداء پنځه دی یَا. اَیَا. هَیَا. اَیْ. همزه ئے مفتوحه.

اتم قسم عرض دے :- عرض په لغت کښې پیش کولو ته وائی. او په اصطلاح د نحاتو کښې هغه جملے ته وائی چه هغې سره طلب د حصول د فعل کولے شی د فاعل نه ډیر په نرمۍ سره. مثال. اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِیْبَ خَیْرًا دده پوره تفصیل او دسته ترکیب راځی عطف د جملے خبریه په انشائیه راځی. د هغې جواب هم راځی. او اقسام د نداء هم د وسته به بیان شی په ترکیب کښې اِنْشَاءَ الله تعالیٰ.

نهم قسم د انشاء قسم دے :- قَسَمٌ ضَرَبَ باندے قیاس دے. معنے ئے په لغت کښې یوطرف د کلام د متکلم مضبوط کول په قسم سره. او په اصطلاح کښې هغه جمله ده چه په هغې سره قسم کولے شی. اُقْسِمُ قسم دے په کوم شیٔ باندی چه قسم خوړی هغې ته مقسم به وائی. یاجواب د قسم وائی. دلته لفظ د الله مقسم به دے لَاَضْرِبَنَّ زَیْدًا جواب د قسم دے. ترکیب ما بعد راځی مکمل مع الامثال.

لسم قسم د انشاء تعجب دے :- افعال تعجب صرف هغه دوه اوزان دی. مَا اَفْعَلَ و اَفْعِلْ بِهٖ مااَحْسَنَهٗ وَاَحْسِنْ بِهٖ. تعجب باب د تفعل ده. تَعَجَّبَ یَتَعَجَّبُ تَعَجُّبًا. په لغت کښې یو کیفیت دے چه زړه کښې حاصل شی په وخت د لیدلو د یو امر غریبه سره. او په اصطلاح کښې هغه جمله ده چه د هغې په ذریعه سره تعجب کولے شی په یو امر باندے. ترکیب د دے او اختلاف دے به وروسته بیان شی.

# دویم بحث د ذکر د امثالو

مثال لکه:- اَسْلِمُوْا لَاتَکْفُرُوْا بَشِّرْ - لَیْتَ زَیْدًا عَالِمٌ - حَمِدَ بَکْرٌ
اٰمَنَّا تَقْتُلُوْنَ اَبْصِرْ بِهٖ مَا اَجْمَلَ زَیْدًا اَلَا تُکْرِمُ زَیْدًا لَاتَقُوْلُوْا لَعَلَّ
السَّاعَةَ قَرِیْبٌ اَزَیْدٌ قَاعِدٌ نَکْتُبُ لَعَلَّ بَکْرًا نَائِمٌ مَنْ جَاءَ مَنْ اَبُوْكَ
کَبِّرْ اُعْبُدُوا اللّٰهَ لَاتُشْرِکُوْا بِهٖ شَیْئًا وَالتِّیْنِ وَالزَّیْتُوْنِ مَنْ دَقَّ الْبَابَ.
اَلَا تَأْکُلُ مَعَنَا یَسِّرُوْا وَلَا تُنَفِّرُوْا مَنْ صَمَتَ نَجَا لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ
یَانُوْحُ اِنَّهٗ لَیْسَ مِنْ اَهْلِكَ لَایَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ هَلْ لَکُمْ مِنْ حَاجَةٍ
یٰلَیْتَنِی اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِیْلًا اَقِمِ الصَّلٰوةَ لَاتَرْفَعُوْا اَصْوَاتَکُمْ
اَئِنَّكَ لَاَنْتَ یُوْسُفُ یٰلَیْتَنِیْ کُنْتُ تُرَابًا یٰیَحْیٰی خُذِ الْکِتَابَ بِقُوَّةٍ
وَتَاللّٰهِ لَاَکِیْدَنَّ اَصْنَامَکُمْ قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَا اَکْفَرَهٗ وَالضُّحٰی وَاللَّیْلِ اِذَا سَجٰی
وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ

## اوس بیان د مشق او د سوال او جواب

محترمو طلباءِ کرامو! تاسو ته بهتره معلومه ده چه هر طالب د پاره د دمره
اندازه فهم پکار دے د خپل سبق صفه طرز او طریقه د د ته معلومه وی. او س په
دے مقام کښې د غه مجموعه مثالونه چه ذکر شو په دغو کښې جمله انشائیه او د جملې
خبریه فرق کول پکار دی. دویم بیا جمله انشائیه لس قسمه ده. هر یو د پاره نومونه
جدا کول پکار دی. بیا د ر وسته د صیغې ترکیب کول پکار دی.

سوال:- اَسْلِمُوْا اٰمِنُوْا بَشِّرْ اِضْرِبْ کَبِّرْ اُعْبُدُوا اللّٰهَ یَسِّرُوْا
اَقِمِ الصَّلٰوةَ خُذِ الْکِتَابَ بِقُوَّةٍ

دا مذکوره جملې مفید دی که غیر مفید. که مفید دی بیا جمله خبریه دی که انشائیه
که انشائیه دی بیا کوم یو قسم دے په دے لس قسمونو کښې. نهی ده. تمنی ده. ترجی ده.
عقود ده. استفهام ده. عرض ده. قسم ده. تعجب ده که جمله خبریه ده. کوم یو ده
اسمیه ده. فعلیه ده. ظرفیه ده او که شرطیه ده؟

جواب :- دا مذکورہ جملے مفید دی . بیا مفید کبنے جمله انشائیه ده . بیا جمله انشائیه
کبنے امر دے . اَسْلِمُوْا اٰمِنُوْا اُعْبُدُ الله يَتَرْوُدُا کبنے اَنْتُمْ فاعل مقدر دے
دا فعل هغه فاعل . فعل مع الفاعل جمله فعلیه انشائیه امریه . اِضْرِبْ
كَبِّرْ اَقِمِ الصَّلٰوةَ بَشِّرْ او خُذُوا الْكِتَابَ کبنے اَنْتَ مقدر دے . دا فعل
اَنْتَ فاعل . فعل مع الفاعل جمله فعلیه انشائیه امریه . داختصار دوجه نه
منځ کبنے سوالونه حذف شو .

سوال :- لَا تَضْرِبْ لَا تَكْفُرُوْا لَا تَقُوْلُوْا لَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا لَا تَرْفَعُوْا
اَصْوَاتَكُمْ . دا مذکورہ جملے مفید دی او که غیر مفید . که مفید دی بیا مفید و کبنے
جمله خبریه ده او که جمله انشائیه . که جمله انشائیه دی بیا جمله انشائیه کبنې کوم
یو ده پہ دے لسو اقسامو کبنے ؟

جواب :- دا مذکورہ جملے مرکب مفید دی . بیا مرکب مفید کبنے جمله انشائیه
ده . بیا جمله انشائیه کبنے فعلیه ده . بیا فعلیه کبنے جمله انشائیه ناهیه ده .
لَا تَضْرِبْ کبنے اَنْتَ فاعل . لَا تَكْفُرُوْا کبنے اَنْتُمْ فاعل . لَا تَقُوْلُوْا کبنې اَنْتُمْ
فاعل . لَا تُشْرِكُوْا کبنے اَنْتُمْ فاعل . لَا تَرْفَعُوْا کبنے اَنْتُمْ فاعل . فعل مع الفاعل
جمله فعلیه انشائیه ناهیه . ناهیه ځکه ده چه لائے ناهیه ورباندے داخل ده
لفظاً او معنیً عمل کوی . لفظاً لکه لَا تَضْرِبْ په سکون سره معنی نهی عن الفعل ضرب

سوال :- هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ اَتَقْتُلُوْنَ اَزَيْدٌ قَاعِدٌ مَنْ جَاءَ مَنْ اَبُوْكَ
مَنْ صِحْتَ بِنَا مَن دَقَّ الْبَابَ هَلْ لَكُمْ مِنْ حَاجَةٍ اَئِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ
دا مذکورہ جملے مفید دی او که غیر مفید ؟

جواب :- مفید دی

سوال :- بیا مفید و کبنے جمله خبریه ده او که انشائیه .

جواب : جمله انشائیه ده

سوال :- بیا لسو قسمه انشائیه کبنې کوم یو دے

جواب :- جمله استفهامیه ده

سوال :- تا څنګه معلوم کړه چه دا استفهامیه ده

جواب:- دَدے په شروع کښے هَلْ مَنْ همزه مفتوحه راغلے ده -
سوال:- دَدے ترکیب څرنګه راځی -
جواب:- دَدے ترکیب هَلْ حرف استفهام غیرعامل ضَرَبَ فعل زَیْدٌ ورته فاعل. فعل مع الفاعل جمله فعلیه انشائیه استفهامیه شوه - وروسته مکمل ترکیب راځی -
سوال:- لَیْتَ زَیْدًا حَاضِرٌ لَیْتَ زَیْدًا عَالِمٌ یَالَیْتَنِیْ کُنْتُ تُرَابًا یَالَیْتَنِیْ اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِیْلًا -
دا مذکوره جملے مفید دی اوکه غیر مفید ؟
جواب:- مفید دی۔
سوال:- بیا مفید وکښے جمله خبریه ده که انشائیه -
جواب:- انشائیه ده
سوال:- بیا په لسوا قسامو د جملے انشائی کښے د اکوم یو دے ؟
جواب:- داجمله تمنائیه ده
سوال:- څرنګه معلومه شوه چه دا تمنائیه ده ؟
جواب:- په شروع دَکلام کښے حرف تمنی داخلی دے صرف اول دوه جملو کښے حرف نداراغلےده
سوال:- دَدے ترکیب څرنګه راځی -
جواب:- لَیْتَ دا یو حرف دے د حروفو مشبه بالفعل نه زَیْدًا اسم دَلَیْتَ دے اوحَاضِرٌ خبر دَلَیْتَ دے. ځکه چه اسم منصوب خبر مرفوع غواړی. او د لَیْتَ سره دَ اسم اوخبر نه جمله اسمیه انشائیه تمنائیه شوه -
سوال:- یَااَللّٰهُ یَایَحْیٰی یَانُوْحُ یَالَیْتَنِیْ یَارَجُلًا خُذْ بِیَدِیْ یَااِبْرَاهِیْمُ یَارَیْدَانِ یَازَیْدُوْنَ یَااَیُّهَا الرَّسُوْلُ یَااَیُّهَاالنَّاسُ
دا مذکوره جملے مفید دی اوکه غیر مفید ؟
جواب:- مفید دی۔
سوال:- بیا مفید وکښے جمله خبریه ده که انشائیه ؟
جواب:- جمله انشائیه ده -

سوال :- بیا په جمله انشائیه کښې کومه یوه ده ؟
جواب :- جمله فعلیه انشائیه ندائیه -
سوال :- د لته خو ځنې مرفوع لفظاً ، ځنې منصوب ، ځنې اعراب بالحرف حُینوکښې
ها حرف تنبیه راغله -
جواب :- دا قاعده ده چه منادیٰ مفرد مبنی برضمه وی . لکه یَااَللّٰهُ یَانُوْحُ یَااِبْرَاهِیْمُ . کله چه منادیٰ نکرهٔ غیرمعینه وی یا منصوب وی . لکه یَارَجُلاً خُذْبِیَدِیْ یا منادیٰ مضاف وی . بیا به هم منصوب وی . لکه یَا عَبْدَاللّٰهِ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ کله چه منادیٰ مشابه بالمضاف وی . بیا به هم منصوب وی . لکه یَاطَالِعًاجَبَلاً کله منادیٰ تثنیه وی . بیا هم معرف بالحروف وی . لکه یَازَیْدَانِ یَا زَیْدُوْنَ کله چه منادیٰ معرف باللام وی . بیا منادیٰ اوحرف نِداء مینځ کښې حرف تنبیه ذکرکیږی . لکه یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا - وغیره - دَدې ترکیب ما بعد کښې راځی .
سوال :- اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِیْبُ خَیْرًا اَلَا تُکْرِمُ زَیْدًا اَلَا تَاْکُلُ مَعَنَا دادرې واړه مذکوره جملې مفید دی که غیر مفید ؟
جواب :- مفید دی
سوال :- بیاجمله خبریه ده اوکه انشائیه
جواب :- انشائیه .
سوال :- جمله انشائیه خولس قسمه ده . دا پکښې کوم یو ده ؟
جواب :- داجمله عرضیّه ده
سوال :- جمله عرضیه چاته وائی ؟
جواب :- جمله عرضیه دیته وائی چه طلب دَحصول دَفعل کولې شی دفاعل نه په نرمی سره
سوال ، دَدې ترکیب څنګه راځی ؟
جواب :- دَدې ترکیب ورو سته ذکرکیږی . امّا یو سوال راځی چه اَلَا تَنْزِلُ جمله انشائیه ده . فَتُصِیْبُ خَیْرًا جمله خبریه ده . عطف دَجملې خبریه راغې په انشائیه باندې . داغیرصحیح دې . (جواب) دلته تأویل کیږی الا یَکُوْنُ نُزُوْلُ مِنْکَ اَلَاحرف تنبیه یَکُوْنُ افعال ناقص نُزُوْل اسم دَدې شو . مِنْکَ جارمع المجرور مع

المتعلق خبر شو. يَكُوْنُ فعل مع الاسم مع الخبر جمله فعليه خبريه فَتُصِيْبُ هم خبريه عطف دَجمله خبريه راغے په جمله خبريه باندے. مکمل ترکیب ددے ورسته راځی -

سوال :- وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ تَاللهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ وَالضُّحٰى وَاللَّيْلِ وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ

دا مذکوره جملے مفید دی او که غیر مفید ؟

جواب :- مفید -

سوال :- جمله خبریه ده که انشائیه ؟

جواب :- جمله انشائیه ده

سوال :- جمله انشائیه خو لس قسمه ده دا کوم یو قسم نه ده .

جواب :- دا د جمله قسمیه نه ده -

سوال :- څرګه معلومه شوه چه دا جمله قسمیه ده ؟

جواب :- په شروع دَ کلام کښے حرف قسم دے .

سوال :- څه ضابطه ده په قسم کښے ؟

جواب :- ضابطه خو دا ده چه هر قسم دَپاره جواب ضروری وی. بیا جواب دَقسم دوه حالاتو کښے وی یا به جمله اسمیه وی یا به جمله فعلیه وی ؟

سوال :- که جمله اسمیه دی بیا طریقه دَحل به څرنګه دی ؟

جواب :- یا به مثبت وی یا منفی. که مثبت وو بیا دَدے په ابتداء کښے به اِنَّ دی یا به لام دَتاکید وی. یا به دواړه وی. مثال، وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ وَاللهِ اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ. که منفی دی بیا دَهغے په ابتداء کښے مَا - لَا - اِنْ - نافیه راځی. لکه وَاللهِ مَا زَيْدًا قَائِمًا وَاللهِ لَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو وَاللهِ اِنَّ زَيْدٌ قَائِمٌ او که چرے جمله فعلیه دی بیا هم دوه حالت راځی. یا به ماضی منفی وی یا به مضارع منفی وی. که فعل ماضی منفی دی نو دَهغے په شروع کښے به لفظ دَمَا راځی. لکه وَاللهِ مَا قَامَ زَيْدٌ که مضارع منفی دی نو دَهغے په شروع کښے مَا - لَا - لَنْ الفاظ راځی. مثل لکه وَاللهِ مَا اَفْعَلَنَّ كَذَا وَاللهِ لَا اَفْعَلَنَّ كَذَا وَاللهِ لَنْ اَفْعَلَ كَذَا -

سوال :- وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ داکومه جمله ده ؟

جواب :- دا جمله قسمیه ده -

سوال :- تاڅنګه معلوم کړه چه دا جمله قسمیه ده ؟

جواب :- ددے په شروع کښے حرف قسم ده -

سوال :- کوم ځاے چه قسم وی څو څیزونه پکښ ضروری ده ؟

جواب :- څلور څیزونه (۱) مقسم (۲) مقسم به (۳) حرفِ قسم (۴) جواب دقسم یعنې دلته مقسم الله تعالیٰ - مقسم به (وَالْعَصْرِ) زمانه ده - حرف قسم واؤ دے - جواب دقسم اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ دے -

سوال :- مَا اَحْسَنَهٗ وَاَحْسِنْ بِهٖ مَا اَجْمَلَ زَیْدًا قُتِلَ الْاِنسان مَا اَکْفَرَهٗ فَمَا اَصْبَرَهٗ عَلَی النَّارِ اَسْمِعْ بِهٖ - دا مذکوره جملے مفید دی یا غیر مفید ؟

جواب :- دا مفید دی -

سوال :- بیا مفید وکښے جمله خبریه ده که جمله انشائیه -

جواب :- جمله انشائیه ده -

سوال :- جمله انشائیه کښے بیا جمله فعلیه ده او که جمله اسمیه ده -

جواب :- بعضے جمله فعلیه دی او بعضے جمله اسمیه دی -

سوال :- څنګه معلومه شوه چه دا جمله انشائیه ده ؟

جواب :- دیکښے وزن دافعال تعجب موجود دے -

سوال :- بیا په جمله انشائیه کښے کومه یوه ده ؟

جواب :- جمله انشائیه تعجبیه ده

سوال :- ددے ترکیب څرنګه دے ؟

جواب :. تنوین کښے اختلاف شته په مابین دَ سیبویهٌ او فراءٌ کښے . حضرت علامه سیبویهٌ وائی . دا تنوین صرف واضع وضع کړیدے دَ پاره دَ فرق په مابین دَ منصرف او غیر منصرف کښے . او حضرت علامه امام فراءٌ وائی چه د آسماؤ او دَ افعالو دَ فرق دَ پاره هم راغلے دے . بعضے کوفین حضرات وائی . چه دا تنوین صرف راغلے دے دَ پاره دَ فرق

په مابين د مفرد او مضاف کښے. او همدا رنګه د الفاظ عجميه د پاره چه دا معرفه
دا نکره ده. د دے فرق د پاره هم تنوين راغلے دے. کچرے معرفه وی بغير د تنوين راځی
مثال لکه عمرو يه او سيبويه. او کچرے نکره وی تنوين ورپا ندے راځی. مثال لکه
عمرويهٍ او بکرويهٍ. همدا رنګه اسماء اصوات د فرق د پاره هم تنوين راځی کله چه
معرفه وی غير منون باندے راځی او که نکره وی بيا منون باندے راځی. همدا رنګه
تنوين راځی په عوض د کلمے او د جملے کښے. مثال لکه جوارٍ. غواشٍ. يَوْمَئِذٍ

سوال :- مسند اليه ولے خاصه د اسم شوه ؟

جواب :- مسند اليه ځکه خاصه د اسم شوه چه فعل خو مسند اليه نه راځی او حرف
خو بيخي نه راځی. مثال لکه زَيْدٌ قَائِمٌ زيد مسند اليه شو

سوال :- مضاف ولے خاصه د اسم ده ؟

جواب :- ځکه چه دا اضافت مسقط د پاره د تنوين دے او تنوين خو په اسم کښے
راځی دا هم په اسم باندے داخل شو. ځکه چه اضافت سره درے فوائد راځی
(۱) تعريف (۲) تخصيص (۳) تخفيف - نو دا درے واړه خاصه د اسم وو نو اضافت
هم خاصه د اسم شوه (دويم جواب) دا دے چه اضافت ځکه خاصه د اسم دے چه
د يکښے تقدير د حرف جروی. لکه غُلَامُ زَيْدٍ ای غُلَامٌ لِزَيْدٍ شو. حرف جر خاص
دے تر اسم پورے دا هم خاص شو تر اسم پورے.

سوال :- مصغر ولے خاص شو تر اسم پورے ؟

جواب :- اسم تصغير دا خاصه د اسم ځکه ده چه د دے اوزان خاص دی تر اسم
پورے. لکه قُرَيْشٌ. فُعَيْلٌ. رُجَيْلٌ بو درو کے سرے. قُبَيْلٌ نو تحقير او ترحم د پاره
هم راځی دا دواړه خاص دی تر اسم پورے. نو مصغر خاص شو تر اسم پورے. او د يل
تصغير کښے محبت هم راځی او عظمت هم راځی او د قلت د پاره هم راځی. مثال قلت ضُرَيْبٌ
مثال د حقارت رُجَيْلٌ مثال د محبت يَا بُنَيَّ. مثال د عظمت قُرَيْشٌ دا قرش د يو
کب (ماهی) نوم دے. چه په تولو کبا نو باندے غالبه دے. دغه رنګه دا قريش
قبيله هم په تولو عربو باندے غالبه ده کد دے وجه نه ورته قُرَيْشٌ وائی. دلته تصغير
د پاره د عظمت دے.

سوال :- منسوب ولے خاصه دَ اسم شوه ؟

جواب :- منسوب وائی یو شئ بل شئ ته نسبت کول . او منسوب صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب نَسَبَ يَنسِبُ (ضَرَبَ يَضرِبُ) معنیٰ ئے ده نسبت کرے شوے او منسوب ځکه خاصه دَ اسم ده چه دَ دے په آخیره کښے یا نسبتیه راځی مشدده . دیائی نسبتیه چه مشدده وی دا خاص دی ترا سم پورے . چه ماقبل ترینه مکسوروی ځکه چه دا کسره اُخت دَجر ده . نو جر خو خاص دَ و ترا سم پورے دا هم خاص شو ترا سم پورے مثال لکه : بَغدادِیٌّ . ملتانیٌّ . لغمانیٌّ . کابلیٌّ . بغداد دَ الوبالو ده . نو نو شیروان به هر هفته دغه باغ ته راتلو او دَ مظلومانو ته دَ انصاف رسولو کوشش به ئے کاوه . بیا په مروردَ زمانے سره دیته بغدادیٌّ او ویلے شو .

سوال :- مثنیٰ دَ اسم مفعول صیغه ده دَ باب تفعیل نه . او مصغر هم دا سم مفعول صیغه ده دَ باب تفعیل نه . او وس وسته مجموع راځی . دا هم دَ مفعول صیغه ده . دَ باب دَ فَتَحَ يَفتَحُ نه (جَمَعَ يَجمَعُ) نو مثنیٰ ځکه خاصه دَ اسم ده چه تثنیه تقاضی کوی . دَ تعدد او تعداد نه راځی په فعل او حرف کښے . مثال دَ مثنیٰ رَجُلَانِ .

سوال :- مجموع ولے خاصه دَ اسم ده ؟

جواب :- ځکه چه دا هم تقاضی کوی دَ تعدد . او تعدد راځی په اسماؤ کښے نه په فعل کښے نه په حرف کښے . او خلاف دَ فعل نه ځکه چه حالت تثنیه دَ فاعل دَ رجے نه معلومیږی دا فعل یو دے دلته فاعل دوه دی . دلته فاعل ډیر دی نو دَ هغے مطابق ضمیر ذکر کیږی منځ کوډَپارهٔ مؤنث دَپاره . مثال رِجَالٌ

سوال :- موصوف ولے خاصه دَ اسم شوه ؟

جواب :- دا ځکه خاصه دَ اسم ده چه موصوفیت دلالت کوی په قلت او کثرت باندے . او قلت او کثرت په اسماءُ کښے راځی نه په فعل او حرف کښے دا ځکه خاصه دَ اسم شوه . مثال لکه رَجُلٌ عَالِمٌ او س دَ رجلٌ معنیٰ ده سړی موصوف دے . دَ دے صفت پکار ده چه ځنګه سړے دے بیائے وویل چه عَالِمٌ دا یو سړے چه هغه عالم دے نو ځکه دا هم خاصه دا سم ده . موصوف هم صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب وَصَفَ يَوصِفُ قیاس دے په ضَرَبَ يَضرِبُ باندے .

سوال :- تاۓ متحرکه ولے علامه دَ اسم شوه ؟

جواب :- دا راځي په مقابله دَ تاۓ ساکنه کښې. تاۓ ساکنه خو خاصه دَ فعل ده. دا خاصه دَ اسم شوه. متحرکه اسم ته ورکړے شوه. ځکه چه اسم خفيف دے. ساکنه فعل له ورکړے شوه. ځکه چه فعل ثقيل دے تقاضی دَ خِفت کوی. خِفت په سکون کښې دے مثال لکه: ضَارِبَةٌ شو.

## اوس بيان دَ علامه دَ فعل

سوال :- قد ولے خاصه دَ فعل شوه ؟

جواب :- قد راځي دَ پاره دَ تحقيق مع التقريب زمان دا نه وی مگر په فعل کښې زمانه موجود ده. ځکه دا خاصه دَ فعل شوه. فعل ماضی باندے چه قد داخل شی نو فعل ماضی قريب ته اړاوی. او که په مضارع داخل شی تقليل فائده کوی. کله کله. مثال لکه قَدْ ضَرَبَ په تحقيق سره وهل کړيدی يو سړی

سوال :- سين ولے خاصه دَ فعل شوه ؟

جواب :- دا سين راځي دَ پاره دَ استقبال قريب. نو استقبال خو فعل سره وی ځکه دا هم خاصه دَ فعل شوه. مثال سَيَضْرِبُ زر ده عنقريب وخت کښې وهل به وکړی يا به وهل کوی يو سړے

او بل سوف دے :- دا هم دَ استقبال دپاره راځي خو استقبال بعيد دَ پاره. مثال سَوْفَ يَضْرِبُ دا هم خاصه شوه دَ فعل پورې نو هغه استقبال بعيد خا منته قريب کوی. قريب ده چه ومل ځو ږی هغه يو سړے -

سوال :- حرف جزم دا ولے علامه دَ فعل شوه ؟

جواب :- حرف جزم بعضے راځي دَ پاره دَ نفی دَ فعل. لکه لَمْ يَضْرِبْ يو سړی وهل نه دی کړی. نو دَ لَمْ د داخليدو سره فعل مضارع ماضی منفی شوه. بعضے راځي دَ پاره دَ طلب دَ فعل. لکه لام امر شو. او بعضے راځي دَ پاره دَ ترک فعل. لکه لَا دَ نهی شو. او بعضے راځي دَ پاره دَ تعليق دَ فعل نو شرط پورې. لکه حرف شرط شو. او س نفی دَ فعل او طلب دَ فعل او ترک دَ فعل او تعليق دَ فعل دا حرف راځي په افعالو کښے نه په اسماؤ کښے. ځکه دا هم خاصه دَ فعل شوه. او حرفِ جزم پنځه دی. اِنْ. دَ لَمْ. لَمَّا. لام امر. ولام نهی

ے اِن وَلَمْ وَلَمَّا لام امر ولام نهی نیز - پنج حرف جازم فعلند ہریک بیدغا

سوال :- ضمیر مرفوع متصل ولے خاصه دَ فعل شوه ؟

جواب :- ځکه چه مرفوع ضمیر نه دے - مګر فاعل کله چه متصل شی نو فعل فاعل نه وی مګر یا په فعل کښې وی یا شبه دَ فعل کښې - لیکن شبه دَ فعل اسم فاعل اسم مفعول ده هغے کښې مستتروی بارز نه وی - هغه خارج شو - نو ضمیر ځکه خاصه دَ فعل شوه - مثال لکه ضَرَبْتُ شو -

سوال :- تائے ساکنه ولے علامه دَ فعل شوه ؟

جواب :- تائے ساکنه دا ځی دَ پاره دَ علامه دَ فاعل مونث نو فاعل نه وی مګر دَ فعل دَ پاره دا هم خاص شو تو فعل پورې - لکه ضَرَبَتْ

سوال :- امر ولے خاصه دَ فعل شوه ؟

جواب :- ځکه چه امر کښې طلب دَ فعل را ځی دَ فاعل نه - فاعل خو خاص وو ترا سم پورې دا هم خاص شو تر اسم پورې - مثال لکه اِضْرِبْ شو - اَنْتَ فاعل پکښې مقدر دے -

سوال :- نهی ولے خاصه دَ فعل شوه ؟

جواب :- نهی ویلے شی ترک دَ فعل نه - دا ترک دَ فعل دا ځی دَ فاعل نه نو فاعل خو فعل پورې خاص وی - دا هم فعل پورې خاص شو - مثال لَا تَضْرِبْ -

سوال :- علامه دَ حرف داده - چه نو لسُّ علامات پکښې موجود نه وی بس دا حرف دے - لکه یو شاعر وائی :

علامات فعل / سین سوف جازمه قد تائے ساکنه امر دان

اتصال تائی فعلت نهی این علامات فعل دان

علامات حرف لکه / در حرف هرگز نباشد ای عزیز - از علامات اسم و فعل هیچ چیز

## د دے بحث په ذکر د امثالو کښې

اَلْحَمْدُ بِزَيْدٍ زَيْدٌ زَيْدٌ قَائِمٌ غُلَامُ زَيْدٍ قُرَيْشٌ بَغْدَادِيٌّ رَجُلَانِ رِجَالٌ رُجَيْلٌ عَالِمٌ ضَارِبَةٌ قَدْ ضَرَبَ سَيَضْرِبُ سَوْفَ يَضْرِبُ لَمْ يَضْرِبْ ضَرَبْتُ ضَرَبَتْ اِضْرِبْ لَا تَضْرِبْ كِتَابُ اللّٰهِ تَعْلَمِيْنَ قَائِمَتَانِ سَاحِرَانِ

اُشْرِبُوْا بَلْ هَلْ لَسَوْفَ يُعْطِيْكَ اَمَّا مُحَمَّدٌ اِقْطَعَنَّ مُسْلِمُوْنَ
نُوْدِتْ مَدَنِيٌّ اَلْجَنَّةُ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ يَرَاهُ اِمْرَئَةٌ سَوْدَاءُ نَعَمْ
نِعْمَ يَابُنَيَّ صَلَّيْتُ لَاتُكَذِّبْ مَنْ مِنْ اَلْ اَلشَّهْرُ الْحَرَامِ كَابِلِيٌّ
صَرْفِيٌّ نَحْوِيٌّ عِيْسَوِيٌّ مَوْلَوِيٌّ مُصْطَفَوِيٌّ سَمَاوِيٌّ بَيْضَاوِيٌّ شَافِعِيٌّ
كُوْفِيٌّ مَكِّيٌّ مَدَنِيٌّ جُهَنِيٌّ عِلْوِيٌّ نَبَوِيٌّ دِهْلَوِيٌّ اَخَوِيٌّ اَبَوِيٌّ
دَمَوِيٌّ نُوْرَانِيٌّ حَقَّانِيٌّ دَانِيٌّ بَدَوِيٌّ عُبَيْدٌ جُعَيْفِرٌ قُرَيْطِيْسٌ اُرَيْضَةٌ
شُمَيْسَةٌ تَوْبَةٌ شَاهِدَةٌ قَدْ سَمِعَ سَيَعْلَمُوْنَ اَلْمَالُ ظِلٌّ ذَائِلٌ وَقَعَتِ
الْحَرْبُ رَبِّ زِدْنِيْ اَلْغِيْبَةُ وَالْبُهْتَانُ دَزِيْلَتَانِ لَمْ اَظْلِمْ عَلَيْكَ لَمْ
يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ سَتَغْفِرْنَ نَصْرٌ حَمِيْدٌ ظَلَمَ هٰذَا لَمْ يَعْبُدُوْا نَجَاجَةٌ
تُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ لَاتَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ اَسْلِمُوْا اٰمِنُوْا
لَاتَكْفُرُوْا بَشَرٌ جَآءَ غُلَامُ زَيْدٍ يَا مَنْ الصَّالِحِيْنَ نُوْحُ اللّٰهِ جَآءَ نُوْحُ اللّٰهِ
ذَهَبَ عَطَاءُ اللّٰهِ اُنْصُرْ۔

## څلورم بحث مشق

سوال :- اَلْحَمْدُ بِزَيْدٍ زَيْدٌ زَيْدٌ قَائِمٌ غُلَامُ زَيْدٍ قُرَيْشٌ بغْدَادِيٌّ رَجُلَانِ رِجَالٌ رَجُلٌ عَالِمٌ ضَارِبَةٌ - دا مذکوره الفاظ اسم دے که فعل دے که حرف

جواب :- دا مذکوره الفاظ ټول اسم دی۔

سوال :- علامه دَ اسم خو یوولس دی . په دوی کښے کومه علامه دَ اسم ده ؟

جواب :- اَلْحَمْدُ کښے الف لام - بِزَيْدٍ کښے بَا حرف جر - زَيْدٌ کښے تنوین - زَيْدٌ قَائِمٌ کښے مسند الیه دے - غُلَامُ زَيْدٍ کښے مضاف دے - قُرَيْشٌ کښے مصغر والے دے بُغْدَادِيٌّ کښے یائی نسبتیه ده ماقبل ترے مکسور - رَجُلَانِ کښے مثنیٰ والے دے - رِجَالٌ کښے جمع والے دے - رَجُلٌ عَالِمٌ کښے صفت موصوف دے - ضَارِبَةٌ کښے تائی متحرکه ده . دا یوولس علامات دَ اسم دی نو یوولس امثال ذکر شو . هر یو دَ پاره یو یو مثال راوړل شو . او ترکیب دد ے انشاء الله وروسته راځی۔

سوال :- قَدْ ضَرَبَ سَيَضْرِبُ سَوْفَ يَضْرِبُ لَمْ يَضْرِبْ ضَرَبَتْ

اِضْرِبْ لَاتَضْرِبْ ضَرَبَتْ. دا مذکوره الفاظ اسم دی که فعل دی که حرف ؟

جواب :- دا فعل دے اسم او حرف نه دے . ځکه چه علامات دَ اسم یو والس دی دَ هغې یو ولس علامات نه یو هم پکښې نشته . نو معلومه شوه چه دا فعل دے . حرف خو ځکه نه دے چه حرف علامات نه لري .

قَدْ ضَرَبَ - دلته حرف چه قَدْ دے هغه داخل دے . سَيَضْرِبُ کښې سین داخل دے سَوْفَ يَضْرِبُ کښې سَوْفَ داخل دے . لَمْ يَضْرِبْ کښې لَمْ حرف جزم داخل دے .

ضَرَبْتُ دې دے وارو حالاتو کښې فعل دے ځکه چه ضمیر مرفوع متصل ورسره پیوست شوید ے . اِضْرِبْ کښې اَمر دے طلب دَ فعل دے . لَاتَضْرِبْ کښې لای ناهیه ورباندې داخل شویده . ضَرَبَتْ کښې تائ ساکنه ورسره پیوست شویده . نو دا ټول علامات دَ فعل شو . یو یو مثال مې درته ذکر کړو .

سوال :- قَدْ لَمْ لَا اَمَّا بَلْ هَلْ مِنْ مَنْ

دا مذکوره الفاظ اسم دی که فعل دی که حرف دی ؟

جواب :- دا مذکوره الفاظ حروف دی . صِرف دا آخر کښې چه مَنْ دے دیکښې بعضو وائی چه دا موصول دے . خو بیا هم اسم جوړیږی . لیکن حقیقت کښې بیا هم حرف په معنیٰ کښې دے . موصول دے .

سوال :- كِتَابَ اللهِ تَعْلَمِيْنَ قَانِتَانِ سَاحِرَانِ اُشْرُبُوْا بَلْ هَلْ ولسوف يُعطِيْكَ مُحَمَّدٌ اِنْقَطَعْنَ مُسْلِمُوْنَ نُوْرٌ مَدَنِيٌّ اَلْجَنَّةُ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ يَرَاهُ اِمْرَئَةٌ سَوْدَاءُ نَعَمْ نِعْمَ يَابُنَيَّ صَلَّيْتُ لَاَتْلِبَ كَابَلِيْ - دا مذکوره الفاظ په دغه ذکر شوو درے اقسامو کښې کوم یو دی . اسم دی که فعل دی که حرف دی ؟

جواب :- درے وارو اقسام پکښې موجود دی . كِتَابَ اللهِ دا اسم دے . علامه دَ اسم پکښې مضاف الیه ده . تَعْلَمِيْنَ دا فعل دے مؤنث مخاطبه مفرده ضمیر ده قَانِتَانِ - سَاحِرَانِ دا اسم دے علامه دَ اسم پکښې تثنیه والے دے . اُشْرُبُوْا اَمر دے . بَلْ - هَلْ حروف دی . وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ دا لام تاکید دے فعل دے مُحَمَّدٌ صیغه دَ اسم مفعول ده . اِنْقَطَعْنَ جمع مؤنث ده . مُسْلِمُوْنَ جمع مذکر سالم ده

نُوْرِثُ صیغه دَجمع متکلم مع الغیر ده نَحْنُ پکښې ضمیر مقدروی . مَدَنِیٌّ اوکابِلِیٌّ
دا اسم دے . علامه دَاسم پکښې یائی نسبتیه ده . اَلْجَنَّةُ الف لام دَوجه نه اسم
دے . بِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ حرف جر او بل دَاضافت دَوجه اسم دے . بیراه فعل
هُوَ ضمیر فاعل ۀ مفعول به جمله فعلیه ده . اِمْرَأَةٌ سَوْدَاءُ صفت موصوف نَعَمْ
حرف جواب نِعْمَ افعال مدح ده . یَا بُنَیَّ اسم دے . اول خوحرف نداء وریا ندے
داخل دے . دویم اسم مصغر دے . صَلَّیْتُ فعل فاعل ضمیر موفوع متصل دے .
اِاَ تُكَذِّبْ لاناه . دا فعل دے .

سوال :- صَرْفِیٌّ نَحْوِیٌّ هِنْدِیٌّ عِیْسَوِیٌّ مَوْلَوِیٌّ مُصْطَفَوِیٌّ سَمَاوِیٌّ
بَیْضَاوِیٌّ شَافِعِیٌّ کُوْفِیٌّ مَکِّیٌّ جُهَنِیٌّ عَلَوِیٌّ نَبَوِیٌّ دِهْلَوِیٌّ
اٰخَرِیٌّ اَبَوِیٌّ دَمَوِیٌّ نُوْرَانِیٌّ حَقَّانِیٌّ دَانِکِیٌّ بَدَوِیٌّ نُعْمَانِیٌّ
دا مذکوره الفاظ اسم دی که فعل دی که حرف

جواب :- دا ټول اسماء دی .

سوال :- اسم یوولس علامات لري په دوی کښې دَاسم کومه یوه علامه
موجوده ده ؟

جواب :- په دے ټولو کښې یائے نسبتیه موجود ده .

سوال :- دا ټول یوشان نه اسم منسوب دے که فرق پکښې شته ؟

جواب :- دے ټولو کښې فرق موجود دے .

سوال :- څرنګه فرق موجود دے چه زمونږ په نظر کښې نه راځی ؟

جواب :- دَنحویانو په نظر کښې فرق راځی ماته راڅرګند کړه . اول اوثانی اوثالث
امثال دَاسم منسوب دَهغه قبیلو نه دے چه دا معلومه کړه چه دَدے تعلق چا سره
شته . مثال بَغْدَادِیٌّ دَ بغداد اوسیدونکی والا . یا دَ بغداد پیدا شوے . مثال
صَرْفِیٌّ معنیٰ علم صرف پیژندونکی والا . نَحْوِیٌّ عِلم نحو پیژندونکی والا . هِنْدِیٌّ معنیٰ
دَ هندوستان اوسیدونکی .

اوس په نسبت کښې دَیوڅو قوانینو معرفت ضروری دے .

اول قانون :- کله چه الف مقصوره دریم یا څلورم کلمه کښې واقع شی . بیا به دغه

الف مقصوره واو سره بدلیږی. مثال عِیْسٰی۔ مَوْلٰی۔ مصطفٰی. نو الف واؤ سره بدل شو عِیْسَوِیٌّ مَوْلَوِیٌّ شو.

سوال :- مُصْطَفِوِیٌّ کښے خو واؤ نشته ؟

جواب :- مُصْطَفِیٌّ کښے د الف مقصوره په پنځم مقام کښے واقع شوے وو بیا دغه الف مقصوره ساقطه شوه نو ځکه مُصْطَفِیٌّ پاتے شو بلا واو.

سوال :- سَمَاوِیٌّ. بیضاوِیٌّ کښے څه قانون شوے دے ؟

جواب :- د لته الف ممدوده نه بعد چه کومه همزه وه هغه واؤ سره بدله شوے ده. مثال سَمَآءٌ وو. همزه واؤ سره بدل شوه نو سَمَاءٌ شو. بیا یائی نسبتیه داخله نو سَمَاوِیٌّ شو. ځکه چه نسبت د وجه نه هغه تنوین چه وو ساقط شو دغه رنګه بَیْضَاءٌ وو. همزه بدله شوه واؤ سره بَیْضَاوٌ شو بیا یائی نسبتیه داخله بَیْضَاوِیٌّ شو.

سوال :- شَافِعِیٌّ کښے څه قانون موجود دے ؟

جواب :- کوم اسم کښے یائی مشدد د نسبت نه مخکښے موجود وی. بیا هغه مقام کښے یائی نسبتیه د اوړلو ضرورت نشته. لکه شَافِعِیٌّ۔

سوال :- کُوْفِیٌّ. مَکِیٌّ۔ مَدَنِیٌّ۔ جُهَنِیٌّ دے کښے څه قانون موجود دے ؟

جواب :- کوم اسم کښے چه تائی تانیث موجود وی هغه د نسبت په وخت کښے ساقطیږی مثال کُوْفَةٌ۔ مَکَّةٌ۔ مَدِیْنَةٌ۔ جُهَیْنَةٌ. د غے اسماء نه چه تاء ساقطه شوه یائی نسبتیه راغله. نو کُوْفِیٌّ۔ مَدَنِیٌّ۔ جُهَنِیٌّ جوړه شوه.

سوال :- عَلَوِیٌّ۔ نَبَوِیٌّ کښے څه قانون دے ؟

جواب :- کوم اسم چه وزن د فَعِیْلٌ کښے وی د هغے په آخر کښے یائی مشدد وی نو اول به دغه یاء واؤ سره بدل کړے شی. بیا ماقبل د واؤ فتحه ورکړے شی. بیا یائی نسبتیه راوړے شی نو عَلِیٌّ او نبیٌّ نه عَلَوِیٌّ او نَبَوِیٌّ جوړ شو.

سوال :- دِهْلَوِیٌّ کښے څه قانون موجود دے ؟

جواب :- کچرے څلورم مقام پس له کسرے نه یاء واقع شی. دغه یاء به واؤ سره بدل کړے شی او یا صرف لرے کړی بلا تبدیل نو دِهْلِیْ نه دِهْلِیٌّ یا دِهْلَوِیٌّ جوړ شو

سوال :- اخَوِیٌّ . اَبَوِیٌّ . دَمَوِیٌّ کښې څه قانون موجود دے ؟
جواب :- کوم اسم چه دَ آخر نه حرف اصلی حذف شی دَ نسبت وخت کښې بیا دا پس اعاده کیږی . مثال اَخٌ نه اَخَوِیٌّ او اَبٌ نه اَبَوِیٌّ او دَمٌ نه دَمَوِیٌّ جوړ شو.
سوال :- نُوْرَانِیٌّ . حَقَّانِیٌّ . رَازِیٌّ . بَدَوِیٌّ کښې څه قانون موجود دے ؟
جواب :- بعضې الفاظو کښې نسبت خلاف القیاس راغلے دے . لکه امثال مذکور کښې نُوْرٌ نه نُوْرَانِیٌّ . حَقٌّ نه حَقَّانِیٌّ . رَیٌ نه رَازِیٌّ . بَادِیَةٌ نه بَدَوِیٌّ جوړ شو
دَ سبق خلاصه :- چه لږ فکر نه کار واخستے شی نو ټول امثال تطبیقیږی . اصل په سبق کښې دَ بیو جملے اجراء ده .

# پنځم بحث ترکیب

اَلْحَمْدُ مرفوع لفظاً مبتداء . ځکه اَلْ دا حرف دے مبنی بر سکون . حَمْدُ دا صحیح مفرد منصرف . قانون دا دے چه دَ هغې اعراب رفع (ضمه) نصب (په فتحه) جر (په کسره) سره دی . نو مبتداء دَ پاره خبر ضرورت دے . خبر ئے نشته (جواب) لِلّٰهِ دا ورته خبر دے . بِزَیْدٍ یعنی مَرَرْتُ بِزَیْدٍ . مَرَرْتُ فعل فاعل . باء جار زَیْدٍ مجرور جار مع المجرور دا ظرف لغو متعلق شو تر مَرَرْتُ فعل پورے . زَیْدٌ مبتداء او خبر ئے پیدا کړی (جواب) قَائِمٌ ورته خبر شو . زَیْدٌ قَائِمٌ . زَیْدٌ مبتداء قَائِمٌ ورته خبر شو مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه . غُلَامُ زَیْدٍ کما مَرَّ فی سابق . قُرَیْشٌ اسم مصغر خبر . مبتداء ئے محذوف ده چه هٰذَا قُرَیْشٌ . بُغْدَادِیٌّ یائی نسبتیه دا هم خبر شو دَ پاره دَ مبتداء . مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه . رَجُلَانِ دا فاعل فعل ورته محذوف دے . جَاءَ رَجُلَانِ . رِجَالٌ هم فاعل فعل ورته محذوف دے جَاءَ رِجَالٌ . رَجُلٌ عَالِمٌ صفت موصوف ضَارِبَةٌ مرفوع بنا بر خبریة هِیَ ضَارِبَةٌ هِیَ مبتداء شوه ضَارِبَةٌ ورته خبر شو . قَدْ ضَرَبَ . قَدْ حرف تحقیق ضَرَبَ فعل هُوَ ورته فاعل جمله فعلیه تحقیقیه . سَیَضْرِبُ . سین حرف تحقیق یَضْرِبُ فعل هُوَ ورته فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه انشائیه . سَوْفَ یَضْرِبُ . سَوْفَ حرف دے حرف تخفیف دَ پاره دَ استقبال بعیده . قریب کول . یَضْرِبُ فعل هُوَ ضمیر

فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه انشائیه . لَمْ یَضْرِبْ . لَمْ جازمه یَضْرِبْ
فعل هُوَ ضمیر پکښې فاعل . فعل چه یَضْرِبُ دے مع الفاعل چه هُوَ دے جمله فعلیه خبریه
جازمه . ضَرَبْتِ نعل فاعل جمله فعلیه خبریه . ضَرَبْتُ فعل هِیَ ورته فاعل شو
فعل چه ضَرَبْتُ دے مع الفاعل چه هِیَ دے دا جمله فعلیه خبریه، اِضْرِبْ صیغه دَ امر
اَنْتَ پکښې فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه انشائیه امریه . لَا تَضْرِبْ لَا ناهیه
تَضْرِبْ فعل ضمیر پکښې مستتر چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره هغه ورته فاعل شو. فعل
مع الفاعل دا جمله فعلیه انشائیه ناهیه . کِتَابُ اللهِ . کِتَابَ مضاف لفظ دَ الله ورته
مضافٌ الیه . مضاف مع المضافٌ الیه یا مبتدا شوه خبر ورته هذا مؤخوشی کِتَابُ
اللهِ هٰذَا . یا هٰذَا خبر کتاب الله ورته مبتدا شوه . دا جمله اسمیه خبریه . یا هٰذَا
مبتدأ محذوف کِتَابُ اللهِ ورته خبر دے . بیا هم جمله اسمیه خبریه شوه .
اَلْبَیْتُ الْمَعْمُوْرُ . اَلْبَحْرُ الْمَسْجُوْرُ . اَلنَّوْعُ الْاَوَّلُ دا قول اول لفظ موصوف
دے . ثانی ورته صفت . موصوف مع الصفت یا مبتدا جوړه شی خبر ورته محذوف شی
یا خبر جوړ شی مبتدا ورته محذوف شی .
وَجَعَلَ فِیْهَا سِرَاجًا وَّ قَمَرًا مُّنِیْرًا . اوس وَجَعَلَ فعل فاعل د پکښې ضمیر دے چه
تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره هغه ورته فاعل شو . فِیْ جار هَا ضمیر مجرور محلاً جار مع
المجرور دا مفعول فیه شو . سِرَاجًا یو مفعول دَ قَمَرًا دویم مفعول مُنِیْرًا دریم مفعول
دا دے داړه ورته مفعول به شو په واسطه دَ حرف عطف سره . فعل سره دَ فاعل چه
هُوَ دے او سره دَ مفعول فیه چه فیها دے او سره دَ مفعولانو چه سِرَاجًا . قَمَرًا او مُنِیْرًا
دے دا جمله فعلیه خبریه . یا جَعَلَ دا فعل دے دوه مفعوله غواړی . یو مفعول دَ دے
فیها ظرف شو په واسطه دَ حرفِ عطف سره دا هم یو مفعول شو نو دوه مفعوله ورته پیدا شو

فصل بداں کہ جملہ کلمات عرب بر دو قسم است معرب و مبنی مُعَرَّبْ
آنست کہ آخرش باختلاف عوامل مختلف شود چوں زیدٌ در
جَاءَنِیْ زَیْدٌ و رَاَیْتُ زَیْدًا و مَرَرْتُ بِزَیْدٍ، جَاءَ عامل
است وزَیْدٌ معرب است وضمہ اعراب است و دال محل اعراب

و مبنی آن ست کہ آخرش باختلافِ عوامل مختلف نہ شود
چوں هٰؤُلَاءِ کہ درحالتِ رفع ونصب وجر یکسان است۔

ترجمه :- دا فصل دے۔ نادہ کړه داخبره اے طالبه یا پوه شه اے طالبه د ټولوعربو کلمات په دوه قسمه سره دی. یو ته معرب وائی او بل ته مبنی وائی. معرب هغه دے چه د هغه آخر په اختلاف د عواملو سره مختلف کیږی. مثال لکه زَیْدٌ شو په دے کلام کښے جَآءَنِیْ زَیْدٌ وَرَأَیْتُ زَیْدًا وَمَرَرْتُ بِزَیْدٍ. او س جاء عامل دے او دا پیښن ورته اعراب دے (ضمه ورته اعراب دے) او دا دال محل د اعراب دے او مبنی هغه دے چه د هغے آخر په اختلاف د عواملو سره نه مختلف کیږی. مثال لکه هٰؤُلَاءِ په حالت د رفع، نصب او جر کښے یو شان دے.

## تشریحات



دلته د خلورو خبرو پیژندل ضروری دی. (۱) تحقیق د بعضے الفاظو (۲) ذکر د امثالو (ذکر د مشق (۳) ترکیب

## اول بحث تحقیق د بعضے الفاظو

اول مصنفؒ بحث د کلمے اوکړو په اعتبار د ذات سره او دوهم تقسیم د کلمے اوکړو په اعتبار د اوصافو سره.

سوال :- سابق کښے کلمه تقسیم شوه اسم فعل او حرف ته بیا ولے تقسیم شوه معرب او مبنی ته ؟

جواب :- دا ځکه چه تقسیم دوه قسمه دے. یو په اعتبار د ذات او بل په اعتبار د صفت سره. اول تقسیم باعتبار ذات چه کلمه ذاتاً دریے دی. یا به اسم وی یا به فعل وی او یا به حرف وی. او دا دوهم تقسیم په اعتبار د اوصافو سره دے. ځکه چه معرب او مبنی کیدل دا د اعراب په وجه دی. او اعراب د کلمے اوصاف وی. نو

ځکه مصنفؒ ووئیل چه ټول کلمات دعربو په دوه قسمه دی. معرب او مبنی. کلمات جمع دکلمې ده. کله خو ځکنې مصنفؒ د دې تقسیمه کړې ده. او س معرب مبنی ته کلمات تقسیم کوی.

وجه د حصر داده چه دا کلمه به خالی نه وی یا به آخیر د دې مختلف کیږی په اختلاف دعواملو سره یا به نه مختلف کیږی. که مختلف کیده دا معرب شو. او که نه مختلف کیده مبنی شو

ے مبنی آن باشد که باشد برقرار - معرب آن باشد که گردد بار بار

معرب - صیغه واحد مذکر اسم مفعول ده. په معنی د اعراب ورکړے شوی سره او یا صیغه د واحد مذکر اسم ظرف ده په معنی د ځلئے د اعراب سره.

او س په تعریف د معرب کښې اختلاف دے په ما بین د جمهورو او د ابن حاجبؒ او د علامه زمخشریؒ کښې - جمهور علماء وائی: ( المعرب ما یختلف آخرہ بدخول العوامل المختلف علیه ) او په نزد د ابن حاجبؒ ( فالمعرب المرکب الّذی لم یشبه مبنی الاصل ) او په نزد د زمخشریؒ ( و هو اسم لم یشبه مبنی الاصل )

اعراب - په لغت کښې اظهار ته وائی. نو معرب ته ځکه معرب وائی چه دیکښې اظهار د معانی ثلاثه راځی. یا اعراب ایضاح ته وائی. وضاحت د معانی ثلاثه راځی په معرب کښې. ځکه چه ځاے د اعراب دے. چه هغه دے فاعلیت- مفعولیت او اضافت یا معرب مشتق دے د اعراب نه. اعراب باب افعال دے. همزه د پاره د سلب وی نو بیا اعراب معنی ازاله د فساد ته وائی. او معنی د معرب یعنی ځاے د ازالے د فساد نو داس معنی د دے معلومیږی ځلے علامے سره. که معنی د فاعلیت معلومیږی په رفع سره. او معنی د مفعولیت معلومیږی په نصب سره. او اضافت معلومیږی په جر سره دا تول د معرب معانی دے په اعتبار د لغت سره - او په اصطلاح کښې معرب هغه کلمه ده چه د ده په اول کښې عواملو لید د سره د ده آخر له لیږی په اعراب سره مثال که. جَآءَ نِیْ زَیْدٌ - رَأَیْتُ زَیْدًا - مَرَرْتُ بِزَیْدٍ - جَآءَ فعل ماضی معلوم عامل ده زَیْدٌ مرفوع رافع نے بنا بر فاعلیت ده - دا دال محل د اعراب ده. نوجاء نون د قایه یا مفعول بهٖ مقدم شو چه ضمیر د متکلم وو هغه متصل وی جدا کیږی نه. او س

زَیْدٌ دا مرفوع شو. لوٓ دَ فاعلیت معنیٰ څرګندا شوه . او دوهم مثال کښے دَ اَیْتُ
هند غه معرب چه زید دے مفعول دے . او مفعول خو منصوب وی . دے هم منصوب
دے . نصب بنا بر مفعولیت شو . لوٓ علامه دَ مفعولیت په آخره دَ زید کښے په حرف
دال باندے چه هغه محل دَ اعراب ؤو . رابو راغے . ځان ئے ښکل څرګند کړ چه زید
مفعول یم . عامل ور باندے رَاَیْتُ ؤو . او فاعل ورباندے لفظ د (تُ) چه ضمیر
دَ متکلم دے چه فاعل دے . او دریم مثال کښے دغه معرب به مجرورا قبلوی . لکه :
مَرَرْتُ بِزَیْدٍ . ځکه چه دَ دے په اول کښے حرف جر راغلے دے . دلته عامل حرف
جر دے . دَ وجه دَ حرفِ جر نه دلته جر راغے دَ زید په آخره کښے . داتول جله فعلیه
خبریه ده . صِرف فرق په دَغه کښے راغے چه دَ زید آخیرہ کښے کله رفع وی کله نصب
کله جر .

سوال :- تاسو خو دا ئی چه معرب دیته دائی چه آخر دَ دے به مختلف کیږی په
دخول دَ عواملو مختلفو سره . دلته خو آخر دَ دے نه دے مختلف شوے په ټولو
دَ عواملو مختلفو سره ځکه چه آخر دَ دَ ایکښے هغه حرفِ دال دے هغه یخپل حال باندے
پاتے دے ؟

جواب :- اختلاف عام ده ذاتاً وی یا وصفاً وی . اګرچه دلته ذاتاً نشته لیکن
وصفاً شته دے . مونږ خو داوله نه داخیرہ کړیده چه دلته تقسیم باعتبار وصف دے
نه باعتبارِ ذات . وصف دَ حرفِ دال بدل شویدے اول کښے مرفوع ؤو بیا منصوب
شو . بیا مجرور شو . دا اختلاف دَ عواملو دَ وجه نه راغے .

سوال :- تاسو وائی چه معرب دیته وائی چه آخر دَ دے مختلف کیږی په اختلاف
دَ عواملو مختلفو سره . زه به تاسو ته وښایم چه معرب به وی . عوامل به هم ورباندے
راغلی وی بیا به هم آخیر دَ دے نه وی مختلف شوے . لکه اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ . رَاَیْتُ
زَیْدًا جَالِسًا . خَالِدٌ ضَارِبٌ زَیْدًا . او س په دغه مذکوره جمله کښے په زید کښے
هیڅ اختلاف نه دے راغلے . په درے واړو حالتو کښے دے منصوب لفظاً دے . او حال
دا دے چه زید معرب دے . او عوامل هم ور باندے مختلف راغلی دی . بیا هم آخر
دَ دے نه دے مختلف شوے ؟

جواب :- مراد دَ اختلاف دَ عواملو نه دادے چه عوامل به مختلف وی په عمل کښے نه په ذات کښے . ولته اختلاف په عمل کښے نه دے داخل . ځکه چه اِنَّ حرف دے دَحرفِ مشبه بالفعل نه . اسم منصوب خبر مرفوع غواړی . نو په اول صورت کښے زَیْداً اسم دَ اِنَّ دہ . ځکه منصوب شو . دوهم صورت کښے رَأَیْتُ فعل فاعل دے . هغه دَ مفعول تقاضی کوی . نو زیدا اسم ظاهر دریستہ ذکر شو نوځکه زَیْداً منصوب شو . دریم صورت کښے خَالِدٌ مرفوع لفظا مبتداء شو . دریسته دَ دے اسم مشتق ذکر دے چه ضَارِبٌ دے . چې کښے ضمیر مستتر دے چه هُوَ دے هغه راجع دے خَالِدٌ ته هغه ضمیر دے ته فاعل شو . اوس مفعول غواړی نو دریسته دَ دے زَیْدًا اسم ظاهر ذکر شو . داو دے ته مفعول شو . ځکه منصوب دے چه مفعول دے او مفعول دمنصوب نه وی . ( فتفکر )

مبنی - هغه کلمه ده چه دَ دے آخر نه مختلف کیږی په اختلاف دَ عواملو سره . مبنی صیغه دَ اسم مفعول ده دَ بِنَاءٌ نه . بِنَاءٌ ویل کیږی برقرار پاتے کیدو ته . چه تغیر وربانده نه راځی . داخوشو دے معنی دَلغت په اعتبار سره . او معنیٰ اصطلاحی دَ دے دوه قسمه ده . یو مطلق مبنی ده . اوبل اسم مبنی دہ . دَ مطلق مبنی تعریف دادہ چه ( لایکون حرکۃ آخرہ ولا یکون آخرہ لاجل العوامل ) او دَ اسم مبنی تعریف دادہ چه ( هو الاسم المرکب الذی شابه مبنی الاصل او وقع غیر مرکب ) یا به مرکب وی لکه ماتن ذکر کړه چه - جَآءَنِیْ هٰؤُلَاءِ - دَ أَیْتُ هٰؤُلَاءِ - مَرَرْتُ بِهٰؤُلَاءِ . یا به غیر مرکب وی . لکه زَیْد - بَکْرٌ - عَمْرٌ - خَالِدٌ - والِدُ داخو مره اسماء چه دی دغه به مبنی کرځی په حالت دَ وقف کښے . مثال لکه زَیْد شو . دغه وخت کښے دے مبنی دے کلا چه مرکب واقع شی بیا معرب کرځی .

او علامه دَ مبنی دادہ چه آخر دَ دے نه مختلف کیږی په اختلاف دَ عواملو سره . دَ دے امثالو ذکر به ترکیب کښه راځی انشاء الله العزیز . نو له وجه دَ مشابهت نه دا مبنی شو مشابهت لره حرف سره . ځکه چه استقال بغیر ضم دَ کلے آخر نه دی دغه رنګه داهٰؤُلَاءِ دے . چه بغیر دَ مشارٌ الیه نه نه راځی . مشارٌ الیه خامخا غواړی .

سوال :- معرب ولے مقدم شو په مبنی باندے ؟

جواب :- معرب اصل دہ په نسبت سره مبنی ته ځکه چه غرض دَ معرب هغه اظهار دَما فی الضمیر دہ ۔ دا په معرب کښے راځی نه به مبنی کښے ځکه چه دَ معرب آخر مختلف کیږی ۔ نو طالبان حضرات په آسانئ سره معلومولے شو چه دا فاعل دے او دا مفعول دے او دا مجرور دے ۔ په خِلاف دَ مبنیاتو نه ځکه چه دَ هغے آخر نه مختلف کیږی په اختلاف دَ عوامِلو سره ۔ نو ځکه مؤخر کړے شو

## اقسام دَ معرب او اقسام دَ مبنی

اقسام دَ معرب دوه دی (۱) اسم متمکن چه کله په ترکیب کښے واقع شی لکه زید. بکر خالد (۲) فعل مضارع معلوم یا مجهول ۔ چه کله دَ نون تاکید او نون جمع مؤنث نه خالی وی ۔ او دَ مبنی اقسام شپږ دی ۔ (۱) ټول حروف (۲) فعل ماضی معلوم او مجهول (۳) فعل امر حاضر معلوم دا خو مبنی اصل شو (۴) فعل مضارع معلوم یا مجهول چه نون تاکید ثقیله یا خفیفه یا نون جمع مؤنث ورسره موجود وی (۵) اسم غیر متمکن چه هغه بیا اته قسمه دے ما بعد بیان راځی (۶) اسم متمکن چه کله تنها راشی ۔ په ترکیب کښے واقع نشی لکه زید ۔ بکر۔ خالد ۔ ستار وغیره ذٰلِك ۔ دا درے نوعے مبنی بالمشابهت دی ۔ دا مشابهت په پنځه قسمه سره دے (۱) مشابهت وضعی (۲) مشابهت معنوی (۳) مشابهت استعمالی (۴) مشابهت افتقاری (۵) مشابهت اهمالی

تفصیل :- مشابهت وضعی دَ اسم په وزن کښے دَ حرف مشابهت وی ۔ یعنی مقصد دا شو چه دَ اسم وضع کله یو حرف سره وی ۔ کله دوه حرفو سره وی ۔ مثال لکه قُمْتُ او س دا لفظ دَ (تُ) یو حرف دے او فاعل دے مشابه دے دَ (ب) سره پزَیْبِ کښے ۔ او بل قُمْنَا په تُمْنَا کښے (نا) دے ۔ دوه حرفه دے ۔ حال دا دے چه اسم دے ۔ فاعل دے مشابه دے قَدْ او بَلْ سره ۔ او اسماء مضمرات کښے شبه وضع ده ځکه چه اکثر دَ ضمایرو وضع یو حرف وی یا دوه حرفه وی ۔

شبه معنوی ۔ هغه ده چه اسم دَ کوم حرف په معنی کښے متضمن شی ۔ بیا دَ هغه دوه صورته دی (۱) حرف موجود په معنی سره متضمن شی ۔ مثال لکه اسماء شرطیه ۔ حرف شرط

په معنیٰ متضمن شي اسماء استفهام حرف استفهام په معنیٰ متضمن شي (۲) حرف غیر موجود په معنیٰ متضمن شي. مثال لکه اسماء اشاره. دَدے دَ معنیٰ دَ پاره حرف وضع کول پکار دُو. لیکن وضع کړے نه دے.

شبه استعمالی:- هغه دے چه اسم په استعمال کنبے حرف عامل سره مشابه وي یعنی عامل جوړ شي. لیکن معمول جوړ نشي. مثال لکه اسماء افعال.

شبه افتقادی:- هغه دے چه اسم کنبے دَ حرف دا سے احتیاج پیدا شي. مثال لکه اسماء موصوله. او (اِذَا) او (حَیْثُ) او (بَعْضِ ظروف).

شبه اهمالی:- هغه دے چه اسم دَ حرف په شان مهمل واقع شي نه عامل او نه معمول مثال لکه اسماء اصوات.

## دویم بحث ذکر د امثالو

جَآءَنِیْ زَیْدٌ رَأَیْتُ زَیْدًا مَرَرْتُ بِزَیْدٍ جَآءَنِیْ هٰؤُلَآءِ رَأَیْتُ هٰؤُلَآءِ مَرَرْتُ بِهٰؤُلَآءِ یَسْتَغْفِرُوْنَ نَصَرَ حَبِیْبٌ ظَلَمَ هٰذَا لَمْ یَعْبُدُوْا نُجَاجَةٌ قُوْلُوْا اِلَیْهِ اللّٰهِ لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ نِعْمَ الْقُرْاٰنُ كِتَابُ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصَّادِقُوْنَ نَحْنُ طُلَّابٌ مُجْتَهِدُوْنَ هٰؤُلَآءِ الْبَنَاتُ صَالِحَاتٌ مَتٰی تَرْجِعُ هٰذَا ذِكْرٌ مُبَارَكٌ اِفْتَحُوْا لَمْ یَفْعَلْ لَنْ یَّسْمَعُوْا هٰذَا كِتَابِیْ نَصَرَ سَمِعَ یٰاَیُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ سَمِعْتُ كَلَامَ زَیْدٍ جَلَسْتُ فِی الْمَسْجِدِ اِضْرِبْ زَیْدًا غُلَامُ زَیْدٍ-

## دریم بحث په مشق کښے

سوال:- د دے مذکوره امثالو کښے اول معرب مبنی جدا کړی. بیا اسم فعل جدا کړی بیا جمله فعلیه او جمله اسمیه معلوم کړی. دَ فعل فاعل او مفعول معلوم کړی. عامل معمول حکم دَ عامل بیا اعراب معلوم کړئ چه بالحرکت دے. او که بالحروف-

خماکرانه عزتمنده طالب جانه! استاد وخت دَ نه ضایع کولوَ پاره دیر بهترین مشق
دے که سوچ پکښے اوکړے.
جواب :- جَآءَنِيْ زَيْدٌ اِلٰى مَرَرْتُ بِزَيْدٍ پورے معرب دی (۲) جمله فعلیه ده
(۳) جَآءَ دا فعل دے قیاس دے په ضَرَبَ يَضْرِبُ با ندے مهموز اللام دے. نون
وقایه چه یَآ با ندے دَحرکت مانع وی. او (ی) ضمیر متکلم مفعول به مقدم ځکه چه
متصل دے. او زَيْدٌ دَ صیغے فاعل شو. نو جَآءَ عامل شو. عامل اثر غواړی. نو زَيْدٌ
معرب معمول شو. اثر دَ عامل رفع ده دَ زَيْدٌ دَپاره بنا بر فاعلیت مرفوع شو.
دوهم مثال :- کښے اوس زَيْدًا منصوب کیږی. ځکه چه هلته عامل ناصبه وړ ته
ورباندے راغے چه فعل او فاعل دے. فعل فاعل ځان له مفعول غواړی. نو رَاَيْتُ
فعل فاعل شو زَيْدًا منصوب. نصب دَدے بنا بر مفعولیت شو.
دریم مثال :- کښے مَرَرْتُ فعل فاعل بِزَيْدٍ دلته عامل حرف جر دے چه بآء ده
دَدے وجه نه زَيْدٍ مجرور شوے دے په واسطه دَحرف جر سره مفعول به شو.
سوال :- جَآءَنِيْ هٰٓؤُلَآءِ اِلٰى مَرَرْتُ بِهٰٓؤُلَآءِ پورے معلوم کړئ؟
جواب :- جَآءَ عامل نون وقایه یآء مفعول به شو هٰٓؤُلَآءِ دا مبنی دے ځکه چه
محتاج دے مشارٌ الیه ته. دے دا په درے حالتو کښے دا مبنی دے. او بیا مبنی بالمناسبت
دے. مبنی اصل هم نه دے. نو دغه مبنیات اول کښے فاعل ثانی کښے مفعول ثالث کښے مجرور
سوال :- يَسْتَغْفِرُوْنَ نَصَرَ رَحِيْمٌ ظَلَمَ هٰذَا لَمْ يَعْبُدُوْا نُجَاجَةُ
تُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ نِعْمَ لَمْ يَفْعَلْ لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ يُؤْمِنُوْنَ
بِالْغَيْبِ اَلْقُرْاٰنُ كِتَابُ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصَّادِقُوْنَ لَنْ يَّسْمَعُوْا
نَحْنُ طُلَّابٌ مُجْتَهِدُوْنَ هٰٓؤُلَآءِ الْبَنَاتُ صَالِحَاتٌ مَتٰى تَرْجِعُ هٰذَا ذِكْرٌ
مُبَارَكٌ اِفْتَحُوْا هٰذَا كِتَابِيْ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ سَمِعْتُ
كَلَامُ زَيْدٍ دَخَلْتَ فِي الْمَسْجِدِ اِضْرِبْ زَيْدًا دَخَلَ نَصَرَ سَمِعَ
دغه مذکوره الفاظو کښے معرب، مبنی، عامل، معمول، فاعل، مفعول جدا
کړئ. اعراب هم معلوم کړئ بالحرکت دے که بالحروف. جمله هم معلوم کړئ چه
اسمیه ده. فعلیه ده. انشائیه ده. که خبریه. خو لفکر سره کار اوکړئ نه په جلدئ سره

جواب :- یَسْتَغْفِرْنَ دا مبنی دے . ولے مبنی دے ؟ ځکه په مضارع کښې دا جمع مؤنث غائب ده . نو جمع مؤنث صیغه کښې نون دی نو عمل دَاعراب نشی کولے . نَصَرَ حَمِیْدٌ دا معرب دے ځکه چه نَصَرَ فعل دے . عامل دے حَمِیْدٌ دا ورته معمول دے فاعل دے . اثر دَفاعلیت ئې هغه رفع دَحمیدٌ ده . مفعول ورسره ذکر نه دے . اعراب بالحرکت دے . جمله فعلیه خبریه ده . ظَلَمَ هٰذَا دا مبنی دے . ظلم فعل هٰذَا ورته فاعل دے . خو محتاج دے مشارٌ الیه ته ځکه مبنی شو . دا هم جمله فعلیه خبریه ده . اول لفظ چه یَسْتَغْفِرْنَ جمله انشائیه وُه هُنَّ ورته فاعل وو . لَمْ یَعْبُدُوْا لَمْ جازمه پرے داخل شو نو نون دَجمع مذکر ترینه ساقط شو دا جمله فعلیه خبریه ده او معرب ده . زُجَاجَةٌ دا مبنی ده ځکه چه اسم دے . او غیر مرکب واقع شویدے اوس که دا سے وویلے شی زُجَاجَةٌ کَوْکَبٌ دُرِّیٌّ ورسره اَلْمِشْکٰوةُ زُجَاجَةٌ الخ بیا معرب دے تُوْبُوْا اِلَی اللهِ دا مبنی دے ځکه چه تُوْبُوْا دا صیغه دَامر ده اَنْتُمْ پکښې فاعل دے اِلیٰ حرف جر لفظ دَالله مجرور دا ورته مفعول به کیږی یا ورته متعلق وائی . نِعْمَ دا هم مبنی دے ځکه چه معلوم نه دے چه څه خه دے لَمْ یَفْعَلْ معرب جمله فعلیه خبریه عمل جزم . لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَکُمْ . لَا مبنی بر سکون حرف نهی تَرْفَعُوْا فعل مضارع معرب عمل سقوط ونون جمع مذکر دا فعل شو . واو دَجمع ورته فاعل شو . اعراب بالحروف شو . اَصْوَاتَکُمْ دا اسم ده . قانون دا دے چه یو اسم بغیر دَالف لام نه اضافت وشی ضمیر ته هغه مضاف مضافٌ الیه دے دلته هم اَصْوَاتَ مضاف کُمْ مضافٌ الیه دا مفعول به شو دَلَا تَرْفَعُوْا دَپاره . فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه انشائیه ناهیه . ځوك دَوَاوْ په ځائے اَنْتُمْ فاعل وائی . یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ دا معرب دے . او رفع ئې په وَاوْ سره ده . بیا دَدے وَاوْ تعبیر ئې بعض په هُمْ سره کوی اظهار سهولت دَپاره یُؤْمِنُوْنَ فعل دے هُمْ ورته فاعل بِالْغَیْبِ جار او مجرور تعلق نیسی تر یُؤْمِنُوْنَ پورے دا ورته مفعول به شو . اَلْقُرْآنُ کَلَامُ اللهِ دا هم معرب دے . اعراب بالحرکت دے جمله اسمیه خبریه ځکه چه اَلْقُرْآنُ معرب باللّام مرفوع لفظاً مبتدا ، کَلَامُ مضاف لفظ دَالله ورته مضافٌ الیه شو . مضاف مع المضافٌ الیه دا خبر شو دَپاره دَمبتدا ، . مبتدا مع الخبر

جمله اسميه خبريه . لَنْ يَّمْعُوْا لَنْ ناصبه يَمْعُوْا فعل . وَاوْ ورته فاعل شو دا جمله فعليه انشائيه معرب ده . نَحْنُ طُلَّابٌ مُجْتَهِدُوْنَ . نَحْنُ ضمير مرفوع منفصل مبتداء طُلَّابٌ موصوف مُجْتَهِدُوْنَ صيغه دَ اسم فاعل هُمْ ورته فاعل اسم فاعل مع الفاعل صفت شو دَپاره دَ موصوف چه طُلَّابٌ دے . موصوف مع الصفت دا خبر شو دَپاره دَ مبتداء . مبتداء مع الخبر دا جمله اسميه خبريه . هٰؤُلَاءِ الْبَنَاتُ هٰؤُلَاءِ الْبَنَاتُ . هٰؤُلَاءِ اسماء اشاره الْبَنَاتُ مَشَارٌ اليه . اسماء اشاره مع المشار اليه مبتداء . صَالِحَاتٌ ورته خبر شو . مَتٰى تَرْجِعُ مَتٰى حرفِ استفهام دے تَرْجِعُ فعل اَنْتَ فاعل . فعل مع الفاعل جمله فعليه انشائيه . هٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ هٰذَا اسم اشاره ذِكْرٌ ورته مشارٌ اليه . مشار سره دَ مشارٌ اليه نه مبتداء مُبَارَكٌ ورته خبر شو . هٰذَا مبتداء ذِكْرٌ موصوف مبارِكٌ ورته صفت . موصوف مَعَ صفت خبر شو دَپاره دَ مبتداء . مبتداء مع الخبر دا جمله اسميه خبريه . اِفْتَحُوْا فعل امر ضمير دَ انتم فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعليه انشائيه . هٰذَا كِتَابِيْ هٰذَا مبتداء كِتَابِيْ مضاف ياى متكلم مضافٌ اليه . مضاف مع المضاف اليه خبر شو دَپاره دَ مبتداء . مبتداء مع الخبر دا جمله اسميه خبريه اِهْدِنَا - اِهْدِ امر حاضر معلوم اَنْتَ فاعل نَا مفعول اول شو . الصِّرَاطَ موصوف المستقيم ورته صفت . موصوف مع صفت مفعول ثانى شو دَ اِهْدِ . فعل مع الفاعل مع المفعولين دا جمله فعليه انشائيه امريه . نو معلومه شوه چه جمله دَه انشائيه ده . او اول جز چه امر ده مبنى ده . سَمِعْتُ كَلَامَ زَيْدٍ . سَمِعَ فعل (تُ) فاعل . كَلَامَ مضاف زَيْدٍ مضافٌ اليه . مضاف مع المضافٌ اليه مفعول به شو دَپاره دَ سَمِعْتُ . دا جمله فعليه خبريه . دَخَلْتُ فِى الْمَسْجِدِ . دَخَلَ فعل (تُ) فاعل فِىْ جار اَلْمَسْجِدِ مجرور . جار مع المجرور تعلق پیدا شو نو دَخَلْتُ فعل پورې . فعل مع الفاعل مع المتعلق دا جمله فعليه خبريه اِضْرِبْ زَيْدًا - اِضْرِبْ امر حاضر معلوم اَنْتَ فاعل زَيْدًا مفعول به فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعليه انشائيه امريه . دَخَلَ سَمِعَ نَصَرَ دا درې واړه جمله فعليه خبريه ده . خو شيان مبنيات دى برفتح ځکه چه ماضى مبنى اصل دى برفتح فاعل پکښې مستتر دے هم تعبيرئے کيږى په هُوَ سره . (فتفكر)

سوال :- دغه آیات مبارك چه نړه ذکرکوم . دَدے معلومات واکړئ چه پکښے معرب کوم یودے او مبنی کوم دے . جمله اسمیه ده که انشائیه ؟ فعل ئے معلوم کړئ فاعل ئے معلوم کړئ . آیات مبارك دغه دے . یَآ اَیُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّکُمُ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِکُمْ لَعَلَّکُمْ تَرْحَمُوْنَ .

جواب :- یَآ حرف نِداء ده . دا ټوله جمله ندائیه ده .

سوال :- کوم ځاے کښے حرفِ نداء دے هلته څو څیزونه پیژندل ضروری دی ؟

جواب :- څلور څیزونه پیژندل ضروری دی (۱) مُنادیٰ (۲) حرفِ نِداء (۳) جوابِ نِداء (۴) مُنادِیْ - د لته الله پاك منادِیْ دے اَلنَّاسُ وړته منادیٰ ده یَآء حرفِ نداء اعْبُدُوْا رَبَّکُمْ جواب دَ نِداء دے . نو یَآء حرفِ نِداء قائم مقام دَ اَدْعُوْا . اَدْعُوْا فعل صیغه واحده متکلم ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے ترینه کیدے شی په اَنَا سره هغه ئے فاعل ایٌّ مبنی اصل علیٰ ضمه موصوف هاء حرف تنبیه مبنی بر سکون النّاس صفت موصوف مَعَ صفت جمله منادیٰ مفعول به د اَدْعُوْا . ادعوا فعل مع الفاعل مع المفعول به اَنْتَ ورته فاعل اُعْبُدُوْا فعل امر حاضر معلوم اَنْتُمْ فاعل ربَّکُمْ مضاف مع مضاف الیه مفعول به نو الذی موصول خلق فعل هُوَ ضمیر فاعل کُمْ مفعول به الیٰ آخره تشریح اوکړئ او ترتیب هم اوکړئ .

## پنځم بحث په ترکیب کښے

جَآءَنِیْ زَیْدٌ - جَاءَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم باب دَ ضَرَبَ یَضْرِبُ نه (جَاءَ یَجِیْئُ) نون وقایه . یَا ضمیر متکلم مفعول به زَیْدٌ ورته فاعل . جَاءَ فعل زَیْدٌ فاعل یَا مفعول به . فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه -

رَاَیْتُ زَیْداً - (رَاٰی یَرٰی) رَاَیْتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضی معلوم قیاس دَ فَتَحَ یَفْتَحُ باندے (رَاٰی یَرٰی) دا مهموز العین او ناقص دی . ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے په اَنَا سره کیدی . هغه ورته فاعل شو . او زَیْداً ورته مفعول به شو . فعل چه رَاَیْتُ دے مع الفاعل چه اَنَا دے مع المفعول به چه زَیْداً دے

دا جمله فعلیه خبریه۔

مَرَرْتُ بِزَیْدٍ ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل ۔ فاعل پکښې ضمیر دے چه تعبیرے کیږی په اَنَا سره ۔ دا مَرَرْتُ صیغه دَ واحد متکلم فعل ماضی معلوم ۔ قیاس دے په باب دَ نَصَرَ یَنْصُرُ باندے (مَرَّ یَمُرُّ مَرًّا) باء حرف جر زَیْدٍ داور ته مجرور ۔ جار مع المجرور ظرف لغو تعلق نیسی تر مَرَرْتُ فعل پورے ۔ فعل مع الفاعل مع المتعلق دا جمله فعلیه خبریه ۔

ذَهَبَ زَیْدٌ ۔ قَتَلَ زَیْدٌ خَالِدًا ۔ ذَهَبَ فعل زَیْدٌ فاعل قَتَلَ فعل زَیْدٌ فاعل خَالِدًا مفعول به ۔ فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه ۔ او فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه ۔ دویمه جمله متعدی ده ۔ اوله جمله لازمی ده ځکه چه لره دَ مفعول ذکر نشته

جَآءَنِیْ هٰؤُلَآءِ ۔ جَآءَ فعل ۔ نون وقایه ۔ یَآ مفعول به ۔ هٰؤُلَآءِ دا اسم اشاره فاعل شو کیاره دَ جَآءَ فعل ۔ فعل سره دَ فاعل او سره دَ مفعول به دا جمله فعلیه خبریه ۔

رَاَیْتُ زَیْدًا ۔ رَاٰی فعل (تُ) ضمیر ورته فاعل ۔ زَیْدًا مفعول به ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه ۔

مَرَرْتُ بِزَیْدٍ ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل ۔ باء جار زَیْدٍ مجرور ۔ جار مع المجرور ظرف لغو تعلق نیسی تر مَرَرْتُ پورے ۔ فعل مع الفاعل مع المتعلق دا جمله فعلیه خبریه

سوال :- جَآءَ زَیْدٌ وَقَتَلَ حَرْبِیًّا وَاَلْقَاهُ فِیْ جُبِّ الْبِئْرِ دیکښې فعل فاعل او مفعول به معلوم کړی ؟

جواب :- جَآءَ فعل لازمی صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم قیاس دے په ضَرَبَ یَضْرِبُ باندے ۔ او زَیْدٌ ورته فاعل ۔ فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه معطوفٌ علیه ۔ وَاو حرف عاطفه قَتَلَ فعل متعدی ضمیر پکښې مستتر چه تعبیرے کیږی په هُوَ سره چه راجع دے زَیْدٌ ته کَافِرًا مفعول به ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه معطوفٌ علیه ۔ وَاو حرف ۔ اَلْقٰی فعل ماضی معلوم دَ باب افعال نه ناقص یائی دے ۔ ضمیر پکښې مستتر چه تعبیرے کیږی په هُوَ سره راجع دے زید ته ۔ هٗ ضمیر مفعول چه راجع دے کافر ته ۔ فِیْ جار جُبِّ مجرور لفظاً مضاف البیر مضافٌ الیه ۔ مضاف مع المضاف الیه مجرور شو دَ پاره دَ جار ۔ جار مع المجرور تعلق نیسی تر اَلْقَاهُ پورے ۔ فعل

فعل مع الفاعل مع المفعول بم معطوف شوګ پاره ډ معطوفهٔ علیه. معطوفة علیه مع المعطوف معطوف شوډ پاره ډ معطوفهٔ علیه. معطوفة علیه مع المعطوف چه جمله دے د اجمله فعلیه خبریه معطوف.

**فصل** بداں کہ جملہ حروف مبنی است واز افعال فعلِ ماضی و امر حاضر معروف و فعل مضارع با نون ہائے جمع مونث و با نون ہائے تاکید نیز مبنی است

بدانکہ اسمِ غیر متمکن مبنی است و امّا اسم متمکن معرب است بشرط آں کہ در ترکیب واقع شود و فعل مضارع معرب است بشرط آنکہ از نون ہائے جمع مؤنث و نونِ تاکید خالی باشد پس در کلامِ عرب بیش ازیں دو قسم معرب نیست باقی ہمہ مبنی است واسمِ غیر متمکن اسمیست کہ با مبنی اصل مشابہت دارد و مبنی اصل سہ چیز است فعل ماضی و امر حاضر معروف و جملہ حروف و اسم متمکن اسمیست کہ با مبنی اصل مشابہ نہ باشد

ترجمه :- دا فصل دے. پوه شه اے طالبه! یا زده کړه اے طالبه! قول حروف مبنی دی. او د افعالو نه فعل ماضی معلوم دی او که مجهول او امر حاضر معلوم او د فعل مضارع معلوم وی او که مجهول چه نون جمع مؤنث پکښے موجود وی. یا نون د تاکید وی که ثقیله وی که خفیفه دا هم مبنی دی.

پوه شه اے طالبه! اسم غیرمتمکن مبنی دے. یعنی هغه اسم چه قدرت نه وی کوی اعرابو ته دا مبنی دے. او هغه اسم چه متمکن وی یعنی اعرابو ته قدرت وی کوی چه وی بانده داخل شی هغه معرب دے په دے شرط سره چه په ترکیب کښے واقع شی مثال ئکه زَيْد بلا ترکیب دا مبنی دے که په ترکیب واقع شی بیا معرب دے. مثال ئکه زَيْدٌ قَائِمٌ او فعل مضارع معلوم دی او که مجهول معرب دی په دے شرط چه نون د جمع مؤنث او نون د تاکید نه خالی دی. بس د عرب په کلام کښے د دے دوو قسمونو نه نیات معرب نشته باقی قول مبنی دی. او اسم غیرمتمکن هغه اسم دے چه مبنی اصل سره مشابهت لری. او مبنی اصل درے شیان دی. فعل ماضی معلوم وی که مجهول.

امرحاضرمعلوم اوجمله حروف. او اسم متمکن هغه اسم دے چه مبنیٔ اصل سره مشابهت نه لري. ځکه چه دے ته ورکوی اعرابو ته مبنی قدرت نه ورکوی نو دواړه ضدین دی ځکه نه جمع کیږی.

# تشریحات

دَخلاصے خبرو معرفت ضروری دے (۱) تعین دَ مبنیٔ او معرب (۲) ذکر دَ امثالو (۳) ذکر دَ مشتق (۴) ترکیب.

اول بحث تعین دَمبنیاتو او معرباتو :- هرکله چه مصنف" فارغ شو دَ بیان دَ اجمال نه اوس ئے شروع اوکړه په تفصیل باندے. اول تقسیم په اعتبار دَ ذات سره وو. دریو ته اسم فعل حرف. دویم تقسیم په اعتبار دَ اوصافو سره وو دوؤ ته معرب او مبنیٔ ته. دریم تقسیم اوس شروع شو په اعتبار دَ شمار سره چه مبنیٔ اصل دری دی او مبنی بالمناسبت اته دی. او معرب صِرف دوه دی اسم متمکن او فعل مضارع چه خالی وی دَ نونات جمع مؤنث او دَ تاکید نه -

سوال :- دویم تقسیم خو په اعتبار دَ اوصافو سره وو معرب او مبنی ته بیا دوباره تقسیم ته څه ضرورت وُو ؟

جواب :- دویم تقسیم معرب او مبنیٔ ته هغه طلباء کرامو ته وو چه ذهانی دی چه کنبے ذکیان دی. او دلته دا دریم تقسیم چه بیا شروع شو دا هغه طلباء کرامو ته دے چه مبتدیان دی. نو هلته ئے تعریف دَ معرب او مبنی یاد کړے وو چه معرب دیته وائی او مبنیٔ دیته - دلته شمار دَ مبنیٔ او شمار دَ معرب ذکر کیږی. چه معرب خو دیته ویلے شو چه آخر دَ دے مختلف کیده په دخول دَ عواملو سره هغه دا دی او مبنی هغه ؤو چه آخر دَ دے نه مختلف کیږی په دخول دَ عواملو سره هغه دا دا دی. نو دلته تعین دَ معرب او مبنیٔ اوشو چه مبنیٔ اصل قول دریم دی (۱) قول حروف (۲) په افعالو کنبے فعل ماضی معلوم او مجهول دواړه او امرحاضر معلوم او هغه فعل مضارع معلوم وی او که مجهول چه په آخره کنبے دَ جمع مؤنث دَ پاره نون راغلی وی یا نون تاکید وی

لکه يَفْعَلْنَ او تَفْعَلْنَ . لَيَفْعَلَنَّ . لَيَفْعَلْنَ (۳) او په اسماء کښې هغه اسماء غیرمتمکنه

سوال :- حروف ولے مبني دی ؟

جواب :- حروف مباني دی اوکه حروف معاني وی. داځکه مبني دی چه علت دَ اعراب پکښې معدوم دے . اوعلت دَ اعراب درے دی یا فاعلیت دے یا مفعولیت دے یا اضافت دے . نه فاعل واقع کیږی چه مرفوع شی . نه مفعول واقع کیږی چه منصوب شی . نه مضاف الیه واقع کیږی چه مجرور شی . ځکه حروف دومره کمزوری دی چه خپله معنی پخپله نشی ظاهره ولے . ترڅو چه اسم او فعل سره یوځائے نه شی نوځکه ئے اعراب نشی برداشت کولے نو مبني پاتے شو

سوال :- فعل ماضی ولے مبني واقع شو ؟

جواب :- فعل ماضی بتمامه ځکه مبني واقع شو چه علت دَ اعراب پکښې معدوم دے او علت دَ اعراب دوه دی . اول واقع کیدل دَ دے فاعل او مفعول او مضاف الیه فاعل واقع کیدل چه مرفوع شی . مفعول واقع کیدل چه منصوب شی . مضاف الیه واقع کیدل چه مجرور شی . دویم علت دَ هغے مشابهت کامل دے اسم معرب سره نو فعل ماضی مطلق کښې . دا دواړه شرطونه مفقود وو . ځکه که فعل ماضی معلوم وی اوکه مجهول . مبني پاتے شو . بیا مبني خو په سکون سره وی دیته حرکت ورکړے شوله وجې دَ تخفیف نه -

سوال :- امرحاضر ولے مبني شو ؟

جواب :- امرِ حاضر کښې هم دغه دوه علته مفقود دی نه فاعل واقع کیږی . نه مفعول نه مضاف الیه او نه مشابهت لری اسم معرب سره کاملاً ځکه مبني شو. پخپله مبني اصل دے . یعنی فعل ماضی امرحاضر معلوم مبني اصل شو.

سوال :- فعل مضارع چه نون ورسره موجود وی ولے مبني شو ؟

جواب :- فعل مضارع دا هم ځکه مبني شو چه آخره کلمه دَ دے وسط کښې راځی او وسط کښې اعراب نه جاری کیږی . ځکه آخره کښې نون دَ جمع مؤنث او نون دَ تاکید چه ثقیله وی که خفیفه لاحق شی بیا لام کلمه دَ فعل مضارع وسط کښې شی . اوکه نون باندے اعراب جاری شی بیا هم نه دے صحیح . ځکه چه نون پخپله حرف دے او مبني فعل

مضارع معرب دے . او نون مبنی دے . نو اعراب به په بله کلمه باندے جاری کیږی دا صحیح نه دے . ځکه چه اجراء دَ اعراب په کلمه اُخریٰ حقیقةً لا یصح نتفکر اګرچه دَ دے مضارع اسم معرب سره مشابهت تام لری چه اسم فاعل دے په حرکاتو سکناتو په حروفو باندے یخپله جائزه داخلی خوله وجه دَ وسطنه مبنی شو.

سوال :- بیا یَضْرِبَانِ یَضْرِبُوْنَ کښے هم آخر دَ دے په وسط کښے راغے بیا خو دا هم مبنی کیدل پکار دی ؟

جواب :- دلته اګرکه دَ آخره دَ دے واقع شوېدے په وسط کښے . لیکن دا وسط پشان دَ کالعدم دے او کالعدم لره اعتبار نشته ځکه چه دا دَاؤ او الف مشابه وی دَ حروفو دَ اعراب سره . دوی مضارع لره نشی ویستلے دَ معرب والی نه . ځکه چه دا وجه دَ دَ منع صرف دوی نه له دے وجه نه چه دلته کښے دا معرب دَ ه .

سوال :- په آسماء کښے آسماء غیر متمکن هم مبنی دی دا ولے ؟

جواب :- دَ غیر متمکن معنیٰ دا ده چه دے به اعراب نه قبلوی بیا به معرب څرنګه شی ځکه چه معرب دیته وائی چه دے به اعراب قبلوی په دے وارو حالتونو باندے او کله چه دے قدرت نه وی کوی اعراب ته بیا ځکه دے مبنی شو .

خلاصه دَ خبرے :- اصل حقیقت دا دے چه علماء نحویان مبنی اصل فقط درے مقرر کړی دی (۱) فعل ماضی امر حاضر (۲) جمله حروف (۳) هغه فعل مضارع چه آخره کښے نون دَ جمع مؤنث یا نون دَ تاکید وی . او باقی مبنیات بیا مبنی بالمشابهت دی لکه آسماء غیر متمکن چه اته دی . دَ دے وجه نه دیته اسماء غیر متمکن نوم مقرر شو بحث دَ دوی یخپل محل کښے راځی .

سوال :- آسماء متمکنه ولے معرب دی ؟

جواب :- آسماء متمکنه په دوه قسمه سره دی (۱) هغه اسماء متمکنه چه په ترکیب کښے واقع شی (۲) هغه دی چه په ترکیب کښے نه وی واقع شوی . مثال لکه زید - بکر عمر - خالد - والد . دا په سکون کښے وی مبنی شی . کله چه ترکیب واقع شو بیا معرب شی . ځکه چه اعراب دَ پاره معانی ثلاثه معلوم شی چه فاعلیت . مفعولیت او اضافت دے او س په ترکیب واقع شی خو مع العامل . ګڼې بلا عامله را شی . مثال لکه غُلَامُ زَیْدٍ . اوس

غلام دلته دَ زید سره مرکب شو بیا هم معرب نه دے. ځکه چه زید دَ دے دَ پاره عامل نه دے. نو معنیٰ دَ اضافت په زید کښے ده نه غلام کښے.

او معرب په کلام دَ عربو کښے صِرف دوه شو. یو فعل مضارع چه خالی وی دَ نونو نه دوئم اسمآءِ متمکنه چه په ترکیب کښے واقع شی.

او اسم غیر متمکن خو مبنی شو. له وجه دَ مشابهت دَ مبنی اصل سره او دا مشابهت دَ دے په څو طریقو سره دی (۱) اسم متضمن وی معنیٰ دَ حرف لره لکه اَیْنَ چه ظرف دے متضمن دے معنیٰ دَ حرفِ استفهام لره (۲) چه مشابهت ئے راغلے وی په احتیاج کښے لکه هٰؤُلَآءِ شو. نو حرف خو په دلالت کښے محتاج دے ضم دَ کلمے آخر لره او دا هم محتاج دے مشارٌ الیہ لره (۳) چه اسم واقع شی په ځائے دَ وقوع دَ مبنی اصل کښے لکه نَزَالِ شو چه په مقام دَ اِنْزِلْ کښے واقع دے (۴) چه یو اسم مشابه وی په وزن کښے. دا یے اسم سره چه هغه واقع دی په ځائے دَ وقوع دَ مبنیٰ اصل کښے. لکه: فَجَارِ شو په معنیٰ دَ زنا کار سره مشابه دے په وزن کښے نزال سره نو نزال خو واقع وو په مقام دَ مبنی اصل کښے چه امر دے اِنْزِلْ (۵) چه یو اسم واقع شی په ځائے دَ هغه اسم کښے چه هغه مشابه وی دے مبنی اصل سره. لکه زَید شو په یَا زَیْدُ کښے. دا زید دلته واقع دے په مقام دَ کاف خطابی. یَا زَیْدُ معنیٰ اَدْعُوْكَ سره کاف اسمی خطابی مشابه دے دَ کاف حرفی خطابی سره. او کاف حرفی خطابی مبنی دے

اسم غیر متمکنه اته دی (۱) مضمرات (۲) اسمآءِ اشارات (۳) موصولات (۴) اسمآءِ افعال (۵) اصوات (۶) ظروف (۷) کنایات (۸) مرکب بنائی۔

## دویم بحث ذکر دَا مثالو

نَصَرَ يَضْرِبُ ضَرَبَ لَمْ يَضْرِبْ اِضْرِبْ مِنْ لَمْ لَا فِيْ قَدْ
نَصَرَتْ نَصَرْتَ يَضْرِبَنَّ يَنْصُرْنَ زيد بكر خالد والد
زَيْدٌ قَائِمٌ زَيْدٌ حَاضِرٌ زَيْدٌ ضَرَبَ عَمْرًا زَيْدًا قام رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ بِسْمِ اللّٰهِ هٰؤُلَآءِ هٰذَا اَلَّذِیْ يَضْرِبَانِ ضَرَبَا
ضَرَبُوْا كِتَابُ اللّٰهِ هٰذَا زَيْدٌ هٰذَا عَمْرٌو اُنْصُرْ اِشْرِبْ

لَا تَشْرَبْ لَيَفْعَلَنَّ كَذَا هٰٓؤُلَآءِ مُسْلِمَاتٌ هُنَّ طَالِبَاتٌ هُمْ مُشْرِكُوْنَ
هُمْ صَالِحُوْنَ جَآءَ زَيْدٌ وَشَرِبَ الْمَآءَ ذَهَبَ سَعِيْدٌ اللهِ اِلَى الْمَلَائِكَةِ
جَآءُوْا اِلَى الْمَدِيْنَةِ وَ نُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَاهُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ
اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ اَلدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ اَلْمَجَالِسُ بِالْاَمَانَاتِ اَلْاِقْتِصَادُ
نِصْفُ الْمَعِيْشَةِ اَلتَّوَدُّدُ نِصْفُ الْعَقْلِ قُلْ يٰاَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ لَا تَعْبُدُوْنَ
وَلَا اَنْتُمْ عَابِدُوْنَ مَا اَعْبُدُ وَلَا اَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُّمْ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ
يُوْلَدْ قَدْ هَبَّ اَنْتَ وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَا قَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ هٰذَا كِتَابِيْ
اُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ غُلَامُ زَيْدٍ فَعَلَ كَذَا -

## دریم بحث ذکر دمشق

نَصَرَ ضَرَبَ اِضْرِبْ نَصَرَتْ نَصَرْتَ يَضْرِبَنَّ يَنْصُرْنَ اُنْصُرْ

سوال :- دا اتہ دارہ پہ کلام دعرب کنبے ثہ واقع شویدی . اسم کہ فعل اوکہ حرف ؟
جواب :- دا مذکورہ اتہ وارہ فعل دی -
سوال :- فعل بیا پہ دوہ قسمہ دہ مبنی او معرب دا مذکورہ الفاظ دکوم یو نہ دی ؟
جواب :- مبنی دی -
سوال :- مبنی خو بیا پہ دوہ قسمہ سرہ دی یو مبنی الاصل بل مبنی بالمناسبت داکوم یونہ دی
جواب :- اتہ وارہ مبنی الاصل دی . څلور صیغے دفعل ماضی دی . دوہ صیغے دامر حاضر معلوم دی . یوہ صیغہ دفعل مضارع معلوم دہ . یوہ صیغہ د امر تاکید دہ پہ نون ثقیلہ سرہ چہ بیا وسط کنبے اعراب نہ جاری کیږی .
سوال :- لَمْ يَضْرِبْ زَيْدٌ قَائِمٌ زَيْدٌ حَاضِرٌ زَيْدٌ ضَرَبَ عَمْرًا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ بِسْمِ اللهِ كِتَابُ اللهِ هٰذَا زَيْدٌ هٰذَا عَمْرٌو -
دا مذکورہ الفاظ پہ کلام دعرب کنبے اسم دے فعل دے اوکہ حرف دے ؟
جواب : بعضے اسم دی بعضے فعل
سوال :- بیا معرب دی کہ مبنی ؟

جواب :۔ معرب۔
سوال :۔ معرب بیا په دوه قسمه دی یو دَ اسم نه دی یو دَ فعل نه دا کوم یو دی ؟
جواب :۔ اسم نه هم شته او فعل نه هم شته۔
سوال :۔ دَ فعل نه چه کوم معرب دی هغه جدا کړئ. او اسم نه چه کوم معرب دی هغه هم جدا کړئ
جواب :۔ لَمْ يَضْرِبْ دا دَ فعل نه معرب دے۔ عامل ورباندے جازمه داخل ده ځکه جزم ئے قبول کړے دے۔ لَمْ يَضْرِبْ فعل ضمیر پکښے هُوَ دے هغه دے هغه ئے فاعل۔ فعل مع الفاعل دا جمله فعليه خبريه۔ دا ما بقيه ټول جمله اسميه دی۔
زَيْدٌ قَائِمٌ۔ مبتداء او خبر جمله اسميه خبريه۔ زَيْدٌ حَاضِرٌ هم ايضاً. زَيْدٌ ضَرَبَ عَمْرًا زَيْدٌ مرفوع لفظاً مبتداء۔ ضَرَبَ فعل ماضی مبنی ضمیر پکښے مستتر چه راجع دے زید ته چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره او عَمْرًا منصوب لفظاً مفعول به شو۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعليه خبريه خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه زید دے۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه۔ اَلْحَمْدُ مرفوع لفظاً معرف باللام مبتداء لِلّٰهِ جار مع المجرور ظرف مستقر تعلق نیسی ثَابِتٌ مقدر پورے۔ ثابت صیغه دَ اسم فاعل هُوَ ضمیر فاعل اسم فاعل مع الفاعل مع المتعلق شبه جمله خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه اَلْحَمْدُ دے۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه بِسْمِ اللّٰهِ۔ با جار اسم مجرور مضاف الله مضاف اليه۔ مضاف مع المضاف اليه مجرور شو دَ پاره دَ جار۔ مجرور مع الجار ظرف مستقر تعلق نیسی نو اَبْتَدِءُ پورے اَبْتَدِءُ فعل اَنَا۔ فعل مع المتعلق جمله فعليه خبريه۔ كتابُ الله. كِتَابُ مضاف لفظ دَ الله مضاف اليه۔ مضاف مع المضاف اليه مرکب اضافی شو معرب دے خو غیر مفید دے جزء د جمله دے۔ او س دا که مبتداء شی خبر محذوف شی و دته پیدا کړی حَقٌّ شو یا دا خبر دے مبتداء به و دته محذوف شی۔ هٰذَا كِتَابُ اللهِ۔ هٰذَا مبتداء۔ كِتَابُ اللهِ ور ته خبر شو۔ جمله اسميه خبريه۔ هٰذَا زَيْدٌ۔ هٰذَا عمرو دا مبتدا خبر دی جمله اسميه ده
سوال :۔ مِنْ كَمْ لَا فِيْ قَدْ زَيْد بكر خَالِدٌ وَالِدٌ هٰذَا اَلَّذِىْ ضَرَبَا ضَرَبُوْا اِضْرِبْ۔
دا مذکوره الفاظ په کلام دَ عربو کښے څه واقع شویدی ! اسم۔ فعل او که حرف۔
جواب :۔ ځنے اسم ځنے فعل ځنے حرف۔

سوال :- اسم کوم یو دے . فعل کوم یو دے . حرف کوم یو دے .
جواب :- زَیْدٌ بَکر خَالِدٌ وَالِدٌ هٰذَا الَّذِی دا اسم دی .
مِنْ لَمْ لَا فِیْ قَدْ دا حروف دی .
ضَرَبَا ضَرَبُوْا اِشْرِبْ دا فعل دے .
سوال :- اسم هم ډیر دی . او فعل هم ډیر دی دا کوم یو دے ؟
جواب :- زید بکر خالد والد دا هغه اسمآءِ متمکنه دی خو بغیر ترکیب نه داغلی دی .
سوال :- بیا دغه اسمآء متمکنه مبنی دی که معرب ؟
جواب :- دا مبنی دی ځکه چه اسمآء متمکنه چه بلا ترکیبه راشی هغه مبنی وی . مع ترکیب چه راشی بیا معرب وی . او هٰذَا - اَلَّذِی دا هم اسم دی . هٰذَا اسماء اشارات دی . او اَلَّذِی اسمآء موصولات دی . ضَرَبَا ضَرَبُوْا دا فعل ماضی مبنی دی اِشْرِبْ . دَا مر حاضر معلوم مبنی دے . بنه په غور سره وه ته کتنه اوکړی انشاء الله العزیز بصیرت به مو حاصل شي
سوال :- لَا تَشْرِبْ لَیَفْعَلَنَّ کَذَا هٰؤُلَآءِ مُسْلِمَاتٌ هُنَّ طَالِبَاتٌ هُمْ مُشْرِکُوْنَ هُوَ صَالِحُوْنَ هٰذَا کِتَابِیْ جَاءَ زَیْدٌ وَ شَرِبَ الْمَاءُ ذَهَبَ سَعِیْدٌ اللّٰهِ اِلَی الْمَدْرَسَةِ جَآءَ نَا اِلَی الْمَدِیْنَةِ اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ اَلدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ وَ نُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ اَلْمَجَالِسُ بِالْاَمَانَاتِ اَلْاِقْتِصَادُ نِصْفُ الْمَعِیْشَةِ لَمْ یَلِدْ -
دا مذکوره الفاظ په کلام دعرب کښے څه واقع شویدی ؟
جواب :- اسم - فعل - حرف درے واړه موجود دی -
سوال :- معرب دی که مبنی ؟
جواب :- معرب هم شته مبنی هم .
سوال : جمله فعلیه ده که اسمیه ؟
جواب :- جمله اسمیه هم شته فعلیه هم -
سوال :- جمله انشائیه پکښے شته او که نه ؟

جواب :- جمله انشائیه پکښې هم شته خو روایات پکښې خبریه ده

سوال :- که مونږ له نشان دهی وکړئ چه دا معرب دی . دا مبنی دی دا جمله اسمیه ده . دا جمله فعلیه ده . دا جمله انشائیه ده او دا خبریه ده ؟

جواب :- لَا تَشْرِبْ . دا لا حرف نهی ده تَشْرِبُ صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم دے . لا دې باندے عمل کړے دے . جزم ئې ورله ورکړے دے . دا معرب دے جمله فعلیه انشائیه ده .

لَيَفْعَلَنَّ كَذَا دا هم فعل دے خو بیا دا مبنی دے . لام تاکید يَفْعَلَنَّ نون تاکید كَذَا ورته مفعول به شو . جمله فعلیه انشائیه . هٰؤُلَاءِ مُسْلِمَاتٌ جمله اسمیه خبریه ده . هٰؤُلَاءِ مبنی ده مبتداء مُسْلِمَاتٌ ورته خبر شو . جمله اسمیه خبریه . هُنَّ طَالِبَاتٌ دا هم جمله اسمیه خبریه ده . هُنَّ مبتداء طالباتٌ ورته خبر شو . هُمْ مُشْرِكُوْنَ هم جمله اسمیه خبریه ده . هُمْ صَالِحُوْنَ ایضًا . هٰذَا كِتَابِيْ . هٰذا مبتداء كِتَابْ مضاف یائی متکلم مضافٌ الیه . مضاف مع المضافُ الیه ورته خبر شو . مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه . جَاءَ زَيْدٌ وَشَرِبَ الْمَاءَ دا جمله فعلیه معطوفه ده . جَآءَ فعل زَيْدٌ ورته فاعل . فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه معطوفٌ علیه . وَاوْ حرف عطف . شَرِبَ فعل ضمیر پکښې فاعل چه راجع دے زید ته اَلْمَاءَ مفعول به فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه معطوف شو دَ پاره دَ معطوفٌ علیه چه جَاءَ زَيْدٌ دے . معطوفٌ علیه مع المعطوف دا جمله فعلیه خبریه معطوفه .

ذَهَبَ سَعِيْدُ اللّٰهِ اِلَى الْمَدْرَسَةِ . ذَهَبَ فعل لازمي سعید مضاف لفظ دَ الله مضافٌ الیه . مضاف مع المضافٌ الیه فاعل شو دَ پاره دَ ذَهَبَ اِلىٰ حرف جار المدرسة مجرور . جار مع المجرور تعلق نو ذهب فعل پورے نیسی چه ورته مفعول فیه کیږی . ځکه چه ظرف مکان دے . فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعلیه خبریه . جَاءُوْا اِلَى الْمَدِيْنَةِ جَآءُوْ فعل فاعل چه وَاوْ فاعل دے اِلَى الْمَدِيْنَةِ جار مجرور تعلق نو جَآءُوْ شو . مفعول فیه چه ظرف مکان دے .

وَ نُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ . وَاوْ حرف عطف نُنَزِّلُ صیغه دَ فعل مضارع معلوم متکلم مع الغیر ضمیر پکښې مستتر چه نعبیرے کیږی

په نحنُ کښې هغه وړته فاعل شو من القرآن جار مجرور تعلق تر نُنَزِّلُ پورې ـ مَا موصول هُوَ مبتداء شِفَاءٌ ئې خبرِ اول وَرَحْمَةٌ خبر ثاني ـ مبتداء مع الخبرين صله شوه دپاره د موصول چه ماده ـ موصول مع صله دا بيان شو دپاره د مِنَ الْقُرْآنِ نه.

اَلدُّعَاءُ مُخُ الْعِبَادَةِ ـ دا جمله اسميه خبريه ده ـ اَلدُّعَاءُ معرف باللام مرفوع لفظاً مبتدا مُخُ الْعِبَادَةِ مضاف مضافٌ اليه ورته خبر شو ـ دا جمله اسميه خبريه شوه ـ

اَلدُّعَاءُ هُوَالْعِبَادَةُ ـ الدُّعَاءُ مرفوع لفظاً مبتداء هُوَ مبتداء ثاني اَلْعِبَادَةُ خبر شو ـ مبتداء مع الخبر دا خبر شو دپاره د مبتدا اوچه اَلدُّعَاءُ دے جمله اسميه خبريه شوه

اَلْمَجَالِسُ بِالْاَمَانَةِ ـ اَلْمَجَالِسُ مبتداء ـ بِالْاَمَانَةِ جار مع المجرور مع المتعلق شبه جمله خبر شو دپاره د مبتدا او ـ

اَلْاِقْتِصَادُ نِصْفُ الْمَعِيْشَةِ ـ اَلْاِقْتِصَادُ معرف باللام مرفوع لفظاً مبتداء ـ نِصْفُ الْمَعِيْشَةِ ـ نصف مضاف اَلْمَعِيْشَةِ مضافٌ اليه ـ مضاف مع المضافُ اليه خبر شو دپاره د مبتداء ـ مبتدا مع الخبر جمله اسميه خبريه ـ

لَمْ يَلِدْ جمله فعليه خبريه ـ وَلَمْ يُولَدْ هم جمله فعليه خبريه ده ـ ځکه چه لَمْ جازمه ده باندے داخل شوے دے ـ معنیٰ د مضارع ماضي ته لاړه ـ بيا نفي شو ـ

## خلورم بحث د ترکيب

قُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ ـ قُلْ صيغه د امر اَنْتَ پکښے ضمير مستتر هغه ورته فاعل يا حرف ندا اَیُّ مبني علی ضمة موصوف هَا حرف تنبيه مبني بر سکون اَلْكَافِرُوْنَ منادیٰ معرف باللام صفت موصوف مع صفت دا منادیٰ مفعول بہ شو دپاره د هغه حرفِ نداء چه يَا دے قايم دے په مقام د اُدْعُوْ. اَدْعُوْ فعل اَنَا فاعل ـ فعل مع الفاعل مع المفعول بہ دا جمله فعليه ندائيه مفعول شو دپاره د قُلْ فعل مع الفاعل مع المفعول بہ دا جمله فعليه انشائيه امريه مبين. لَا تَعْبُدُوْنَ الیٰ آخره ورته بيان دے ـ

فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا ۔ فَاذْهَبْ فاجزائیه اِذْهَبْ صیغه دَ امرِ حاضر معلوم اَنْتَ فاعل ۔ اَنْتَ ثانی ورته تاکید ۔ ځکه چه وروسته وَاوْ حرف عطف راځی عطف په ضمیرِ مستتر نه کیږی ۔ وَرَبُّكَ رَبُّ مضاف کاف ضمیر مخاطب مضافٌ الیه مضاف مع المضافٌ الیه دا هم فاعل شو دَپاره دَ فعل چه فَاذْهَبْ دے په واسطه دَ حرف عطف سره فَقَاتِلَا دا مفعول به شو ۔ فعل مع الفاعلین مع المفعول به جمله فعلیه انشائیه امریه جزائیه ۔

قَتَلَ دَاوُدُ جَالُوْتَ ۔ قَتَلَ فعل دَاوُدُ فاعل جالوت ورته مفعول به شو ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه ۔

اُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ ۔ اُعْبُدُوْا صیغه دَ امرِ حاضر معلوم اَنْتُمْ پکښے ضمیر مستتر فاعل رَبَّكُمْ رَبَّ مضاف كُمْ مضافٌ الیه ۔ مضاف مع المضافٌ الیه مفعول به شو دَپاره دَ اُعْبُدُوْا

غُلَامُ زَیْدٍ فَعَلَ كَذَا ۔ غُلَامُ مضاف زیدٍ مضافٌ الیه ۔ مضاف مع المضافٌ الیه مبتداء فَعَلَ فعل ضمیر پکښے مستتر چه تعبیرے کیږی په هُوَ سره چه راجع دے غُلَامُ زَیْدٍ ته كَذَا ورته مفعول به شو ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه خبر شو دَپاره دَ مبتداء ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه ۔

نَصَرَ ۔ ضَرَبَ ۔ دا فعل دے ضمیر پکښے مستتر چه هُوَ دے هغه ورته فاعل شو فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه یَضْرِبُ فعل مضارع معلوم دے جمله فعلیه انشائیه ده لَمْ یَضْرِبْ ۔ لَمْ جازمه یَضْرِبْ فعل مضارع معلوم ۔ لَمْ چه ورباندے داخل شو حرکت دَ رفع ختم شو جزم راغے معنیٰ دَ مضارع نقل شوه معنیٰ دَ ماضی ته ۔ اوس نفی شو ۔ وهل نه دی کړی نو جمله فعلیه خبریه دے جملے فعلیه انشائیه نه قطع شوه ۔ جمله فعلیه خبریه کښے داخل شوه ۔ فتفکر ۔

نَصَرْتُ نَصَرْتَ ۔ دا یو فعل هم ضمیر پکښے فاعل ۔ اول فعل فاعل ۔ فاعل پکښے تاء یا نه ده جمله فعلیه خبریه ده ۔ یَضْرِبَنَّ لَیَنْصُرُنَّ دواړو کښے ضمیر مستتر دے هغه ئے فاعل شو ۔

زَیْدٌ قَائِمٌ ۔ زَیْدٌ موفوع لفظا مبتداء قَائِمٌ ورته خبر شو ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه ۔ زَیْدٌ حَاضِرٌ ایضا زَیْدٌ ضَرَبَ عَمْرًا زَیْدٌ مبتداء ضَرَبَ فعل ضمیر پکښے مستتر

راجع دے زید ته عمراً ورته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه خبر شو دَپاره دَ مبتداء. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه. رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ. رَبِّ دا مجرور دے. ځکه چه دا بدل راغلے دے دَ لفظ دَ الله نه. الله خو مجرور وُو له دے وجه دَ لام جارہ نه دا هم مجرور شو له وجه دَ بدل نه. مجرور مضاف العٰلمین مضاف الیه. جر په یاء سره دے. مضاف مع المضاف الیه بدل شو دَپاره دَ مبدل منه چه لله دے. مبدل منه مع البدل مجرور شو دَپاره دَ جار چه لام دے. جار مع المجرور ظرف مستقر تعلق نیسی تر ثابتٌ مقدره پورے. ثابتٌ صیغه دَ اسم فاعل ضمیر پکښے مستتر چه تعبیرے کیږی په هُوَ سره هغه ورته فاعل شو. اسم فاعل مع الفاعل مع المتعلق دا شبه جمله خبر شو دَپاره دَ مبتداء چه اَلْحَمْدُ دے مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه صورةً انشائیه معنیً.

**خلاصه خبرے** | کوم ځاے تاسو سوچ وکړئ په مشق کښے دَ دے ځنے تفصیل تیر شویدے. لیکن بیا هم تاسو ځیل فکر نه کار دا اخلی. اول

اسم، فعل او حرف پیژندل دِ پوهیدل ضروری دی. بیا دَ هغے نه بعد فاعل مفعول به پیژندل دِ پوهیدل ضروری دی. بیا دَ یو بل نه جدا کول او دَ یو دَ بل سره تعلق پیدا کول زیات ضروری دی. بیا دَ هغے نه بعد جمله (چه جمله اسمیه ده او که جمله فعلیه ده) بیا جمله انشائیه ده او که جمله خبریه ده. دَ دے معرفت هم زیات ضرورت دے.

صرف او صرف ځما دَ عزت ملکرو طالبانو تا سو ته زما خواهش دا دے چه دا امثال او مشق په صحیح طور سره زده کړئ. بیا ځنے ځنے ضوابط مونږ ذکر کوو دَ هغے دَ زده کولو دِ ډیر زیات ضروری دی. نو ان شاء الله العزیز زه دَ ځپل لوئ خالق لایزال نه امید لرم چه څوک ځما دا مختصره شرح مطالعه لری فهم سلیم عقل کامل به خدائے پاک ورته نصیب کړی

**فصل** بداں کہ اسم غیر متمکن ہشت قسم است **اول** مضمرات چوں اَنَا من مرد وزن و ضَرَبْتُ زدم من و اِیَّایَ خاص مرا و ضَرَبَنِیْ بزد مرا و لِیْ مرا، و ایں ہفتاد ضمیر است چہاردہ ضمیر مرفوع متصل ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ

ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ
وچهارده مرفوع منفصل اَنَا نَحْنُ اَنْتَ اَنْتُمَا اَنْتُنَّ هُوَهُمَا هُمْ
هِيَ هُمَا هُنَّ وچهارده مرفوع منفصل ضَرَبَنِيْ ضَرَبَنَا ضَرَبَكَ
ضَرَبَكَ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُمْ ضَرَبَكِ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُنَّ
ضَرَبَهٗ ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُمْ ضَرَبَهَا ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُنَّ
وچهارده منصوب منفصل اِيَّايَ اِيَّانَا اِيَّاكَ اِيَّاكُمَا اِيَّاكُمْ
اِيَّاكِ اِيَّاكُمَا اِيَّاكُنَّ اِيَّاهُ اِيَّاهُمَا اِيَّاهُنَّ اِيَّاهَا اِيَّاهُمَا
اِيَّاهُنَّ و چهارده مجرور متصل لِيْ لَنَا لَكَ لَكُمَا لَكُمْ لَكِ لَكُمَا
لَكُنَّ لَهٗ لَهُمَا لَهُمْ لَهَا لَهُمَا لَهُنَّ

ترجمه :- دا فصل دے . پوه شه اے طالبه یا زده کړه اے طالبه چه اسم غیر متمکن په اته قسمه دے . اوّل دَ هغوی ضمیرونه دی . لکه اَنَا نه یو سړے نارینه ښځه ضَرَبْتُ (او واحد مایو سړے یا یوه ښځه) اِيَّايَ (خاص مالره) ضَرَبَنِيْ (او واحد مالره) لِيْ (مالره) دا مجموعه اویا ضمیرونه دی . څلوارلس ضمیرونه دَ مرفوع متصل دپاره دی دَ ضَرَبْتُ نه داخله تر ضَرَبْنَ پورے . معنی او ضوابط به وروسته ذکر کیږی .

څلوارلس ضمائر دَ مرفوع منفصل دپاره دی . یعنی چه فعل نه به جدا وی . مثال لکه اَنَا نه داخله تر هُنَّ پورے . څلوارلس ضمیر دَ منصوب متصل دپاره دی . یعنی چه فعل سره ملګری دی جُدا نه وی . مثال لکه ضَرَبَنِيْ نه اِلیٰ ضَرَبَهُنَّ پورے . څلوارلس ضمیر دَ منصوب منفصل دپاره دی . چه فعل نه جدا دی . مثال لکه اِيَّايَ نه داخله تر اِيَّاهُنَّ پورے . څلوارلس ضمیر دَ مجرور متصل دپاره راځی . مثال لکه لِيْ نه داخله تر لَهُنَّ پورے .

## تشریحات

دَ ښه خبرو معرفت ضروری دے (۱) تحقیقات (۲) ضوابط دَ ضمائرو (۳) ذکر دَ امثالو

(۴) ذکر دَ مشق (۵) ترکیب

## اول بحث تحقیقات

هر کله چه مصنف علیه الرحمة فارغ شو دَ بیان دَ اجمالی اسماء غیر متمکن نه اوس ئے شروع وکړه په بیان دَ تفصیل دَ ضمائرو کښے

**سوال:** ولے نے اجمالی شکل سره بیان کړ بیا ئے تفصیلاً ؟

**جواب:** اول بیان دَ پاره دَ ذهن طلباء کرا مو دے چه ذهن په نهایت درجه کښے ذکیان دی . او ثانیاً چه تفصیل سره بیان کوی . دا دَ پاره دَ مبتدیانو ماغوندے نومبتدی .

نو دے ویل چه اسماء غیر متمکنه اته قسمه دی (۱) مضمرات (۲) اسماء اشارات (۳) موصولات (۴) اسماء افعال (۵) اصوات (۶) ظروف (۷) اسماء کنایات (۸) مرکب بنائی

متمکن صیغه دَ اسم فاعل ده دَ باب تَفَعُّلْ نه - تمکن معنیٰ ځائے ور کول . او س صیغه دَ اسم فاعل معنیٰ ځائے ور کونکے . او دَ غیر متمکن معنیٰ ځائے نه ور کونکے (یعنی اعراب ته ځائے نه ور کونکے) نو دَ دے دا مطلب شو چه کوم اسم اعراب ته دَ را تلو موقع نه ور کوی نو ځکه به خامخا مبنی وی . او اسماء غیر متمکن هم مبنی دی خو مبنی بالمناسبت دے لوجه دَ مشابهت نه مبنی اصل سره . اول قسم په دیکښے مضمرات دی .

مضمرات جمع ئے مضمرة ده . او مضمر صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب افعال نه اضمار نه نو مضمر او ضمیر یو شئے دے دَ ضمیر معنیٰ ده پټ . ضمیر دَ اسم ذات په ځائے دَ اختصار دَ پاره استعالیږی . او س مضمر په لغت کښے مشتق دے دَ اضمار نه او اضمار پټولو ته وائی . دا هم پټ دے . یا مضمر مشتق دے دَ ضمور نه او ضمور وائی خوار او لاغر ته یعنی قلیل اللحم ته . نو دیته حکه مضمر وائی چه دا هم قلیل الحروف وی اکثر . او په اصطلاح کښے مَا وُضِعَ لِمُتَكَلِّمٍ او مُخَاطَبٍ اوغَائِبٍ تَقَدَّمَ ذِكْرُهُ لَفْظًا او مَعْنىً او حُكْمًا

دا ضمائر مجموعه اتیا دی . بنځه قسم ضمائر دی هر یو دَ پاره خوارلس خوارلس ذکر کیږی

نو څوارلس چه ضرب شي په پنځو اویا کیږي (۱۴×۵=۷۰)

**سوال :-** دا خو حقیقت کښې (۹۰) ضمائر دي . بیا (۷۰) ضمائر څرنګه شو.

(۹۰) هر یو اتلس دي (۱۸×۵=۹۰) شو . که لږ دینه وړاندې لاړ شي نو یو سل اته ضمائر دي . حٔنګه دا سې جوړیږي (۱۸×۶=۱۰۸) شو . بیا ضمیر مجرور منفصل کلا ختم شو . نو (۹۰) ضمائر پاتې شو . (۶) دَ غائب مذکر او مؤنث دَ پاره (۶) دَ متکلم مذکر او مؤنث دَ پاره (۶) دَ مخاطب مذکر او مؤنث دَ پاره . نو مجموعه اتلس شو نو څرګه څوارلس پاتې شو؟

**جواب :-** دا ضمائر مجموعه شپیته الفاظ لري . او دغه شپیته دال دي په (۹۰) معانیو باندې . بیا بعضې کښې اند راج وشو نو اویا ته ورسیدل . لیکن بعضې تکرار راغلي دي . نو غیر تکرار مجموعه شپیته شو . حٔکه چه هر واحد دَ ضمیر به یا غائب وي یا مخاطب یا متکلم . بیا هر واحد دَ دې یا به مذکر وي یا مؤنث . بیا به یا تثنیه وي یا جمع یا مفرد . مجموعه اتلس کیږي . چونکه بنا دَ ضمائرو په اختصار سره ده نو حٔکه څوارلسو ته راغونډ شو . نو اشتراك دکړې شو په واحد متکلم مذکر مؤنث کښې حٔکه چه متکلم خپل حٔانه خبر دي . او په تثنیه کښې هم اشتراك اوکړې شو دَ متکلم دَ تثنیه او جمع دَ پاره یوه صیغه مقرر کړې شوه . په دې کښې مذکر هم راحٔي او مؤنث هم ، تثنیه هم او جمع هم ، دوه صیغې راغلل او څلور کم شو . نو اتلسو نه چه څلور کم شي (۱۴) باقي پاتې کیږي (۱۸-۴=۱۴) بیا اشتراك اوکړې شو په تثنیه دَ مذکر او مؤنث کښې . غائبین کښې او په مخاطبین کښې . دوه نور ورنه (۱۴) کم کړې شو نو (۱۲) باقي پاتې شو . اوس (۱۲×۵=۶۰) حاصل شو (فتفکر) لیکن صاحب دَ نحو میر (۷۰) ذکر کړي دي . حٔکه تثنیه اشتراك ته نه دی کتلي . ضمیر مرفوع متصل ضَرَبْتُ نه الی ضَرَبْنَ پورې . ضمیر مرفوع منفصل اَنَا نه الی هُنَّ پورې ضمیر منصوب متصل ضَرَبَنِيْ نه اِلیٰ ضَرَبَهُنَّ پورې . منصوب منفصل اِیَّایَ نه اِلی اِیَّاهُنَّ پورې . ضمیر مجرور متصل دَلِيْ نه ماخله الی لَهُنَّ پورې دې .

**سوال :-** ضمیر مرفوع متصل چا ته وائي ؟

**جواب :-** دَ ضمیر معنیٰ خو مخکښې تیره شوه . دَ مرفوع معنیٰ اوچت کړې شوې

ځکه چه مرفوع صیغه دَ اسم مفعول ده ۰ او په اصطلاح کښې هغه ضمیر دے چه یا مبتداء واقع کیږی یا فاعل یا خبر ۰ او متصل دا صیغه دَ اسم فاعل ده دَ باب انتعال نه معنے میلاوید دلګے، او په اصطلاح کښې متصل هغه ضمیر دے چه غیر مستقل وی بنفسه (یعنې یواځے نشی واقع کیدے ۰ نو حاصل دَ جواب دا شو چه ضمیر مرفوع متصل هغه ضمیر دے چه یواځے فاعل واقع کیږی ۰ بل شے نشی واقع کیدے او خپل عامل سره متصل وی او که دے خبر یا مبتداء واقع شی اتصالیت ختمیږی ۰ ځکه چه اتصال خوا مر لفظی دے او په مبتداء او خبر کښې امر معنوی دے ۰ نو عامل معنوی سره اتصال نشی راتلے ۰ نو دَ ضمیر تعریف کښې داخبره راغلے وه چه ضمیر ماوضع لمتکلم او مخاطب او غائب تقدم ذکره لفظاً او معناً او حکماً نو مطلب دا شو چه ضمیر دیته وائی چه دے به چاته راجع وی ۰ خو دا راجع عام دے لفظاً وی او که معناً وی او که حکماً وی دَ درے واړو امثال ذکر کول پکار دی ۰

۱۔ مرجع لفظی :۔ مثال ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامَهُ او س ضَرَبَ فعل ضمیر ته ضرورت نشته ځکه چه اسم ظاهر ورسره ذکر دے چه زید دے هغه فاعل غُلَامَ مضاف ۀ ضمیر مضاف الیه دا مفعول به شو دا ۀ ضمیر راجع دے زید ته ۰

۲۔ مرجع معنوی :۔ مثال لکه اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى او س اِعْدِلُوْا امر دے اَنْتُمْ فاعل دے هُوَ ضمیر راجع دے هغه عدل ته چه معلومیږی دَ اِعْدِلُوْا نه ۰

۳۔ مرجع حکمی :۔ نه لفظاً مقدم وی نه معناً بلکه دَ هغے نه بعد مفرد وی دَ هغے تفسیر کوی ۰ مثال نِعْمَ رَجُلًا او س دلته دا جمله ده دَ دے تفسیر کوی په ضمیر شان سره یا ضمیر قصه سره اِنَّهُ زَيْدٌ قَائِمٌ و اِنَّهَا زَيْنَبُ قَائِمَةٌ نو جمله نه مخکښې که ضمیر مذکر وی هغه ضمیر شان وی ۰ او که ضمیر مؤنث وی هغه ضمیر قصه وی مثال کښې نظر او کړئ ۰

**اوله فائده** :۔ ضمیر مرفوع متصل په دوه قسمه سره دے ۰ یو بارز (۲) مستتر بارز هغه دے چه په هغه باندے تلفظ کیدلے شی ۰ او دیته بارز ځکه وائی چه دَ بارز معنیٰ ده (ظاهر) ځکه چه بارز صیغه دَ اسم فاعل ده معنیٰ ظاهرونکے او دا هم په لفظ کښې ظاهر دے خپل مقصد ظاهر کوی ۰ او مستتر معنیٰ ده پټ په هغے

تلفظ نه کیږی . دا هم پټیدونکے دے د تلفظ . نو حاصل دا شو چه صیغو کښے علامات ظاهر وی . هغے ته ضمیر بارز وائی . او که ظاهر نه وی هغے ته ضمیر مستتر وائی . یعنی پټ ضمیر فاعل ضرور وی ځکه چه د فعل د پاره فاعل ضروری ده . لکه ضَرَبَ کښے (هُوَ) ضَرَبَتْ کښے (هی) او په فعل مضارع کښے په پنځو صیغو کښے ضمیر مستتر دے نور و کښے بارز دے (فتفکر)

**دویمه فائده** ضمائر متصله نهه دی . (۱) تا (۲) نا (۳) وَاوْ (۴) الف (۵) نون (۶) کاف (۷) یاء (۸) هاء (۹) ها

په کومو صیغو کښے چه الف ، وَاوْ ، تا ، نون وی دا به همیشه د پاره مرفوع دی . ځکه چه دا یا فاعل وی یا نائب د فاعل وی . فاعل خو مرفوع وی دا هم مرفوع شو . مثال کتبا ، کتبوا ، کتبن ، کتبت .

او بل نَا او یَا ـ کله مرفوع راځی . لکه کَتَبْنَا ، تَكْتُبِيْنَ . او کله منصوب راځی لکه اَكْرَمَنِيْ ، اَكْرَمَنَا . او کله مجرور راځی . لکه عَنِّيْ ، عَنَّا .

او درے ضمائر چه کاف ، او هاء بلا الف ، او هاء مع الف دی . دا همیشه منصوب راځی . مثال اَكْرَمْتُكَ ، اَكْرَمْتُهُ دغه بلا الف ها دے . لکه اَكْرَمْتُهَا او کله کله مجرور هم راځی خو زیات منصوب راځی مثال د مجرور اِلَيْكَ ، اِلَيْهِ ، اِلَيْهَا

**دریمه فائده** صرفیان د غائب نه شروع کوی . او نحویان د متکلم نه شروع کوی . د دے فائده دا ده چه صرفیا نو غرض تصرف وی . او تصرف په غائب کښے ډیر وی . ځکه هغه مجرد وی د زیات نه . او غرض د نحویانو تعریف او تنکیر دے . نو ځکه اعراف د معارفو نه متکلم دی . نو ځکه نحویان د ضمیر د متکلم نه شروع کوی .

## د ضمیر مرفوع منفصل بحث

ضمیر مرفوع منفصل دیته وائی . هو ما یبتدء به و یقع بعد اِلَّا ضمیر مرفوع منفصل هغه ضمائر دی چه د عامل خپل نه جدا وی . او په ترکیب کښے یا مبتداء واقع کیږی یا خبر او یا پس له اِلَّا استثناء راځی .

مثالونه ئې : اَنَا زَیْدٌ مَاقَامَ اِلَّا اَنَا - اَرَاغِبٌ اَنْتَ حُکه منفصل صیغه دَ اسم فاعل ده دَ باب دَ انفعال نه ، معنیٰ ئې ده جلا کیدو وکے .

## دَضمیر منصوب متصل بحث

منصوب صیغه دَ اسم مفعول ده په معنیٰ دَ نصب ورکړی شوی سره . او په اصطلاح کښې هغه ضمیر دے چه واقع شوے وی مفعول بہٖ یا واقع شوے وی معمول دَ عامل ناصبه دپاره منصوب حُکه وائی چه دے لره نصب ورکړے شوے ده . او دَ متصل خو مخکښې تشریحه اَیْنَا . نو ضمیر منصوب متصل هغه ضمیر دے چه متصل وی دَ خپل عامل سره ، او په ترکیب کښې که فعل سره متصل وی مفعول بہٖ واقع کیږی . مثال ضَرَبَنِیْ ضَرَبَنَا الخ او که حروف مشبه بالفعل سره متصل شی . بیا په ترکیب کښې اسم دَ حروف واقع کیږی . مثال اِنَّكَ

## دَضمیر منصوب منفصل بحث

دا هغه ضمائر دی چه خپل عامل نه جدا وی او مفعول بہٖ واقع وی . مثال اِیَّاكَ نَعْبُدُ

## دَضمیر مجرور متصل بحث

مجرور دصیغه دَ اسم مفعول ده . په لغت کښې ئې معنیٰ ده جرورکړے شوے . او په اصطلاح کښې مجرور هغه ضمائر دی چه متصل وی خپل عامل سره . او په ترکیب کښې معمول دَ عامل جارّ واقع شوی وی . لکه لِیْ ، لَنَا ، لَكَ یعنی یا حرف جر سره متصل شی لکه لِیْ یا مضاف سره متصل شی لکه غُلَامِیْ نو دَ مجرور هم غه دوه قسمه دی یا مجرور په حرف جر سره وی یا په اضافت سره وی . مثال دَ اضافت کِتَابُ اللّٰهِ

## دویم بحث دَضمائر وضوابط

دَضمیر مرفوع متصل ضوابط دا دی چه په ترکیب کښې دوئی یو اخو فاعل واقع کیږی

یا نائب دَ فاعل. بل شی نشی واقع کیدے. او خپل عامل سره منفصل وی. ځکه چه که دے خبر یا مبتداء واقع شی بیا اتصالیت ورته نه ختمیږی. ځکه چه اتصال خو امر لفظی دے. کما مر تفصیله آنفًا فی تحقیقات -

او مبتداء او خبر خو امر معنوی دے نو عامل معنوی سره اتصال نشی راتلے.

دَ متصل مثال: قَتَلْتَ ، اَنْعَمْتَ ، حَسِبْتُمْ ، نَصَرُوْا ، دَفَعْنَا ، اَنْزَلْنَا -

## دَ ضمیر مرفوع منفصل ضوابط

دا دی چه په ترکیب کښے څلور حالت ورباندے راځی. (۱) یا به مبتدا وی (۲) یا به خبر وی (۳) یا فاعل (۴) یا پس له دَ اِلَّا استثناء نه راځی.

مثال - اَنَا زَيْدٌ ، اَرَاغِبٌ اَنْتَ - مَا قَامَ اِلَّا اَنَا ، اُسْكُنْ اَنْتَ

## دَ ضمیر منصوب متصل ضوابط

صرف دوه حالته ورباندے راځی (۱) مفعول به واقع کیږی. مثال ضَرَبَنِيْ ضَرَبَنَا (۲) حالت که حروف مشبه بالفعل سره متصل شی. بیا اسم دَ حروف واقع کیږی په ترکیب کښے مثال اِنَّكَ

## دَ ضمیر منصوب منفصل ضوابط

دا دی چه دوی خپل عامل نه جدا وی. صرف مفعول به واقع کیږی. مثال اِيَّاكَ نَعْبُدُ

## دَ ضمیر مجرور متصل ضوابط

دا دی چه دوی په ترکیب کښے معمول دَ عامل وی. بیا دوه حالته ورباندے راځی یا مجرور وی دوی په حرف جر سره، یا مجرور په اضافت سره. مثال دَ حرف جر لكه لِيْ ، لَنَا الخ مثال دَ اضافت غُلَامُهٗ ، رَسُوْلُهٗ ، ذِلَّتُهٗ الخ حرف جر سره مجرور مضاف سره مضافٌ الیه واقع کیږی -

# دریم بحث ذکر د امثالو

دَ ضمیر مرفوع متصل کړان :- ضَرَبْتُ ، ضَرَبْنَا ، ضَرَبْتَ ، ضَرَبْتُمَا ، ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ، ضَرَبْتُمَا ، ضَرَبْتُنَّ ، ضَرَبَ ، ضَرَبَا ، ضَرَبُوْا ، ضَرَبَتْ ، ضَرَبَتَا ، ضَرَبْنَ
دَ ضمیر مرفوع منفصل کړان :- اَنَا ، نَحْنُ ، اَنْتَ ، اَنْتُمَا ، اَنْتُمْ ، اَنْتِ ، اَنْتُمَا اَنْتُنَّ ، هُوَ ، هُمَا ، هُمْ ، هِيَ ، هُمَا ، هُنَّ ۔
دَ ضمیر منصوب متصل کړان :- ضَرَبَنِيْ ، ضَرَبَنَا ، ضَرَبَكَ ، ضَرَبَكُمَا ، ضَرَبَكُمْ ضَرَبَكِ ، ضَرَبَكُمَا ، ضَرَبَكُنَّ ، ضَرَبَهُ ، ضَرَبَهُمَا ، ضَرَبَهُمْ ، ضَرَبَهَا ، ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُنَّ ۔
دَ ضمیر منصوب منفصل کړان :- اِيَّايَ ، اِيَّانَا ، اِيَّاكَ ، اِيَّاكُمَا ، اِيَّاكُمْ ، اِيَّاكِ اِيَّاكُمَا ، اِيَّاكُنَّ ، اِيَّاهُ ، اِيَّاهُمَا ، اِيَّاهُمْ ، اِيَّاهَا ، اِيَّاهُمَا ، اِيَّاهُنَّ
دَ ضمیر مجرور متصل کړان په حرف جر سره :- لِيْ ، لَنَا ، لَكَ ، لَكُمَا ، لَكُمْ لَكِ ، لَكُمَا ، لَكُنَّ ، لَهُ ، لَهُمَا ، لَهُمْ ، لَهَا ، لَهُمَا ، لَهُنَّ
دَ ضمیر مجرور باضافت کړان :- دَارِيْ ، دَارُنَا ، دَارُكَ ، دَارُكُمَا دَارُكُمْ ، دَارُكِ ، دَارُكُمَا ، دَارُكُنَّ ، دَارُهُ ، دَارُهُمَا ، دَارُهُمْ ، دَارُهَا ، دَارُهُمَا ، دَارُهُنَّ ۔

# ذکر د امثالو متفرقو ضمائرونه

اِيَّاكَ نَعْبُدُ نَحْنُ مُجْتَهِدُوْنَ فِي الدَّرْسِ اِقْرَأْ كِتَابَكَ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَادْخُلِيْ فِيْ عِبَادِيْ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ هٰذَا خَيْرٌ لَكَ هِيَ بَاكِيَةٌ لِيْ اَرْبَعَةُ اَصْدِقَاءَ اَنَا قَائِمٌ اَنْتَ غُلَامُ زَيْدٍ اَنْتُمْ جَاهِلُوْنَ ضَرَبَكَ زَيْدٌ زَيْدٌ ضَرَبَكَ اَنَا يُوْسُفُ نَحْنُ عَالِمُوْنَ ضَرَبُوْهُمْ ضَرَبَهَا عَمْرٌو ضَرَبْتَاهَا هُنَّ جَمِيْلَاتٌ اَنْتِ حَسَنَةٌ ضَرَبْنَاكَ ضَرَبْنَاكُمْ ، هُمْ شَاهِدُوْنَ هِيَ ضَارِبَةٌ هُمَا جَاهِلَانِ ضَرَبَهُمْ بَكْرٌ اَنَا اَخُوْ عَمْرٍو ضَرَبْتُكُنَّ نَصَرْتَنِيْ نَصَرُوْنِيْ نَصَرَتْنِيْ هِنْدٌ

اَنْتَ اِبْنُ زَيْدٍ اَنْتُمْ اَبْنَاءُ بَكْرٍ اَنْتَ عَمُّ بَكْرٍ هُوَخَالِقٌ هُمْ
مَلٰئِكَةُ الرَّحْمٰنِ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ غُلَامُنَا قَائِمٌ هٰذَا عَبْدِیْ
هٰؤُلَاءِ اِخْوَتِیْ هٰذَا اَخِیْ هٰذَا كِتَابُنَا هٰذَانِ سَاحِرَانِ هٰذِهٖ
بِنْتِیْ هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ تَبٰرَكَ الَّذِیْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ قَالَ الَّذِيْنَ
لَا يَرْجُوْنَ لِقَاءَنَا جَاءَ الَّذِیْ ضَرَبَ غُلَامَكَ اِيَّایَ ضَرَبْتَ اِيَّاكُمْ
اُدْعُوْا لَكُمْ جَمَالٌ لَهَا زَوْجٌ لَهُمْ عِلْمٌ لِیْ حُزْنٌ اُولٰئِكَ هُمُ
الْمُفْلِحُوْنَ ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا اَعْلَمُ مَالَا تَعْلَمُوْنَ هٰذَا ذِكْرٌ مُبَارَكٌ اُذْكُرُوْا
نِعْمَتِیَ الَّتِیْ اَنْعَمْتُ لَكُمْ مَا سَاَلْتُمْ اِيَّاكُمَا اَعْطَيْتُ اِيَّاهُنَّ نَكَحْتُ
اِيَّاكَ ضَرَبْتُ قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِیْ تُجَادِلُكَ هٰذَا دِرْهَمٌ هٰذَا كَلْبٌ
اِضْرِبُوْهُنَّ رَبُّنَا اللّٰهُ رَسُوْلُنَا مُحَمَّدٌ قِبْلَتُنَا بَيْتُ اللّٰهِ لَا اَعْبُدُ مَا
تَعْبُدُوْنَ لَكُمْ دِيْنُكُمْ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا مَا نَدِمَ مَنْ سَكَتَ
ضَرَبَ زَيْدًا

## څلورم بحث د مشق

**سوال:-** اِيَّاكَ نَعْبُدُ ، نَحْنُ مُجْتَهِدُوْنَ فِی الدُّرُوْسِ ، اِقْرَءْ كِتَابَكَ ، لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دَدے ضمائر معلوم کړئ په اقسام خمسه کښے

**جواب:-** اِيَّاكَ نَعْبُدُ دا ضمیر منصوب منفصل دے مخاطب دے مفعول بہٖ مقدم شوے دے نَعْبُدُ فعل فاعل پکښے مقدر دے چه تعبیر قرینه کیږی په نَحْنُ سره هغه ئے فاعل تقدم د مفعول حرف لپاره د تخصیص شوے دے. جمله فعلیه شوه
نَحْنُ مُجْتَهِدُوْنَ فِی الْاَرْضِ :- نَحْنُ مبتدا، مُجْتَهِدُوْنَ صیغه د اسم فاعل فِیْ هُمْ درته فاعل فِیْ جار اَلدُّرُوْسِ ورته مجرور. جار مع المجرور تعلق ترمُجْتَهِدُوْنَ پورے. شبه جمله خبر شو. اِقْرَءْ فعل اَنْتَ پکښے مقدر فاعل كِتَابَ مضاف کاف ضمیر منصوب متصل مضاف الیه مجرور محل مضاف مع المضاف الیه مفعول بہٖ. دا كِتَابَكَ ځکه منصوب دے چه سابق کښے ... ته فعل او فاعل موجود دے. دا ورته مفعول شوے دے

دَ مضاف حرکت دَ عامل مطابق وی . او مضافٌ الیه هیشه مجرور دی یا لفظاً یا تقدیراً یا محلاً . مثال دَ مضاف حرکت دَ عوامل مطابق :

۱- ذَهَبَ فعل صَاحِبُ الْكَرِيْمِ صاحب به مرفوع دی ځکه دا فاعل دے او الکریم مضافٌ الیه دے .

۲- قَرَءَ عُثْمَانُ كِتَابَ اللّٰهِ - دلته کتاب مضاف منصوب به وی ځکه چه مفعول به دے . قرء فعل عُثْمَانُ ورته فاعل دے . دغه رنگه سابق کښے هم دے .

۳- مَرَرْتُ بِوَلَدِ الْكَرِيْمِ - دلته ولد مضاف دے خو مجرور دے ځکه حرف جر ورباندے داخل دے .

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ - لَهٗ جار مجرور خبر مقدم شو مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ مُلْكُ مضاف مرفوع دے ځکه مبتداء مؤخر دے . مبتداء مرفوع وی . جار مجرور مقدم تخصیص دَپاره شوید ے دَ الْاَرْضِ ورباندے عطف دے .

فَادْخُلِيْ فِيْ عِبَادِيْ - دا صیغه دَ امر ده چه کښے ضمیر مستتر وی چه اَنْتِ دے ځکه ضمیر مؤنث دے چه راجع دے نفس ته هغه مؤنث ده . فِيْ عِبَادِيْ جار مجرور تعلق ترے راسره پورے شو مفعول به واقع شو .

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ - قُلْ صیغه دَ امر ده . اَنْتَ فاعل دے . هُوَ ضمیر دَ جملے نه مخکښے واقع شوید ے . قانون دا دے که ضمیر دَ جملے نه مخکښے واقع شو . که ضمیر مذکر وو . ضمیر شان به وی . او س اللّٰهُ اَحَدٌ دا مبتداء او خبر دے . نو هُوَ ضمیر شان شو مجموعه بیا مفعول به واقع شو دَ پاره دَ اَنْتَ ضمیر چه مستتر دے په قُلْ کښے .

هٰذَا خَيْرٌ لَّكَ - هٰذَا مبتداء ده خَيْرٌ صیغه دَ اسم تفضیل ده . لام جار کاف ضمیر مجرور محلاً . دلته صیغه دَ اسم تفضیل په واسطه دَ لام سره استعمال شوه .

هِيَ بَاكِيَةٌ - او س هِيَ ضمیر مرفوع منفصل دے . مبتداء واقع کیږی . ضوابط ته نظر اوکری . بَاكِيَةٌ ورته خبر شو . مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه شوه .

لِيْ اَرْبَعَةُ اَصْدِقَاءٍ - دلته معلوم کړی ضمیر لِيْ ضمیر مجرور منفصل یا دَ متکلم دَ پاره خبر مقدم . اربعة عدد مبهم ممیز مضاف اَصْدِقَاءٍ ورته تمیز مضافٌ الیه مبتداء مؤخر

اَنَا قَائِمٌ - اَنَا ضمیر مرفوع منفصل مبتداء قَائِمٌ ورته خبر . دا جمله اسمیه خبریه

اَنْتَ غُلَامُ زَیْدٍ ، اَنْتَ ضمیر مرفوع منفصل مبتداء ، غُلَامُ زَیْدٍ مضاف مع المضاف الیہ ورته خبر شو. دلته غُلَامُ چه مضاف دے او مرفوع دے . او د رفع دَ پاره وجهٔ خبر کیدل دی لپاره دَ اَنْتَ خبر مرفوع وی . د اهم مرفوع شو.

اَنْتُمْ جَاهِلُوْنَ . اَنْتَ ضمیر مرفوع منفصل مبتداء شوه . جَاهِلُوْنَ صیغه دَ اسم فاعل ضمیر پکښے مستتر دے چه هم دے هغه ورته فاعل . شبه جمله خبر شو .

ضَرَبَكَ زَیْدٌ . ضَرَبَ فعل کاف ضمیر منصوب متصل دے هُوَ فاعل دے دا مبتداء شوه . زید ورته خبر شو . جمله فعلیه خبریه شوه .

زَیْدٌ ضَرَبَكَ . زَیْدٌ مبتداء ده . ضَرَبَ فعل دے . ضمیر پکښے هُوَ دے چه راجع دے زید ته هغه فاعل شو . کاف ضمیر منصوب متصل مفعول به دے . جمله اسمیه خبریه شوه

اَنَا یُوْسُفُ . اَنَا ضمیر مرفوع منفصل مبتداء شو . یُوْسُفُ ورته خبر شو .

نَحْنُ عَالِمُوْنَ . نَحْنُ ضمیر مرفوع منفصل مبتداء . عَالِمُوْنَ صیغه دَ اسم فاعل هم ورته فاعل شبه جمله خبر شو.

ضَرَبُوْهُمْ . ضَرَبُوْ فعل وَاوْ ورته فاعل دے چه تعبیر دَ ضمیر هم نه کوی . او دا بل ضمیر منصوب منفصل دے . مفعول به شو.

ضَرَبْنَاكَ ضَرَبْتُكُمْ (سوال) دا کومه صیغه ده (جواب) ضَرَبْنَا جمع متکلم مع الغیر او ضَرَبْتُ متکلم مفرد صیغه ده . او کاف ضمیر مفرد مفعول به دے او کُمْ ضمیر جمع مفعول به دے (سوال) دَ دوی فاعل کوم یو دی (جواب) ضَرَبْنَا کښے نَا فاعل دے ضَرَبْتُ کښے تُ فاعل دے (سوال) دا کوم یو ضمیر دے (جواب) دا ضمیر مرفوع متصل بارز دے (سوال) مرفوع د لے دے (جواب) علامت دَ فاعل دے (سوال) متصل د لے دے (جواب) دَ فعل خپل عامل سره ملاؤ دے (سوال) بارز د لے دے (جواب) ځکه چه په ستر گو سره په نظر کښے راځی (سوال) او کاف کوم ضمیر دے (جواب) ضمیر منصوب متصل دے او کوم ضمیر منصوب منفصل جدا دے اگر که یو ځائے لیکل شوی دے اختصار دَ پاره

هُمْ شَاهِدُوْنَ ، هِيَ ضَارِبَةٌ ، هُمَا جَاهِلَانِ . په دے واړو کښے ضمائر مبتداء کیږی . ما بقیه ورته خبر شو.

ضَرَبَهُمْ بَكْرٌ . ضَرَبَ فعل متعدی دے . دینه بعد چه څومره ضمائر راځی هغه په

ترکیب کښې مفعول به واقع کیږی . نو ضرب اوس فعل شو هغه ورته فاعل دے هُمْ ورته مفعول به دے دا مجموعه جمله مبتداء شو . بَکْرٌ ورته خبر شو .

محترمو طلباء کرامو ! دا کومه لنډه طریقه چه مونږ د بنودله انشاء الله العزیز عنقریب وخت ستاسو مطالعه به جاری شی صرف سوچ اوفکرته کار دا خلئ .

---

الله حروف جاره دی چه هغوئ به اضمار بانـدے داخلیږی . مثال لکه - باء - لام
رُبَّ - مِنْ - فِیْ - عَنْ - عَلیٰ - اِلیٰ - دَ ټولو دَپاره گردان

لَهٗ ، لَهُمَا ، لَهُمْ ـ لَهَا ، لَهُمَا ، لَهُنَّ ـ لَكَ ، لَكُمَا ، لَكُمْ ـ لَكِ ، لَكُمَا ، لَكُنَّ

دامثال دَ لام شو ـ مثال دَ باء

بِهٖ ، بِهِمَا ، بِهِمْ ـ بِهَا ، بِهِمَا ، بِهِنَّ ـ بِكَ ، بِكُمَا ، بِكُمْ ، بِكِ ، بِكُمَا ، بِكُنَّ ـ

مثال دَ فِیْ ـ فِیْهِ ، فِیْهِمَا ، فِیْهِمْ ، فِیْهَا ، فِیْهِمَا ، فِیْهِنَّ ـ فِیْكَ ، فِیْكُمَا ، فِیْكُمْ ، فِیْكِ ، فِیْكُمَا ، فِیْكُنَّ ـ

مثال دَ رُبَّ ـ رُبَّهٗ ـ رُبَّهُمَا ـ رُبَّهُمْ ـ رُبَّهَا ، رُبَّهُمَا ، رُبَّهُنَّ ، رُبَّكَ ـ رُبَّكُمَا ، رُبَّكُمْ ـ رُبَّكِ ، رُبَّكُمَا ، رُبَّكُنَّ ـ

مثال دَمِنْ ـ مِنْهُ ، مِنْهُمَا ، مِنْهُمْ ـ مِنْهَا ، مِنْهُمَا ، مِنْهُنَّ ـ مِنْكَ ـ مِنْكُمَا مِنْكُمْ ، مِنْكِ ، مِنْكُمَا ، مِنْكُنَّ ـ

مثال دَ اِلیٰ ـ اِلَیْهِ ، اِلَیْهِمَا ، اِلَیْهِمْ ـ اِلَیْهَا ، اِلَیْهِمَا ، اِلَیْهِنَّ ، اِلَیْكَ اِلَیْكُمَا ، اِلَیْكُمْ ـ اِلَیْكِ ، اِلَیْكُمَا ، اِلَیْكُنَّ ـ

مثال دَعَنْ ـ عَنْهُ ـ عَنْهُمَا ، عَنْهُمْ ـ عَنْهَا ـ عَنْهُمَا ـ عَنْهُنَّ ، عَنْكَ ، عَنْكُمَا عَنْكُمْ ، عَنْكِ ، عَنْكُمَا ، عَنْكُنَّ ـ

مثال دَعلیٰ ـ عَلَیْهِ ، عَلَیْهِمَا ، عَلَیْهِمْ ، عَلَیْهَا ، عَلَیْهِمَا ، عَلَیْهِنَّ ، عَلَیْكَ ، عَلَیْكُمَا عَلَیْكُمْ ، عَلَیْكِ ، عَلَیْكُمَا ، عَلَیْكُنَّ ـ

ضمیر منصوب متصل ـ دا هغه ضمایر دی چه خپل عامل سره یوځاے راځی . مثال مثال ـ رَفَعَهُ الله ، قَرَّبْنَاهُ ـ

ضمیر منصوب متصل دَ درے اشیاء نه بعد راځی (۱) دَفعل متعدی نه بعد

مثال لکه ضَرَبَهٗ ، ضَرَبَهُمَا ، ضَرَبَهُمْ ، ضَرَبَهَا الخ دَدے امثال قَتَلَهٗ ، قَتَلَهُمَا ، قَتَلَهُمْ نَصَرَهٗ ، نَصَرَهُمَا ، نَصَرَهُمْ الخ

**فائده** داکوم ضمایر چه دَ فعل نه بعد راځی لکه ( ہ ، هُمَا ، هُمْ ، هَا هُمَا ، هُنَّ ، كَ ، كُمَا ، كُمْ ) دا ټول مفعول بهٖ ضمائر دی ۰ او په ترکیب کښې دَ ما قبل فعل دَ پاره مفعول بهٖ واقع کیږی. مثال قَتَلُوْهُ فعل جمع هم وراته فاعل ه مفعول به شو. رَزَقْنٰهُمْ هم دلته هُمْ مفعول بهٖ دے. نَشْكُرُكَ كاف مفعول بهٖ ، نَسْتَغْفِرُكَ كاف مفعول دے . ماضی ، مضارع ، امر ، نهی نه تولو نه بعد راتلے شی. دَ حروفو مشبه بالفعل نه بعد هم راځی. اِنَّهٗ ، اِنَّهُمَا الخ كَاَنَّهٗ دَ اسماء افعالو نه بعد هم راځی. مثال رُوَيْدَهٗ ، رُوَيْدَهُمَا ، رُوَيْدَهُمْ الخ ضمیر موفوع متصل دَ ماضی (۱۲) صیغو کښې راځی. او په دوه صیغو کښې مستتر وی مثلاً ضَرَبَ واحد مذکر ضَرَبَتْ واحده مؤنثه . په ضمیر موفوع متصل دَ مضارع په نهو صیغو کښې بارز راځی (۳) تثنیه په دیکښې الف دے (۲) جمع صیغ شوے دَ مؤنث دَ پاره چه همیشه نون وی (۲) جمع صیغ شوے دَ مذکر دَ پاره. هغے کښې همیشه دَ پاره واؤ ضمیر وی. او یو صیغه دَ مفرد مؤنث مخاطب دے چه هغے کښې همیشه دَ پاره (یاء) وی. مثال تَضْرِبِيْنَ . بعضی امثال قَتَلَ کښې هُوَ فاعل دے. قَتَلَا کښې الف فاعل ضمیر دے. قَالُوْا کښې وَاوْ فاعل ضمیر دے. ظَلَمْتُمْ کښې تُمْ فاعل ضمیر دے قَالَتَا کښې الف فاعل ضمیر دے. ضَرَبْنَ کښې (ن) فاعل ضمیر دے. قَتَلْتَ کښې تَ فاعل ضمیر دے. اَكَلْتُ کښې ( تُ ) فاعل ضمیر دے. عَلِمْتُنَّ کښې (تُنَّ) فاعل ضمیر دے. ضَرَبْنَا کښې (نَا) فاعل ضمیر دے. جَعَلْتُمَا (تُمَا) فاعل ضمیر دے جَعَلْتِ کښې (تِ) فاعل ضمیر دے. جَعَلْتَ کښې ( تَ ) فاعل ضمیر دے.

## پنځم بحث په ترکیب کښې

اِيَّاكَ نَعْبُدُ - اِيَّاكَ ضمیر منصوب منفصل مفعول بهٖ مقدم نَعْبُدُ صیغه دَ فعل ماضی جمع متکلم مع الغیر نَحْنُ پکښې فاعل. فعل مع الفاعل مع المفعول بهٖ مقدم

جمله فعلیه خبریه تقدیم دَ مفعول دَ پاره دَ تخصیص کَمَا مَرَّ

نَحْنُ مُجْتَهِدُوْنَ ۔ نَحْنُ ضمیر مرفوع مبتداء شو۔ مُجْتَهِدُوْنَ صیغه دَاسم فاعل ضمیر پکښې مستتر چه تعبیر ترینه کیږی په هُمْ سره هغه ورته فاعل شو۔ فِيْ جار اَلدَّرْسِ مجرور۔ جار مع المجرور تعلق نیسی تر مُجْتَهِدُوْنَ پورې۔ مُجْتَهِدُوْنَ اسم فاعل مع الفاعل مع المتعلق شبه جمله خبر شو دَ پاره دَ مبتداء۔ مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه شوه۔

اِقْرَءْ ۔ صیغه دَ امر۔ اَنْتَ فاعل ضمیر پکښې مستتر۔ کِتَابَ مضاف کاف مضاف الیه، مضاف مع المضاف الیه مفعول به شو دَ پاره دَ فعل امر چه اِقْرَاْءْ دے۔ فعل امر مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه انشائیه امریه۔

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۔ لَهٗ جار خبر مقدم شو مُلْكُ مضاف السَّمٰوٰتِ مضاف الیه معطوف علیه۔ وَاوْ حرف عطف الْاَرْضِ معطوف، معطوف علیه مع المعطوف مضاف الیه شو دَ پاره دَ مضاف چه مُلْكُ دے۔ مضاف مع المضاف الیه مبتداء موخر شوه۔

فَادْخُلِيْ فِيْ عِبَادِيْ ۔ فَادْخُلِيْ صیغه دَ امر ضمیر پکښې مستتر دے چه تعبیر ورنه کیږی په اَنْتِ سره۔ ځکه اشاره ده نفس ته۔ او نفس مؤنث سماعی ده۔ فِيْ جار عِبَادِ مجرور مضاف یائی متکلم مضاف الیه۔ مضاف مع مضاف الیه مجرور دَ پاره دَ جار۔ جار مع المجرور تعلق نیسی تر فَادْخُلِيْ صیغه دَ امر پورې۔ فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعلیه انشائیه امریه۔

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۔ قُلْ صیغه دَ امر ضمیر پکښې مستتر چه اَنْتَ دے هُوَ ضمیر شان دے اَللّٰهُ مرفوع لفظًا مبتداء۔ اَحَدٌ ورته خبر شو۔ مبتداء مع الخبر مع ضمیر شان په تأویل دَ مفرد سره مفعول به شو دَ پاره دَ فعل امر چه قل دے۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه انشائیه امریه۔ هٰذَا مبتداء ده اسم اشارہ ده خَیْرٌ دَاسم تفضیل ده۔ لَام جار کاف ضمیر مجرور محلًا تعلق تر خَیْرٌ پورې شو خَیْرٌ مع المتعلق خبر شو دَ پاره دَ مبتداء۔

هِيَ بَاكِيَةٌ ۔ هِيَ ضمیر مرفوع منفصل مبتداء۔ بَاكِيَةٌ صیغه دَاسم فاعل ضمیر پکښې

مستتر چه هِيَ دے هغه ورته فاعل شو ۔ اسم فاعل مع الفاعل شبه جمله خبر شو
دَپاره دَ مبتداء ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه ۔
لِيْ جار مجرور خبر مقدم اَرْبَعَةٌ عدد مبهم مميز مضاف اَصْدِقَاءِ تميز مضاف اليه
مضاف مع المضاف اليه مبتداء مؤخر ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه ۔
اَنَا قَائِمٌ ۔ اَنَا ضمير مرفوع منفصل مبتداء قَائِمٌ صيغه دَ اسم فاعل ضمير پکښے
مستتر چه تعبير ترينه کيږي په هُوَ سره هغه ورته فاعل ۔ اسم فاعل مع الفاعل
شبه جمله خبر شو دَپاره دَ مبتداء ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه ۔
اَنْتَ غُلَامُ زَيْدٍ ۔ اَنْتَ ضمير مرفوع منفصل مبتداء ۔ غُلَامُ مرفوع لفظاً مضاف
زَيْدٍ مضاف اليه ۔ مضاف مع المضاف اليه خبر شو دَپاره دَ مبتداء ، مبتداء مع
الخبر جمله اسميه خبريه ۔
اَنْتُمْ جَاهِلُوْنَ ۔ نَحْنُ عَالِمُوْنَ ۔ هُمْ شَاهِدُوْنَ ۔ هُنَّ جَمِيْلَاتٌ ۔ دَدے
دَدے څلورو واړو يو ترکيب دے ۔ چه ضمير به مبتداء شي ۔ مابعد به شبه جمله
ورته خبر شي ۔
اَنْتِ حَسَنَةٌ ۔ هِيَ ضَارِبَةٌ ۔ هُمَا جَاهِلَانِ ۔ هُوَ خَالِقٌ ۔ دَدے ترکيب دَ
اَنَا قَائِمٌ ، هِيَ بَاكِيَةٌ غوندے دے ۔
اَنَا اَخُوْ عَمْرٍو ۔ اَنْتَ اِبْنُ زَيْدٍ ۔ اَنْتُمْ اَبْنَاءُ بَكْرٍ ۔ اَنْتَ عَمُّ بَكْرٍ ۔ هِيَ
مَلٰئِكَةُ الرَّحْمٰنِ ۔ دَدے ترکيب اَنْتَ غُلَامُ زَيْدٍ غوندے دے ۔
ضَرَبُوْهُمْ ۔ ضَرَبُوْا فعل وَاوُ فاعل هُمْ ورته مفعول به ۔ فعل مع الفاعل مع
المفعول به جمله فعليه خبريه ۔
ضَرَبَهَا عَمْرٌو ۔ ضَرَبَ فعل هَا ضمير منصوب متصل مفعول به ۔ دَ فعل متعدي نه بعد
راغلے ده ۔ عَمْرٌو ورته فاعل ۔ مفعول به مرتبه مؤخر ده ۔ اګرکه ظاهراً مقدم دے ۔
ضَرَبَتْهَا ۔ دا فعل تثنيه الف ضمير مرفوع متصل فاعل هَا ضمير منصوب منفصل
مفعول به ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعليه خبريه ۔
ضَرَبَكَ زَيْدٌ ۔ زَيْدٌ ضَرَبَكَ ۔ ضَرَبَ فعل كاف ضمير منصوب متصل مفعول به
مقدم زَيْدٌ ورته فاعل جمله فعليه خبريه ثاني جمله اسميه ده ۔

زَیْدٌ مبتداء ضَرَبَ فعل هُوَ فاعل چه راجع دے زید ته. کاف ضمیر منصوب متصل مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله خبر شو دپاره دَمبتداء جمله اسمیه شوه.

ضَرَبْنَاكَ - ضَرَبْتُكُمْ - ضَرَبَ فعل نَا فاعل كَ ضمیر منصوب متصل مفعول به. فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه ثانی جمله اسمیه ضَرَبَ فعل تُ فاعل كُمْ ضمیر منصوب متصل مفعول به جمله فعلیه خبریه

ضَرَبَهُمْ بَكْرٌ - ضَرَبَ فعل هم ضمیر منصوب متصل مفعول به بَكْرٌ فاعل شو جمله فعلیه خبریه.

ضَرَبْتُكُنَّ - ضَرَبْتُ فعل فاعل كُنَّ ضمیر منصوب متصل مفعول به جمله فعلیه خبریه شوه.

نَصَرْتَنِیْ - نَصَرْتَ فعل فاعل نون وقایه یا مفعول به. فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه - نَصَرُوْنِیْ جمع شو ترکیب یو دے۔

نَصَرَتْنِیْ هِنْدٌ - فعل جیء ضمیر مقدر نون وقایه یاء مفعول به هِنْدٌ فاعل هغه ضمیر راجع دے هِنْدٌ مرتبًا دا مقدم دے اگرکه د لته مؤخر دے جمله فعلیه خبریه شوه

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ - اِهْدِ فعل ضمیر پکښے مستترچه اَنْتَ دے نَا ضمیر منصوب متصل مفعول به اول شو. صِرَاطَ مضاف اَلْمُسْتَقِیْمَ مضاف الیه مفعول ثانی شو. جمله فعلیه انشائیه امریه.

غُلَامُنَا مضاف مضاف الیه مبتداء قَائِمٌ صیغه دَ اسم فاعل هُوَ ورته فاعل شبه جمله ورته خبر شو.

هٰذَا عَبْدِیْ - هٰذَا مبتداء عَبْدِیْ مضاف مضاف الیه ورته خبر شو.

هٰؤُلَاءِ - اسم اشاره مبتداء اِخْوَتِیْ مضاف اومضاف الیه ورته خبر شو جمله اسمیه خبریه -

هٰذَا اَخِیْ - هٰذَا كِتَابُنَا - هٰذَانِ سَاحِرَانِ - هٰذِهٖ بِنْتِیْ - داول هٰذَا مبتداء اودا نور ورته خبر شو.

هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ - هُوَ مبتداء اَلَّذِیْ موصول خَلَقَ فعل هُوَ ورته فاعل دے

چه راجع دے الله تعالیٰ ته کٔه ضمیر منصوب متصل مفعول به صله شوهٔ دَ پاره دَ موصول. موصول مع صله خبر شو دَ پاره دَ مبتداء. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه تَبٰرَکَ الَّذِیْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ نه داخله إلیٰ ضَرَبَ زَیْدٌ پورے ترکیب مساوی په غاړه شو. ځکه چه شرح طویل کیږی. شرح اختصار پکار ده.

دوم اسماء اشارات ذَا و ذَانِ و ذَیْنِ و تَا و تِیْ و تِهٖ و ذِهِیْ و تِهِیْ و تَانِ و تَیْنِ و أُولَآءِ بمد و أُولیٰ بالقصر

ترجمه: دویم قسم دَ اسماء غیر متمکن نه هغه اسماء اشارات دی. او اسماء اشارات (۱۳) الفاظ دی. لیکن څلور الفاظ دَ پاره دَ مذکر راځی. مثال (ذَا) دا یو سړے (ذَانِ) دا دوه سړی په حالت دَ رفعی کښے (ذَیْنِ) دا دوه سړی په یاسره په حالت نصبی او جری کښے. او جمع دَ پاره أُولَآءِ دا ټول سړی.

او دَ نهو دَ پاره (۹) الفاظ راځی. مثال تَا - و تِیْ - و تِهٖ - و ذِهٖ - و ذِهِیْ - و تِهِیْ دا ښځه داره دَ مفرد مؤنث دَ پاره راځی. و تَانِ - و تَیْنِ - و أُولیٰ دَ مؤنث دَ پاره راځی. تَانِ په الف سره په حالت رفعی کښے. تَیْنِ په یا سره په حالت نصبی جری کښے. أُولیٰ قصر أُولَآءِ په مد سره راځی.

## تشریحات

په دے مقام کښے لا بدی ده دَ معرفت دَ امور خمسه څٔ نه (۱) بیان دَ تحقیقات (۲) بیان دَ ضوابط (۳) بیان دَ امثالو (۴) بیان دَ مشق (۵) بیان دَ ترکیب

## اول بحث بیان دَ تحقیقات

---

دلته څلور خبرے معرفت ضروری دے (۱) معنیٰ لغوی او معنیٰ اصطلاحی دَ اسماء اشارات (۲) شرائط دَ اسماء اشارات (۳) اقسام دَ اسماء اشارات

(۳) فوائد دَ آسماء اشارات۔

آسماء جمع دَ اسم ده ۰ دَ اسم تعریف مخکے تیر شو یئے۔ اشارات جمع دَ اشارۃٌ ده ۰ اشاره په لغت کښے اشارهٌ کولو ته وائی ۰ او په اصطلاح کښے هر هغه اسم ته وائی چه هغه لره واضع دَ یو معین محسوس او کالمحسوس شی طرف اشارے کولو دَ پاره وضع کړے وی۔

دویم شرایط دَ آسماء اِشارات ۔ خلور شرائط دی (۱) مشیر (۲) مشار الیه (۳) اسم اشاره (۴) مخاطب ۔ مشیرٌ اشاره کوونکی ته وائی ۔ مشارٌ الیه چا ته چه اشاره کیدے شی ۔ اسمٌ اشاره کوم اسم سره چه اشاره اوکړے شی ۔ مخاطبٌ چا ته چه اشاره اوکړے شی۔

مثال ۔ نن مادَ خوئ ساوح الله نه قلم یا کتاب ورله شو ۔ او خابل خوی رضوان الله یا شاه عطاء الله په کتاب یا په قلم نظر پریوتلو ۔ او س چل مشر ورو ته دَ کتاب یا دَ قلم طرف ته اشاره کوی ۔ هٰذا الکتاب یا هٰذا القلم اوس رضوان الله یا شاه عطاء الله مشیر دے او هغه کتاب یا قلم ورته مشار الیه دے او هٰذا لفظ اسم اشاره ده او ساوح الله ورته مخاطب دے۔

## دریم بحث اقسام دَ اسماء اشارات

آسماء اشارات په درے قسمه دی (۱) قریب مثال ذا ۔ ذان ۔ ذین الخ (۲) متوسط مثال ذالک (۳) بعید مثال ذالك ۔

متوسط کښے صرف کاف خطاب راځی ۔ او بعید کښے لامّ او کافّ دواړه راځی ۔ اوبل وجه قلّة الالفاظ تدل علیٰ قلّة المعانی وکثرة الالفاظ تدلّ علیٰ کثرة المعانی ۔

او اوسط پخپله معلومه شوه ۰ اوس (ذا) کښے الفاظ کم دی او قوت هم پکښے کم دے نو اشارہ قریب ته وشوه ۰ او په (ذَاكَ) کښے الفاظ زیات دی قوت هم زیات شو متوسط ته اشاره کیږی ۰ او په (ذَٰلِكَ) کښے الفاظ کثیر دی اشاره بعید ته وشوه مثال دَ بعید قرآن پاك کښے راځی (ذَٰلِكَ الْكِتَابُ) اوس اعتراض راځی چه قرآن پاك خو قریب دے ۰ بیا څنګه ذَالِكَ سره ورته اشاره اوکړے شو (جواب) اشاره دے

توت ته او مرتبے ته چه مرتبتاً قرآن بعید دے ۔ دَ خالق لایزال د کلام نه راغلے
دَ لوح محفوظ نه راغلے دے ۔ نو دَلته مراد بعد رتبی شو نه حسی۔
(سوال) اوس خُلوص داره شرایط پوره کړه. (جواب) الله پاك مشیر دے ذٰلِكَ
اسم اشاره ده ۔ قرآن پاك مشارٌ الیه دے ۔ حضور پاك صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مخاطب دے

**خُلوص مرد فوائد**

کله دَ اسم اشارے په شروع کښے هاٴ راځی د تنبیه دَپاره
یعنے دَ عاقل مخاطب دَ خبر داری دَپاره دَ اسم اشارے په
آخر کښے کاف حرفیه خطابیه راوړلے شی دَپاره دَ دلالت کولو په حالت دَ مخاطب
باندے ۔ او کاف حرفیه ټول شپږ دی دَ مصداق په لحاظ سره او پنځه دی دَ صورت په لحاظ
سره ۔ مثال ؛ كَ ، كُمَا ، كُمْ ، كِ ، كُمَا ، كُنَّ ۔ دَ كُمَا دواړه صورت یو شان ته دے

**سوال :** دَ مصداق په لحاظ شپږ ولی دی ؟

**جواب :** مشار الیه به خالی نه وی یا به مذکر وی یا به مؤنث ۔ که مذکر وی یا به مفرد
وی یا به تثنیه یا به جمع، که مؤنث وی دا به هم یا به مفرد وی یا به تثنیه یا به جمع نو
مجموعه شپږ شو ۔ د صورت په لحاظ دَ مخاطب مثال هغه سابق کښے دے ۔ او بل دَ
تثنیه او جمع او دَ مفرد په لحاظ سره دادی ؛ ذا - ذان - تا - تان - اولآء - اُولی په
مد اقصر سره مذکر او مؤنث دواړو کښے راځی ۔ دا پنځه شو ۔

**سوال :-** اسماء اشارات خو مبنی دی ۔ آیا دا مبنی اصل دی او که مبنی بالمناسبت
دی ؟

**جواب :-** دا مبنی بالمناسبت دی ۔

**سوال :-** مبنی خو دیته وائی چه محتاج وی نو آسماء اشارات چاته محتاج دی؟

**جواب :-** آسماء اشارات محتاج دی مشارٌ الیه ته ۔

**سوال :-** مبنی خو دیته وائی چه هغه په حالت رفعی ، نصبی او جری کښے نه مختلف
کیږی نو اسماء اشارات خو مختلف شو په حالت رفعی ، نصبی او جری کښے لکه
مثال ذانِ په حالت رفعی کښے ۔ او ذَیْنِ په حالت نصبی او جری کښے ۔ تَانِ او تَیْنِ
دې باندے قیاس دے ۔

**جواب :-** مبنی کښے چه اختلاف نه راځی هغه دَ عوامل دَ وجه نه او دلته خو دا

اختلاف چه داغلے دے دَعامل دَوجه نه نه دے بلکه دا اختلاف دَ واضع دَ وجه نه راغلے دے۔ یاد اوایو چه: ذَانِ او ذَیْنِ او تَانِ او تَیْنِ معرب دے

**سوال:**- هرکله چه دا معرب شو بیا په بیان دَ اسم مبنی کښے څرنګه ذکر کړه شوه حکه چه اسماء غیر متمکن خو مبنی وی۔

**جواب:**- اګر که دا معرب دے لیکن هرکله چه باقی اسماء اشارات بیان ذکر کړل نو دَ دوی بیان نے هم ورسره ذکر کړو بالتبع۔

هرکله چه هَا په اول دَ ذَا کښے راشی نو هٰذَا شی۔ او که دَ اولآءِ په سر کښے راشی بیا هٰؤُلآءِ شی۔ کله چه دَ ذَا په آخره کښے کاف خطاب راشی نو ذَاكَ جوړ شی او کله که لام او کاف دواړه راشی بیا ذَالِكَ۔ او په تِیْ کښے هَا راشی بیا تِهْ شی۔ او که کاف خطاب راشی بیا لام ورسره هم راځی۔ مثال تِلْكَ الرَّسُوْلُ او یاله دوجه دَ التقاء ساکنین نه فتحه یا حذف شی بیا لام او کاف راغے تِلْكَ شو۔ او ما بقیه مثال کښے سوچ اوکړئ چه تثنیه کښے لام نه راځی۔

تَا اصل دے حکه چه تثنیه دَدے تَانِ راځی۔ او تِیْ او تِهْ او ذِهْ او ذِهِیْ و تِهِیْ په اصل کښے تَا وو۔ الف بدل شو یا سره ماقبل آخر مکسور شو۔ تِیْ شو او ما بقیه کښے الف هَا سره بدل شو او یا ورباندے زیات کړے شو نظر وکړئ دَ نحومیر متن ته هٰذِهٖ مؤنث دَپاره راځی۔ وهَا، تِیْ وهَا، تا هم مؤنث مفرد لپاره راځی۔ تثنیه مذکر دَپاره هٰذَانِ، هٰذَیْنِ جرًا نصبًا تثنیه مؤنث دپاره هَاتَانِ، هَاتَیْنِ، ذَاكُمْ چه مشارٌ الیه یو وی مخاطبین ډیر وی دومره خبره ده چه کاف حرفیه خطابیه تثنیه او جمع کیږی۔ او هَا تنبیه نه تثنیه او نه جمع کیږی۔ لیکن کاف تثنیه جمع کیږی دَحال دَ مخاطب سره او اسم اشاره چه تثنیه او جمع کیږی دَ مشارٌ الیه موافق سره مثال مشار الیه کثیر مخاطب یو او ذٰلِكَ مثال مخاطبین ډیر مشار الیه یو ذَاكُم

## دویم بیان دَضوابطو

**ضابطه۔** دا اسم اشاره هم واحد، هم تثنیه، هم جمع، هم مذکر او هم مؤنث راځی

شی کا مثر بیانہا ۔

اوس کاف حرفیه اوخطابیه هم واحد او تثنیه اوهم جمع اوهم مذکر اوهم مؤنث ںا دںلے شی ۔ اوس ضابطه داده چه اسم اشاره به د مشار الیه مطابق ذکر کیږي یعنې کچیرې مشارٌالیہ واحد او تثنیه اوجمع اومذکر او مؤنث وی نو اسم اشاره به هم واحد او تثنیه اوجمع اومذکر او مؤنث وی ۔

مثال د مخاطب مطابق ۔ یعنې کچیرې مخاطب مذکر وی یا مؤنث وی نو کاف حرفیه خطابیه به هم مذکر اوهم مؤنث وی ۔ اوکچیرې مخاطب واحد وی کاف حرفیه خطابیه به هم واحد وی ۔ کچیرې مخاطب تثنیه وی اوکاف حرفیه خطابیه به هم تثنیه وی که مخاطب جمع وو کاف حرفیه خطابیه به هم جمع وی ۔ مثال ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ قرآن مفرد مذکر وو ۔ ذٰلِكَ هم مفرد مذکر ذکر شو ۔ اوکاف حرفیه خطابیه هم مفرد دے ۔ ځکه جناب نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ ذات گرامی ته اشاره ده ۔ هغه مفرد دے ۔ نو ذٰلِكَ کښے کاف مفرد راغے ۔

مثال د جمع ۔ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۔ مشیر الله پاك دے ۔ مشار الیہ متقین مؤمنان دی ۔ هغه موصوف دی په اوصافو خمسه و باندے نو ځکه اُولٰٓئِكَ جمع ذکر شو چه مشار الیہ جمع دے

**سوال** :- بیا خو کاف خطابیه حرفیه هم جمع پکار ؤو اوحال دا دے چه مفرد دے

**جواب** :- ځکه چه مخاطب مفرد مذکر دے چه حضور پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ دے وَنُوْدُوْا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۔ اوس خبره صرف اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ مشیر الله پاك دے ۔ مشار الیہ جنت دے هغه مفرد مؤنث ده ځکه تلك راغلے دے او تِلْكَ مؤنث د پاره راځی ۔ مثال ۔ تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ ۔

**ضابطه** :- اسم اشاره په ترکیب کښے موصوف کیږی اومشار الیہ ورته صفت کیږي

مثال ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ

**ضابطه** :- کله اسم اشاره مبتداء کیږی اومشار الیه ورته خبر شی ۔ مثال ۔ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۔

**ضابطه** ۱- که اسم اشاره نه بعد نکره وی نو اسم اشاره به مبتدا وی ما بعد به خبر وی. مثال هٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ -

**ضابطه** ۱- که چرے مابعد دَ اسم اشاره نه عَلَم وی بیا مبتداء کیږی مابعد به ورته خبر شی. مثال هٰذَا زَيْدٌ -

**ضابطه** :که مابعد دَ اسم اشاره نه مضاف وی بیا مبتداء کیږی مابعد به ورته خبر شی. مثال هٰذَا غُلَامُ زَيْدٍ

**ضابطه** ۱- که چرے مابعد دَ اسم اشاره معرف باللام ځلو ترکیب راځی : (۱) (موصوف صفت) کا مرّ انفا. ذٰلِكَ الْكِتٰبُ دا دیرے نسبتاً نور ونه (۲) عطف بیان (۳) مبدل منه او بدل (۴) مبتداء او خبر خو دا دے داره قلیل الاستعمال دی

**ضابطه** :- کچرے مابعد دَ اسم اشاره نه موصول وی. د یکښے هم ځلور ترکیبه راځی (۱) صفت موصوف (۲) عطف بیان (۳) مبدل منه او بدل (۴) مبتداء او خبر دا دے داره قلیل الاستعمال دی. مثال اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا - تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِىْ

## دريم بيان دَ امثالو

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّىْ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ واحد
هٰذَا اَخٌ هٰذِهٖ اُخْتٌ ذٰلِكَ مُسَافِرٌ تِلْكَ بِنْتُكَ تِلْكَ غَرِيْبَةٌ تثنيه
هٰذَانِ اَخَوَانِ هَاتَانِ اُخْتَانِ ذٰنِكَ مُسَافِرَانِ تَانِكَ غَرِيْبَتَانِ
جمع - هٰؤُلَاءِ اَعْوَانُ يَعْقُوْبَ اُولٰٓئِكَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ -
مَا دَ اَيْتُهٗ بِعَيْنَىَّ هَاتَيْنِ مثل مُحَمَّدٍ هٰذَا مَطْبَخٌ وَهٰذِهٖ اَدَدَاتُهٗ
كَذٰلِكَ الْعَذَابُ اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ
هٰؤُلَاءِ كَفَرَةٌ فَجَرَةٌ ذٰلِكُنَّ الَّذِىْ لُمْتُنَّنِىْ فِيْهِ تِلْكَ الْمَرْئَةُ الصَّالِحَةُ
ذَانِكُمْ علمان خَبَّازَانِ تِلْكَ كُوْسٌ هَاتَانِ شَجَرَتَانِ مُثْمِرَتَانِ اُولٰٓئِكَ
الْاَسَاتِذَةُ عطوفون هٰذِهٖ سَبِيْلِىْ ذٰلِكَ بِذٰلِكَ لَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ
هٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ تِلْكَ الرُّسُلُ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِىْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ

هٰذَا عَمْرٌو هٰذَا نَبِيٌّ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ هٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ اَنْزَلْنٰهُ هٰذَا كِتَابٌ اَنْزَلْنٰهُ فَهٰذِهٖ فَوَائِدُ وَافِيَةٌ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ هٰذَا الْقَلَمُ نَفِيْسٌ هٰذَا الْبَيْتُ قَدِيْمٌ هٰٓؤُلَآءِ اِخْوَانُ سَعِيْدٍ هٰذِهِ الْمَرْاَةُ صَالِحَةٌ هَاتَانِ الْبِنْتَانِ اُخْتَانِ . اُولٰٓئِكَ طُلَّابُ الْمَدْرَسَةِ

## څلورم بحث بيان دمشق

۱- ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ - دَ دے اسم اشارة شرائط څه دي ؟ (۲) دَ اسماء اشارا تو كوم قسم نه دے (۳) او فائده پكښې څه ده (۴) او ضابطه پكښې څه ده - څلور سواله شو .

۱- جواب :- شرايط پكښې څلور دي (۱) ذٰلِكَ اسم اشارة ده (۲) مشير خدائے پاك دے (۳) مخاطب حضور پاك صَلَّى اللّٰهُ عليه وَسَلَّمْ ده (۴) مشارُاليهِ قرآن پاك ده

۲- جواب :- ذٰلِكَ دَ بعيد نه دے . اشاره ده بُعد دَ مرتبے ته نه بعد حسي ته ځكه چه مينځكښې لام مكسور دے .

۳- جواب :- فائده پكښې دا ده چه آخره كښې حرف خطاب كاف دے . اشاره ده حضور پاك صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ رسالت ته چه دا قرآن پاك چه په تا نازل شويدے دا عظيم كتاب دے .

۴- جواب :- ضابطه دا ده چه اسم اشارة بعد معرف بالام مشارُ اليهِ را شي بيا صفت موصوف كيږي نو دا مقصد شو . ذٰلك موصوف كتاب ورته صفت موصوف مع صفت مبتدا ، لَا رَيْبَ فِيْهِ ورته خبر شو مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ - سابق سوالات دلته هم موجود دي (۱) مشير دلته الله پاك (۲) مخاطب حضرت سليمان عليه السّلام (۳) مشار اليه هغه طاقت دَ بلقيس تخت ماضول شو (۴) هذا اسم اشارة - (دويم جواب) دَ قريب دَ اسماء اشارا تو نه دے (دريم جواب) حرف تنبيه پكښې موجود دے چه ها ده (څلورم جواب) هٰذَا نه بعد حرف مِنْ را غلے ده دا هٰذَا مبتدا كيږي . ما بعد ورته خبر شو .

تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ ۔ تِلْكَ بِيتِلْكَ مَا رَأَيْتُهُ بِعَيْنَيَّ ، هَا تَيْنِ مِثْلُ مُحَمَّدٍ

هٰذَا مَطْبَخٌ ، وَهٰذِهٖ اَدْوَاتُهٗ ، كَذٰلِكَ الْعَذَابُ

په دغه مجموعه کښے تِلْكَ مؤنث دے ۔ مبتداء ما بعد ورته خبر دے ځکه چه مضاف واقع شوے دے ۔ اشاره ده احکاموته دَ بنځے اوخاوند مینځ کښے (فائده) آخره کښے کاف حرف خطاب دے ۔ تِلْكَ بِيتِلْكَ د اهم مبتداء اوخبر دے ۔ تِلْكَ مؤنث دے ۔ اشاره ده سبقت ته ۔ ضابطه کښے ما بعد جار او مجرور راغلے دے خبرواقع کیږی اوبل مَا رَأَيْتُهُ کښے هَا تَيْنِ کښے مقصد دے ۔ تثنیه دے مؤنث دے عَيْنَيَّ د اصفت موصوف (هٰذَا مَطْبَخٌ) اسم اشاره قریب ده ۔ مشیر استاذ مخاطب ۔ شاګرد مشارٌ الیه مقام اسم اشاره لفظ دَهٰذا شو ۔

**ضابطه** :- هٰذا مبتداء ده ځکه چه ما بعد اسم عَلَمْ ده (فائده) حرف تنبیه اول دَذا باندے داخل دے ۔

وهٰذِهٖ اَدْوَاتُهٗ ۔ هٰذِهٖ مؤنث مبتداء ۔ اَدْوَاتُهٗ مضاف مضافٌ الیه ورته خبر مشیر داکتر مشار الیه دوائی ، هٰذِهٖ اسم اشاره مخاطب مریض ۔

كَذٰلِكَ ۔ کاف تشبیه ذٰلِكَ اسم اشاره بعید مبتدا ما بعد معرف باللام خبر شو مشیر الله پاك مشارٌ الیه عذاب مخاطب حضور پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شو ذٰلِكَ اسم اشاره ۔

**سوال** :- اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ، داڅه واقع شوی دے ؟

**جواب** :- دا صیغه دَجمع ده ځکه چه مشارٌ الیه جمع ده چه جنتیان دی ۔ مشیر الله پاك ، مخاطب حضور پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مشارٌ الیه جنتیان اُولٰٓئِكَ اسم اشاره قریب ته اشاره ثانی اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى الخ داورباندے قیاس دے ۔ مشیر الله پاك دے مشار الیه مُتَّقِيْنَ دی ۔ چه صفه موصوف دی په اوصاوخمسه ؤ سره ۔ مخاطب حضور پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دے ۔ اسم اشاره اُولٰٓئِكَ ده

**سوال** :- اسم اشاره جمع ولے ذکر شوه ؟

**جواب** :- مشارٌ الیه جمع ده چه متقیان دی ۔

**سوال** :- کاف حرف خطابیه ولے مفرد ذکر شو ۔

**جواب** :- مخاطب مفرد دہ چہ حضور پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمُ دہ

ذٰلِكُنَّ الَّذِيْ لُمْتُنَّنِيْ فِيْهِ ( ادس سوال ) مشیر څوك دے ؟

**جواب** :- مشیر ته لیخابی بی، مخاطبین دَ مصر ښانه. ځکه (ذَالِ) مفرد ذکر کړه. لام بعید دَ پاره اشاره شوه. له وجه دَ نهایت حُسن دَ حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَام نه. او کُنَّ چه جمع ذکر شو ځکه چه مخاطبین جمع مؤنث وُو. اسم اشاره خو ذَالِ شو دَدے نور وما بقیه امثالو مشق په تاسو دے.

اے ښاماً دَ عزت ملګرو طالبانو او دَ حفظ اساتذه کرامو ځکه چه کتاب ډیر طویل کیږی.

## پنځم بیان دَ ترکیب

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ - ذٰلِكَ اسم اشاره موصوف اَلْكِتٰبُ معرف باللَّام صفت، موصوف مع صفت مبتداء، لَا نفی دَ جنس رَيْبَ اسم دَ لَا او فیه جار مجرور مع المتعلق خبر دَ لَا شو. لا سره دَ اسم او خبر نه دا خبر شو دَ پاره دَ مبتدا. مبتدأ مع الخبر جمله اسمیه خبریه

هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ. هٰذَا اسم اشاره قریب مبتداء مِنْ جار فَضْلِ مجرور مضاف رَبِّيْ مضاف الیه مضاف یائی متکلم مضاف الیه مضاف مع المضاف الیه مضاف الیه شو دَ پاره دَ مضاف چه فَضْلِ ده. فَضْلِ مضاف مع المضاف الیه مجرور شو دَ پاره دَ جار. جار مع المجرور تعلق نیسی تر ثابت مقدر پورے. ثابتُ صیغه دَ اسم فاعل مع الفاعل مع المتعلق خبر شو دَ پاره دَ مبتداء، مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه -

تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ - تِلْكَ مبتداء حُدُوْدُ مضاف اَللهِ مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه خبر شو دَ پاره دَ مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه.

تِلْكَ مبتداء بِتِلْكَ جار مع المجرور محلاً ثابتًا مقدره پورے تعلق نیسی. ثابت صیغه دَ اسم فاعل مع الفاعل مع المتعلق خبر شو دَ پاره دَ مبتداء. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه

مَا رَأَيْتُهُ بِعَيْنَيَّ هَاتَيْنِ مِثْلُ مُحَمَّدٍ

هٰذَا مُطْبَخٌ ۔ هٰذَا مبتدا مُطْبَخٌ ورته خبر شو. مبتدأ مع الخبر جمله اسميه خبريه
هٰذِهٖ اَدْوَاتُهٗ ۔ هٰذِهٖ اسم اشاره مبتداء اَدْوَاتُهٗ مضاف مضافٌ اليه ورته خبر شو
مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه .
كَذٰلِكَ اسم اشاره مبتداء اَلْعَذَابُ معرف باللام ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر
جمله اسميه خبريه .
اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ۔ اُولٰٓئِكَ اسم اشاره جمع كاف حرف خطاب مبتداء اول
هُمْ مبتداء ثاني خَيْرُ الْبَرِيَّةِ، خَيْرُ مضاف اَلْبَرِيَّةِ مضافٌ اليه. مضاف مع المضاف اليه
خبر شو د پاره د مبتداء چه هُمْ دے . مبتداء مع الخبر خبر شو د پاره د اُولٰٓئِكَ مبتدأ
مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه .
اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۔ اُولٰٓئِكَ مبتداء على جار هُدًى مجرور تعلق ثرثابتٌ
مقدر پورے. مِنْ رَّبِّهِمْ داهم متعلق شو تراوله. تعلق پورے دا بيا مجموعه خبر شو
د پاره د مبتداء .
هَاتَانِ شَجَرَتَانِ مُثْمِرَتَانِ ۔ هَاتَانِ اسم اشاره مبتداء شَجَرَتَانِ موصوف مُثْمِرَتَانِ
دو تمصفت . موصوف مع صفت خبر شو د پلره د مبتداء . مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه
هٰٓؤُلَآءِ اسم اشاره كَفَرَةٌ فَجَرَةٌ صفت موصوف ورته خبر شو .
ذٰلِكُنَّ ۔ ذالِ اسم اشاره مفرد مذكر مبتداء كُنَّ مشارٌ اليه جمع مونث موصوف
الَّذِىْ موصول. لُمْتُنَّنِىْ فِيْهِ داجمله صله شوه د پاره د موصول چه الَّذِىْ دے الَّذِىْ
موصول مع صله صفت شو د پاره د موصوف چه كُنَّ ده . موصوف مع صفت خبر شو
د پاره د مبتداء چه ذالِ اسم اشاره مفرد مذكر بعيد دے . جمله اسميه خبريه ۔
تِلْكَ الْمَرْئَةُ الصَّالِحَةُ ۔ تِلْكَ اسم اشاره مونث مفرد مبتداء اَلْمَرْئَةُ معرف باللام
موصوف اَلصَّالِحَةُ ورته صفت . موصوف مع صفت خبر شو د پاره د مبتداء .
ذٰلِكُمْ عُلَمَاءٌ جَيِّدَانِ ۔ ذٰلِكُمْ اسم اشاره مبتداء عُلَمَانِ موصوف جَيِّدَانِ
صفت . موصوف مع صفت خبر شو د پاره د مبتداء . مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه

تِلْكَ كُوْ سٌ ۔ تِلْكَ مبتداء کُوْ سٌ ورته خبر شو۔ اُولٰٓئِكَ اسم مبتداء الاساتذه مَعْطُوْفُوْنَ معرف باللام موصوف عطوفون ورته صفت موصوف مع صفت خبر دپاره د مبتداء ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه ۔

هٰذِهٖ سَبِيْلِىْ ۔ هٰذِهٖ اسم اشاره مؤنث مبتداء ، سَبِيْلِىْ مضاف مضاف اليه ورته خبر شو ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه

ذٰلِكَ بِذٰلِكَ تركيب تِلْكَ بِتِلْكَ غوندے دے ۔

لَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ ۔ لَا نافيه تَقْرَبَا فعل الفاعل هٰذِهٖ اسم اشاره مؤنث مبتداء الشجرة ورته خبر شو ۔ مبتداء مع الخبر مفعول به شو دپاره د لَا تَقْرَبَا دپاره ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعليه انشائيه نافيه ۔

هٰذَا مبتداء ذِكْرٌ موصوف مُبَارَكٌ ورته صفت ۔ موصوف مع صفت خبر شو دپاره د مبتداء ، مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه ۔

تِلْكَ الرَّسُوْلُ ۔ تِلْكَ مبتداء الرَّسُوْلُ معرف باللام ورته خبر شو ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه ۔

هٰذَا عَمْرٌو ۔ هٰذَا مبتداء عَمْرٌو ورته خبر شو ۔ هٰذَا اِبْنِىْ ايضًا ۔ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ تِلْكَ مبتداء ، عَشَرَةٌ موصوف كاملةٌ ورته صفت ۔ موصوف مع صفت خبر شو ۔

هٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ۔ هٰذَا كِتَابٌ اَنْزَلْنٰهُ ۔ فَهٰذِهٖ فَوَائِدُ وَافِيَةٌ وغيره تركيب سابق ته معلوميږى خو په دقت نظر سره

هٰذَا الْقَلَمُ نَفِيْسٌ ۔ هٰذَا اسم اشاره اَلْقَلَمُ مشارٌ اليه ۔ اسم اشاره مع مشار اليه مبتداء نَفِيْسٌ ورته خبر شو ۔

هٰذَا الْبَيْتُ قَدِيْمٌ ايضًا هٰٓؤُلَآءِ اِخْوَانُ سَعِيْدٍ الى آخره تركيب ته خيال ساتئ او مفرد مذكر او مؤنث تثنيه مذكر او مؤنث او جمع مذكر او مؤنث پكښے هم موجو دى ۔ كه تا معلو لړ په خيال سره غور اوكړى ۔ نو تا سو به به علم نحو بالله ے پوره مهارت حاصل كړى

---

**سوم اسماء موصول اَلَّذِىْ وَالَّذَانِ وَالَّذِيْنَ وَالَّتِىْ وَاللَّتَانِ وَاللَّتَيْنِ وَاللَّاتِىْ وَاللَّوَاتِىْ وَمَا وَمَنْ**

واَیٌّ و اَیَّۃٌ والف ولام بہ معنی اَلَّذِیْ دراسم فاعل واسم مفعول چون اَلضَّارِبُ وَالْمَضْرُوْبُ وذُو بمعنی اَلَّذِیْ درلغت بنی طے نحو جَاءَنِیْ ذُوْضَرَبَكَ بدانکہ اَیٌّ و اَیَّۃٌ معرب است

ترجمہ :- دریم دَ آسماء غیر متمکن نہ آسماء موصولہ دی. دکہ مذکر مفرد دَ پارہ اَلَّذِیْ هغه یو سرے اَلَّذَانِ پہ حالت رفع کنبے اَلَّذِیْنَ پہ حالت نصب اوجرکنبے .هغه دوہ سری وَاَلَّذَیْنِ هغه ډیر سری اَلَّتِیْ هغه یوه ښځه اَللَّتَانِ وَاَللَّتَیْنِ پہ حالت رفع ،نصب،جرکنبے هغه دوه ښځے وَاَللَّاتِیْ وَاَللَّوَاتِیْ هغه ډیرے ښځے. مَا دَ غیر عقلمند دَپارہ څه کوم څیز، مَنْ دَ عقلمند دَ پارہ څوک، نو واحد تثنیه اوجمع مذکر او مونث پکښے شریک دی ورپکښے نشته اَیٌّ کوم یو مذکر اَیَّۃٌ کومه یوه مونثه اول الف لام چه په معنیٰ دَ اَلَّذِیْ راځی هغه الف الام چه په صیغه دَ اسم فاعل کښے دی. یا صیغه دَ اسم مفعول کښے دی مثال اَلضَّارِبُ وَالْمَضْرُوْبُ هغه سرے وهونکے هغه سرے چه وهلے شویدے . اوبل ذُوْ چه په معنیٰ اَلَّذِیْ په لغت دَ بنی طے کښے راځی مثال جَاءَنِیْ ذُوْضَرَبَكَ یعنی راغے ماته ذُوْ په معنیٰ دَ اَلَّذِیْ هغه سرے چه تا ئے وهلے . پوه شه اے طالب جانه اَیٌّ وَاَیَّۃٌ اصل کښے معرب دے .لیکن دلته په ضمن دَ مبنی کښے ذکرشویدے یو وجه نه . یا تفصیلها بعد

## تشریحات

په دے مقام کښے لابدی ده دَ معرفت دَ امور خمسه وُ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) مشق (۵) دَ بعضو جملو ترکیب .

### اول بحث بیان دَ تحقیقاتو کښے

موصولات ۹ دَ مبنیاتو نه دے. اول بحث کښے ځلور خبرے دی (۱) معنیٰ لغوی دَ موصول او معنیٰ اصطلاحی دَ موصول . معنیٰ لغوی دَ صله او معنیٰ اصطلاحی دَ صله (۲) اقسام دَ

موصولات (۳) فرق په ما بین دَ ذی عقل او غیر ذی عقل کینے (۴) صله خو جمله وی. آیا جمله خبریه وی یا جمله انشائیه او که دواړه د نه راځی.

اول بیان معنٰی لغوی دَموصول موصول دَ وصل نه راغلے. دَ وصل معنٰی پیوست نو موصول ته ځکه موصول وائی چه جُمله صِلے سره پیوست وی. او اصطلاحی معنٰی دَ موصول "هو اسم یحتاج الی جملةٍ الی جملةٍ او مؤلٍ بجملةٍ والی عائدٍ" یعنی موصول یو نامکمل او نامعلومه څیز دے چه دَ هغے تامیت او معلومیت دَ ما بعد جملے سره راځی. او ما بعد جملے ته صله وائی. نو جملے ته موصول محتاج وی. یا هغه شئ ته چه هغه مؤل وی په جملے باندے یا ضمیر په طرف محتاج وی. نو حاصل دَ سبق دا شو چه موصول دَ یو دا سے اسم نوم دے چه په دَ جملے دَ یو ځائے کیدو نه دَ جملے یو اځے پخپله جزئی واقع کیدے. ځکه چه د ظاهره خبره ده چه په جمله کښے مبتداء او خبر وی. یا فاعل او مفعول دَ فعل سره راشی نو بیا خو یا جمله اسمیه وی یا جمله فعلیه وی په فعل لازمی کښے یا په فعل متعدی کښے نو دا صله مکمل کیدے شو چه دَ اسم موصول سره صله یو ځائے شی. بیا دَ دینه بعد اسم موصول سره دَ صله جزء دَ جملے جوړشی مثال اَلَّذِیْ عِنْدِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ هغه سړے چه څما سره دے هغه عالم سړے دے. اَلَّذِیْ اسم موصول عِنْدِیْ مضاف مضافٌ الیه مع المتعلق چه هغے کښے هُوَ پټ دے چه راجع دے اَلَّذِیْ ته. اَلَّذِیْ موصول مع صله چه عِنْدِیْ ده مبتداء شوه رَجُلٌ موصوف عَالِمٌ ورته صفت. موصوف مع صفت خبر شو دَ پاره دَ مبتداء. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه. او صله څلور اشیاؤ نه راځی (۱) جمله خبریه چه محتمل دَ صدق او کذب وی (۲) ظرف (۳) جار مجرور دَ دے شرط دا دے چه تامین به وی ناقصین به نه وی (۴) وصف صریح لکه الضَّارِبُ دا المَضْرُوْبُ. بل مثال قرآن پاك کښے الله پاك فرمائی اَلَّذِیْنَ هغه خلق. او س هغه خلق معلوم نه دی چه څوک دی نو دا موصول دے نامکمل دے ترڅو پورے چه صله ورسره ذکر نه شی. هرکله چه ما بعد یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ ذکر شو نو هغه اسم موصول چه نامعلوم وو او س مکمل معلوم شو چه اَلَّذِیْنَ دا خلق دی چه ایمان نے بِالْغَیْبِ وی نو یُؤْمِنُوْنَ فعل ضمیر هم فاعل چه واو او نون دَ جمع په هغه دَلالت کوی بِالْغَیْبِ جار مجرور ورته مفعول به شو وَیُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ په واسطه دَ حرف عطف دا هم دَ هغه سره تعلق لری او دَ هغه بیان دے.

او صله په لغت کښې جُمْلَةٌ مذکورة بَعْدَ الشَّيْءِ لَا يُتِمُّ ذٰلِكَ الشَّيْءِ اِلَّا بِهَا. او په اصطلاح کښې جملة مذکورة بعد الموصول لَا يُتِمُّ اِلَّا بِهَا.

## دویم بیان په اقسامو دَ موصول

په اول حُل کښې اسم موصول دوه قسمه سره دے (۱) آسماء موصوله خاصه (۲) آسماء موصوله مشترکه.

اوس آسماء موصوله خاصه هغه دی چه په هغه کښې دَ مذکر او مؤنث دَ پاره بیل بیل لفظ ذکرکیږی دَ مفرد او تثنیه او جمع دَ پاره هم بیل بیل الفاظ ذکرکیږی. مثال لکه اَلَّذِیْ مذکر مفرد اَللَّذَانِ تثنیه مذکر اَلَّذِیْنَ جمع مذکر اَلَّتِیْ مفرد مؤنث اَللَّتَانِ اَللَّتَیْنِ دَ تثنیه مؤنث و اللَّاتِیْ و اللَّوَاتِیْ دَ جمع مؤنث دَ پاره.

او هغه آسماء موصوله چه مشترکه دی لفظ به مفرد توَل به پکښې راځی لکه مَنْ ذِیْ عقل دَ پاره مَا غیر ذی عقل دَ پاره اَیٌّ اَیَّةٌ الف لام بمعنی اَلَّذِیْ او ذُوْ دویم حُل سره اسم موصول دویم حُل سره اسم موصول په پنځه قسمه سره دے (۱) اول قسم هغه آسماء موصوله دی چه دَ نوم دَ پاره راځی. لکه اَلَّذِیْ نه تر و اللَّوَاتِیْ پورے چه مذکر او مؤنث دَ پاره پکښې بیل بیل الفاظ راځی (۲) دوهم قسم مَا او مَنْ دے چه په معنی دَ اَلَّذِیْ او اَلَّتِیْ سره وی. او کله په معنیٰ دَ اَلَّذِیْ اَلَّتِیْ سره نه وی نو بیا دوی موصول نه دی. په مَا او مَنْ کښې مذکر او مؤنث مفرد او جمع برابر دی مگر دومره خبره ده چه مَا غالبًا غیر ذوی العقول کښې استعمالیږی او مَنْ په ذوی العقول کښې لکه مَنْ یَّقُوْلُ او کله کله برعکس هم وی (۳) قسم دَ آسماؤ موصولات نه اَیٌّ و اَیَّةٌ دی. د اهله وخت چه په معنیٰ دَ اَلَّذِیْ، اَلَّتِیْ سره وی او کچرے نه وی بیا خو آسماء موصولات نه نه دی (۴) قسم دَ اِسماء موصولات نه الف لام دے چه په معنیٰ دَ اَلَّذِیْ، اَلَّتِیْ سره دا هغه وخت وی چه په اسم فاعل او اسم مفعول باندے داخل وی. او کچرے بغیر دَ اسم فاعل او اسم مفعول نه نورو آسماؤ کښې وی بیا هغوی له اسماء موصولات نه وائی. مثال اَلضَّارِبُ بمعنی اَلَّذِیْ ضَرَبَ زَیْدٌ یا اَلْمَضْرُوْبُ اَلَّذِیْ ضُرِبَ زَیْدٌ (۵) قسم هغه اسماء موصولات دی چه ذُوْ بمعنی اَلَّذِیْ په لغت دَ بنی طی کښې. مثال لکه جَآءَنِیْ ذُوْضَرَبَكَ یعنی جَاءَنِیْ اَلَّذِیْ ضَرَبَكَ نو دَ بنی طی لغت کښې حکه ذکرکړه چه دَ نورو عربو په نزد ذُوْ په معنیٰ دَ صاحب او مالك راځی. مثال لکه جَآءَنِیْ ذو مال. بیا دغه وخت چه ذُوْ په معنیٰ دَ صاحب او مالك راغلل بیا معرب کرځی نه مبنی

مثال جَاءَنِی ذُوْمَالٍ . رَأَیْتُ ذَامَالٍ . مَرَرْتُ بِذِیْ مَالٍ

## دریم بیان دَفرق ذی عقل او غیر ذی عقل

مَا غیر ذی عقل کښې راځي غالبًا او مَنْ ذی عقل کښې راځي غالبًا بالعکس هم راځي . مثال دَ مَنْ او مَا لکه مَنْ رَبُّكَ . مَنْ نَبِيُّكَ او مَا په غیر ذوي العقول کښې راځي لکه مَادِيْنُكَ بالعکس مثال دَ مَنْ چه دَ مَا په مقام راځي فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى بَطْنِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى اَرْبَعٍ . مثال دَ مَا چه په مقام دَ مَنْ کښې راځي لکه وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰهَا

## ځلورم بیان په صله کښې دے چه صله خو جمله وی

**سوال ۱-** آیا دا جمله خبریه دی یا انشائیه ؟

**جواب ۱-** جمله انشائیه صله نشي راتلے ځکه چه صله کښې ربط وی دَ خپل موصول سره . او جمله انشائیه قابل دَ ربط نه ده ځکه چه جمله انشائیه لا موجود نه دی نو قابل دَ ربط به څرنګه شی . (او بل فائده) په صله کښې لا بدی وی یو ضمیر نه چه راجع وی موصول ته ځکه چه جمله خو مستقل وی او صله خو مربوط وی دَ مبتدا ء سره نو عائد ضروری شو چه ربط راولی دَ صلے خپل موصول سره -

**سوال ۱-** اَیُّ اَیَّةُ چه معرب دے بیا دے ئے مبنیا نو کښې ذکر کړه ؟

**جواب ۱-** چه په مبنی کښې ذکر شو دا دَ دے وجه نه چه په اَیُّ اَیَّةُ کښې ځلور حالت راځي . دې حالا نو کښې معرب دی یو حالت کښې مبنی دی ځکه مبنیا تو کښې ئے ذکر کړه بالتبع هغه ځلور حالاته دادی : چه اَیُّ اَیَّةُ به خالی نه وی . یا به مضافٌ الیه دَ دے مذکور وی یا نه . که مذکور وو او صدر دَ صلے هم مذکور وُو بیا معرب دے . مثال اَیُّهُمْ هُوَ قَائِمٌ او که صدر دَ صلے مذکور نه وی او مضاف وُو بیا مبنی دے . مثال اَیُّهُمْ قَائِمٌ شو احتیاج پیدا شو ځکه مبنی شو . او که مضاف نه وی او صدر دَ صلے موجود وی بیا هم معرب دے . مثال اَیٌّ هُوَ قَائِمٌ او غیر مضاف دی او صدر دَ صلے هم موجود نه وی بیا هم معرب دے . مثال لکه اَیٌّ قَائِمٌ شو . او س نقشه کښې نظر او کړئ -

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مضاف نه دی | اَیُّ دا اَیَّةٌ | صدر صله موجود دی | اَیُّ هُوَ قَائِمٌ | معرب دے |
| ۲ | ؍ ؍ | ؍ ؍ | ؍ ؍ موجود نه دی | اَیُّ قَائِمٌ | ؍ |
| ۳ | مضاف دی | ؍ ؍ | دصلے صدر موجود دی | اَیُّهُمْ هُوَ قَائِمٌ | ؍ |
| ۴ | ؍ ؍ | ؍ ؍ | ؍ ؍ موجود نه دی | اَیُّهُمْ قَائِمٌ | مبنی |

# دریم بحث د ضوابطو

۱- ضابطه :- اسم موصول بلا صله نه دی او صله خو جمله وی. جمله مستقل بنفسه وی حذف کښے لا بدی وی د ضمیر نه .

۲- ضابطه :- په ضمیر کښے اوس ضمیر د صله دے چه راجع کیږی موصول ته دا موصول به خالی نه دی یا به موصول مشترکه وی . که موصول خاص وه حذف کښے مطابقت شرط دے د موصول سره په افراد او په تثنیه او په جمع تذکیر او تانیث کښے که موصول اسم مشترکه نه دی . بیا حذف کښے دوه وجه جائز دی لحاظ د لفظ او لحاظ د معنیٰ مثال لکه وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ اوس دلته يَقُوْلُ کښے لحاظ د لفظ شوید ے او په وَمَاهُمْ کښے لحاظ د معنیٰ شوید ے

۳- ضابطه :- نه صله او نه د صلے څه حصه موصول باندے مقدم کیږی

۴- ضابطه :- په الف لام چه اسم فاعل او اسم مفعول باندے داخل وی دا هغه الف لام دے چه په معنیٰ د اَلَّذِیْ اَلَّتِیْ سره وی . اَلَّذِی اَلَّتِیْ هر اسم فاعل او اسم مفعول باندے نه داخلیږی . بلکه شرط پکښے دا دے چه د اسم فاعل او اسم مفعول معنیٰ متجدد او حدوث وی . او دوام استمرار د پاره نه وی . لکه اَلضَّارِبُ ضرب متجدد وی او دوام نه وی . اَلْقَاتِلُ قتل دوام د پاره نه وی . اَلشَّارِبُ شرب دوام د پاره نه دی . بلکه متجدد او حدوث د پاره وی .

۵- ضابطه :- د موصول چه مجموعه (۲۱) دی . په دغه تقسیم باندے موصول دوه قسم سره دے (۱) موصول اسمی (۲) موصول حرفی - موصول حرفی بیا پنځه

حرفه دی (۱) اَنْ (۲) اَنَّ او مخففه من المثقله (۳) ما (۴) کے (۵) لو

۶ - **ضابطه** :- دَ موصول اسمی چه دوه قسم سره دے (۱) اسمی خاصه چه (لهٔ) الفاظ دی. اَلَّذِیْ نه تر واللَّوَاتِیْ پورے (۲) او موصول عام هغه (۷) الفاظ دی (۱) مَنْ (۲) مَا (۳) اَلْ (۴) ذُوْ (۵) ذا (۶) اَیّ (۷) اَیَّة

۷ - **ضابطه** :- هر موصول دَپاره. او س خواه هغه اسمی وی یا حرفی صله راوړل ضروری شو-

۸ - **ضابطه** :- صله همیشه جمله خبریه وی یا شبه جمله. او س شبه جمله خواه جار مجرور وی، ظرف وی یا صفت صریحه وی -

۹ - **ضابطه** :- دَ موصول اسمی په صله کښے همیشه ضمیر وی او کله کله دَضمیر په ځائے اسم ظاهر هم وی. مثال. اَنْتَ الَّذِیْ فِیْ رَحْمَةِ اللّٰهِ اَطْمَعُ اَیْ فِیْ رَحْمَتِهٖ

۱۰ - **ضابطه** :- آسماء موصولات په ترکیب کښے. فاعل - مفعول - مبتدا - خبر موصوف - صفت - واقع کیږی. لیکن اعراب به محلی وی.

۱۱ - **ضابطه** :- ضمیر عائد کله چه مفعول وی دَ هغے حذف جائز دے. مثال: قَامَ الَّذِیْ ضَرَبْتُ اَیْ ضَرَبْتُهٗ

## دریم بحث ذکر دَ امثالو کښ

جَآءَ نِیْ الَّذِیْ قَامَ   اَلَّذِیْ اَبُوْهُ قَائِمٌ   جَآءَ الَّذِیْ هَلْ قَامَ   اَلَّذِیْ لَا تَضْرِبْهُ

وَلَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ   وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا یَسْتَکْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ (الانبیاء ۱۹)

اَلضَّارِبُ وَالْمَضْرُوْبُ   وَالَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ (الزمر ۳۳)

للعاقلة - والثانی   هٰذَا یَوْمُکُمُ الَّذِیْ کُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ (الانبیاء ۱۰۳)

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِیْ تُجَادِلُکَ فِیْ زَوْجِهَا (المجادلة ۱)

للعاقلة - والثانی   مَا وَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِیْ کَانُوْا عَلَیْهَا (البقرة ۱۴۲)

وَاللَّائِیْ یَئِسْنَ (الطلاق ۴) وَاللَّاتِیْ یَاْتِیْنَ الْفَاحِشَةَ (النساء ۱۵) اَفَمَنْ یَّعْلَمُ اَنَّمَا اُنْزِلَ اِلَیْکَ مِنْ رَّبِّکَ الْحَقُّ کَمَنْ هُوَ اَعْمٰی (الرعد ۱۹)

مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ (النحل ۹۶) ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ
اَيُّهُمْ اَشَدُّ (مريم ۶۹) فَالْمُغِيْرَاتِ صُبْحًا (العٰديٰت ۳) جَآءَ الَّذِیْ ضَرَبَكَ
رَاَيْتُ الَّذِيْنَ ضَرَبُوْكَ مَرَرْتُ بِالَّذِيْنَ ضَرَبُوْكَ اَكْرِمْ مَنْ اَكْرَمَكَ
قَرَأْتُ مَا كَتَبْتَ جَآءَ الَّذِیْ اَبُوْهُ عَالِمٌ لَا اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ خَيْرُ
النَّاسِ مَا يَنْفَعُ النَّاسَ اِتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ جَآءَنِیْ
ذُوْجَآءَكَ اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ اَلْاَمَاتِذَةُ الَّذِيْنَ اَدَّبُوْنِیْ اُحِبُّهُمْ
اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ
تُوُفِّيَتِ الَّتِیْ كَانَتْ مَرِيْضَةً نَجَحَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يَجْتَهِدُوْنَ

## څلورم بحث په مشق کښے

جَآءَنِیْ الَّذِيْنَ قَامَ - سوال :- دا مذکوره جمله په موصول کښے ذکوم یو نه ده؟
جواب :- دغه مذکوره جمله کښے چه کوم اسم موصول راغلے دے دا د اسماء موصوله خاصه نه دے چه اَلَّذِیْ لفظ مفرد ذکر دے.
سوال :- دا جمله فعلیه ده که جمله اسمیه ؟
جواب :- دا جمله فعلیه ده.
سوال :- دا جمله فعلیه خبریه ده که جمله انشائیه ؟
جواب :- دا جمله خبریه ده. ځکه چه جمله انشائیه صله کښے نشی واقع کیدے ځکه چه هغے کښے ربط نه وی چه موصول سره دا صله د تړلے شی.
سوال :- د یکښے ضابطه څه ده ؟
جواب :- اوله ضابطه کښے راځی چه موصول بلاصله نه وی نو جَآءَنِیْ الَّذِیْ قَامَ کښے قَامَ صله ده. دویمه ضابطه یکښے هم شته چه صله بلا عائده نه وی. قَامَ کښے ضمیر مستتر دے چه هُوَ دے راجع دے اَلَّذِیْ ته
۱۰- ضابطه :- ضابطه هم موجود ده چه هغے کښے راغلی وُو چه موصولات په ترکیب کښے فاعل یا مفعول یا مبتداء یا خبر یا موصوف یا صفت راځی نو دلته فاعل

راغلی دے دپارهٔ دَجَآءَ فعل ۔

اَلَّذِیْ اَبُوْهُ قَائِمٌ ، کښې هم دغه څلور سوالات راځي ۔ (۱) سوال جواب دا دَ اسماء موصوله خاصه نه دے چه اَلَّذِیْ لفظ مفرد مذکر دے ۔ (۲) سوال جواب دا جمله اسمیه دهٔ (۳) سوال جواب دا جمله اسمیه خبریه دهٔ (۴) سوال جواب او لٰه ضابطه دوئمه ضابطه لسمه ضابطه پکښې موجود دی ۔ اولٰه ضابطه خو چه موصول بلاصله نه دی ۔ دوئمه ضابطه چه ضمیر دَ صله راجع وی موصول ته ۔ دَموصول مطابق وی ۔ دلته اَبُوْهُ کښې ضمیر مفرد مذکر دے ۔ نو اَلَّذِیْ لفظ هم مفرد ذکر دے ۔ لسمه ضابطه کښې چه موصول مبتداء راځي ۔ دلته هم اَلَّذِیْ موصول اَبُوْ مضاف هٗ ضمیر مضاف الیه ۔ مضاف مع المضاف الیه صله شوه دَ موصول ۔ موصول مع صله مبتداء قَائِمٌ شبه جمله دې ته خبر شو ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه ۔

جَآءَ الَّذِیْ هَلْ قَامَ ۔ (سوال) څه واقع دے (جواب) دا ترکیب صحیح نه دے ځکه چه موصول نه بعد هَلْ استفهام راغلے دهٔ ۔ دا انشاء وی نو انشاء دَ موصول صله کښې نه راځي ۔ او دَ نه راتلو وجه کَمَا مَرَّ اٰنِفًا وَ سَابِقًا فانظر بدقتِ نظر

اَلَّذِیْ لَا تَضْرِبْهُ (سوال) کوم یو دے په موصولاتو کښې (جواب) دا هم صحیح نه دے ۔ ځکه چه لَا تَضْرِبْهُ نهی دهٔ هغه انشاء وی ۔ کَمَا مَرَّ ۔

وَلَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا یَسْتَکْبِرُوْنَ (سوال) دا څه واقع شوي دے (جواب) اسماء موصوله مشترکه نه دی راغلی (سوال) دا جمله فعلیه دهٔ که اسمیه (جواب) دا خو جمله ظرفیه او جار مجرور دے اسمیه دهٔ (سوال) ضابطه پکښې څه دهٔ (جواب) (۸) ضابطه پکښې راغلې دی چه شبه جمله نه هم صله راځي دلته بشبه جمله نه دهٔ راغلے ۔ اول کښې جار مجرور دے ۔ ثاني کښې ظرف دے ۔ مَنْ مشترکه عامه نه دی هغه عائد ضروري نه وی لیکن بیا هم خبر مقدم ذکر دے ۔ خبر کښې ضمیر شته چه و لَهٗ دے او ثاني کښې خو ضمیر ورسره ذکر عِنْدَهٗ دے (فتفکر ولا تکسل)

اَلضَّارِبُ وَالْمَضْرُوْبُ (سوال) دَ کوم یو موصولاتو نه دے خاصه نه او که مشترکه نه (جواب) مشترکه نه ۔ ځکه اَلْ چه په معنیٰ دَ اَلَّذِیْ راځي هغه عام وی (سوال) اصل دَ دې څنګه دی (جواب) اصل دَ دے داسې وی جَآءَنِیَ الَّذِیْ ضَرَبَ زَیْدًا ۔ ثاني اصل

ذَهَبَ الَّذِیْ ضُرِبَ زَیْدٌ .

وَالَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ (سوال) دا کوم یو نه دے (جواب) دا دَ اسماء موصولات خاصه نه دے (سوال) صله کښې ضمیر شته یا نه (جواب) صله کښې ضمیر شته چه هغه هُوَ ضمیر مستتر دے اَلَّذِیْ ته (سوال) جمله فعلیه ده که اسمیه (جواب) جمله فعلیه ده (سوال) انشائیه ده که خبریه (جواب) خبریه ده (سوال) عاقل دے که غیر عاقل؟ (جواب) دا اَلَّذِیْ مستعمل دے په عاقل کښې .

هٰذَا یَوْمُکُمُ الَّذِیْ کُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ . دلته لفظ دَ اَلَّذِیْ راغلے دے عاقل دے که غیر عاقل (جواب) دلته غیر عاقل کښې مستعمل شویدے چه یَوْم دے . او یَوْم ظرف زمان دے نو اَلَّذِیْ سره دلته زمانے ته اشاره او شوه .

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِیْ تُجَادِلُكَ (سوال) دلته لفظ دَ اَلَّتِیْ راغلے دے دا اسم موصول دے خو دَ کوم یو نه دے (جواب) خاصه نه (سوال) آیا ضمیر پکښې شته په صله کښې یا نشته (جواب) ضمیر پکښې شته چه هِیَ مستتر دے راجع دے اَلَّتِیْ ته . ځکه اسماء موصوله خاصه کښې ضمیر دَ موصول موافق وی (سوال) دلته دا اسم موصول څه واقع شویدے په ترکیب کښې (جواب) لسمه ضابطه پکښې موجود ده چه مفعول به واقع شویدے لپاره دَ فعل سَمِعَ اللّٰهُ .

مَا وَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِیْ کَانُوْا عَلَیْهَا . دلته دا اَلَّتِیْ دَ کوم یو قبیلے نه دے؟ (جواب) دلته دا اَلَّتِیْ دَ غیر عاقل نه دے . ځکه چه اَلَّتِیْ سره اشاره قبله ته ده . یا عاقل دے . ځکه چه اَلَّتِیْ په بعضے لغاتو کښې بمعنی اَلَّذِیْ راځی . لکه شرح شذور الذهب یعنی مالك فی یاءَ الَّذِیْ عن بیت المقدس .

وَاللَّائِیْ یَئِسْنَ (سوال) دا کوم یو نه دے (جواب) دا خو دَ اسم موصول دَ جمع مؤنث صیغه ده . خاصه نه دے خو بغیر دَ تاء نه راغلے دے دَ همزه په مقام همزه راغلے ده دیکښې نقل وی نسبت دَ اللَّاتِیْ نه مع تاء یَئِسْنَ دَ هغه صله ضمیر پکښې هُنَّ دے راجع دے وَاللَّائِیْ ته داصله مع الموصول مبتداء شوه .

وَاللَّاتِیْ یَأْتِیْنَ الْفَاحِشَةَ . دلته مع التاء راغلے دے . یَأْتِیْنَ فعل هُنَّ فاعل راجع وَاللَّاتِیْ ته الْفَاحِشَةَ مفعول به شو . صله مع الموصول مبتداء شوه . خبر دَے مابعد

ذکر شوی (اِنْشَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰی) عمل ته وګوری چه داشے دلته داقع شوځه عمل وکړه دَهغے مطابق بیا اعراب ورکړے.

اَفَمَنْ یَّعْلَمُ اَنَّمَا اُنْزِلَ اِلَیْکَ مِنْ رَّبِّکَ الْحَقُّ کَمَنْ هُوَ اَعْمٰی. دلته یو مَنْ موصول راغلے دے. ورپسے یعلم فعل مضارع صیغه ده هغه کښے ضمیر هُوَ دے دَ لفظ مَنْ لحاظ شوے دے. ورپسے بیا لفظ دَ مَا موصول دے دَ هغے پسے اُنْزِلَ لفظ دے هغه کښے هُوَ ضمیر نائب فاعل دے چه راجع دے مَاته. بیا ورسته هم مَنْ دے. ورپسے بیا جمله دے چه هُوَ اَعْمٰی. هُوَ مبتداء اعمیٰ خبر دے. نو کاف تشبه دے صرف تاسو دومره قدر سوچ وکړئ چه دلته دغه لفظ راغلے دے اوځه عمل کړے دے.

مَاعِنْدَکُمْ یَنْفَدُ وَمَاعِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ. دلته مَا دَ لایعقل دَ پاره راغلے دے اومابعد صله ظرف دے. وَمَاعِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ده هم ظرف دے. یَنْفَدُ فعل مضارع دے. بَاقٍ په اصل کښے بَاقِیٌ وو. یاحذف شو بَاقٍ پاتے شو. شبه جمله ده.

جَآءَنِیْ ذُوْقَامَ. ذُوْ په معنیٰ دَ اَلَّذِیْ دے ځکه ورپسے فعل ماضی صیغه راغلے ده هغه جمله وی ځکه چه هغے کښے ضمیر وی. راجع وی اَلَّذِیْ ته اوعام عرب ذُوْ په معنیٰ دَ صاحب او مالک اخلی بیا معرب وی دَ عام عربو په اصطلاح ذُوْ په معنیٰ دَصاحب اومالک ذُوْ مضاف مَالٍ مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه فاعل شو دَپاره دَجَآءَ. بیا دا جمله فعلیه خبریه شوه.

مثال دَ اَیُّ ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ کُلِّ شِیْعَةٍ اَیُّهُمْ اَشَدُّ. دلته دا یو په معنیٰ دَاَلَّذِیْ دَ یعنی اَلَّذِیْ هُوَ اَشَدُّ. اَلَّذِیْ موصول هُوَ مبتداء اَشَدُّ ورته خبر شو. نو دا جمله صله شوه دَپاره دَموصول. دلته دا مبنی ځکه دے چه اَیُّ مضاف دے لیکن صدر دَ کلمه ذکر نه دے نو دیته مبنی وئیلے شو. که سابق په نقشه کښے غلو ہم خانه کښے موجود دے ورته نظر اوکړئ.

فَالْمُغِیْرَاتِ صُبْحًا. دلته دا اَلْ په معنیٰ دَاَللَّاتِیْ اَغَرْنَ. اَللَّاتِیْ موصول اَغَرْنَ فعل ضمیر پکښے مستتر چه تعبیرئے کیږی په هُنَّ سره هغه ورته فاعل دے راجع دے اَللَّاتِیْ ته.

جَآءَ الَّذِیْ ضَرَبَکَ (سوال) جَآءَ فعل دے که اسم (جواب) جَآءَ فعل دے.

(سوال) اَلَّذِیْ اسم دے که فعل (جواب) دا اسم دے (سوال) مبنی دے که معرب
(جواب) مبنی دے (سوال) دا اَلَّذِیْ څه واقع شویدے (جواب) دلته دا اسم موصول
فاعل واقع شویدے. ضَرَبَ فعل لکَ ضمیر منصوب متصل مفعول بهٖ هو پکښے
فاعل راجع دے اَلَّذِیْ ته. نو صله مع الموصول فاعل شو د پاره دَ جَآءَ فعل مع الفاعل
جمله فعلیه خبریه.

رَاَیْتُ الَّذِیْنَ ضَرَبُوْكَ، مَرَرْتُ بِالَّذِیْنَ ضَرَبُوْكَ. دلته اَلَّذِیْنَ اسم موصول
مفعول بهٖ واقع شو. ثانی متعلق دے په واسطه دَ حرف جر سره.

اَکْرِمْ مَنْ اَکْرَمَكَ، قَرَاْتُ مَا كَتَبْتَ. اَکْرِمْ فعل اَنْتَ فاعل مَنْ موصول بمعنی
اَلَّذِیْ اَکْرَمَكَ فعل هُوَ فاعل کاف ضمیر منصوب متصل مفعول بهٖ صله دَ موصول
موصول مع صله مفعول بهٖ شو د پاره دَ اَکْرِمْ، اَکْرِمْ فعل مع الفاعل مع المفعول بهٖ
جمله فعلیه امریه انشائیه. ثانی ورباندے قیاس دے.

جَآءَ الَّذِیْ اَبُوْهُ عَالِمٌ، جَآءَ فعل شو اَلَّذِیْ موصول ابو مضاف ہٗ مضاف الیهٖ
مضاف مع المضاف الیه مبتدا و عَالِمٌ ورته خبر، مبتدا مع الخبر صله دَ موصول. موصول
مع صله فاعل شو د پاره دَ جَآءَ. جَآءَ فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه شوه

لَا اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ نه الی نَجَعَ الَّذِیْنَ كَانُوْا یَجْتَهِدُوْنَ پورے. تاسو باندے
لازم دی چه دَ دغه مشق وکړئ. دا یے مشق.

مثال:. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ اولو ستلے شو. نو دَ سوال کولو طریقه به داوی
(سوال) اَلْحَمْدُ مفرد دے که مرکب (جواب) مفرد دے (سوال) دَ مفرد دویم نوم
څه دے (جواب) کلمه ده (سوال) دا دَ کلمی کوم یو قسم نه دے (جواب) دا اسم دے
(سوال) څنګه معلوم شو چه دا اسم دے (جواب) اول سرکښے الف لام داخل دے
اوس دا اَلْحَمْدُ مبتداء ده که خبر (جواب) دا مبتداء ده.

لِلّٰهِ جار مجرور څه واقع شو (جواب) خبر تعلق نیسی تر ثبت پورے عند البصریین
او ثابت عند الکوفیین یعنی اَلْحَمْدُ ثَابِتٌ لِلّٰهِ یا اَلْحَمْدُ ثَبَتَ لِلّٰهِ. رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ
رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ مفرد دے که مرکب (جواب) مرکب دے ځکه چه دوه کلمونه جوړ شویدے
نو صفحه څنګه مرکب شی دَ دوه کلمونه هغه مرکب وی دا هم مرکب شو (سوال) دا دَ

مرکبا نو کوم یو قسم نه دے (جواب) مرکب ناقص دے یعني غیر مفید دے (سوال) مرکب ناقص څو اقسام دي دي دا کوم یو دے (جواب) مرکب اضافي دے (سوال) مرکب اضافي څه ته وائي (جواب) دَمضاف مضافٌ الیہ نه جوړ شي (سوال) تاڅنګه معلومه کړه چه دا مضاف مضافٌ الیہ دے (جواب) دَ مضاف دَ مضاف دَعلامات نه (سوال) دَ مضاف مضافٌ الیہ څه علامات دي (جواب) هرکله چه اول اسم بغیر دَالف لام نه وي او ثاني اسم مع الف لام وي حغه ته مضاف مضافٌ الیہ وائي (سوال) ترجمه څنګه وائي (جواب) دَ نولو جهانونو پالونکے یعنې ټنا ثابت ده دَ ټولو جهانونو پالونکه . او س ناقص ترجمه شو پوره نشو ځکه چه مرکب ناقص جله ناقص وي دا هم صفت دَاللهٔ شو (سوال) کله چه دا هم صفت شو نو موصوف صفت کوم یو مرکب جوړیږي (جواب) مرکب توصیفي (سوال) مرکب توصیفي مرکب تام دے که مرکب ناقص (جواب) مرکب ناقص (سوال) مرکب ناقص خوجزدي

**خلاصه دَبیان** محترم طلباء کرا مودغه شان تول سبق چه کله تکرار شي بیا به انشاء الله العزیز په عنقریب وخت کښې طلباء کرا مو ته په قرآن پاك باندے به پوره پوره مهارت حاصل شي. الله پاك دے حاصل کړي الله پاك دے زموږ او ستاسے قول شرعي مراد ونه پوره کړي. الله پاك دے زموږ او ستاسے کار دکښے اخلاص پیدا کړي

## پنځم بیان دَ بعضو جملو ترکیب

جَآءَ الَّذِيْ قَامَ ، جَاءَ فعل ماضي معلوم قیاس دے په ضَرَبَ یَضْرِبُ باندے نون دقایه یاء مفعول بہ اَلَّذِیْ موصول قَامَ فعل ماضي معلوم قیاس په نَصَرَ یَنْصُرُ باندے ضمیر پکښې مستتر چه تعبیرے کیږي په هُوَ سره راجع دے اَلَّذِیْ موصول ته فعل مع الفاعل صله شوه دَپاره دَموصول . موصول مع صله فاعل شوه دَپاره دَجَاءَ فعل فعل سره دَ فاعل او سره دَ مفعول به جمله فعلیه خبریه

اَلَّذِیْ اَبُوْهُ قَائِمٌ ، اَلَّذِیْ اسم موصول ابو مضاف هُ ضمیر مضافٌ الیہ راجع دے الذی ته . موصول مع صله مبتداء قَائِمٌ دے ته خبر شو . مبتداء مع الخبر جله اسمیه خبریه

جَآءَ الَّذِیْ هَلْ قَامَ ترکیب غیر صحیح دے ځکه چه اَلَّذِیْ صله انشاء ده دی هَلْ لفظ انشاء دے.

اَلَّذِیْ لَا تَضْرِبْهُ - هٰذا ترکیب ایضًا لا یصح مثل ترکیب سابق لاجل مجیئة لا فی نفیه عن الانشاءات.

وَلَهُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ . وَلَهُ جار مجرور متعلق خبر مقدم مَنْ موصول فِیْ جار السَّمٰوٰتِ مجرور لفظًا معطوف علیه . وَاو حرف عطف اَلْاَرْضِ معطوف معطوف علیه مع المعطوف صله شوه دپاره دَ موصول . موصول مع صله مبتداء مؤخر . مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه -

وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا یَسْتَکْبِرُوْنَ . وَمَنْ موصول عِنْدَ مضاف هٗ ضمیر راجع دے مَنْ ته مضاف الیه . مضاف مع المضاف الیه صله شوه دپاره دَ موصول . موصول مع صله مبتداء . لائی نافیه یَسْتَکْبِرُوْنَ فعل وَاؤ نون فاعل عَنْ عِبَادَتِ مجرور مضاف هٗ ضمیر مضاف الیه مضاف مع المضاف الیه مجرور دَ جار . جار مع المجرور تعلق نیسی ترلا یَسْتَکْبِرُوْنَ پورے . لا یَسْتَکْبِرُوْنَ فعل مع الفاعل مع المفعول لهٗ چه تعلق . دا جمله خبر شو دپاره دَ مبتدا . مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه ظرفیه

اَلضَّارِبُ بمعنی اَلَّذِیْ ضَرَبَ زَیْدًا ، اَلَّذِیْ موصول ضَرَبَ فعل ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے ورته کیږی په هُوَ سره چه راجع دے اَلَّذِیْ ته . زَیْدًا مفعول به شو فعل چه ضَرَبَ دے مع الفاعل چه هُوَ دے مع المفعول به چه زَیْدًا دے صله شوه دَ پاره دَ موصول چه اَلَّذِیْ دے . موصول مع صله مبتداء شوه . خبر ئے ورته محذوف ذکر کړو . اَلَّذِیْ ضَرَبَ زَیْدًا حَاضِرٌ . حَاضِرٌ ورته خبر شو . مبتدأ مع الخبر جمله اسمیه خبریه

وَالْمَضْرُوْبُ ، یعنی جَآءَنِیَ الَّذِیْ ضُرِبَ زَیْدًا . جَآءَ فعل ماضی معلوم نون وقایه یٰ ضمیر متکلم مفعول به اَلَّذِیْ اسم موصول ضُرِبَ صیغه دَ فعل ماضی مجهول ضمیر پکښے مستتر چه معبر دے په هُوَ سره صفه ورته نائب فاعل زَیْدًا ورته مفعول به . فعل مع نائب فاعل مع المفعول به صله شوه دپاره دَ موصول . موصول مع صله فاعل شو دپاره دَ جَآءَ . جَآءَ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه .

وَالَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ ، وَاوْ استئنافیه اَلَّذِیْ اسم موصول جَآءَ فعل ماضی معلوم

ضمیرجاه هُوَ راجع اَلَّذِیْ ته بالصدق جار مجرور تعلق نیسی ترکلام پورې ای بکلام الصادق داوړه ته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به صله شوه دپاره دموصول موصول مع صله مبتدا او خبر ورته محذوف دسول دے. مبتدا مع الخبر جمله اسمیه خبریه استنافیه.

**خلاصه دترکیب** :- تا سو حضرات پخپله سوچ فکر نه کار واخلئ خکه چه تول بوج په شرحه مه اچوئ. لږ لږ پخپله هم ذهن نه کار واخلئ. تاسو ته دمطالعه کولو یوه مختصره طریقه در بنایم. دَ مثال په طور دایو کتاب دے (زاد الطالبین) نوهماشاگرد ته پرانستل. شکره نظر دغه حدیث ته پریوته. اَلْغِنَاءُ یُنْبِتُ النِّفَاقَ فِی الْقَلْبِ کَمَا یُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ - ادس مشق ته نظر اوکړئ.

**سوال** :- اَلْغِنَاءُ اسم دے که فعل دے که حرف ؟

**جواب** :- دا اسم دے

**سوال** :- څنګه معلوم شو چه دا اسم دے ؟

**جواب** :- دَ الف لام نه ځکه چه اول سرکښے الف لام دے.

**سوال** :- په ترکیب کښے څه واقع شو؟

**جواب** :- په ترکیب کښے مبتداء واقع شویدے.

**سوال** :- څرنګه معلوم شو چه دا مبتداء ده ؟

**جواب** :- دمبتداء دَعلاماتو نه چه کوم اسم په شروع وخت کښے الف لام والاوی اودَ هغې نه بعد فعل راشی دا به همیشه مبتداء وی. لکه البیع ینعقد بالایجاب - اَلنِّکَاحُ ینعقد بالایجاب دا لقبول الخ

**سوال** :- یُنْبِتُ څه دے ؟

**جواب** :- فعل مضارع معلوم دے دَ باب افعال نه هُوَ فاعل النفاق ورته مفعول به فِیْ جار القلب مجرور کاف حرف جر مَا موصوله یُنْبِتُ فعل مضارع الْمَاءُ ورته فاعل. اَلزَّرْعَ مفعول به شو دا مجموعه بیا ورته خبر شو، جمله اسمیه خبریه -

نو دغه رنګه تاسو دا تول امثلوا اسم، فعل اوحرف معلوم کړئ. بیائے دَ یو بل سره ربط وکوړئ. بیا دیته وګورئ چه دا مفرد دے که مرکب. بیا جملے ته چه دا جمله اسمیه ده که فعلیه. بیا اسمیه کښے

انشائیه ده که خبریه - فعلیه کښې ایضًا۔

فجهد ولا تکسل ولا تکن غافلا - فندامت عقبیٰ لمن یتکاسل

**چهارم اسماءِ افعال وآں بر دو قسم است اول بمعنی امر حاضر چوں رُوَیْدَ وَبَلْهَ وحَیَّهَلْ وهَلُمَّ دوم بمعنی فعل ماضی چوں هَیْهَاتَ وشَتَّانَ**

ترجمه :- څلورم قسم دَ مبنیا تو نه اسماءِ افعال دی. او دے په دوه قسمه سره دی اول په معنیٰ دَ امر حاضر سره. مثال ئې رُوَیْدَ په معنیٰ دَ اَمْهِلْ مهلت ورکړه ته او بل لفظ حَیَّهَلْ په معنیٰ دَ اِئْتِ یعنی را شه. او بل لفظ بَلْهَ په معنیٰ دَدَعْ یعنی پرېږده ته او بل لفظ هَلُمَّ په معنیٰ دَ اِئْتِ را شه. دوئم قسم په معنیٰ دَ فعل ماضی راځی. مثال ئې هَیْهَاتَ معنیٰ دَ بَعُدَ یعنی لرې شو. دوئم لفظ دَ دے شَتَّانَ په معنیٰ دَ اِفْتَرَقَ شو۔

## تشریحات

پنځه خبرې معرفت ضروری دے (۱) تحقیقات په اسماء افعالو کښې (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) دَ بعضو جملو ترکیب

**اول بیان تحقیقات** :- په دیکښې درې خبرې معرفت ضروری دے (۱) وجه تسمیه ددے (۲) ذکر دَ اقسامو (۳) اسماء افعال مبنی ولې دی؟

اوله خبره وجه تسمیه دَدے :- دیته اسماء افعال ځکه وائی چه دَ ذات په اعتبار سره اسم دے او دَ معنیٰ په اعتبار سره فعل دے. ځکه چه اسماء جمع دَ اسم ده او ذات دَ دے هم اسم دے اسماء مضاف افعال مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه مرکب اضافی نو ترکیب په لحاظ هم دَ دے نوم دے. اسماء افعال اصطلاحی په لحاظ سره هغه اسماء دی چه په اعتبار دَ وضع ثانی سره په معنیٰ دَ امر حاضر یا دَ ماضی یا دَ مضارع په معنیٰ راځی۔

سوال :- چه تاسو وائی چه دا اسماء افعال دی. نو اسم خو دیته وائی چه دلالت کوی په خپله معنیٰ باندے بغیر دَ ضم دَ کلی اُخری نه او مقترن نه وی یو دَ زمانے ثلاثه نه دَ سره

او فعل خو یته دانی چه دلالت کوی پخپله معنٰی باندے او مقترن وی درے زمانو ته داخود دارد کښے تضاد پیدا شو. بیا څرنګه دوی جمع شو.

**جواب:-** اسم فعل اګرچه ضدین دی. لیکن دلته چه اجماع راغلے ده په اعتبارینو سره۔ اسم ورته وائی په یو اعتبار سره، فعل ورته دانی په بل اعتبار سره. اسم ورته وانی په اوله وضع سره، فعل ورته دانی په وضع ثانی سره۔

دویمه خبره ذکر د اقسامو :- دا په دوه قسمه سره دے عند بعض لکه پخپله نحو میر مُلا هم دانی. دآن بردو قسم است بمعنی امرحاضر بمعنی فعل ماضی. لیکن بعض حضرات وائی چه دا درے دی (۱) بمعنی امرحاضر (۲) بمعنی ماضی (۳) بمعنی فعل مضارع تقسیم په معنیٰ دَ امر چه دے دَ هغے تعداد شپږ وته رسی (۱) رُوَیْدَ بمعنی خُذْ (۲) بَلْهَ بمعنی دَعْ (۳) عَلَیْکَ بمعنی اَلْزِمْ (۴) حَیَّهَلْ بمعنی اِیْتِ (۵) هَا بمعنی خُذْ دا لفظ بیا په درے طریقو سره راځی (هَا - هَاءِ - هَاءَ) په دے ټولو کښے هَاءَ فصیح دے او د واحد. تثنیه او جمع په صیغو کښے استعمالیږی. مثال هَاءَ، هَاءَمَا، هَاؤُمْ لکه چه الله پاک فرمانی: هَاؤُمُ اقْرَءُوْا کِتَابِیَهْ (۶) رُوَیْدَ بمعنی اَمْهِلْ.

تقسیم په معنٰی دَ ماضی چه دے دَ هغے تعداد درے دی (۱) هَیْهَاتَ بمعنی بَعُدَ (۲) شَتَّانَ بمعنی اِفْتَرَقَ (۳) سَرْعَانَ بمعنی اَسْرَعَ.

هغه چه مستق دے په معنٰی دَ مضارع سره درے دی. مثال اول - اَوَّهْ بمعنی اَتَوَجَّعُ (۲) اُفٍّ بمعنی اَتَضَجَّرُ (۳) وی، وا - واها، په معنٰی دَ تعجب سره

دریم بیان اول تحقیق چه دا مبنی ولے دے (جواب) کله چه دوی په معنٰی دَ امرحاضر راځی او په معنیٰ دَ ماضی راځی نو امرحاضر نه دے مګر مبنی دے. ماضی نه دے مګر مبنی دے نو دَدے وجه نه دوی هم مبنی شو.

**دویم بیان ذکر دَ ضوابطو** : اسماء افعال ضابطه دا نهٔ دی حقیقت کښے لکه چه شاعر وائی

نو بود اسماء افعا کن آن شش ناصبند - رُوَیْدَکَ، بَلْهَ، عَلَیْکَ، حَیَّهَلْ باشد وها

لیس رُوَیْدَ باز رافع اسم راهَیْهَاتَ دان - باز شَتَّانَ است وَ سَرْعَانَ یادګیر این بیتها

او س مدخول دَ اسم مفرد دے. او عمل دَ شیرو نصب دے بنابر مفعولیت ځکه چه دوی په معنٰی دَ امرحاضر دَ فعل متعدی سره دے. مثال رُوَیْدَکَ زَیْدًا.

او عمل دَ دَ ړیو نوړ دغه ړ نع دَه په مدخول کښې ځکه چه دوی په معنی د فعل ماضی لازمی دی. مثال دَ دې هَیْهَاتَ زَیْدٌ ـ

**ضابطه** :- اسماء افعال درې قسم شو. اول ابتداءً چه دَ هغې دَپاره وضع دی. مثال شَتَّانَ. دویم قسم منقول دی هغه بیا درې صورت دې (۱) ظرف نه منقول شو مثال مَكَانَكَ - دُوْنَكَ (۲) جار مجرور نه منقول شی مثال عَلَيْكَ، اِلَيْكَ (۳) مصدر نه منقول شی. مثال رُوَيْدَ زَیدًا.

دریم قسم معدول دے. مثال نَزَالِ، تَرَاكِ چه اَنْزِلْ او اُتْرُكْ نه معدول دے.

**ضابطه** :- اسم فعل ته لاړ میږی صیغه دَ واحد دَ پاره دَ جمع مثال (صَهْ) واحد دَ پاره، جمع دَ پاره، تثنیه دَ پاره، مذکر دَ پاره، مؤنث دَ پاره. مگر کله چه کاف خطاب ورسره پیوست شی بیا به دَ مخاطب لحاظ ساتی. مثال عَلَيْكَ، نَفْسَكَ مذکر. عَلَيْكِ نَفْسَكِ. مؤنث دپاره

**ضابطه** :- اسم فعل منقول او معدول همیشه دَپاره امر حاضر په معنٰی کښې وی.

**ضابطه** :- اسم فعل معدول قیاس او غیر محصور وی همیشه فَعَالِ وزن باندې راځی او هر فعل ثلاثی مجرد تام نه راځی او مزید نه نه راځی که راشی نادر او شاذ به وی. مثال دَرَاكِ بمعنٰی اِدْرِكْ

**ضابطه** :- اسم فعل تعریف او تنکیر په اعتبار درې قسم سره دی (۱) همیشه معرفه دی. مثال. نَزَالِ، تَرَاكِ، بَلْهَا (۲) همیشه نکره وی. وَاهًا، وَيْهًا (۳) منون دی نکره دی او غیر منون وی بیا معرفه دے مثال صَهٍ صَهْ

**ضابطه** :- دَ آسماء افعال دَپاره څلور احکامات دی (۱) دا آسماء افعال مضاف نه واقع کیږی چه رُوَيْدَ زَيْدٍ وو ویلې شی ځکه چه دا مصدر دے فعل نه دے (۲) د اسماء افعال معمول نه مقدم کیږی دا سے نشی د ویلے اَنْفُسَكُمْ عَلَيْكُمْ لیکن بیا هم امام کسائی جائز دانی. او دلیل دغه آیات مبارك دانی، كِتَابَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ (۳) دَ هغې جواب کښې منصوب نه دی بلکه مجزوم به وی (۴) هغه دے چه سابق کښې تیر شو چه منون نکره غیر منون معرفه وی

**ضابطه** :- دَ هَا په لغات کښې څلور خبرے موجود دی (۱) هَا - هَاءَا - هَاؤُ ،

هَاؤِیْ - هَاءَا - هَٰٓؤُنَّ (۲) هَاءِ بکسر همزه هَاءِ - هَاءِ یَا - هَاءُوْ - هَاءِیْ،
هَاءِ یَا - هَٰٓؤُنَّ (۳) تاسره چه هَا داشی هَاتَ - هَاتِیَا - هَاتُوْ (۴) همزه مفتوح
سره تثنیه او جمع کښې میم د ې سره اضافه وشی هَاءَ - هَاءُمَا - هَاءُمْ - هَاءُمُنَّ.

## دریم بیان په ذکر دَ امثالو کښې

دُوْنَكَ اللَّبَنَ   بَلْهَ التَّفَكُّرَ فِيْمَا لَايَعْنِيْكَ   عَلَيْكَ الرِّفْقَ / حَيَّهَلَ الثَّرِيْدَ
هَاءَ زَيْدًا   هَاؤُمُ اقْرَءُوْا كِتَابِيَهْ   رُوَيْدَ زَيْدًا   اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا
هَيْهَاتَ زَيْدٌ   شَتَّانَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو   سَرْعَانَ زَيْدٌ   اٰمِيْنَ   مَهْ مَهْ
فقط ، اِلَيْكَ   عَلَيْكَ بِهٖ   هَيْتَ لَكَ   هَلُمَّ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ   دُوْنَكَ زَيْدًا
بَلْهَ زَيْدًا   عَلَيْكَ زَيْدًا   حَيَّهَلِ الصَّلٰوةَ   حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ   عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ
اِمَامَكَ   وَرَاءَكُمْ   يَا سَعِيْدُ فَلَا تَقُلْ لَهُمَا اُفٍّ   هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ
اِلَيْكَ يَا خَالِدُ   اٰمِيْنَ يَا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ   يَا سَلِيْمُ مَكَانَكَ   شَتَّانَ بَيْنَ زَيْدٍ وَعَمْرٍو
عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ   وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ   هَاتِ
كِتَابِيْ   مَهْ يَا زَيْدُ   هَيْهَاتَ يَوْمُ الْعِيْدِ   خُذْ زَيْدًا -

## څلورم ذکر دَ مشق

دُوْنَكَ اللَّبَنَ .

سوال :- اسماء افعال دَ کوم یو قسم نه دے ؟
جواب :- دا دَ اول قسم نه دے چه اسماء افعال په معنی دَ امر حاضر سره وی دا هم
په معنی دَ خُذْ سره دے

سوال :- کله چه اسماء افعال په معنی دَ امر حاضر سره را شی دَ څیځه عمل دے ؟
جواب :- هغه به خپل معمول ته نصب ورکوی بنا بر مفعولیت . او س دلته معنی شوه
دُوْنَكَ اللَّبَنَ ای خُذِ اللَّبَنَ . اللَّبَنَ ورته مفعول به واقع شو .

بَلْهَ التَّفَكُّرِ فِيْمَا لَا يَعْنِيْكَ

**سوال** :- دا دَکوم یو قسم نه دے ؟

**جواب** :- دا هم دَ امر حاضر نه دے۔

**سوال** :- دا څه معنیٰ ورکوی ؟

**جواب** :- دا په معنیٰ دَدع سره دے۔ او التفکر ورته مفعول بهٖ دے یعنی دَعْ اَنْتَ فاعل التفکر معرف باللام ورته مفعول بهٖ شو۔ معنیٰ دا شوه بے فائده څیزکښے فکرکول پریږده سوچ خالص کړه۔

عَلَيْكَ الرِّفْقَ عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ

**سوال** :- دا دَکوم یو قبیلے دَ اسماء افعال نه دی ؟

**جواب** :- دا ټول په معنیٰ دَ امر حاضر یعنی الزم سره دی۔

**سوال** :- او عمل ئے څه دے ؟

**جواب** :- خپل مدخول ته نصب ورکوی بنا بر مفعولیت ځکه چه دا امر دے او امر عمل دا دے چه خپل مدخول ته نصب ورکوی ځکه چه عَلَيْكَ اسم فعل دے په معنیٰ دَ اَلْزِمْ ضمیر په دیکښے مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره هغه فاعل و، وسنته ورته مفعول بهٖ واقع کیږی۔

حَيَّهَلْ اَلثَّرِيْدَ بمعنی اِئْتِ الثَّرِيْدَ - اِيْتِ فعل امر حاضر اَنْتَ فاعل اَلثَّرِيْدَ مفعول بهٖ. نوم تیا اختیار کړه دے هم خپل مدخول ته نصب ورکوی۔

هَا زَيْدًا

**سوال** :- دا جمله دَکوم یو قسم نه ده ؟

**جواب** :- دا هم دَ امر حاضر نه دے

**سوال** :- څه عمل کوی ؟

**جواب** :- خپل مدخول ته نصب ورکوی بنا بر مفعولیت نو هَا زَيْدًا یعنی خُذْ زَيْدًا زَيْدًا دلته مفعول بهٖ واقع شوے دے۔

هَا زَيْدًا - دا هم په دے دلیل وائی کښے بمعنی امر حاضر هَا زَيْدًا خُذْ زَيْدًا دا فعل فاعل شو۔ هَا بمعنیٰ خُذْ امر حاضر اَنْتَ فاعل زَيْدًا ورته مفعول بهٖ شو۔

هَیْهَاتَ زَیْدٌ ای بَعُدَ زَیْدٌ ۔ بَعُدَ فعل او هَیْهَاتَ اسم فعل زَیْدٌ ورته فاعل شو. نو خپل مدخول ته رفع ورکوي بنا بر فاعلیت جمله اسمیه خبریه صورةً او جمله خبریه معنیً
شَتَّانَ زَیْدٌ وَعَمْرٌو ۔ شَتَّانَ اسم فعل په معنیٰ دَ اِفْتَرَقَ زَیْدٌ معطوفٌ علیه وَاوُ حرف عطف عَمْرٌو معطوف دے. معطوف علیه مع المعطوف فاعل شو دَپاره دَ شَتَّانَ
سَرْعَانَ زَیْدٌ ۔ سَرْعَانَ په معنیٰ دَ اَسْرَعَ یا سَرُعَ اسم فعل زَیْدٌ ورته فاعل شو اسم فعل سره دَ فاعل نه جمله اسمیه خبریه صورةً او جمله فعلیه خبریه معنیً.
اٰمین په معنیٰ دَ اِسْتَجِبْ دا امر دے اَنْتَ فاعل مَهْ په معنیٰ دَ اُکْفُفْ ، صَهْ په معنیٰ دَ اُسْکُتْ فقط په معنیٰ دَ اِکْتَفِ ، اِلَیْكَ په معنیٰ تَبَعَّدْ عَنِّیْ ، عَلَیَّ بِهٖ په معنیٰ دَ جِیْءْ بِهٖ هَیْتَ لَكَ هَلُمَّ هَاتِ په معنیٰ اٰتِ یا په معنیٰ اَعْطِ ۔

قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَکُمْ ۔

**سوال :-** دلته فعل اسم معلوم کړی ؟

**جواب :-** قُلْ صیغه دَ امر ده اَنْتَ فاعل دے هَاتُوْا دا دَ جمع صیغه ده مع الهاء تاء نه غلی وی. هَاتُوْا صیغه دَ اسم فعل جمع ده. دَاوُ ورته فاعل دے بُرْهَانَ مضاف دے منصوب دے ځکه چه اوس مفعول به واقع کیږی کُمْ مضاف الیه دے. مضاف مع المضاف الیه مفعول به شو دَ پاره دَ هَاتُوْا . اسم فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله په تاویل دَ مفرد سره مفعول به شو دَپاره دَ قُلْ ۔

دُوْنَكَ زَیْدًا ۔

**سوال :-** د اسماء افعال کوم یو نه دے ؟

**جواب :-** قسم اول نه دے چه امر حاضر په معنیٰ دے. دُوْنَكَ په معنیٰ دَ خُذْ سره دے. اَنْتَ فاعل زَیْدًا ورته مفعول به شو. ځکه چه اول قسم خپل من خول مفرد غواړی او منصوب وی. ځکه زَیْدًا منصوب شو بنابر مفعولیت ۔

بَلْهَ زَیْدًا ۔

**سوال :-** دیکښې مشق څنګه کیږی ؟

**جواب :-** بَلْهَ په معنیٰ دَ دَعْ امر حاضر انت فاعل مابعد مفعول کیږی نو زَیْدًا ورته مفعول به شو ۔

عَلَيْكَ زَيْدًا - اَيْضًا په معنیٰ دَ اَلْزِمْ امر حاضر اَنْتَ فاعل زَيْدًا ورته مفعول به شو. قوله جمله انشائیه جوړیږی حقیقةً -
حَيَّهَلِ الصَّلٰوةَ - داهم دَ امرحاضر نه دے په معنیٰ دَ اِيْتِ الصَّلٰوةَ. اِيْتِ فعل امرحاضر اَنْتَ فاعل الصَّلٰوةَ ورته مفعول به شو.
حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ . په معنیٰ دَ اِيْتِ امر حاضر اَنْتَ فاعل عَلٰى جار الصَّلٰوةِ ورته مجرور . جار مع المجرور تعلق نیسی تر اِيْتِ پورے .
شَتَّانَ بَيْنَ زَيْدٍ وَعَمْرٍو - شَتَّانَ په معنیٰ دَ ماضی سره دے . اِفْتَرَقَ فعل بين مضاف زَيْدٍ ورته مضاف اليه معطوف عليه دَ او حرف عطف عَمْرٍو معطوف، معطوف عليه مع المعطوف مضافٌ اليه شو دَ پاره دَ مضاف. مضاف مع المضافٌ اليه مفعول به شو دَ پاره دَ اِفْتَرَقَ . که بين نه وو واقع شو بيا به فاعل کيدهٔ دَ پاره دَ اِفْتَرَقَ يعنی اِفْتَرَقَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو معطوف عليه مع المعطوف فاعل شو دَ پاره دَ اِفْتَرَقَ

## پنځم بيان دبعضو جملو ترکيب

دُوْنَكَ زَيْدًا ، دُوْنَكَ اللَّبَنَ - دُوْنَكَ اسم فعل په معنیٰ دَ خُذْ دا صيغه دَ امر حاضر ضمير پکښے مستتر چه اَنْتَ دے فاعل دَ دُوْنَكَ شو . او زيدًا او اللبن مفعول به شو .
اسم فعل سره دَ فاعل او سره دَ مفعول به جمله اسميه انشائيه صورةً او جمله فعليه انشائيه معنیً
بَلْهَ التَّفَكُّرَ فِيْمَا لَايَعْنِيْكَ - بَلْهَ زَيْدًا . بَلْهَ اسم فعل په معنیٰ دَ دَعْ امر حاضر ضمير پکښے مستتر چه تعبير ئے کيږی په اَنْتَ سره هغه ئے فاعل زَيْدًا او التفکر مفعول به
اسم فعل سره دَ فاعل او سره دَ مفعول به نه جمله اسميه انشائيه صورةً او جمله فعليه انشائيه معنیً . فی جار ماء موصوله لَايَعْنِيْكَ لَانْ ناهيه يعنيك فعل کاف ضمير مفعول به هُوَ فاعل . فعل مع الفاعل مع المفعول به صله شوه دَ پاره دَ موصول . موصول مع صله مجرور شو دَ پاره دَ جار . جار مع المجرور تعلق نيسی تر مفعول به پورے جمله فعليه انشائيه معنیً جمله اسميه انشائيه صورةً -
عَلَيْكَ الرِّفْقَ ، عَلَيْكَ زَيْدًا ، عَلَيْكَ اسم فعل په معنیٰ دَ اَلْزِمْ ضمير پکښے مستتر چه تعبير ئے کيږی په اَنْتَ سره هغه ئے فاعل دَ عَلَيْكَ شو . زَيْدًا او الرِّفْقَ مفعول به شو

اسم فعل مع الفاعل مع المفعول بہ جله اسمیه انشائیه صورةً او جمله فعلیه انشائیه معنیً شو

حَیَّهَل الثَّرِیْدَ - حَیَّهَل الصَّلٰوۃَ - حَیَّهَل اسم فعل په معنیٰ دَ اِئْتِ امر حاضر ضمیر پکښې مستتر چه تعبیر ئے تربنه کیږي په اَنْتَ سره هغه ئے فاعل شو. الصَّلٰوۃَ او الثَّرِیْدَ دواړه مفعول بہ شو. اسم فعل مع الفاعل مع المفعول بہ جمله اسمیه انشائیه صورةً او جمله فعلیه انشائیه معنیً.

هَا زَیْدًا - هَاؤُمُ اقْرَءُوْا کِتَابِیَهْ - هَا په معنیٰ دَ خُذْ امر حاضر ضمیر پکښې مستتر چه تعبیر ئے کیږي په اَنْتَ سره زَیْدًا دا ته مفعول بہ شو. هَاؤُمُ په معنیٰ خُذْ امر حاضر اَنْتُمْ دا ته فاعل اِقْرَءُوْا فعل اَنْتُمْ فاعل کتاب مضاف یٰ ضمیر مضاف الیه مضاف مع المضاف الیه مفعول بہ شو دَ پاره دَ فعل. فعل مع الفاعل مع المفعول بہ جمله اسمیه انشائیه صورةً او جمله فعلیه انشائیه معنیً

هَلُمَّ اِلَیْنَا - اَمْهِلْهُمْ رُوَیْدًا - هَلُمَّ اسم فعل په معنیٰ دَ اِئْتِ امر حاضر معلوم سره دے ضمیر پکښې مستتر دے چه تعبیر ئے کیږي په اَنْتَ سره هغه ئے فاعل الیٰ حرف جار نا ضمیر مجرور. جار مع المجرور دا ظرف لغو تعلق نیسي تر هَلُمَّ پورے. هَلُمَّ اسم فعل مع الفاعل مع المتعلق چه اِلَیْنَا دے جمله فعلیه انشائیه.

اَمْهِلْ - امر حاضر معلوم انت فاعل هُمْ دا ته مفعول بہ رُوَیْدًا دا ته مفعول مطلق شو. جمله فعلیه انشائیه معنیٰ جمله اسمیه صورةً مفعول مطلق ځکه چه دا مصدر شو

رُوَیْدَ زَیْدًا ترکیب هم تقریبًا همدغه سابق ترکیب غوندے دے جمله فعلیه انشائیه معنیٰ جمله اسمیه صورةً.

هَیْهَاتَ زَیْدٌ - هَیْهَاتَ اسم فعل په معنیٰ دَ بَعُدَ فعل ماضی معلوم زَیْدٌ دا ته فاعل دے ځکه چه فعل فاعل غواړي. اسم فعل مع الفاعل جمله اسمیه خبریه صورةً جمله فعلیه خبر یه معنیٰ

شَتَّانَ زَیْدٌ وَعَمْرٌو - شَتَّانَ اسم فعل په معنیٰ دَ اِفْتَرَقَ زَیْدٌ معطوف علیه وَاو حرف عطف عَمْرٌو معطوف. معطوف علیه مع المعطوف فاعل شو دَ پاره دَ شَتَّانَ شَتَّانَ اسم فعل مع الفاعل جمله اسمیه خبریه صورةً او جمله فعلیه خبریه معنیً

سَرْعَانَ زَیْدٌ - سَرْعَانَ اسم فعل په معنیٰ سَرُعَ زَیْدٌ دا ته فاعل شو. فعل

مع الفاعل جمله اسميه خبريه صورةً اوجمله فعليه خبريه معنیً
آمِیْنَ - په معنیٰ دَ اِسْتَجِبْ دَ امرحاضر معلوم صیغه ده ، اَنْتَ فاعل اَلدُّعَاءَ وړته
مفعول بِه شو ـ جمله فعليه انشائيه امريه ـ
صَهْ - په معنیٰ دَ اُتْرُكْ دے ، اُتْرُكْ فعل امرحاضر معلوم اَنْتَ فاعل مَابَيْنَنَا
وړته مفعول به ساد با سے جمله فعليه انشائيه امريه ـ
مَهْ ـ هم په معنیٰ دَ اُتْرُكْ یو ترکیب شو جمله فعليه انشائيه امريه مابقيه وړباندے
قیاس کړئ ـ فتفكر ولا تكسل ولا تكن غافلاً ـ

## پنځم اسمار اصوات چون اُحْ اُحْ و اُفْ و بَخْ وَنَخْ و غَاقَ و وَیْ

ترجمه :- پنځم قسم دَ مبنیاتو آسماء اصوات دی لکه اُحْ اُحْ او بخ اونخ اوغاق

## تشــــریحات

د رے خبرے معرفت ضروری دے (۱) اولنخبره تحقیقات (۲) اقسام دَ اسماء اصوات
(۳) دفع دَ اعتراض ـ

**اوله خبره تحقیقات** :- پنځم قسم د اسماء غیرمتمکن نه هغه اسماء اصوات دی
اسماء اصوات هم مرکب اضافی دی ـ پشان دَ اسماء افعال غوندې ، اسماء خو جمع
دَ اسم ده ، اصوات جمع دَ صوت ده ، صوت آواز ته وئیلے شی ـ نو آسماء اصوات
هغه الفاظ دی چه په هغے سړے آواز نقل کولے شی ـ یاپرے آواز کولے شی چار پایانو ته
نو حقیقت دا دے چه آسماء اصوات یو آواز دے چه دَ خوشحالئ او یا دَ غم وخت کښے
دَ انسان دَ خلے نه اوځی ـ یا دَ یو ځناور آواز نقل کولو وخت یا دَ یو ځناور ته دَ آواز کولو
په وخت وی ـ مثل دَ خوشحالئ په وخت ـ لکه عرب خلق وائی (بَخْ ـ بَخْ) په وخت
دَ خوشحالئ کښے غیر دَ عربو نه په بله ژبه سړے هم کیږی ـ دغه آوازونه مثلاً پښتو کښے

(واه واه) فارسیوان دائی (تشکور) ښتنانه دائی په وخت دخوشحالۍ دویرخه
ډیرخه) انګریزان په وخت دخوشحالۍ کښے وائی (ګیډ Good) دغم په وخت کښے
آواز مثلاً (اُف - اُوه - هائے - وئ)
دځناورو آواز نقل کولو مثال (غاق - غاق - میاو) ځ هغه آواز دے چه کوله شی
د او بن کینولو ته (ککب - ککب) د شرڅکے آواز -

دویم قسم د اسماء اصوات | آسماء اصوات په دوه قسمه سره دی. یو د انسانانو آواز دے. او بل د عام حیوانانو آواز دے -

اول هغه آواز چه جاری کیږی په لسان د انسان کښے په دوه قسمه سره دے
یو قسم منقوله او بل قسم غیرمنقوله . منقوله بیا په دوه قسمه سره دے. یو قسم هغه
دے چه نقل شوی وی باب د مصادرو ته او مصدر ته وس سره لازم وی لکه واهاً
شو. نو د دے قسم حکم په شان د مصدر دے. دویم قسم هغه دے چه نقل شوی وی
باب د مصادرو ته او مصدریت وس سره لازم نه وی. بلکه اسم فعل ګرځیدلے وی
لکه (صَهٔ) شو. نو کوم آواز چه د خوشحالی وخت کښے خارجیږی د هغے مثال سابق
کښے تیر شو.
او آسماء اصوات غیرمنقوله په درے قسمه دی. یو قسم هغه دی چه جاری کیږی
په لسان د انسان کښے عند عروض المعنی . مثال د دے د په وخت کښے (وئ یا نَنْدُم
او وَخ) لفظ شو. عند تعجب . (دویم قسم) هغه دے چه جاری کیږی په لسان د انسان
کښے د پاره د حکایت . په دے شان سره چه صادر کړی انسان د خپل نفس نه یو آواز
چه مشابه وی د صوت غیر . لکه غاق شو کما مر. (دریم) هغه آواز دے چه جاری
کیږی په لسان د انسان په وخت د شړلو د حیوان. مثال ځ وحشه وغیره الفاظ
دلته مقصود د اصواتو نه غیر منقوله دی نه منقوله -

دویم بحث آسماء اصوات ولے مبنی دی ؟ (اول جواب) هرکله چه دلته
مقصود د آسماء اصواتو نه غیرمنقوله
شو . هغه درے واړه قسمونه د مبنی دی . نو آسماء اصوات ځکه مبنی شو.
(دویم جواب) دا آسماء اصوات مفردات دی یا د مفرداتو نقل دی. د دے وجه نه دا

مبنی دے . ځکه چه هر اسم مفرد چه پر ترکیب کښے واقع نه وی نو مبنی دے . مګر صرف اسماء اصوات دی چه که په ترکیب کښے واقع شی نو بیا هم مبنی وی ځکه چه دا به نقل په طور سره په ترکیب کښے واقع وی پخپل ذاتی طور سره .

(دریم جواب) اسماء اصوات ځکه مبنی دی چه دوی د وضع د واضع نه شاغلی دی په دوه حروفو سره لفظا او حروف خو مبنی دی نو دوی هم مبنی شو .

> ظرف زمان چوں اِذْ ـ اِذَا و مَتٰی و کَیْفَ و اَیَّانَ وَاَمْسِ و مُذْ و مُنْذُ و قَطُّ و عَوْضُ و قَبْلُ و بَعْدُ وقتیکه مضاف باشند و مضاف الیہ محذوف منوی باشند
> وظرف مکان چوں حَیْثُ و قُدَّامُ و تَحْتُ و فوقُ وقتیکه مضاف باشند و مضاف الیه محذوف منوی باشند

ترجمه :۔ شپږم قسم د هغه اسماؤ غیر متمکنو نه اسماء ظروف دی او هغه اسماء ظروف په دوه قسمه دی . یو د هغے نه ظرف زمان دے . دویم د هغے نه ظرف مکان . مثال . د هغه اسم زمان لکه اِذْ د اِذَا په معنیٰ د هغه وخت سره . او مَتٰی په معنیٰ د کوم وخت سره او کَیْفَ په معنیٰ د څرنګه سره . او اَیَّانَ په معنیٰ د کله سره او اَمْسِ په معنیٰ د پرون سره . مُذْ او مُنْذُ په معنیٰ د اول د وخت سره . او قَطُّ او عَوْضُ په معنیٰ د هیڅکله سره . او قَبْلُ په معنیٰ د مخکښے سره . او بَعْدُ په معنیٰ د روستو سره . دا هغه وخت مبنی وی چه مضاف وی او مضافٌ الیه د دے محذوف وی او په نیت کښے باقی وی .

دویم نمبر ظرف مکان دے . مثال لکه حَیْثُ او قُدَّامُ او تَحْتُ او فَوْقُ دا هله مبنی وی چه کله دوی مضاف وی او مضافٌ الیه د دوی محذوف وی او په نیت کښے باقی پاتے وی . نو د دے وجه دا مبنی دے . که دا سے نه وی بیا خو ښکاره خبره ده معرب دے .

## تشریحات

پنځه خبرے معلومیت ضروری دے (۱) تحقیقات (۲) ذکر د ضوابطو (۳) ذکر د مثالو (۴) ذکر د مشق

(۵) د بعضو جملو ترکیب -

اول بیان تحقیقات - دلته څلور خبرې معرفت ضروری دے (۱) معنی لغوی او معنی اصطلاحی دَ ظروف (۲) بیان دَ معانیو دَدوی (۳) بیان دَ اقسامو دَدوی (۴) بیان دَ دفع اعتراض .

ظروف جمع دَ ظرف دَه - او ظرف په لغة کښې هغه شئ ته وئیلے شی چه بل شئ پکښې کیښودلے شی . یا ظروف جمع دَ ظرف دَه . ظرف لوښی ته وائی . مراد ترینه دَ کاد کولو وخت یا ځای دَ کاد کولو دَپاره دَ دے وجه نه دا ظرف په دوه قسمه دے . یو ظرف زمان دے او بل ظرف مکان دے . دظرف زمان الفاظ اګرکه ډیر دی . لیکن دلته صرف (۹) الفاظ مصنف" ذکر کړی دی . ظرف زمان هغه الفاظ دی چه دلالت کوی په زمانه دَ دقوع دَ فعل باندے . او ظرف مکان هغه الفاظ دی چه دلالت کوی په ځاے دَ وقوع دَ فعل باندے

## دَ آسماءِ ظروف معانی

اِذْ - معنی کوم وخت . دا اِذْ داخلیږی په ماضی اګرچه په مضارع هم داخلیږی مثال - اِذْ قَالَ رَبُّكَ - کوم وخت چه ووئیل رب ستا - نو جمله اسمیه باندے داخلیږی او جمله فعلیه باندے هم داخلیږی . مثال - اِذْ قَامَ زَيْدٌ - اِذْ زَيْدٌ قَامَ . جِئْتُكَ اِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ . وَاِذِ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ او کله مفاجات هم ود کوی . کله چه بَيْنَ وبَيْنَمَا په جواب کښې واقع شی . مثال بَيْنَا اَنَا جَالِسٌ اِذْ قَبِلَ زَيْدٌ -

اِذَا - معنی هم کوم وخت دے داخلیږی په مستقبل باندے اګرچه بعضے او قاتو کښې په ماضی هم داخلیږی . لیکن بیا هم دَ دے ماضی معنی به په مستقبل سره وی . مثال - اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ - او کله استمراد دَ زمانے دَپاره وی . مثال وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ . کله مفاجات په معنی سره هم راځی . مثال خَرَجْتُ فَاِذَا السَّبُعُ وَاقِعٌ . ماضی معنی - وَالصُّبْحِ اِذَا اَسْفَرَ . قسم دی په صبا کوم وخت چه هغه رڼا شی

مَتٰی - دا دَ شرط دَپاره هم راځی او دَ استفهام دَپاره هم راځی . په ماضی هم داخلیږی او په مضارع هم داخلیږی . مَتٰی استفهام معنی دَه . کوم وخت . مثال مَتٰی تُسَافِرُ اُسَافِرُ - او متی شرطیه معنی دَه څه وخت لکه مثال - مَتٰی تَذْهَبْ اَذْهَبْ -

کَیْفَ - پہ معنیٰ دَ حال او کیفیت تپوس کول دی . مثال لکه کَیْفَ اَنْتَ . ای فِیْ اَیِّ حَالٍ اَنْتَ - کَیْفَ حَالُكَ -

اَیَّانَ - پہ معنیٰ دَ کله راځی . او معنیٰ دَ مستقبل دپارہ راځی . او استفهام دے . مثال اَیَّانَ یَوْمُ الدِّیْنِ - اَیَّانَ مُرْسٰهَا -

فائدہ :- اَیَّانَ زمان مستقبل سرہ خاص دے او امورِ عظیمه کښے مستعملیږی . او متیٰ عام عظیمه او حقیر دواړو کښے مستعملیږی او کله شرط جازمه دَ پارہ هم راځی . مثال اَیَّانَ تَجْهَدُ - اَجْتَهِدُ -

اَمْسِ - پہ معنیٰ دَ پرون نه تیرہ ورځ . دا راځی دَ پارہ دَ زمانے ماضی . مثال لکه : جَاءَ زَیْدٌ اَمْسِ - اَمْسِ کښے دوہ حالته راځی . یو حالت معرفه دے مبنی علی الکسرہ پہ معنیٰ کښ شته ورځ . دغه وخت کښے دا پہ منصوب محلاً وی بنا بر ظرفیت . او کله کله مجرور محلاً او کله فاعل او کله مفعول . او بعضے ثماث هغه ته غیر منصرف وائی . مثال مَا رَاَیْتُهٗ اَمْسِ او معرفه عدل پکښے دے نو دا معدول دے اَلْاَمْسِ نه -

دویم حالت - الف لام داخل وی هُوَ الْاَمْسُ پہ بالاجماع معرب وی مراد تیرہ شوے ورځ

مُذْ مُنْذُ - دا کله راځی پہ معنیٰ دَ اول مدے دَ فعل سرہ یعنی دلالت کوی پہ ابتداء دَ هغه زمانے چه شروع دَ فعل ترینه شوی وی . نو مقصد دا شوچه دَ متیٰ پہ جواب راشی نو اول مدے معنیٰ دے مثال - مَتٰی مَا رَاَیْتَ زَیْدًا - جواب مَا رَاَیْتُهٗ مُذْ یَوْمُ الْجُمُعَةِ او کله جمیع مدت دَ پارہ راځی خو کله چه دَ دے پہ جواب دَ کَمْ کښے راشی . مثال کَمْ مُدَّتًا مَا رَاَیْتَ زَیْدًا جواب مَا رَاَیْتُهٗ مُنْذُ یَوْمَانِ -

فائدہ - پہ مُذْ مُنْذُ کښے شدید اختلاف دے چه دا اسم دے او که حرف جارہ جواب - دیکښے دوه صورتونه دی (۱) دوئی سرہ اسم مجرور وی متصل وی . بیا دوی حروف جر کرځی . اګر که زمانه دَ دے ماضی وی دا بیا مِنْ پہ معنیٰ وی او که زمانه حال وی دغه وخت بیا دَ فِیْ پہ معنیٰ وی اګر که معدود وی بیا دَ مِنْ او اِلٰی پہ معنیٰ وی مثال مَا رَاَیْتُهٗ مُذْ یَوْمَ الْخَمِیْسِ . کچرے دَ دوی نه بعد اسم مرفوع وی مُذْ یَوْمُ الْجُمُعَةِ مُنْذُ یَوْمَانِ کچرے جمله اسمیه او فعلیه بانسے داخل وی بیا دغه دواړه صورتونه بالاتفاق اسم دے . لیکن بصریین حضرات دغه نه مبتداء او ما بعد ته خبر وائی .

اوکوفین حضرات هغوئ ته ظروف وائی دا او وسکوی. او بل جمع ته مضاف وائی. او بعضے الفاظ ددے ما تن نه نور هم په ظروف زمان کښے داخل دی. مثال قَطُّ په معنی دَ کله او راضی دَپاره دَماضی منفی تاکید دَپاره راځی. مثال مَا اَكَلَ زَيْدٌ فَاكِهَةً قَطُّ مَا ضَرَبْتُهُ قُطُّ ۔

**عَوْضُ** ۔ په معنی دَهرکلہ دَا دَ مستقبل منفی تاکید دَپاره راځی. مثال لَا اَضْرِبُهُ عَوْضُ او استغراق نفی فائده ورکوی. مثال لَا اَتْرُكُ الصَّلٰوۃَ عَوْضُ ۔

**لَمَّا** ۔ دا هم ظرف زمان ماضی دَپاره راځی. په معنی کوم وخت دا دَ شرط اوجزاء تَقْتَضَاء کوی. دا فعل ماضی دی

**رَيْثَ** ۔ دا هم ظرف زمان منقول عن المصدر دَپاره دے رَاثَ يَرِيْثُ رَيْثًا مواد ترینه مقدار دی ۔ اَنْتَظَرْتُهُ رَيْثَ صَلّٰى اَىْ قَدْرَ صَلَاتِهٖ اکثر دَ استعمال په مَا او اَنْ سره وی. کله کله دا دوه نه مجرد هم استعمالیږی. مثال اَنْتَظِرْ رَيْثُمَا اَحْضَرَ ۔ دَيْثَ اَنْ اُصَلِّيَ ۔ وقف ريث صلينا

**اَلْاٰنَ** ۔ ظرف زمان موجوده وخت دَپاره راځی. ظرف زمان ماضی دَپاره.

**بينا بينما** ۔ اصل کښے بين دَ دوی نه بعد اکثر اوقات جله اسمیه راځی اوقلیل وخت فعلیه مثال ساعة الجمعة بين خروج الامام دا نقضاء الصلوٰة

## ظرف مكان دَپاره امثال

---

اَيْنَ اَنّٰى دوه معنی دَپاره راځی ۔ (۱) استفهام مثال ۔ اَيْنَ تَذْهَبُ اَذْهَبُ اَنّٰى تَقْعُدُ (۲) شرط جازم دَپاره ۔ اَنّٰى تَجْلِسْ اَجْلِسْ ۔ اَنّٰى تَقْعُدْ اَقْعُدْ ۔ فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ اَىْ كَيْفَ شِئْتُمْ ۔

**حَيْثُ** ۔ دا ظرف مكان مبنى على الضم دے ۔ همیشه جمله دَپاره مضاف کیږی لیکن مفرد طرف ته مضاف قلیل وی. مثال اَلَا تَرٰى حَيْثُ سُهَيْلٍ طَالِعًا ۔

**هُنَا** ۔ **ثَمَّ** ۔ دا اشارت مكان دَپاره راځی (هُنَا) مکان قریب او (ثَمَّ) مکان بعید کله کله دوئی تا نی تا نیث هم لاحق کیږی. مثال فَمَضَيْتُ ثَمَّةَ ۔ قلت لا يَعْنِيْنِيْ

**مع** ۔ په ظرف مکان او ظرف زمان اجتماع دَپاره راځی. مثال اَنَّ مَعَكَ جِئْتُ مَعَ الْفَجْرِ

داهیشه معرب لازم النصب وی .

او قَبْلُ او بَعْدُ قُدَامُ خَلْفُ فَوْقُ تَحْتُ اَمَامُ وراء عَلُ

دَدے دپاره څلور حالتونه دی . درې حالاتو کښے معرب دے یو حالت کښے مبنی

اول حالت مضاف الیه مذکور وی (۲) حالت مضاف محذوف وی او متکلم نیت او قصد

کښے باقی نه وی (۳) حالت مضاف الیه محذوف وی او د متکلم نیت او قصد کښے لفظ

باقی وی نو دغه درې واړه حالتو کښے معرب وی (۴) حالت مضاف الیه محذوف وی

او د متکلم په اراده او نیت کښے فقط معنی باقی وی . دغه حالت کښے بیا مبنی وی . او س

قَبْلُ او بَعْدُ هیشه دپاره مضاف وی .

دُوْنَ - ظرف مکان دے او فوق سره تضاد دے . مثال هو دُوْنَهٗ او کله کله دے په

اَمَامَ او وراء په معنی هم راځی . او کله کله په معنی د حقیر او خسیس راځی . مثال

هٰذَا شَیْءٌ دُوْنٌ دغه وخت کښے بیا ظرف نه وی .

لَدٰی و لَدُنْ - دغه دواړه الفاظ ظرف زمان او ظرف مکان دپاره . او س

کله چه لَدٰی سره ضمیر متصل راشی نو دغه الف بیا یاء سره بدلیږی . مثال لَدَیْهِم

لَدَیْهِم - لَدَیْنَا

دریم بحث په اقسامو کښے - نو د اول سر نه واخلے تر آخره پورے نو ظرف په دوه قسمه

تقسیم شو . یو ظرف زمان دے او بل ظرف مکان دے .

څلورم بحث دفع د اعتراض - اعتراض وارد یږی چه ظروف ولے مبنی دی ؟

جواب - اِذْ حُکم مبنی دے مشابهت لره حرف سره . حرف خو د دوو حرفینو نه راځی که

حَلْ شو . نو په دیکښے هم دوه حرفه دی چه اِذْ دے - اِذَا حکم چه دا متضمن دے معنی

د حرف شرط لره . نو مشابه شو حرف سره . نو اسم چه مشابه شی حرف سره نو مبنی کیږی

مَتٰی - استفهامی مبنی دے . حکم چه دا متضمن دے معنی د حرف استفهام لره . نو

مشابه شو د حرف سره . او متی شرطی هم مبنی دے . حکم چه دا متضمن دے معنی د حرف

شرط لره نو دے هم مشابهت پیدا شو حرف سره کَیْفَ حکم مبنی دے چه دا هم متضمن دے

معنی د حرف استفهام لره . نو کوم اسم چه دا رنګ وی نو هغه مبنی کیږی نو کیف هم مبنی شو

[illegible] مبنی دے چه دا متضمن دے معنی د حرف استفهام لره اَمْسِ حکم مبنی دے چه

دا په معنیٰ دَ ماضی سره دے . نو مشابه پیدا شوه مبنی اصل سره نو مُنْذُ او مُذْ ظرفی ځکه مبنی دے چه دا مشابهت لري مبنی اصل سره چه مُذْ مُنْذُ حرفی سره قَطُّ - دا ځکه مبنی دے چه مشابه دے حرف سره . ځکه چه دا متضمن دے معنیٰ دَ لام استغراق لره او هغه حرف دے مبنی دُو. نو دا هم مبنی شو عَوْضُ ځکه مبنی دے چه دا متضمن دے معنیٰ دَ لام استغراق لره قَبْلُ وَبَعْدُ دا ځکه مبنی دی چه مضاف الیه محذوف وی او نیت کښے باقی وی . نو احتیاج پیدا شو . نو احتیاج امارات دی مبنی کی نو قَبْلُ بَعْدُ هم په یو حالت کښے مبنی شو ځکه نے په ضمن دَ مبنیا تو کښے ذکر کړه .

لَمَّا جزاء او شرط تقاضا کوی . نو دا دواړه علامات دَ مبنی دی نو ځکه مبنی شو دَ مشابهت دَ وجه نه اَلْاٰنَ ماضی دَ پاره راځی نو ماضی خو مبنی اصل دُو دا هم مبنی شو اَیْنَ اَنّٰی دواړه استفهام دَ پاره راځی . نو استفهام خو دَ مبنیا تو علامات دی . ځکه دوی هم مبنی شو دَ مشابهت دَ وجه نه . ما بقیه ورباندے قیاس کړئ . په دقة نظر سره اگرچه مونږ امثال دیر ذکر کړی دی دَ پاره دَ وضاحت ( فتفکر )

## دویم بحث دَ اسماء ظروف په ضوابطو کښے

اول ضابطه - په مُذْ او مُنْذُ کښے دا ده چه یو مُذْ مُنْذُ حرفی دی او بل مُذْ مُنْذُ اسمی دی. فرق دا دے چه که مُذْ او مُنْذُ نه بعد اسم واقعه مرفوع دا علامه دَ مُذْ مُنْذُ اسمی دے. او که اسم واقعه مجرور وی دا علامه دَ مُذْ مُنْذُ حرفی دے .

۲- ضابطه - دا همیشه جملے طرف ته مضافٌ وی . او کله کله جمله مضافٌ الیه حذف وی . او دَ هغه عوض کښے تنوین ذکر وی . مثال یَوْمَئِذٍ . او کله کله مضافٌ الیه واقع کیږی . مثال بَعْدَ اِذْ هَدَیْتَنَا او کله کله مفعول به یا دَ هغے بدل جوړیږی . مثال اِذْ کُنْتُمْ قَلِیْلًا . اِذِ انْتَبَذَتْ (۳) حالت کښے راځی - (۱) اِذَا - حالت اچانک دَ پاره ۲- کله محض ظرفیت دَ پاره . مثال وَالَّیْلِ اِذَا یَغْشٰی (۳) مفاجات دَ پاره راځی خو ما بعد به مبتدا وی . مثال خَرَجْتُ فَاِذَا زَیْدٌ فِی الْبَابِ .

۳. ضابطه - هغه ظروف چه جملے طرف ته یا اِذْ طرف ته مضاف وی دا به مبنی بر فتحه لوستلے شی . مثال یَوْمَ یَنْفَعُ الصّٰدِقِیْنَ . یَوْمَئِذٍ - حِیْنَئِذٍ .

ضابطه ـ لفظ دَ مثل او غیر کله چه مَا او یَا اَنْ طرف ته مضاف وی دا به هم مبنی برفتحه لوستلے شی . مثال مَا اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ . غَيْرَ اَنْ ضَرَبَ زَيْدٌ .

حیث ضابطه ـ ظرف مکان مبنی برضمه او لازم الاضافت دے . او اکثر وخت جمله طرف ته مضاف کیږی . مثال اِجْلِسْ حَيْثُ زَيْدٌ جَالِسٌ ـ قُمْ حَيْثُ قَامَ زَيْدٌ ـ

ضابطه ـ قَبْلُ بَعْدُ تَحْتُ فَوْقُ قُدَّامُ خَلْفُ مبنی برضمه دی . کله چه دَ هغوی محذوف وی . او نیت ئی کښے مقصود وی . مثال سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِیْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ای مِنْ قَبْلِ هٰذَا الزمان ـ هٰذا الزمان مضافٌ الیه دے دَ پاره دَ قَبْلُ . دَ دوی اکثر قانون په تحقیقاتو کښے بیان شوے دے .

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

مَتٰى تَذْهَبُ اَذْهَبْ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ جَاءَنِیْ زَيْدٌ مِنْ قَبْلِ وَمِنْ بَعْدِ لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ اَىْ مِنْ قَبْلِ كُلِّ شَيْءٍ اٰتِيْكَ اِذَا الشَّمْسُ طَالِعَةٌ بَلْ اَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ لَا اُعْطِيْكَ دِرْهَمًا عَوْضُ اَنّٰى تَقْرَأُ اَقْرَأُ حَيْثُكَ اَمْشِیْ لَا تَمْشِ قُدَّامَ زَيْدٍ لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ مَا رَاَيْتُكَ قَطُّ اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ اٰتِيْكَ اِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ كَيْفَ حَالُكَ كَيْفَ اَنْتَ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ جَاءَنِیْ زَيْدٌ اَمْسِ مَا رَاَيْتُهٗ مُنْذُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ مَا رَاَيْتُهٗ مُذْ يَوْمَيْنِ مَا ضَرَبْتُهٗ قَطُّ اَنَا حَاضِرٌ مِنْ قَبْلُ يعنى مِنْ قبلك مَتٰى تَجِيْئُنَا بَعْدُ يَعْنِیْ بَعْدَ هٰذَا اِجْلِسْ حَيْثُ زَيْدٌ جَالِسٌ يعنى اِجْلِسْ مَكَانَ جُلُوْسِ زَيْدٍ قَامَ النَّاسُ قُدَّامُ وَخَلْفُ يعنى قُدَّامَهٗ وَخَلْفَهٗ جَلَسَ زَيْدٌ تَحْتُ وَصَعِدَ عَمْرٌو فَوْقُ اى تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَفَوْقَ الشَّجَرَةِ اَلْمَالُ عِنْدَ زَيْدٍ اَيْنَ تَذْهَبُ اَنّٰى تَذْهَبُ اَذْهَبُ اَلْمَالُ لَدٰى زَيْدٍ دا لَدٰى عِنْد په معنی استعالیږی خو دَ عِنْدَ معنٰی عام ده . او دَ لَدٰى او لَدُنْ معنٰی خاص ده نَصَرَ تُكَ اَمْسِ ـ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ كَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ مَلَكْتُ كَذَا وَكَذَا دِرْهَمًا اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ جَاءَ زَيْدٌ قَبْلَكَ رَاَيْتُ زَيْدًا قَبْلَ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مَرَرْتُ مُرَاقَبَنْ مَا رَاَيْتُهٗ بَعْدُ

# ثلورم بحث دَ مشق

سوال :- مَتٰى تَذْهَبْ اَذْهَبْ . مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ

دا دَ آسماء ظروفو نه دی او کنه ؟

جواب :- دی

سوال :- آسماء ظروف خو ډیر دی داد کوم یو نه دی ؟

جواب :- آسماء ظروف خو شمار کښې ډیر دی په اقسام کښې . اقسام کښې خو صرف (۲) دی

دا دواړه مثاله دَ ظرف زمان نه راغی ؟

سوال :- بیا ظرف زمان کښې دَ کوم یو نه دے ؟

جواب :- ظرف زمان کښې دادَ شرط او استفهام نه . مثالونه ئے دادی مَتٰى تَذْهَبْ اَذْهَبْ دا شرط شو . مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ دا دَ استفهام مثال شو.

جَاءَنِىْ زَيْدٌ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ

سوال :- دا مذکوره جمله دَ ظروفو نه ده او کنه ؟

جواب :- د ظروفو نه ده .

سوال :- دا دکوم قسم نه ده ؟

جواب :- ظرف زمان دے .

سوال :- ظرف زمان کښې دا دکوم قسم نه دے ؟

جواب :- دا دَ هغه قبیلې نه دے چه مضافٌ الیه دَدے حذف وی او نیت باقی وی نو بیا خو مبنی شو . دویم قسم جمله کښې مضافٌ الیه ای حرف تفسیر ره ذکر کړه نو معرب شو . که حرف تفسیر ورسره منقطع کړے . بیا مبنی کرځی له وجه دَ احتیاط نه

اٰتِيْكَ اِذَا الشَّمْسُ طَالِعَةٌ

سوال :- دا دکوم یو قسم نه دے ؟

جواب :- دا هم ظرف زمان دے .

سوال :- ظرف زمان کښې دَ کوم یو نه دے ؟

جواب :- اِذَا حرف شرط نه دے .

سوال :- اِذَا خواستعمالیږی ور وسته دَهغی نه جمله وی دلته جمله شته ؟
جواب :- اَلشَّمْسُ طَالِعَةٌ ور ته جمله ده .
سوال :- دا کومه یوه جمله ده . جمله اسمیه ده او که فعلیه ؟
جواب :- جمله اسمیه ده ځکه چه اَلشَّمْسُ باندے الف لام داخل دے او په طَالِعَةٌ باندے تنوین داخل دے دا دواړه علامات دَ اسم دی .
بَلْ اَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ
سوال :- دا ظرف زمان دے او که ظرف مکان ؟
جواب :- دا ظرف مکان دے .
سوال :- بیا ظرف مکان تقریبًا دا مخی دَ لَدٰی په مقام بیا دَوی میغه کښے فرق دے ؟
جواب :- لَدٰی کښے شرط وجود ضروری دے چه دا شئ به دے سره موجود وی او عِنْدَ کښے عام ور سره دے یا په کور کښے .
اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ .
سوال :- دا څه دے په دے ظرو فو کښے ؟
جواب :- دا ظرف زمان دے .
سوال :- زمان کښے کوم یو نه دے ؟
جواب :- استفهام نه دے . یعنی کله به وی قیامت ورځ ، ته به وائی چه دا کافران دَ قیامت ورځ ته ډیر خوشحاله دی . څه خیرات کوی خو نه دے چه خوشحالی کوک داد تو تی په ځای کاد کولو په نسبت ذکر کوی . قیامت دَ مخه دو ورځ قوم دے . سوچ او کړی خطا نشی دَ نکی دَ قیامت نه
اِلٰـهٌ مَّعَ اللّٰهِ
سوال :- دا ظرف زمان دے که ظرف مکان ؟
جواب :- دا ظرف مکان دَ یارہ مخی . ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ اَیَا شته خدائ پاک سره بل خدائ ؟ جواب نے لا دے (نشته) استفهام انکاری دے .
لَا اُعْطِيْكَ دِرْهَمًا عَوَضْ
سوال :- دا په ظرو فو کښے څه واقع شوی دے ؟

جواب :- لَا دَیارَ دَ نفی أُعْطِیْكَ صیغه دَ واحد متکلم افعال قلوب . کاف مفعول اول دِرْهَمًا مفعول ثانی عَوْضُ مبنی برضمه په معنیٰ دَ هرگز نو دَ مستقبل دَ نفی استغراق را غے . مثلاً دَدے لَا اَتْرُكُ صَلٰوةً عَوْضُ نو په ظروفو کښے دا ظرف زمان دے . او په ظرف زمان کښے مستقبل کښے استعمالیږی . بیا مستقبل کښے په استغراق کښے استعمالیږی ځکه چه ځکښے لام دَ نفی معنوی شی بیا و رو سته دے سره نور هم مضبوط شی . سوچ پکښے اوکړئ . ما بقیه امثال ورسره تا سو ذکر کړئ .

اَنّٰی تَقْرَءُ اَقْرَءُ

سوال :- دا په ظروفو کښے څه واقع دے ؟

جواب :- دا استفهام په معنیٰ دے خو دا ظرف مکان دے ځکه چه دَ اَنّٰی کَیْفَ په معنیٰ سره دے هغه استفهام دی .

جِئْتُكَ اَمْسِ جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَمْسِ نَصَرْتُكَ اَمْسِ

سوال :- دا درے وارړه په ظروفو کښے کوم یو دی ؟

جواب :- ظرف زمان دی .

سوال :- دے خوځه دا قع شویدی په ترکیب کښے ؟

جواب :- درے وارړه مقامو کښے مفعول فیه واقع شویدی . تعلق دَ دے تیر شوو زمانے سره دے .

لَا تَمْشِ قُدَّامَ زَیْدٍ قَامَ النَّاسُ قُدَّامَ زَیْدٍ قَامَ النَّاسُ خَلْفَ زَیْدٍ

دا درے وارړه په ظروفو کښے څه واقع شوی دی ؟

جواب :- په ظروفو کښے دا ظرف مکان دے . په درے وارړو مقامو کښے مفعول فیه واقع شوے دے . ما بقیه مثالونه تا سو پخپله لږ لږ اجراء کوی او سوچ پکښے اوکړئ

## پنځم بحث دَ بعضو جملو ترکیب

مَتٰی تَذْهَبُ اَذْهَبُ - مَتٰی حرف شرط تَذْهَبُ صیغه واحد مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم قیاس دے په ضَرَبَ یَضْرِبُ باندے . ذَهَبَ یَذْهَبُ ضمیر پکښے مستتر

دے چه تعبیرے کیږی په اَنْتَ هغه ورته فاعل شو. تَذْهَبُ فعل سره دَ فاعل نه چه
اَنْتَ دے دا جمله فعلیه فعل شرط اَذْهَبْ صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم
اَنَا ورته فاعل شو. فعل مع الفاعل چه اَنَا دے دا جزاء شرط مع الجزاء دا جمله فعلیه شرطیه
مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ مَتٰی تَجِیْئُنَا بَعْدُ اَیْ بَعْدَ هٰذَا
داور بانه دے قیاس کړئ. او سوچ اوکړئ چه دَدے ترکیب څرنګه جوړیږی. مَتٰی تَصُمْ اَصُمْ
جِئْتُكَ اِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَاِذَا الشَّمْسُ طَالِعَةٌ اِذَا الشَّمْسُ کُوِّرَتْ
جِئْتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضی معلوم قیاس دے په ضَرَبَ یَضْرِبُ مثال جَاءَ
یَجِیْئُ ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیرے کیږی په اَنَا سره هغه ورته فاعل شو
او کاف ضمیر مفعول به شو. دا جمله فعلیه خبریه جزاء مقدم شوه. اِذْ شرطیه طَلَعَتْ
صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم قیاس دے په فَتَحَ یَفْتَحُ بانده طَلَعَ یَطْلَعُ
او اَلشَّمْسُ ورته فاعل. دا جمله فعلیه معطوفٌ علیه. وَ او حرف عطف اِذْ شرط اَلشَّمْسُ
مبتداء طَالِعَةٌ ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه معطوفه. معطوفٌ علیه
سره دَ معطوفه نه دا فعل شرط مؤخر. شرط مؤخر سره دَ جزاء مقدم نه دا جمله فعلیه
شرطیه. اِذَا الشَّمْسُ کُوِّرَتْ ورباندے قیاس دے
اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ - اِذَا حرف شرط جَاءَ فعل ماضی معلوم قیاس دے په ضَرَبَ یَضْرِبُ
بانده. نَصْرُ مضاف لفظ دَ اللّٰهِ مضافٌ الیه. مضاف مع المضافٌ الیه دا فاعل شو دَ پاره
دَ جَاءَ. جَاءَ فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه شرطیه.
اٰتِیْكَ اِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ - او بل اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ ، وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ وغیره
په سابقه باندے قیاس دے په دقة نظر سره خَرَجْتُ فَاِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ دینه بعد مبتداء راځی
کَیْفَ حَالُكَ کَیْفَ اَنْتَ - کَیْفَ استفهامیه مبتداء شوه. حَالُ مضاف کاف ضمیر
مضافٌ الیه. مضاف مع المضافٌ الیه دا خبر شو دَ پاره دَ مبتداء. مبتداء مع الخبر
دا جمله اسمیه خبریه شوه. کَیْفَ اَنْتَ ورباندې قیاس کړئ.
اِیَّانَ یَوْمُ الدِّیْنِ - اَیَّانَ خبر مقدم یَوْمَ مضاف اَلدِّیْنِ مضاف الیه، مضاف
مع المضاف الیه دا مبتداء مؤخر. مبتداء مؤخر مع الخبر مقدم دا جمله اسمیه خبریه شوه
اَیَّانَ یَوْمُ الْقِیٰمَةِ. دا اَیَّانَ مبنی بر فتحه دے. یَوْمَ مضاف اَلْقِیٰمَةِ مضاف الیه

مبتداء مؤخر قیاس په ماقبل باندے . مفتوح ذیل هم جائز دی ادکله کله شرط دپاره هم راځی. لکه اِیَّانَ تَجْتَهِدُ اَجْتَهِدُ سابق خو استفهام وی (فتفکر ولا تکسل)
جَاءَ زَیْدٌ اَمْسِ . جَاءَ فعل ماضی معلوم قیاس دے په ضَرَبَ یَضْرِبُ باندے زَیْدٌ دے ته فاعل شو . اَمْسِ ظرف زمان مبنی برکسره مفعول فیه شو .
جِئْتُكَ اَمْسِ ، جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَمْسِ . کاف مفعول به شو اَمْسِ مفعول فیه شو . یا مفعول به مقدم شو . اَمْسِ مفعول فیه مؤخر شو .

مُذْ وَ مُنْذُ نحو مَا رَأَیْتُهُ مُذْ یَوْمُ الْجُمُعَةِ - ای اول مُدَّةِ اِنْقِطَاعِ رُؤْیَتِیْ اَیَّامِ یَوْمُ الْجُمُعَةِ (ترکیب)
مَا نافیه رَأَیْتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضی معلوم ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر کیږی په اَنَا سره هغه ئے فاعل ۂ ضمیر منصوب متصل مفعول به شو . مُذْ مبنی برسکون ظرف زمان معطوف علیه شو . واؤ حرف عطف . مُنْذُ مبنی برضمه ظرف زمان معطوف شو معطوفٌ علیه مع المعطوف دا مبتداء شوه . یَوْمُ مضاف اَلْجُمُعَةِ مضافٌ الیه مضاف مع المضاف الیه دا خبر شو دپاره د مبتداء . مبتداء مع الخبر دا مفعول فیه شو دپاره د رَأَیْتُ
لیکن یَوْمِ مجرور شی بیا به دَ مُذْ او مُنْذُ حرف جر شی . دا اول خو مرفوع دو بنا برخبریت که مجرور شی بیا به ظرف شی . نو تا سو دَ مُذْ او مُنْذُ فرق په تحقیق کښے نظر اوکړی اوس ترکیب په هغه حالت کښے چه دا مُذْ او مُنْذُ حروف جارۂ شی . مَا نافیه رَأَیْتُ فعل فاعل ۂ مفعول به شو . مُذْ حرف جر مبنی بر سکون معطوفٌ علیه واؤ حرف عطف مُنْذُ حرف جر مبنی برضمه معطوف . معطوفٌ علیه مع المعطوف جار شو دپاره د مجرور . یَوْمِ مجرور مضاف اَلْجُمُعَةِ مضافٌ الیه مضاف مع المضافٌ الیه دا مجرور شو دپاره د جار چه مُذْ او مُنْذُ دے . جار مع المجرور دا ظرف لغو تعلق نیسی تر رَأَیْتُ فعل پورے . فعل مع الفاعل مع المفعول به مع المتعلق دا مفسر شو ای حرف تفسیر .
اَوَّلُ مضاف مُدَّةِ مضاف الیه مضاف اِنْقِطَاعِ مضافٌ الیه شو . رُؤْیَتِ مضافٌ الیه مضاف (ی) متکلم مضافٌ الیه اِیَّاهُ مضاف ۂ ضمیر ئے مضافٌ الیه . مضاف مع المضافٌ الیه مفعول به شو دپاره د رُؤْیَتِ یَوْمَ مضاف اَلْجُمُعَةِ مضافٌ الیه . مضاف مع المضافٌ الیه دا مفعول فیه شو دپاره د رُؤْیَتِ . رُؤْیَتِ مصدر مضاف مع المضاف الیه مع

الفاعل مع المفعول بہٖ مع المفعول فیه دا جمله تفسیر واقع شو دپاره د مفسر چه مَارَأَیْتُهٗ
مُذْ و مُنْذُ یَوْمِ الْجُمُعَةِ دے. مفسر مع تفسیر دا مضاف الیه واقع شو دپاره د نحو مضاف
مضاف مع المضاف الیه خبر شو دپاره د مبتدیٰ چه مثالهٗ دے. مثال مضاف د ضمیر
مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه مبتداء. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه.
مَارَأَیْتُهٗ مُذْ یَوْمِ الْجُمُعَةِ مَارَأَیْتُهٗ مُذْ یَوْمَیْنِ ور باندے قیاس دی. توجه وکړی
مَارَأَیْتُهٗ قَطُّ - مَا نافیه رَأَیْتُ فعل فاعل هٗ ضمیر مفعول بهٖ قَطُّ ظرف زمان
مفعول فیه. فعل مع الفاعل مع المفعول بهٖ مع المفعول فیه جمله فعلیه خبریه مَاضَرَبْتُهٗ
قَطُّ هم ور باندے قیاس کړی. ما بقیه صیغ چه ستاسو په نظر کښے راځی هم ور باندے
قیاس کړی.

لَا اَضْرِبُهٗ عَوْضُ - لَا نافیه اَضْرِبُ صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم ضمیر پکښے
مستتر دے چه تعبیرے کیږی په اَنَا سره هغه ئے فاعل شو هٗ ضمیر منصوب متصل مفعول بهٖ
عَوْضُ مبنی بر ضمه مفعول فیه شو دپاره دپاره د لَا اَضْرِبُ. لا اَضْرِبُ فعل مع الفاعل
مع المفعول بهٖ مع المفعول فیه دا جمله فعلیه خبریه شوه. ما بقیه ور باندے قیاس کړی.

لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ ای مِنْ قَبْلِ کُلِّ شَیْءٍ وَمِنْ بَعْدِ کُلِّ شَیْءٍ
لام حرف جر لفظ د اللّٰهِ مجرور. جار مع المجرور دا ظرف مستقر تعلق نیسی تر ثابتٌ
مقدره پورے. ثابتٌ صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیرے کیږی په هُوَ سره
هغه ورته فاعل شو. اسم فاعل مع الفاعل چه هُوَ دے مع المتعلق چه لِلّٰهِ دے دا خبر
مقدم شو. اَلْاَمْرُ مبتدا مؤخر. مبتداء مؤخر مع خبر مقدم نه دا جمله اسمیه خبریه
مِنْ حرف جار قَبْلُ مبنی بر ضمه مجرور محلًا معطوف علیه. وَاوْ حرف عاطف مِنْ حرف جار
بَعْدُ ئے مجرور محلًا. جار مع المجرور دا معطوف شو دپاره د معطوف علیه چه مِنْ قَبْلُ
دے. معطوف علیه مع المعطوف دا مفسر ای حرف تفسیر مِنْ حرف جار قبل مجرور مضاف
کُلِّ مضاف الیه مضاف شَیْءٍ ئے مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه نه مضاف الیه شو
دپاره د مضاف چه قَبْلِ دے. قَبْلُ مضاف مع مضاف الیه دا مجرور شو دپاره د جار. جار
مع المجرور معطوف علیه. وَاوْ حرف عطف مِنْ حرف جار بَعْدِ مجرور مضاف کُلِّ مضاف
الیه مضاف شو. شَیْءٍ مضاف الیه. مضاف الیه مع المضاف دا مضاف الیه شو دپاره

دَمضاف چه بَعْدِ دے . بَعْدِ مضاف . مضاف مع المضاف الیہ چه کُلِّ شَیْءٍ دے . دا مجرور شو دَپاره دَجار چه مِنْ دے . جار مع المجرور دا معطوف شو . معطوف علیه مع المعطوف نه دا مفسَّر شو . مفسَّر مع المفسِّر نه دا مجرور شو تعلق نیسی تر اَلْاَمْرُ پورے چه مبتداء مؤخر دے . مبتداء مع الخبر مقدم نه جمله اسمیه خبریه شوه . دا قَبْلُ او بَعْدُ دَ هغه حالت بیان شو چه مضاف الیه ئے حذف شوے وی لیکن په نیت کښ باقی وی لهٰذا مبنی وی .

دویم حالت چه مضاف الیه ئے نَسْیًا او منسیًّا حذف شوے دے لکه رُبَّ قَبْلٍ خَیْرٌ مِنْ بعدٍ رُبَّ مضاف قَبْلٍ ئے مضاف الیه . مضاف مع المضاف الیه دا مبتدا شوه خیرٌ صیغه دَ اسم تفضیل ده او استعمال ئے په مِنْ سره شاغلے دے ضمیر پکښ مستتر دے چه تعبیر ئے تر ینه کیږی په هُوَ سره هغه ئے فاعل شو مِنْ حرف جار بَعْدٍ ئے مجرور . جار مع المجرور دا ظرف لغوه تعلق نیسی تر خَیْرٌ پورے خَیْرٌ صیغه دَ اسم تفضیل مع الفاعل او مع المتعلق چه مِنْ بَعْدٍ دے دا خبر شو دَپاره دَ مبتداء چه رُبَّ قَبْلٍ دے . مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه .

دریم حالت چه مضاف الیه ئے په لفظ کښے ذکر وی . لکه لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلِ کُلِّ شَیْءٍ وَمِنْ بَعْدِ کُلِّ شَیْءٍ . لِلّٰهِ جار مجرور په اعتبار دَ متعلق سره خبر مقدم اَلْاَمْرُ مصدر مبتداء مؤخر مِنْ حرف جار قَبْلِ مجرور مضاف کُلِّ مضاف الیه مضاف شَیْءٍ مضاف الیه . مضاف مع المضاف الیه مضاف الیه شو دَپاره دَمضاف چه قَبْلِ دے . مضاف مع المضاف الیه چه کُلِّ شَیْءٍ دے مجرور شو دَپاره دَجار چه مِنْ دے . جار مع المجرور دا معطوف علیه شو . وَاوْ حرف عطف مِنْ جار بَعْدِ مجرور مضاف کُلِّ مضاف الیه مضاف شَیْءٍ مضاف الیه شو مضاف مع المضاف الیه . مضاف الیه شو دَپاره دَ مضاف چه بَعْدِ دے . مضاف مع المضاف الیه مجرور شو دَپاره دَجار چه مِنْ دے . جار مع المجرور معطوف شو دَپاره دَمعطوف علیه . معطوف علیه مع المعطوف نه دا متعلق شو تر لِلّٰهِ پورے . لِلّٰهِ مع المتعلق دا خبر مقدم اَلْاَمْرُ مبتداء مؤخر . خبر مقدم مع المبتداء مؤخر جمله اسمیه خبریه شوه لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ . اَنَا نَاصِرٌ مِنْ قَبْلُ ای مِنْ قَبْلِكَ ور باندے قیاس کړی

وظروف مكان امثال - اَجْلِسُ حَيْثُ يَجْلِسُ زَيْدٌ - اَجْلِسُ صيغه د واحد متكلم فعل مضارع معلوم د باب ضَرَبَ يَضْرِبُ - جَلَسَ يَجْلِسُ جُلُوْسًا ضمير پكښې مستتر دے چه تعبير ئے كيږى په اَنَا سره هغه ئے ورته فاعل شو حَيْثُ مضاف يَجْلِسُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معلوم زَيْدٌ ورباندے فاعل شو فعل مع الفاعل داجمله مضافٌ اليه شوه د پاره د مضاف - مضاف مع المضافُ اليه دا مفعول فيه شو د پاره د فعل چه اَجْلِسُ دے - اَجْلِسُ فعل مع الفاعل او مع المفعول فيه چه حيث يَجْلِسُ زَيْدٌ دے داجمله فعليه خبريه شوه -

اَجْلِسُ حَيْثُ زَيْدٌ جَالِسٌ يعنى اِجْلِسْ مَكَانَ جُلُوْسِ زَيْدٍ - دا هم په دے سابق باندے ورقياس دے - خوجمله اسميه به مضاف جوړ شى.

جَلَسْتُ قُدَّامَكَ ، داهغه قدامٌ مثال دے چه مضاف اليه د دے په لفظ كښې ذكر دى او بيا معرب وى جَلَسْتُ صيغه واحد متكلم فعل ماضى معلوم قياس دے په ضَرَبَ يَضْرِبُ باندے ضمير پكښې مستتر دے چه تعبير ترې كيږى په اَنَا سره هغه ورته فاعل شو - قدام مضاف كاف ضمير مضافٌ اليه - مضاف مع المضافُ اليه دا مفعول فيه شو د پاره د جلستُ - جَلَسْتُ فعل مع الفاعل او مفعول فيه داجمله فعليه خبريه

لَا تَمْشِ قُدَّامَ زَيْدٍ قَامَ النَّاسُ قُدَّامُ وَخَلْفُ يعنى قُدَّامَهٗ وَخَلْفَهٗ ورباندے قياس كړى

اَجْلِسُ تَحْتَ سَقْفِ بَيْتِكَ - اَجْلِسُ صيغه واحد متكلم فعل مضارع معلوم قياس د ضَرَبَ يَضْرِبُ باندے ضمير پكښې مستتر چه تعبير ئے كيږى په اَنَا سره هغه ئے فاعل تَحْتَ مضاف سَقْفِ مضافٌ اليه مضاف بَيْتِ مضاف اليه مضاف كاف ضمير مضاف اليه شو. مضاف مع المضاف اليه دا مضافٌ اليه شو د پاره د مضاف چه سَقْفِ دے مضاف مع المضافُ اليه چه بَيْتِكَ دے دا مضافٌ اليه شو د پاره د مضاف چه تَحْتَ دے - تَحْتَ مضاف مع المضافُ اليه دا مفعول فيه شو د پاره د اَجْلِسُ - اَجْلِسُ فعل مع الفاعل مع المفعول فيه داجمله فعليه خبريه شوه -

جَلَسَ زَيْدٌ تَحْتُ وَصَعِدَ عَمْرٌو فَوْقُ اى تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَفَوْقَ الشَّجَرَةِ په دقت نظر سره تركيب كښې لحاظ اوكړى چه خلط نا سو باندے را نشى .

اجلس فوق سقف بيتك - دا تركيب قياس دے په ما سبق باندے دا كرخه والا امثال هم وربانده

## هفتم اسماءِ کنایات چوں کَمْ و کَذَا کنایت از عدد و کَیْتَ و ذَیْتَ کنایت از حدیث

ترجمه :- ووم قسم دَ اسمائی غیرمتمکنو نه هغه اسماء کنایات دی. مثال لکه کَمْ شو وکَذَا داکنایات دی دَ عدد مبهم نه. او بل کَیْتَ او ذَیْتَ شو. داکنایات دی دَخبرې نه مثال اول کَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ وَكَذَا دِرْهَمًا عِنْدِيْ. مثال ثانی قَالَ زَيْدٌ كَيْتَ وذَيْتَ

## تشریحات

دلته لابدی دی د معرفت دَ امور ستهٔ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکرد اقسامو (۳) ذکر دَضوابطو (۴) ذکر دَ امثالو (۵) ذکر دَ مشق (۶) ترکیب دَ بعضو جملو۔

اول بحث په تحقیقاتو کښې۔ دلته لابدی ده دَمعرفت دَ امور ثلاثه نه (۱) معنی لغوی (۲) معنی اصطلاحی (۳) تعین دَ اسماء کنایاتو۔ اسماء

اسماء جمع دَ اسم ده. دَ اسم تعریف لغةً او اصطلاحًا سابق کښې تیر شوے دے. کنایات جمع دَکنایة ده په لغت کښې پټولو ته وائی. او په اصطلاح کښې دیته وائی چه تعبیر وکړے شی دَ معنی معین په الفاظو غیر معین سره. غرض دَدے کنایات هِيَ اَلْفَاظٌ مُبْهَمَةٌ يُكْنٰى بِهَا مِنْ عَدَدٍ مُبْهَمٍ اوحَدِيْثٍ اوفِعْلٍ نو حاصل دا شو چه اسماء کنایات دَ عدد مبهم دَپاره هم راځی یا فعل مبهم دَپاره هم راځی یا ناقص دَاوبی نه راځی یا ناقص یائی نه راځی یعنی دَ كَنَوْتُ عَنْ كَذَا بِكَذَا یا ناقص یائی دے دَكَنَيْتُ عَنْ كَذَا بِكَذَا دا خو معنی لغوی او معنی اصطلاحی شوه۔

سوال :- بیا اسماء کنایات دَ معرب نه هم راځی او مبنیاتو نه هم راځی دلته کوم یو مراد کړے شی

جواب :- تعین دَ اسماء کنایاتو په دوه قسمو کښې۔ دلته مراد دَ اسماء کنایاتو نه هغه کنایات دی چه کوم مبنی دی او هغه کنایات نه دی مراد چه کوم معرب دی لکه فُلَانٌ او فُلَانَةٌ وغیره

دویم بحث په اقسامو کښې :-

سوال : کنایات په څو قسمه دی ؟

جواب :- کنایات په دوه قسمه دي يو کنایات عن العدد دويم کنایات عن الحديث

سوال :- دَ تولو کنایاتو دَپاره څومره الفاظ راځي ؟

جواب :- دَ دې تولو دَپاره تقريبًا څلور الفاظ راځي په عام طور سره .

سوال : هغه کوم کوم دي ؟

جواب :- کَمْ دے او کَذَا دے . دا دواړه دَ عدد دپاره دي او کَيْتَ او ذَيْتَ دَ خبرو دپاره دي

سوال :- دَ دې معنیٰ څرنګه راځي ؟

جواب :- کَمْ معنیٰ څومره او کَذَا معنیٰ دومره کَيْتَ معنیٰ څنګه او ذَيْتَ معنیٰ داسې شان .

سوال :- دا څلور واړه مبني دي او که معرب ؟

جواب :- دا څلور واړه مبني دي .

سوال :- کَمْ څنګه مبني دے ؟

جواب :- کَمْ په دوه قسمه دے . يو کَمْ استفهامي دے او بل کَمْ خبري دے . نو کَمْ استفهامي خو ځکه مبني دے چه دا متضمن دے معنیٰ دَ حرف استفهام لره . حروف خو تول مبني دي نو کَمْ هم مبني شو . او کَمْ خبر ځکه مبني دے چه دا اصل دے په کَمْ استفهامي باندې . او هرچه کَذَا دے نو دا ځکه مبني دے چه دا مرکب دے دَ کاف تشبيهي سره او ذا اسم اشاره نه او دا دواړه مبني دي . نو هغه خپله بنا باندې پاتې شو نو ځکه کذا مرکب هم مبني شو . او کَيْتَ او ذَيْتَ ځکه مبني دے چه دا کنايه ده دَ جملې نه . او جمله من حيث جمله مستحق دَ اعراب هم نه دے او مستحق دَ بنا هم نه دے نو هرکله چه وقوع دَ دې راغے په ځاے دَ مفرد کښې او مفرد خالي کوم دَ اعراب او دَ بنا نه دا جائز نه دے . نو ځکه مختار کړے شو په کښې بناء ځکه چه بناء ځکښې ده دَ ترکيب نه . او اصل دے په اسماء کښې نو ځکه مختار کړے شو اصل چه بنا دے . نو دَ دې وجه نه دا څلور واړه مبني کړے شو

## دريم بحث ذکر دَ ضوابطو -

سوال :- هرکله چه کَمْ په دوه قسمه شو کم استفهامي او کم خبري نو دَ دې ضابطه څرنګه ده ؟

جواب :- کَمْ استفهامي هغه دے چه په هغې سره سوال کولے شي دَ عدد دَ مبهم نه

لکه کَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ ( څومره درهمې دي په نزد ستا ) او بل کم خبری هغه دے
چه په صفه سره خبر ورکولے شي دَعدد مبهم نه ، لکه کَمْ رَجُلٍ عِنْدِیْ (ډیر سړی دي په
نزد زما )

ضابطه - دَکَمْ چه دَ استفهام په معنیٰ کښے مستعمل شي نو دے به خپل معمول ته
دَ تمیز جوړولو په وجه نصب ورکوی . او تمیز به ئے مفرد وی . مثال کَمْ دِرْهَمًا
عِنْدَكَ . دِرْهَمًا مفرد دے . مثال کَمْ مَالًا عِنْدَكَ - کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ تا سوله څومره
مال دے . او تا سوله څومره سړی دی - او که کم خبریه شي نو بیا دے خپل معمول ته دَ
مضاف الیه جوړولو په وجه سره که مجرور ( یعنی زیر ) وی . مثال لکه کَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُهٗ
کَمْ رَجُلٍ عِنْدِیْ

ضابطه :- ( دَکَذَا ) دا صرف خبریه دَپاره استعمالیږی او بیا هم خپل معمول تمیز ته
نصب ورکوی . مثال لکه عِنْدِیْ کَذَا دِرْهَمًا .

ضابطه - ( دَ کَیْتَ او ذَیْتَ ) دا منصوب وی ځکه چه دَجملے قائم مقام کښے واقع دے .
مثال سَمِعْتُ کَیْتَ وَذَیْتَ نو مفعول به په وجه سره دا منصوب دے . مثال لکه قَالَ فُلَانٌ
کَیْتَ وَکَیْتَ - مثال دذَیْتَ لکه قُلْتُ لَهٗ ذَیْتَ وَذَیْتَ -

## څلورم بحث ذکر د امثالو

کَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ ، کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ - کَمْ رَجُلٍ عِنْدِیْ . کَمْ مَالًا عِنْدَكَ
کَمْ دِیْنَارًا عِنْدَكَ - کَمْ رِجَالًا عِنْدِیْ - کَمْ رِجَالٍ لَقِیْتُهُمْ ، کَمْ مِنْ رَجُلٍ
ضَرَبْتُ - کَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِی السَّمٰوٰتِ - کَمْ مِنْ فِئَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً کَثِیْرَةً
قَبَضْتُ کَذَا وَکَذَا دِرْهَمًا دَدے تمیز هم منصوب وی . قال فلان کَیْتَ وَذَیْتَ کَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُهٗ

## پنځم بحث ذکر دَمشق

کَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ

سوال :- په اسماء کنایاتو کښے دَکوم یو قبیلے نه دے ؟

جواب :- دَعدد دَ قبیلے نه دے .

سوال :- بیا کَمْ په دوه قسمه سره دے داکوم یو نه دے ؟

جواب :- دا دَکَمْ استفهامیه نه دے .

سوال :- دا څه نه معلوم شو چه داکَمْ استفهامیه نه دے ؟

جواب :- دَضوابطو نه معلوم شو . ځکه دَکَمْ استفهامیه تمیز منصوب وی او مفرد وی . دلته هم دِرْهَمًا مفرد دے او منصوب .

سوال :- کَمْ رَجُلاً عِنْدَكَ . کَمْ مَالاً عِنْدَكَ دا دَکوم یو قبیلے نه دے ؟

جواب :- دَدوی جواب دَکَمْ دِرْهَمًا غوندے دے فقط دتفکر کار داخلي .

سوال :- کَمْ استفهامیه و لے خپل معمول ته نصب ورکوی ؟

جواب :- دا دَوجه دَ تمیز واقع کیدلو نه .

سوال :- کَمْ رَجُلٍ عِنْدِیْ . په کنایاتو کښې دَکوم یو قبیلے نه دے ؟

جواب :- دَعدد دَ قبیلو نه دے .

سوال :- بیا دَکَمْ استفهامیه دے یاکَمْ خبریه نه ؟

جواب :- کم خبریه نه

سوال :- دا ځنګه معلوم شو چه داکَمْ خبریه دے

جواب :- کَمْ خبریه کښې ضابطه دا ده چه دے به خپل معمول ته دَمضافٌ الیه دوجه نه جَرْ ورکوی ځکه کَمْ رَجُلٍ مجرور دے .

سوال :- کَمْ دِیْنَارٍ عِنْدَكَ دا دَکوم یو قبیلے نه دے ؟

جواب :- دا په کَمْ رَجُلٍ قیاس دے په قولو سوالونو او جوابونو کښې کَمْ رِجَالٍ لَقِیْتُهُمْ هم قیاس دے .

سوال :- کَمْ مِنْ رَجُلٍ ضَرَبْتُ دا دَکوم یو قبیلے نه دے ؟

جواب :- دا هم دَعدد دَقبیلے نه دے

سوال :- استفهامیه دے که خبریه ؟

جواب :- کَمْ خبریه دے

سوال :- بیا خو نصب پکار وو ؟

جواب :- کَمْ خبریه خو اولاً منصوب وی . کم استفهامیه مجرور وی دلته خو مجرور دے دا

د اله وجه دَ مِنْ نه .

سوال :- کَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دلته استفهاميه دَ ليکن مجرور شوې له وجه دَ مِنْ جاره نه

سوال :- کَمْ مِنْ فِئَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً

جواب :- دلته هم دَ مِنْ دَ وجه نه مجرور دے . اگرچه خبريه دے مضاف اليه د وجه نه هم مجرور وی .

سوال :- قَالَ فُلَانٌ كَيْتَ وَ ذَيْتَ . قَبَضْتُ كَذَا وَكَذَا دِرْهَمًا دا په کنايا تو کښې دَ کوم يو قبيلے نه دے ؟

جواب :- كَذَا دَ عدد قبيلے نه دے . او كَيْتَ او ذَيْتَ دَ خبر د قبيلے نه دے .

سوال :- دَ دے اعراب څرنګه راځي ؟

جواب :- دَ كَذَا ضابطه داده چه منصوب به وی تکرار به وی . مثال مذکور دے .

او كَيْتَ او ذَيْتَ مفعول به دَ وجه نه منصوب وی . مثال مذکور دے توجه وکړی مثال ته

## شپږم بحث دَ بعضو جملو ترکيب

كَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ :- كَمْ استفهاميه مبهم مميز دِرْهَمًا ورته تميز شو . مميز مع تميز دا مبتداء شوه . عِنْدَ مضاف كاف ضمير مضاف اليه . مضاف مع المضاف اليه دا خبر شو د پاره دَ مبتداء . مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه .

كَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ . كَمْ مَالًا عِنْدَكَ شو نور دغه د پاره ترکيب عَيْنًا دَ كَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ غوندے دے .

دَ كَمْ خبريه مثال . كَمْ رَجُلٍ عِنْدِيْ . كَمْ خبريه مبهم مميز رَجُلٍ ئے تميز . مميز مع تميز نه خبر مقدم عِنْدِيْ مضاف مضاف اليه مع المتعلق مبتداء مؤخر شوه . يا كَمْ خبريه مبهم مميز مضاف رَجُلٍ مضاف اليه تميز ، مضاف مع المضاف اليه خبر مقدم عِنْدِيْ مضاف يائی متکلم مضاف اليه تعلق نيسی تر ثابتٌ مقدر پورے متعلق مع المتعلق مبتداء مؤخر شوه . مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه .

دَ دے امثال كَمْ دِيْنَارًا عِنْدَكَ . كَمْ رِجَالٍ لَقِيْتُهُمْ . كَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُهُ

كَمْ مِنْ رَجُلٍ ضَرَبْتُ وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، كَمْ مِنْ فِئَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً، كَمْ دِيْنَارًا - كَمْ عدد مبهم مميز دينارًا تميز مميز مع تميز مبتداء . عِنْدَكَ مضاف مضاف اليه مبتداء مؤخر .

كَمْ رِجَالٍ لَقِيْتُهُمْ - كَمْ خبريه مبهم مميز رِجَالٍ ور ته تميز يا مضاف اليه مميز مع تميز خبر مقدم لَقِيْتُ فعل فاعل هم ضمير منصوب متصل مفعول به فعل مع الفاعل مع المفعول به مبتداء مؤخر . مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه

كَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُهُ - كَمْ خبريه مبهم مميز مَالٍ ور ته تميز . مميز مع تميز خبر مقدم شو . اَنْفَقْتُ فعل فاعل صيغه واحد متكلم فعل ماضي معلوم باب دَ افعال نه اَنْفَقَ يُنْفِقُ اِنْفَاقًا ضمير پكښې مستتر دے چه تعبير كيږى په اَنَا سره چه دے فاعل شو . هٔ ضمير منصوب متصل مفعول به شو . فعل چه اَنْفَقْتُ مع الفاعل چه اَنَا دے مع المفعول به چه هٔ ضمير دے دا جمله فعليه خبريه مبتداء مؤخر شوه . مبتداء مع الخبر مقدم جمله اسميه خبريه ما بقيه ور باندے قياس كرئ په دقة نظر سره -

## هشتم مركب بنائى چون اَحَدَ عَشَرَ

ترجمه :- اتم قسم دَ اسماء غير متمكنه نه مركب بنائى دے مثال يوولس شو اصل كښے اَحَدٌ وَعَشَرٌ وو معنى يو اولس وَاو حذف شو يولس شو .

## تشريحات

دلته لابدى ده دَ معرفت دَ امور خمسه نه (۱) تحقيقات (۲) ذكر دَ ضوابطو (۳) ذكر دَ امثالو (۴) ذكر دَ مشق (۵) دَ بعضو جملو تركيب -

اول بحث په تحقيقاتو كښے :- دلته لابدى ده دَ معرفت دَ امور ثلاثه نه (۱) تعريف دَ مركب بنائى (۲) وجه تسميه (۳) دفع دَ اعتراض

**تعریف دَمرکب بنائی** هغه دے چه ما تن ملا پخپله کړیدے په سابقه صفحه کښے چه مرکب بنائی هغه دے چه دوه اسمونه یوځاے کړے شی. او دویم اسم متضمن وی حرف لره. مثال لکه اَحَدَ عَشَرَ نه تر تِسْعَةَ عَشَرَ پورے. بیا دَاوْ حذف کړے شی دواړه اسمونه یو کړے شی لکه اَحَدَ عَشَرَ په اصل کښے اَحَدٌ وَعَشَرٌ وُو بیا واو حذف شو جزء ثانی متضمن شو حرف لره مبنی بر فتح شو. اوجزء اول هم مبنی بر فتحه شو ځکه چه وسط کښے راغے او وسط اعراب نه جاری کیږی. صرف په دوئ کښے اِثْنَا عَشَرَ پاتے شو چه جزء اول دَدے معرب دے ځکه چه اضافت دَ وجه نه نون ساقط شو ځکه چه دوی مشابه تثنیه سره دے. او تثنیه معرب دے دا هم معرب شو (فتفکر)

**وجه تسمیه** . مرکب بنائی ته ځکه مرکب بنائی وائی چه بغیر دَ اِثْنَا عَشَرَ نه دَدے دواړو جزء مبنی دے او حکم دَدے هم دا دے چه دواړه جز به مبنی بر فتحه وی جز اول خو ظاهره ده چه آخر حرف دَهغے وسط کښے راغے او جزء ثانی دَ واو حرف ته محتاج دَ احتیاج علامه دَ مبنیا تر ده. او دَدے بل نوم **مرکب تعدادی** دے. مرکب بنائی ته مرکب تعدادی ځکه وائی چه په عدد کښے داخل چه اَحَدَ عَشَرَ نه الیٰ تِسْعَةَ عَشَرَ پورے مقدارے هم معلوم شو.

**دفع دَاعتراض** :- اعتراض وارد یږی چه مرکب بنائی مرکب مفید دے او که غیر مفید؟

**جواب** :- مرکب غیر مفید

**سوال** :- بیا مرکب غیر مفید کښے معرب دے که مبنی؟

**جواب** :- دا مرکب غیر مفید مبنی دے.

**سوال** :- دا ولے مبنی دے؟

**جواب** :- دا ځکه مبنی دے چه دَدے دواړو جزء مبنی دے. اول خو ظاهره معلومه ده چه حرف آخر وسط کښے راغلے دے. او جزء ثانی دَدے متضمن دے معنیٰ دَحرف لره نو احتیاج پکښے راغے نو ځکه مبنی شو. نو اعراب خو په وسط کښے نه جاری کیږی نو دَ مشابهت دَ وجه نه دا مبنی شو.

**سوال** :- په فتحه سره ولے بنا شو؟

**جواب** :- ولته ثقل راغلے دے دَ ترکیب دَ اسمونو او ثقل تخفیف غواړی او تخفیف

حاصلیږي په فتحه سره نه په فوړ و سره.

## دویم بحث ذکر دَ ضوابطو

دَ عدد دوه پوهانه دمنه بحث دَ عدد لغوي معنی ده. شیرل اصطلاحي معنی ده.

۱- العدد ما یعد به (۲) العدد نصف مجموع الحاشیتین یعنی دَ دوه حاشیو دَ مجموعې نیم مثال دوه عدد دے. بیا یو عدد نه دے. اوس دوه عدد دے ځکه چه دا دوه حاشیو دَ مجموعې نیم دے. دَ دوه نه لاندے یو دے او دَ دوو نه پاسه درې دی. دا دواړه حاشیې چه جمع شی څلور جوړ شو نو دَ څلورو نصف دوه کیږي. یو ځکه عدد نه دے چه حاشیتین نه لري. یو نه بره شته لاندے بل عدد نشته. دَ دے وجه نه بعضے پوهانو یو ته عدد نه دے ویلے. اوس هر عدد کښے ابهام وي نو دے ابهام ته ممیز وائي. دَ دے نه بعد چه کوم لفظ راځي او دَ دے نه هغه ابهام لرې کوي هغے ته تمیز وائي. مثال إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ عدد مبهم ممیز دے چه څه اولیدل یوسف کله چه کَوْكَبًا لفظ ورسره ذیات شو نو دَ هغے تمیز راغے. نو هرچا ته معلومه شوه چه حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ یوولس ستوري په خوب کښے لیدلی وو.

اوس یوه لنډه جائزه عدد په اعتبار دَ تمیز سره په درې قسمه دے (۱) عدد اقل ۲- عدد اوسط (۳) عدد اکثر. دَ هر یو دَ پاره ضابطه جدا جدا ده. عدد اقل دَ پاره عدد جدا دے. دَ درې یو نه واخله تر لسو پورې دیته عدد اقل وائي. عدد اوسط یوولس نه واخله تر یو کم سلو پورې دا عدد اوسط دے. عدد اکثر یا عدد اعلیٰ دَ سلونه واخله تر ملا نهایة پورې. اوس دغه عددو دَ پاره احمه ضابطه (عدد اقل) دَ پاره تمیز هیشه جمع به وي. مجرور به وي. خلاف العقل به وي. او شرط پکښے دا دے چه دَ عدد اقل تمیز پخپله لفظ دَ مائة نه وي. که چرے دَ عدد اقل تمیز پخپله لفظ دَ مائة وي نو بیا ضرور مجرور به وي او مفرد به وي لکه ثَلٰثُ مِائَةٍ خلاف العقل. مطلب دا دے چه مذکر دَ پاره مؤنث وي. مؤنث دَ پاره مذکر. مثال ثلاثة رِجَالٍ تمیز مذکر عدد مؤنث وو اوس عکس دَ دے تمیز مؤنث عدد مذکر ثَلٰثَ نِسْوَةٍ.

عدد اوسط دَ پاره ۲ ضابطه ۱- دَ عدد اوسط دَ پاره تمیز هیشه مفرد به وي او منصوب

به وی. او بل موافق العقل به وی. یعنې مذکر د پاره مذ او د مؤنث د پاره مؤنث اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا. اِثنا عشر رَجُلًا. اِحْدٰی عشرة اِمْرَئَةً، اِثْنَتَا عَشْرَةَ اِمْرَئَةً.

د عدد اکثر یا عدد اعلیٰ تمیز به مفرد وی. مجرور به وی. مثال مِأَةَ رَجُلٍ، مِأَةَ عَامٍ اَلْفَ سَنَةٍ. مِئَتَیْ دِرْهَمٍ.

**اوله فائده** اهمه د ممیز او د تمیز ترجمه به د ممیز نه شروع کیږی. مثال اَحَدَ عَشَرَ یوولس. اول به یو وائی بیا لس.

**دویمه فائده عظیمه** ۱۱ نه ۱۲ پورې. ۲۱ نه ۲۲ پورې. ۳۱ نه ۳۲ پورې. ۴۱ نه ۴۲ پورې. ۵۱ نه ۵۲ پورې. ۶۱ نه ۶۲ پورې. ۷۱ نه ۷۲ پورې. ۸۱ نه ۸۲ پورې. ۹۱ نه ۹۲ پورې د دے تولو تمیز به موافق العقل وی. یعنی مذکر د پاره مذکر. مؤنث د پاره مؤنث کچیرے تمیز مؤنث وی نو د عدد دواړه جزء به مؤنث وی یا لترتیب مثال اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا اِحْدٰی عَشْرَةَ اِمْرَئَةً، اِثْنَتَا عَشْرَةَ عَیْنًا. اثنان وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا. اِثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اِمْرَئَةً

**دریمه فائده عظیمه** د ۱۳ نه ۱۹ پورې، ۲۳ نه ۲۹ پورې. ۳۳ نه ۳۹ پورې ۴۳ نه ۴۹ پورې. ۵۳ نه ۵۹ پورې. ۶۳ نه ۶۹ پورې. ۷۳ نه ۷۹ پورې. ۸۳ نه ۸۹ پورې. ۹۳ نه ۹۹ پورې. د دے تمیز به خلاف العقل راځی. مثال کچیرے تمیز مؤنث وی نو عدد به په دوو جزونو کښے وی. اولنی جزء به مذکر وی. او کچیرے تمیز مذکر وی نو د عدد اولنی جزء به مؤنث وی. مثال د ۱۳ ثَلٰثَةَ عَشَرَ رَجُلًا، ثَلٰثَ عَشَرَ اِمْرَئَةً ثَلَاثَةٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا. ثَلَاثٌ وَعِشْرُوْنَ اِمْرَئَةً. اَحَدَ عَشَرَ کَوْکَبًا. اِثْنَتَا عَشْرَةَ عَیْنًا

**څلورمه فائده عظیمه** د اته عقود داسے دی که ځانته استعمال وی یا کچیرے بل عدد سره استعمال وی نو همیشه به په یو حال باندے وی. خواه که تمیز ئے مذکر وی یا مؤنث هغه اته عقود دا دی. عِشْرُوْنَ. ثَلٰثُوْنَ. اَرْبَعُوْنَ. خمسون. سِتُّوْنَ. سَبْعُوْنَ ثَمَانُوْنَ. تِسْعُوْنَ. مثال عِشْرُوْنَ رَجُلًا. عِشْرُوْنَ اِمْرَئَةً

## دریم بحث ذکر د امثالو

اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ بِخَمْسَةِ اٰلَافٍ مِنَ الْمَلٰٓئِکَةِ مُنْزَلِیْنَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی

عَلَى الْعَرْشِ   سَبْعَ لَيَالٍ   ثَمَانِيَةَ اَيَّامٍ   تِسْعَةَ رَهْطٍ   مِنْ عَشَرَةِ مَسَاكِيْنَ
وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً   وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ
وَهِيَ سَبْعَةَ عَشَرَ حَرْفًا   وَهِيَ سَبْعُ اٰيَاتٍ   وَهِيَ ثَمَانٌ وَسَبْعُوْنَ اٰيَةً
وَهِيَ ثَمَانٌ وَسَبْعُوْنَ اٰيَاتٌ   رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا   وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَا عَشَرَ نَقِيْبًا
وَاَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً   فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ
عَامًا   فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا   ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا   فَاجْلِدُوْهُمْ
ثَمَانِيْنَ جَلْدَةً   اِنَّ هٰذَا اَخِيْ لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً   اِنَّ لِلّٰهِ تِسْعَةً وَّتِسْعِيْنَ
اِسْمًا   مَا فِي السَّمَاءِ موضع رَاحَةٍ سَحَابًا   مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا

## ثلورم بحث ذکر د مشق

اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ .

**سوال** :- داڅه واقع دے ؟

**جواب** :- دا عدد اقل دے .

**سوال** :- عدد اقل چا ته وائی ؟

**جواب** :- عدد اقل هغه ته وائی چه در‌ے نه تر لسو پورے چلیږی .

**سوال** :- عدد اقل ضابطه څرنګه ده ؟

**جواب** :- د عدد اقل ضابطه دا ده چه خلاف العقل چلیږی مذکر د پاره مؤنث مؤنث د پاره مذکر استعمالیږی ، یعنی مقصد دا شو که عدد به مؤنث وی که تمیز مذکر وو . عدد به مذکر وی که تمیز مؤنث وو . مثال لکه دغه اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ شو . عدد مؤنث دے تمیز ورته مذکر دے .

**سوال** :- دلته خو تمیز مجرور راغے ؟

**جواب** :- ضابطه دا ده چه عدد اقل د پاره به تمیز مجرور او جمع وی لکه دلته جمع راغلے دے اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ .

بِخَمْسَةِ اٰلَافٍ .

سوال :- داخه واقع شویدے په عدد کښے ؟

جواب :- داهم عدد اقل دٰاقع شوے دے ۔ که سوچ پکښے اوکړے ۔ تمیز جمع هم دے او مجرور هم ۔

فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ

سوال :- داخه واقع شویدے ؟

جواب :- داهم د ربانئے قیاس کړئ په مذکورهٔ سوالاتو کښے ۔

سَبْعَ لَیَالٍ هم قیاس کړی په مذکور سوالاتو کښے ثَمَانِیَةَ اَیَّامٍ هم قیاس کړئ

تِسْعَةَ رَهْطٍ هم قیاس کړی په مذکور سوالاتو کښے مِنْ عَشَرَةِ مَسَاكِیْنَ هم قیاس کړئ په مذکور سوالاتو کښے ۔ داخومرهٔ سوالات اوجوابات چه ذکرشو نو داپه ټولوکښے جاری کیږی په تفکرسرهٔ ۔

وَوٰعَدْنَا مُوسٰی ثَلٰثِیْنَ لَیْلَةً

سوال :- داخه واقع شوے دے په عدد کښے ؟

جواب :- داعدد اوسط واقع شویدے ۔

سوال :- عدد اوسط چاته وائی ؟

جواب :- عدد اوسط د یوولسٌّ نه واخله تر ۹۹ پورے ماځی ۔ د یوولسٌّ نه تر ۱۲ پورے بوشان ته ۔ د ۱۲ نه تر ۹۹ پورے بل شان ته ۔ د ۲۱ نه تر ۹۹ پورے بل شان ته د ۱۲ نه تر ۹۹ پورے بل شان ته ماځی ۔ که تاسو دویمه اودریمه فائده کښے کورئ

سوال :- د عدد اوسط ضابطه څه دهٔ ؟

جواب :- د عدد اوسط ضابطه دادهٔ چه تمیز به همیشه منصوب اومفرد به وی او موافق القیل به وی یعنی مذکر د پارهٔ مذکر ، مؤنث د پارهٔ مؤنث ۔ او دریمه ثَلٰثِیْنَ کښے عدد اوسط دٰوجه نه لَیْلَةً مفرد هم دے او منصوب هم دے ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ قیاس دے په عدد اقل کښے ۔

محترم طلباء کرامو تاسو نه داخواهش کوم چه که لږ غوندې د نحو او فکر نه کار واخستے شی نو انشاء الله العزیز به دا ټول مونږ ته حل کول آسانه شی ۔ صرف او صرف خبرهٔ د عقه ضو ابطو کښے منحصر ده ۔ الله پاک دے تاسو ته او مونږ ته علم نافع ، عطاکړی ۔

يَا جَارَتَا مَا اَنْتِ جَارَةٌ    يَا سَيِّدًا مَا اَنْتَ مِنْ سَيِّدٍ
مُوطَّأَ الْاَكْنَافِ رَحْبِ الذِّرَاعِ

د دے اشعارو څه ترکیب دے ـ ؟

## پنځم بحث په ترکیب کښے

رَأَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا ـ رَأَيْتُ فعل فاعل اَحَدَ عَشَرَ عدد مبهم مميز كوكبًا ورته تميز ـ مميز مع تميز مفعول به شو ـ فعل مع الفاعل مع المفعول دا جمله خبر شو د پاره دَإِنَّ او يا متكلم ورته اسم شو بغير دَإِنِّي نه جمله فعليه خبريه شوه او سره دَإِنِّي بيا جمله اسميه خبريه جوړيږي ـ

بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ـ با جاره خَمْسَةِ مجرور مبهم مميز آلَافٍ ورته تميز ـ مميز مع تميز مجرور شو د پاره د جار ـ جار مع المجرور مبين، مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ ورته بيان شو ـ مُنْزَلِيْنَ صيغه دَ اسم فاعل ورته خبر داقع شو ـ

فِي سِتَّةِ اَيَّامٍ ـ فِي جار سِتَّةِ مجرور مبهم مميز اَيَّامٍ ورته تميز ـ مميز مع تميز مجرور شو د پاره د جار ـ جار مع المجرور تعلق پيدا كيږي ما سبقه آيات كښے كوره

وَوَاعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً ـ واو قرآنيه وَاعَدْنَا فعل او نا ضمير دَ فاعل مُوْسٰى مفعول اول ثَلٰثِيْنَ اسم عدد مبهم مميز لَيْلَةً ورته تميز منصوب لفظاً مميز مع تميز مفعول ثاني شو د پاره دَ فعل ـ فعل مع الفاعل مع المفعولين جمله فعليه خبريه ـ

سَبْعَ لَيَالٍ ـ سَبْعَ عدد مبهم مميز لَيَالٍ ورته تميز ـ مميز مع تميز دا جز دَ جمله شو ـ

ثَمَانِيَةَ اَيَّامٍ ـ ثمانيه عدد مبهم مميز اَيَّامٍ ورته تميز دا هم مميز مع تميز جز دَ جمله شو بله جمله به ورته تاسے وباسئ ـ

وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ـ واو استئنافيه المطلقات مبتدا يَتَرَبَّصْنَ صيغه دَ جمع مؤنث فعل ضمير پكښ مستتر دے چه تعبير ئے ترينه كيږي په هُنَّ سره هغه ورته فاعل شو چه راجع دے المطلقات ته با جاره اَنْفُسِهِنَّ جمع صيغه اسم مجرور ـ جار مع المجرور تعلق نيسي تر يَتَرَبَّصْنَ پورے ـ ثَلٰثَةَ عدد مبهم مميز قُرُوْٓءٍ ورته تميز ـ مميز مع تميز دا مفعول به شو د پاره دَ فعل ـ فعل مع الفاعل مع المتعلق

مع المفعول بہ جملہ پہ تأویل دَ مفرد سرہ خبر شوَ پارہ دَ مبتداء ۔ مبتداء مع الخبر جملہ اسمیہ خبریہ ۔

اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا ۔ عَدَدِ مبہم ممیز درهمًا ورتہ تمیز ۔ ممیز مع تمیز جزدِ جملہ شو دویمہ جملہ ورتہ دباسیٔ ۔ اصل کنبے دا سے شو ۔ عِنْدِیْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا ۔ عِنْدِ مضاف یائی متکلم مضاف الیہ دا مفعول فیہ شوَ پارہ دَ فعل محذوف چہ ثَبَتَ دے ثَبَتَ فعل هُوَ ورتہ فاعل عِنْدِیْ ورتہ مفعول فیہ داخبر مقدم شو۔ اَحَدَ عَشَرَ دِرهمًا دا مبتداء مؤخر ۔ مبتداء مؤخر مع خبر مقدم جملہ اسمیہ خبریہ ۔

شاید چہ سابق کنبے ذَدے ځنے بحث تیر شوے وی خیر الکلام مَاقَلَّ وَدَلَّ دھغہ اشعار ونہ کسب

یَا جَارَتَا مَا اَنْتِ جَارَةً ۔ بَانَتْ لِتَحْزُنَنَا عَفَارَةً

یَا حرف نداء جَارَتَا منادیٰ منصوب مضاف، اصل کنبے یا جَارَتِیْ بدل کرہ کسرہ پہ فتح سرہ او یا الف سرہ ۔ مَا استفہام پہ محل دَ رفع مبتداء اَنْتِ ضمیر منفصل پہ محل دَ رفع خبر شو جارۃً تمیز ۔ بعضے وائی چہ داحال شو بَانَتْ فعل ماضی معلوم او تا حرف تانیث لام حرف جر تَحْزُنَنَا فعل مضارع منصوب او نا مفعول بہ عفارۃ فاعل الفعل شو ۔

یَا سَیِّدًا مَا اَنْتَ مِنْ سَیِّدٍ ۔ مُوَطَّأَ الاکناف رحب الذراع

یَا حرف نداء سَیِّدًا منادیٰ نکرہ مقصود مبنی بر فتح مَا اسم الاستفہام پہ محل دفع کنبے مبتداء اَنْتَ ضمیر منفصل پہ محل رفع کنبے خبر شو مِنْ حرف جر زائد سَیِّدًا اسم مجرور لفظاً منصوب محلاً تمیز موطأ صفت سید مضاف اکناف مضاف الیہ رحب صفت دَ سید شو مضاف الزراع مضاف الیہ جملہ ابتدائیہ لا محل لها من الاعراب جملہ فعلیہ خبریہ مَانت استنافیہ لا محل لها من الاعراب او دا جملہ اسمیہ خبریہ ۔ فتفکر ولا تکسل ولا تکن غافلاً ۔

فصل بدانکہ اسم بر دو ضرب است معرفہ و نکرہ معرفہ آنست کہ موضوع باشد
برائے چیزے معین و آں بر ہفت نوع است اول مضمرات
دوم اعلام چوں زَیْدٌ و عَمْرٌو سوم اسمائے اشارات چہارم اسمائے

موصوله واین دو قسم را مبهمات گویند پنجم معرفه بندا
چوں یَا رَجُلُ ششم معرفه بالف ولام چوں اَلرَّجُلُ هفتم
مضاف بیکے ازینها چوں غُلَامُهٗ وغُلَامُ زَیْدٍ و غُلَامُ هٰذَا
وَغُلَامُ الَّذِیْ عِنْدِیْ وَغُلَامُ الرَّجُلِ
ونکره آنست که موضوع باشد برائے چیزے غیر معین چوں رَجُلٌ
و فَرَسٌ

ترجمه :- دا فصل دے - پوه شه اے طالبه چه اسم په دوه قسمه سره دے یو معرفه دویم نکره - معرفه هغه اسم دے چه یو خاص شیٔ نوم دپاره وضع وی - دا بیا په اووه قسمه سره دے (۱) مضمرات مثال لکه هُوَ وغیره شو (۲) اعلام لکه زید او عمر شو (۳) اسماء اشارات دی (۴) اسماء موصول دی - دغه دوه قسمونه چه اسماء اشارات دی او اسماء موصولات دی مبهمات ویلے شی (۵) معرفه په حرف ندا سره د لکه یَا رَجُلُ (۶) معرفه په الف لام سره وی مثال لکه اَلرَّجُلُ شو (۷) هغه دچه مضاف وی - یو قسم د دغه مذکوره قسمونو ته مثال لکه غُلَامُهٗ ضمیر ته اضافت اوشو - او غُلَامُ زَیْدٍ اسم ته اضافت وشو او غُلَامُ هٰذَا اسماء اشاره ته اضافت وشو او غُلَامُ الَّذِیْ عِنْدِیْ کښے اسم موصول ته اضافت اوشو - او غُلَامُ الرَّجُلِ کښے اضافت معرف بالام ته اضافت وشو.

او نکره هغه ده چه موضوع وی یو غیر معین شی دپاره یعنی غیر معلوم شی دپاره مثال لکه رَجُلٌ او فَرَسٌ شو (سړے - آس) دا د دے دوه قسمو ترجمه وه -

## تشــــریحات

دلته لابدی ده د معرفت د امور اربعه ؤ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر د امثالو (۳) ذکر د مشق (۴) د بعضے جملو ترکیب .

اول بحث په تحقیقاتو کښے :- دلته لابدی ده د معرفت د امور ثلاثه ؤ نه

(۱) معرفت دَ معنی لغوی دَ دویُ (۲) معرفت دَ معنیٰ اصطلاحی دَ دویُ (۳) بیان دَوجه دَحصر . او دفع دَ بعضے اعتراضات .

**اول . معرفت دَمعنی لغوی** :- اول تقسیم دَ مصنفؒ اسم لره په اعتبار دَ توصیف سره وو . او س تقسیم دَ مصنف په اعتبار دَ معنیٰ سره او تعریف او تنکیر سره دے . دا دویل چه اسم پچپل کوټ کښے په دوه قسمه دے (۱) معرفه (۲) نکره . معرفه په لغت کښه مطلق پیژ ندلو ته وائی . او په اصطلاح کښے کښے معرفه آنست الخ ککه عبارت کښے دے ته مصنفؒ اشاره کړے ده . چه معرفه هغه اسم ته ویلے شی چه دَ یو خاص شی نوم دی چه دَ هغے نوم په اخستو سره هم هغه شی په خیال کښه راځی . مثلاً زَید کله چه دا دَ یو خاص سړی نوم وی . او په دے نوم اخستو سره هم دغه خاص سړے په تصور کښے راځی ، نه بل ، نو ځکه دا اسم معرفه دے . یا مثال روح الله یا رضوان الله یا شاه عطاء الله ز ما دَ ز ا منو نومونه دی . نو چرے څوک نوم و اخلی فوراً زما ذهن هغوئ طرف ته توجه کوی نه بل طرف ته . نو دغه توجه کول هغه شی معین طرف ته نه غیر طرف ته معرفه وائی .

**دریم . معرفت بیان دَوجه دَحصر** :- وجه دَ حصر یکښے دا ده چه دا اسم به خالی نه وی یا به وضع شوے دی دَ پاره دَ یو شی معین او یا به وضع شوے دی دَ پاره دَ یو شی غیر معین . که اول وُو نو معرفه شوه . او که ثانی وو نو نکره شوه .

**دفع دَ اعتراض** :- اعتراض وارد یږی چه مخکښے خو تقسیم دَ اسم شوے دے دوباره بیا چه اسم تقسیم کوو دا لغوی او مستدرک دے ؟

**جواب** :- چه تقسیمات متعدد ده هله مستدرک وی چه په جهت واحد سره دی او دا تقسیمات متعدد ده په جهاتو مختلفو سره دے نو مخکښے په جهت مبنی او معرب سره تقسیم شوے وُو او دا په بل جهت سره دے چه جهت دَ تعین او عدم تعین سره دے پس حاصل دا شو چه اسم په اعتبار دَ تعین او عدم سره په دوه قسمه دے معرفه او نکره . یعنی په اعتبار دَ معنیٰ سره تقسیمیږی .

**ذکر دَ فوائدو . اوله فائده** - په تعریف دَ معرفه کښے چه لفظ دَ معین ذکر شوے دے دا قید قید خارجی دے . ذکر دَ دے سره خارج شو نکره تعریف دَ معرفه نه .

معرفةٌ صیغه دَ مصدر ده او معنیٰ ئے ده پیژندل. نو معرفه هم پیژندل کیږی مثال لکه ښاروان عبادتو کښے تول امثال دَدے دَ وضاحت دَپاره دے

دویمه فائده :- اصل په اسماء کښے نکارت دے. معرفه کیدل دا فرع ده دَدے وجه نکره خپل معنیٰ باندے دلالت کوی بغیر دَ قرینے نه او معرفه محتاج ده قرینے ته داخبره واضحه ده چه څوک محتاج وی هغه فرع وی.

دریمه فائده :- دا معرفه په اوه اقسامو سره وی (۱) دَ هغے نه مضمرات دی او تفصیل دَ دوی سابق کښے تیر شوے دے. ځکه مصنفؒ دا اول نه دَ مضمراتو امثال ذکر نه کړه. او ضمیر هغه اسم دے چه دَ چا دَ نوم په ځائے ذکر کیږی. مثال هُوَ، اَنْتَ، اَنَا نَحْنُ. دَ ټولو اشیاء اعرف المعارف لفظ دَ الله دے. بیا ضمائر بیا عَلَمْ شخص بیا اسماء اشارات بیا اسماء موصولات بیا معرف باللام.

څلورمه فائده :- اسماء اشارات او اسماء موصولات ته مبهمات وائی دا دَدے وجه نه چه اسماء اشارات بغیر دَ مشارٌ الیه نه مبهم وی. موصولات بغیر صله نه مبهم وی. ځکه ورته صله نه لابدی شوه.

پنځمه فائده :- مخکښے تیر شویدی چه څلورمه فائده کښے نظر وکړی نو مبهمات صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب افعال نه. مفرد دَدے مُبْهَمَةٌ راځی او مبهمة معنیٰ ده پټ غیر معلوم. بغیر دَ مشارٌ الیه نه غیر معلوم وی. بغیر دَ صله نه موصول غیر معلوم وی

## دویم قسم اعلام

دا قسم ثانی دَ اوو اقسامو دَ معرفی نه دے. اعلام جمع دَ عَلَمْ ده. عَلَمْ په لغت کښے دَ غره څوکے ته وائی او په اصطلاح کښے عَلَمْ هغه اسم دے چه وضع شوے وی دَپاره دَیو شی معین لره چه وضع شوے وی په وضع واحد سره. مثال زید شو چه کله یو شخص معین دَپاره وضع وی بیا غیر ته نه شاملیږی. او که شامل شو نو په وضع آخر سره به شامل شی نه په وضع اول سره.

عَلَمْ درے قسمه دے (۱) اسم ماوضع لتعیین المسمیٰ مثال لکه زید شو (۲) کنیت ماوضع ثانیاً بعد الاسم. مثال یا پ دام ابو روح الله ابو رضوان الله ابو سعید شاه

عطاء الله (۳) لقب ماوضع ثالثاً بعد الکنیت مثال ا شعر بمدح کالرشید یا مثال ابو یوسفؒ اصلی نوم ئې یعقوبؒ دے . یا زمونږ خپل لقب مدقق -

## پنځم قسم معرفه په نداء سره

یعنې پنځم قسم معرفه دَ هغې اوو اقسامو نه هغه معرفه چه په حرف نداء سره ده مثال لکه یا رَجُلُ . اصل نکره دُو حرف یا سره معرفه شو . لکه متکلم حرف یا سره یوخاص مخاطب ته آواز وکړو تعین شو معرفه شو .

شپږمه فائده :- حرف نداء سره تعریف هلته حاصلیږی چه تعین وکړے شی دَ متکلم له طرفه اوکه تعین نه وی بیا تعریف نه حاصلیږی . مثال یو نابینا شخص آواز وکړو یا رَجُلُ خُذْ بِیَدِیْ مراد دلته نفس رجل دے نه شخص معین نو دا نکره شوه

## شپږم معرفه بالام

یعنې شپږم قسم دَ هغه اووه اقسامو نه معرف باللام دے . یعنې چه په الف لام سره معرفه شوے وی . ځکه چې دَ الف لام نه هغه نکره وی . بیا الف لام ورباندے داخل شی معرفه شی . لکه معرفه باندے خو الف لام نه راځی . مثال رَجُلُ نکره ده که الف لام ورباندے داخل شی بیا الرجل مراد شی مراد ترینه خاص رجل دے . مثال لکه قرآن پاک کښې الله تعالیٰ فرماۍ لِاَ یَکُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَیْکُمْ شَهِیْدًا . رسول نکره ده الف لام ورباندے داخل شو نو معرفه شوه . مراد رسول پاک (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ سَلَّم)

اووم قسم :- دَ معرفے ، هغه اسم نکره ده چه مضاف شی دَدے شپږ و قسمونو نه یو قسم ته . نو بیا دغه اسم نکره په معرفه شی . مثال لکه غُلَامُهٗ مثال دَ ضمیر شو . مثال دَ علم غُلَامُ زَیْدٍ . مثال دَ اسم اشاره غُلَامُ هٰذَا . مثال دَ اسم موصول غُلَامُ الَّذِیْ عِنْدِیْ مثال دَ معرف بالام غُلَامُ الرَّجُلِ

فتفکر ولا تکسل ولا تکن غافلاً

فندامت عقبی لمن یتکاسل

**نکره** :- هغه ده چه وضع شوی وی دپاره دیو شی غیر معین . نکرهٔ دَتنکیر نه ده . او تنکیر په لغت کښے نامعلومه شی ته وائی . تنکیر ناپیژندلُ ته دائی او په اصطلاح کښے نکره هغه ده چه تعریف ئے مصنفؒ پخپله متن کښے کړیدے . مثال رَجُلٌ وَفَرَسٌ داوُد دَ اسم په لحاظ دَمعنی سره بیا دَدیته بعد دَ اسم تعریف کوی مصنفؒ په اعتبار دَجنس سره -

## دویم بحث ذکر دامثالو

اَللّٰهُ رَبُّنَا حِلْمُ الرَّجُلِ عَوْنُهٗ اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ كَلَامُ اللّٰهِ دَوَاءُ الْقَلْبِ هٰذَا اَخِیْ نَحْنُ مُسْتَغْفِرُوْنَ ذِكْرُ اللّٰهِ طَمَانِیَةُ الْقَلْبِ یَامَرْیَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا صَمْتُ الْجَاهِلِ سَتْرُهٗ زَیْدٌ وعَمْرٌو اَلرَّجُلُ وَالْغُلَامُ نَحْنُ اَنْتَ هٰذَا ذَالِكَ اَلَّذِیْ اَلَّتِیْ دَارُ نَائِمٍ وَثَوْبُ بَكْرٍ وَثَوْبُ الرَّجُلِ وَثَوْبِیْ وَثَوْبُكَ وَغُلَامُ هٰذَا وَفَرَسُ هٰذَا الرَّجُلِ اَنَا یُوْسُفُ هٰذَا عَبْدُكَ حِرْفَةُ الْمَرْءِ كَنْزُهٗ لِیْنُ الْكَلَامِ قَیْدُ الْقُلُوْبِ صَبْرُكَ یُوْرِثُ الْخَیْرَ هٰذَا مَاكَنَزْتُمْ هٰذِهٖ اُخْتِیْ هٰؤُلَاءِ عَبِیْدِیْ اَلصَّلٰوةُ عِمَادُ الدِّیْنِ اَلزَّكٰوةُ یُزَكِّی الْمَالَ اَلصَّوْمُ جُنَّةٌ اَلْحَجُّ مُطَهِّرٌ ذٰلِكُمُ الشَّیْطٰنُ یُخَوِّفُ اَوْلِیَاءَهٗ اَللّٰهُ یَعْلَمُ مَاتَصْنَعُوْنَ

## دریم بحث ذکر د مشق

سوال :- اَللّٰهُ رَبُّنَا په دغه اوهٔ اقسامو دَ معرفے کښے څه واقع شوے دے ؟

جواب :- دلته یو لفظ دَالله دے چه دیته عَلَمْ وائی . دویم لفظ رَبُّنَا دے چه دیته اضافت وائی . ضمیر دلته دا حرف جر اضافت شوے دے . ماته دَ ټولو نه اعرف المعارف لفظ دَالله دے . ځکه دریمه فائده کښے ذکر شویدی دویم ئے معرفه شویدے له وجه دَاضافت نه لفظ دَ ماته . پس له لفظ دالله اعرف المعارف بیا ضما ئردی . نو په اوه اقسامو کښے دے داولی نه دے لفظ دَ الله معرفه ده له وجه دَالف لام نه . او دویم چه معرفه دے له وجه دَ اضافت نه . لفظ دَالله

مبتداء معرف بالام دے . رَبُّنَا ورته خبر شو جمله اسمیه جوړه شوه

سوال :- حِلْمُ الرَّجُلِ عَوْنُهٗ ، دا په دغه اوه اقسامو کښے څه واقع شویدے ؟

جواب :- د لته دوه کاره شویدی . اول اضافت معرف بالام ته شویدے ثاني اضافت ضمیر ته شویدے . حِلْمُ الرَّجُلِ اضافت د دواسم شویدے بل اسم ته چه معرف بالام دے . دویم جز عَوْنُهٗ اضافت شویدے ضمیر ته

اُولٰٓئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْنَ

سوال :- دا کوم یو قسم نه دے ؟

جواب :- دا د اسماء اشارا تو نه دے . هُمْ مبتداء اَلرَّاشِدُوْن ورته خبر دے

سوال :- كَلَامُ اللّٰهِ دَوَاءُ الْقَلْبِ

سوال :- دا په دغه اوو اقسامو کښه څه واقع شویدے ؟

جواب :- دا د دویم قسم نه دے چه عَلَمْ ته اضافت وشوځکه چه كَلَامُ اضافت شویدے لفظ د اللّٰه ته

سوال :- دا اول جز په ترکیب کښے څه واقع شویدے ؟

جواب :- دا مبتداء ، دَوَاءُ الْقَلْبِ کښے اضافت شویدے معرف بالام ته دا ورته خبر دے دلته هم یو اسم بل اسم ته چه معرف بالام دے اضافت شویدے .

سوال :- هٰذَا اَخِيْ دا څه واقع شویدے ؟

جواب :- هٰذَا اسم اشاره ده دا اول جز د کلے دے او دویم جزئے اضافي جز دے ځکه چه اَخٌ اسماء ستة مکبّر او نه دے . بیا اضافت وشو یائے متکلم ته نو دویم جزئے اضافي جز شو . نو جزء اول مبتداء شوه او جزء ثاني د دے خبر شو .

سوال :- دا څنګه معلومه شوه چه هٰذا مبتداء ده او اَخِيْ ورته خبر دے ؟

جواب :- دا څو د جمله اسمیه جوړولو (۶) نمبر ضابطه ده . چه ضابطه دا ده چه : اسم اشاره کله چه اول کښے راشي او د هغے نه بعد بغیر د الف لام نه یو اسم راشي نو دغه اسم اشاره به مبتداء وي او مابعد به ورته خبر وي . مثال لکه هٰذَا اَخِيْ يا هٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ، هٰذَا كِتَابٌ اَنْزَلْنٰهُ . فَهٰذِهٖ فَوَائِدُ وَافِيَةٌ -

سوال :- نَحْنُ مُسْتَغْفِرُوْنَ دا څه واقع شویدے ؟

جواب :- اول جز ضمیر مرفوع منفصل راغے هغه مبتدا شو - دویم جز صیغه د اسم فاعل د مشبه جمله ورته خبر شو .

سوال :- ذِكْرُ اللهِ طُمَانِيَةُ الْقَلْبِ داخه واقع شوی دے ؟

جواب :- دلته اسم اضافت شوی دے عَلَمْ ته ځکه چه الله لفظ اسم عَلَمْ دے او دویم جز کښے اضافت شوی دے هغه معرفے ته چه معرف باللام دے دا هم مبتدا خبر شو دوا ړه جز ونه اضافی دی (فتفکر)

سوال :- يَامَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا داخه واقع شوی دے ؟

جواب :- دلته خو حرف ندا ده . حرف نداء سره دا معرفه شوی دے اَنّٰى بیا معنی کښے سره دے .

سوال :- صَمْتُ الْجَاهِلِ سَتْرُهٗ داخه واقع شوی دے ؟

جواب :- دا شپږم قسم د معرفے نه دے چه الف لام سره شی معرفه کړی دلته اضافت شوی دے هغه معرفے ته چه معرفه شوی دے الف لام سره . دویم جز کښے اضافت شوی دے ضمیر ته نو مبتدا او خبر شو .

سوال :- زَيْدٌ وَعَمْرٌو داخه واقع شوی دے ؟

جواب :- دا خو دویم قسم دے چه عَالَمْ دے ځکه چه زَيْدٌ عَلَمْ دے او عمرو هم عَلَمْ دے

سوال :- اَلرَّجُلُ اَلْغُلَامُ څه واقع شوی دے ؟

جواب :- دا شپږم قسم دے چه معرفه په الف لام سره دی . نَحْنُ ، اَنْتَ ، هٰذَا ذَالِكَ دوئم ضمائر دی . دوه یکښے اسماء اشارتونه دی . اَلَّذِیْ ، اَلَّتِیْ دا دواړه اسماء موصوله دی

سوال :- دَارُ زَيْدٍ ، وَثَوْبُ بَكْرٍ داخه واقع شوی دے ؟

جواب :- دلته اضافت عَلَمْ ته شوی دے . دویم جز ورله پیدا کول پکار دی چه هٰذَا دے . هٰذَا دَارُ زَيْدٍ .

سوال :- وَ ثَوْبُ الرَّجُلِ ، وَثَوْبِیْ ، وَثَوْبُكَ داخه واقع شوی دے ؟

جواب :- اول جز اضافت معرفه په الف لام سره ، دویم جز اضافت یای متکلم ته دویم جز اضافت ضمیر ته شوی دے تنکر او کړئ . دویم جزء د جمله ورته پیدا کړی مثال ثَوْبُ الرَّجُلِ هٰذَا .

**سوال :-** غُلَامُ هٰذَا څه واقع شویدې ؟

**جواب :-** دلته اضافت اسماء اشارات ته شوېدې. دویم جزو ته پیدا کړئ چه کلام تام شي.

**خلاصه دَبیان** - زما دَعزت منکرو تاسو ته داحیله لرم چه پخپله مابقیه امثالو کښې سوچ فکر نه کار واخلئ.

## شلورم بحث دَ بعضې جملو تراکیب

اَوَّلًا دَ هغه مضاف مضافٌ الیه امثال ذکر کوم چه په عومیر کښې را غلي دي. ثانیًا دیکړا مثال -

۱- غُلَامُهٗ ، غُلَامُ مضاف ۀ ضمیر مضافٌ الیه - مضافٌ مع المضافٌ الیه دا مبتداء شو. دویم جزدَجملې به ورته تاسو وباسئ لکه حَاضِرٌ شو یا قَائِمٌ شو. نو حَاضِرٌ یا قَائِمٌ ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه شوه. ضمیر ته اضافت شوېدې.

۲- غُلَامُ زَیْدٍ - غُلَامُ مضاف زَیْدٍ اسم عَلَمْ مضافٌ الیه. مضاف مع المضافٌ الیه مبتداء حَاضِرٌ یا قَائِمٌ یا قَاتِلٌ یا غَائِبٌ ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه دا مثال دَ اضافت عَلَمْ ته -

۳- غُلَامُ هٰذَا - مثال دَ اضافت اسم اشاره ته. پوره مثال دا سې کیږي غُلَامُ هٰذَا الرَّجُلِ قَتَلَ زَیْدًا. اوس پوره ترکیب دا. غُلَامُ مضاف هٰذَا اسم اشاره الرَّجُلِ مشارالیه اسم اشاره مع المشارٌ الیه مضافٌ الیه شو دَپاره دَ مضاف چه غُلَامُ دې. مضاف مع المضافٌ الیه چه هٰذَا الرَّجُلِ دې مبتداء قَتَلَ فعل ضمیر مستتر هُوَ ورته فاعل زَیْدًا ورته مفعول به. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه خبر شو دَپاره دَ مبتداء مبتداء مع الخبر چه غُلَامُ هٰذَا الرَّجُلِ قَتَلَ زَیْدًا دې. جمله اسمیه خبریه شوه.

۴- غُلَامُ الَّذِیْ عِنْدِیْ - دلته مضاف اضافت اسم موصول ته شوېدې. دویم جز ورسره زیات کړې شو چه عِنْدِیْ لفظ دې. بیا عِنْدِیْ مضاف مضاف الیه مفعول فیه واقع شویدې دَپاره دَ فعل محذوف چه ثَبَتَ دې. نو تقدیر دَ عبارت دا رنګه شو. غُلَامُ الَّذِیْ ثَبَتَ عِنْدِیْ قَدْ نَصَرَ عَمْرًا. غُلَامُ مضاف اَلَّذِیْ اسم موصول ثَبَتَ صیغه واحد مذکر

غائب فعل ماضی معلوم چه باب د نَصَرَ يَنْصُرُ نه راځی. مثال ثَبَتَ يَثْبُتُ ضمير پکښې مستتر دے چه تعبير ئے کیږی په هُوَ سره هغه ورا ته فاعل شو. عِنْدَ مضاف یائی ضمیر متکلم مضافٌ الیہ، مضاف مع المضافٌ الیہ دا مفعول فیہ شو دپاره د ثبت فعل فعل مع الفاعل چه هُو دے مع المفعول فیہ چه عِنْدِیْ دے دا جمله فعلیه صله شوه دپاره د موصول چه اَلَّذِیْ دے. موصول مع صله مضافٌ الیہ شو دپاره د مضاف چه غُلَامُ د مضاف مع المضافٌ الیہ دا مبتداء شوه. قَدْ حرف تحقیق نَصَرَ صیغه واحد مذکر فعل ماضی معلوم ضمیر پکښې مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره چه ورته فاعل دے او زَيْدًا ورته مفعول نو فعل مع الفاعل مع المفعول بہ جمله فعلیه خبریه خبر شو د پاره د مبتداء. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه شوه.

۵- غُلَامُ الرَّجُلِ- غُلَامُ مضاف اَلرَّجُلِ مضافٌ الیہ. مضاف مع المضافٌ الیہ مبتداء حَاضِرٌ ورته خبر شو. دا جمله اسمیه خبریه.

۶- اَللّٰهُ رَبُّنَا- اَللّٰهُ معرف باللام اسم معرفه مبتداء رَبُّنَا مضاف مع المضاف الیہ دا خبر شو دپاره د مبتداء. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه.

۷- حِلْمُ الرَّجُلِ عَوْنُهٗ- حِلْمُ الرَّجُلِ مضاف مع المضاف الیہ مبتداء عَوْنُ مضاف ہٗ ضمیر مضافٌ الیہ ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه.

۸- اُولٰٓئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْنَ- اُولٰٓئِكَ اسم جمع مبتداء هم دا مبتداء ثانی اَلرَّاشِدُوْنَ دا صیغه د جمع د اسم فاعل هم پکښې ضمیر مستتر هغه ورته فاعل شو. اسم فاعل مع الفاعل خبر شو دپاره د مبتداء. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه شوه. بیا دا جمله اسمیه خبریه خبر شو دپاره د مبتداء. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه شوه. مشارٌ الیه محذوف دے. معلومیږی د هُمْ نه چه راجع دے مشارٌ الیه ته.

كَلَامُ اللّٰهِ دَوَاءُ الْقَلْبِ- كَلَامُ مضاف لفظ د الله مضافٌ الیہ. مضاف مع المضافٌ الیہ مبتداء دَوَاءُ مضاف اَلْقَلْبِ مضافٌ الیہ. مضاف مع المضافٌ الیہ دا ورته خبر شو مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه شوه. دا هغه معرفه ده چه الف لام والا اسم ته اضافت شوے وی.

هٰذَا اَخِیْ- هٰذَا اسم اشاره قریب مبتداء اَخِیْ مضاف یائی متکلم مضافٌ الیہ.

مضاف مع المضاف الیہ دا خبر شو دپارہ دَ مبتدا ء ۔ مبتدا ء مع الخبر جملہ اسمیہ خبریہ
نَحْنُ مُسْتَغْفِرُوْنَ ۔ نَحْنُ ضمیر مرفوع منفصل مبتدا ء مُسْتَغْفِرُوْنَ صیغہ دَ اسم فاعل
مع الفاعل دا شبہ جملہ خبر شو دَ پارہ دَ مبتدا ء ۔ مبتدا ء مع الخبر جملہ اسمیہ خبریہ ۔
ذِکْرُ اللّٰہِ طَمَانِیَۃُ الْقَلْبِ ۔ ذکر مضاف شو لفظ دَ اللہ تہ ذِکْرُ مضاف اللہ مضاف
الیہ ۔ مضاف مع المضاف الیہ مبتدا ء طمانیۃ مضاف اَلْقَلْبِ مضافٌ الیہ
مضاف مع المضافٌ الیہ خبر شو دَ پارہ دَ مبتدا ء ۔ مبتدا ء مع الخبر جملہ اسمیہ خبریہ
خلاصہ دَ بیان دا شوہ چہ مابقیہ بیان بہ پہ ماسبق باندے قیاس کرے شی تفکر نہ کار واخلئ

بداں کہ اسم بر دو صنف است مذکر و مؤنث مذکر آنست کہ درو
علامتِ تانیث نہ باشد چوں رَجُلٌ و مؤنث آنست کہ در وے علامتِ
تانیث باشد چوں اِمْرَأَۃٌ و علامت تانیث چہار است
تا چوں طَلْحَۃُ والف مقصورہ چوں حُبْلٰے
والف ممدودہ چوں حَمْرَاءُ و تائے
مقدرہ چوں اَرْضٌ کہ در اصل اَرْضَۃٌ بودہ است
بدلیل اُرَیْضَۃٌ زیرا کہ تصغیر اسماء را بہ اصلِ
خود بردو ایں را مؤنث سماعی گویند وبدانکہ مؤنث بر دو قسم است
حقیقی ولفظی حقیقی آنست کہ بازائے او حیوانے مذکر باشد چوں اُمْرَأَۃٌ
کہ بازائے او رَجُلٌ است و نَاقَۃٌ کہ بازائے او جَمَلٌ است لفظی
آن است کہ بازائے او حیوانے مذکر نہ باشد چوں ظُلْمَۃٌ
وَقُوَّۃٌ

ترجمہ :۔ پوہ شہ اے طالبہ ! اسم پہ دوہ قسمہ سرہ دے مذکر او مؤنث ۔ مذکر
هغه دے چه په هغے کښے دَ تانیث علامه نه وی لکه رَجُلٌ او مؤنث هغه دے چه په هغے
کښے علامه دَ تانیث وی ۔ مثال لکه اِمْرَاَۃٌ شو ۔ او علامات دَ تانیث څلور دی
یو تا ده لکه طَلْحَۃٌ شو دویم الف مقصوره دے لکه حُبْلٰی شو چه امید واره ښځے ته
وئیلے کیږی ۔ دریم نمبر الف ممدوده دے ۔ مثال لکه حمراء شو ۔ څلورم کښے تائی مقدره

مثال لکه په اَرْضٌ کښې کښ په اصل کښې اَرْضَةٌ دہ. ځکه چه دَدے دلیل دا دے چه اسم تصغیر دَدے اُرَیْضَةٌ راځی. ځکه چه اسم تصغیر خوا سماء خپل اصل ته واپس کوی. او دغه قسم ته مونث سماعی وائی.

پوه شه اے طالبه! په دغه خبره باندے چه مؤنث په دوه قسمه سره دے یو ته مؤنث حقیقی وائی او بل ته مؤنث لفظی. مؤنث حقیقی هغه دے چه دَهغې په مقابله کښې نرحیوان موجود وی. مثال لکه اِمْرَأَةٌ شو. دَدے مقابله کښې نر شته چه رَجُلٌ دے. رَجُلٌ معنی سړے دے. او بل مثال نَاقَةٌ شو چه دَدے مقابله کښې جمل موجود دے. دَجمل معنی ده اوښ. او لفظی هغه دے چه دَهغې په مقابله کښې نرحیوان موجود نه وی مثال لکه ظُلْمَةٌ شو. او قُوَّةٌ شو. ظُلْمَةٌ تیاره ته وائی او قوة طاقت ته وائی. دَدینه علاوه نور امثال هم شته دے.

## تشریحات

دلته لاندی دہ دَمعرفت دَامور ستّه دُ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَاقسامو (۳) ذکر دَضوابطو (۴) ذکر دَامثالو (۵) ذکر دَمشق (۶) دَ بعضو جملو تراکیب.

**اول بحث تحقیقات:** - دا تقسیم دَاسم په اعتبار دَجنس سره دے ځکه چه دینه مخکښې په اعتبار دَاعراب په اعتبار دَمعنی سره بیان شو اوس په اعتبار دَجنس سره بیان کوی. مصنفؒ وجه دَحصر په دے دوه کښې دا دہ چه دا اسم به خالی نه وی یا به پکښې علامه دَ تانیث وی یا به نه وی کچیرے علامه دَ تانیث نه وه دا مذکر شو. او کچیرے علامه دَ تانیث پکښې موجود وه دا مؤنث شو. او س تحقیق په لفظ دَمذکر کښې. مذکر صیغه دَاسم مفعول ده دَباب تفعیل نه. دَدے معنی په لغت کښې نسبت کړے شوے وی نر ته لکه هُوَ مذکر من بنی آدم یتجاوز من حد الصغر الی حد الکبر نه

او په اصطلاح کښې مذکر هغه اسم دے چه علامه دَ تانیث پکښې نه وی لکه مصنفؒ پخپله متن کښې ورته اشاره کړیده مذکر آنست مثال لکه رَجُلٌ زَیْدٌ ، عَمْرٌو ، بَکْرٌ - مؤنث هم صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب تفعیل نه دَدے معنی په لغت کښې نسبت کړے شوے . ماده (ښځې) ته وائی . او په اصطلاح کښې مؤنث هغه اسم دے چه علامه دَ تانیث پکښې موجود وی کما اشار الیه مصنفؒ فی المتن (ومؤنث آنست) مثال اِمْرَئَةٌ شو . دلته دا تاء علامه دَ تانیث ده نو دَدے وجه نه رَجُلٌ مذکر - اِمْرَئَةٌ مؤنث شو

خلاصه دَ بیان هر کله چه فرق په ما بین دَ مذکر او مؤنث کښې په علامو سره وی نو بیا لا بدی شوه دَ تعین دَ علامه نه ځکه چه تعریف بالمجهول لازم رانشی او تعریف بالمجهول لا تمیل داغیر جائز دی . دَدے وجه مصنفؒ تعین دَ علامه دَ مؤنث وکړه . چه دَ مؤنث دَپاره څلور علامه دی تا - الف مقصوره - الف ممدوده - تاءِ مقدره لف نشر مرتب سره امثال هم ذکر کوو . طلحة - حبلیٰ - حمراء - ارضٌ . نو حاصل دَ بیان دا شو چه مؤنث په اعتبار دَ علامه سره دوه قسمه سره دے . (۱) مؤنث قیاسی او مؤنث سماعی - مؤنث قیاسی هغه مؤنث ته وائی چه علامه دَ تانیث په تلفظ کښې ظاهر شی . او علامت تانیث په قیاسی کښې درے دی . تا خواه حقیقةً وی یا حکمًا . حقیقةً مثال طَلْحَةٌ . دَ حکمًا مثال عَقْرَبٌ . دیکښې دا څلورم حرف چه باء دے دا دَ تانیث په حکم کښې وی - دویم الف مقصوره مثال حبلیٰ - موسیٰ - عیسیٰ دریم الف ممدوده مثال حَمْرَاءَ - بیضاء - صحراء .

او دویم قسم هغه مؤنث سماعی . مؤنث سماعی هغه مؤنث ته وائی چه علامت تانیث پکښې پټ وی . مثال ارضٌ ، شمسٌ چه اسم تصغیر دَ دوی اُرَیْضَةٌ ، شُمَیْسَةٌ راغلے دے نو معلوم دا شو چه اصل دَدے اَرْضَةٌ او شَمْسَةٌ دی . هغوی مؤنث دی نو دَ مؤنث دغه دوه قسمه قیاسی او سماعی دَ علامت په اعتبار سره وُو .

او س دَ مؤنث تقسیم په اعتبار دَ حقیقی او لفظی سره . مؤنث حقیقی دا سے مؤنث ته وائی چه دَ هغے مقابله کښې ذی روح والا حیوان وی . بیا برابره خبره ده چه علامت تانیث

پکښې وی یا نه. مثال لکه اِمْرَئَةٌ مقابل کښې رَجُلٌ - اَتَان مقابل کښې حِمَارٌ - نَاقَةٌ مقابله کښې جَمَلٌ .

مُؤنث لفظی . دا سې مؤنث ته وائی چه دَ هغې مقابله کښې هیڅ یوذی روح والاحیوان نه وی . برابره خبره ده دغه لفظ کښې علامه دَ تانیث وه یا نه . مثال ظُلْمَةٌ اوعَیْنٌ اول کښې تا شته او دویم کښې علامه ظاهراً نشته دے .

نو حاصل دَ سبق دا شو چه مؤنث په دوه قسمه دے . حقیقی او لفظی . وجه دَ حصر دلته چه دا مؤنث به خالی نه وی یا به نے مقابله کښې مذکر دَ حیوانا تو نه وی یا نه . که وُو مؤنث حقیقی . که نه وُو مؤنث لفظی شو . کما اشار مصنفؒ (حقیقیؔ آنست، ولفظیؔ آنست حقیقی مثال اِمْرَئَةٌ مقابله کښې رَجُلٌ راځی . دَ لفظی مثال ظُلْمَةٌ مقابله کښې نور راځی داحیوان نه دے . قوت مقابله کښې ضعف راځی دا بیاحیوان نه دے .

او س تحقیق په الف مقصوره کښې . هغه الف ته وائی چه ورپسې دَ هغې نه همزه نه وی او دیته مقصوره ځکه وائی چه دَ مقصور معنٰی ده (کوتا) یعنی لنډ کړے شوے . او په دوئ باندې هم آواز لنډیږی په وخت دَ تلفظ کښې . یا دویمه وجه . مقصوره معنٰی بند کړے شوے او دا هم بند کړے شویدے دَ حرکت نه .

الف ممدوده هغه الف ته وائی چه ورپسې دَ دینه همزه وی . او دیته ممدوده ځکه وائی چه ممدود معنٰی طویل کړے شوے . دا هم طویل کیږی په وخت دَ تلفظ کښې ځکه چه آواز دا کا بدل کیږی .

اول دفع دَ یو اعتراض - اعتراض وارد یږی چه طَلْحَةٌ خو تاسو په مؤنث کښې ذکر کړه حال دا دے چه طلحه دَ یو صحابی نوم ده هغه صحابی مذکر وُو -

مونږ جواب کوو - مراد ش مونږ په طلحه سره مسمّٰی بالطلحه نه دے بلکه صرف لفظ دَ طلحه دے او طلحه لفظ مؤنث دے -

دویم دفع دَ یو اعتراض - اعتراض وارد یږی چه تاسو وائی چه الف مقصوره داعلامه دَ تانیث ده . نو نه به درته دښایم چه الف مقصوره به وی او تاسو به ورته مؤنث نه دیئ . مثال لکه مصطفٰی ، مجتبٰی ، عیسٰی ، موسٰی شو ( فتفکر)

جواب :- که دا علامے قولے به زائد وی دا خو اصل دی ځکه چه مقابل دَ لام کلمه کښې

راغلی دی.

دریم. دفع دَیو اعتراض - اعتراض وارد یږی چه تاسو خودلی چه الف ممدوده

دا علامه دَ تانیث ده. نو نه به دی وبنایم چه الف ممدوده به وی او مراد به دی نه

جمع مذکر وی لکه شُرَکَاءُ شو.

مونږ جواب کوو چه دا الف ممدوده چه ده دا علامه دَ تانیث ده بیا دا عامه ده

که مذکر کښې وی او که مؤنث کښې. خکه چه مونږ بحث په لفظ کښې دے نه په مسمّا کښې

## دویم بحث ذکر دَ اقسامو

دغه اسم اَوَّلاً په دوه قسمه سره دے (۱) مذکر (۲) مؤنث - هر یو دَ پاره تعریف مخکښې

تیر شویدے. بیا ثانیًا مذکر هم دوه قسمه سره دے (۱) مذکر حقیقی (۲) مذکر لفظی

او مؤنث هم په دوه قسمه سره دے (۱) مؤنث حقیقی (۲) مؤنث لفظی. بیا ثالثًا دغه ٦

علامات دَ تانیث دری طریقې لری. اَوَّلاً علامه دَ تانیث لفظًا حقیقةً مثال طلحةٌ

ثانیًا لفظًا حکمًا مثال عَقْرَبُ ثالثًا یا تقدیرًا وی مثال ارضٌ وعَیْنٌ.

بیا دا بعدًا علامه دَ تانیث څلور قسمه سره ده (۱) الف مقصوره مثال حبلی (۲) الف

ممدوده مثال حَمْرَاءُ (۳) تائی متحرکه مدوره ملفوظه مثال طَلْحَةٌ (۴) تائی متحرکه

مدوره مقدره مثال اَرْضٌ اصل کښې ارضة دے بناپه اسم تصغیر سره اُرَیْضَةٌ سره

## دریم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه - دَ مذکر او مؤنث که علامه دَ تانیث دی نو مؤنث شو که نه وی بیا مذکر شو

۲- ضابطه - تمام مملکت نومونه او تمام بنارونو نومونه دا مؤنث سماعی دی.

۳- ضابطه - تمام دَ جسم اعضاء نومونه دا مونث سماعی دی.

۴- ضابطه - تمام دَ شرابو نومونه مؤنث سماعی دی.

۵- ضابطه - دَ دوږخ نومونه هم مؤنث سماعی دی.

۶- ضابطه - دَ هوا تمام نومونه مؤنث سماعی دی.

۷- ضابطه - دَ زنانو تمام نومونه او دَ هغوئ تمام صفتونه مونث سماعی دی.

۸- ضابطه - دَ مؤنث سماعي الفاظ واجب التانیث دي
۹- ضابطه - دَ فعل اسناد چه وشي ضمیر متصل دَ مؤنث حقیقي ته نو تانیث دَ فعل واجب دَ مثال. هِنْدٌ قَامَتْ
۱۰- ضابطه - دَ فعل اسناد چه وشي ضمیر متصل دَ مؤنث غیر حقیقي ته نو هم تانیث دَ فعل واجب دے - مثال اَلشَّمْسُ طَلَعَتْ
۱۱- ضابطه - دَ فعل متصرف اسناد چه وشي اسم ظاهر دَ مؤنث حقیقي ته متصل بلا فصل نو بیا هم تانیث دَ فعل واجب دے - مثال ضَرَبَتْ هِنْدٌ -
۱۲- ضابطه - که دَ فعل اسناد وشي اسم ظاهر دَ مؤنث حقیقي ته مع الفصل نو بیا هم تانیث دَ فعل واجب دے په دے شرط سره چه دا اسم مشهور وُو په مذکر کښے نحو ضَرَبَتِ الْيَوْمَ زَيْدٌ اِذَا جُعِلَ زَيْدٌ علمًا للمؤنث -
۱۳- ضابطه - که دَ فعل اسناد وشي اسم ظاهر دَ مؤنث غیر حقیقي ته نو په هغه کښے جواز دَ وجهین دے - نو طَلَعَتِ الشَّمْسُ وطَلَعَ الشَّمْسُ -
۱۴- ضابطه - که دَ فعل اسناد وشي ضمیر منفصل دَ مؤنث حقیقي ته نو په هغه کښے جواز دَ وجهین دے - نحو هِنْدٌ قَامَ اِلَّا هِيَ وَهِنْدٌ مَا قَامَتْ اِلَّا هِيَ -
۱۵- ضابطه - که دَ فعل متصرف اسناد وشي اسم ظاهر دَ مؤنث حقیقي ته نو دا یه خالي نه وي یا به دا فصل شاغل وي په اِلَّا سره یا به دا فصل شاغل وي په بل شي سره که فصل شاغل وي په اِلَّا سره نو په هغه کښے جواز دَ وجهین دے لیکن تانیث پکښے اولی دے - مثال ضَرَبَ الْيَوْمَ وَضَرَبَتِ الْيَوْم هِنْدٌ وماذالك
۱۶- ضابطه - که دا فصل شاغل وي په اِلَّا سره نو په هغه کښے تذکیر اولی دے دَ تانیث نه مثال ماذکی اِلَّا فتاة ابن العلي
۱۷- ضابطه - که دَ نِعْمَ او بِئْسَ اسناد وشي اسم ظاهر دَ مونث حقیقي ته متصلاً بلا فصل نو په هغه کښے تذکیر اولی دے دَ تانیث نه مثال نِعْمَ الْمَرْئَةُ و بِئْسَ الْمَرْئَةُ
۱۸- ضابطه - که دَ فعل اسناد وشي جمع مؤنث سالم ته وجهین جائز -
۱۹- ضابطه - که دَ فعل اسناد وشي جمع مؤنث مکسر ته
۲۰- ضابطه - یا جمع مذکر مکسر ته -

۲۱ - ضابطه - یا اسم جمع ته -
۲۲ - ضابطه - یا اسم جنس جمعي ته نو په دغه مذکر ضابطاً ذکنې دوه وجهين جائز دي
۲۳ - ضابطه - که دَ فعل اسناد وشي جمع مذکر سالم ته بيا تذکر دَ فعل واجب دي
ځکه چه جمع مذکر سالم اشرف دَ جمعو نه ده . پکښې تاويل په جماعة سره نه دے جائز -
۲۴ - ضابطه - چه دَ فعل اسناد وشي جمع مذکر سالم عاقل ته نو تذکر دَ فعل واجب
دے مع الاظهار ضمير الجمع لمذکر مثال المسلمون ضربوا ولا يجوز المسلمون ضَرَبَتْ
۲۵ - ضابطه - که دَ فعل اسناد وشي ضمير دَ جمع مذکر مکسر عاقل ته نو په دغې کښې
جواز دَ دوه وجهينُ دے (۱) تانيث دَ فعل مع الاسناد ضمير الرِّجَالُ قَامَتْ (۲) مثال
تذکير دَ فعل سره دَ ايراد دَ ضمير دَ جمع مذکر نه مثال الرِّجَالُ قَامُوا -
۲۶ - ضابطه - که اسناد دَ فعل وشي ضمير دَ جمع مذکر مکسر غير عاقل ته يا ضمير
دَ جمع مؤنث ته مطلقاً که جمع مؤنث سالمه وي او که جمع مؤنث مکسره وي او که اسم جمع
وي نو دغې کښې هم جواز دَ دوه وجهينُ دے (۱) ايراد دَ ضمير دَ جمع مؤنث مثال اَلنِّسَاءُ
قُمْنَ اَلْاَيَّامُ مَضَيْنَ (۲) تانيث دَ فعل سره دَ استتار دَ ضمير نه مثال اَلنِّسَاءُ
قَامَتِ الاَيَّامُ مضت -

## شلورم بحث ذکر دَ امثالو

۱ - کنې دَ بني آدم دَ اعضاؤ نومونه . نو مؤنث سماعي دے . عَيْنٌ - اُذُنٌ - خَدٌّ
ثَدْيٌ - كَتِفٌ - عَضُدٌ - يَدٌ - كَفٌّ - دَرِكٌ - فَخِذٌ - سَاقٌ - رِجْلٌ - قَدَمٌ
عَقِبٌ - سِنٌّ - كَبِدٌ - كَرِشٌ - اِسْتٌ - اِصْبَعٌ
۲ - نمبر کښې - دَ حيوانا تو نومونه . عَقْرَبٌ - ثَعْلَبٌ - اَرْنَبٌ - اَفْعٰى - فَرَسٌ
عَنْكَبُوْتٌ .
۳ - نمبر کښې - دَ قدرتي اشياءُ نومونه مثال . اَرْضٌ - رِيْحٌ - نَارٌ - لَظٰى - مِلْحٌ
ذَهَبٌ - ضَرَبٌ - عَيْنٌ وَيَنْبُوْعٌ - شَمْسٌ - يَمِيْنٌ - شِمَالٌ -
۴ - نمبر - دَ مصنوعي اشياؤ نومونه . دَارٌ - دَلْوٌ - عَصَا - فُلْكٌ - ذِرَاعٌ - فَاسٌ
قَوْسٌ - مَنْجَنِيْقٌ - خَمْرٌ - بِئْرٌ - دِرْعٌ - فَرَسٌ - كَاسٌ - مُوْسٰى - سَرَاوِيْلٌ

۵- نمبر - دَ دوزخ نومونه - جَهَنَّمُ - سَعِيْرٌ - جَحِيْمٌ - سَقَرٌ -

۶- نمبر - بعضے متفرقات - نَفْسٌ - غَوْلٌ - فِرْدَوْسٌ - عَرُوْضٌ - حَرْبٌ - ضَبُعٌ

دغه مذکورچه څومره ذکرشو تقریباً دَ تعداد و په لحاظ سره (۶۰) ته رسیږی دیته

مؤنث واجب التانیث وائی -

۷- نمبر - هغه آشیاؤ ذکرچه جائز تانیث دی - مثال عُنُقٌ - قَفَا - لِسَانٌ - رِحْمٌ

بَيْتٌ - سِلْمٌ - صَلَاحٌ - مَالٌ - ضُحٰى - مِسْكٌ - سَمَاءٌ - ثُرٰى - طَرِيْقٌ - وَسَبِيْلٌ

سِكِّيْنٌ - سِرْطَانٌ - دا تقریباً (۱۷) دی۔

## پنځم بحث په مشق کښې

سوال :- عَيْنٌ - دا مذکر دے او که مؤنث ؟

جواب :- دا مؤنث دے۔

سوال :- مؤنث سماعی دے که مؤنث حقیقی ؟

جواب :- دا مؤنث سماعی دے۔

سوال :- دَ مؤنث سماعی کیدل څه شرائط پکښے موجود دی ؟

جواب :- دَ اعضاءَ ټول نومونه دا په مؤنث سماعی کښے داخل دی۔

سوال :- دیکښے ضابطه څه ده ؟

جواب :- دیکښے ضابطه دا ده چه دا (۶۰) او لنی قسمونونه چه کلما شی نوبیادیته

مونث واجب التانیث دے یعنی ما بعد دَ دے چه کوم لفظ راځی هغه به مؤنث وی۔

سوال :- اُذُنٌ نه داخله الیٰ اِصْبَعٌ پورے ټول مؤنث سماعی دی اوټولو ته

واجب التانیث دی۔ نکه دریم ضابطه کښے تیر شوی دی چه تمام اعضاء نومونه

دا مؤنث سماعی دی۔ نو مؤنث سماعی واجب التانیث دی۔ دیته اول نمبر دَ مثالو

وائی۔ دَ دے نه بعد بیا دَ دویم نمبر دَ امثالو ذکر راځی۔ بیا به دریم۔ بیا دَ څلورم۔ بیا

پنځم بیا شپږم بیا هفتم۔

سوال :- دَ دویم نمبر دَ امثالو سوالونه۔ مثال لکه عَقْرَبٌ دا مذکر دے که مؤنث؟

جواب :- دا مؤنث -

سوال :- دا کوم مؤنث دے . مؤنث سماعی دے که مؤنث حقیقی ؟

جواب :- مؤنث سماعی دے .

سوال :- دا مؤنث چه سماعی مؤنث دے دیکښے څه دلیل دے ؟

جواب :- دا هم مؤنث سماعی دے . ځکه چه په ذکر دا مثالوکښے اوه اقسام ذکرشو اول نمبر مؤنث سماعی وُو - دویم نمبر هم مؤنث سماعی دے . توجه اوکړئ امثالو مذکوره وُته

سوال :- په مابین دَ مؤنث سماعی او قیاس کښے څه فرق دے ؟

جواب :- مؤنث سماعی واجب التانیث نه خلاف دَ قیاس نه .

سوال :- تَغلَبُ نه اِلیٰ عَنکَبُوتُ پورے هم مؤنث سماعی دے که مؤنث قیاسی دے ؟

جواب :- مؤنث سماعی دے .

سوال :- اَرضٌ نه اِلیٰ شِمَالٌ پورے داخه شے دے ؟

جواب :- دا هم مؤنث سماعی دے واجب التانیث دے .

سوال :- دَارٌ - دَلوٌ نه اِلیٰ سَرَاوِیلُ پورے داخه شے دے ؟

جواب :- دا هم مؤنث سماعی دے او واجب التانیث دے .

سوال :- جَهَنَّمُ نه اِلیٰ ضِبَعٌ پورے داخه واقع شوی دے ؟

جواب :- دا هم مؤنث سماعی دے او واجب التانیث دے .

. تر دے مقام پورے تقریباً دَ دے شمارہ شپیتو پورے رسیږی . دا قول واجب التانیث دی دَ دینه مابعد بیا جائز الوجهین ذی ( فتفکر ولا تکسل )

عُنُقٌ نه اِلیٰ سِرکَانُ پورے تقریباً دَ شمار په لحاظ سره (۱۷) ته رسیږی . دا جائز الوجهین دے . تذکیر هم جائز دے او تانیث هم جائز دے اګرچه دلته عُنُقٌ او قِفَا او لِسَانٌ او وَجهٌ ذکر شو . دا هم دَ بنی آدمو دَ اعضاؤ نه دی . تاسو سابق کښے دا نده کړی وُو چه دا به مؤنث سماعی وی او واجب التانیث وی او س دَ دے تقریر نه دا معلومه شوه چه دا جائز التانیث دے (جواب) دا بحیث استثنا ذکر شو . بیا تانیث پکښے ذکر راغلی په ضمن ځائزی کښے . کچرے تاسو حضراتو لږ نور سوچ هم وکړ انشاء الله العزیز تاسو ته به دیر اهمیت معلوم شی .

خلاصه بیان دا دے : چه ماصرف دا یو او دوه سوالونه صحیح طریقه سره

ذکر کړه . نو تا سو ورباندے قیاس اوکړئ . باقی دَدے ذکر شوو امثالو ترجمه
عَیْنٌ ( سترګه ) اُذُنٌ (غوږ) خَدٌّ د انګی . فارسی کښے رخسار وائی) شَدْیٌ
(دَ زنانه تیونه) کَتِفٌ (اوږه) عَضُدٌ (مټ) یَدٌ (لاس) کَفٌّ (ورغوے) وَرِكٌ
(دَ کناټو سروته) فَخِذٌ (پتون) سَاقٌ (پنډۍ) رِجْلٌ (خپه) قَدَمٌ (ګام) عَقِبٌ
(ایږ) سِنٌّ (غاښ) کَبِدٌ (ځګر) کبرشٌ (لرے) اِسْتٌ (مقعد) اِصْبَعٌ (ګوته
عَقْرَبٌ (لړم) ثَعْلَبٌ (ګیدړ) اَرْنَبٌ (خرګوش - سوے) اَفْعٰی (اژدها) فَرَسٌ (آس)
عَنْکَبُوْتٌ (جولاګے - غڼه) اَرْضٌ (زمکه) رِیْحٌ (هوا - باد) نَارٌ (اور) لَظٰی (شعله)
مِلْحٌ (مالګه) ذَهَبٌ (سره زر) ضَرَبٌ (شهد) عَیْنٌ (چینه) شمس (لمر)
یَمِیْنٌ (ښے طرف) شمال (چپ طرف) دَارٌ (کور) دَلْوٌ (بوکه) عصا (همسا)
فُلْكٌ (کشتئ) ذِرَاعٌ (ګز) فَاسٌ (تبر) قَوْسٌ (لینده) مَنْجَنِیْقٌ (کاڅئ)
کاڅئ په لینده کښے هغه ځائے دے چه کانړے پکښے اینودل کیږی . یا بعضے وائی چه
هغه شے دے چه دانے پکښے میده کیږی . میچن ورته وائی . اور دوکبے ورته کوپهیا وائی
خَمْرٌ (شراب) بِئْرٌ (کوهے) دِرْعٌ (قمیص) فَرَسٌ (فرش) کَاْسٌ (پیاله) مُوْسٰی
(چاړه) ته وائی چه حاجیانو صاحبانو چه سر تراش کوی . سَرَاوِیْلٌ (پرتوګ) جهنم
(دوزخ) الی آخره پوره . نَفْسٌ (ساه) غَوْلٌ (مصیبت) فِرْدَوْسٌ (باغ) عَرُوْضٌ
(میزان) حَرْبٌ (جنګ) ضِبْعٌ (کوږ) عُنُقٌ (ګردن) تفارست) لِسَانٌ (ژبه)
رَحِمٌ (بچه دانه) بَیْتٌ (کوټه) قِدَارٌ (هنډیا) سلمٌ (صلح) صَلَاحٌ (بهتر)
حَالٌ (وقت) ضُحٰی (دَ ځاښت وخت) مِسْكٌ (مشك) سَمَاءٌ (آسمان) شرنګ
(خاکسار شخص) طَرِیْقٌ (لاره)

## شپږم بحث دَ تراکیب

عَیْنٌ مرفوع لفظاً مبتداء . خبر ورته پیدا کړی ؛ صَحِیْحَةٌ ورته خبر شو.
دغه رنګه الی آخره پوره خبر ورته راوباسئ ځکه چه پخپله کور کښے دے مبتداء
جوړه شی . خبر ورته نه لرئ نو مجبوراً به ته ځانه خبر پیدا کړے .
باقی اصل خبره هغه ضوابط ته خیال سا ته چه کله دوی ذکر شو ما بعد ته کوری

تر (۶۰) نمبر پورې ۰ ا مثالو دَ پاره واجب تانیث ذکر کیږی. مثال دَ فعل اسناد وشو اسم ظاهر دَ مؤنث حقیقی ته متصلاً بلا فصل بیاد اجب ته نظر اوکړئ. ضَرَبَتْ هِنْدٌ دَ فعل اسناد اوشی اسم ظاهر دَ مؤنث حقیقی ته مع الفصل بیا هم واجب تانیث وی. مثال ضَرَبَتِ الْیَوْمَ زَیْنَبُ دَ فعل اسناد وشی ضمیر متصل دَمؤنث حقیقی ته. نو هرچه دَ فعل واجب تانیث دے مثال الشَّمْسُ طَلَعَتْ

بداں کہ اسم بر سہ صنف است واحد ومثنیٰ ومجموع ۔ واحد آنست کہ دلالت کند بر یکے چوں رَجُلٌ ۔ ومثنیٰ آنست کہ دلالت کند بر دو بسبب آنکہ الف یا یاء ماقبل مفتوح ونونے مکسورہ بآخرش پیوند دچوں رَجُلَانِ و رَجُلَیْنِ و مجموع آنست کہ دلالت کند بر بیش از دو بسبب آنکہ تغیرے در واحدش کردہ باشد لفظاً چوں رِجَالٌ یا تقدیراً چوں فُلْكٌ کہ واحدش نیز فُلْكٌ است بروزنِ قُفْلٌ وجمعش ہم فُلْكٌ بروزنِ اُسُدٌ ۔

ترجمه :- پوه شه اے طالبه : چه اسم په درے قسمه سره دے (واحد-تثنیه-جمع) واحد هغه دے چه دلالت کوی په یو باندے لکه رَجُلٌ معنی یو سړے ۰ او تثنیه هغه ده چه دلالت کوی په دوو باندے. په دے شرط سره چه الف وی یا یائی وی او ماقبل دَهغوئ مفتوح یعنی زبر وی ۰ او بل نون مکسوره دَدے په آخیره کښے راشی. مثال لکه رَجُلَانِ وَرَجُلَیْنِ دوه سړی په حالت دفع کښے یا دوه سړی په حالت نصبی او جری کښے ۰ او جمع هغه ده چه دلالت کوی دَ دوو نه په زیاتو په دے سبب سره چه هغه په واحد کښ تغیر شوے وے په واسطه دَلفظ سره. مثال رِجَالٌ شو چه مفرد دَهغے رَجُلٌ ده . معنی دیر سړی. یا به تقدیرًا تغیر پکښے راغلے وی. مثال لکه فُلْكٌ چه دَدے واحد هم فُلْكٌ دے په وزن دَ قُفْلٌ سره او جمع دَدے هم فُلْكٌ ده په وزن دَ اُسُدٌ سره

# تشــریحات

ولتہ لابدی دہ دَ معرفت دَ امور ستۃ ؤنہ (۱) تحقیقات (۲) هدایات (۳) دفع دَ اعتراض (۴) ذکر دَ امثالو (۵) ذکر دَ مشق (۶) دَ بعضو جملو تراکیب -

**اول بحث تحقیقات** :- دَ لتہ لا بدی دہ دَ معرفت دَ امور اربعہ ؤنہ (۱) بیان دَ وجہ دَ حصر (۲) بیان دَ معنیٰ لغوی (۳) بیان دَ معنیٰ اصطلاحی (۴) بیان دَ فرق پہ مابین دَ تثنیہ اوجمع مذکر سالم کښې - دا تقسیم دا اسم پہ اعتبار دَ تعداد سرہ دَ

**اول بیان وجہ دَ حصر** - پہ دے دے وارو کښې دادہ چہ دا اسم بہ خالی نہ وی یا بہ دلالت کوی پہ یو یا بہ دلالت کوی پہ دوہ یا بہ دلالت کوی زیات دَ دوو نہ - کہ دلالت ئے کولو پہ یو صیغے تہ واحد وائی . واحد هغہ اسم دے چہ دَ خپلے معنیٰ دَ افرادو نہ صرف یو فرد ظاهرہ وی . لکہ رَجُلٌ صرف یو سرے . او کہ دلالت ئے کولو پہ دوو باندے صیغے تہ تثنیہ وائی . تثنیہ هرهغہ اسم دے چہ دَ خپلے معنیٰ دَ افرادو نہ دوہ فردہ ظاهرہ وی . مثال لکہ رَجُلَانِ معنیٰ صرف دوہ سری رَجُلَيْنِ . او کہ دلالت ئے کولو پہ ډیرو باندے صیغے تہ جمع وائی . جمع هرهغہ اسم دے چہ دَ خپلے معنیٰ دَ افرادو نہ دَ دوو نہ زیات افراد ظاهرہ وی لکہ رِجَالٌ ډیر سری -

**دویم بیان دَ معنی لغوی** - واحد پہ لغت کښې یو تہ وائی . او تثنیہ پہ لغت کښې دوو تہ وائی . ځکہ چہ مثنّٰی صیغہ دَ اسم مفعول دہ دَ باب تفعیل نہ . اصلی معنیٰ دَ دے دوہ کری شوی سرہ راځی . او مجموع هم صیغہ دَ اسم مفعول دہ . لغوی معنیٰ دَ دے جمع کری شوی سرہ راځی .

**دریم بیان دَ معنی اصطلاحی** - واحد پہ اصطلاح کښې کما مرّ فی المتن و شرحہ والمثنّٰی ایضًا ، والجموع ایضًا فتفکر فی المتن و الشرحہ .

**څلورم بیان دَ فرق دے** - فرق پہ مابین دَ تثنیہ اودَ جمع مذکر سالم کښې دادے چہ تثنیہ پہ حالت نصبی او جری کښې یا ماقبل دَ صیغے مفتوح وی او پہ جمع مذکر سالم کښې یا ماقبل دَ صیغے مکسور وی دَ پارہ دَ دے چہ فرق راشی پہ مابین د تثنیہ اوجمع مذکر سالم کښې او ذتہ پہ عکس سرہ نہ کوو . ځکہ چہ تثنیہ اسبق وی وجودا او فتحہ اخف وی

نواخف شی تثنیه واخسته . نوکسره پاتے شوہ جمع مذکر سالم ته

**دویم بیان په هدایاتو کښې** . دَ واحد نه دَ تثنیه جوړولو طریقه دا ده چه په آخره کښې الف یا (ی) زیات کړے شی . هغه یا زیات کړے شی چه ما قبل دَ هغې مفتوح وی او په آخره کښې نون مکسوره اضافه کړے شی . لکه رَجُلٌ نه رَجُلَانِ الف او نون مکسوره اضافه شویدے . او رَجُلَیْنِ دا دے او ما قبل مفتوح او دَ نون مکسوره دَ اضافه کولو مثال دے .

دَ واحد نه چه جمع جوړولے شی دَ هغې مختلف طریقې وی . تقریبًا (۹) پوره دَ هغې شمار دسیږی (۱) کله چه دَ واحد په لفظ کښې څه حرف زیات کړے شی مثال رَجُلٌ نه رِجَالٌ اول مفرد ثانی جمع . صرف الف زیات کړے شویدے (۲) کله دَ واحد لفظ نه کمی کولو سره جمع جوړیږی . مثال لکه رَسُوْلٌ مفرد او واو ئے حذف شی رُسُلٌ جمع شی دغسے کِتَابٌ مفرد الف حذف شی کُتُبٌ جمع ده (۳) کله واحد لفظ دَ یو نه وی او جمع لفظ دَ بل نه وی . مثال لکه اِمْرَئَةٌ مفرد شو او جمع دَ دے نِسْوَةٌ یا نِسَاءٌ دَ بل لفظ نه راغلل (۴) کله دَ واحد او دَ جمع فرق فرق فرضی وی . مثال لکه فُلْكٌ شو (۵) کله لفظ دَ جمع وی او دَ هغې مفرد نه وی . مثال لکه اَثَاثٌ سامان ته وائی . اَبَابِیْلٌ دَ هیوانانو یو ے جملے ته وائی (۶) کله دَ جمع مفردات دَ معنی په لحاظ سره مختلف وی . لکه رِجَالٌ لفظ جمع ده . مګر دَ دے واحد لکه رَجُلٌ شو او دَ دے مفرد رِجْلٌ اخلی . بیا پیاده او خپے ته هم وائی لکه قرآن پاک کښې وائی فَرِجَالًا اَوْ رُکْبَانًا (۷) کله دَ جمعے نه جمع جوړیږی دیته جمع الجمع وائی . لکه وروسته راځی (۸) کله لفظ مفرد وی او معنی ئے دَ جمع ورکوی مثال رَکْبٌ سواره عِیْرٌ قافله . قَوْمٌ . رَهْطٌ (۹) کله دَ جمع او دَ واحد صرف فرق په تا سره وی . مثال نَمْلٌ و نَمْلَةٌ . تَمْرٌ و تَمْرَةٌ . اول لفظونه جمع دی او ثانی لفظونه مع التا مفرد دی . دا وو بیان او هدایات او دَ صیغے جوړولو طریقه .

## دریم بحث دفع دَ اعتراض

اعتراض وارديږی چه نون دَ تثنیه مکسوره وی او نون دَ جمع مفتوح وی دا ولے ؟

جواب :- په تثنیه کښې به نون مکسور ځکه وی چه کسرے سره دَ تثنیه مناسبت دے

په توسط کښې. په دې شان سره چه تثنيه متوسط ده په مابين دَ واحد اودَ جمع کښې نو تثنيه اوسط الحال شوه. دغه دَ لکه فتحه هم اوضمه په اعتبار سره کسره متوسط ده. لِهٰذا انصاف داد ے چه متوسط متوسط ته ورکړے شي. او بعضے حضرات وائي نون دَ تثنيه دا عوض دَ نون تنوين نه شاغلے دے. او نون دَ تنوين حرف ساکن وي. نو ضا بطه داده چه "اَلسَّاكِنُ اِذَا حُرِّكَ حُرِّكَ بِالْكَسْرِ"، او نون دَ جمع سالم مذکر به مفتوح وي ځکه چه تخفيف حاصل شي ځکه چه جمع ثقيل وي هغے لره لابدي وي دَ تخفيف نه. ځکه نون دَ دے مفتوح شو. ضابطه په دیکښے داده چه. اَلثِّقْلُ يَقْتَضِي الْخِفَّةَ. او حرکات ثلاثه کښې خفة په فتح کښې دے نو په نورو کښې لِهٰذا انصاف دا تقاضا کوي چه ثقيل لره خفيف ورکړے شي. خفيف لره ثقيل ورکړے شي.

اعتراض وارديږي چه تاسو وائي چه الف اويا دي، په آخر دَ مفرد کښې به پيوست دي. نو په دوو بنايم پيوست به نه دي په آخر دَ مفرد کښې بيا هم دلالت کوي په دوه باندے. مثال اثنان واثنتان کما في الحاشيه.

جواب:- زمونږ بحث په هغه تثنيه کښې دے چه مفرد لره خلاف دَ دوي نه چهوړي مفرد نه لري. ليکن په آخره کښې نون شته دے. نو او س دلالت په تثنيه کوي ستا اعتراض وارد نشو ځکه چه دیته تشبيه بالتثنيه وائي.

اعتراض:- وارديږي چه کله تاسو وائي چه په آخره کښې به نون مکسوره وي بيا به تثنيه باندے دلالت کوي. نو به دوو بنايم چه نون مکسوره به هم نه وي ليکن تثنيه باندے به دلالت کوي. مثال لکه کلا او کلتا شو.

جواب:- مراد دَ نون مکسوره نه هغه نون مکسوره دے چه دے مفرد لري. بيا به نون مکسوره ورسره پيوست کيږي خلاف دَ هغه صيغے نه چه دلالت په تثنيه کوي ليکن مفرد نه لري هغه کښې دا شرط نه دے.

**خلاصه دَ بيان.** تثنيه کښې درے شرايط دي (۱) اول دَ هغے به مفرد وي (۲) په دوه باندے به دلالت کوي (۳) په آخر دَ هغه کښې الف ما قبل دَ هغے به مفتوح وي يا به نون مکسور وي. کله چه په هغه کښې يو شرط کم شي بيا هغے ته تثنيه څوک نه وائي. مثال لکه کلا او کلتا چه مفرد نه لري. نون مکسور ما قبل مفتوح هم نه لري

دیته ملحقات د تثنیه وائی . دغه رنګه اثنان واثنتان شو دیته مشابه بالتثنیه
وائی ځکه چه د دے مفرد نشته

## د تثنیه اقسام

تثنیه په دوه قسم سره ده . یو حقیقی بل تغلیبی . تغلیبی تثنیه هغه ده چه حقیقت په اعتبار سره یو فرد باندے دلالت کوی . د یو فرد بیا بل فرد باندے غلبه ورکړے شی مثال لکه شمسین ، قمرین ، عمرین ، ابوین ، اولین ، آخرین (فتفکر ولاتکسل)
خلاصه د بیان - د جمع چه تقدیراً وی . مثال لکه فُلْکٌ چه مفرد د دے هم فُلْکٌ رائی . خو صرف فرق د مفرد او د جمع په وزن سره دے . مثال که دغه فُلْکٌ ته په وزن د قُفْلٌ شی بیا مفرد ګرځی . ځکه چه په قُفْلٌ کښے دغه ضمه او سکون د واضع په اصطلاح سره دا راغلے د مفرد د پاره که جمع فرض کړے شی . خلاف مفروض راځی او که قیاس کړے شی په اُسْدٌ باندے . نو د اُسْدٌ دا ضمه او سکون دا واضع وضع کړیدے د جمع د صیغے د پاره . که مفرد دغه مفرد فرض کړے شی بیا خلاف المفروض رائی . نو حاصل دا شو چه جمع هغه ده چه دلالت کوی زیات د دوو نه . او مفرد ورسره د هغه کلمے نه وی . لکه رِجَالٌ شو . مفرد د دے هغے رَجُلٌ دے . او اسم جمعے دلالت کوی زیات د دوو نه لیکن مفرد ورله د هغے کلمے نه نه وی نو هغے ته بیا جمع ځوک نه وائی . مثال لکه قَوْمٌ شو یا رَهْطٌ شو . که مفرد ورله د هغے کلمے نه وی او دلالت هم په زیات د دوو نه کوی . لیکن په هغه وزن سره جمع په کلام د عربو کښے نه وی راغلی نو هغے ته به جمع نه وایو . مثال لکه رَکْبٌ جمع د رَاکِبٌ (فتفکر)

## څلورم بحث ذکر د امثالو کښے

سَلَامَةُ الْاِنْسَانِ فِیْ حِبْسِ النَّفْسِ سَادَةُ الْاُمَّةِ الْفُقَهَاءُ اَلدُّنْیَا
مَشْحُوْنَةٌ بِالرَّزَایَا هِیَ بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ اَلسَّمَآءُ مُنْفَطِرَةٌ اَلشَّمْسُ
تُکَوَّرُ اَلْقِیٰمَةُ وَاقِعَةٌ دَوْلَةُ الْاَرَاذِلِ آفَةُ الرِّجَالِ دَوْلَةُ الْمُلُوْكِ
اَلْعَدْلُ اَلْمَلٰئِکَةُ عِبَادٌ مُّکْرَمُوْنَ اَلشَّیْخَانِ اَفْضَلُ الصَّحَابَةِ هَدَیْنَاهُ

هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ هٰذِهٖ لَبَنُ الْاَتَانِ حَرَامٌ اَلشَّاةُ نَظِيْفَةٌ النَّجْدَيْنِ
اِمْرَءَةٌ ذَيْلٌ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ خَلَقَ الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ مُسْلِمُوْنَ
مُسْلِمٌ نِسْوَةٌ كُتُبٌ اُسُسٌ ثُقُلٌ رُسُلٌ رَسُوْلٌ نَمْلَةٌ نَمْلٌ

## پنځم بحث ذکر د مشق

سوال :- سَلَامَةُ الْاِنْسَانِ فِيْ حَبْسِ النَّفْسِ کښے مذکر او مؤنث جدا کړه .
جواب :- لفظ سَلَامَةٌ مؤنث حقیقی دے . ځکه چې مددره ده اَلْاِنْسَانُ دا جمع صیغه ده مذکر سالم ده او النَّفْسِ مؤنث سماعی ده او جمله اسمیه خبریه ده سَلَامَةُ مضاف مع المضاف الیه مبتداء فِيْ حَبْسِ النَّفْسِ ورته خبر شو مع المتعلق.
سوال :- سَادَةُ الْفُقَهَاءِ الْفُقَهَاءُ داځه واقع شوے دے ؟
جواب :- سَادَةُ مؤنث دے اضافت ئے شوے اُمة ته الْفُقَهَاءُ جمع صیغه ده دا ورته خبر واقع شوے دے .
اَلدُّنْيَا مَشْغُوْنَةٌ بِالرَّزَايَا داځه واقع شوے مفرد دے که جمع
جواب :- اَلدُّنْيَا یا دَدُنُوٌّ نه دے . په معنی د نزدے دے . دنیا ته ځکه دنیا وائی چه مونږ ته د آخرت نه نزدے ده . یا دے مشتق دے دَنَاءَةٌ نه بیا په معنی دِرِذَالَةٌ دے کار دے نو دنیا هم بے کاره ده بے کاره شے دے مَشْغُوْنَةٌ صیغه دَاسم مفعول مؤنث ده بالرزایا مصیبت ته وائی دا متعلق شوتر مشغولةٌ پورے . دا مجموعه جمله اسمیه جوړیږی ځکه الدنیا معرف بالام ده
سوال :- جِئِ بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ داځه واقع شوے دے ؟
جواب :- داځه مفرد مؤنث دے او صفراءُ کښے حمراءُ غوندے الف ممدوده موجود دے صفت د بقرة دپاره .
سوال :- اَلسَّمَاءُ مُنْفَطِرَةٌ . اَلسَّمَاءُ داځه واقع شوے دے ؟
جواب :- دا مؤنث سماعی دے . نو منفطرةٌ ورته خبر او مؤنث صیغه داسم مفعول ده

اَلشَّمْسُ تَكَوَّرُ ۔ داجمله اسميه خبريه ده او بل شمس مؤنث سماعي دے څکه وجه دسته ورته تَكَوَّرُ هم مؤنث ذکر دے

**سوال** :۔ اَلْقِيَامَةُ وَاقِعَةٌ داځه داقع شوى دے؟

**جواب** :۔ داهم مؤنث سماعي دے څکه چه اَلْقِيَامَةُ مبتداء وَاقِعَةٌ ورته خبر شو آخيره کرخه ۔ نِسْوَةٌ جمع كُتُبٌ جمع اُسُدٌ جمع قُفُلٌ مفرد رَسُوْلٌ مفرد رُسُلٌ جمع نَمْلَةٌ مفرد نَمْلٌ جمع تَمْرٌ جمع وتَمْرَةٌ مفرد

**خلاصه دَ بيان** ۔ مابقيه کښے پخپله تجربے څخه کار واخلئ چه مابقيه ذکوم يو سنه واقع دے ۔ تفکر ذکار و اخلئ ۔

## شپږم بحث دَ بعضے جملو تراکیب

سَلَامَةُ الْاِنْسَانِ فِيْ حَبْسِ النَّفْسِ ۔ سَلَامَةُ مضاف څکه چه مرفوع واقع شوے دے او انسان مضافٌ اليه ۔ مضاف مع المضافٌ اليه مبتداء فِيْ جار حَبْسِ مجرور مضاف النفس مضافٌ اليه ۔ مضاف مع المضافٌ اليه مجرور شو وَپاره دَجار ۔ جار مع المجرور تعلق نيسي تو ثابتٌ مقدر پورے هغه شبه جمله مع المتعلق ورته خبر شو ۔

سَادَةُ الْاُمَّةِ اَلْفُقَهَاءُ ۔ سَادَةُ مضاف الامة مضافٌ اليه ۔ مضاف مع المضافٌ اليه مبتداء الفقهاء ورته خبر شو ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه ۔

اَلدُّنْيَا مَشْحُوْنَةٌ بِالرَّزَايَا ۔ الدُّنْيَا مبتداء ده مشحونة شبه جمله بِالرَّزَايَا ورته متعلق متعلق مع المتعلق خبر شو وَپاره دَمبتداء چه الدُّنْيَا ده ۔

هِيَ بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ ۔ هِيَ مبتداء ضمير مرفوع منفصل چه ابتداء کښے راشي بيا مبتداء کيږي ۔ بَقَرَةٌ موصوف صَفْرَاءُ ورته صفت ۔ موصوف مع الصفت خبر شو جمله اسميه خبريه

اَلسَّمَاءُ مُنْفَطِرَةٌ ۔ اَلسَّمَاءُ مرفوع لفظاً مبتداء مُنْفَطِرَةٌ صيغه دَاسم مفعول مؤنث ديکښے ضمير دے چه هِيَ راجع دے اَلسَّمَاءُ ته دا شبه جمله ورته خبر شو ۔ مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه ۔

اَلشَّمْسُ تَكَوَّرُ ۔ اَلشَّمْسُ مرفوع لفظاً مبتداء تَكَوَّرُ صيغه مؤنث مجهول ضمير دَهِيَ راجع دے اَلشَّمْسُ مؤنث سماعي ته دا ورته خبر شو مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه شوه ۔

اَلْقِيْمَةُ وَاقِعَةٌ - اَلْقِيْمَةُ مرفوع لفظًا مبتداء واقعةٌ ورته خبرشو. مبتداء مع الخبر جلہ اسمیہ خبریہ -

دَوْلَةُ الْاَرْذَالِ اٰفَةُ الرِّجَالِ - دَوْلَةُ مضاف اَرْذَالِ مضافٌ الیہ مضاف مع المضاف الیہ مبتداء اٰفَةُ مضاف الرِّجَالِ مضافٌ الیہ مضاف مع المضافٌ الیہ خبرشو

دَوْلَةُ الْمُلُوْكِ اَلْعَدْلُ - دَوْلَةُ مضاف اَلْمُلُوْك مضاف الیہ. مضاف مع المضاف الیہ مبتداء اَلْعَدْلُ ورته خبرشو. مبتداء مع الخبر جلہ اسمیہ خبریہ.

اَلْمَلٰئِكَةُ عِبَادٌ مُكْرَمُوْنَ - اَلْمَلٰئِكَةُ مبتداء عِبَادٌ موصوف مُكْرَمُوْنَ دا شبہ جلہ ورته صفت شو. موصوف مع صفت دا خبرشو دپاره د مبتداء. مبتداء مع الخبر جلہ اسمیہ خبریہ

اَلشَّيْخَانِ اَفْضَلُ الصَّحَابَةِ - الشیخانِ دا مبتدا افضل الصّحابةِ افضل مضاف الصحابة دا مضافٌ الیہ. مضاف مع المضافٌ الیہ خبرشو. مبتداء مع الخبر جلہ اسمیہ خبریہ

هَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ - هَدَيْنَاهُ فعل فاعل او هٗ ضمیر منصوب منفصل مفعول بہٖ شو. اَلنَّجْدَيْنِ مع مفعول فیہ شو. فعل مع الفاعل مع المفعولین جلہ فعلیہ خبریہ

اَلشَّاةُ نَظِيْفَةٌ - الشاة مبتداء معرف بالام مرفوع لفظًا نظیفةٌ دا ورته خبرشو. مبتداء مع الخبر جلہ اسمیہ خبریہ. مابقیہ وربا ندے قیاس کړئ -

بدانکہ جمع باعتبار لفظ بر دو قسم است جمع تکسیر و جمع تصحیح جمع تکسیر آنست کہ بنائے واحد در وسلامت نباشد چوں رِجَالٌ و مَسَاجِدُ و ابنیہ جمع تکسیر بسماع تعلق دارد و قیاس را دروے مجالے نیست امّا در رباعی و خماسی بروزن فَعَالِلُ آید چوں جَعْفَرٌ وجَعَافِرُ و جَحْمَرِشٌ و جَحَامِرُ بحذف حرفِ خامس و جمع تصحیح آنست کہ بنائے واحد درو سلامت ماند و آں بر دو قسم است جمع مذکر و جمع مؤنث جمع مذکر آنست کہ واوے ماقبل مضموم یا یائے ماقبل مکسور و نونے مفتوح در آخرش پیوندد چوں مُسْلِمُوْنَ و مُسْلِمِيْنَ و جمع مؤنث آنست کہ الفے باتائے بآخرش پیوندد چوں مُسْلِمَاتٌ -

ترجمه :- پوه شه اے طالبه دا خبره نو ده کړه چه جمع په اعتبار دَ لفظ سره په دوه قسمه سره ده. یو ته جمع تکسیر وائی او بل ته جمع تصحیح وائی. جمع تکسیر هغه دے چه بناء دَ واحد په هغه کښے سلامت نه وی پاتے. مثال لکه رِجَالٌ او مَسَاجِدُ شو. او وزن نو نه دَ جمع تکسیر په ثلاثی کښه په سَمِع پورے تعلق لری. او قیاس لره په دیکښے دخل نشته. هرچه په رباعی او خماسی کښے په وزن دَ فَعَالِلُ سره راځی. مثال لکه جَعْفَرٌ او جَعَافِرُ. جَحْمَرِشٌ او جَحَامِرُ راځی په حذف دَ حرف خامس سره یعنی په خماسی کښے به حرف خامس حذف کیږی.

او جمع تصحیح هغه ده چه بناء دَ واحد په هغه کښے سلامت وی. او دغه جمع تصحیح په دوه قسمه سره ده. جمع مذکر او جمع مؤنث. جمع مذکر هغه ده چه واو وی او ماقبل دَ هغے مضموم وی. یا یاء وی او ماقبل دَ هغے مکسور وی. او نون مفتوح په آخر دَ دیکښے پیوست شوے وی. مثال لکه مُسْلِمُوْنَ دَ واو ماقبل مضموم مثال. مثال دَ یا ماقبل مکسور. مُسْلِمِیْنَ او دوارو کښے نون مفتوح دے او جمع مؤنث هغه دے چه الف او سره دَ تاء په آخیره دَ دیکښے پیوست شی. مثال لکه مُسْلِمَاتٌ شو الف هم شته او تاء هم شته مفرد دَ مُسْلِمَةٌ راځی.

## تشریحات

دلته لابدی ده دَ معرفت دَ امور ستو نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ اقسامو (۳) ذکر دَ ضوابطو (۴) ذکر دَ امثالو (۵) ذکر دَ مشق (۶) ذکر دَ بعضے جملو ترکیب.

**اول بحث په تحقیقاتو کښے** - دلته لابدی ده دَ معرفت دَ امور ثلاثه نه (۱) بیان دَ وجه دَ حصر (۲) بیان دَ فع دَ اعتراضات (۳) بناء دَ جمع مکسر دَ رباعی او خماسی نه

۱- بیان دَ وجه دَ حصر په جمع تکسیر کښے - وجه دَ حصر په دیکښے دا ده چه دا جمع به خالی نه وی. یا به بناء دَ واحد پکښے سالم وی یا نه. که بناء دَ واحد پکښے سالم نه وه نو دا جمع تکسیر شوه. او که بناء دَ واحد پکښے سالم وه نو بیا دا جمع سالمه شوه. مثال دَ جمع تکسیر رِجَالٌ شو. مثال دَ جمع سالم مُسْلِمُوْنَ شو. دغه جمع سالم ته جمع تصحیح هم وائی حاصل دا شو چه جمع تصحیح دوه نومونه لری. جمع تصحیح جمع سالم او دَ جمع تکسیر

هم دوه نومونه لري . جمع تکسیر او جمع مکسر .

۲ - بیان دَوجه دَحصر په جمع تصحیح کښې - دغه جمع تصحیح په دوه قسمه سره ده جمع مذکر او جمع مؤنث . وجه دَحصر دا ده چه دا جمع به خالي نه وي یا به په آخر دَدې کښې واؤ او ماقبل مضموم . یا یاء ماقبل مکسور او نون مفتوحه وي . یا الف او تاء په آخر دَدې کښې موجود شي . که اول قِسم وُو دې ته جمع مذکر وائي . او که قسم ثاني نه وُو دې ته جمع مؤنث وائي . نو تاسو متن کښې سوچ اوکړئ .

مثال دَ جمع مذکر سالم - ضَارِبُوْنَ ، ضَارِبِيْنَ - مفرد ئې ضَارِبٌ دے . مؤنث سالم ضَارِبَةٌ مفرد . ضَارِبَاتٌ جمع . مُسْلِمُوْنَ ، مُسْلِمِيْنَ جمع - مفرد مُسْلِمٌ ، مُسْلِمَةٌ مُسْلِمَاتٌ جمع ، جمع مکسر رَجُلٌ رِجَالٌ - مَسَاجِدُ مَسْجِدٌ . مصنف داجمع صیغه په اعتبار دَ لفظ سره دوه قسمه کړې ده . جمع تکسیر جمع تصحیح او تعریف هم ځکښې تېر شو په متن کښې . جمع تکسیر کښې بناء دَ واحد سالم نه وي . مثال مَسَاجِدُ مفرد دَ هغې مَسْجِدٌ دے . الف پکښې زیات کړے شو نو دَجمع صیغه ترینه جوړه شوه .

بل مثال رَجُلٌ مفرد دے . جمع ئې رِجَالٌ راځي الف زیات شو جمع صیغه ترینه جوړه شوه . کله په کمي سره هم جوړیږي . مثال دَ رَسُوْلٌ مفرد او جمع ئې رُسُلٌ شو . کِتَابٌ مفرد دے . جمع دَ دے کُتُبٌ راځي . دا مثالونه دَ ثلاثي مجرد یا ثلاثي مزید کښې دي . هغې دَپاره څه خاص طریقه نشته . او دَ دے اوزان قول سماعي دي ځکه چه عربو نه اوریدلے شوے وي هم دَ هغې موافق به مونږ جمع استعمال کړو زیادت نشو کولے . خلاف دَ رباعي او خماسي نه ځکه چه دَ هغوي دَپاره چه جمع مکسر راځي دَ قانون موافق وي دَ قانون نه مخالف نه وي . هغه قانون دا دے چه دَ فَعَالِلُ په وزن سره به جمع مکسر دَ رباعي او خماسي راځي . مثال لکه جَعْفَرٌ جَعَافِرُ جَحْمَرِشٌ دَ دے جَحَامِرُ راځي . ځکه چه حرف خامس دَ دے حذف کیږي . ځکه چه وزن دَ دے فَعَالِلُ راځي . نه فَعَالِلُلُ . پوره دَ واحد صیغې نه جمع جوړولو طریقه ځکښې بحث کښې تیره شوه . او دَ مذکر صیغې جوړولو طریقه هم سابق کښې تیره شوه . د لته هم یادداشت کښې راولو . مثال دَ واؤ ماقبل مضموم یا ماقبل مکسور او نون مفتوحه - مُسْلِمُوْنَ مُسْلِمِيْنَ .

## اول بحث کښې دویم بیان دفع دَ اعتراضا تو

۱- اعتراض - مصنّف عَلَیۡہِ الرَّحۡمَۃُ ولے باعتبار لفظ ذکر کړ ؟
**جواب** - مصنّفؒ باعتبار لفظ چه ذکر کړ احترازئے وکړ دَ هغه جمع نه چه هغه په اعتبا دَ معنیٰ سره وی. مثال لکه جمع قِلّت او جمع کثرت شو دا تړینه خارج
۲- اعتراض ۱- چه تاسو وائی چه جمع تکسیر دیته وائی چه بناء دَ واحد سلامته نه وی پاتے. لکه مَسَاجِدُ جمع دہ. مفرد دَ هغې مَسۡجِدٌ راځی. مَسَاجِدُ کښې سین باندے فتحه دہ او په مفرد کښې سین ساکن دے. رِجَالٌ کښې جِیۡم مفتوح دے رَجُلٌ کښې جیم مضموم دے. اول جمع ثانی مفرد. نو ته به درته وښایم چه بناء دَ واحد به سلامته نه وی پاتے. بیا هم خلق ورته جمع سالم وائی. مثال لکه مُسۡلِمُوۡنَ شو. چه مفرد دَ دے مُسۡلِمٌ دے. نو په جمع صیغه کښې خو واو او نون زیات شوی دی او په مفرد کښې نشته بیا هم جمع سالم دہ. او جمع تکسیر ورته څوک نه وائی ؟
**جواب** ۱- جمع تکسیر هغه دہ چه بناء دَ واحد سالم نه وی پاتے. بلکه بناء دَ واحد پکښې خراب شوے وی په امور داخِلِیُّوۡ سره نه په امور خارجِیُّوۡ سره. او هرچه دلته بناء دَ واحد خرابه شویده په امور خارجیو سره چه دَ وَاوُ او نون خارج نه دی داخلی دی. او داخل کښې (میم، سین، لام، میم) دے. دا تر مُسۡلِمٌ پورې پوره شو باقی وَاوُ ورسره زیات شو مُسۡلِمُوۡ شو نون ورسره زیات شو مُسۡلِمُوۡنَ شو.
۳- اعتراض: اعتراض وارد دی چه تاسو وائی چه بناء دَ واحد مات شی په امور خارجیو سره نه په امور داخِلِیُّوۡ سره. نو ته به درته وښایم چه بناء دَ واحد هم مات وی په سبب دَ امور داخِلِیُّوۡ سره بیا هم جمع سالم وی نه جمع تکسیر. مثال مُصۡطَفَوۡنَ شو. اصل دَ دے مُصۡطَفَیُوۡنَ وو. بیا اعلال اوکړے شو یا بدل شو الف سره. بیا الف حذف کړے شو مُصۡطَفَوۡنَ شو.
**جواب** ۱- جمع تکسیر هغه دہ چه بناء دَ واحد مات شوے وی په سبب دَ امور داخلیو سره خو هر کله چه قصد دَ جمعیت پکښې موجود وی. او کله چه قصد دَ جمعیت پکښې موجود نه دی بیا وَاوُ داخل وی هغې ته څوک جمع تکسیر نه وائی لکه دلته مُصۡطَفَوۡنَ کښې قاعدۀ صرفی دَ دے نه اعلال شوی نه دَ جمعیت دَ وجه نه -

خلوم اعتراض - اعتراض دا دے چه ولے په جمع صیغه کښے نون مفتوح دی او په تثنیه کښے نون مکسور دی ؟

۱- جواب :- کسره په حرکاتو کښے اوسط حیثیت لری او تثنیه په صیغو کښے اوسط حیثیت لری ۔ انصاف دا دے چه اوسط دے اوسط له ورکرے شی ځکه مونږ کسره نون د تثنیه ته ورکړو او فتحه مو نون د جمع ته ورکړه ۔

۲- جواب :- جمع ثقیل ده تقاضا د خفت کوی نو مونږ ورله فتحه ورکړو او تثنیه خفیفه ده د ثقل تقاضا کوی ۔ نو مونږ ورله کسره ورکړو ۔

۳- جواب :- تثنیه په اوسط د مفرد او جمع کښے ده ۔ او کسره هم اوسط الحال کښے ده ۔ او اوسط اوسط له ورکرے شوه ۔

۴- جواب :- او بعضے حضرات وائی چه نون تثنیه د نون تنوین عوض نه راغلے دے ۔ او نون تنوین حرف ساکن دی ۔ او ضابطه دا ده چه اَلسَّاکِنُ اِذَا حُرِّکَ حُرِّکَ بِالْکَسْرِ او نون د جمع چه مفتوح وی ځکه چه جمع ثقیل وی اَلثَّقِیْلُ یَقْتَضِی الْخِفَّةَ وَالْخِفَّةُ فِی الْفَتْحَةِ لَا فِیْ غَیْرِهَا ۔

## اول بحث کښے دریم بیان

سوال - د جمع مکسره د پاره په رباعی کښے او په خماسی کښے قانون شته او که بلا قانونه چلیږی ؟

جواب :- د جمع مکسره د پاره په رباعی او په خماسی کښے قانون موجود دے خلاف د ثلاثی نه ځکه ثلاثی کښے قانون نشته ۔ تول جمع مکسر په ثلاثی کښے سماعی وی ۔ سمع سره تعلق لری ۔ چه کوم جمع د عرب نه اوریدل شوی وی پس همغه قانون دے خلاف خولا نشی کولے ۔ او هرچه رباعی او خماسی دی د هغے د پاره قانون وضع دے چه جمع مکسر د رباعی او خماسی به په فَعَالِلُ وزن سره راځی او خماسی کښے حرف زیات شی حرف خامس به حذف کولے شی ۔ که امثال په شرحه کښے موجود دی او په امثالو ذکر کښے به بیا راځی ۔

دویم بحث ذکر دا قسامو دَجمع - اَوّلًا دا تقسیم په دوو برخو سره دائي . جمع تکسیر او جمع سالم . بیا ثانیًا جمع سالم په خپل کور کښے په دوه قسمه سره ده . جمع سالم مذکر . جمع سالم مؤنث . حاصل دَخبرے دا شوچه دا مجموعه په څلور قسمه سره شوه

## دریم بحث ذکر دَضوابطو

ضابطه :- جمع په دوه قسمه سره ده (جمع حقیقي او جمع حکمي) جمع حقیقي هغه ده چه په هغے کښے څلور شرائط موجود وي (۱) دَ هغے جمعے دَپاره مفرد وي (۲) ماده دَجمع او دَمفرد به یوه وي (۳) دلالت کوي په درے یا دریے نه زیاتو باندے (۴) دَدے جمع په آخیره کښے وَاوْ ماقبل مضموم وي یا یاء ماقبل مکسور وي او نون به مفتوح وي په دواړو حالتو کښے . که حالت رفعي وي . او که حالت جري نصبي لکه مُسْلِمُوْنَ مُسْلِمِیْنَ - او جمع حکمي هغه ده چه په هغے کښے ذکرشوي شرائط موجود نه وي ځال لکه اُوْلُوْا شو . دیته ملحق دَجمع دائي -

سوال :- ضابطه داده چه وَاوْ ماقبل مضموم وي یا یاء ماقبل مکسور وي او نون به مفتوح وي . مثال زَیْدُوْنَ . مُسْلِمُوْنَ . مُسْلِمِیْنَ . زَیْدِیْنَ . نو به درته وښایم جمع سالم به وي بیا به هم په یاسره جمع شوي وي . حال دادے چه جمع مذکر سالم به حالت رفعي کښے وَاوْ ماقبل مضموم وي . مثال اَلْمُقِیْمِیْنَ الصَّلٰوةَ په سورة النساء اصل آیات لٰکِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِی الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُوْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِمَا اُنْزِلَ اِلَیْکَ وَمَا اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِکَ وَالْمُقِیْمِیْنَ الصَّلٰوةَ نو دلته یکار داؤ چه واو ماقبل مضموم وي . ځکه چه دا عطف دے وَالْمُؤْمِنُوْنَ باندے نو عطف به مرفوع وي . او تاسو عرض کړے دَ چه مرفوع حالت کښے وَاوْ ماقبل مضموم وي .

۲- سوال :- تاسو وائي چه عطف په منصوب منصوب به وي . نو به درته وښایم چه مرفوع یعني وَاوْ به وي ماقبل به مضموم وي . مثال لکه اَلصَّابِئُوْنَ شو په دغه آیات کښے اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِیْنَ هَادُوْا وَالصَّابِئُوْنَ نو تقاضا داده چه دا منصوب شي یعني وَالصَّابِئِیْنَ شو .

مونږ درته جواب کوو په دغه آیاتونو کښے څو وجوه دي . اوله وجه داده چه :

دا اَلْمُقِيْمِيْنَ چه منصوب دے په داسطه دَ مدح سرۃ. تقدير دَ عبارت دا رنګه کيږی دَ اَمْدَحُ الْمُقِيْمِيْنَ دا قول دَ سيبويهؒ دے. او دَ محققينو دا صفت نورو ته نشته. دا صرف دَ صلوٰة برکات دی.

۲- وجه - دا مجرور دے ځکه چه دا معطوف دے په لفظ د ما با ندے چه په قول دَ الله پاك کښے راځی. بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ ای يؤ منون بالکتب و بالمقيمين الصَّلٰوة وهم الانبياء.

دريمه وجه- دَ عبدالله صحابی مصحف کښے دَ الْمُقِيْمُوْنَ راغلے دے په حالت رفع کښے او دا قرائت دَ مالك بن دينار او عيسىٰ الثقفی دے.

دويم آيات جواب - اَلَّذِيْنَ هَادُوْا دا مرفوع دے بنا برابتدا ثبيت وَالصَّابِئُوْنَ وَالنَّصَارٰی دا و ربا ندے عطف دے او خبر ورته محذوف دے.

ضابطه دمذکر سالم - شرط دَ بناء دَ جمع مذکر سالم دا اسم به خالی نه وی یا به جامد وی یا به اسم مشتق. که اسم جامد وی دَ جمع مذکر سالم پنځه شرائط وی
(۱) عَلَمْ به وی (۲) مذکر (۳) عاقل وی (۴) خالی عن التاء التانيث نه (۵) خالی عن الترکیب مثال لکه زَيْدٌ شو. دَ دے جمع زيدون راځی. که دا یے نه وی بيا جمع دَ دے جمع سالم نه وی مثال لکه دحال دامراة او که دا مشتق وی بيا دا مشروط دے په شروط ستّ ؤ سرۃ
(۱) مذکر (۲) عاقل (۳) دا مشتق به نه وی په وزن دَ افعل چه مؤنث دَ دے راځی په وزن دَ فعلاء سرۃ لکه حمراء شو. جمع دَ دے احمرون نه راځی. بلکه جمع دَ دے حُمر راځی.
(۴) دا مشتق به نه وی په وزن دَ فعلان سرۃ چه مؤنث دَ دے په وزن دَ فعلیٰ سرۃ راځی مثال عطشان شو. جمع دَ دے عطشانون نه راځی بلکه جمع دَ دے عطاش سرۃ راځی
(۵) دا مشتق به نه وی مشترك بين المذکر والمؤنث مثال جريح جمع جريحون نه راځی بلکه جرحٰی راځی (۶) دا مشتق به متلبس بالتاء نه وی مثال لکه علامة شو. دَ دے جمع بالواو والنون نه راځی. ځکه چه علام مجرد عن التاء دے جمع کيږی په واؤ او نون نوکه دا متلبس بالتاء هم جمع شی په واؤ او نون سرۃ نو التباس راځی په مابين دَ دوی کښے مثال لکه ضارب شو چه جمع ئے ضاربون راځی.

# ضابطه دَجمع مونث سالم

د اسم به خالی نه وی یا به اسمِ صفتی وی یا به اسم جامد وی. که اسم صفتی وُو. نو بیا به خالی نه وی. یا به دَدے دَپاره مذکر وی یا به نه وی. که دَدے دَپاره مذکر نه نو دغه اسمِ صفتی جمع کولے شی په جمع مؤنث سالم سره. په دے شرط سره چه دَدے هغه مذکر جمع شوے وی په جمع مذکر سالم سره. مثال لکه ضَارِبَةٌ شو چه جمع مؤنث سالم دَدے ضَارِبَاتٌ رائحی. ځکه چه دَدے مذکر جمع شوے دے په وَاوْ نون سره چه ضَارِبُوْنَ دے.

اوکه مذکر نهٔ وُو جمع شوے په وَاوْ نون سره نو دا به هم نه جمع کیږی په جمع مؤنث سالم سره لکه حَمْرَاءُ.

فا نقیل. چه قول علیه السّلام لَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ صَدَقَةٌ دلته خو جمع شوے دے؟

جواب. دلته خو غلبه دَ اسمیت شوے ده په وصفیت باندے. یعنی دا اسم جامد دے نه اسم صفتی. اوکه دَدے دَپاره مذکر نهٔ. نو بیا به خالی نه وی یا به متلبس بالتّاء وی او یا به مجرد عن التّاء وی. که متلبس بالتّاء وُو نو بیا جمع کولے شی په الف او تاء سره. مثال لکه حائضةٌ شو. دَدے جمع مؤنث سالم حائضات رائحی. اوکه مجرد عن التّاء وُو بیا دا نه شی جمع کولے په الف او تاء سره. مثال لکه حائض شو جمع دَدے حوائض رائحی نه حائضات. اوکه دا مفرد اسم جامد وُو نو بیا دا جمع کولے شی په الف او تاء سره بے دَ شروط مذکوره وُو نه (فتفکر ولا تکسل)

## څلورم بحث ذکر دَ امثالو

رِجَالٌ وَمَسَاجِدُ جَعَافِرُ جَحْمَرِشٌ جَحَامِرُ جُمْفَرٌ جَحَارِشُ هم ویل کیږی په حذف دَمیم سره. مُسْلِمُوْنَ مُسْلِمِيْنَ مُسْلِمَاتٌ مُسْلِمٌ مُسْلِمَةٌ عُلُوْمٌ عِلْمٌ كُتُبٌ كِتَابٌ اَفْلَاكٌ اَقْدَامٌ سَفَارِجُ عَنْدَلِيْبٌ عَنَادِلُ مِصْبَاحٌ مَصَابِيْحُ عُلَمَاءُ مُتَّقُوْنَ رُسُلٌ اَخْيَارٌ قَانِتَاتٌ شُمُوْسٌ اَسَاطِيْرُ رُكُبٌ اَصَابِعُ صَنَادِيْلُ شَرَائِفُ اَنْوَارٌ مُصْطَفُوْنَ

مَفَاجِعُ عَقَارِبُ دَرَاهِمُ قُنُدُدُ اَبْيَاتُ جَفْنَاتُ دِقَابُ رُكُوبَاتُ
تَنَادِيْلُ عَصَافِيْرُ مُصْطَفِيْنَ سِدُرَاتُ اَنْطَارُ مَنَادِيْلُ اَلصَّالِحَاتُ
اَقْوَالُ اَفْعَالُ -

**سوال :-** رِجَالُ مفرد دے که جمع ؟

**جواب :-** جمع دے.

**سوال :-** جمع سالم دہ که جمع تکسیر ؟

جواب :- جمع تکسیر -

**سوال :-** جمع تکسر چاته وائی ؟

جواب :- جمع تکسیر دیته وائی چه بناء دَ واحد سالمه نه وی پاتے شوے . دلته هم بناء دَ واحد سالم نه دہ پاتے ځکه چه مفرد دَ صیغے دَ جُلّ دے الف وربانلے زیات شو شو رِجَالُ ترینه جوړ شو .

سوال :- دا ثلاثی دے که رباعی دے او که خماسی دے ؟

جواب :- دا ثلاثی دے.

سوال :- دَ ثلاثی او دَ رباعی او دَ خُماسی څه فرق دے ؟

جواب :- دوه فرقه لری ( اول فرق ) ثلاثی درے حرفی وی . رباعی څلورحرفی او خُماسی پنځه حرفی وی . ( دویم فرق ) دَ ثلاثی دَ پاره چه کوم جمع تکسیر راځی دَ صیغے دَ پاره قانون نه وی بلکه سمع پورے تعلق لری . او خلاف د رباعی او خماسی نه ځکه چه هغوی دَ پاره قانون او اوزان موجود وی . دکه تشریح کښے تیرشویدی توجه ورله وکری په دقت نظر سره -

سوال :- مَسَاجِدُ جَعَافِرُ جَحَامِرُ اَصَابِعُ مَضَاجِعُ دَرَاهِمُ دا مفرد دی که جمع

جواب :- دا جمع دی.

سوال :- جمع سالم دی که جمع تکسیر ؟

جواب :- دا جمع تکسیر دی .

سوال :- جمع تکسر چاته وائی ؟

جواب :- جمع تکسیر دیته وائی چه بناء دَ واحد په صیغه کښے ماته وی یعنی سالم نه وی

په دے تولو کښے الف زیات شوید ے.

**سوال:-** دا ثلاثی دی که رباعی که خماسی ؟

**جواب:-** بعضے ثلاثی دی بعضے رباعی دی او بعضے خماسی دی. حرف خامس ورنه حذف شوے. لکه جَحَامِرُ اصل کښے جَحَامِرِشٌ وو.

**سوال:-** حرف خامس ولے حذف شوے دے ؟

**جواب:-** ځکه رباعی او خماسی دَجمع تکسیر هغه دَ قانون موافق وی چه هغه وزن دَ فَعَالِلُ دے. دینه چه زیاتی حرف وی هغه حذف کولے شی. نو ځکه جَحَامِرِشٌ کښے شین حرف حذف شو

**سوال:-** دَ دے مفرد څه لکه راځی ؟

**جواب:-** مَسَاجِدُ مفرد مَسْجِدٌ راځی. جَعَافِرُ مفرد جَعْفَرٌ راځی. اَصَابِعُ مفرد اَصْبَعٌ. مَضَاجِعُ مفرد مَضْجِعٌ، دَرَاهِمُ مفرد دِرْهَمٌ، عَنَادِلُ هم دوئ غوندے قیاس لری په سوال او جواب کښے جَحَارِشٌ په تنوین سره ویل کیږی.

**سوال:-** مُسْلِمُوْنَ مُسْلِمِيْنَ مُسْلِمَاتٌ مُسْلِمٌ مُسْلِمَةٌ دا مفرد دی که جمع ؟

**جواب:-** څه مفرد دی څه جمع.

**سوال:-** مفرد کوم دے او جمع کوم دے ؟

**جواب:-** مُسْلِمٌ او مُسْلِمَةٌ مفرد دی. مُسْلِمُوْنَ مُسْلِمِيْنَ مُسْلِمَاتٌ دا جمع دی مُسْلِمٌ مفرد مذکر دے مُسْلِمَةٌ مفرد مؤنث دے.

**سوال:-** مُسْلِمُوْنَ مُسْلِمِيْنَ مُسْلِمَاتٌ دا تول مذکر دی که مؤنث ؟

**جواب:-** دوه صیغے پکښے مذکر دی. یوه پکښے مؤنث ده.

**سوال:-** مذکر کوم دی او مؤنث کوم دی ؟

**جواب:-** مُسْلِمُوْنَ او مُسْلِمِيْنَ مذکر دی. مسلمات مُؤَنَّث دی.

**سوال:-** مُسْلِمُوْنَ او مُسْلِمِيْنَ دا خو دواړه دَ جمع صیغے دی یوشان ته دی که فرق پکښے شته ؟

**جواب:-** مُسْلِمُوْنَ په حالت رفع کښے دے. او مُسْلِمِيْنَ په حالت نصبی او جری کښے دی

**سوال:-** دا جمع سالم ده که جمع تکسیر ده ؟

سوال :- دا جمع سالمه ده .

سوال :- څرنګه جمع سالمه ده ؟

جواب :- ځکه چه جمع سالمه ده چه بناء د واحد پخپل حالت کښے پاتے ده. مثال مُسْلِمُوْنَ جمع شو. مُسْلِمٌ مفرد دے نو ترمیم پوښے پوشان دے تغیر پکښے نه دے راغلے. خلاف د رِجَالٌ او مَسَاجِدُ نه هغوئ کښے خلاف راغلے دے. ځکه د جمع سالمے نه هغوئ خارج شو جمع تکسیر کښے داخل شو

عُلُوْمٌ ، عِلْمٌ ، کِتَابٌ ، کُتُبٌ داخه واقع شویدے ؟

جواب :- بعضے مفرد دی بعضے جمع.

سوال :- جمع سالمه ده که جمع تکسیر ؟

جواب :- جمع تکسیر ځکه چه بناء د واحد پخپل حالت کښے نه دے پاتے شوے بعضو کښے زیادت راغلے دے لکه علوم بعضو کښے کمے راغلے دے لکه کُتُبٌ او عِلْمٌ کِتَابٌ مفرد دے.

سوال :- قَانِتَاتٌ اَلصَّالِحَاتُ اَبْيَاتٌ داخه واقع شویدے ؟

جواب :- دا ټول د جمع صیغے دی.

سوال :- مذکر دے که مؤنث ؟

جواب :- دا ټول مؤنث دی.

سوال :- دا جمع تکسیر ده که جمع سالمه ؟

جواب :- جمع سالمه

سوال :- جمع سالمه څه ته وائی ؟

جواب :- جمع سالمه دیته وائی چه بنا د واحد پخپل حالت پاتے وی.

خلاصه د بیان : دا ما بقیه وربانده تیا سرکړے شی نو دغه شان سره ترتیب وراکړی تر آخره.

## شپږم بحث د بعضو جملو تراکیب

حام د دے جمع دا شو چه رفع ئے په واؤ سره ، نصب او جر ئے په یا سره. واؤ

نے راځي خو نيابةً عن الضمة او يا راځي خو نيابةً عن الكسرة والفتحة مثال جَاءَ الزَّيْدُوْنَ
جاء فعل ماضي معلوم لازمي الزَيْدُوْنَ صيغه د جمع سالم مرفوع. رفع ئے په واو سره
ده ته فاعل شو. فعل چه جاء دے مع الفاعل چه الزيدون دے جمله فعليه خبريه شوه
جَاءَ الْمُسْلِمُوْنَ. جَاءَ فعل اَلْمُسْلِمُوْنَ ده ته فاعل شو. رفع ئے په وَاوْ سره فعل مع الفاعل
جمله فعليه خبريه.
مَرَرْتُ بِالزَّيْدَيْنِ - مَرَرْتُ فعل فاعل بَا جار اَلزَّيْدَيْنِ مجرور. جار مع المجرور
تعلق نيسي تر مَرَرْتُ فعل پورے. فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعليه خبريه.
مَرَرْتُ بِالْمُسْلِمِيْنَ - مَرَرْتُ فعل فاعل بِالْمُسْلِمِيْنَ جار مجرور متعلق شو تر مَرَرْتُ
فعل پورے. فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعليه خبريه.
رَاَيْتُ الزَّيْدَيْنِ - رَاَيْتُ فعل فاعل الزَّيْدَيْنِ مفعول به شو. فعل مع الفاعل
مع المفعول به جمله فعليه خبريه شوه. سابق كښے په حالت جري وُو دا په حالت نصبي.
رَاَيْتُ الْمُسْلِمِيْنَ - رَاَيْتُ فعل فاعل اَلْمُسْلِمِيْنَ ده ته مفعول به شو فعل مع الفاعل
مع المفعول به جمله فعليه خبريه.
وَاُلْحِقَ بِهٖ اُوْلُوْ - وَعَالَمُوْنَ وَ اَرَضُوْنَ وَ سِنُوْنَ وَعِشْرُوْنَ اوس دا هغه جمع دی
چه مفرد نه لری او لكن جمع مذكر سالم هم نه ده. ليكن اسم جمع ده دا سے اسم جمع
چه واحد ده ته نشته د دے د جنس لفظ نه. او واحد ده ته شته په اعتبار د معنیٰ سره مثال
لكه اُوْلُوْ شو. واحد ده ته بالمعنىٰ لفظ ذُوْ دے مثال د اُوْلُوْ - « وَلَا يَأْتَلِ اُوْلُوا
الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِی الْقُرْبٰى » سورت النور آيات ۲۲
دلته اُوْلِیٰ ثاني كښے د وی بغير د واو نه استعمال كړ. په يا سره استعمال شو اشاره ئے
اوكړه مفعول ته اول كښے. واو سره ئے اشاره اوكړه فاعل ته -
دويم مثال د مجرور - اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِاُولِی الْاَلْبَابِ - سورت النسآء آيات ۱۶۱
عَالَمُوْنَ وَعِشْرُوْنَ په دے قياس دی. مثال اَرَضُوْنَ دا جمع تكسير للمؤنث د پاره
په فتح د را سره چه لَا يَتَّصِلُ دی حكم كښے يعني ضابطه كښے تير شويدی دليل قوله
تعالىٰ وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا د الزلزال سورت ۲ آيات -
هُنَّ مُسْلِمَاتٌ - هُنَّ مبتداء مُسْلِمَاتٌ خبر. مبتداء مع الخبر جمله اسميه خبريه

سِنُوْنَ داهم مؤنث دے. دلیل "وَ لَبِثُوْا فِیْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِیْنَ" الکهف سَنَةٍ - او س سِنِیْنَ یا خو منصوب دے بدل شاغلے دے دَ ثَلٰثَ نه. نو ثَلٰثَ خو منصوب وُو داهم منصوب شو او یاء علامه دَ نصب شوه. او بعضے حضرات دا ئی دا مجرور دے بدل شاغلے دے دَ مِائَةٍ او یا علامه دَ جر ده. دا صرف تا سو ته توطئه او ښودے شوه. باقی امثالو کښے قول یو یو لفظ ذکر دے -

> و بدانکه جمع باعتبار معنی بر دو نوع است جمع قلت و جمع کثرت جمع قلت آنست که بر کم از دہ اطلاق کنند و آنرا چهار بناء است اَفْعُلٌ مثل اَكْلُبٌ و اَفْعَالٌ چوں اَقْوَالٌ و اَفْعِلَةٌ مثل اَعْوِنَةٌ و فِعْلَةٌ چوں غِلْمَةٌ و جمع صحیح بے الف ولام یعنی مُسْلِمُوْنَ و مُسْلِمَاتٌ
> و جمع کثرت آنست که بر ده و بیشتر از ده اطلاق کنند و ابنیهٔ آں هرچه غیر ازیں شش بناست

ترجمه :- پوه شه اے طالبه! جمع په اعتبار دَ معنی سره په دوه قسمه سره ده یو جمع قلت ده. بل جمع کثرت. جمع قلت هغه ده چه اطلاق کیږی کم د لسو نه او دَ دے جمع قلت څلور وزنونه دی (اول وزن) اَفْعُلٌ مثال لکه اَكْلُبٌ (دویم وزن) افعالٌ مثال لکه اَقْوَالٌ (دریم وزن) اَفْعِلَةٌ مثال لکه اَعْوِنَةٌ (څلورم وزن) فِعْلَةٌ مثال لکه غِلْمَةٌ. او دوه جمع تصحیح دی بغیر دَ الف لام نه. مثال لکه مُسْلِمُوْنَ و مُسْلِمَاتٌ مراد دَ دے جمع تصحیح نه یو مذکر جمع تصحیح ده او بل مؤنث جمع تصحیح ده. او جمع کثرت هغه ده چه په لسو او په یات دَ لسو نه دلالت کوی. او اوزان دَ جمع کثرت هغه دی چه غیر دَ دے شپږو بنا گانو نه دی. تاسو به دیکښے سوچ اوکړی

## تشریحات

دلته لا بدی ده چه دَ معرفت دَ اموز سته وُنه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ فوائد (۳) ذکر دَ امثال

(۴) ذکر دَ مشتق (۵) دَ بعضو جملو تراکیب (۶) ذکر دَ اوزان او دَ جمع قلت او دَ جمع کثرت دا تقسیم دَ اسم په اعتبار د معنیٰ سره دے۔

**اول بحث تحقیقات (سوال) جمع قلت ته ولے جمع قلت وائی؟**

**جواب:-** جمع قلت ته ځکه جمع قلت وائی چه دلالت کوی په قلیل تعداد باندے۔ یعنی دَ دریو نه تر لسو پورے۔ او جمع کثرت ته ځکه جمع کثرت وائی چه دلالت کوی زیات دَ لسو نه تر ما لا نهایت پورے۔

**اختلاف بین المذاهبین** بعضے حضرات وائی چه جمع قلت هغه ده چه دلالت کوی دَ لسو نه په کم تعداد باندے۔ یعنی مقصد دا شو چه دَ دریو نه تر نهو پورے افراد مراد کیدے شی نیایات نشی اخستے۔

او بعضے حضرات وائی جمع قلت د دریو نه تر لسو پورے۔ یعنی لس پکښے داخل دی خارج نه دی۔ او جمع کثرت هغه ده چه دلالت کوی دَ یولسو نه تر ما لا نهایت پورے۔ اما غور مسلک عند المصنفؒ من هب اول دے چه عشره خارج وائی۔ دَ دے دَ پاره اوزان معلوم دی چه څلور دی۔ لکه شعر کښے راځی۔

ـــ آمد جمع قلت چهار ابنیه - اَفْعُلٌ اَفْعَالٌ فِعْلَةٌ اَفْعِلَةٌ

دَ اَفْعُلٌ مثال لکه اَکْلُبٌ جمع دَ کَلْبٌ ده معنیٰ سپے۔ یعنی اَکْلُبٌ ذکر شی تر (۹) پورے سپی مراد کیدے شی۔ نیایات نه۔

دویم مثال (اَفْعَالٌ) لکه اَقْوَالٌ جمع دَ قَوْلٌ ده۔ معنیٰ ویرے خبرے چه (۹) پورے وی سیری نیایات نه۔

دریم مثال (اَفْعِلَةٌ) لکه اَعْوِنَةٌ شو جمع دَعَوْنٌ ده۔ چه دَ درمیانه کال ته وائی۔

څلورم وزن (فِعْلَةٌ) مثال لکه غِلْمَةٌ جمع دَ غُلَامٌ ده۔

او دوه صیغے چه جمع تصحیح دی بغیر دَ الف لام نه لکه مُسْلِمُوْنَ او مُسْلِمَاتٌ شو که مع الف لام ذکر شی بیا به دَ لسو نه نیایاتو باندے دلالت کوی۔ دا مجموعه شپږ اوزان شو۔ دوه دوی شو۔ څلور هغوی ؤو۔ نو مجموعه شپږ شو۔ دَ دینه ماسوا بیا جمع کثرت کښے داخل دی۔

# دويم بحث ذکر دَ فوائدو

اوله فائده - مصنفؒ چه اول کښې دا خبره ذکر کړه چه د آن راچهار ابنیه است نو دَ دے نه مراد جمع مکسر ده. دلیل په دے خبره بانسے ذکر دَ جمع تصحیح دے ما بعد کښې نو څکه مجموعه شپږ اوزان شو جمع قلت دَپاره ابنیه جمع دَ ابناءٌ ده او نباءٌ په معنیٰ دَ وزن سره دے نو معنیٰ دَ ابنیة شو اوزان -

دویمه فائده:- اسماء رباعی او خماسی کښې جمع اکثر صیغه منتهی الجموع په وزن سره راځی - دَ هغې دَپاره درے مشهور اوزان دی (اول وزن) مثال مَفَاعِلُ مَسَاجِدُ مفرد مَسْجِدٌ مَفَاعِيْلُ مفرد دَدے مِفْتَاحٌ جمع مَفَاتِيْحُ (دریم وزن) مثال فَعَائِلُ - مثال رِسَالَةٌ مفرد شو جمع رَسَائِلُ . نو صیغه دَ منتهی الجموع هغه ده چه الف نه بعد یا درے حرفه راځی یا دوه حرفه راځی . که درے حرفه راشی ضابطه داده چه ساکن الاوسط به وی . لکه مَفَاتِيْحُ شو . او که دوه حرفه راشی مکسور الاول به وی لکه مَسَاجِدُ شو چه جیم مکسور دے . یا یو حرف راشی خومشدد وی لکه دَوَابُّ

دریمه فائده - دَ بعضے جمع واحد صیغه دَ بل لفظ نه اوځی . مثال اِمْرَأَةٌ جمع دَدے نِسَآءٌ ده . د غه رنګه ذُو مفرد دے او جمع دَدے اُولُوْ دے .

څلورمه فائده - کله کله اسم واحد دَ جمع په معنیٰ سره راځی نو معنیٰ د جمع ورکوی مثال قَوْمٌ رَهْطٌ رَكْبٌ نو دیته اسم جمع وائی -

پنځمه فائده - بعضے الفاظو دَپاره جمع خلاف قیاس راځی . مثال لکه اُمٌّ جمع دے اُمَّهَاتٌ - فَمٌ جمع اَفْوَاهٌ - مَاءٌ جمع مِيَاهٌ - اِنْسَانٌ جمع اُنَاسٌ . شَاةٌ جمع شَاءٌ -

شپږمه فائده - کله کله بر عکس هم استعمالیږی . یعنی دَ جمع قِلَّتْ دَپاره جمع کثرت او دَ جمع کثرت دَپاره جمع قِلَّت - دا فرق چه ذکر شو دا صرف وضعاً فـرق نه استعمالاً احد هما په مقام دَ آخر کښې استعمالیږی مجازاً . مثال دَ جمع کثرت چه مستعمل دی په ځائے دَ جمع قلت کښې لکه ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ دلته قروء جمع ده لیکن قلت کښې استعمال شوے . مثال دَ هغه چه قِلَّتْ دی او دَ جمع کثرت په مقام کښې استعمال شوے

لکه اَقْوَالٌ یالکه وَهِیَ سَبْعَةٌ رِجَالٍ شو نو رِجَالٍ کثیر ذو تِسْعَةٌ قلیل کښې استعمال شو۔

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

عُلَمَاءُ مُتَّقُوْنَ رُسُلٌ اَخْیَارٌ قَانِتَاتٌ شُمُوْسٌ اَسَاطِیْرُ
دُکُبٌ اَصَابِعُ مُسْلِمُوْنَ اَغْرِبَةٌ صَنَادِیلُ شَرَائِفُ اَنْفُسٌ
رِجَالٌ اَضَارِیبُ عُلُوْمٌ اَکْلُبٌ اَقْوَالٌ اَعْوِنَةٌ غِلْمَةٌ مُسْلِمَاتٌ
عَاقِلُوْنَ عاقلاتٌ نِسَاءٌ اُمَّهَاتٌ اَفْوَاهٌ مِیَاهٌ شِیَاهٌ صَادِقُوْنَ طَیِّبَاتٌ
اَثْوَابٌ اَجْمَالٌ قُنْدُلٌ قَوْلٌ فِعْلٌ ضَارِبٌ مَشْرِقٌ مُسْلِمَةٌ صَلوٰةٌ
رَأْسٌ مِصْبَاحٌ مَدْخَلٌ عَیْنٌ اَبٌ اَخٌ اِبْنٌ بِنْتٌ

## حلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال :- دا مذکوره امثالو کښې مفرد کوم دے او جمع کوم دے ؟
جواب :- مفرد قَوْلٌ، او فِعْلٌ، او ضَارِبٌ، مَشْرِقٌ، مُسْلِمَةٌ صَلوٰةٌ رَأْسٌ مِصْبَاحٌ مَدْخَلٌ عَیْنٌ اَبٌ اَخٌ اِبْنٌ بِنْتٌ دی۔
دَدے نه علاوه ټول جمع دی۔

سوال :- جمع قلت کوم دی او جمع کثرت کوم ؟
جواب :- اَخْیَارٌ وزن اَفْعَالٌ اَنْوَارٌ اقوالٌ اَغْرِبَةٌ اَنْفُسٌ اَکْلُبٌ جمع دَ کَلْبٌ۔ اَعْوِنَةٌ اَفْوَاهٌ اَثْوَابٌ اَجْمَالٌ دا ټول چه څومره ذکر شو دا جمع قِلَّتْ دی نه جمع کثرت۔ ځکه چه دَدے اطلاق کم دَ لسو نه کیږی۔
سوال :- آیا ددے نه ما بقیه بیا څه واقع شو یدی ؟
جواب :- دَ دینه ما بقیه ټول جمع کثرت دی۔ دقة نظر سره توجه اوکړئ۔
سوال :- دیکښې خلاف القیاس جمع څه دی او موافق القیاس څه دی ؟
جواب :- نِسَاءٌ، اُمَّهَاتٌ اَفْوَاهٌ مِیَاهٌ شِیَاهٌ خلاف القیاس دی۔ دَ دینه سوای موافق القیاس دی۔

سوال ۱:- دیکښې جمع مؤنث سالم څه دی او جمع مذکر سالم څه دی او جمع مکسر مذکر او مؤنث څه دی ؟

جواب :- شُمُوْسٌ نِسَاءٌ اَفْوَاهٌ دا جمع مؤنث مکسر دی خو غیر عاقل دی یعنې سماعی دی خو کُلًّا نه بلکه بعضًا لکه شُمُوْسٌ او اَفْوَاهٌ شو. او نِسَاءٌ هم جمع دَ خو خپل جنس نه مفرد نه لري. دَ دینه سوی جمع مؤنث سالم دَ مثال لکه قَانِتَاتٌ اُمَّهَاتٌ شِیَاةٌ طَیِّبَاتٌ عَاقِلَاتٌ مُسْلِمَاتٌ.

سوال :- جمع مذکر سالم کوم یو دی ؟

جواب :- عَاقِلُوْنَ مُسْلِمُوْنَ صَادِقُوْنَ. دَ دینه علاوه بیا جمع مذکر مکسر دی. مثال رِجَالٌ ، عُلُوْمٌ اَقْرَانٌ اَکْلُبٌ اَثْوَابٌ اَجْمَالٌ دا ټول جمع مذکر غیر سالم دی

سوال :- دیکښې صیغه منتهی الجموع کوم یو دی ؟

جواب :- اَسَاطِیْرُ اَصَابِعُ اَضَادِیْثُ صَنَادِیْلُ دا ټول صیغه منتهی الجموع دی خو لکن بیا هغه په دوه قسمه سره دی. یو هغه منتهی الجموع دی چه الف نه بعد دوه حرفه وی ساکن الاوسط وی. یا دوه حرفه وی اول ئے مکسور وی. دَ اول قسم نه اَسَاطِیْرُ اَضَادِیْثُ صَنَادِیْلُ هغه صیغه منتهی الجموع چه دوه حرفه اول ئے مکسور وی لکه اَصَابِعُ شو

## پنځم بحث دَ بعضے جملو تراکیب

جَاءَ عُلَمَاءُ - جَاءَ فعل عُلَمَاءُ ورته فاعل شو. فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه

ذَهَبَ الْمُتَّقُوْنَ - ذَهَبَ فعل اَلْمُتَّقُوْنَ ورته فاعل دے - فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه.

رَاَیْتُ الْمُتَّقِیْنَ - رَاَیْتُ فعل فاعل الْمُتَّقِیْنَ ورته مفعول بهٖ شو جمله فعلیه خبریه

هُمْ رُسُلٌ - هُمْ مبتداء رُسُلٌ ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه

هُمْ اَخْیَارٌ - هُمْ مبتداء اَخْیَارٌ ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه

هُنَّ قَانِتَاتٌ - هُنَّ مبتداء ځکه مرفوع منفصل ضمیر اول سر کښې مبتداء واقع کیږی دا ضابطه سابق کښې تیر شویدی په ضمائرو کښې قَانِتَاتٌ ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه.

جَاءَتْنَ قَانِتَاتٌ - جَاءَتْنَ جمع مؤنث فعل قَانِتَاتٌ ورته فاعل شو. فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه.

طَلَعْتَنَ شُمُوْسٌ - دلته مبالغه شویده. طَلَعْتَنَ فعل واحد مؤنث شُمُوْسٌ ورته فاعل شو. فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه.

## شپږم بحث اوزان د جمع قلت او د جمع کثرت

مثال د جمع قِلَّت - آن د جمع قلت چهار ابنیه - اَفْعُلٌ اَفْعَالٌ اَفْعِلَةٌ فِعْلَةٌ

| مثال د جمع کثرت نور هم شته ډېر | | وزن | واحد | جمع | وزن | واحد | جمع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جمع قلت | چهار وزن | فِعَالٌ | عَبْدٌ | عِبَادٌ | فُعَّالٌ | خادم | خُدَّامٌ |
| اَفْعُلٌ | اَكْلُبٌ | فُعَلَاءُ | عَالِمٌ | عُلَمَاءُ | فَعْلٰى | مَرِيْضٌ | مَرْضٰى |
| اَفْعَالٌ | اَقْوَالٌ | اَفْعِلَاءُ | نَبِيٌّ | اَنْبِيَاءُ | فَعَلَةٌ | طَالِبٌ | طَلَبَةٌ |
| اَفْعِلَةٌ | اَعْوِنَةٌ | فُعُلٌ | رَسُوْلٌ | رُسُلٌ | فِعَلٌ | فِرْقَةٌ | فِرَقٌ |
| فِعْلَةٌ | غِلْمَةٌ | فُعُوْلٌ | نَجْمٌ | نُجُوْمٌ | فِعْلَانٌ | غُلَامٌ | غِلْمَانٌ |

خلاصه د متن - اَفْعُلٌ په مثل ذکر کړه افعال په چون ذکر کړه اَفْعِلَةٌ په مثل - فِعْلَةٌ په چون دیکښې څه راز دے؟

۱- جواب - مصنفؒ اشاره اوکړه چه عربان او فارسی زبان سره قریب دی.

۲- جواب - او بل ئے اشاره اوکړه ځکه چه فارسی زبان کښې مثال د پاره لفظ د چون راځی دغه رنګه لفظ د مثل هم راځی.

۳- جواب - اَفْعُلٌ وزن سخت دے نسبتًا افعال نه. سخت د پاره لفظ د مثل ذکر کړ. او اسهل د پاره لفظ د چون.

۴- جواب - داخلو اوزان دوه مع التاء، دوه بلا تاء دی. هر یو د پاره مثل او چون ذکر کړ.

فصل بدانکه اعراب اسم سه است رفع و نصب و جر
اسم متمکن باعتبار وجوه اعراب بر شانزده قسم است. اول مفرد
منصرف صحیح چوں زَیْدٌ دوم مفرد منصرف جاری مجرائے
صحیح چوں دَلْوٌ سوم جمع مکسر منصرف چوں رِجَالٌ رفعشاں بضمه
باشد و نصب بفتحه و جر بکسره چوں جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَدَلْوٌ وَرِجَالٌ
وَرَأَیْتُ زَیْداً وَدَلْواً وَرِجَالاً وَمَرَرْتُ بِزَیْدٍ وَ
دَلْوٍ وَرِجَالٍ چهارم جمع مؤنث سالم رفعش بضمه باشد و
نصب و جر بکسره چوں هُنَّ مُسْلِمَاتٌ وَرَأَیْتُ مُسْلِمَاتٍ وَمَرَرْتُ
بِمُسْلِمَاتٍ

ترجمه :- دا فصل دے. پوهه شه اے طالبه اعراب دَ اسم درے دی. رفع ده نصب ده او جر دے. او اسم متمکن په اعتبار دَ وجوه دَ اعراب سره شپاړس قسمه دی (اول) صحیح مفرد منصرف دے. مثال لکه زَیْدٌ شو (دویم) مفرد منصرف جاری مجرای دَ صحیح یعنی قایم مقام دَ صحیح. مثال لکه دَلْوٌ (دریم) جمع مکسر منصرف. مثال لکه رِجَالٌ شو رفع ئے دَدے په ضمه وی او نصب دَدے په فتحه وی او جر ئے دَدے په کسرے سره دی مثال لکه جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَدَلْوٌ وَرِجَالٌ. او رَأَیْتُ زَیْداً وَدَلْواً وَرِجَالاً وَمَرَرْتُ بِزَیْدٍ وَدَلْوٍ وَرِجَالٍ (څلورم قسم) جمع مؤنث سالم ده. رفع ئے دَدے په ضمه سره دی او نصب او جر دَدے په کسرے سره دی. مثال لکه هُنَّ مُسْلِمَاتٌ رَأَیْتُ مُسْلِمَاتٍ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ شو ولے نصب تابع دَ جر دی (فتفکر ولا تکسل)

## تشریحات

دلته لا بدی ده دَ معرفت دَ امور خمسه ونه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثال (۴) ذکر دَ مشق (۵) تراکیب -

اول بحث په تحقیقاتو کښے - فَصْلٌ خبر دے مبتدا او ده محذوف هٰذَا فصل. هٰذَا

اسم اشاره مبتداء . فعل ورته خبر شو . مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه .
اول بحث کښے لابدی ده معرفت دَ امورِ ثلاثه وُنه (۱) معنیٰ دَ اعراب (۲) تقسیم دَ اعراب (۳) شمار دَ اعراب .

۱ـ معنیٰ دَ اعراب لغةً ایضاح او اظهار ته وائی . او په اصطلاح کښے مایختلف آخرہ نو معرب ته څکه معرب وائی چه دیکښے اظهار دَ معانی ثلاثه وُ راځی فاعلیت جَاءَنِی زَیْدٌ . مفعولیت رَأَیْتُ زَیْدًا . اضافت مَرَرْتُ بِزَیْدٍ .

۲ـ قسم . تقسیم دَ اعراب دا دے : درے اعراب په اسم کښے راځی رفع نصب او جر بیا رفع درے اشیاؤ راځی . ضمه مثال لکه جَاءَنِی زَیْدٌ دفعے په الف سره دی . لکه جَاءَنِی زَیْدَانِ . په واؤ سره وی . مثال جَاءَنِی زَیْدُوْنَ . او س دا عام تقدیراً وی یا لفظاً دی اعراب دَ فعل درے دی . رفع ـ نصب ـ جزم .

۳ـ قسم ـ شمار دَ اعراب دے . مطلق اعراب څلور دی . رفع . نصب . جر . جزم او مشترک پکښے رفع ، نصب دے . قرآن پاک کښے دَ دوی څلور وارو مثال . رفع مُحَمَّدٌ الرَّسُوْلُ اللّٰهِ ، دَ نصب مثال وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا ، دَ جر مثال فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ . دَ جزم مثال وَلَمْ یَجْعَلْ لَّهٗ دَ امر مثال وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا دَ مشترک مثال زَیْدٌ یَقُوْمُ . زَیْدٌ مرفوع بالابتداء . او علامه دَ رفع ضمه یَقُوْمُ هم مرفوع څکه چه فعل مضارع خالی دی دَ عامل ناصب نه او دَ عامل جازم او علامه دَ رفع ضمه ده . مثال دَ نصب په اسم او فعل کښے اِنَّ زَیْدًا لَنْ یَقُوْمَ . زَیْدًا اسم منصوب . علامه دَ نصب فتح ده یَقُوْمَ فعل مضارع منصوب په لَنْ سره علامه دَ نصب فتحه ده . او بل خاص دے تر اسم پورے هغه جر دے . مثال بِزَیْدٍ . زَیْدٍ مجرور بالباء دے . او علامه دَ جر کسره ده . حرف جر خاص شو تر اسم پورے . او بل خاص دے تر فعل پورے . هغه جزم دے . مثال لَمْ یَقُمْ یَقُمْ فعل مضارع مجزوم ده په لَمْ سره او علامه دَ جزم حذف دَ حرکت سره دلالت کوی په رفع باندے . هغه ضمه ده په نصب باندے فتحه ده . په جر باندے کسره ده . په جزم باندے سکون دے چه حذف دَ حرکت فتفکر فی الامثال المذکوره . اثر دَ جر خاص دے اسم پورے . نو حرف خاص شو تر اسم پورے . جر په فعل کښے نه راځی . اثر دَ جزم خاص دے تر فعل پورے . نو حروف هم خاص

تر فعل پورے شو ، اسم با ندے نه دا خلیږی -

اوس تحقیق په اسم متمکن کښے په اعتبار د وجوه سره شپارس قسمه دے .

اعراب په دوه قسمه سره دی (۱) اعراب بالحروف (۲) اعراب بالحرکت - بیا هریو په دوه دوه قسمه سره دی (۱) اعراب لفظی (۲) اعراب تقدیری .

اسماء متمکنه شپارس قسم کښے پنځه قسمه اول معرب بالحرکت دی . بیا اوه قسمه د دے معرب بالحروف دی . بیا اول دولس قسمه اعراب لفظی دی او آخری څلور اعراب تقدیری د متمکن د تمکن نه ماخوذ دے . تمکن ویلے شی قدرت ور کولو ته . دیته ځکه اسم متمکن مائی چه دوی اعرا بونه قدرت ور کوی په د خول باندے ځپل محل کښے . نکه ما بقیه سبقونو کښے د دوی پوره وضاحت راځی

اول قسم مفرد منصرف صحیح دی لکه زَيْدٌ شو . نو اوس زَيْدٌ صحیح دے عند نحاة غیر صحیح دے عند صرفین . ځکه چه هغوی ور ته اجوف یائی وائی .

هر تعریف کښے لابدی دی د جنس او فصل نه . د لته نے چه اسـم ذکر کړ . نو قول اسماء بکښے داخل . متمکن نے چه ذکر کړ غیر متمکن خارج شو . مفرد نے چه ذکر کړ تثنیه او جمع تر ینه خارج شو . ځکه چه دغه مفرد مقابل د تثنیه او جمع کښے دے . او هغه مفرد مراد نه دے چه مقابل د جملے او شبه جملے کښے دی . منصرف نے چه و ویل اعتراض نے د کر د غیر منصرف نه . ځکه چه غیر منصرف تعریف ور وسته راځی . قوله صحیح نے چه وویل اعتراض نے د کر غیر صحیح نه . ځکه چه غیر صحیح په دیکښے داخل نه دی . نو صحیح نه مراد نحوی صحیح دے نه صرفی . کما مرّ فی سابق -

اوس تحقیق د دویم قسم مفرد منصرف جاری مجری صحیح مثال لکه دَلْوٌ . جاری مجریٰ صحیح ځکه وائی . لکه څنګه چه په آخر د صحیح باندے حرکات ثلاثه سره د تنوین نه بے ثقالت نه لوستلے شی . نو دا ئ لکه دے هم دے . جَادِیٌ دا صیغه د اسم فاعل ده جَرٰی . یَجْرِیْ . جَرْیًا په معنیٰ د چلیدونکی . او مجریٰ صیغه د اسم ظرف ده . معنیٰ ځائے د جاری کولو ده . جاری مجریٰ د صحیح هغه اسم دے چه په آخیره کښے واو او یا وی او ماقبل د هغوی ساکن وی لکه دَلْوٌ او ظَبْیٌ . نو اوس په دیکښے اعلال ځکه نه کیږی چه تخفیف حاصل دے په ماقبل د سکون سره .

**دریم قسم جمع مکسر منصرف دہ** . دَدے جمع مکسر تعریف مخکښے تیر شوے دے . مکسر به وی یعنی جمع سالم به نه وی منصرف به وی غیر منصرف به نه وی . او س جمع صحیح او دَ غیر منصرف اعراب جدا شکل ما سیاً تی کښے دَ هغے بیان راځی . اِنْشَاءَ اللّٰه تعالیٰ

**اوس ضابطه په دیکښے دا ده** . چه رفع ئے په ضمه سره وی او نصب په فتحه سره او جرے په کسره سره وی . یعنی دَرے وارو قسمونو کښے اعراب لفظی لری تقدیری نلری اعراب بالحرکت لری ، اعراب بالحروف نه لری . او بعضے احوال به تابع دَ بعضے نه وی مثال جَاءَ نِیْ زَیْدٌ وَدَلْوٌ وَرِجَالٌ وَرَاَیْتُ زَیْدًا وَدَلْوًا وَرِجَالًا وَمَرَرْتُ بِزَیْدٍ وَدَلْوٍ وَرِجَالٍ . زَیْدٌ نه رِجَالٌ پورے اول قسم شو . مثال دَ ثانی زَیْدًا نه اِلیٰ رِجَالًا پورے شو قسم ثالث مثال بِزَیْدٍ نه الیٰ رِجَالٍ پورے شو .

**څلورم قسم جمع مؤنث سالم دہ** . یعنی څلورم قسم دَ اسماء متمکنه جمع مؤنث سالم ده چه رفع ئے په ضمه سره دی لکه هُنَّ مُسْلِمَاتٌ شو . چه هُنَّ مبتدا ده مسلماتٌ ورته خبر دے . خبر دَ مرفوعات نه وی . او نصب او جرے په کسرے سره وی .

حاصل دَ سبق دا شو چه اول اعراب بالحرکت به وی دوئیم اعراب لفظی به وی دریم بعضے احوال به تابع دَ بعضو وی . یعنی جمع مؤنث سالم کښے به نصب تابع دَ جر وی ځکه چه جمع مذکر سالم کښے نصب تابع دَ جر وو . نو دلته هم نصب تابع دَ جر به وی ځکه مخالفت دَ فرع راتلی دَ اصل نه . مثال رَاَیْتُ مُسْلِمَاتٍ مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ دَ دینه مراد هغه جمع ده چه آخر کښے الف او تاء وی . خواه هغه جمع مؤنث سالم وی یا نه وی . مثال لکه مرفوعاتٌ منصوباتٌ جمع وی یا نه وی . مثال لکه عرفاتٌ دَ دے اعراب رفع په ضمه سره او نصب او جر دَ دے په کسرے سره وی . لکه پشان دَ جمع مؤنث سالم غونډے لکه امثالو مذکورو کښے تفکر اوکړئ ؟

## دویم بحث ذکر ضوابط

اعراب دَ اسم متمکن په درے قسمه دی (۱) رفع (۲) نصب (۳) جر - دا اوله ضابطه ده

رفع . درے څیزونو نه راځی ( ضمه - واو - الف )

نصب - څلور څیزونو نه راځی ( فتحه - کسر - الف - یاء )

جر ـ درې ځیز ونه راځي (کسره ـ فتحه ـ یاء) . دا دویمه ضابطه ده

دریمه ضابطه ـ اعراب درې قسمه سره دي (۱) اعراب لفظي (۲) اعراب تقدیري (۳) اعراب محلي ـ فرق دا دے چه اعراب لفظي او اعراب تقدیري معرب سره خاص دي او اعراب محلي مبني سره خاص دي . دوه اعرابونه نور هم دي . یو ته اعراب حکائي او بل ته اعراب علی سبیل التوهم وائي ـ

اعراب حکائي دیته وائي چه کله کوم لفظ باندے من حیث اللفظ حکم نکول متصل وي بیا دَ عامل مطابق اعراب لوستل جائز دي .

اعراب علی سبیل التوهم دیته وائي چه کوم معدوم ځیز له حکم دَ موجود ورکړے شي بیا اعراب جاري کړے شي . مثال . مَا زَیْدٌ قَائِمٍ ـ قائمٍ باندې جر راغلے . جار موجود نه دے . معدوم له مونږ د موجود حکم ورکړ . لکه شعر کښے هم راځي ـ

؎ بدالي اني لست مدرك مامضیٰ ولا سابق شیئًا اذا کان جائیا

دلته په ولا سَابِقٍ باندے جر راغلے یا متحقق الوجود فرض کړے وے .

یو قسم اعراب بل هم موددے چه هغے ته اعراب جوار ی وائي . لکه جر جوار ی چه راځي اول اسم مجرور دے بیا دویم اسم اتصل دَ وجه نه مجرور وي . مثال وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِکُمْ وَاَرْجُلِکُمْ نو دلته اَرْجُلِکُمْ باندے چه کوم جر راغلے دَ لَام دا جر جوار دے نه اصلي .

څلورمه ضابطه ـ دَ مفرد منصرف ده چه رفعے په ضمه نصبي په فتحه جري په کسره راځي په هر حالت کښے جَاءَنِيْ زَیْدٌ ، رَاَیْتُ زَیْدًا ، مَرَرْتُ بِزَیْدٍ ـ

پنځمه ضابطه جاري مجری دَ صحیح ده . دا هم درے واړه حالت کښے اعراب لفظي راځي رفعې په ضمه ، نصبے په فتحه ـ جرئے په کسره . رَاَیْتُ دَلْوًا ـ هٰذَا دَلْوٌ ، مَرَرْتُ بِدَلْوٍ ـ

شپږمه ضابطه . دَ جمع مؤنث سالم . رفعه ئے په ضمه ، نصبے په جري په کسره . نصب تابع دَ جر دی . مثال هُنَّ مُسْلِمَاتٌ ، رَاَیْتُ مُسْلِمَاتٍ مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

جَاءَنِيْ زَیْدٌ هٰذَا دَلْوٌ هُمْ رِجَالٌ رَاَیْتُ زَیْدًا رَاَیْتُ دَلْوًا رَاَیْتُ رِجَالًا

مَرَرْتُ بِزَيْدٍ جِئْتَ بِدَلْوٍ قُلْتُ لِرِجَالٍ هُنَّ مُسْلِمَاتٌ رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ
مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ هٰذَا زَيْدٌ هٰذَا ظَبْيٌ هٰذِهٖ رِجَالٌ رَأَيْتُ ظَبْيًا
رَأَيْتُ عَمْرًوا مَرَرْتُ بِظَبْيٍ اَللّٰهُ اِلٰهُنَا آدَمُ اَبُوْنَا مَكَّةُ بَلْدَةٌ مبارَكَةٌ
نَبِيُّنَا مُحَمَّدٌ هٰذَا رُوْحُ اللّٰهِ

## څلورم بحث په مشق کښ

سوال - جَاءَنِیْ زَيْدٌ په آسماء متمكنا ؤ كښے كوم يو نه دے ؟

جواب :- دا د اول قسم نه دے چه مفرد منصرف صحيح ورته وائی .

سوال :- هٰذَا دَلْوٌ دَ كوم يو نه دے ؟

جواب :- دا دَ جارے مجریٰ صحيح نه ؤ دے . ځکه دَلْوٌ هغه لفظ دے چه آخير كښ حرف علت دے ما قبل ساكن دے .

سوال :- هُمْ رِجَالٌ دَ كوم يو نه دے ؟

جواب :- دا دَ جمع مكسر نه دے .

سوال :- په كوم حالت كښے دے ؟

جواب :- دا درېمے وارہ چه ذكر شو په حالت رفع كښے دی . رفع ئے په ضمه سره دی .

سوال :- رَاَيْتُ زَيْدًا دَ كوم يو نه دے ؟

جواب :- دَ اول قسم نه دے په خالت نصبی كښے .

سوال :- رَاَيْتُ دَلْوًا د كوم يو نه دے ؟

جواب :- دويم قسم نه دے په حالت نصبی كښے

سوال :- رَاَيْتُ رِجَالًا دَ كوم يو قسم نه دے ؟

جواب :- دريم قسم نه دے چه جمع مكسر دے

سوال :- په كوم حالت كښے ؟

جواب :- په حالت نصبی كښے .

سوال :- نصبی په څه څيز سره دے ؟

جواب :- دا څو مره چه ذكر شو ټول بالحركت سره رفع لری نصب لری .

سوال :- مَرَرْتُ بِزَيْدٍ دَكوم يو نه دے ؟
جواب :- دَ اول قسم نه دے ۔
سوال :- په كوم يو حالت كښے دے ؟
جواب :- په حالت جرى كښے جرئے په كسره دے ۔ نصبى په فتح سره دے ۔ رفع ئے پضمه سره دے
سوال :- جِئْتُ بِدَلْوٍ ثَلٰثُ لِرِجَالٍ ، څه واقع شوے دى ؟
جواب :- دا دويم او دريم قسم نه دى ۔
سوال :- اعراب دَ دے په كوم حالت دى ؟
جواب :- په حالت جرى كښے دى ۔
سوال :- جرئے په چا سره دے ؟
جواب :- جرئے په كسره سره دے ۔
سوال :- اعراب لفظى دى كه تقديرى ؟
جواب :- اعراب ئے لفظى دى نه تقديرى ۔
سوال :- هُنَّ مُسْلِمَاتٌ ، دَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ ومَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ داڅه واقع شويدى
په دغه شمار لسَو كښے ؟
جواب :- دا درے واړه جمع مؤنث سالم دى ۔
سوال : په كوم حالت كښے دى ؟
جواب :- په درے واړه حالت كښے اعراب بالحركت دى ۔
سوال :- درے واړه حالات نه څه مراد دى ؟
جواب : يعنى اعراب لفظى دى ۔ رفع ئے په ضمے سره دے ۔ نصب جرئے په كسرے سره دے ۔
سوال :- نصب تابع دَ جر ولے دے ؟
جواب :- په جمع مذكر سالم كښے نصب تابع دَ جر ؤو كه دلته مخالف شى بيا خلاف
لازمى په مابين دَ فرع او اصل كښے ۔ مذكر اصل دے ۔ مؤنث فرع دے ۔
سوال :- هٰذَا زَيْدٌ ۔ هٰذَا ظَبْيٌ ۔ هٰذَا رِجَالٌ ۔ دَأَيْتُ ظَبْيًا ۔ رَأَيْتُ عَمْرًا
مَرَرْتُ بِظَبْيٍ داڅه واقع شويدى ؟
جواب :- هٰذَا زَيْدٌ ۔ دَ اول قسم نه دے په حالت رفعى كښه راغلے دے ۔ هٰذَا ظَبْيٌ دويم

قسم نه دے په حالت د نفی کښے. هٰذَا رِجَالٌ دریم قسم نه دے په حالت دفعی کښے
رَاَیْتُ ظَبْیًا دویم قسم نه دے خو په حالت نصبی کښے دے رَاَیْتُ عَمْرًا اول قسم نه
دے په حالت نصبی کښے مَرَرْتُ بِظَبْیٍ هم دویم قسم نه دے په حالت جری کښے

سوال :- اَللّٰهُ رَبُّنَا وَاٰدَمُ اَبُوْنَا مَکَّةُ بَلْدَةٌ مُبَارَکَةٌ نَبِیُّنَا مُحَمَّدٌ
څه واقع شوی دی ؟

جواب :- اَللّٰهُ خو مرفوع لفظاً اول قسم نه دے رَبُّنَا نَا متکلم ته اضافت
شوے دے دَ هغے حال وروسته راځی آدم هم مرفوع لفظاً مبتداء دے اَبُوْنَا
مضاف مضاف الیه نه دے مَکَّةُ مرفوع لفظاً مبتداء دے اول قسم دے دویم جزء
ئے صفت موصوف دے۔

## پنځم بحث ترکیب

جَاءَنِیْ زَیْدٌ - جَاءَ فعل ماضی معلوم قیا سورے په ضَرَبَ یَضْرِبُ باندے
نون وقایه یائی متکلم مفعول بهٖ زَیْدٌ مرفوع لفظاً ورته فاعل شو. فعل مع
الفاعل مع المفعول بهٖ جمله فعلیه خبریه -

هٰذَا دَلْوٌ - هٰذَا اسم اشاره دَلْوٌ جاری مجریٰ دَ صحیح ورته خبر شو. مبتداء
مع الخبر جمله اسمیه خبریه شوه۔

هُمْ رِجَالٌ - هُمْ ضمیر مرفوع منفصل مبتداء رِجَالٌ جمع مذکر مکسر دفعه
ئے په ضمه سره ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه شوه۔

رَاَیْتُ زَیْدًا - رَاَیْتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضی معلوم قیا سورے په
باب دَ فَتَحَ یَفْتَحُ باندے ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیرئے کیږی په اَنَا
سره هغه ئے فاعل شو. زَیْدًا ورته مفعول بهٖ شو. فعل مع الفاعل مع
المفعول بهٖ جمله فعلیه خبریه -

رَاَیْتُ دَلْوًا - رَاَیْتُ فعل فاعل دَلْوًا ورته مفعول بهٖ شو. فعل مع
الفاعل مع المفعول بهٖ جمله فعلیه خبریه -

رَاَیْتُ رِجَالًا - رَاَیْتُ فعل فاعل رِجَالًا ورته مفعول بهٖ شو. فعل

مع الفاعل مع المفعول بہٖ جملہ فعلیہ خبریہ۔
مَرَرْتُ بِزَیْدٍ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل بَاء جار زَیْدٍ مجرور۔ جار مع المجرور
تعلق نیسی تر فعل پورے۔ فعل مع الفاعل مع المتعلق جملہ فعلیہ خبریہ۔
جِئْتُ بِدَلْوٍ۔ جِئْتُ فعل فاعل بَا جار دَلْوٍ مجرور۔ جار مع المجرور تعلق
نیسی تر فعل پورے دا حقیقت کښے مفعول بہ دے۔ فعل مع الفاعل مع المتعلق
جملہ فعلیہ خبریہ۔
قُلْتُ لِرِجَالٍ۔ قُلْتُ فعل فاعل لام جار رِجَالٍ مجرور۔ جار مع المجرور
تعلق نیسی تر فعل پورے۔ فعل مع الفاعل مع المتعلق جملہ فعلیہ خبریہ۔
هُنَّ مُسْلِمَاتٌ۔ هُنَّ ضمیر مرفوع منفصل مبتداء۔ مُسْلِمَاتٌ جمع مؤنث سالم ورته
خبر شو۔ مبتداء مع الخبر جملہ اسمیہ خبریہ۔
رَأَیْتُ مُسْلِمَاتٍ۔ رَأَیْتُ فعل فاعل چه اَنَا دے مُسْلِمَاتٍ ورته مفعول بہٖ شو۔ فعل
مع الفاعل مع المفعول بہٖ جملہ فعلیہ خبریہ۔
مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل بَاء جار مُسْلِمَاتٍ مجرور۔ جار مع المجرور
متعلق نیسی تر فعل پورے۔ فعل مع الفاعل مع المتعلق جملہ فعلیہ خبریہ۔
هٰذَا زَیْدٌ۔ هٰذَا مبتداء زَیْدٌ ورته خبر۔ مبتداء مع الخبر جملہ اسمیہ خبریہ۔
هٰذَا ظَبْیٌ۔ هٰذَا اسم اشارہ مبتداء ظَبْیٌ ورته خبر شو۔ مبتداء مع الخبر جملہ اسمیہ خبریہ شو
هٰذَا رِجَالٌ۔ هٰذَا مبتداء رِجَالٌ ورته خبر۔ مبتداء مع الخبر جملہ اسمیہ خبریہ۔
رَأَیْتُ ظَبْیًا۔ رَأَیْتُ فعل فاعل ظَبْیًا ورته مفعول بہٖ شو۔ فعل مع الفاعل مع المفعول بہٖ
جملہ فعلیہ خبریہ۔
رَأَیْتُ عَمْرًا۔ رَأَیْتُ فعل فاعل عَمْرًا مفعول بہٖ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول بہٖ
جملہ فعلیہ خبریہ۔
مَرَرْتُ بِظَبْیٍ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل بَاء جار ظَبْیٍ جاری مجریٰ صحیح مجرور۔ جار
مع المجرور تعلق نیسی تر فعل پورے۔ فعل مع الفاعل مع المتعلق جملہ فعلیہ خبریہ۔
اَللّٰهُ رَبُّنَا۔ اَللّٰهُ مرفوع لفظاً مبتداء رَبُّنَا مضاف الیہ ورته خبر شو۔ مبتداء مع الخبر
جملہ اسمیہ خبریہ۔

آدَمُ اَبُوْنَا ـ آدَمُ مرفوع لفظاً مبتداء ابو مضاف نَا مضافٌ الیہ ـ مضاف مع المضاف الیہ ورته خبر شو ـ مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه ـ

مَكَّةُ بَلْدَةٌ مُبَارَكَةٌ ـ مَكَّةُ مرفوع لفظاً مبتداء بَلْدَةٌ موصوف مُبَارَكَةٌ ورته صفت شو ـ موصوف مع صفت ورته خبر شو ـ مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه ـ

نَبِيُّنَا مُحَمَّدٌ ـ نَبِيُّنَا مضاف مضافٌ الیہ مبتداء مُحَمَّدٌ ورته خبر شو ـ مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه شوه ـ

رَاَيْتُ هٰذَا نَبِيًّا ـ رَاَيْتُ فعل فاعل هٰذَا اسم اشاره نَبِيًّا مشارٌ الیہ ـ اسم اشاره مع المشارٌ الیہ ورته مفعول به شو ـ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه شوه

پنجم غیر منصرف وآں اسمے ست که دو سبب از اسباب منع صرف درو باشد و اسباب منع صرف نه است عدل و وصف و تانیث و معرفه و عجمه و جمع و ترکیب و وزن فعل و الف ونون زائدتان چوں عُمَرُ واَحْمَرُ وَطَلْحَةُ وزَيْنَبُ وَ اِبْرَاهِيْمُ وَمَسَاجِدُ ومَعْدِيْكَرِبُ وَ اَحْمَدُ وعِمْرَانُ رفعش بضمه باشد ونصب وجر بفتحه چوں جَاءَ عُمَرُ وَرَاَيْتُ عُمَرَ وَ مَرَرْتُ بِعُمَرَ

ترجمه :ـ پنځم قسم د هغه شپارسو اقسامو نه اسم متمکن غیر منصرف دے ـ او اسم غیر منصرف هغه اسم دے چه په هغې کښې دوه سببه وی د اسبابو د منع صرف نه ـ یا یو سبب وی چه قائم وی مقام د دوه سببونو کښې لکه الف ممدوده شو ـ او اسباب د منع صرف نه دی (۱) عدل (۲) وصف (۳) تانیث (۴) معرفه (۵) عجمه (۶) جمع (۷) ترکیب (۸) وزن فعل (۹) الف نون مزید تین ـ مثالو نه د دوی دا دی ـ

مثال د عدل عُمَرُ ـ مثال د وصف اَحْمَرُ ـ مثال د تانیث لفظی طَلْحَةُ مثال د تانیث معنوی زَيْنَبُ ـ مثال د عجمه اِبْرَاهِيْمُ ـ مثال د جمع مَسَاجِدُ

مثال دَ ترکیب مَعْدِیْکَرِبُ. مثال دَ وزن فعل اَحْمَدُ. مثال دَ وزن فعل اَحْمَدُ
مثال دَ الف نون مزید تین عِمْرَانُ.
دَ اعراب په اعتبار سره دفعهٔ په ضمے سره او نصب جرئے په فتحے سره وی. مثال
لکه جَاءَ عُمَرُ په حالت رفع کښے. دَ رَأَیْتُ عُمَرَ په حالت نصب کښے. وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ په
حالت جر کښے. دلته جر تابع دَ نصب وی.

# تشریحات

دلته لا بدی ده دَ معرفت دَ امور خمسه ؤ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو
(۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) دَ بعضو جملو تراکیب.

## اول بحث په تحقیقاتو کښے

- دلته لابدی ده دَ معرفت دَ امور اربعه ؤ نه.
(۱) بیان دَ منصرف (۲) بیان دَ غیر منصرف (۳)
اسباب دَ منع صرف (۴) بیان دَ (۹) اسبابو.

**۱- بیان دَ منصرف** - منصرف هغه اسم دے چه په هغه کښے دَ نهه اسبابو
دَ منع صرف نه دوه سببه وی نه یو سبب چه قایم وی مقام دَ دوه سبب. او منصرف
ته ځکه منصرف وائی چه دَ هغے اشتقاق کښے درے اقواله موجود دی. (اول قول) دَ
صَرْفٌ نه مشتق دے. نو صَرْفٌ خالی والی ته وائی. دا هم خالی دے دَ اسبابو
دَ منع صرف. یا دے مشتق دے صَرْفٌ نه. او صَرْفٌ بدلیدو ته وائی. او په دیکښے
هم حرکت په احوالو ثلاثو کښے بدلیږی. یا دَ دے اشتقاق صَرِیْفٌ نه دے
او صَرِیْفٌ یو قسم آواز دے. چه ځائے دَ ادا کیدو دَ هغه خَیْشُوْم دے. او په دے
اسم منصرف کښے تنوین راځی. او دَ تنوین نه آواز پیدا کیږی. ځکه دَ دے مقابله
کښے غیر منصرف شو چه هغے کښے تنوین نه راځی.

**۲- بیان دَ غیر منصرف** - غیر منصرف هغه اسم دے چه دوه سببونه دَ اسبابو
دَ منع صرف نه په هغه اسم کښے موجود وی حقیقةً یا حکماً. یا یو سبب وی. غیر منصرف
دا هم معرب کولے شی په اعراب بالحرکت سره په حالتینو کښے. په حالت رفع کښے
په ضمے سره وی. او په حالت نصبی او جری کښے په فتحے سره وی. دلته جر تابع دَ نصب

وی . (اول مثال) فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ - اُخَرَ منصوب دے (دویم مثال) فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَا - دلته اَحْسَنَ منصوب دے بآ ورباندے هم داخل ده - (دریم مثال) يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ - دلته مَحَارِيْبَ منصوب دے . حال دا دے چه مِنْ حرف جر ورباندے داخل دے . همدا رنګه وتَمَاثِيْلَ کښے نصب . حال دا دے چه دا هم عطف دے په مَحَارِيْبَ باندے . هغه منصوب نو دا هم منصوب شو (څلورم مثال) وَاَوْحَيْنَا اِلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ الخ دلته هم اِبْرَاهِيْمَ منصوب دے . حال دا دے چه حرف جر اِلٰى ورباندے داخل شوے . ما بعد آسماء ورباندے عطف دی -

۳- بيان اسباب دَ منع صرف - اسباب دَ منع صرف نهه دی (۱) عدل (۲) وصف (۳) تانيث (۴) معرفه (۵) عجمه (۶) جمع (۷) ترکيب (۸) وزن فعل (۹) الف ونون زائدتان -

سوال :- اوس منع صرف څه ته وائی ؟

جواب :- منع صرف دَ لغت په اعتبار دَ سره دَ تغير کيدل نه منع کول . او دَ اصطلاح په اعتبار سره هغه اسم دے چه منصرف کولو نه منع شی . او علامه سکندر دا چه په غير منصرف کښے کسره او تنوين نه راځی . لکه ابن حاجب په کافيه کښ داعبارت لکولے دے (وَحُكْمُهٗ اَنْ لَا كَسْرَةَ وَلَا تَنْوِيْنَ الخ اِلَّا لِضَرُوْرَةٍ دا اِلَّا عبارت دَ کافيه نه دے

۴- بيان دَ (۱۹) اسبابو - دَ (۱۹) اسبابو دَ صريو تعريف او دَ هغوی مثالونه به ذکر کيږی . ډير په غور او فکر سره ورته کتنه اوکړئ -

عدل :- دَ عدل لغوی معنٰی (اوړيدل) دے معنٰی طرف ته محترم آفندی اشاره کړے ده (وهو فی اللغة الصرف ويقال اسمٌ معدولٌ ای مصروفٌ) او په نزد دَ بعضو دَ عدل معنٰی لغةً انصاف کول . ليکن دلته عدل مصدر مجهول دے . دَ دے معنٰی ده معدوليت . يعنی معدول کيدل . دا اسم ده . او په اصطلاح کښے عدل هر هغه اسم ته وائی چه دَ خپل قانونی شکل نه خارج شی . غير قانونی شکل ته منتقل شی سره دَ بقاء دَ مادے . او معنٰے اصلی يعنی حروف هم باقی پاتے شی او معنٰی اصلی هم باقی پاتے شی

لکه عُمَرُ ـ ثُلٰثَ ـ مَثْلَثَ شو ـ عدل په دوه قسمه سره دے (۱) عدل تحقیقی
(۲) عدل تقدیری ـ
۱ ـ عدل تحقیقی ـ دیته وائی چه دَ یو اسم په وجود اصلی باندے دَ غیر منصرف لوستلو نه سوا لی بل دلیل موجود وی ـ لکه ثُلٰثَ ، مَثْلَثَ د ا د ثَلٰثَةٌ ثَلٰثَةٌ نه و تلے دے ـ او په دوی کښے عدل تحقیقی دے ـ ځکه چه دَ دوی په وجود اصلی باندے دَ غیر منصرف لوستلو نه علاوه بل دلیل موفق سره موجود دے ـ هغه دلیل دا دے چه دَ ثُلٰثَ او مَثْلَثَ په معنٰی کښے تکرار دے ـ معنٰی دے دوه دوه ـ او تکرار دَ معنٰی دلالت کوی په تکرار دَ لفظ باندے ځکه چه تکرار دَ معنٰی بغیر دَ تکرار دَ لفظ نه نشی راتلے ـ نو معلومه شوه چه ثُلٰثَ ماخوذ دے دَ ثَلٰثَةٌ ثَلٰثَةٌ نه ـ او مَثْلَثَ هم ماخوذ دے دَ ثَلٰثَةٌ ثَلٰثَةٌ نه ـ نو اوس دَ دے ثَلٰثَةٌ ثَلٰثَةٌ نه ثُلٰثَ او مَثْلَثَ جوړ شول ـ نو دا غیر منصرف شو ـ یو سبب پکښے عدل تحقیقی دے ـ بل سبب پکښے وصف دے ـ
۲ ـ عدل تقدیری :ـ دا هغه اسم دے چه هغے په وجود اصلی باندے سوی دَ غیر منصرف لوستلو نه بل دلیل موفق سره موجود نه وی ـ مثال لکه عُمَرُ ـ زُفَرُ شو ـ او س هر کله چه دا په کلام دَ عرب کښے دمو ندلے شو غیر منصرف او حال دا دے چه غیر منصرف دیته وائی چه په هغے کښے دوه سببه موجود وی ـ یا یو سبب موجود وی قایم وی په مقام دَ دوه سببونو کښے او س په دغه مذکوره مثالو نو کښے یو سبب موجود دے چه هغه علمیت دے ـ دویم سبب پکښے نشته دے ـ او س کچرے دیته موفق غیر منصرف وا یو نو دَ نحویانو دَ قانون نه مخالفت راځی چه هغوی ویلی دی وجه دَ غیر منصرف دَ پاره دوه سببه وی نو حفاظت دَ هغوی دَ قانون هم ضروری دے ـ نو لحاظ علماؤ د لته دویم سبب عدل فرض کړو ـ او دا ئے اوفرمائیل چه عُمَرُ او زُفَرُ په اصل کښے دَ عَامِرٌ او زَافِرٌ دی ـ نو دوی دَ خپل اصل نه خارج شو ـ او عُمَرُ او زُفَرُ ترینه جوړ شول ـ او س دَ دے په وجود اصلی باندے علاوه دَ غیر منصرف لوستلو نه موفق سره بل هیڅ قسم دلیل نشته ـ نو عُمَرُ او زُفَرُ غیر منصرف شو ـ یو سبب پکښے عالمیت شو ـ دویم سبب پکښے عدل تقدیری شو
۲ ـ وَوَصْفٌ ـ وصف په لغت کښے بیا نول ـ او په اصطلاح کښے کَوْنُ الْاِسْمِ دَالًّا عَلٰی ذَاتٍ مُّبْهَمَةٍ مَاخُوْذَةٍ مَعَ بَعْضِ صِفَاتِهَا ـ لکه اَحْمَرُ شو چه دا دلالت کوی په هغه

ذات چه په هغې کښې حُمْرَةٌ وی یعنی سور والے وی . لیکن شرط په دیکښې دا دے چه تاثیر دَ وصف وی په غیر انصراف دَ کلمے کښې . وصف به اصلی وی ځکه وصف عارضی لوجه دَ عروض نه تاثیر نشی کولے په منع صرف کښې . مثال لکه اَرْبَع شو په مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعٍ کښې دا منصرف دے . اګرچه په وزن دَ فعل او وصفیت پکښې راغلی دے . لیکن دا وصفیت عارضی دے . او اصلی نه دے . اګرچه دلته دا اربع صفت واقع شویدے دَ نِسْوَةٍ دَپاره لیکن دا حاصل په بناء سره دا اربع دَ عدد دَپاره وضع شویدے

۳- تانیث :- دریم سبب دَ منع صرف دَپاره هغه تانیث دے . بیا تانیث په خپل کود کښې په دوه قسمه سره دے (۱) تانیث لفظی (۲) تانیث معنوی .

۱- تانیث لفظی :- هغه اسم دے چه په هغې کښې علامه دَ تانیث موجود وی . اګرچه حقیقةً هغه اسم مؤنث نه وی لکه طلحة شو . او س طلحة حقیقت کښې دا دَ مذکر نوم دے . لیکن کله چه پکښې لفظاً تانیث موجود شو نو ځکه لفظاً دیته تانیث وائی . او حقیقةً مؤنث وی مثال لکه فاطمةؓ خدیجةؓ .

او ضابطه دا ده چه که تانیث لفظی وُو . بیا شرط دَپاره کیدلو یو سبب دَ منع صرف دَپاره عالمیت دے چه دا شئ به عَلَمْ وی . ځکه چه اعلام محفوظ وی دَ تغیر او تبدل نه په تدور دَ امکان سره . او س سبب پکښې عَلَمِيَتٌ دے . بل سبب پکښې تانیث لفظی دے بیا تانیث لفظی په دوه قسمه سره دے . یو تانیث لفظی بالتّاء دے او بل تانیث لفظی بالالف - تانیث لفظی بالتاء - دا هغه اسم دے چه دَدے په آخره کښې تا وی لکه طَلْحَةٌ شو - او تانیث لفظی بالالف - دا هغه اسم دے چه دَدے په آخره کښې الف وی . بیا داخیل کور کښې په دوه قسمه سره دے . یو الف ممدوده . او بل الف مقصوره دے . مثال دَ الف ممدوده لکه حَمْرَاءُ شو . مثال دَ الف مقصوره حُبْلیٰ شو .

۲- تانیث معنوی :- تانیث معنوی هغه اسم دے چه حقیقةً په هغې کښې علامه دَ تانیث موجود نه وی . لکه زَیْنَبُ شو . او س شرط دَپاره دَ تاثیر دَ دے په منع صرف کښې عَلَمِيَتٌ هم دے . بغیر دَ عالمیت نه دا هم شرط دے چه یا به دے دریو حرفونه زائد وی . مثال لکه زَیْنَبَ شو . یا به متحرک الاوسط وی . مثال لکه سَقَرَ شو . او یا به عجمی لفظ وی مثال لکه مَاهُ اَزْجُوْرُ شو . نو حاصل دا شو چه تانیث معنوی دَ دریے قسمه شو دَ شرط په

اعتبار سره (۱) درېيمے حرف نه زائد وی (۲) متحرك الاوسط وی (۳) عجمی لفظ لکه
داخوهغه وخت دوچه تانیث په تاء سره وی ـ که تأنیث په الف ممدوده سره وی یا
الف مقصوره سره وی بیا په هغې کښې هیڅ قسم شرط نشته ـ نو بیا دا تانیث قایم مقام دَ
سببین دے یوائے هم تاثیر کوی په منع صرف کښې حاجت بل سببیت ته نشته ـ
مثالونه مذکور ذکر دی ـ وړوسته امثالو کښې نور هم راځی ـ فَانْتَظِرُوْا ـ

۴ـ معرفه ـ څلورم سبب دَ غیر منصرف دَپاره معرفه ده ـ معرفه هغه اسم دے چه
واضع هغه لره دَیو معین څیز دَپاره وضع کړے وی ـ بیا معرفه په خپل کور کښې په اووه قسمه
ده ـ دلته مراد عَلَمْ دے ـ دلته هغه اووه قسمونه دا دی (۱) ضمائر (۲) موصولات (۳)
اشارات (۴) معرفه بندا (۵) معرفه باللام (۶) معرفه بالاضافت ـ دا خو هغه قسم دے
چه غیر منصرف منصرف ته اړ دی ـ بیا پخپله څرګه غیر منصرف شی ـ پاتے شو کښې عَلَمْ
دا مراد شو ـ اوس شرط دَ معرفه غیر منصرف کید لو دَ پاره دا دے چه دا معرفه موجود
شی خاص په ضمن دَ عَلَمْ کښې نه په ضمن دَ باقی اقسامو کښې لکه زَیْنَبُ شو ـ اوس
زَیْنَبُ دا غیر منصرف دے ځکه یو سبب پکښې معرفه والے دے او بل پکښې تانیث معنوی
دے ـ نو ځکه زَیْنَبُ غیر منصرف شو ـ

۵ـ عُجمه ـ پنځم قسم سبب دَ منع صرف دَپاره عُجْمه ده ـ عُجْمه په لغت کښې کونګاته وائی
او په اصطلاح کښې عُجْمه هر هغه لفظ ته دائی چه واضع دَ هغې غیر عربی وی ـ بیا عجمه
چه غیر منصرف کرځی دَ هغې دَپاره دوه شرطونه دی ـ

۱ـ یو عَلَمیت فی العجمه ـ یعنی په عجمی ژبه کښې به عَلَمْ وی ـ بیا په عجمی ژبه کښې عَلَمْ
په دوه قسمه سره دے ـ (۱) حقیقی (۲) حکمی ـ حقیقی هغه لفظ دے چه په عجمی ژبه
کښې هم عَلَمْ وی ـ او کله چه هغه عربی ژبے ته نقل شی نو بیا هم په طور دَ عَلَمْ استعمال
شوے وی ـ لکه اِبْرَاهِیْمُ وغیره ـ (حکمی) هر هغه لفظ دے چه په عجمی ژبه کښې عَلَمْ خو
نه وی ـ لیکن هرکله چه عربی ژبے ته نقل شی نو بیا په طور دَ عالمیت استعمال
شوے وی ـ لکه لُجَامُ شو ـ اصل کښې لګامُ وی ـ کاف جیم سره بدل شو ـ بیا عالمیت
ورکړے شوے ـ دا وا کړی دَپاره اکثر خلق ورته (قیضه) وائی ـ

۲ـ [illegible] متحرك الاوسط به وی ـ مثال لکه شُتُرُ دَ یو ظلم نوم دے

دَدے وجه نه نُوْحٌ وَلُوْطٌ دامنصرف دے. ځکه چه ساکن الاوسط دی نه متحرک الاوسط.
۲- یا زائد وی علی الثلثة. مثال لکه اِبْرَاهِیْمُ شو. لُجَامُ شو -

۶ - جمع - یعنی شپږم قسم دَ نهه اسبابو دَغیر منصرف نه هغه دَ منتهی الجموع ده چه قایم وی په مقام دَدوه سببو کښے - اوس مراد دلته دَجمع نه هغه جمع دَ اقصیٰ ده جمع اقصیٰ دیته وائی چه انتها دَجمع تکسیر پورے راغلے وی. دوئم شرط پکښے دادے چه په آخیره دَدے کښے دا ہے تاء نه وی چه هغه هاء سره بدل شی په حالت دَوقف کښے اوس طریقه دَصیغه منتهی الجموع جوړ ولو دا ده چه دَ هغے په اولنو دوه حرفو باندے به فتحه ولیکلے شی. په دریم ځائے کښے به الف علامه دَجمع اقصیٰ راوړے شی. هغے نه پس به گورو چه یو حرف دے که دوه حرفه دی که درے حرفه دی. که چرے یو حرف وی بیا به هغه مشدد حرف دی. مثال لکه دَوَآبُّ. کچرے دوه حرفه دی بیا به اول حرف مکسور وی. مثال لکه مَضَارِبُ مَسَاجِدُ شو. او که درے حرفه دی بیا به ساکن الاوسط وی. لکه مِصْبَاحٌ نه مَصَابِیْحُ جوړ شو.

۷ - ترکیب - یعنی اووم قسم دَ هغه (۹) اسبابو دَ منع صرف نه ترکیب دے مراد د ترکیب نه مرکب منع صرف دے. او ترکیب دیته وائی چه ضرورت دَ کلمتین دے یا اکثر دَ کلمتین نه کلمه واحد لره په دے سره چه نه وی یو جز دَ اجزاؤ نه حرف صوت. لیکن شرط دَپاره دَ سببیت دَ ترکیب دادے چه عَلَمْ به وی. او بل شرط دادے چه ترکیب اضافی او اسنادی به نه وی. مثال لکه مَعْدِیُ او کَرُب شو. نو دغه دواړه نه یو نوم مَعْدِیْکَرُبَ جوړ شو. دلته اوس دا غیر منصرف دے ځکه چه یو ترکیب دے. او بل عالمیت دے. دوه سببه جمع شو نو مَعْدِیْکَرُبَ غیر منصرف جوړ شو

سوال :- دیکښے اضافت ولے نه راځی او اسناد ولے نه دی ؟
جواب ۱- اضافت خو به ځکه نه وی چه اضافت سره غیر منصرف منصرف کرځی. او د موښ بحث خو په غیر منصرف کښے دے نه په منصرف کښے. او په اسناد مشتمل اعلام مبنی وی لکه تابَّطَ شَرًّا. او موښ بحث خو په معربو کښے دے.

اوس دَ مرکب منع صرف تعریف - دا هغه دوه اسمونه دی چه واضع لره جدا جدا معنو دَپاره وضع کړی دی. بیا وروسته راتلونکی خلقو هغے لره یو کړی ځولی وی. لیکن شرط دادے چه دویم

اسم متصمن لرۀ حرف نه وی. مثال بَعْلَبَكُّ، مَعْدِيكَرِبَ، حَضَرَ مَوْتَ -

۸ - وزن فعل - یعنی اتم سبب دَ اسبابو دَ منع صرف نه وزن فعل دے. مقصد دا شو چه اسم به په هغه وزن سرۀ وی چه هغه وزن فعل سرۀ خاص وی. اگرکه څه وخت دَ فعل نه اسم ته بدل شی لکه شَمَّرَ دَ باب تفعیل نه دے تَشْمِيْرَ نه لمن اوچتولو ته وائی. اوماضی معلوم دَدے شَمَّرَ راځی. اوس دغه شَمَّرَ نوم شو دَ اسپ کله چه دَ اونی په اصل کښے دَ فعل وو. نو یو سبب خو وزن فعل دے. بل سبب عالمیت دے. دَدے وجه نه شَمَّرَ غیر منصرف دے.

۱- اول شرط دَ وزن فعل دَپاره دا دے چه دا وزن به خاص وی فعل پورے او موجود به نه وی په اسم کښے اصالةً -

۲- دویم شرط دا دے چه په اول سر کښے به زیادت وی دَحرف پشان دَ زیادت دَحرف په فعل کښے

۳- دریم شرط دا دے چه دا اسم به قابل نه وی دَ تائی تانیثے متحرکے لرۀ. مثال لکه اَحْمَدَ اشرف. اَكْبَرُ -

۹ - الف نون زائد تان - یعنی نهم قسم دَ اسبابو دَ منع صرف نه هغه الف نون زائدتان دی. دا الف نون مزید تین به خالی نه وی. یا به اسم صفتی کښے وی یا به اسم جامد کښے که اسم صفتی کښے وی نو شرط دا دے چه دَدے وزن به فُعْلَانَةٌ سرۀ نه وی یعنی قابل دَتائی تانیث نه وی. لکه سُكْرَانَ شو (مست) ته وائی. نو سُكْرَانَ غیر منصرف دے. ځکه چه دَدے مونث سُكْرٰی راځی. او نُدْمَانٌ منصرف دے ځکه چه دَدے مونث نُدْمَانَةٌ شو. مثال لکه عِمْرَانَ شو. په آخر دَ اسم کښے به الف نون مزید تین وی. او س دا غیر منصرف دے یو عالمیت دے. بل الف نون زائدتان دی.

## دریم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه :- دَ غیر منصرف دَپاره دا ده چه رفع دَدے په ضمے سرۀ وی. نصب جر دَ دے په فتحه سرۀ وی. دغے ضابطے سرۀ درے خبرے معلومه شوے. (۱) اوله خبرۀ دَ غیر منصرف دَپاره اعراب لفظی وی. تقدیری نه وی (۲) اعراب بالحرکت وی اعراب بالحروف نه وی (۳) بعضے احوال به تابع دَ بعضو وی یعنی حرکونه مستقل نه وی.

**سوال** :- هغه کوم حالت دے چه تابع دَ غیر دے ؟

**جواب** :- حالت جری تابع دَ فتحه دے یعنی غیر منصرف کښے جریه تابع دَ فتحه وی۔

**۲- ضابطه** - په غیر منصرف کښے به جر او تنوین نه راځی۔

**سوال** :- جر او تنوین ولے نه راځی ؟

**جواب** :- ځکه چه غیر منصرف مشابهت لری فعل سره په وجود دَ فرعیت کښے فعل کښے دوه فرع موجود دی۔ (اول) فاعل ته په صدور کښے (دویم) مصدر ته په اشتقاق کښے۔ او غیر منصرف هم دوه فرع لری۔ هغه دوه فرع دوه سببونه دی اوس برابره خبره ده چه دا سببونه حقیقةً دی او که حکماً او که حکماً خو هغه یو سبب ته وائی چه قائم شی په مقام دَ دوه سببو کښے۔ نو مدار دَ هر سبب په فرعیت باندے دے ځکه معدلیت فرع ده په نسبت سره غیر معدولیت ته۔ وصف فرع ده په نسبت سره ذات ته۔ تانیث فرع ده په نسبت سره مذکر ته۔ معرفه فرع ده په نسبت سره نکره ته وجوداً۔ عجمه فرع ده په نسبت سره عربی ته جمع فرع ته په نسبت سره مفرد ته ځکه جمع مشتق وی او مفرد مشتق منه وی۔ مشتق منه اصل وی نسبتاً مشتق نه ترکیب فرع ده په نسبت سره غیر ترکیب ته۔ ځکه چه ترکیب وجود هله پیدا کیږی چه اول دغه الفاظ ځانله ځانله پیدا شی۔ بیا مرکب شی۔ وزن فعل فرع دے په نسبت سره غیر وزن فعل ته چه هغه اسم دے چه په وزن فعل سره نه دی۔ ځکه چه په مابین دَ اسم او فعل کښے منافات دے۔ الف نون مزید تین فرع ده په نسبت سره هغه الف نون ته چه هغه اصلی وی۔

**۳- ضابطه** - عدل وزن فعل سره نه جمع کیږی ځکه چه دَ عدل شپږ اوزان دی۔
(۱) فُعَالَ مثال ثُلٰثَ (۲) مَفْعَلُ مثال مَثْلَثُ (۳) فُعَلُ مثال عُمَرُ (۴) فَعَلِ مثال اَمْسِ (۵) فَعَلْ مثال سَحَرْ (۶) فَعَالِ مثال قَطَامِ۔

**۴- ضابطه** - وصف عَلَمْ سره هیڅکله نه جمع کیږی ځکه چه وصف دلالت کوی په ذات مبهم باندے او عَلَمْ دلالت کوی په ذات معین باندے۔

۵ - ضابطه :- غیر منصرف اضافت او یا الف لام دَ داخلیدو په وجه سره دَ منصرف حکم اخلی یعنی کسره او تنوین ورباندے داخلیږی۔

۶- ضابطه :- ضرورت شعري او مناسبت دَ وجه نه کسره او تنوین ور باندې داخلیږي

۷- ضابطه :- دَ انبیاؤ علیهم السّلام نومونه - او ځه نومونه منصرف دي . محمد ﷺ صالح ؑ - هود ؑ - شعیب ؑ - نوح ؑ - لوط ؑ - شیث ؑ - څلور اولنی عربي دي . دریمه ورو ستني عجمي دي . او دَ ملائکو په نومونو کښې څلور نومونه سوی قول عجمي غیر منصرف دي . او څلور نومونه عربي دي . لکه رِضْوَانُ عربي غیر منصرف . او مُنْکِرْ او نَکِیرْ - مَالِکُ دا عربي منصرف دے - او دَ اسلامی میاستو نومونه شپږ پکښې منصرف شپږ پکښې غیر منصرف دے . غیر منصرف دالامیاشت (۱) جمادی الاولیٰ (۲) جمادی الاخریٰ (۳) شعبان (۴) رمضان (۵) صفر (۶) رجب -

او هم دغه رنګه دَ قبیلې نومونه یا دَ ځلئے نومونه چه په هغې کښې تانیث معنوی نه علاوه دوه سببه موجود شي نو دا به هیشه غیر منصرف وي . مثال تَغْلَبُ . اګر تانیث معنوی نه علاوه دوه سببه نه وي بیا به ګورو چه دَ عربو نه چه مسموع شوي ئې غلي دے منصرف دے یا غیر منصرف . اګر غیر منصرف وي نو هیشه به غیر لو ستل کیږي . مثال هُوْدٌ مجوس - دِمشْق اګر دَ عربو نه منصرف مسموع شوے وي نو بیا هیشه منصرف لو ستل کیږي . مثال بَنُوْ کَلْبُ - بَنُوْ ثَقِیْفُ - حُنَیْنُ .


لنډه جائزه دَ نهه اسبابو - دا نهه اسباب دَ غیر منصرف په څلور برخو کښې تقسیم کړے او له برخه - په عَلَمْ او وَصَفْ کښې - دغه دواړه اسبابو کښې هدیو سبب ته معین ویلے شي . یعنی حاصل دَ سبق دا شو چه دا دواړه اسباب دا سے اسباب دي چه نور اسبابو سره تعاون کوي دَ پاره دَ غیر منصرف کیدلو . مثال لکه عجمه . ترکیب . تانیث بالتّاء - دا دریمه واړه سبب نشي کیدے ترڅو پورے چه دوی سره عَلَمْ مدد نه وي کړے دویمه برخه - باقي پنځو اسبابو کښې نهم سبب سبب کیدے شي دَ غیر منصرف دَ پاره مثال لکه صیغه دَ منتهی الجموع او تانیث بالالف دا دواړه ځانله ځانله مستقل یو سبب قائم مقام دَ دوه سببو کیږي . لکه څرنګه چه دَ دوه ګونه ظاهراً یو نوټ دے خو قائم مقام دَ دوه دوپو کوي .

دریمه برخه - باقي پاتے شو پنځه نیم اسباب . په دیکښې دوه نیم ترینه خارج کړے یعنی عجمه - ترکیب او نیم تانیث . یعنی تانیث لفظي بالتّاء او تانیث معنوي . په

دیکښې به دویم سبب هیشه دَپاره عَلَمْ وی . ځکه چه عَلَمْ په دوېکښې دَغیرمنصرف کیدو دَپاره شرط دے اودا دوه نیم اسبابه مشروط دی . اوقاعده داده چه مشروط بغیرِ دَ شرط نه نه موجودیږی . لکه څنګه چه اودس دَ مانځه دَپاره شرط دے . او مونځ ورته مشروط دے . مونځ بغیر دَاودس نه نشی موجودکیدے . که قدرت په اوبولری عندترینه معاف شو.

خلورمه برخه - باقی پاتے شو درے اسبابه - عدل ، وزن فعل . الف نون مزیدتین په دوئ کښې دویم سبب به همیشه دَپاره عَلَمْ وی یا به وصف وی -

## دَغیر منصرف دَ اسبابو دَ اجماع دَپاره یوعجیبه نقشه



## دریم بحث ذکر د امثالو

مَرَرْتُ بِاَحْمَدَ مَرَرْتُ بِاَحْمَدِكُمْ مَرَرْتُ بِالْاَحْمَدِ حُبْلٰى
حُمْرَاءَ ثُلٰثَ مَثْلَثُ اُحَادَ (مَوْحَدَ) ثُنَاءَ (مَثْنٰى) رُبَاعَ (مَرْبَعَ)
عُمَرُ اُخَرُ قَطَامِ اَحْمَرُ اَصْفَرُ حُمْرَةٌ صُفْرَةٌ ضَارِبٌ
مَضْرُوْبٌ اَسْوَدُ مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعَ طَلْحَةُ مُوْسٰى سَقَرُ
مَاهٌ جُوْرُ زَيْنَبُ اِبْرَاهِيْمُ شُعَيْبٌ نُوْحٌ لُوْطٌ مَسَاجِدُ
مَصَابِيْحُ دَوَابٌّ بَعْلَبَكَّ تَابَطَ شَرًّا عَبْدُاللهِ عُثْمَانُ عِمْرَانُ
سُكْرَانُ نَدْمَانٌ شَمَّرَ اَحْمَدُ شَتَّرَ هِنْدٌ هِنْدَ زُفَرُ
نُعْمَانَ رَحْمٰنُ اِسْمَاعِيْلُ اَشْيَاءُ غَسَّانُ جَمَاهِيْرُ مَعَالِمُ
فَرْحَانَ عَقَائِدُ جُمَادَى الْاُوْلٰى عُلَمَاءُ شَرَائِطُ عِرْفَانَ اَنْوَرُ
اَحَادِيْثُ نُوْحٌ لُوْطٌ هُوْدٌ اِخْوَانُ۔

## څلورم بحث ذکر دمشق

ښاردا ده چه دَدے تولو مشق وکړے شی په نمبر وار سره چه دَ طالبانو ذهن پکښ کولاؤ شی۔ لیکن دَ کتاب دَ طویل کیدلو نه رابا ندے ویره پرته ده نوځکه دَ اختصار نه کار اخلو۔ مَرَرْتُ بِاَحْمَدَ ، مَرَرْتُ بِاَحْمَدِكُمْ ، مَرَرْتُ بِالْاَحْمَدِ دا درے واړه

سوال :- مَرَرْتُ بِاَحْمَدَ ، مَرَرْتُ بِاَحْمَدِكُمْ ، مَرَرْتُ بِالْاَحْمَدِ دا درے واړه مبنی دی که معرب ؟

جواب :- دا معرب دی۔

سوال :- دا چه معرب دی منصرف دی که غیر منصرف ؟

جواب :- دا غیر منصرف دی۔

سوال :- غیر منصرف خو بیا (۹) اسباب لری۔ دلته دَ هغو نه اسبا بو نه کوم اسباب موجود دی ؟

جواب :- دوه سببه موجود دی یو عالمیت دویم وزن فعل۔

سوال :- دَ غیرمنصرف اعراب بالحرف وی یا بالحرکت ؟

جواب :- اعراب بالحرکت وی .

سوال :- لفظی وی یا تقدیری ؟

جواب :- لفظی وی .

سوال :- د درے وارړو حالتو کښے اعراب جاری کیږی یا بعضے احوال تابع دَ بعضے وی ؟

جواب :- بعضے احوال تابع دَ بعضے وی . یعنی جر تابع دَ نصب وی . لکه مثال مذکور کښے چه حرف داخل شوے دے بِاَحْمَدَ باندے . بیا هم فتحه راغلے ده .

سوال :- مثال ثانی او مثال ثالث کښے ولے جر ورباندے داخل شوے دے . حال دا دے چه غیرمنصرف کښے جر نه تابع دَ نصب وی ؟

جواب :- دا له وجهے دَ بعضے ضابطے نه چه غیر منصرف کښے الف لام داخل شی یا اضافت وشی بیا هغے باندے جر داځی . لکه مثال مذکور شو . مَرَرْتُ بِاَحْمَدِکُمْ دلته دَ احمد اضافت کُمْ ته شوے دے . دویم مَرَرْتُ بِالْاَحْمَدِ کښے الف لام ورباندے داخل شوے دے څکه مکسور دے .

سوال :- حُبْلٰی - حَمْرَاءَ - ثُلٰثَ - مَثْلَثَ - اُحَادَ (موحد) ثناء (مثنٰی) رباع (مربع) عُمَرُ - اُخَرُ - قَطَامِ دا څه واقع شوے دی ؟

جواب :- دا هم غیرمنصرف دی .

سوال :- غیرمنصرف نهه اسباب لری . د دیکښے نهه اسباب کوم یو دی ؟

جواب :- حُبْلٰی کښے الف مقصوره دے . چه دا یو سبب قایم دے په مقام دَ دوه سببو کښے او په حَمْرَاءَ کښے الف ممدوده دے چه یو سبب قایم دے مقام دَ دوه سببو کښے .

سوال :- کوم تانیث چه الف مقصوره یا الف ممدوده سره دی دَ هغے غیر منصرف جوړولو کوم سبب دے ؟

جواب :- دَ هغے جوړولو هیڅ سبب نشته . بلکه هر یو دوه سببه په مقام قائم دی . البته کومه کلمه چه په تاء سره وی دَ هغے غیر منصرف کیدلو دَ پاره شرط دا دے چه دَ چا دَ پاره په علَم وی . مثال لکه طلحة یا حمزة .

جواب :- ثُلٰثَ - مَثْلَثَ - اُحَادَ - مَوْحَدَ - ثُنَاءَ - مَثْنٰی - رُبَاعَ - مَرْبَعَ دا هم غیر

منصرف دے . بیا غیر منصرف کښے عدل دے .

سوال :- عدل خو په دوه قسمه سره دے دا کوم یو نه دے ؟

جواب :- دا عدل تحقیقی دے .

سوال :- عدل تحقیقی چا ته وائی ؟

جواب :- عدل تحقیقی دیته وائی چه دَ هغے اصل موجود وی . خواه هغه غیر منصرف پرا وینږی . یا نه . مثال لکه مذکر شوے چه ثُلث . مَثْلَثَ معنی درے درے نو اوس دا قانون دے چه معنی کښے تکرار را شی نو لفظ کښے به هم تکرار راځی . نو لفظ دَ دے هم مکرر شو لیکن دلته خو لفظ مکرر نه دے . نو دَ دیته دا معلومه شوه چه دَ دے اصل مکرر دے چه هغه ثَلٰثَةٌ ثَلٰثَةٌ دے . دغه رنګه اُحَادُ مَوْحَدُ دَ پاره لفظ مکرر دے چه وَاحِدَةٌ وَاحِدَةٌ دے . ثناء ، مثنٰی اثنان اثنان رباع مَرْبَعَ دَ پاره اَرْبَعَةٌ اَرْبَعَةٌ شو .

سوال :- عُمَرُ ، اُخَرُ - قُطَامِ - دا دَ کوم یو نه دی ؟

جواب :- دا عدل تقدیری دے .

سوال :- عدل تقدیری چا ته وائی ؟

جواب :- عدل تقدیری دا سے اسم ته دائی چه واقعه کښے دَ هغے هیڅ قسم اصل نه وی . لیکن دَ غیر منصرف لوستلو دَ پاره دَ هغے اصل اوباسی . مثال لکه عُمَرُ شو اوس دا غیر منصرف شو . غیر منصرف خو دوه سببه غواړی - دلته نشته . یو سبب موجود دے چه عالمیت دے . بل سبب نشته . مونږ فرض کړو چه دا عدل تقدیری دے . دَ دے اصل عَامِرٌ دے . نو عَامِرٌ نه عمر جوړ شو . نو دَ دا قِرٌ نه جوړ شو اُخَرُ دا هم عدل دے . اُخَرُ جمع دَ آخَرُ ده . اٰخَرُ اسم تفضیل دے . اسم تفضیل په درے طریقو سره استعمالیږی . دلته نه دے استعمال شوے . نو معلومه شوه چه دا معدل دے . یو وصف شو بل عدل غیر منصرف شو . لیکن دَ فقیر دا رایه ده چه اُخَرُ جمع دَ اٰخَرُ دے . لیکن اٰخَرُ صیغه دَ اسم تفضیل نه ده . ځکه چه دَ دیکښے افضلیت څه دَ هیڅ نشته . لکه یو سړے والی جَاءَ رَجُلٌ وَرَجُلٌ اٰخَرُ یو سړے راغے و بل سړه بل سړے هم راغے . اصل خبره دا ده چه دا اٰخَرُ په اصل کښے اَءْخَرُ دے . دوه همزے

یوځای کښې جمع شوې دَ زړا دی اودَ ارشادصرف قانون وړ ته متوجه کړئ چه دریمه همزه دَ اولی همزې دَحرکت موافق بدل شو په الف سره . نو آءخَرُ نه اُخَرُ جوړ شو دلته اوس یو وزن فعل راځی بیا وصف بیا هم غیرمنصرف شو خو عدل نه خارج شو

**یوه اهمه مسئله** بعضے حاشیه کښې دَ عدل شپږ اوښا ان خودلی دی . کوم ماهم ور ته اشاره کړ یده . لیکن په هغې کښې دا دوه الفاظ هم ذکر دی یو اَمْسِ دے بل سَحَرُ دے . لیکن دا خبره مذکوره چه ذکر شویده بعضو حاشیو کښې ضعیف دے . دَدے وجه نه چه اَمْسِ مجرور دے او غیرمنصرف خو مجرور نه راځی بله وجه دَضعف اَمْسِ ظرف زمانی مبنی دے او غیرمنصرف خو معرب دے او بَل لفظ دَ سَحَرُ شو . دا په قرآن پاک کښې منصرف راغلی دے او مجرور مستعمل شوے دے بِسَحَرٍ نِعْمَةً مِّنَّا (سورت قمر ع) او حال دا دے چه غیر منصرف په حرف جر سره نه مجرور کیږی مثال به وړو سته راځی إِنْشَاءَ اللهُ تَعَالٰى . یو مثال دا هم دے بِبَكَّةَ دلته بَكَّةَ غیرمنصرف دَ خو مجرور نه دے صرف جرور با اندے هم داخل دے . دغه رنګه قَطَامِ هم مجرور دَ (تفکر)

**سوال :-** اَحْمَرُ ، اَصْفَرُ ، حُمْرَةٌ ، صُفْرَةٌ ، ضَارِبٌ ، مَضْرُوْبٌ ، اَسْوَدُ دا څه واقع شوی دی ؟

**جواب :-** دیکښې بعضے منصرف دی بعضے غیر منصرف .

**سوال :-** منصرف او غیر منصرف دَ یو بل نه جُدا کړئ ؟

**جواب :-** اَحْمَرُ ، اَصْفَرُ ، اَسْوَدُ دا غیر منصرف دی . اَسْوَدُ وصف اصلی دَ وجه نه غیر منصرف شو . دیکښې وزن فعل وصف جمع شو . او حُمْرَةٌ ، صُفْرَةٌ ، ضَارِبٌ ، مَضْرُوْبٌ منصرف دی . ځکه چه دیکښې تنوین راغلے دے . او تنوین په غیر منصرف کښې نه راځی .

**سوال :-** مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعٍ دلته هم وصف او وزن فعل جمع شو دا غیرمنصرف دے او که منصرف ؟

**جواب :-** دا منصرف دے ځکه ور باندے تنوین هم راغلی دے او جر هم راغلی دے دا دَ اَرْبَعٍ د نِسْوَةٍ دَپاره وصف دے . لیکن دا وصفیت دلته عارضی دے ځکه اربع یو عدد معین دَپاره وضع شوے دُو . لیکن دلته دَدغه نِسَاءٌ دَپاره وصف واقع شو نو غیر منصرف نه

خارج منصرف کښے داخل شو.

**سوال** :- طَلحَة - مُوسٰی - سَقَرُ - مَاهُ - جُوْرُ - زَیْنَبُ - اِبْرَاهِیْمُ - شُعَیْبُ - نُوحٌ - لُوطٌ - داځه واقع شوے دے؟

**جواب** :- بعضے منصرف دی بعضے غیر منصرف.

**سوال** :- کوم یو منصرف دی کوم یو غیر منصرف دی؟

**جواب** :- طَلحَة - مُوسٰی - سَقَرُ - مَاهُ - جُوْرُ - زَیْنَبُ - اِبْرَاهِیْمُ - شُعَیْبُ دا غیر منصرف دی. مابقیه منصرف دی.

**سوال** :- مَسَاجِدَ - مَصَابِیْحُ - دَوَابُّ - بَعْلَبَکَّ - تابط شرًا - عبدالله داځه واقع شویدی؟

**جواب** :- بعضے منصرف بعضے غیر منصرف دی.

**سوال** :- کوم یو منصرف دی؟

**جواب** :- تابط شرًا او عبدالله منصرف دی. وجه دَ انصراف دا ده چه تابط شرًا کښے ترکیب اسناد موجود دے. عبدالله کښے ترکیب اضافی. دا دواړه ترکیبه دَ غیر منصرف سره ضد دی. مابقیه غیر منصرف دی.

**سوال** :- غیر منصرف څو (۹) اقسام لری دا دَ کوم یو نه دی؟

**جواب** :- مَسَاجِدُ او مَصَابِیْحُ، دَوَابُّ. دا صیغے دَ منتهی الجموع دی. بیا هغه درے قسمه سره دی. الف نه بعد دوه حرفه دی. اول ئے مکسور وی درے حرفه وی. ساکن الاوسط وی. یو حرف وی مشدد دوی. او بَعْلَبَکَّ کښے ترکیب موجود دے. لیکن دیکښے اختلاف نشته دے. سابق کښے تیر شویدی. تفکر اوکړی.

**سوال** :- عُثْمَانُ - عِمْرَانُ - سُکْرَانُ - نَدْمَانُ - شَمَّرَ - اَحْمَدُ - شَتَّرَ - هِنْدٌ - هِنْدُ - زُفَرُ - نُعْمَانُ - دَحْمَنُ - اِسْمَاعِیْلُ - دَ دینه مابقیه چه څومره امثال ذکر دی نو نشان دهی اوکړئ چه کوم یو پکښے غیر منصرف دی کوم یو پکښے منصرف دے سوال او جواب ستاسو په غاړه دے. دَ دینه مابعد یو بل تمرین ذکر کوم چه تاسو ورباندے اعراب نکوئ. خو هیرن یات په شوق او مسبح نه کار دا خلئ. او دَ علماء دا موجنزاتو نه دیرن یات مشفقانه انداز سره سوال کوم چه په طلباء کرام وباندے مشق اوکړی

# هغه دویم امثال دادی

رَبُّنا رحمن ورحیم نبیناً محمدا واحمد للمؤمن رحمة وجنة للكافر عذاب وجهنم ولقد آتينا داوٗد وسلیمان علما یا یحیی خذ الكتاب بقوة هل رایت لندن هل ترید ان ینفذ الاسلام فی پاکستان هذاعصافیر ابتلی ابراهیم ربه جاءفی زید عطشان إنَّ للمتقين مفازاً حدائق واعنابا وكواعب اترابا یااهل یثرب ارجعوا ان احب مكة ومدینة حمزة اسد الله واسد رسوله فانكحوا ماطاب لكم من النساء مثنى وثلث وربٰع وفاطمة سيدة نساء اهل الجنة وغیره ذکر شوو امثالو باندے اعراب ښکاره کړئ ۔

## پنځم بحث دَبعضو جملو تراکیب

رَاَیْتُ عُمَرَ ۔ رَاَیْتُ فعل فاعل عُمَرَ مفعول بہٖ ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول بہٖ جمله فعلیه خبریه ۔

جَاءَ نِیْ عُمَرُ ۔ جَاءَ فعل نون وقایه یا مفعول بہٖ عُمَرُ ورته فاعل ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول بہٖ جمله فعلیه خبریه ۔

مَرَرْتُ بِعُمَرَ ۔ دلته جر تابع دَ نصب شو ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل بأجار عُمَرَ مجرور جرئے تابع دَ نصب ۔ جار مع المجرور تعلق نیسی تر مَرَرْتُ فعل پورې ۔ فعل چه مَرَرْتُ دے مع الفاعل چه اَنَا دے مع المتعلق چه بِعُمَرَ دے ۔ جمله فعلیه خبریه ۔

مَرَرْتُ بِاَحْمَدَ ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل ۔ باجار اَحْمَدَ وزن فعل مجرور دے ۔ خو جر تابع دَ نصب دے غیر منصرف دے مفعول بہٖ شو ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول بہٖ جمله فعلیه خبریه ۔

مَرَرْتُ بِاَحْمَدِكُمْ ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل با حرف جر احمد مجرور مضاف كُمْ ضمیر مضاف الیه ۔ مضاف مع المضاف الیه مجرور شو دَپاره دَجار ۔ جار مع المجرور تعلق نیسی تر فعل پورې ۔ فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعلیه خبریه ۔ دلته لہ وجه دَ اضافت نه مجرور شو

مَرَرْتُ بِالْاَحْمَدِ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل بِالْاَحْمَدِ. له وجه دَ الف لام نه داهم مجرور دے
ضابطه کښے وجه دَ دے تیره شویده معرف بالام دے. مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع
المفعول به جمله فعلیه خبریه۔
حبلی او حمراء - جَاءَتْ حُبْلٰی - رَاَیْتُ حُبْلٰی - مَرَرْتُ بِحُبْلٰی په دریے واړه
حالاتو کښے یو شان دے. ځکه چه الف باندے اعراب نه جاری کیږی.

ششم اسماء ستہ مکبرہ وقتیکہ مضاف باشند بغیر یائے متکلم چوں اَبٌ وَاَخٌ
وَحَمٌ وَهَنٌ وَفَمٌ وَذُوْ مَالٍ رفع شاں بواو باشد و نصب بالف و جر بیا
چوں جَاءَ اَبُوْكَ وَرَاَیْتُ اَبَاكَ وَمَرَرْتُ بِاَبِیْكَ۔

ترجمه - شپږم قسم دَ هغه شپاړس قسمونو نه اسماءِ ستّه مکبرهٔ دی: چه دوی مضاف وی
خو بغیر دَ یای متکلم نه. مثال لکه: اَبٌ اَخٌ او حَمٌ او هَنٌ او فَمٌ او ذو مَالٍ شو. دَ دے
اعراب رفع ئے په واؤ سره او نصب ئے په الف سره او جر ئے په یاء سره. مثال لکه:
جَاءَ اَبُوْكَ دا مثال دَ رفع شو. رَاَیْتُ اَبَاكَ دا مثال دَ نصب شو مَرَرْتُ بِاَبِیْكَ دا مثال
دَ جر شو

## تشریحات

دلته لابدی ده دَ معرفت دَ امور خمسه وُ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر
دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشتق (۵) ترکیب۔

**اول بحث تحقیقات:-** اسماء جمع دَ اسم ده. ستّةٌ په اصل کښے سِدْسٌ وُو. سین بدل
شو تاء سره سِدْتٌ شو. بیا دال بدل شو تاء سره لوجه دَ قریب المخرج نه سِتّتٌ
شو. بیا دوه حرفه دَ یو جنس نه راغلل. قاعده دَ ادغام جاری وه نو مترجم شوه یو په بل
کښے نو شو نو ستّ جوړ شو. ځوک ستّ لیکی او ځوک ستّة غونډے تا سره ئے لیکی
دواړه صحیح دی. خو اوّلی حنفه اول دے. ځکه ثانی هاء سره بدلیږی او اول نه بدلیږی
مبالغه دا صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب دَ تفعیل نه. او مکبرهٔ چه ذکر کړ احتراض ئے

وکړۀ مصغرنه . ځکه چه دَ مصغر اعراب بالحرکت وی نه بالحروف . نو مونږ بحث په هغه
مضر باتوکښے دے چه اعراب دَ دے بالحروف وی . او بل تخصیص یکښے دا دے چه اعراب به
لفظی وی . تقدیری به نه وی . مثال جَاءَنِی أَخُوكَ - رَأَیْتُ أَخَاكَ - مَرَرْتُ بِأَخِیكَ
مضاف باشد چه وویل احتراز ئے اوکړ دَ غیر مضاف نه . ځکه چه کوم وی غیر مضاف
وی بیا اعراب دَ دوی بالحرکت وی په لفظی سره وی په درے واړو حالاتوکښے . مثال لکه
جَاءَنِی أَخٌ - رَأَیْتُ أَخًا - مَرَرْتُ بِأَخٍ - ددیم قید دلته دوی سره مضاف وی خو
یائی متکلم ته به مضاف نه وی . که چرے یائی متکلم ته مضاف وی بیا اعراب دَ دوی
اعراب بالحرکت وی خو تقدیری به وی . لفظی به نه وی په درے واړو حالاتوکښے . مثال
لکه جَاءَنِی أَخِی - مَرَرْتُ بِأَخِی - مَرَرْتُ بِأَخِی - جَاءَ أَبِی - رَأَیْتُ أَبِی . مَرَرْتُ بِأَبِی
جَاءَ أَبِیكَ - رَأَیْتُ بِأَبِیكَ - مَرَرْتُ بِأَبِیكَ -
خلاصه دَ سبق دا شوه - چه اسماء ستۀ مکبره دپاره شرط لری (۱) مکبره وی مصغر به نه وی
(۲) مضاف وی غیر مضاف به نه وی (۳) مضاف به وی خو یائی متکلم ته به مضاف نه وی
په دغه درے واړو شرائطو کښے که چرے لفظ دَ دوی با ندے عمل وشی نو اعراب بالحروف وی
او که نه وی با ندے عمل وشی اعراب به بالحرکت وی .
خلورم شرط - آسماء ستۀ مکبر مفرد به وی جمع او تثنیه به نه وی -
حَمٌ (معنیٰ دَ ښځے لیور) هَنٌ (معنیٰ شرمگاه) فَمٌ (خوله) ذُومَالٍ (مالدار)
دا آسماء ستۀ مکبره په اصل کښے تول ناقص واوی دی . او دغه واؤ ترینه خلاف القیاس
سره حذف شویدے . او که دَ قانون موافق حذف شی بیا اعراب دَ دے اسم مقصوره
غوندے راځی - ذُو په اصل کښے ذَوُو وه - یو واؤ حذف شو . نا کلمه ته ئے ضمه ورکړه
نو ذُو شو . بعضه وائی چه ذَوُو دَ دے اصل نه دے بلکه دپاره دَ جمع دے . فَمٌ په
اصل کښے فَوَه دَو . اجوف واوی وُو هاحذف شوه او واؤ میم سره خلاف القیاس
بدل کړ فَمٌ شو .
سوال ۱- دَ دوی اعراب بالحروف ولے دی ؟
جواب ۱- ځکه چه دوی مفرد دی . اسم مفرد اعراب بالحرکت دی . نو دَ دے
وجه نه دَ دوی اعراب بالحروف مقرر شو چه وحشت او نفرت را نشی په ما بین دَ

مفرد او تثنیه او جمع کښې . ځکه چه دَ تثنیې او دَ جمعې اعراب بالحروف او دَ مفرد
اعراب بالحرکت شي . بیا خو وحشت او نفرت راځي په مابین دَ دوئ کښې .
نو دا شپږ دارهٔ اسماء ستّه مکبرهٔ معرب کولے شي اعراب بالحروف سره حقیقةً په حالاتو
ثلاثو کښې . رفعه ئے په واؤ سره . نصبه ئے په الف سره . جر ئے په یاء سره . دا اعراب
بالحروف هغه وخت وي چه څلور شرایط پکښې موجود وي .

## دویم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه - دغه اسماء ستّه مکبرهٔ دَ پاره اعراب بالحروف وي بالحرکت به نه وي
۲- ضابطه - اعراب دَ دوئ لفظي به وي تقدیري به نه وي -
۳- ضابطه - دا به معرب کیږي په احوال ثلاثو کښې . یعنې په حالت رفعي کښې به واؤ
وي . په حالت نصبي کښې به الف وي . په حالت جري کښې به یاء وي . بعضے دَ دوئ به تابع دَ
بعضے نه وي . دا درے دارهٔ حالات به مستقل وي .
۴- ضابطه - که دغه اسماء ستّه مصغر وُو بیا به معرب کولے شي په اعراب بالحرکت
سره لفظًا حقیقةً په احوالو ثلاثو کښې .
۵- ضابطه - که دغه اسماء ستّه مثنٰی او جمع شو نو بیا به معرب کولے شي په اعراب
دَ مثنٰی او جمع سره -
۶- ضابطه - که دغه اسماء ستّه مکبره هم وُو مفرد هم وُو . لیکن مضاف نه وُو -
بیا هم دوئ معرب کولے شي په اعراب بالحرکت سره لفظاً حقیقةً په احوالو ثلاثه کښې
۷- ضابطه - که دغه اسماء ستّه مضاف وُو یا دَ ضمیر متکلم ته بیا هم دوي معرب کولے
شي په اعراب بالحرکت سره تقدیراً په احوالو ثلاثو کښې اعراب ور باندے نه جاري کیږي
۸- ضابطه - ذو به په معنٰی دَ صاحب وي کله چه په معنٰی دَ الذی سره شي بیا مبني کیږي
دا ذو به سکون دَ واؤ سره -

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

جاءَنِي اُخَيَّانِ رَأَيْتُ اُخَيْكَ مَرَرْتُ بِاُخَيِّكَ جَاءَنِي اَخٌ رَأَيْتُ اَخًا

مَرَرْتُ بِاَخٍ    جَاءَ اَبُوْكَ    رَاَيْتُ اَبَاكَ    مَرَرْتُ بِاَبِيْكَ    جَاءَ حَمُوْكَ
رَاَيْتُ حَمَاكَ    مَرَرْتُ بِحَمِيْكَ    جَاءَنِيْ هَنُوْكَ    رَاَيْتُ هَنَاكَ    مَرَرْتُ
بِهَنِيْكَ    هٰذَا فُوْكَ    رَاَيْتُ فَاكَ    وَعَجِبْتُ مِنْ فِيْكَ    هٰذَا ذُوْمَالٍ
رَاَيْتُ ذَامَالٍ    مَرَرْتُ بِذِيْ مَالٍ    قَالَ اَبُوْهُمْ اِنِّيْ لَاَجِدُ رِيْحَ يُوْسُفَ
قَالُوْا يَا اَبَانَا    فَلَمَّا رَجَعُوْا اِلٰى اَبِيْهِمْ    اَبُوْنَا اٰدَمُ    اَبُوْكَ رَجُلٌ صَالِحٌ
اَخُوْنَا عُمَرُ    اِجْعَلْنَا مُسْلِمِيْنَ    ضَرَبْتُ اَخَاكَ    اَنَا اَخُوْكَ    جَعَلَ السِّقَايَةَ فِيْ
رَحْلِ اَخِيْهِ    رَاَيْتُ رَجُلًا ذَافَهْمٍ    مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ذِيْ لُبٍّ    هُوَ ذُوْعِلْمٍ
هٰذَا طَعَامٌ ذُوْمِلْحٍ    حَمُوْكِ عَالِمٌ    رَاَيْتُ حَمَاهَا فِي الدَّارِ    وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ
اِنَّ اَبَانَا لَفِيْ ضَلَالٍ مُّبِيْنٍ    وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ    وَاِنْ كَانَ ذَامَالٍ    اِلٰى ظِلٍّ
ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ    جَاءَنِيْ اَخِيْ    رَاَيْتُ اَخِيْ    مَرَرْتُ بِاَخِيْ    اُسْتُرْ هَنَاكَ    جَاءَنِيْ
ذُوْتَامَ    رَاَيْتُ ذُوْتَامَ    مَرَرْتُ بِذُوْتَامَ

## څلورم بحث په مشق کښې

سوال :- جَاءَنِيْ اُخَيُّكَ    رَاَيْتُ اُخَيَّكَ    مَرَرْتُ بِاُخَيِّكَ دا معرب دے که مبنی ؟
جواب :- دا معرب دے ،
سوال :- دا منصرف دے که غیر منصرف ؟
جواب :- دا منصرف دے .
سوال :- اعراب بالحروف لری که اعراب بالحرکت ؟
جواب :- اعراب بالحرکت .
سوال :- دا ولے اعراب بالحرکت لری ؟
جواب :- داځکه اسماء ستّه مصغر نه دی نو اسماء ستّه مکبره کښے اعراب بالحروف دی او مصغر کښے اعراب بالحرکت وی ځکه دلته اعراب بالحرکت شو .
سوال :- په کومو حالاتو کښے دا اعراب بالحرکت شو ؟
جواب :- په درے وارو حالاتو . ځکه دا خبره معلومیږی د څلورمے ضابطے نه کما مرّ انفًا
سوال :- جَاءَنِيْ اَخٌ    رَاَيْتُ اَخًا    مَرَرْتُ بِاَخٍ دا معرب دے که مبنی ؟

جواب :- داخو معرب دی.

سوال :- دَ اسماء متمکنه نه دی که غیر متمکنه نه ؟

جواب :- دا اسماء متمکنه نه دی

سوال :- منصرف دی که غیر منصرف ؟

جواب :- دا منصرف دی.

سوال :- اسماء متمکنه خو شپاړس دی. دا کوم یو دی ؟

جواب :- دا آسماء ستّ مکبرهٔ دی.

سوال :- اسماء ستّ مکبرهٔ خو (۸) ضابطے لری. دا دَ کوم یوے ضابطے نه راځی.

جواب :- دا دَ شپږمے ضابطے نه راځی چه اسماء ستّ مکبّرهٔ هم وی مفرد هم وی - خو مضاف نه وی نو بیا دوی معرب کولے شی په اعراب بالحرکت سرهٔ لفظاً حقیقةً به احوال ثلاثهٔ ؤکښے لکه دا مذکوره سوال شو چه جَاءَنِیْ اَخٌ ، دَاَیْتُ اَخًا ، مَرَرْتُ بِاَخٍ شو.

سوال :- جَاءَ اَبُوْكَ ، دَاَیْتُ اَبَاكَ ، مَرَرْتُ بِاَبِیْكَ ، جَاءَ حَمُوْكَ نه واخله الیٰ مَرَرْتُ بِهَنِیْكَ پورے دا څه واقع شویدے معرب دے که مبنی ؟

جواب :- دا معرب دے.

سوال :- بیا منصرف دے که غیر منصرف ؟

جواب :- منصرف دے.

سوال :- اعراب بالحرکت لری که اعراب بالحروف ؟

جواب :- اعراب بالحروف

سوال :- دَ دوی اعراب تابع دَ بعضے دی یا نه ؟

جواب :- دَ دوی اعراب تابع دَ بعضے نه دی مګر په درے وارو حالاتو کښے معرب کیږی اعراب بالحروف سرهٔ . رفعه ئے په وَاو سره دے. نصب ئے په الف سره دے. جرے په یا سره دے . امثالو ته خیال اوکړئ.

سوال :- هٰذَا فُوْكَ . رَاَیْتُ فَاكَ ، وَ عَجِبْتُ مِنْ فِیْكَ دا څه واقع شویدی معرب دی که مبنی

جواب :- معرب

سوال :- منصرف دے که غیر منصرف ؟

جواب :- منصرف دی

سوال :- اعراب بالحرکت دی که اعراب بالحروف ؟

جواب :- اعراب بالحروف -

سوال :- د شپږ واړو حالاتو کښې او که بعضې حالاتو کښې ؟

جواب :- د شپږ واړو حالاتو کښې :

سوال :- هٰذَا ذُوْمَالٍ - رَأَيْتُ ذَامَالٍ ، مَرَرْتُ بِذِيْ مَالٍ دا معرب دے که مبنی ؟

جواب :- معرب -

سوال :- منصرف دے که غیر منصرف ؟

جواب :- دا منصرف دی -

سوال :- اعراب بالحرکت لری که اعراب بالحروف ؟

جواب :- اعراب بالحروف -

سوال :- دا څنګه اعراب بالحروف لری ؟

جواب :- دغه ذُوْ چه په معنیٰ د صاحب شی بیا اعراب بالحروف فائده کوی - که ذُوْ په معنیٰ د الّذی شی بیا مبنی کیږی - نو دغه ذُوْ چه ذال نه بعد راځی دا به ساکن وی په شپږ واړو حالاتو کښې -

سوال :- قرآن پاک کښې د دے مثال بیا کولے شئ ؟

جواب :- بِالرَّئِيْسِ وَالْعَيْنِ مثال که ا شالو کښې راځی - قَالَ اَبُوْهُمْ . قَالَ فعل اَبُوْ مضاف مرفوع بالواو دے - هُمْ مضافٌ الیه تقدیراً - مضاف مع المضاف الیه فاعل شو د پاره د فعل چه قَالَ دے - مثال ثانی چه منصوب وی - قَالُوْا يَا اَبَانَا - مثال ثالث چه مجرور وی - فَلَمَّا رَجَعُوْا اِلٰى اَبِيْهِمْ -

سوال :- اَبُوْنَا اٰدَمُ ، اَبُوْكَ رَجُلٌ صَالِحٌ ، اَخُوْنَا عُمَرُ - اِجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ ضَرَبْتُ اَخَاكَ ، اَنَا اَخُوْكَ ، جَعَلَ السِّقَايَةَ فِيْ رَحْلِ اَخِيْهِ - رَاَيْتُ رَجُلاً ذَا فَهْمٍ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ذِيْ لُبٍّ دا معرب دی که مبنی ؟

جواب :- دا معرب دی -

سوال :- منصرف دی که غیر منصرف ؟

جواب :- منصرف دی۔
سوال :- اعراب بالحرکت لری که اعراب بالحروف ؟
جواب :- اعراب بالحروف لری۔
سوال :- یوحالت کښې دی که مختلف دی ؟
جواب :- مختلف دی۔
سوال :- مرفوع کوم دی۔ منصوب کوم دی۔ او مجرور کوم دی ؟
جواب :- اَبُوْنَا مرفوع دےځکه چه مبتداء دے۔ او مبتداء دَ مرفوعاتو نه دی۔
اَبُوْكَ - اَخُوْنَا - اَنَا اَخُوْكَ داهم مرفوع دی۔ اِجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ دا منصوب دے۔
نصب ئے په یاء سره دے۔ خو تثنیه دے۔ ماقبل دَ دے منصوب دی۔ ضَرَبْتُ اَخَاكَ
رَأَيْتُ رَجُلاً داهم منصوب دے۔ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ذِیْ لُبٍّ دا مجرور دے۔ جرئے
په یاء سره دے هغه منصوب نصب ئے په الف سره شو۔
سوال :- هُوَ ذُوْعِلْمٍ ، هٰذَا الطَّعَامُ ذُوْمِلْحٍ - حَمُوْكَ عَالِمٌ ، رَاَيْتُ حَمَاهَا فِى الدَّارِ
رَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ، اِنَّ اَبَانَا لَفِىْ ضَلَالٍ مُّبِيْنٍ د اخه واقع شويدی ؟
جواب :- داهم معرب دی
سوال :- منصرف دی که غیر منصرف ؟
جواب :- دا منصرف دی۔
سوال :- اعراب بالحرکت دی که اعراب بالحروف ؟
جواب :- اعراب بالحروف دی۔
سوال :- دَ دے وارو حالاتو سره موافق دی که نه ؟
جواب :- د دے وارو حالاتو سره موافق دی چه هُوَ ضمیر مرفوع منفصل دے
مبتداء شو۔ ذُوْ مضاف دے عِلْمٍ مضافٌ الیه شو۔ مضاف مع المضافٌ الیه خبر شو
دَ پاره دَ مبتداء چه هُوَ دے۔
سوال :- هٰذَا طَعَامٌ ذُوْمِلْحٍ - حَمُوْكَ عَالِمٌ - اَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ دا اعراب بالحروف
دی۔ مرفوع دَ پاره دَ واؤ۔ منصوب دَ پاره الف۔ مجرور دپاره یاء ۔
خلاصه دَ بیان :- دغه مذکوره مابقیه کښې پخپله تفکرنه کار واخلئ

**سوال** :- جَاءَنِيْ ذُوْ تَامٍ ۔ رَأَيْتُ ذُوْ تَامٍ ۔ مَرَرْتُ بِذُوْ تَامٍ داڅه واقع شویدی؟

**جواب** :- دا مبنی دی ۔ مبنی خو دسته مکبره نه راځي دے ۔ اعراب نه لری دا خو حرف ساکن کوی په درے وارو حالاتو کښے ۔

**سوال** :- دا ولے؟

**جواب** :- دغه ذُوْ په معنیٰ دَصاحب شی بیا مضاف کیږی ۔ مابعد مضافٌ الیه وی ۔ که په معنیٰ دَ دَ اَلَّذِیْ شی بیا به مبنی په سکون دَ دَاوُ سره په درے وارو حالاتو کښے (فتفکر)

## پنځم بحث په ترکیب کښے

جَاءَنِيْ اُخُيُّكَ ۔ جَاءَ فعل ماضی معلوم مذکر غائب قیاس دے په ضَرَبَ يَضْرِبُ باندے جَاءَ فعل نون وقایه یای مفعول به اُخَيُّكَ دے ۔ دا اُخَيُّكَ رفع په ضمه سره دے ۔ دا مضاف او کاف ضمیر مضافٌ الیه دے ۔ مضاف مع المضافٌ الیه فاعل شو دَپاره دَ جَاءَ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه ۔

رَأَيْتُ اُخَيَّكَ ۔ رَأَيْتُ فعل فاعل اُخَيَّكَ مضاف مع المضاف الیه مفعول به شو دَپاره دَ رَأَيْتُ ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به ۔ دا جمله فعلیه خبریه شوه ۔

مَرَرْتُ بِاُخَيِّكَ ۔ دا هم مفعول به شو دَ پاره دَ مَرَرْتُ ۔

جَاءَنِيْ اَخٌ ۔ جَاءَ فعل نون وقایه یای مفعول به مقدم ۔ اَخٌ ورته فاعل مرفوع لفظاً ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه ۔

رَأَيْتُ اَخًا ۔ رَأَيْتُ فعل فاعل اَخًا ورته مفعول به شو ۔ فعل چه رَأَيْتُ دے فاعل چه اَنَا ضمیر دے ۔ اَخًا ورته مفعول به ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه ۔

مَرَرْتُ بِاَخٍ ۔ مَرَرْتُ فعل فاعل ۔ ځکه مَرَّ يَمُرُّ قیاس دے په نَصَرَ يَنْصُرُ باندے اَنَا ورته فاعل ۔ بَا جار اَخٍ ورته مجرور ۔ جار مع المجرور مفعول به شو دَپاره دَ مَرَرْتُ ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه ۔

جَاءَ اَبُوْكَ ۔ جَاءَ فعل ماضی معلوم صیغه واحد مذکر غائب اَبُوْ مضاف كَ مضافٌ الیه مضاف مع المضافٌ الیه دا فاعل شو دَپاره دَ جَاءَ ۔ فعل رفعے په واو سره ده ۔ فعل چه جَاءَ دے مع الفاعل چه اَبُوْكَ دے ۔ جمله فعلیه خبریه ۔

رَاَیْتُ اَبَاكَ ۔ رَاَیْتُ صیغه دَ واحد متکلم دَ فعل ماضی معلوم مثبت دَ فَتَحَ یَفْتَحُ نه ضمیر پکښے مستتر دے چه اَنَا دے هغه ورته فاعل. اَبَا مضاف کاف مضافٌ الیه مضاف مع المضاف الیه مفعول به شو دَپاره دَ رَاَیْتُ فعل. نصب ئے په الف سره دے. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه

مَرَرْتُ بِاَبِیْكَ ۔ مَرَرْتُ صیغه دَ واحد متکلم اَنَا ضمیر پکښے فاعل باجار اَبِیْكَ اَبِیْ مضاف كَ ضمیر مضافٌ الیه. مضاف مع المضافٌ الیه تعلق نیسی تر مَرَرْتُ فعل پورے. فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعلیه خبریه. بکوری دا ظرف لغو دے نه ظرف مستقر

جَاءَ حَمُوْكَ نه داخلی اِلیٰ مَرَرْتُ بِحَمِیْكَ پورے قیاس دے. جَاءَ اَبُوْكَ ۔ رَاَیْتُ اَبَاكَ ۔ مَرَرْتُ بِاَبِیْكَ باندے سوچ اوکړئ.

هٰذَا فُوْكَ ۔ هٰذَا مبتداء ده. فُوْ مضاف کاف ضمیر مضافٌ الیه. مضاف مع المضاف الیه دا خبر شو. مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه

هٰذَا ذُوْمَالٍ ۔ هُوَ ذُوْعِلْمٍ ۔ هٰذَا الطَّعَامُ ذُوْمِلْحٍ دا قیاس دی په هٰذَا فُوْكَ باندے ترکیب دَ هغے ته نظر اوکړئ او دو یکښے پخپله ترکیب اوکړئ.

رَاَیْتُ فَاكَ ۔ وَعَجِبْتُ مِنْ فِیْكَ ۔ رَاَیْتُ ذَا مَالٍ ۔ قَالُوْا یَا اَبَانَا ۔ ضَرَبْتُ اَخَاكَ
رَاَیْتُ رَجُلًا ذَا فَهْمٍ ۔ رَاَیْتُ حَمَاهَا فِی الدَّارِ ۔ اِنَّ اَبَانَا لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ
وَاِنْ كَانَ ذَا مَالٍ ۔ اُسْتُرْ هَنَاكَ. وَدے تولو ترکیب دَ رَاَیْتُ اَبَاكَ غوندے دے. چه نصب ئے په الف سره دے.

قَالَ اَبُوْهُمْ ۔ اَبُوْنَا اٰدَمُ ۔ اَبُوْكَ رَجُلٌ صَالِحٌ ۔ اَخُوْنَا عُمَرُ ۔ اَنَا اَخُوْكَ
حَمُوْكَ عَالِمٌ ۔ اَبُوْنَا شَیْخٌ كَبِیْرٌ دغه تولو ذکر شو جملو کښے رفعه ئے په واو سره ده. بعضو کښے فاعل واقع شوی دے. بعضو کښے مبتداء واقع شوی. د بیرزیات دقت نظر نه کار دوا خلئ.

جَاءَ نِیْ اَخِیْ ۔ اعراب تقدیری دے. رَاَیْتُ اَخِیْ کښے هم اعراب ئے تقدیری دے. مَرَرْتُ بِاَخِیْ کښے هم اعراب تقدیری دے.

سوال :- جَاءَ ذُوْقَامَ ، رَاَیْتُ ذُوْقَامَ ، مَرَرْتُ بِذُوْقَامَ دلته څه قانون دے؟
جواب :- دلته دغه ذُوْ په معنیٰ دَ اَلَّذِیْ سره دے. اَلَّذِیْ موصول مابعد

و ر ته صله راځي . موصول مع صله . فاعل شو د پاره د فعل چه جاءَ دے . يا مفعول د پاره د فعل چه رَأَيْتُ دے . يا متعلق دے د پاره د فعل چه مَرَرْتُ دے .

هفتم مثنی چوں رَجُلَانِ هشتم کِلَا وَکِلْتَا مضاف بمضمر
نهم اِثْنَانِ وَ اِثْنَتَانِ رفع شاں بالف باشد ونصب وجر
بیائے ماقبل مفتوح چوں جَاءَ رَجُلَانِ وَکِلَاهُمَا وَاثْنَانِ
وَرَأَيْتُ رَجُلَيْنِ وَکِلَيْهِمَا وَ اِثْنَيْنِ وَمَرَرْتُ
بِرَجُلَيْنِ وَکِلَيْهِمَا وَاِثْنَيْنِ

ترجمه :- اوم قسم مثنی ده . مثال لکه رَجُلَانِ اتم قسم کِلَا او کِلْتَا دے چه مضاف وی ضمیر ته . نهم قسم اِثْنَانِ او اِثْنَتَانِ دے . دفعه ئے په الف سره وی . نصب او جرئے په یاء سره وی خو هغه یاء چه ماقبل د هغے مفتوح وی . مثال لکه جَاءَ رَجُلَانِ او کِلَاهُمَا او اِثْنَانِ په حالت په حالت دفع کښے حالت نصبی د رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ او کِلَيْهِمَا او اِثْنَيْنِ په حالت جری با ندے . مثال مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ او کِلَيْهِمَا او اِثْنَيْنِ

## تشریحات

دلته لا بدی ده د معرفت د امورخمسه ځنه (۱) تحقیقات (۲) ذکر د ضوابطو (۳) ذکر د امثالو (۴) ذکر د مشتق (۵) بحث په ترکیب کښے .

**اول بحث د تحقیقاتو** - د اعراب په لحاظ سره د اسم متمکن نه دا تثنیه اوم قسم دے . او کِلَا او کِلْتَا اتم قسم دے . او نهم قسم اِثْنَانِ او اِثْنَتَانِ دے . کِلَا دا د مذکر د پاره . کِلْتَا د مؤنث د پاره . اِثْنَانِ دوه سړی . اِثْنَتَانِ دوه ښځے . د دوی اعراب په حالت رفعی کښے به په الف سره وی . او په حالت نصبی او جری کښے به په یاء سره وی او ماقبل د هغے به مفتوح وی . په دغو دواړو حالتونو کښے لکه مثال ئے مذکور چه په متن کښے ذکر دے . جَاءَ رَجُلَانِ . جَاءَ فعل . رَجُلَانِ ور ته فاعل شو . دفع ئے د دے په الف سره

دہ ۔ راغلل دوہ سړي ۔ کہ جَاءَ نِيْ رَجُلَانِ شي ۔ بيا ترجمه دا سے کيږی ۔ راغلل ما ته دوه سړي ۔

اتم قسم ۔ يعنی اتم قسم چه کِلَا او کِلْتَا دے چه مضاف شي ضمير ته دا مضاف قيد احترازی دے ۔ احتراض ئے وکړو د هغه کِلَا او کِلْتَا نه چه مضاف نه وی ضمير ته بلکه مضاف وی اسم ظاهر ته ۔ نو اعراب د دوی بيا بالحرکت دی ۔ او بل تقديری به وی په احوالو ټولو ته د ګئے مثال لکه : جَاءَنِيْ كِلَا الرَّجُلَيْنِ ، رَأَيْتُ كِلَا الرَّجُلَيْنِ ، مَرَرْتُ بِكِلَا الرَّجُلَيْنِ دغه امثالو کښے سوچ وکړی ۔ بيا حکم او کړئ ۔

خلاصه د بيان دا شوه چه كِلَا او كِلْتَا کښے دوه حالته دی ۔ يو حالت کښے د دوئ اعراب بالحرکت وی ۔ دويم حالت کښے اعراب د دوی بالحروف وی ۔

وجه د حصر په دوئ کښے دا ده چه كِلَا او كِلْتَا به خالی نه وی ۔ يا به مضاف وی ضمير ته يا به مضاف وی اسم ظاهر ته ۔ کچرے مضاف وی ضمير ته نو اعراب د دے د دواړو بالحروف دی او که مضاف وی اسم ظاهر ته بيا به دا معرب وی په اعراب بالحرکت سره ۔

سوال :- دا اعتبار د دوئ څنګه راغلل ؟

جواب :- دا دوه حالته په كِلَا او كِلْتَا کښے څکه راغلل چه كِلَا او كِلْتَا لره دوه حالته دی ۔ يو حالت د لفظ دے او بل حالت د معنٰی دے ۔ که حالت د لفظ ته ګورو دا مفرد دی ۔ نو تقاضا د اعراب بالحرکت کوی ۔ که حالت د معنٰی ته نظر وکړو تثنيه ده نو اعراب بالحروف تقاضا کوی ۔ نو ځکه مونږ د دغه دواړو لحاظ اوکړو ۔ چه کچرے مضاف وی اسم ظاهر ته اعراب بالحرکت سره معرب کوو ۔ او که مضاف وی ضمير ته اعراب بالحروف سره معرب کوو

سوال :- دا څرنګه معامله وشوه چه اسم ظاهر ته مضاف شي بيا معرب کيږی په اعراب بالحرکت سره ۔ که ضمير ته مضاف شي بيا معرب کيږی په اعراب بالحروف سره ولے عکس سره ذکر نشو ؟

جواب :- دا جهت د معنٰی مناسبت لرې په اضافت کښے ضمير ته ۔ ځکه چه جهت د معنٰی کښے دا كِلَا او كِلْتَا تثنيه دی ۔ او تثنيه فرع د مفرد ده ۔ او اضافت ضمير ته دا فرع ده د اضافت د اسم ظاهر نه او جهت د لفظ مناسبت لری اضافت کښے اسم ظاهر ته ځکه چه جهت د لفظ کښے دا خو مفرد دی ۔ او مفرد اصل وی په نسبت سره تثنيه او جمع

سره. او اضافت د اسم ظاهر ته اصل دے د اضافت نه ضمیر ته. نو هریو د خپل مناسب مطابق سره مونږ ودکړ له وجه د عدل انصاف نه (فَاعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰی)

داکِلَا او کِلْتَا جاری کیږی د تثنیه په مقام کښے. او اضافت د دے دواړو کیږی ضمیر ته مثال لکه: جَاءَنِیْ کِلَاهُمَا - رَاَیْتُ کِلَیْهِمَا - مَرَرْتُ بِکِلَیْهِمَا. په قرآن پاک کښ هم د دے مثال موجود دے. مثال سورت الاسرٰی کښے راځی - اِمَّا یَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْکِبَرَ اَحَدُهُمَا اَوْکِلَاهُمَا - اَحَدُهُمَا دا فاعل دے. او کِلَاهُمَا دا معطوف علیه دے او الف علامه د رفع ده. او اضافت د دوی شوے دے ضمیر ته چه هُمَا دے په یو قرأت کښے اِمَّا یَبْلُغَانِّ راغلے دے. بیا دا الف پخپله فاعل دے. او اَحَدُهُمَا فاعل د یو پاره د فعل محذوف دے. تقدیر د عبادت دا سے لکه کیږی. اِنْ یَبْلُغْهُ اَحَدُهُمَا اَوْکِلَاهُمَا بیا فائده په دیکښے دا ده چه اَحَدُهُمَا به بدل شی د الف نه هغه الف چه فاعل ده یَبْلُغَانِ کښے دے. مثال د دے چه اضافت وشی اسم ظاهر ته. اعراب د دے به مقدر وی مثال کِلْتَا الْجَنَّتَیْنِ اٰتَتْ اُکُلَهَا - (سورت الکهف آیت ۳۳) کِلْتَا او س دلته مبتدا ده. او اٰتَتْ اُکُلَهَا دا فعل ماضی معلوم دے او دا تاء چه پکښے راغلے ده دا علامه د تأنیث ده او فاعل د دے مستتر دے چه هِیَ دے. اُکُلَهَا دا مضاف الیه مفعول به شو. دلته علامه د رفع په کِلْتَا کښے ضمه ده چه مقدره ده په الف سره نه دغه الف چه کوم نظر کښے راځی. ځکه چه دا مضاف دے اسم ظاهر ته. نو اضافت سره الف قطع کیږی. د دے وجه نه دیکښے الف مقدر دی. دغه قسم ته ملحقات د تثنیه وائی. په اصل کښے کِلَوٌ ؤو. او الف سره بدل شو. او تنوین ترینه حذف شولو له وجه د اضافت نه کِلَا جوړه شوه. کِلْتَا هم دا سے ده. کِلَوٌ ؤو او الف سره بدل شو. الف د تثنیه آخر کښے وی. کِلْتَا جوړ شو.

نهم قسم - د هغه شپارسم اقسام نه اِثْنَانِ اِثْنَتَانِ دے. معنی د دوه سری دوه ښځے. دیته تثنیه حکمی وائی اصلی تثنیه دوی نه دی. رفع ئے په الف سره وی او نصب او جرئے په یاء سره وی. خو شرط دا دے چه ما قبل به مفتوح وی.

خلاصه د سبق دا شوه چه د تثنیه او د کِلَا او کِلْتَا او اِثْنَانِ او اِثْنَتَانِ اعراب لفظی به دی بالحرف به وی. لیکن بعضی احوال به تابع د بعضی وی. بعضی نصب به تابع د

دَجر . په دغه شان سره چه په حالت د رفعی کښې په الف سره راځي او په حالت نصبي او جری کښې په یاء سره راځي چه ماقبل ئې هم مفتوح وی . د اځکه مفتوح وی چه فرق راشی په مابین دَ تثنیه او جمع مذکر سالم کښې ځکه چه ماقبل دَ هغې مکسور دی .

**سوال** :- فرق خو په عکس سره کیدے شی چه تثنیه دَپاره یاء راشی ماقبل مکسور وی جمع مذکر سالم دَپاره یاء سره راشی ماقبل مفتوح وی .

۱- **جواب**:- دا سے نشی کیدے . ځکه چه تثنیه مقدم ده په جمع باندے او فتحه اخف ده . نو تثنیه سابقاً فتحه واخسته نو کسره جمع ته پاتے شوه .

۲- **جواب** :- فتحه اخف الحرکات ده او تثنیه کثیر الاستعمال ده . تقاضی کوی دَ خفت او جمع قلیل الاستعمال لری تقاضی کوی دَ ثقل . او کسره ثقیل ده نسبتاً دَ فتحې نه لحاظ اخف تثنیه ته ورکو . ثقل جمع مذکر سالم ته ورکړلو چه دَ تعدل نه -

## دویم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- **ضابطه** - دَ مثنی سره ملحق پنځه الفاظ دی ځے پکښې مطلق دی دوه پکښې مقید دی هغه دری ځے دا دی : اِثْنَانِ (۲) اِثْنَتَانِ (۳) ثِنْتَانِ - هغه دوه کوم چه دا دی (۱) کِلَا (۲) کِلْتَا - او س فرق دا دے چه اِثْنَانِ دَ مذکر دَپاره راځي . اِثْنَتَانِ مؤنث دَپاره راځي . په لغت دَ حجاز یانو کښې . هرچه ثِنْتَانِ دے دا دَ مذکر او مؤنث دواړو دَپاره راځي . په لغت دَ بنی تمیمو کښې . دا دری ځے وارده مثنی په مقام جاری کیږی دَ اعراب په لحاظ بغیر دَ قید او شرط نه . د یته مثنی ځکه نه وائی چه دوی دَ خپل جنس نه مفرد نه لری . بلکه دا سے نشی ویلای . اِثْنٌ - اِثْنَةٌ - ثِنْتٌ -

۲- **ضابطه** - هرچه هغه دوه الفاظ دی چه کِلَا او کِلْتَا دی دا چه د تثنیه په مقام استعمالیږی . دا هله چه اضافت سره وی ضمیرته نو بیا به دَ تثنیه اعراب چه بالحروف دی دیته ورکړے شی . که اضافت وشی اسم ظاهر ته بیا به اعراب بالحرف وی نه اعراب بالحروف

۳- **ضابطه** - د نعه ئے په الف سره راځي . مثال جَاءَنِیْ کِلَاهُمَا نصب جر په یا سره دی لکه رَأَیْتُ کِلَیْهِمَا - مَرَرْتُ بِکِلَیْهِمَا دغه رنګه کِلْتَا دے .

۴ - **ضابطه** - که دغه کِلَا او کِلْتَا اسم ظاهر ته اضافت وشی بیا به اعراب دَ دوی بالحرکت

وی یو شرط . دوېم شرط تقدیری به وی.

## دریم بحث ذکر دامثالو

جَاءَ رَجُلَانِ   جَاءَ رَجُلَانِ كِلَاهُمَا   رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ   مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ
جَاءَ اِثْنَانِ   رَأَيْتُ اِثْنَيْنِ   مَرَرْتُ بِاِثْنَيْنِ   جَاءَتْ اِثْنَتَانِ
رَأَيْتُ اِثْنَتَيْنِ   مَرَرْتُ بِاِثْنَتَيْنِ   جَاءَ كِلَاهُمَا   رَأَيْتُ كِلَيْهِمَا
مَرَرْتُ بِكِلَيْهِمَا   جَاءَ كِلَا الرَّجُلَيْنِ   رَأَيْتُ كِلَا الرَّجُلَيْنِ   مَرَرْتُ بِكِلَا
الرَّجُلَيْنِ   اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَا اَوْ كِلَاهُمَا دمونث دپاره
كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا   اِذْ اَرْسَلْنَا اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ   قَالُوْا رَبَّنَا اَمَتَّنَا
اثْنَتَيْنِ دا اثنتين مفعول مطلق دے. وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ   وَبَعَثْنَا
مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا - اِثْنَيْ مفعول به د بعثنا دپاره فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ
عَيْنًا   شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ دلته
اِثْنَانِ مرفوع دے بنا بر خبریت د پاره د شهادةُ مبتداء. اِجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ   اِضْرِبْ
لَهُمْ مَثَلَ الرَّجُلَيْنِ   جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ   دَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ
هٰذَانِ سَاحِرَانِ   فِيْهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ   مُدْهَامَّتَانِ   حَضَرَنِيْ
الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا   اِشْتَرَيْتُ اللَّحْمَ بِدِرْهَمَيْنِ   بِعْتُ ثَوْبِيْ بِدِيْنَارَيْنِ
طَعَامُ الْوَاحِدِ يَكْفِيْ اِثْنَيْنِ   اُطْرُدْ هَاتَيْنِ الْكَلْبَتَيْنِ   اَلرَّاشِيْ وَالْمُرْتَشِيْ
كِلَاهُمَا فِي النَّارِ   اَلْبَابَانِ مَفْتُوْحَانِ   يَسْئَلُوْنَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ   جَاءَتْ
مُسْلِمَتَانِ   رَاَيْتُ مُسْلِمَتَيْنِ   مَرَرْتُ بِمُسْلِمَتَيْنِ

## څلورم بحث ذکر د مشق

سوال :- جَاءَ رَجُلَانِ ، جَاءَ رَجُلَانِ كِلَاهُمَا ، رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ ، مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ
دا مذکور معرب دی که مبنی ؟

جواب :- دا معرب دی.

سوال :- اسماء متمکن دی که غیر متمکن ؟

جواب :- اسماء متمکن دی ۔

سوال :- منصرف دی کہ غیر منصرف ؟

جواب :- منصرف دی۔

سوال :- اعراب بالحرکت دی کہ اعراب بالحروف ؟

جواب :- اعراب بالحروف ۔

سوال :- اعراب چا سرہ راغلی دی ؟

جواب :- اعراب پہ الف سرہ او پہ یاء سرہ ۔

سوال :- ټول مستقل دی کہ بعضے تابع د بعضے دی ؟

جواب :- نہ بعضے تابع د بعضے دی ۔ د لته نصب تابع د جر دے ۔ جرئے پہ یاء سرہ دے ۔ ماقبل پہ مفتوح دی

سوال :- الف سرہ کوم یو دے او پہ یاء سرہ کوم یو دے ؟

جواب :- الف سرہ جَاءَ رَجُلَانِ او جَاءَ رَجُلَانِ كِلَاهُمَا دفعےئے پہ الف سرہ دے ۔ او رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ کنے نصب ئے پہ یاء سرہ دے ۔ او مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ کنے جرئے پہ یاء سرہ دے ۔ مابقیہ چہ څومرہ امثال راغلی دغہ شان سوال جواب پکښے ادا کیږی د څومونږ اختصار نہ کار اخلو ۔

سوال :- (۱) جَاءَ اِثْنَانِ (۲) جَاءَتْ اِثْنَتَانِ (۳) جَاءَ كِلَاهُمَا (۴) اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَا اَوْ كِلَاهُمَا (۵) حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ (۶) دَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ (۷) هٰذَانِ سَاحِرَانِ (۸) فِيْهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ (۹) هُمَا مُدْهَامَّتَانِ (۱۰) حَضَرَنِيْ رَجُلَانِ كِلَاهُمَا (۱۱) اَلْبَابَانِ مَفْتُوْحَانِ (۱۲) جَاءَتْ مُسْلِمَتَانِ

(۱) مذکور (۱۲) جملے معرب دی کہ مبنی ؟

جواب :- معرب دی۔

سوال :- آسماء متمکن دی کہ غیر متمکن ؟

جواب :- متمکن دی ۔

سوال :- منصرف دی کہ غیر منصرف ؟

جواب :- منصرف دی ۔

سوال :- اعراب ئے بالحروف دی که بالحرکت ؟

جواب :- اعراب بالحروف دی.

سوال :- مرفوع دی که منصوب که مجرور ؟

جواب :- مرفوع دی خو رفعه ئے په الف سره راغلی دے. بعضے کښے فاعل واقع شوی دی بعضے کښے خبر واقع شوید ے. بعضے کښے مبتداء واقع شویدے نو فاعل هم مرفوع مبتداء هم مرفوع او خبر هم مرفوع محله دلته هم رفعه ئے په الف سره راغے

سوال :- (۱) رَاَيْتُ رَجُلَيْنِ (۲) رَاَيْتُ اِثْنَيْنِ (۳) رَاَيْتُ اِثْنَتَيْنِ (۴) رَاَيْتُ كِلَيْهِمَا (۵) اِذْ اَرْسَلْنَا اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ (۶) قَالُوْا رَبَّنَا اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ (۷) وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ (۸) وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اِثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا (۹) اِضْرِبْ لَهُمْ مَثَلَ الرَّجُلَيْنِ (۱۰) جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ (۱۱) اِشْتَرَيْتُ اللَّحْمَ بِدِرْهَمَيْنِ (۱۲) بِعْتُ ثَوْبِيْ بِدِيْنَارَيْنِ (۱۳) يَكْفِيْ اِثْنَيْنِ (۱۴) اُطْرُرْ هَاتَيْنِ الْكَلِمَتَيْنِ دا څوارلس جملے څه واقع شویدی په مذکوره سوالاتو کښے ؟

جواب :- معرب دی. بیا متمکن دی. بیا منصرف دی. بیا اعراب بالحرف دی. بیا نصب ئے په یاء سره راغلی دے. بعضے مؤنث دی. بعضے مذکر. بعضے کلا اضافت شویدے ضمیر ته. دا جواب له وجه دَ اختصار نه موږ کار اخستے دے.

سوال :- (۱) مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ (۲) مَرَرْتُ بِاِثْنَيْنِ (۳) مَرَرْتُ بِاِثْنَتَيْنِ (۴) مَرَرْتُ بِكِلَيْهِمَا (۵) مَرَرْتُ بِمُسْلِمَتَيْنِ - دا مذکوره پنځه جملے څه واقع شویدی په دغه سوالاتو کښے ؟

جواب :- معرب دی. بیا اسماء متمکن دی. بیا منصرف دی. بیا اعراب بالحروف دی. بیا جر ئے په یاء سره دی ماقبل مفتوح دی.

سوال :- (۱) جَاءَ كِلَا الرَّجُلَيْنِ (۲) رَاَيْتُ كِلَا الرَّجُلَيْنِ (۳) مَرَرْتُ بِكِلَا الرَّجُلَيْنِ (۴) كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا - دا څلور مذکوره جملے څه واقع شویدی ؟

جواب :- دا هم معرب دی.

سوال :- بیا اسماء متمکن دی که غیر متمکن ؟

جواب :- متمکن دی.

سوال :- بیا منصرف دی که غیر منصرف ؟

جواب :- منصرف دی

سوال :- اعراب بالحرف دی که بالحرکت ؟

جواب :- بالحرف۔

سوال :- لفظی دی که تقدیری ؟

جواب :- تقدیری دی۔

سوال :- داولے تقدیری دی۔ نورے لفظی دی۔ اودوئ تقدیری دی

جواب :- دا دضابطے په مطابق تقدیری دی۔

سوال :- دیکښے څه ضابطه ده ؟

جواب :- کِلَا او کِلْتَا کښے دا شرط دے چه دَدے په اضافت ضمیر ته کیږی. او کله چه دَدے اضافت اسم ظاهر ته وشی. بیا په اعراب دَدے تقدیری وی خو اعراب بالحرف به دی. دلته اوس په تولو کښے الف مقدر دے. توجه اوکړی ضابطے او تحقیقاتو ته کامر آنفًا

## پنځم بحث په ترکیب کښے

جَاءَ رَجُلَانِ - جَاءَ فعل ماضی معلوم رَجُلَانِ ورته فاعل دفعے په الف سره فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه۔

جَاءَ رَجُلَانِ کِلَاهُمَا - جَاءَ فعل رَجُلَانِ مؤکد کِلَا مضاف هُمَا مضاف الیه مضاف مع المضاف الیه تاکید شو دپاره دمؤکد. مؤکد مع التاکید فاعل شو دپاره دفعل فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه۔

رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ - رَأَيْتُ فعل فاعل رَجُلَيْنِ ورته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه۔

مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ - مَرَرْتُ فعل فاعل با حرف جر رَجُلَيْنِ مجرور. جار مع المجرور ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل پورے چه مَرَرْتُ دے. فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعلیه خبریه۔

جَاءَ اِثْنَانِ - جاءَ فعل اثنان ورته فاعل. فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه۔

جَاءَ کِلَاهُمَا - جَاءَ فعل کِلَا مضاف هُمَا ضمیر مضافٌ الیہ . مضاف مع المضافٌ الیہ فاعل شو دَ پارہ دَجاء . فعل مع الفاعل جملہ فعلیہ خبریہ .
یَبْلُغَنَّ دَ پارہ اَحَدُ هُمَا دے تہ فاعل واقع شوے دے . او کِلَاهُمَا دے تہ معطوف علیہ دَے
دَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَیَانِ - دا فَتَیَانِ فاعل دے دَخَلَ فعل دَ پارہ . اَلسِّجْنَ مفعول بہٖ دَے
ما بقیہ څومرہ امثال چہ موجود دی تول ترکیب آسان دے اِنْ شَاءَ اللّٰہُ تَعَالٰی -
دَ متن ترکیب لږ شان کوو -
جَاءَ فعل رَجُلَانِ فاعل معطوفٌ علیہ کِلَا مضاف هُمَا دے تہ مضافٌ الیہ مضاف مع المضافٌ الیہ معطوف اول اِثْنَانِ معطوف ثانی . معطوفٌ علیہ مع المعطوفَیْن فاعل شو دَ پارہ دَجَاءَ . جَاءَ فعل مع الفاعل جملہ فعلیہ خبریہ .
دَ رَأَیْتُ رَجُلَیْنِ وَکِلَیْهِمَا وَ اِثْنَیْنِ - رَأَیْتُ فعل فاعل رَجُلَیْنِ معطوفٌ علیہ کِلَیْهِمَا معطوف اول وَ حرف عطف اِثْنَیْنِ ے معطوف ثانی . معطوفٌ علیہ مع المعطوفَیْنِ مفعول بہٖ شو دَ پارہ دَ رَأَیْتُ . فعل مع الفاعل مع المفعول بہ جملہ فعلیہ خبریہ -
مَرَرْتُ بِرَجُلَیْنِ وَکِلَیْهِمَا وَ اِثْنَیْنِ . مَرَرْتُ فعل فاعل بِرَجُلَیْنِ بَاء حرف جر رَجُلَیْنِ معطوفٌ علیہ کِلَیْهِمَا معطوف اول اِثْنَیْنِ معطوف ثانی . معطوف علیہ مع المعطوفَیْنِ دا ظرف لغو تعلق نیسی تہ مَرَرْتُ پورے . فعل مع الفاعل مع المتعلق جملہ فعلیہ خبریہ شوہ .

تمت بالخیر - فی یوم الاربعۃ من شہر رمضان ۲۴/۷/۱۳۸۱ ھ ش

دهم جمع مذکر سالم چوں مُسْلِمُوْنَ یازدهم اُوْلُو دوازدهم عِشْرُوْنَ
تا تِسْعُوْنَ رفع شاں بوا و ماقبل مضموم باشد ونصب وجر بیاء
ماقبل مکسور چوں جَاءَ مُسْلِمُوْنَ و اُوْلُوْ مَالٍ وَعِشْرُوْنَ رَجُلاً
وَرَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ وَ اُوْلِیْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلاً وَمَرَرْتُ
بِمُسْلِمِیْنَ و اُوْلِیْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلاً -

**ترجمه :-** لسّم قسم دَ هغه شپاړسو اقسامونه جمع مذکر سالمه دهٔ لکه مُسْلِمُوْنَ
یوولسّم قسم دَ هغه شپاړسو اقسامونه اُوْلُوْ دے . دولسّم قسم دَ هغه شپاړسو اقسامو نه
عِشْرُوْنَ دے تر تِسْعُوْنَ پورے . دَ دے اعراب بالحروف
دی . رفعه ئے په وَاوْ سره ده ماقبل به مضموم وی . او نصب او جرئے به په یاء
سره وی ماقبل به ئے مکسور دی مثال لکه جَاءَ مُسْلِمُوْنَ چه راغلل مسلمانانَ ۱
چه خاوندانَ دَ مال دی (یعنی مالداران دی) او دوئ شل سری دی . دا په حالت دَ رفع
کښے وو . او س په حالت دَ نصب کښے مثال لکه ما ولیدل مسلمانان خاوندان دَ مال
والا چه دوئ شل سری دی په حالت جر کښے . مثال لکه زهٔ تیر شوم په مسلمانانو
باندے چه هغوئ مالداران دُو . او په شمار کښے شل سری وُو .

## تشریحات

دلته لا بدی ده دَ معرفت دَ اُمور خمسه ؤ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر
دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) د بعضو جملو ترکیب .

**اول بحث په تحقیقاتو کښې** ۱- لسّم قسم دَ هغه شپاړسو قسمونو نه جمع مذکر
سالمه ده . دَ هغے تحقیق په سابق کښے تیر شوید ے . چه دَ دوئ اعراب بالحروف دی
چه هغه وَاوْ دے ماقبل دَ هغے مضموم وی . یعنی جمع مذکر سالمه هغه جمع ده چه دَ
هغے په آخر کښے وَاوْ وی . ماقبل دَ هغے مضموم وی . یا یاء وی ماقبل دَ هغے مکسور وی
او نون یکښے مفتوح وی . مثال لکه مُسْلِمُوْنَ - مُسْلِمِیْنَ - اُوْلُوْ یا عِشْرُوْنَ نه واخله
تر تِسْعُوْنَ پورے . رفعه ئے په وَاوْ سره . نصب او جرئے په یاء سره راځی . مثال لکه
ثَلٰثُوْنَ - اَرْبَعُوْنَ - خَمْسُوْنَ - سِتُّوْنَ - سَبْعُوْنَ - ثَمَانُوْنَ - تِسْعُوْنَ -

**خلاصه دَ سبق** . دلته دری قسمه جمع ذکر شوه (۱) ته جمع حقیقی وائی (۲)
ته ملحق بالجمع وائی (۳) ته مشابه بالجمع وائی - او س اُوْلُوْ دَ ذُوْ دَ پاره جمع ده . ځکه
چه ذُوْ اسم ظاهر ته مضاف کیږی . دغه رنگه دَ اُوْلُوْ هم اضافت اسم ظاهر ته کیږی .
دا جمع ته جمع من غیر لفظه وائی . او عشرون نه تر تسعون پورے جمع نه دی لیکن په
حکم دَ جمع کښے دی . دَ دے وجه دَ دوئ اعراب په شان دَ جمع حقیقی غوندے شو . رفعه ئے

په وَاوْ سره. نصب جر ئے په یاء سره ماقبل دَ وَاوْ مضموم وی. ماقبل دَ یاء مکسور وی نو حاصل دا شو چه جمع مذکر سالم جمع کیږی په دوه طریقو سره. کله په وَاوْ نون سره. کله په یاءِ نون. مثال الزیدون والزیدین. مثال ئے قرآن پاك کښ هم راځی (اِنَّ الْاَرْضَ یَرِثُهَا عِبَادِیَ الصّٰلِحُوْنَ) دوئیم قسم (وَاَنْكِحُوا الْاَیَامٰی مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِیْنَ) اوس دیته عقود ثمانیه وائی. لکه عِشْرُوْنَ نه واخله تر تِسْعُوْنَ پورے. شمار سابق کښے کوری. اوس دغه عِشْرُوْنَ ته جمع حقیقی نه وائی ځکه چه عِشْرُوْنَ اطلاق په ثَلَاثُوْنَ باندے نه کیږی. ځکه چه هره جمع کښے کم د رکم درے افراد وی نو درے لسْ کونه جمع شی هغه ثَلَاثُوْنَ جوړیږی. لیکن هغه ته بیا عِشْرُوْنَ نه وائی مثالونه دَ دوی. جَاءَ مُسْلِمُوْنَ - جَاءَ اُوْلُوْ مَالٍ - جَاءَ عِشْرُوْنَ رَجُلًا - رَاَیْتُ مُسْلِمِیْنَ رَاَیْتُ اُوْلِیْ مَالٍ - رَاَیْتُ عِشْرِیْنَ رَجُلًا - مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ - مَرَرْتُ بِاُوْلِیْ مَالٍ مَرَرْتُ بِعِشْرِیْنَ رَجُلًا عَالِمُوْنَ - اَرْضُوْنَ - سِنُوْنَ - هم دباندے تیاس دی

## دریم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه:- جمع مذکر سالم حقیقی رفع ئے په وَاوْ سره راځی ماقبل دَ هغے مضموم وی. آخیر کښے نون ئے مفتوح وی.

۲- ضابطه:- ملحقات دَ جمع مذکر سالم دی چه هغه اُوْلُوْ دے. رفع ئے په وَاوُ سره. ماقبل ئے مضموم همیشه مضاف وی اسم ظاهر ته. نصب جر ئے په یاء سره ماقبل ئے مکسور وی.

۳- ضابطه:- مشابه دَ جمع مذکر سالم دے چه هغه دَ عِشْرُوْنَ نه واخله تر تِسْعُوْنَ پورے راځی- دیته عقود ثمانیه هم وائی. رفع ئے په وَاوُ سره ماقبل دَ هغے مضموم. نصب او جر ئے په یاء سره. ماقبل ئے مکسور وی. خو دا به همیشه دَ پاره ممیز واقع کیږی مابعد به ورته تمیز وی. ممیز مع تمیز یا به فاعل کیږی یا به مفعول به یا به متعلق- او بل دَ دے پوره تحقیق په سابق کښے تیر شوے دے. ځکه چه اُوْلُوْ مضاف کیږی اضافت کښے. دَ دے قانون موجود دے. عِشْرُوْنَ ممیز کیږی په تمیز کښے دَ دے بحث موجود دے

## دریم بحث ذکر د امثالو

جَاءَ مُسْلِمُوْنَ وَاُولُوْمَالٍ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا ۔ رَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ وَاُولِیْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلًا وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ وَاُولِیْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلًا جَاءَ مُسْلِمُوْنَ جَاءَ اُولُوْمَالٍ جَاءَ عِشْرُوْنَ رَجُلًا رَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ رَأَیْتُ اُولِیْ مَالٍ رَأَیْتُ عِشْرِیْنَ رَجُلًا مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ مَرَرْتُ بِاُولِیْ مَالٍ مَرَرْتُ بِعِشْرِیْنَ رَجُلًا جَاءَنِیْ اُولُوْمَالٍ جَاءَنِیْ عِشْرُوْنَ جَاءَ الزَّیْدُوْنَ رَأَیْتُ الزَّیْدِیْنَ مَرَرْتُ بِالزَّیْدِیْنَ اِنَّ الْاَرْضَ یَرِثُهَا عِبَادِیَ الصّٰلِحُوْنَ اَنْکِحُوا الْاَیَامٰی مِنْکُمْ وَالصّٰلِحِیْنَ وَلَا یَأْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْکُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ یُّؤْتُوْا اُولِی الْقُرْبٰی (سورت النور آیت) اُولُوْ فاعل دَیَأْتَلِ علامه د رفع واو اُولِیْ مفعول بہ دَیُؤْتُوْا ۔ اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ لَذِکْرٰی لِاُولِی الْاَلْبَابِ دا مثال د مجرور للدخل لام اِنَّمَا یَتَذَکَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ اَللّٰهُ وَلِیُّ الْمُؤْمِنِیْنَ اِسْتَغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِیْنَ اُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ لَا تُطِعِ الْکَافِرِیْنَ هُوَ خَیْرُ الْحَاکِمِیْنَ هُمْ اُولُوْ عَقْلٍ مَرَرْتُ بِسَبْعِیْنَ رَجُلًا اَللّٰهُ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ لَا تَتَّبِعْ سَبِیْلَ الْمُفْسِدِیْنَ وَاعَدْنَا مُوْسٰی ثَلٰثِیْنَ لَیْلَةً

## څلورم بحث په مشق کښ

سوال :- جَاءَ مُسْلِمُوْنَ وَاُولُوْمَالٍ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا دا مذکوره جملے معرب دی که مبنی؟

جواب :- معرب دی ۔

سوال :- آسماء متمکن دی که غیر متمکن ؟

جواب :- اسماء متمکن دی ۔

سوال :- منصرف دی که غیر منصرف ؟

جواب :- منصرف دی ۔

سوال :- اعراب بالحروف دی که اعراب بالحرکت ؟

جواب :- اعراب بالحروف دی ۔

سوال :- درے وارو حالاتو کښے اعراب جاری کیږی یا بعضے تابع د بعضے دی ؟
جواب :- بعضے تابع د بعضے دی ځکه چه نصب جر ئے په یاء سره راځی ماقبل ئے مکسور دی
سوال :- د دغه مذکوره جملے اعراب څرنګه راځی ؟
جواب :- د رفعه ئے په واؤ سره ده ماقبل ئے مضموم دے۔
سوال :- (۱) رَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ وَاُوْلِیْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلًا (۲) رَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ (۳) رَأَیْتُ اُوْلِیْ مَالٍ (۴) رَأَیْتُ عِشْرِیْنَ رَجُلًا (۵) رَأَیْتُ الَّذِیْنَ (۶) اَنْکِحُوا الْاَیَامٰی مِنْکُمْ وَالصّٰلِحِیْنَ (۷) اَنْ یُّؤْتُوْا اُولِی الْقُرْبٰی (۸) اَللّٰهُ وَلِیُّ الْمُؤْمِنِیْنَ (۹) اِسْتَغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِیْنَ (۱۰) وَلَا تُطِعِ الْکَافِرِیْنَ (۱۱) اَللّٰهُ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ. دغه مذکوره یوولس جملے معرب دی که مبنی ؟
جواب :- معرب دی.
سوال :- اسماء متمکن دی که غیر متمکن ؟
جواب :- اسماء متمکن دی.
سوال :- منصرف دی که غیر منصرف ؟
جواب :- منصرف دی
سوال :- اعراب ئے بالحرکت دی که بالحروف ؟
جواب :- اعراب ئے بالحروف دی.
سوال :- اعراب ئے بالحروف دی چا سره راغلی دی ؟
جواب :- اعراب بالحروف دی په نصب یاء سره راغلی دی ماقبل د هغے مکسور دی دغه قولو کښے مفعول به واقع شوی دی.
سوال :- (۱) مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ وَاُوْلِیْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلًا (۲) مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ (۳) مَرَرْتُ بِاُوْلِیْ مَالٍ (۴) مَرَرْتُ بِعِشْرِیْنَ رَجُلًا (۵) مَرَرْتُ بِالزَّیْدِیْنَ (۶) وَهُوَ خَیْرُ الْحَاکِمِیْنَ (۷) بِسَبْعِیْنَ رَجُلًا (۸) لَا تَتَّبِعْ سَبِیْلَ الْمُفْسِدِیْنَ (۹) وَاعَدْنَا مُوْسٰی ثَلٰثِیْنَ لَیْلَةً. دا نهه واړه جملے په مذکوره سوالاتو کښے څه واقع شوی دی ؟
جواب :- معرب. بیا اسماء متمکن. بیا منصرف. بیا اعراب بالحروف. بیا جرئے

په یاء سره ماقبل ئے مکسور دی . بعضے کښے مضافٌ الیہ دَوجه جر ئے په یاء سره داغلے دے . او ضابطه هم ورسره موجود ده چه اُولُوْ مضاف مابعد دَھغے مضافٌ الیه . اُولِیْ مضاف مابعد دَھغے مضافٌ الیه یا اُولِیْ مجرور مضاف مابعد دَھغے مضافٌ الیه کیږی یعنے دوارو حالاتو کښے (په رفعی کښے په نصبی کښے په جری کښے) مضاف کیږی . او عِشْرُوْنَ ممیز مابعد دَھغے تمیز عِشْرِیْنَ ممیز مابعد دَھغے تمیز . بِعِشْرِیْنَ ممیز مابعد دَھغے تمیز . دلته هم دریئے دارو حالاتو کښے ( په رفعی کښے په نصبی کښے په جری کښے ) ممیز کیږی -

# پنځم بحث دَبعضے جملو ترکیب

جَاءَ مُسْلِمُوْنَ وَ اُوْلُوْ مَالٍ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا - جَاءَ فعل ماضی معلوم مُسْلِمُوْنَ مَرْفُوْع لفظًا رفعه ئے په وَاوْ سره معطوفٌ علیه وَاوْ حرف عطف اُوْلُوْ مضاف مَالٍ اسم ظاهر مضاف الیه . مضاف مع المضافٌ الیه دا معطوف اول وَاوْ حرف عطف - عِشْرُوْنَ عدد مبهم ممیز رَجُلًا ورته منصوب لفظًا تمیز . ممیز مع تمیز دا معطوف ثانی شو معطوفٌ علیه مع المعطوفین دا فاعل شو دَپاره دَجَاءَ فعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه

رَاَیْتُ مُسْلِمِیْنَ وَ اُوْلِیْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلًا - رَاَیْتُ فعل فاعل . فاعل ئے اَنَا ضمیر مستتر دے . مُسْلِمِیْنَ منصوب لفظًا نصب ئے په یاء سره معطوفٌ علیه . وَاوْ حرف عطف اُوْلِیْ مضاف مَالٍ مضافٌ الیه . مضاف مع المضافٌ الیه دا معطوف اول وَاوْ حرف عطف عِشْرِیْنَ عدد مبهم ممیز رَجُلًا تمیز . ممیز مع تمیز دا معطوف ثانی شو . معطوفٌ علیه مع المعطوفتین نه دا مفعول به شو دَپاره دَرَاَیْتُ . فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه -

رَاَیْتُ بِمُسْلِمِیْنَ وَ اُوْلِیْ مَالٍ وعِشْرِیْنَ رَجُلًا - مَرَرْتُ فعل فاعل - فاعل ئے اَنَا دے چه ضمیر مستتر دے . بَاء حرف جر مُسْلِمِیْنَ مجرور لفظًا جر ئے په یاء سره ماقبل ئے مکسور معطوفٌ علیه . وَاوْ حرف عطف اُوْلِیْ مضاف مَالٍ اسم ظاهر مضاف الیه . مضاف مع المضاف الیه معطوف اول . وَاوْ حرف عطف عِشْرِیْنَ عدد مبهم ممیز رَجُلًا ورته تمیز . ممیز مع تمیز دا معطوف ثانی شو . معطوفٌ علیه مع المعطوفتین نه دا مجرور شو دَپاره دَجار

جار مع المجرور دا ظرف لغو تعلق نیسی تر مَرَرْتُ فعل پورې . فعل مع الفاعل مع المتعلق دا جمله فعلیه خبریه -

رَأَيْتُ مُسْلِمِيْنَ - رَأَيْتُ فعل فاعل مُسْلِمِيْنَ ورته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه -

جَاءَ مُسْلِمُوْنَ - جَاءَ فعل مُسْلِمُوْنَ فاعل . فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه -

رَأَيْتُ أُوْلِيْ مَالٍ - رَأَيْتُ فعل فاعل أُوْلِيْ مضاف مَالٍ مضاف اليه . مضاف مع المضاف اليه مفعول به شو دپاره د رَأَيْتُ فعل . فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه -

رَأَيْتُ عِشْرِيْنَ رَجُلاً - رَأَيْتُ فعل فاعل عِشْرِيْنَ عدد مبهم مميز رَجُلاً تمیز مميز مع تميز دا مفعول به شو دپاره د رَأَيْتُ فعل . فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعليه خبريه -

مَرَرْتُ بِعِشْرِيْنَ رَجُلاً - مَرَرْتُ فعل فاعل با حرف جر عِشْرِيْنَ عدد مبهم مميز رَجُلاً ورته تميز . مميز مع تميز مجرور شو دپاره د جار . جار مع المجرور ظرف لغو تعلق نیسی تر مَرَرْتُ فعل پورې فعل مع الفاعل چه أَنَا ضمير دے مع المتعلق چه بِعِشْرِيْنَ رَجُلاً دے دا جمله فعليه خبريه شوه -

لَا تُطِعِ الْكَافِرِيْنَ - لا حرف نهی تُطِعْ فعل مجزوم أَنْتَ فاعل الْكَافِرِيْنَ ورته مفعول به شو . فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه -

اَللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ - اَللّٰهُ مرفوع لفظًا مبتداء يُحِبُّ فعل ضمير پکښې مستتر دے چه تعبیرئے کیږی په هُوَ سره راجع دے لفظ د الله ته هغه فاعل شو. الْمُحْسِنِيْنَ ورته مفعول به . نصب ئے په یاء سره ماقبل د هغې مکسور دے . فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه دپاره د مبتداء چه لفظ د الله دے . مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه شوه -

ن ما دعزت مکرم اما بقیه ترکیب ستاسو په ذمه دے . طریقه خو آسانه شوه -

په کاتب عبداللطیف احسان عظیم - پاکه رب به اوکړے ته ئے لوئے کریم

سیزدھم اسم مقصور و آں اسمے ست کہ در آخرش الف مقصورہ باشد چوں مُوسیٰ چہاردھم غیر جمع مذکر سالم مضاف بیائے متکلم چوں غلامی رفع شاں بتقدیر ضمہ باشد و نصب بتقدیر فتحہ و جر بتقدیر کسرہ و در لفظ ہمیشہ یکساں باشد چوں جَاءَ مُوسیٰ وَغُلَامِیْ وَرَأَیْتُ مُوسیٰ وَغُلَامِیْ وَمَرَرْتُ بِمُوسیٰ وَغُلَامِیْ ۔

ترجمه ۱- دیارلسم تسم د شپارسو قسمونو د اسم متمکن نه هغه اسم مقصور دے۔ اسم مقصور هغه اسم دے چه په آخیر کښے الف مقصوره وی. مثال لکه مُوسیٰ. حوا

څوارلسم قسم د شپارس قسمونو د اسم متمکن نه هغه اسم دے چه غیر وی د جمع مذکر سالم نه او مضاف وی یاء د متکلم ته. مثال لکه غُلَامِیْ شو. او س د دے اعراب نے دفنی ئی د دے اسم مقصور او د هغه اسم چه غیر وی د جمع مذکر سالم نه او مضاف وی یائی متکلم ته به ضمے تقدیری سره وی. او بعضے په تقدیر د فتحے سره. او جرئے په تقدیر د کسرے سره وی. او په لفظ کښے به ظاهراً یو شان وی. اعراب د دوئ به بالحرکت او بل تقدیری به وی په احوالو ثلاثه ډکښے. مثال لکه. جَاءَ مُوسیٰ وَغُلَامِیْ - رَأَیْتُ مُوسیٰ وغلامی - مَرَرْتُ بِمُوسیٰ وغُلَامِیْ -

## تشریحات

دلته لابدی ده د معرفت د امور خمسه ؤنه (۱) تحقیقات (۲) ذکر د ضوابطو (۳) ذکر د امثالو (۴) ذکر د مشق (۵) د بعضو جملو ترکیب -

**اول بحث تحقیقات:-** اسم مقصور هغه اسم دے چه د هغے آخیر کښے الف مقصوره وی. مثال لکه مُوسیٰ - عِیْسیٰ - حُبْلیٰ وغیره.

څوارلسم قسم د شپارسو قسمونو نه هغه د جمع مذکر سالم نه علاوه داسے اسم وی چه یائی متکلم طرف ته مضاف وی. مثال لکه غُلَامِیْ - کِتَابِیْ - دغه دواړه قسم اسماء متمکن نه هغه اسماء متمکن دی چه اعراب د دوئ تقدیری به وی په درے واړو حالاتو کښے په حالت رفعی کښے ضمه مقدر وی. په حالت نصبی کښے فتحه مقدر وی. په حالت جری کښے

کسرہ مقدر دی ۔ مثال لکہ ۔ جَاءَ مُوْسٰی ۔ رَأَیْتُ مُوْسٰی ۔ مَرَرْتُ بِمُوْسٰی ۔ جَاءَ غُلَامِیْ ۔ رَأَیْتُ غُلَامِیْ ۔ مَرَرْتُ بِغُلَامِیْ ۔ ظاھراً دَ لفظ پہ اعتبار سرہ یوشانتے دی

**سوال** :- پہ اسم مقصور کنبے اعراب ولے مقدر دی پہ احوالو تلاتہ ؤ کنبے ؟

**جواب** :- دَ اسم مقصور پہ آخر کنبے الف داغلے وی او الف ھمیشہ دَپارہ ساکن وی ۔ حُکہ دَ ئ دَ ا دی ملادانی ( الف آں باشد کہ ادا میشود ) بے تکلیف دَ شبے نہ خلاف دَ ھمزے نہ چہ ھغہ مع تکلیف دَ شبے اداکیږی ۔ نو دَدے وجہ نہ دا الف قابل دَ حرکت نہ دے او دویم ھغہ اسم چہ غیر دی دَ جمع مذکر سالم نہ او مضاف وی یائی متکلم تہ نو پہ ھغے کنبے اعراب حُکہ تقدیری دے چہ پہ آخیرہ کنبے دَ ھغے کسرہ بنائی راغلے وی دَ وجہ دَ یائی متکلم نہ ۔ نو لہ دجہ دَ کسرہ بنائی نہ او س منع شو ما بقیہ اعراب ۔ او س دا عامہ خبرہ دہ چہ ھغہ اعراب دَ دوی موافق وی یا دَ دینہ مخالف وی ۔ موافق مثال لکہ کسرہ مخالف ۔ مثال لکہ ضمہ او فتحہ شوہ ۔ او س غُلَامِیْ باندے چہ کسرہ وی دا دَ اضافت دَ یاء دَ دجہ نہ دہ نہ دَ حرف جَرْ دَ دجہ نہ ۔ بلکہ دا صرف دَیاء دَ دجہ نہ دہ ۔

## ذکر دَ ضوابطو

**۱ ۔ ضابطہ** :- ھغہ اسم چہ پہ ھغے کنبے حرکات مقدر کیږی ھغہ درے قسمہ دے (۱) یو ھغہ اسم دے چہ پہ ھغہ کنبے درے وارہ حرکات مقدر کیږی ۔ (۲) دویم ھغہ اسم دے چہ پہ ھغے کنبے دوہ حرکتہ مقدر کیږی (۳) ھغہ اسم دے چہ پہ ھغے کنبے یو حرکت مقدر کیږی ۔

**۲ ۔ ضابطہ** :- او س ھغہ اسم چہ پہ ھغے کنبے درے وارہ حرکات مقدر کیږی ھغہ بیا پہ دوہ قسمہ دے ۔ (۱) یو ھغہ دے چہ اضافت ئے کیږی یائی متکلم تہ لیکن دغہ اسم بہ نہ مثنٰی وی نہ جمع مذکر سالم وی ۔ نہ اسم منقوص وی نہ اسم مقصور ۔ دَ ھغے مثال لکہ غُلَامِیْ ۔ غِلْمَانِیْ ۔ مُسْلِمَانِیْ ۔ دغہ اسم بہ پہ حرکا تو ثلاثہ ؤ کنبے مقدر دی صرف دَیائی نہ ماقبل حرکت دَ یاء موافق وی چہ کسرہ دہ پہ آن واحد کنبے بل حرکت تحمل کو نشی کولے ۔ مثال لکہ جَاءَ غُلَامِیْ علامہ دَ رفع ھغہ دہ چہ مقدر دہ پہ ماقبل دَ یاء باندے ۔ رَأَیْتُ غُلَامِیْ علامہ دَ نصب ھغہ فتحہ مقدرہ دہ ماقبل دَ یاء باندے

وَمَرَرْتُ بِغُلَامِيْ - غلامه دَ جر هغه کسرهٔ ده چه مقدر ده ما قبل دَ یاء با ندے نه دغه کسرهٔ موجود ده. لکه ابن مالکؒ کومان کریدے. یعنی په حالت فاعلیت هم مقدر دی. په حالت مفعولیت کښے هم مقدر دی. په حالت اضافت کښے هم مقدر دی -

۳- ضابطه :- چه مثنٰی به نه دی. جمع مذکر سالم به نه دی. ځکه که مثنٰی وی لکه غُلَامَایَ. که جمع وی لکه غُلَامِیَّ یا مُسْلِمِیَّ نو بیا دغه یاء با ندے جراونصب راځی چه دے مدغم وی په یاء متکلم. الف خو مثنٰی کښے ثابت شوے لفظًا -

۴- ضابطه :- چه اسم منقوص نه دی. ځکه یائی منقوصه مدغم کیږی په یائی متکلم دا هم په شان دَ مثنٰی اوجمع مذکر سالم شو -

۵- ضابطه :- نه به متصور دی ځکه چه متصود ثابتوی الف قبل یاء. الف حرکت نه قبلوی. لکه مثنٰی په رفع کښے. مثال لکه یَا بُشْرٰی هٰذَا غُلَامٌ او س الف کښے نتحه مقدر ده. ځکه چه منادی مضاف ده. بعضے کوفیین وائی یَا بُشْرٰی بغیر دَ اضافت نه بیا مقدر په الف کښے یا به ضمه وی لکه یَا فَتٰی معین دَ پاره. یا فتحه وی لکه یا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ - نو اسم متصود هغه اسم معرب دے چه آخره کښے الف وی مثال لکه جَاءَ الْفَتٰی - رَاَيْتُ الْفَتٰی - مَرَرْتُ بِالْفَتٰی. د لته دریے واړه حالاتو کښے الف ساکن دے. او حرکات پکښے مقدر دی.

۶- ضابطه :- که دوه اسمه اسم منقوص راشی اول به فاعل ثانی به مفعول مثال ضَرَبَ مُوْسٰی وَعِيْسٰی. او که مطعوما تو نه نو بیا که مقدم شی هم معلومیږی مثال اکل الکمری عیسٰی.

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

جَاءَ نِيْ غُلَامِيْ رَاَيْتُ غُلَامِيْ مَرَرْتُ بِغُلَامِيْ جَاءَ الْفَتٰی رَاَيْتُ الْفَتٰی مَرَرْتُ بِالْفَتٰی جَاءَ مُوْسٰی رَاَيْتُ مُوْسٰی مَرَرْتُ بِمُوْسٰی عِيْسٰی رُوْحُ اللهِ هٰذَا صِرَاطِيْ التَّاشِيْ وَالْمُرْتَشِيْ كِلَاهُمَا فِي النَّارِ وَوَعَدْنَا مُوْسٰی قَالَ مُوْسٰی لِفَتٰهُ قَالَ مُوْسٰی لِاَخِيْهِ اِسْمُهٗ يَحْيٰی هٰذَا كِتَابِيْ هُوَ عَبْدِيْ هٰؤُلَاءِ اِخْوَتِيْ هٰذَا اَخِيْ رَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ -

# څلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال ۱:- (۱) جَاءَ غُلَامِیْ (۲) هٰذَا کِتَابِیْ (۳) هُوَ عَبْدِیْ (۴) هٰؤُلَاءِ اِخْوَتِیْ (۵) هٰذَا اَخِیْ (۶) رَحْمَتِیْ وَسِعَتْ کُلَّ شَیْءٍ۔ دا شپږ واړه جملے معرب دی که مبنی؟

جواب ۱:- دا شپږ واړه جملے معرب دی۔

سوال :- اسماء متمکن دی که غیر متمکن؟

جواب :- اسماء متمکن دی۔

سوال :- منصرف دی که غیر منصرف؟

جواب :- منصرف دی۔

سوال ۱:- اعراب بالحرکت لری که اعراب بالحروف؟

جواب ۱:- اعراب بالحرکت۔

سوال :- اعراب تقدیری لری که لفظی؟

جواب :- تقدیری۔

سوال :- درے واړه حالاتو کښے مقدر دی که بعضے حالاتو کښے؟

جواب :- درے واړه حالاتو کښے مقدر دی۔

سوال :- داولے مقدر دی؟

جواب :- دا خو هغه اسماء دی چه څوارلسم قسم کښے راغلی چه اسم به دی غیر به دی دَ جمع مذکر سالم نه او مضاف به وی یا ئی متکلم ته۔

سوال :- هر کله چه مضاف وی یائی متکلم ته بیا اعراب ولے دربانلے نه راځی؟

جواب :- دَ دوه یے ضابطے دا تقاضا ده چه هغے بانلے اعراب جاری نشی ځکه چه یائی متکلم ساکن وی ماقبل دَ هغے کسره لازمی وی په آن واحد کښے صرف یو حرکت راځی۔ بل حرکت پکښے نشی راتلے۔ دَ دے وجه نه دا اسم مقصور په ترکیب کښے فاعل واقع شی۔ هم مقدر وی که مفعول واقع شی۔ هم مقدر دی که اضافت دربانلے راشی هم مقدر وی که خبر واقع شی هم مقدر دی که مبتداء واقع شی هم مقدر وی تکه مثال مذکور کښے چه په سوال کښے واقع شویدے۔

سوال :- (۱) جَاءَ الْفَتٰى (۲) رَاَیْتُ الْفَتٰى (۳) مَرَرْتُ بِالْفَتٰى (۴) جَاءَ مُوْسٰى (۵) رَاَیْتُ مُوْسٰى (۶) مَرَرْتُ بِمُوْسٰى (۷) عِیْسٰى رُوْحُ اللّٰهِ (۸) قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰهُ (۹) قَالَ مُوْسٰى لِاَخِیْهِ (۱۰) اِسْمُهٗ یَحْیٰى (۱۱) ضَرَبَ مُوْسٰى عِیْسٰى (۱۲) اَكَلَ الْكُمَّثْرٰى عِیْسٰى - دا دولسً جملے څه واقع شویدی ؟

جواب :- معرب -

سوال :- آسماء متمکن دی که غیر متمکن ؟

جواب :- اسماء متمکن .

سوال :- منصرف دی که غیر منصرف ؟

جواب :- منصرف دی .

سوال :- اعراب بالحرکت لری که اعراب بالحروف ؟

جواب :- اعراب بالحرکت لری .

سوال :- اعراب لفظی لری که تقدیری ؟

جواب :- تقدیری

سوال :- دریٔے واړه حالاتو کښے تقدیری دی که بعضے حالاتو کښے ؟

جواب :- دریٔے واړه حالاتو کښے به مقدر وی .

سوال :- دا مقدر به ولے وی ؟

جواب :- دوجه د الف مقصوره نه . ځکه چه الف مقصوره باندے اعراب نه جاری کیږی . ځکه چه دا همیشه ساکن دی . تحمل د حرکت نشی کولے . که په ترکیب د ے فاعل واقع شی یا مفعول یا مضاف الیه یا مبتداء یا خبر په ټولو حالاتو کښے دیکښے اعراب مقدر دی رفع ئے په ضمے سره . نصب ئے په فتحے سره . جر ئے په کسرے سره -

## پنځم بحث د بعضو جملو ترکیب

جَاءَ مُوْسٰى - جَاءَ فعل مُوْسٰى ورته فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه شوه

جَاءَ غُلَامِیْ - جَاءَ فعل غلام مضاف یائی ضمیر متکلم مضاف الیه . مضاف مع المضاف الیه فاعل شو د پاره د جَاءَ فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه -

رَأَيْتُ غُلَامِيْ - رَأَيْتُ فعل فاعل غُلَامِ مضاف یائی ضمیر متکلم مضافٌ الیہ . مضاف مع المضافُ الیہ مفعول بہ شو. فعل مع الفاعل مع المفعول بہ جملہ فعلیہ خبریہ -
مَرَرْتُ بِغُلَامِيْ - مَرَرْتُ فعل کا حرف جَرُ غُلَامِ مجرور مضاف یائی متکلم ضمیر مضافٌ الیہ - مضاف مع المضافُ الیہ مجرور شو دَ پارہ دَ جار . جار مع المجرور متعلق شو تہ فعل پورے . فعل مع الفاعل مع المتعلق دا جملہ فعلیہ خبریہ شوہ -
ما بقیہ ترکیب پہ دے قیاس کرئی -

پانزدہم اسم منقوص وآں اسمیست کہ در آخرش یائے ماقبل مکسور باشد چوں القاضی رفعش بتقدیر ضمہ باشد و نصبش بفتحہ لفظی و جرش بتقدیر کسرہ چوں جَاءَ الْقَاضِيْ وَرَأَيْتُ الْقَاضِيَ وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ
شانزدہم جمع مذکر سالم مضاف بیائے متکلم چوں مُسْلِمِيَّ رفعش بتقدیر واو باشد و نصب و جرش بیائے ماقبل مکسور چوں هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِيَّ کہ دراصل مُسْلِمُوْنَ بود نون باضافت ساقط شد، واؤ و یا جمع شدہ بودند و سابق ساکن بود واؤ را بیا بدل کردند و یا را در یا ادغام کردند مسلمیّ شد ضمہ میم را بکسرہ بدل کردند وَرَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ -

ترجمہ :- پنځلسم قسم دَ شپاړسو قسمونو دَ اسم متمکن نہ هغہ اسم منقوص دے . او دا اسم منقوص هغہ اسم دے چہ پہ آخیر دَ هغے کښے یاء وی او ما قبل دَ هغے نہ مکسور وی . مثال لکہ قَاضِيْ شو . رفعہ ئے پہ تقدیر دَ ضمے سرہ وی او نصب ئے پہ فتحے لفظی سرہ وی . او جَرْ بہ ئے پہ تقدیر کسرے سرہ وی . مثال لکہ جَاءَ الْقَاضِيْ - رَأَيْتُ الْقَاضِيَ - مَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ
شپاړسم قسم دَ اسم متمکن نہ هغہ جمع مذکرہ سالمہ دہ چہ مضاف وی یائی متکلم تہ لکہ مُسْلِمِيَّ شو . رفع ئے دَ دے بہ پہ تقدیر دَ واؤ سرہ وی او نصب او جر بہ پہ یاء سرہ چہ ما قبل دَ هغے بہ مکسور وی . مثال لکہ هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِيَّ دا مسلمانان زما دی دغہ مُسْلِمِيَّ صیغہ پہ اصل کښے مُسْلِمُوْنَ وو . نون لہ وجہ دَ اضافت نہ ساقط شو . بیا واو او یاء جمع شو

اول ساکن ثانی متحرك ؤو. بیا واؤ بدل شو په یاء سره بیا دوه یا یَیْنِ جمع شو. اول ساکن ثانی متحرك. اول ئے په ثانی کښے مدغم کړو نو مُسْلِمِيَّ شو. بیا ضمه دَ میم ئے په کسره سره بدل کړه دَ یاء دَ مناسبت دَ یاء نو مُسْلِمِيَّ شو. دادُو په حالت دفعی کښے مثال دَ حالت نصبی رَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ. مثال دَ حالت جری مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ۔

## تشریحات

دلته لا بدی ده دَ معرفت دَ امور خمسه ؤ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) دَ بعضو جملو ترکیب۔

**اول بحث دَ تحقیقاتو**۔ یعنی بِحُلم قسم دَ شپاړسو قسمونو دَ اسماء متمکن نه هغه اسم منقوص دے. او دس اسم منقوص په لغت کښے - منقوص په لغت کښے دَ نقص نه دَ نقص معنیٰ ده (کم) نو منقوص صیغه دَ اسم مفعول ده. معنیٰ کم کړے شوے. نو اسم منقوص ته ځکه اسم منقوص وائی چه دَ یکښے هم کمے کیږی بعضے اوقاتو کښے. مثال لکه قاضِیْ شو چه دَ آخر نه ئے یاء حذف کړے شوه. او کله کله صِرف حرکت ور نه حذف. مثال لکه جَاءَ الْقَاضِیْ شو. نو اصطلاحی معنیٰ خو مَا تن ؒ بخپله کړے ده حاجت دَ تکرار نشته. دَ اعراب په لحاظ سره دے دے شرطه لری (اول شرط) اعراب بالحرکت وی. (۲) شرط- اعراب به تقدیری وی په حالت رفعی جری کښے (دویم شرط) اعراب به لفظی وی په حالت نصبی کښے۔

**سوال** :- اعراب دَ اسم منقوص په حالت رفعی جری کښے تقدیری ولے وی او په نصبی حالت کښے لفظی ولے وی۔

**جواب** :- په حالت رفعی او جری کښے تقدیری. ځکه چه په حالت رفعی کښے ضمه وی او په حالت جری کښے کسره وی. ضمه او کسره دواړه ثقیل دی په یاء بانندے. دَ دے وجه نه اعراب دَ دے تقدیری شو په دواړو حالانو کښے خلاف دَ فتحه نه ځکه چه فتحه اَخَفُّ الحرکات ده. نو یاء تحمل کولے شی ځکه په حالت نصبی کښے لفظی مثال به دا بنائی په حالت دَ رفع کښے لکه جَاءَ الْقَاضِیْ ضمه پکښے مقدر شوه. رَأَيْتُ الْقَاضِیَ نصب لفظاً ذکر شو. مَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ کسره مقدر شوه۔

شپاړسم قسم - دَغه شپاړسو قسمونو دَ اسماء متمکن نه هغه جمع مذکر سالم دَه.
چه مضاف وی یاءِ متکلم ته . مثال لکه مُسْلِمِیَّ شو . دَ اعراب په لحاظ سره خلور شرطه
(۱) شرط اعراب بالحرف لری (۲) دفع دَه په تقدیر دَ واؤ سره وی (دریم شرط) نصب
او جرئے یاء سره وی چه ماقبل دَهغے به مکسور وی (خلورم شرط) بعضے احوال به تابع
دَ بعضے وی . تفصیل یعنی حالت نصبی به تابع وی دَحالت جری دَپاره .
**سوال** :- ولے جمع مذکر سالم صیغه چه کله مضاف شی یاءِ متکلم ته دفع دَئے
په دَ واؤ مقدر سره وی . او نصب جرّ دَه په یاءِ لفظی سره وی .
**جواب** :- حالت رفعی کښے ځکه مقدر دَه چه په حالت رفعی کښه اعلال شوئے
دَ واؤ بدل شوے دے یاء سره . بیا په یاء کښے مدغم شوے دے اعلال شیٔ خپل حقیقت
نه خارج کوی . نو واؤ باقی پاتی نشو . ځکه دَ واؤ مقدر وی هرځه په حالت نصبی او جری
کښے صرف ادغام شوے وی . ادغام شیٔ خپل حقیقت نه نه خارج کوی . یا په خپل
حالت کښے پاتے لفظاً . مثال لکه هُؤُلاءِ مُسْلِمِیَّ معنیٰ دا مسلمانان زما دی . (ربیه)
مُسْلِمِیَّ په اصل کښے مُسْلِمُوْنَ دَه . دَغه نو دَجمع مذکر سالم لوجه دَاضافت نه
یاءِ متکلم ته حذف شو نو مُسْلِمُوْیَ شو . اوس دَ واؤ او یاء یوځائے جمع شو دَ واؤ
یاء کړے شو نو مُسْلِمِییَ شو . بیا دوه حرفه دَ یو جنس نه راغلل یو بل کښے
مدغم شو لوجه دَ قانون دَ ردّ ادی نه . نو مُسْلِمِیَّ شو . بیا ضمه دَ میم بدل شوه
کسره سره . له وجه دَ مناسبت دَ یاء نه بیا مُسْلِمِیَّ شو په حالت رفعی کښه دَ رَأَیْتُ مُسْلِمِیَّ
شو په حالت نصبی کښے . مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیَّ شو په حالت جری کښے . دلته دا اعلال په
شان دَ مَرْمِیٌّ غوندے دے په حالت نصبی او جری کښے . دَدے اصل دا دے رَأَیْتُ
مُسْلِمِیْنَ . بیا یاءِ متکلم ته چه اضافت شو نون ساقط شو . یاء په یاء کښے مدغم شو .

## دویم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- **ضابطه** :- په کل اعراب کښے دا دَه چه اعراب په درے قسمه سره دی :
(۱) اعراب بالحرکت (۲) اعراب بالحروف که اعراب بالحرکت وی (۳) اعراب
۲- **ضابطه** :- اعراب بالحرکت کښے دا دی چه یا به درے واړه احوالو کښے لفظی

(۲) بعضے احوالوکښے تقدیری وی او بعضے احوالوکښے لفظی وی - (۳) په درے وارو - احوالوکښے تقدیری وی.

**۳- ضابطه** :- اعراب بالحرکت کښے په اعتبار دَ تابع سره دے. اعراب بالحرکت دوه قسمه سره دے (۱) هغه دے چه بعضے احوال تابع دَ بعضے نه وی (۲) قسم هغه دے چه بعضے احوال تابع دَ بعضے وی -

**۴- ضابطه** :- اعراب بالحرف داهم په دوه قسمه سره دے (۱) قسم اعراب بالحرف لفظی وی په درے وارو حالتو کښے (دویم قسم) هغه دے چه بعضے احوالو کښے لفظی وی بعضے احوالوکښے تقدیری وی -

**۵- ضابطه** :- اعراب بالحرف په اعتبار دَ تابع سره هم دوه قسمه سره دی. (اول قسم) هغه دی چه بعضے تابع دَ بعضے نه وی (دویم قسم) هغه دی چه بعضے احوال تابع دَ بعضے وی.

نو او س ضابطه دَ اسم منقوص دادہ چه اسم منقوص درے ضابطے لری.

**۱- ضابطه** :- دَدے اعراب به اعراب بالحرکت وی. اعراب بالحرف به نه وی.

**۲- ضابطه** :- په حالت رفعی او جری کښے به اعراب مقدر وی

**۳- ضابطه** :- په حالت نصبی کښے به اعراب لفظی وی - وجه دَدے تحقیقا تو کښے نظر اوکړئ ضابطه دَ جمع مذکر سالم چه مضاف وی یائی متکلم ته (۱) ضابطه اعراب بالحرف وی (۲) ضابطه په حالت رفعی کښے وَاوُ مقدر وی (۳) ضابطه په حالت نصبی او جری کښے په یائی لفظی سره وی. (۴) ضابطه - حالت نصبی به تابع دَ حالت جری وی. دَدے وجه تحقیقا تو کښے کوری

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

جَاءَ الْقَاضِیْ رَاَیْتُ الْقَاضِیَ مَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ - که الف لام ورباندے رانشی بیا دغه شان سره به ویل کیږی. جَآءَ قَاضٍ رَاَیْتُ قَاضِیًا مَرَرْتُ بِقَاضٍ - جَاءَ مُسْلِمِیَّ رَاَیْتُ مُسْلِمِیَّ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیَّ جَاءَنِیْ مُسْلِمِیَّ هٰؤُلَآءِ مُسْلِمِیَّ فَلْيَدْعُ نَادِيَهٗ اُجِيْبُوْا دَاعِیَ اللّٰهِ وَاِنِّیْ خِفْتُ الْمَوَالِیَ وَاِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِیَ

کله کله ضمه فتحه مقدر کیږی. دا به فعل المعتل وی په الف سره به وی. مثال هُوَ يَخْشٰی

لَنْ یَخْشٰی مثال دَجزم په حذف سره لکه لَمْ یَخْشَ. وَلَا تَنْسَ نَصِیْبَكَ مِنَ الدُّنْیَا
جَاءَ مُسْلِمُوْنَ رَاَیْتُ مُسْلِمِیْنَ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ اِقْضِ مَا اَنْتَ قَاضٍ
اَلَّذِیْ اللّٰهُ لَقِیْتُ مُکْرِمِیْ هُوَ رَاضٍ عَنْكَ جَاءَهُ الْاَعْمٰی اَلْمَعَاصِیْ
مُهْلِکَةٌ مَاْوَی الْکَافِرِیْنَ جَهَنَّمُ عُقْبَی الْکَافِرِیْنَ النَّارُ ضَاقَ صَدْرِیْ

## څلورم بحث ذکر دمشق

سوال ـ جَاءَ الْقَاضِیْ رَاَیْتُ الْقَاضِیَ مَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ دامعرب دے که مبنی ؟

جواب :- دا معرب دے.

سوال :- دا مذکورہ اسماء متمکن دی که غیر متمکن ؟

جواب :- اسماء متمکن دی.

سوال :- منصرف دی که غیر منصرف ؟

جواب :- منصرف دی.

سوال :- اعراب بالحرف دی که اعراب بالحرکت ؟

جواب :- اعراب بالحرکت

سوال :- اعراب لفظی دی که تقدیری ؟

جواب :- اعراب تقدیری هم لري اعراب لفظی هم لري .

سوال :- اعراب لفظی په کوم حالت کښې دی او اعراب تقدیری په کوم حالت کښې دی ؟

جواب :- اعراب تقدیری په حالت رفعی اوجری کښې - اعراب لفظی په حالت نصبی کښې

سوال :- دا دے دکوم ځاے نه معلومه کړه ؟

جواب :- او د دویمے او دریمے ضابطے د اسم منقوص نه .

سوال :- جَاءَ قَاضٍ ، رَاَیْتُ قَاضِیًا ، مَرَرْتُ بِقَاضٍ دا مذکورہ سوالات کښې څه واقع شوی دی ؟

جواب :- دا معرب دی. بیا اسماء متمکن دی. بیا منصرف دی. بیا اعراب بالحرکت دی
بیا اعراب بالحرکت لفظی تقدیری دی دارنګه ئې په حالت رفعی اوجری کښې مقدر دی. لکه یاء

تحمل دَکسرهٔ اوضمه نشی کولے خلاف دَفتحه نه حُکه هغه اخفُ الحرکات دهٔ - داخبرهٔ دَاسم منقوصه دَ دوٙیمے اودرٙیمے ضابطے نه خرګنده یږی . توجه اوکړئ ضابطے ته .

**سوال** :- دغه دواړو قسمه امثالوکنے فرق څه شے دے چه ماتحت امثالوکښ تنوین شته مافوق امثالوکنے تنوین نشته ؟

**جواب** :- داخبرهٔ معلومیږی دَ ذکر دَ الف لام نه . حُکه الف لام دلالت کوی په اتصال باندے . او تنوین دلالت کوی په انقطاع باندے .

**سوال** :- جَاءَ مُسْلِمِیَّ ، رَاَیْتُ مُسْلِمِیَّ ، مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیَّ ، جَاءَ فِیْ مُسْلِمِیَّ هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِیَّ داپنځهٔ جملے څه واقع شویدی ؟

**جواب** :- معرب دی .

**سوال** :- اسم متمکن دی که غیر متمکن ؟

**جواب** :- اسم متمکن .

**سوال** :- منصرف دی که غیر منصرف ؟

**جواب** :- منصرف

**سوال** :- اعراب بالحرکت لری که اعراب بالحرف ؟

**جواب** :- اعراب بالحرف .

**سوال** :- لفظی اعراب که تقدیری ؟

**جواب** :- په حالت د رفعی کنے دَاؤ مقدر دی . په حالت نصبی اوجری کنے په لفظ دَیاؤسرهٔ دی لفظاً .

**سوال** :- دمبے دواړو حالاتو کنے مستقل دی که بعضے تابع وی ؟

**جواب** :- نصب تابع دَجر دی . لکه داخبرهٔ دَجمع مذکر سالم چه مضاف شی یائی متکلم ته دَ حذف دَپارهٔ غلور ضابطے دی . داڅلورے ضابطے نه معلومیږی .

مابقیه چه څومرهٔ امثال ذکر دی پخپله ئې سوچ اوکړئ اِنْشَاءَ اللّٰهُ العزیز مسئله حل کیږی . فَلْیَنْعُ نَادِیَه نه اِلیٰ - اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِیَ پورے لفظاً نصب په فتحه سرهٔ ذکر دے . الله پاک دِ دے ستاسو مطالعه جاری کړی (آمین ثُمَّ آمین) الفامرَّةِ

# پنځم بحث د بعضے جملو ترکیب

جَاءَ الْقَاضِیْ ـ جَاءَ فعل اَلْقَاضِیْ مرفوع تقدیراً دے ته فاعل شو. فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه شوه.

رَاَیْتُ الْقَاضِیَ ـ رَاَیْتُ فعل فاعل اَلْقَاضِیَ منصوب لفظاً دے ته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه شوه.

مَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ ـ مَرَرْتُ فعل فاعل با حرف جر اَلْقَاضِیْ مجرور تقدیراً جار مع المجرور ظرف لغو تعلق نیسی تر مَرَرْتُ فعل پورے. فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعلیه خبریه.

جَاءَ قَاضٍ ـ جَاءَ فعل قاضٍ په حذف د یاء سره را تلل د تنوین سره دا فاعل شو د پاره د جَاءَ فعل مع الفاعل چه قاضٍ دے دا جمله فعلیه خبریه شوه.

رَاَیْتُ قَاضِیًا ـ رَاَیْتُ فعل فاعل قَاضِیًا نصب لفظی مفعول به شو د پاره د رَاَیْتُ رَاَیْتُ فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه شوه.

مَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ ـ مَرَرْتُ فعل فاعل با حرف جر قاضٍ مجرور. جار مع المجرور متعلق شو تر مَرَرْتُ فعل پورے. فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعلیه خبریه.

جَاءَ مُسْلِمِیَّ ـ جَاءَ فعل مُسْلِمِیَّ دے ته فاعل شو. فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه شوه

هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِیَّ ـ هٰؤُلَاءِ مبتداء مُسْلِمِیَّ دے ته خبر واقع شو. مبتداء مع الخبر دا جمله فعلیه خبریه.

مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیَّ ـ مَرَرْتُ فعل فاعل با حرف جر مُسْلِمِیَّ دے ته مجرور دے. جار مع المجرور تعلق نے شو تر مَرَرْتُ فعل پورے. فعل مع الفاعل مع المتعلق جمله فعلیه خبریه شوه

رَاَیْتُ قَاضِیًا ـ رَاَیْتُ فعل فاعل قَاضِیًا منصوب لفظاً مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه.

هُوَ یَخْشٰی ـ هُوَ ضمیر مرفوع منفصل مبتداء یَخْشٰی فعل مضارع ضمیر پکښے مستتر تعبیر نے کیږی په هُوَ سره راجع دے ماقبل ته دا فاعل شو د پاره د یَخْشٰی. فعل مع الفاعل دا جمله خبر شو د پاره د مبتداء. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه.

جَاءَ مُسْلِمُوْنَ - جَاءَ فعل مُسْلِمُوْنَ ورته فاعل. فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه شوه
رَاَیْتُ مُسْلِمِیْنَ - رَاَیْتُ فعل فاعل مُسْلِمِیْنَ ورته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به جمله فعلیه خبریه -
جَاءَهُ الْاَعْمٰی - جَاءَ فعل هٔ ضمیر مفعول به مقدم راجع دے حضورﷺ ته اَلْاَعْمٰی ورته فاعل شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه.
مابقیه ترکیب اوکړئ ښه په غور او فکر سره - یوم الجمعه من شهر رمضان عدد صیام تسعة

فصل بدانکه اعراب مضارع سه است رفع و نصب وجزم فعل مضارع باعتبار وجوه اعراب بر چهار قسم است اول صحیح مجرد از ضمیر بارز مرفوع برائے تثنیه وجمع مذکر وبرائے واحد مؤنث مخاطبه رفعش بضمه باشد ونصب بفتحه وجزم بسکون چوں هُوَ یَضْرِبُ وَلَنْ یَضْرِبَ وَلَمْ یَضْرِبْ دوم مفرد معتل واوی چوں یَغْزُوْ ویائی چوں یَرْمِیْ رفعش بتقدیر ضمه باشد ونصب بفتحه لفظی وجزم بحذف لام چوں هُوَ یَغْزُوْ وَیَرْمِیْ وَلَنْ یَغْزُوَ وَلَنْ یَرْمِیَ وَلَمْ یَغْزُ وَلَمْ یَرْمِ

سوم مفرد معتل الفی چوں یَرْضٰی رفعش بتقدیر ضمه باشد ونصب بتقدیر فتحه وجزم بحذف لام چوں هُوَ یَرْضٰی وَلَنْ یَرْضٰی وَلَمْ یَرْضَ

ترجمه - دا فصل ثابت دے په بیان دَ اعراب دَ فعل کښے نو دے ویل (فَصْلٌ) پوهه شه اے طالبه اعراب دَ مضارع درے دی (رفع . نصب . جزم) فعل مضارع په اعتبار دَ وجوه دَ اعراب سره څلور قسمه دے (۱) قسم دَ هغه څلورو قسمونو نه هغه مفرد صحیح چه مجرد وی دَ ضمیر بارز د مرفوع نه چه هغه دَ پاره دَ تثنیه او دَ جمع مذکر او دَ واحد مؤنث مخاطبه دَ پاره وی. نو بیا اعراب دَ دے دفع دَ دے په ضمه سره وی او نصب دَ دے په فتحه سره وی او جزم دَ دے په سکون سره وی. حاصل دا شو اعراب به لفظی وی

په دې ځای وارد حالاتو کښې . مثال هُوَ يَضْرِبُ معنى (دا يو سړے وهل کوی) وَلَنْ يَضْرِبَ دا مثال دَ نصب وَلَمْ يَضْرِبْ مثال دَ جزم په سکون سره .

دويم قسم دَ نعل مضارع مفرد معتل واوى دے . مثال دَ واوى يَغْزُوْ شو او بل دَ يائى لکه يَرْمِىْ شو . رفع دَ دے په تقدير دَ ضمے سره وى . او نصب دَ دے په فتحه دے لفظى سره او جزم دَ دے په حذف دَ لام سره وى . مثال لکه هُوَ يَغْزُوْ او يَرْمِىْ او لَنْ يَرْمِىَ او لَمْ يَغْزُ او لَمْ يَرْمِ شو .

دريم قسم مفرد معتل الفى دے . مثال لکه يَرْضٰى رفع دَ دے په تقدير دَ ضمے سره وى او نصب دَ دے په تقدير دَ فتحه سره دى او جزم دَ دے په حذف دَ لام سره وى مثال لکه : هُوَ يَرْضٰى او لَنْ يَرْضٰى او لَمْ يَرْضَ شو . دغه ترجمے ته نظر اوکړئ په دقة نظر سره -

## تشريحات

دلته لاندى دده دَ معرفت دَ امور خمسه دی نه (۱) تحقيقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) ذکر دَ ترکيب دَ بعضے جملو -

**اولُ بحث - تحقيقات :-** دَ نعل مضارع اعراب درے دی (رفع . نصب . جزم) او دا فعل مضارع په اعتبار دَ اعراب سره ځلور قسمه دی .

**اوّل قسم -** (نعل مضارع مفرد صحيح) عند نحات چه خالى وى دَ ضمير بارز مرفوع متصل نه . دا بيا معرب کولے شى په حالت دَ رفعى کښے په ضمے سره لفظاً . مثال لکه هُوَ يَضْرِبُ دغه حالت دَ رفعى کښے په خالى وى دَ عامل ناصبه او دَ عامل جازمه نه . او په حالت نصبى کښے دا معرب کولے شى په فتحه سره لفظاً . مثال لکه لَنْ يَضْرِبَ . او په حالت جزم کښے دا معرب کولے شى په سکون سره . مثال لکه لَمْ يَضْرِبْ . په دغه احوالو ثلاثا کښے به اعراب لفظى وى . بعضے احوال به تابع دَ بعضے نه وى . مثالونو ته نظر اوکړئ -

**دويم قسم -** (نعل مضارع مفرد معتل) واوى او يائى چه مجرد وى دَ ضمير بارز مرفوع متصل نه دا معرب کولے شى په حالت دَ رفعى کښے په ضمے سره تقديراً . مثال لکه هُوَ يَدْعُوْ وَيَرْمِىْ . او په حالت نصبى کښے په فتحه سره لفظاً . مثال لکه لَنْ يَدْعُوَ وَلَنْ يَرْمِىَ . او په حالت جزمى کښے په حذف دَ واو او ياء سره مثال لکه لَمْ يَدْعُ وَلَمْ يَرْمِ -

**دریم قسم** - (فعل مضارع مفرد معتل الفی) دے. چه خالی وی د ضمیر بارز مرفوع متصل نه. داهم معرب کولے شی په حالت رفعی کښے په ضمے سره تقدیرًا مثال لکه هُوَ يَرْضٰى او په حالت نصبی کښے په فتحه سره تقدیرًا مثال لکه لَنْ يَّرْضٰى. او په حالت جزم کښے په حذف د الف سره. مثال لکه وَلَمْ يَرْضَ - څلورم قسم د فعل مضارع بحث وروسته راځی

**پوره تفصیل** - دویم قسم فعل مضارع مفرد معتل واوی او یائی په رفع کښے به اعراب مقدر وی په نصب کښے به لفظًا وی او په جزم کښے به په حذف د لام کلمے سره وی. اوس په حالت رفعی کښے مقدر به ځکه وی چه حالت رفعی کښے ضمه راځی په واؤ او یا باندے نو ضمه په واؤ او یاء باندے ثقیله ده ځکه ضمه تقدیر اوی. او په حالت نصبی کښے لفظًا وی ځکه په حالت نصبی کښے په فتحه سره راځی. او فتحه اخفّ الحرکات ده. نو واؤ او په یاء باندے راتلے شی ځکه لفظًا شو. او په حالت جزمی کښے به په حذف د لام کلمے سره وی داځکه چه جازم غواړی خوی حرکت لرې چه بیا ورباندے حرکت رانشی. همدغه رنګ غواړی خوی مناسبت د حرکت لره. ولته مناسب د حرکت واؤ او یاء دی. ځکه چه واؤ جوړ شویدے د دوه ضمو نه. او یاء جوړه شویده د دوه کسرو نه. د دے په خاطر د لته واؤ او یا حذف شو. مثال لکه لَمْ يَغْزُ وَلَمْ يَرْمِ اول مثال د واوی دویم مثال د یائی -

**لنډه جائزه د اعرابو** - اعراب درے دی (۱) حرکات (۲) حروف (۳) حذف

(۱) حرکات درے دی (۱) ضمه (۲) فتحه (۳) کسره -

(۲) حروف څلور دی (۱) واؤ (۲) الف (۳) یاء (۴) نون -

(۳) حذف درے قسمه دے (۱) حذف د حرکت (۲) حذف د حرف علت (۳) حذف د نون.

اوس علامات د نصب پنځه دی:

(۱) فتحه - مثال لکه رَاَيْتُ زَيْدًا (۲) کسره - مثال لکه رَاَيْتُ مُسْلِمَاتٍ (۳) الف - مثال لکه رَاَيْتُ اَبَاكَ (۴) یاء - مثال لکه رَاَيْتُ مُسْلِمِيْنَ (۵) حذف د نون سره - مثال لکه لَنْ يَّضْرِبَا -

علامات د رفع څلور دی:

(۱) ضمه - مثال لکه جَآءَنِیْ زَيْدٌ (۲) الف لام لکه جَآءَنِیْ رَجُلَانِ (۳) واؤ - مثال لکه جَآءَنِیْ مُسْلِمُوْنَ (۴) ثبوت د نون سره. مثال لکه هُمَا يَضْرِبَانِ -

علامات دَجر دَرې دي:

(۱) کسره - مثال لکه مَرَرْتُ بِزَيْدٍ (۲) فتحه - مثال لکه مَرَرْتُ بِأَحْمَدَ (۳) یاء - مثال لکه - مَرَرْتُ بِأَبِيْكَ -

علامات دَ حذف درې دي:

(۱) حذف دَحرکت - مثال لکه لَمْ يَضْرِبْ (۲) حذف دَحرف علت - مثال لکه لَمْ يَدْعُ (۳) حذف دَ نون - مثال لکه لَمْ يَضْرِبَا اولَنْ يَضْرِبَا اولَمْ يَرْمِيَا او لَنْ يَرْضِيَا

**خلاصه دَسبق** - اولاً دا درې قسمه چه دلته ذکر شو (۱) یعنې مفرد صحیح عند نحات لاعند صرفیین (۲) معتل واوی اویائی (۳) معتل الفی چه مجرد دی. دا درې داره دَضمیر بارز مرفوع متصل نه - نو هغه په فعل مضارع کښې پنځه صیغو دَپاره دی (۱) واحد مذکر غائب (۲) واحد مؤنثه غائبه (۳) واحد مذکر مخاطب (۴) واحد متکلم (۵) جمع متکلم. نو رفع دَدې په ضمې سره - او نصب په فتحه سره - اوجزم په سکون سره مثال لکه هُوَ يَضْرِبُ - تَضْرِبُ - اَضْرِبُ - نَضْرِبُ الخ دغه پنځه صیغې په معتل واوي اویائي کښې هم راځي - دغه پنځه صیغې مفرد معتل الفي کښې هم راځي. لیکن صرف فرق دادې معتل واوی او یائي کښې دفع مقدر دوی. اونصب په فتحه لفظي سره دی. اوجزم په حذف دَلام سره وی. او معتل الفي کښې ضمه مقدر وی. نصب هم مقدر وی. اوجزم حذف دَلام کلمه وی -

## دَفعل مضارع دَاعراب لنډه جائزه

فعل مضارع ټول څوارلس صیغې دی. دوه خارج کړی مؤنث غائب اوجمع مؤنث حاضر ځکه چه هغوی مبنی لوجه دَنون نه) مابقیه دولس صیغې شوې. پنځه صیغې داخل مذکور عمل دَپاره (یعنی واحد مذکر غائب (۲) واحده مؤنثه غائبه (۳) واحد مذکر مخاطب (۴) واحد متکلم (۵) جمع متکلم -

**اوس تفصیل دادې** - کچرې دغه پنځه صیغې دَ فعل صحیح نه وی. نو اعراب دَدې به اول قسم نه وی چه لفظاً دے. لکه هُوَ يَضْرِبُ، لَنْ يَضْرِبَ - لَمْ يَضْرِبْ. کچرې دا پنځه صیغې دَمعتل واوی اویائی شخه وی بیا دَوی اعراب د فعاً مقدر نصباً لفظاً - جزماً په حذف

دَ لام سره . مثال هُوَ يَدْعُوْ . لَنْ يَدْعُوَ . لَمْ يَدْعُ . او گرے دا پنځه صيغے دَ معتل الفي څخه دی اعراب دَ دوی د فعاً حقدر نصبًا مقدر اوجزمًا په حذف دَ لام سره . مثال لکه هُوَ يَرْضٰى لَنْ يَرْضٰى . لَمْ يَرْضَ

## دریم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه :- دَ صحیح مفرد عند نحاة لا عند صرفیین چه مجرد وی دَ ضمیر بارز مرفوع متصل نه . رفع دَ دے په ضمه سره وی لفظاً . نصب دَ دے په فتحه سره وی لفظاً او جزم دَ دے په سکون سره وی . د رفع دَ پاره علامات څلور دی . دَ نصب دَ پاره علامات پنځه دی . دَ جزم دَ پاره علامات درے دی . کما مرّ تفصیله انفا .

۲- ضابطه :- دَ مفرد معتل واوی او یائی چه دا هم مجرد وی دَ ضمیر بارز مرفوع متصل څخه رفع به مقدر وی . نصب به لفظاً وی . جزم به حذف دَ لام سره وی . علامات خو تیر شو .

۳- ضابطه :- دَ مفرد معتل الفي چه مجرد وی دَ ضمیر بارز مرفوع متصل نه . رفع به مقدر وی . نصب به هم مقدر وی . جزم به حذف دَ لام سره وی . علامات کما مرّ .

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

هُوَ يَضْرِبُ لَنْ يَّضْرِبَ لَمْ يَضْرِبْ هُوَ يَدْعُوْ هُوَ يَرْمِيْ لَنْ يَدْعُوَ لَنْ يَّرْمِيَ لَمْ يَرْمِ هُوَ يَرْضٰى لَنْ يَّرْضٰى لَمْ يَرْضَ . صحیح وی او یا معتل وی چه ضمیر بارز ورسره ذکر وی بیا به رفع دَ دے به ثبات دَ نون اعرابی سره وی . مثال لکه هُمَا يَضْرِبَانِ ، هُمَا يَدْعُوَانِ هُمَا يَرْمِيَانِ لَنْ يَّضْرِبَا لَنْ يَّدْعُوَا لَنْ يَّرْضِيَا لَمْ يَضْرِبَا لَمْ يَدْعُوَا لَمْ يَرْضِيَا هُوَ يَخْشٰى لَنْ يَّخْشٰى لَمْ يَخْشَ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ مِنَ الدُّنْيَا (سورت قصص آیت) لَنْ نَّدْعُوَ مِنْ دُوْنِهٖ اِلٰهًا (سورت الکهف آیت) لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا (سورت هود آیت) لِّنُحْيِيَ بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا (سورت الفرقان آیت) اَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقٰدِرٍ عَلٰى اَنْ يُّحْيِيَ الْمَوْتٰى (القیٰمت) لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ (سورت المجادلة آیت) وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ (سورت الاسراء آیت) وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْاَرْضِ (سورت قصص آیت) وَلَا تَمْشِ

فِی الْاَرْضِ مَرَحًا (سورة الاسرٰی آیت) هُمْ یَضْرِبُوْنَ هُمْ یَغْزُوْنَ هُمْ یَرْمُوْنَ
هُمْ یَرْضَوْنَ اَنْتِ تَضْرِبِیْنَ اَنْتِ تَغْزِیْنَ اَنْتِ تَرْمِیْنَ اَنْتِ تَرْضَیْنَ
لَنْ یَضْرِبُوْا لَنْ یَغْزُوْا لَنْ یَرْمُوْا لَمْ یَضْرِبُوْا لَمْ یَغْزُوْا لَنْ تَضْرِبِیْ
لَنْ تَغْزِیْ لَنْ تَرْمِیْ لَمْ تَضْرِبِیْ لَمْ تَغْزِیْ لَمْ تَرْمِیْ هُمْ یَطْعَمُوْنَ الطَّعَامَ
لَنْ اُكَلِّمَ الْیَوْمَ لَنْ تَرْضٰی عَنْكَ الْیَهُوْدُ اُولٰٓئِكَ لَمْ یُؤْمِنُوْا لَمْ یَاْلُوْ خَیْرًا

## خلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال :- (۱) هُوَ یَضْرِبُ (۲) لَنْ یَّضْرِبَ (۳) لَمْ یَضْرِبْ (۴) هُوَ یَدْعُوْ
(۵) هُوَ یَرْمِیْ (۶) لَنْ یَدْعُوَ (۷) لَنْ یَرْمِیَ (۸) لَمْ یَدْعُ (۹) لَمْ یَرْمِ
(۱۰) هُوَ یَرْضٰی (۱۱) لَنْ یَّرْضٰی (۱۲) لَمْ یَرْضَ - دا (۱۲) جملے معرب دی که مبنی ؟

جواب :- معرب دی.

سوال :- معمولات فعل دی که اسم ؟

جواب :- فعل دی.

سوال :- افعال خو ډیر دی. دا کوم یو دی ؟

جواب :- دا خو فعل مضارع دی.

سوال :- دَدوی اعراب څرنګه راځی ؟

جواب :- دَدوی اعراب لفظی هم راځی. مقدر هم راځی. په حذف دَلام سره هم راځی. او په سکون سره هم راځی. مثال دَ لفظی لکه هُوَ یَضْرِبُ. هُوَ مبتداء یَضْرِبُ مرفوع لفظًا فعل. هُوَ ورته فاعل. فعل مع الفاعل دا جمله خبر شو دَپاره دَ مبتداء. دا مثال دَ رفع په ضمه سره وو. مثال دَ نصب لَنْ یَّضْرِبَ. لَنْ ناصبه وربانـدے داخل شو. نو فعل مضارع منصوب لفظًا شو. لَمْ یَضْرِبْ اعراب په سکون سره دے ځکه لَمْ جازمه وربانـدے داخل دے. دا ذو دَ هغه فعل مضارع مثال چه مفرد صحیح دی دے. او دا لاندی ئے اعراب لفظًا ذکر دی.
هُوَ یَدْعُوْا - هُوَ یَرْمِیْ - لَنْ یَّدْعُوَ - لَنْ یَرْمِیَ - لَمْ یَدْعُ - لَمْ یَرْمِ - دا دی امثال

دَ مفرد معتل واوی اویائی . چه ضابطه په هغې کښې داده چه رفع به مقدروی نصب به لفظاً ذکروی . اوجزم به په حذف دَ لام سره وی . هُوَ يَدْعُوْ . هُوَ يَرْمِيْ کښې رفع مقدر ده . لَنْ يَّدْعُوَ . لَنْ يَّرْمِيَ کښې نصب لفظاً ذکر دے . لَمْ يَدْعُ . لَمْ يَرْمِ کښې حذف دَ لام کلمه شوید . هُوَ يَرْضٰى . لَنْ يَّرْضٰى . لَمْ يَرْضَ دادے داوه امثال دَ مفرد معتل الفی دی . ضابطه په هغې کښې داده چه رفع به مقدروی . نصب به هم مقدر وی . اوجزم به حذف دَ لام کلمه سره وی . نو امثالو کښې سوچ اوکړئ .

سوال :- (۱) هُمَا يَضْرِبَانِ (۲) هُمَا يَدْعُوَانِ (۳) هُمَا يَرْمِيَانِ (۴) لَنْ يَّضْرِبَا (۵) لَنْ يَّدْعُوَا (۶) لَنْ يَّرْضِيَا (۷) لَمْ يَضْرِبَا (۸) لَمْ يَدْعُوَ (۹) لَمْ يَرْضِيَا (۱۰) هُوَ يَخْشٰى (۱۱) لَنْ يَّخْشٰى (۱۲) لَمْ يَخْشَ - دا (۱۲) . جملو اعراب څرنګه دی ؟

جواب :- دَدے اعراب دَ ضابطے مطابق دی . ضابطه دا ده چه صحیح دی که معتل وی چه ضمیر بارز ورسره ذکر وی . بیا به رفع دَدے په اثبات دَ نون اعرابی سره وی اونصب اوجزم دَدے په اسقاط دَ نون اعرابی سره وی . مثال دَ هغو چه نون اعرابی مثبت دے . هُمَا يَضْرِبَانِ . هُمَا يَدْعُوَانِ . هُمَا يَرْمِيَانِ . مثال دَ هغو چه نون اعرابی ساقط دے (۱) لَنْ يَّضْرِبَا (۲) لَنْ يَّدْعُوَا (۳) لَنْ يَّرْضِيَا (۴) لَمْ يَضْرِبَا (۵) لَمْ يَدْعُوَ (۶) لَمْ يَرْضِيَا - ۱۵ شپږ مثاله شو .

سوال :- هُوَ يَخْشٰى . لَنْ يَّخْشٰى . لَمْ يَخْشَ دا دَ څه مثال شو ؟

جواب :- دا دَ معتل الفی مثال شو .

سوال :- معتل الفی کښې څه ضابطه ده ؟

جواب :- معتل الفی کښې ضابطه داده چه رفع نصب به مقدر وی . جزم به حذف دَ لام سره وی .

سوال :- وَلَا تَنْسَ ، لَنْ نَّدْعُوَ . لَن يُّؤْتِيَهُمُ ، لِنُحْيِيَ بِهٖ ، اَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلٰى اَنْ يُّحْيِيَ الْمَوْتٰى ، لَنْ تُغْنِيَ ، وَلَا تَقْفُ ، وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ ، وَلَا تَمْشِ دا څه اعراب لری ؟

جواب :- دَدے ټولو اعراب په اظهار دَ فتحه سره دی .

سوال :- هُمْ يَضْرِبُوْنَ نه داخله اَنْتِ تَرْضَيْنَ پورے اعراب ظاهر دی .

چه ذکر دَ وَاوْ او یاء دے ۔ لَنْ یَضْرِبُوْا نه داخله لَمْ تَرْمِیْ پورے په اعراب په حذف دَ نون سره دی فقط ۔

**سوال** :۔ هُمْ یَطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ ، لَنْ اُكَلِّمَ الْیَوْمَ ۔ لَنْ تَرْضٰی عَنْكَ الْیَهُوْدُ اُوْلٰٓئِكَ لَمْ یُؤْمِنُوْا ۔ لَمْ یَنَالُوْا خَیْرًا ۔ دَدے اعراب څه رنګ دی ؟

**جواب** :۔ دَ دوی اعراب بعضو کښے ظاهر دی لکه هُمْ یَطْعِمُوْنَ کښے وَاوْ ظاهر دے لَنْ اُكَلِّمَ الْیَوْمَ کښے فتحه ظاهر ده ۔ لَنْ تَرْضٰی کښے نصب مقدر دے ۔ لَمْ یُؤْمِنُوْا کښے نون حذف دے ۔ لَمْ یَنَالُوْا کښے نون دَ جمع حذف دے ۔

## پنځم بحث دَ بعضو جملو ترکیب

هُوَ یَضْرِبُ ۔ هُوَ مبتداء دے ۔ ځکه چه ضمیر مرفوع منفصل اول سر کښے راشی هغه بیا مبتداء کرځی ۔ دا خبر دَ ضمائرو ضابطه کښے کوری ۔ یَضْرِبُ صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے دَ هغے کیږی په هُوَ سره هغه ورته فاعل شو ۔ فعل مع الفاعل دا جمله خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه هُوَ دے ۔ مبتداء مع الخبر چه یَضْرِبُ دے جمله اسمیه خبریه ۔ ځکه چه دیکښے حرف اول اسم دے ۔

لَنْ یَّضْرِبَ ۔ لَنْ ناصبه یَضْرِبَ صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره هغه ورته فاعل شو ۔ فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه ناصبه ۔

لَمْ یَضْرِبْ ۔ لَمْ حرف جازم یَضْرِبْ فعل هُوَ ورته فاعل ۔ فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه جازمه ۔ بعضے دَ نحو میں په طریقه سره ترکیب کوی بیا به هُوَ مبتداء شی ۔ یَضْرِبُ معطوفٌ علیه ۔ لَنْ یَضْرِبَ معطوف اول لَمْ یَضْرِبْ معطوف ثانی معطوفٌ علیه مع المعطوفتین نه دا جمله فعلیه خبریه خبر شو دَ پاره دَ هُوَ مبتداء ۔ مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه شوه ۔

هُوَ یَدْعُوْ ۔ لَنْ یَدْعُوَ ۔ لَنْ یَّرْمِیَ ۔ لَمْ یَدْعُ ۔ لَمْ یَرْمِ ۔ هُوَ یَرْضٰی ۔ لَنْ یَرْضٰی ۔ لَمْ یَرْضَ

دا مجموعه په دوی ورقیاس دی ۔

هُمَا یَضْرِبَانِ ۔ هُمَا مبتداء یَضْرِبَانِ فعل الف ورباندے فاعل دے . فعل مع الفاعل داجمله خبرشو دَ پاره دَ هُمَا مبتداء . مبتداء مع الخبر داجمله اسمیه خبریه .
دا مابقیه چه ټول مو ذکردی دا مجموعه په دغه سابقینو باندے دِ قیاس کړی په سوچ او فکر سره

چهارم صحیح یا معتل با ضمائر و نونهائے مذکوره و رفع شاں باثباتِ نون باشد چنانکه در تثنیه گوئی هُمَا یَضْرِبَانِ وَیَغْزُوَانِ وَیَرْمِیَانِ وَیَرْضَیَانِ در جمع مذکر گوئی هُمْ یَضْرِبُوْنَ وَیَغْزُوْنَ وَیَرْمُوْنَ وَیَرْضَوْنَ و در مفرد مؤنث حاضر گوئی اَنْتِ تَضْرِبِیْنَ وَتَغْزِیْنَ وَتَرْمِیْنَ وَتَرْضَیْنَ و نصب و جزم بحذفِ نون چنانکه در تثنیه گوئی لَنْ یَضْرِبَا وَلَنْ یَغْزُوَا وَلَنْ یَرْمِیَا وَلَنْ یَرْضَیَا وَلَمْ یَضْرِبَا وَلَمْ یَغْزُوَا وَلَمْ یَرْمِیَا وَلَمْ یَرْضَیَا و در جمع مذکر گوئی لَنْ یَضْرِبُوْا وَلَنْ یَغْزُوْا وَلَنْ یَرْمُوْا وَلَنْ یَرْضَوْا وَلَمْ یَضْرِبُوْا وَلَمْ یَغْزُوْا وَلَمْ یَرْمُوْا وَلَمْ یَرْضَوْا و در واحد مؤنث حاضر گوئی لَنْ تَضْرِبِیْ وَلَنْ تَغْزِیْ وَلَنْ تَرْمِیْ وَلَنْ تَرْضَیْ وَلَمْ تَضْرِبِیْ وَلَمْ تَغْزِیْ وَلَمْ تَرْمِیْ وَلَمْ تَرْضَیْ

ترجمه :- څلورم قسم دَ فعل مضارع صحیح یا معتل دے چه سره دَ ضمائرو او نونو نو سره دے چه مذکور دی په متن کښے چه هغه نون دَ تثنیه او نون دَ جمع او نون دَ واحد مؤنث مخاطبه دے . دَ اعراب په لحاظ سره رفع دَ دے په اثبات دَ نون سره دی مثال لکه په تثنیه کښے وائی هُمَا یَضْرِبَانِ نه وائیله تو هُمَا یَرْضَیَانِ پورے . او په جمع مذکر کښے به وائے هُمْ یَضْرِبُوْنَ تر هُمْ یَرْضَوْنَ پورے . او بل مثال دَ مفرد مؤنث حاضر دے چه په هغه کښے به وائی اَنْتِ تَضْرِبِیْنَ نه تر اَنْتِ تَرْضَیْنَ پورے . او نصب او جزم به په حذف دَ نون سره وی . یعنی په حالت جزمی کښے هم نون ساقطیږی . او په حالت نصبی کښے هم نون ساقطیږی . لکه چه ته په تثنیه کښے وائی لَنْ یَضْرِبَا نه تر لَمْ یَرْضَیَا پورے امثال ونه دی . او په جمع مذکر کښے وائی لَنْ یَضْرِبُوْا نه تر لَنْ یَرْضَوْا پورے . او په واحد مؤنثه

حاضر کښې والی. لکه لَنْ تَضْرِبِیْ نه داخله تر لَمْ تَرْضِیْ پورې. داؤو دَ څلورم قسم دَ فعل مضارع صحیح یا معتل اشالونه.

# تشریحات

دلته لا بدی ده دَ معرفت دَ أمور څه وُ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشتق (۵) ذکر دَ بعضې ترکیب.

**اول بحث ذکر دَ تحقیقاتو** - اول بحث دَ فعل مضارع کښې تیر شوی دوچه فعل مضارع په اعتبار دَ اعراب سره څلور قسمه ده. نو دَ درې قسمه بحث تیر شو. داهغه څلورم قسم بحث دے دَ هغه فعل مضارع دے چه صحیح وی یا معتل دی خو شرط داده چه ضمائر او نونات په یکښې موجود وی. دغه شرط صرف درې قسمه صیغو کښې راځی

۱- (قسم صیغې په تثنیه کښې) مثال لکه: هُمَا یَضْرِبَانِ، هُمَا یَغْزُوَانِ، هُمَا یَرْمِیَانِ. هُمَا یَرْضَیَانِ. اوّل مثال دَ صحیح دے او ما بقیه دغه درې امثال بیا دَ معتل دی.

۲- (قسم صیغې دَ جمع مذکر دی) مثال لکه: هُمْ یَضْرِبُوْنَ وَیَغْزُوْنَ الخ

۳- (قسم صیغې په مؤنث حاضر کښې دی) مثال لکه: اَنْتِ تَضْرِبِیْنَ، وَتَضْرِبْنَ. الی تَرْضِیْنَ پورې. صرف اول مثال دَ فعل مضارع صحیح دے ما بقیه مثالونه دَ معتل دی.

دا مجموعه چه دلته ذکر شو دا دولس ۱۲ صیغې جوړیږی. څلور مثالونه د تثنیې. څلور مثالونه دَ جمعې. څلور مثالونه دَ واحده مؤنثه حاضره. دغه دولس ۱۲ اقسام چه ذکر شو دا په حالت رفعی کښې دو. او په حالت نصب او جزم کښې سقوط دَ نون دی.

سوال :- په حالت نصبی کښې نون ولې غورځیږی او په حالت جزمی کښې نون ولې غورځیږی

جواب :- په حالت نصبی کښې چه نون غورځیږی دا له وجه دَ حمل نه په حالت جزمی باندې یعنی حالت نصبی تابع دے دَ حالت جزمی لکه چه دَ علماؤ مقوله ده (لِاَنَّ الجزم فی الافعال کالجرّ فی الاسماءِ) نو دلته جزم مشابهت ورکړ جرّ سره په اختصاص کښې. او په اسماؤ کښې نصب تابع دَ جر ولے وُو. لکه جمع مؤنث سالم مُسْلِمَاتٌ په ځائے دَ فتحه کسره راځی. نو په افعال کښې تابع دَ جزم هم شو. مثال لکه په تثنیه کښې یَضْرِبَا تر آخره پورې گردان او کره او په جمع مذکر کښې نه والی. مثال لکه لَنْ یَضْرِبُوْا تر آخره پورې. او په واحده مؤنثه حاضر

کښه دانے لَنْ تَضْرِبِيْ الیٰ اخیرة پورے -

سوال :- په حالت جزمي کښے ولے نون ساقطیږی ؟

جواب :- په حالت جزمي کښے ځکه نون ساقطیږی چه جازم غوړخوی حرکت لره چه بیا د ہغو باندے هغه حرکت نه راځی ۔ او څوک چه قائم مقام د حرکت دی هغه به غورځیږی ولسته قائم مقام نون دے . دغه نون عوض د حرکت د مفرد نه راغلے دے نو ځکه حالت هم په حالت جزمي باندے قیاس کړے شو - مثال د تثنیه لکه لَنْ يَضْرِبَا اولَنْ يَّغْزُوَ او لَنْ يَّرْمِيَا، ولَنْ تَرْضِيَا ، دَ لَمْ يَضْرِبَا ، ولَمْ يَغْزُوَا ، وَلَمْ يَرْمِيَا، وَلَمْ يَرْضِيَا

څلور مثاله د لَنْ ناصبه شو . څلور مثاله د لَمْ جازمه شو . اولین د هر یو ے مثال د صحیح دے . ما بقیه د معتل -

مثال د جمع مذکر - لَنْ يَّضْرِبُوْا - وَلَنْ يَّغْزُوْا - وَلَنْ يَّرْمُوْا - وَلَنْ يَّرْضَوْا وَلَمْ يَضْرِبُوْا - وَلَمْ يَغْزُوْ - وَلَمْ يَرْمُوْا - وَلَمْ يَرْضَوْا -

څلور مثاله د لَنْ ناصبه شو . څلور مثاله د لَمْ جازمه شو . د دغه دواړو اولینو مثال د صحیح دی . ما بقیه مثال د معتل دی -

مثال د واحده مؤنثه حاضره - لَنْ تَضْرِبِيْ - وَلَنْ تَغْزِيْ - وَلَنْ تَرْمِيْ - وَلَنْ تَرْضِيْ - وَلَمْ تَضْرِبِيْ - وَلَمْ تَغْزِيْ - وَلَمْ تَرْمِيْ - وَلَمْ تَرْضِيْ -

څلور مثاله د لَنْ ناصبه دی . څلور مثاله د لم جازمه دی . بیا دغه اتو وارو کښے دوه مثاله د صحیح دی . ما بقیه مثال د معتل دی -

## دویم بحث د ضوابطو

دغه څلور قسم د صحیح او د معتل درے ضابطے لری (اوله - دویمه - دریمه)

اوله ضابطه - په حالت رفعی کښے دا چه اثبات د نون سره دے . ځکه چه د نون عوض د حرکت د مفرد نه راغلے دے .

دویمه ضابطه - په حالت د نصب کښے دا . په حالت نصب کښے به نون ساقط وی د تثنیه او د جمع د صیغو نه . وجه د دے کا مرّ -

دریمه ضابطه - په حالت د جزم کښے دا . په حالت د جزم کښے هم نون ساقطیږی . د

دَ تثنیه او دَ جمع دَ صیغے نه .کا مرّ .

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

هُمَا یَضْرِبَانِ هُمَا یَغْزُوَانِ هُمَا یَرْمُوْنَ هُمَا یَرْضِیان هُمْ یَضْرِبُوْنَ
هُمْ یَغْزُوْنَ هُمْ یَرْمُوْنَ هُمْ یَرْضُوْنَ اَنْتِ تَضْرِبِیْنَ اَنْتِ تَغْزِیْنَ
اَنْتِ تَرْمِیْنَ اَنْتِ تَرْضِیْنَ لَنْ یَّضْرِبَا لَنْ یَّغْزُوَا وَلَنْ یَرْمِیَا
وَلَنْ تَرْضِیَا وَلَمْ یَضْرِبَا وَلَمْ یَغْزُوَا وَلَمْ یَرْمِیَا وَلَمْ یَرْضِیَا وَلَنْ
یَّضْرِبُوْا وَلَنْ یَّغْزُوْا وَلَنْ یَّرْمُوْا وَلَنْ یَّرْضُوْا وَلَمْ یَضْرِبُوْا وَلَمْ
یَغْزُوْ وَلَمْ یَرْمُوْ وَلَمْ یَرْضُوْا لَنْ تَضْرِبِیْ وَلَنْ تَغْزِیْ وَلَنْ تَرْمِیْ
وَلَنْ تَرْضِیْ وَلَمْ تَضْرِبِیْ وَلَمْ تَغْزِیْ وَلَمْ تَرْمِیْ وَلَمْ تَرْمِیْ .

## څلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال :- هُمَا یَضْرِبَانِ (۲) هُمَا یَغْزُوَانِ (۳) هُمَا یَرْمِیَانِ (۴) هُمَا یَرْضِیان دا معرب دے که مبنی ؟

جواب :- دا معرب دے .

سوال :- دا اسماء دی که افعال ؟

جواب :- دا معمول افعال دی .اګرچه دَ جملے په اعتبار سره جملے اسمیه دی .

سوال :- افعال خو ډیر کم دی . دا کوم یو دی ؟

جواب :- دا فعل مضارع صحیح یا معتل دی .

سوال :- فعل مضارع هم څلور قسمه دی دا عراب په لحاظ سره دا کوم یو نه دی ؟

جواب :- دا دَ څلورم قسم نه دی .

سوال :- څلورم قسم کوم یو دے ؟

جواب :- څلورم قسم دَ فعل مضارع صحیح یا معتل وی خو مع ضمائرو نونات وی .

سوال :- دَ دے اعراب څرنګه راځی .

جواب :- خالي وی دَ لن ناصبه او لم جازمے نه .بیا به اثبات دَ نون سره معرب وی . مثال

لکه مذکوره مثالونه شو. چه هُمَا مبتداء دے .یَضْرِبَانِ ورته فعل الف فاعل دے . فعل مع الفاعل داجمله خبر شوه د پاره د مبتداء . مبتداء مع الخبر جمله اسمیه خبریه . مابقیه د یا نه دے قیاس دی .

سوال :- داکومه صیغه ده ؟

جواب :- داد تثنیه صیغه ده .

سوال :- صحیح کوم یو دی او معتل کوم یو دی ؟

جواب :- اول صحیح مابقیه معتل دی .

سوال :- هُمْ یَضْرِبُوْنَ نه داخله الیٰ هُمْ یَرْضَوْنَ پورے څه واقع شویدی په مذکوره سوالاتو کښے ؟

جواب :- ټول سوالات او جوابات یو دی . لیکن صرف فرق دا دے چه ماقبل امثال د تثنیه صیغے دی . او دا دی د جمع صیغے دی . رفع د د دوی په واؤ سره ده او د هغوی رفع په الف سره وه .

سوال :- اَنْتِ تَضْرِبِیْنَ الیٰ اَنْتِ تَرْضَیْنَ پورے څه واقع شویدی ؟

جواب :- داهم مذکوره سوالات او جوابات کښے برابر دی . لیکن فرق صرف دا دے چه هغوی مذکر د پاره صیغی دی . دوی مؤنث واحده حاضره د پاره صیغے دی . مجموعه ټولو کښے اثبات د نون سره اعراب جاری شو .

سوال :- لَنْ یَضْرِبَا او لَنْ یَّغْزُوَا نه داخله اِلیٰ لَمْ یَرْضَیَا پورے څه واقع شویدی ؟

جواب :- داهم مذکوره سوالاتو او جواباتو کښے برابر دی . صرف فرق دا دے چه هغوی کښے اعراب اثبات نون سره وو . دلته اسقاط د نون سره دے . له وجه د لَنْ ناصبه او لَمْ جازمه نه . امثال نے مذکوره تثنیه صیغے دی .

سوال :- لَنْ یَّضْرِبُوْا نه داخله اِلیٰ لَمْ یَرْضَوْا پورے څه واقع شویدی ؟

جواب :- داهم مثل ماقبل دے . فرق صرف ماقبل تثنیه صیغے دی . دوی جمع دی . او اعراب د اسقاط د نون په اعتبار سره دے .

سوال :- لَنْ تَضْرِبِیْ نه داخله اِلیٰ لَمْ تَرْضَیْ پورے څه واقع شویدی ؟

جواب :- داهم مثال سابق دی په اسقاط د نون کښے او مابقیه سوالاتو او جواباتو کښے

او ذرق صرف دومره دے چه هغوی تثنیه او جمع صیغے دی. دا واحده مؤنثه حاضر صیغے دی. لَنْ ناصبه او لَمْ جازمه دَ دخول دَ وجے نه نون اعرابی ترینه ساقط شویدے ځکه چه دا نون اعرابی عوض دَ حرکت دَ مفرد نه را غلے دے. نو لَنْ ناصبه او لَمْ جازمه دَ مفرد نه حرکت ساقط کول او دَ جمع او دَ تثنیه نه نون ساقطوی. او دَ مفرد مؤنث حاضر نه هم نون ساقط شو. اصلی وجه کامرّ فی تفصیلها -

## پنځم بحث دَ بعضو جملو ترکیب

هُمَا يَضْرِبَانِ - هُمَا مبتداء يَضْرِبَانِ صیغه دَ تثنیه الف پکښے فاعل ځکه چه رفع په الف سره ده. فعل مع الفاعل معطوفة علیه. وَاوْ حرف عطف يَغْزُوَانِ معطوف اول. وَاوْ حرف عطف يَرْمِيَانِ معطوف ثانی. وَاوْ حرف عطف يَرْضِيَانِ معطوف ثالث معطوفة علیه مع المعطوفات ثلاثة دَ نه دا خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه هُمَا دے. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه شو. دا خو وو دَ نحو میر ترکیب - او یو زما دَ شرح ترتیب دے هغه جدا دے. زما ترتیب دا دے چه هر یو ځانته ځانته جمله شی تا سو پخپله سوچ اوکړئ -

هُمْ يَضْرِبُونَ نه وا خلے تر يَرْضُونَ پورے دَ دوا ړو ترتیب کښے یو شان دے. که دَ نحو میر شریف ترتیب یا زما دَ فقیر ملنګ عاجز ترتیب شی هیڅ فرق نشته -

اَنْتِ تَضْرِبِيْنَ - اَنْتِ مبتداء شی. مابقیه ورته خبر شی. اول ترتیب بانده چه دَ نحو میر ترتیب دے یا جدا جدا جملے شی لکه زما ترتیب بانده.

لَنْ يَضْرِبَا - لَنْ ناصبه يَضْرِبَا فعل الف ورته فاعل مابقیه په واسطه دَ عطف سره مجموعه جمله فعلیه خبریه ناصبه یا جازمه شو.

لَنْ يَّضْرِبُوْا نه واخله تر اخیره لَمْ تَرْضَوْا پورے هم دغه حکم دے. چه کوم دَ تثنیه صیغے حکم ؤو. او مفرده مؤنثه حاضره ورباندے قیاس کړی -

فصل بدانکه عوامل اعراب بر دو قسم است لفظی و معنوی. لفظی بر سه قسم است حروف وافعال واسماء واین را در سه باب یاد کنیم انشاء الله تعالی

## بابِ اوّل در حروفِ عامله و در و دو فصل است

فصلِ اوّل درحروف عامله در اسم وآں پنج قسم است اوّل حروفِ جر و آں ہفدہ است بَا و مِنْ و اِلٰی و حَتّٰی و فِیْ و لَام و رُبَّ و واؤ قسم و تائے قسم وعَنْ وعَلٰی وکافِ تشبیہ و مُذْ و مُنْذُ و حَاشَا وخلا وعَدَا ایں حروف دراسم روند و آخرش را بجر کنند چوں اَلْمَالُ لِزَیْدٍ دوّم حروف مشبہ بفعل وآں شش است اِنَّ واَنَّ وکَاَنَّ ولٰکِنَّ ولَیْتَ و لَعَلَّ ایں حروف را اسمے باید منصوب وخبرے مرفوع چوں اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ زید را اسم اِنَّ گویند وقَائِمٌ را خبر اِنَّ۔

ترجمہ- دا فصل دے. ثابت دے پہ بیان دَ عوامل کښے - پوہ شه اے طالبه عوامل دَاعراب په دوه قسمه سره دی (۱) لفظی (۲) معنوی - لفظی په درے قسمه سره دی (۱) حروف (۲) افعال (۳) اسماء - دغه درے وارہ به مونږ په درے بابو نوکښے ذکر او کړو انشاء الله تعالیٰ

اول باب په بیان دَ حروف عامله کښے. او په دے کښے دوه فصل دی. اوّل فصل په هغه حروفو عامله دَ اسم کښے. دا بیا پنځه قسمه سره دے. اوّل قسم په حروف جارہ کښے دے. هغه اولس حروف دی (۱) باء (۲) مِنْ (۳) الی (۴) حتّٰی (۵) فِیْ (۶) لام (۷) رُبَّ (۸) وَاؤ قسم (۹) تاءِ قسم (۱۰) عن (۱۱) علٰی (۱۲) کاف تشبیه (۱۳) مُذْ (۱۴) مُنْذُ (۱۵) حاشا (۱۶) خلا (۱۷) عَدَا - دغه مجموعه اولس حروفو باندے داخلیږی او اخیر دَ هغے به مجرور کوی۔

شعر ۱۔ با و تا و کاف و لامُ وَاوُ منذ مُذْ خلا - رب حاشا من عدا فی عن علا حتّٰی اِلٰی

دوېم قسم دَ حروفو عامله ؤ نه حروف مشبه بالفعل دی او هغه شپږ دی اِنَّ - اَنَّ - کَاَنَّ - لٰکِنَّ - لَیْتَ - لَعَلَّ دغه حروف اسم ته نصب ورکوی او خبر ته رفع ورکوی. مثال لکه اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ نو زید ته اسم دَ اِنَّ وائی

او قَائِمٌ ته خبر دَ اِنَّ وائی۔

# تشریحات

دلته لابدی ده دَ معرفت دَ امور ستهٔ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ معانی دَ حروفو جارهٔ او مشبه بالفعل (۳) ذکر دَ ضوابطو (۴) ذکر دَ امثالو (۵) ذکر دَ مشق (۶) ترکیب

**اوّل بحث په تحقیقاتو کښے** - دلته لابدی ده دَ معرفت دَ امور ستهٔ نه (۱) بیان دَ عامل لغةً او اصطلاحًا (۲) بیان اقسام دَ عامل (۳) بیان دَ حروفو جارهٔ (۴) اقسام دَ حروفو جارهٔ (۵) شمار دَ حروف جارهٔ (۶) دَ حروفو مشبه بالفعل. شمار دَ حروفو مشبه بالفعل

**اوّل بیان دعامل لغةً او اصطلاحًا** - عوامل جمع دَ عامل ده. عامل په لغت کښے مؤثر ته وائی. او په اصطلاح کښے (مَا اَوْجَبَ كَوْنَ اٰخِرِ الْكَلِمَةِ عَلٰى وَجْهٍ مَخْصُوصٍ مِنْ رَفْعٍ اَوْ نَصْبٍ اَوْ جَرٍّ اَوْ جَزْمٍ)۔

**دوئیم بیان اقسام دَ عوامل** - عامل په دوه قسمه سره دے (۱) عامل لفظی (۲) عامل معنوی - عامل لفظی (مَا يُعْرَفُ بِالْقَلْبِ وَ يَتَلَفَّظُ بِاللِّسَانِ) دوئیم عامل معنوی تعریف (مَا يُعْرَفُ بِالْقَلْبِ وَلَا يَتَلَفَّظُ بِهٖ اى وَلَيْسَ لِلِّسَانِ فِيْهِ حَظٌّ) بیا عامل لفظی په دوه قسمه سره دے (۱) سماعی (۲) قیاسی - سماعی ما یمکن تعیینه الا بمفهوم کلی لتعذر ضبط جز ئیاتہ - دغه عوامل چه په چا داخلیږی هغې ته معمول وائی. معمول تعریف مايتغير اٰخره برفع او نصب او جر او جزم - او دَ عمل تعریف - هو الاثر الحاصل بتاثير العامل من رفع او نصب او جر او جزم - سماعی بیا درے قسمه سره دی (۱) حروفو عامله (۲) اسماء عامله (۳) افعال عامله - (۱) حروفو عامله هغه عوامل دی چه ذات ئے حروف وی (۲) افعال عامله - هغه عوامل دی چه ذات ئے افعال وی (۳) اسماء عامله - هغه عوامل دی چه ذات ئے اسماء وی.

**دریم بیان دحروفو جارهٔ** - دغه حروفو جارهٔ دَ حروفو عامله نه دی. حروفو عامله په دوه قسمه سره دی (۱) یو حروفو عامله په اسم داخلیږی (۲) او بل قسم دَ حروفو عامله په فعل داخلیږی. هغه حروف چه په اسماء داخلیږی هغه پنځه قسمه دی (اوّل قسم) په هغوی کښے حروفو جارهٔ دی - وجه دَ تسمیه دَ حروفو جارهٔ - ته ځکه جارهٔ وائی (۱) وجه چه دوی

ځپل مدخول ته جر ورکوی (۲) وجه. دوی ته حروف جاره ځکه وائی چه دوی ځپل مدخول کښے عمل د جر کوی (۳) وجه. جر مصدر دے معنیٰ ئے ده را ښکل. دغه حروف هم ځپل مدخول ته فعل یا شبه د فعل را کاږی. او بل نوم د دوی حروف المعانی دے. حروف المعانی ځکه ورته وائی چه دوی مختلفے معنیٰ کانے لری. او س معنیٰ د فعل یا شبه د فعل ځپل اسم ته را کاږی. لکه مثال كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ یا بِسْمِ اللهِ. كَتَبْتُ کښے كَتَبَ فعل او تُ فاعل او قلم ورته اسم دے. او س كَتَبْتُ جدا کلمه ده او قلم جدا کلمه ده. نو د بو ځائے کولو د پاره باء مستعمل شوه نو جمله مکمل شوه. یعنے ما لیکل اوکړه د قلم په ذریعه.

## څلورم بیان اقسام د جاره.

دغه حروفو جاره په درے قسمه سره دی په اعتبار د ذات سره (۱) یو قسم حروف دی فقط (۲) قسم. هغه دی چه کله اسماء وی کله حروف (۳) قسم هغه دی چه کله حروف وی کله افعال.

او س تفصیل دا دے چه اول قسم (۹) دی (۱) مِنْ (۲) إِلیٰ (۳) حَتّٰی (۴) فی (۵) باء (۶) لام (۷) رُبَّ (۸) واوُ قسم (۹) تائے قسم.

دویم قسم هغه پنځه دی (۱) عَنْ (۲) علیٰ (۳) کاف (۴) منذ (۵) مذ.

دریم قسم د پاره درے دی (۱) خلا (۲) حاشا (۳) عدا.

(دویم تقسیم) د حروفو جر په اعتبار د اعراب سره. دا هم په دوه قسمه سره دی. جر په دوه قسمه سره دے (۱) جر محلی (۲) جر لفظی. جر لفظی بیا په دوه قسمه سره دے (۱) جر بالحرکة (۲) جر بالحروف. بیا جر بالحرکت په دوه قسمه سره دے (۱) جر بالحرکت لفظی او جر بالحرکت تقدیری. مثال د جر محلی لکه بِهِ. بِهَا. بِهِمَا. بِهِمْ. مثال د جر لفظی بالحرف مَرَرْتُ بِالْمُسْلِمِیْنَ مَرَرْتُ بِأَخِیْكَ. جر بالحرکت لفظی مَرَرْتُ بِزَیْدٍ. مثال د جر بالحرکت تقدیری مَرَرْتُ بِمُوْسیٰ وعیسیٰ

## پنځم بیان شمارة د حروفو جاره.

دا مجموعه اوولس دی عند الجمهور. وعند ابن حاجب مبارك اتلس دی. یو دو سره واو بمعنی رُبَّ.

## شپږم بیان د حروفو مشبه بالفعل.

دغه حروفو مشبه بالفعل شپږ حروفونه دی. اسم ته نصب ورکوی. او خبر ته رفع ورکوی. مثال لکه إِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ. دغه حروفو ته حروفو مشبه بالفعل وائی. مُشَبَّهَةٌ صیغه د اسم مفعول ده د باب د تفعیل نه او مصدر ئے تَشْبِیْهٌ دے

او تَشْبِیْه معنیٰ یو شی دَبل شی سرہ مشابه کول . نو حروفو مشبه بالفعل ته ځکه حروفو مشبه بالفعل وائی چه دوی مشابه کړے شوی دی دَ فعل سره لفظًا او معنیً . مثال دَ لفظ لکه څرنګه چه فعل ثلاثی او رباعی او خماسی راځی . همدغه حروفو مشبه بالفعل هم راځی بعضے ثلاثی ، بعضے رباعی ، بعضے خماسی . بل مثال دَ لفظ لکه څرنګه چه فعل پورې کاف خطاب پیوست کیږی . همدارنګه حروفو مشبه بالفعل سره هم پیوست کیږی . مثال لکه ضَرَبْتُكَ إِنَّكَ -

او بل په اعتبار دَ معنیٰ سره مشابهت لری هغه داده چه إِنَّ او أَنَّ وائی کیږی حَقَّقْتُ ته او حَقَّقْتُ فعل ماضی صیغه ده . او بل كَأَنَّ معنیٰ ده شَبَّهْتُ داهم فعل ماضی دے لٰكِنَّ معنیٰ إِسْتَدْرَكْتُ داهم فعل ماضی دے او معنیٰ دَ لَيْتَ ای تَمَنَّيْتُ داهم فعل دے معنیٰ دَ لَعَلَّ تَرَجَّيْتُ داهم فعل ماضی دے .

سوال :- دغه حروفو مشبه بالفعل ولے اسم ته نصب ورکوی او خبر ته رفع ورکوی .

جواب :- دوی دا رنګه عمل ځکه کوی چه دوی مشابهت لری فعل سره لفظًا او معنیً او بل فعل دوه عمله لری . یو عمل اصلی دے او دویم عمل فرعی دے . اصلی عمل تقدیم دَ معمول رفع په معمول منصوب باندے . دویم عمل فرعی چه تقدیم دَ معمول منصوبه په معمول رفع باندے . نو مونږ دغه لره عمل دَ فرعے دَ فعل ورکړ . ځکه چه که عمل دَ اصلی ورکونو بیا مساوات راځی په مابین دَ فرع او دَ اصل کښے . دا صحیح نه دے . نو ځکه حروف مشبه بالفعل مشبه به لری نعل غلوه خیز ونوکښے لفظًا - عملاً - معنیً - اقسامًا -

سوال :- دَ دغه حروفو مشبه بالفعل خو مشابهت فعل لازمی او متعدی دواړو سره دے او تاسو خو عمل دَ پاره فعل متعدی غوره کړ .

جواب :- مونږ دوی لره عمل دَ فعل متعدی ځکه ورکړ چه دَ دے دغه فعل متعدی سره یو خاص ربط وو . هغه ربط دَ فعل لازمی سره نه وو . هغه ربط دادے چه فعل متعدی تقاضا کوی دَ فاعل او دَ مفعول به . او دغه حروف هم تقاضا کوی دَ اسم او دَ خبر ځکه فعل متعدی سره خاص شو .

# ذکر دَ معانی دَ حروفو جارّہ اوَ دَ مشبہ بالفعل

| البآء | مثال ککه | | |
|---|---|---|---|
| ۱- الباء للالصاق | 〃 | 〃 | مَرَرْتُ بِزَيْدٍ |
| ۲- الباء للاستعانة | 〃 | ، | كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ |
| ۳- الباء للتعليل | ، | ، | اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ |
| ۴- الباء للمصاحبة | ، | ، | اِشْتَرَيْتُ الْفَرَسَ بِسَرْجِهٖ |
| ۵- الباء للتعدية | 〃 | 〃 | ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ |
| ۶- الباء للمقابلة | ، | ، | اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ بِالْفَرَسِ |
| ۷- الباء للقسم | ، | ، | بِاللّٰهِ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا |
| ۸- الباء للاستعطاف | ، | ، | اِرْحَمْ بِرَبِّيْ |
| ۹- الباء للظرفية | ، | ، | زَيْدٌ بِالْبَلَدِ |
| ۱۰- للظرفية | ، | ، | وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ |
| ۱۱- الباء للتفدية | ، | ، | بِاَبِيْ وَاُمِّيْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ |
| ۱۲- الباء للتجريد | ، | ، | لَقِيْتُ اَسَدًا بِزَيْدٍ |
| ۱۳- بمعنى من | ، | ، | يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللّٰهِ اى مِنْهَا |
| ۱۴- بمعنى عن | ، | ، | سَاَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ اى عن عذاب واقع - |
| ۱۵- للاستعلاء | ، | ، | مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ اى عَلٰى قِنْطَارٍ |
| ۱۶- بمعنى الى | ، | ، | اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ |
| ۱۷- بمعنى اللام | ، | ، | وَاِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ اى لَكُمُ الْبَحْرَ - |
| ۱۸- للتبرك | ، | ، | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| ۱۹- للتبعيض | ، | ، | فَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ |
| ۲۰- للتصوير | ، | ، | دَ دې بيان دپاره وى - |

# داولسِ حروفو معانی او شپږ حروفو مشبه بالفعل

**التّاء** - تا جاره دا هم دَ قسم دپاره ده . دا مشروط دے په شروطو او بعو سره
(۱) مدخول دَدے به اسم ظاهر وی نه ضمیر (۲) بیا په اسم ظاهر کښے به خاص
لفظ دَ الله وی (۳) جواب قسم به جمله خبریه وی نه انشائیه (۴) فعل قسم دَدے به
محذوف وی نه مذکور. مثال تَاللّٰهِ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا -

**الکاف** - کاف جاره په (۱۱) معانیو سره راځی -

| | | |
|---|---|---|
| ۱- للتشبیه | مثال | زَیْدٌ کَالْاَسَدِ |
| ۲- لِلزِّیادة | " | لَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ |
| ۳- للتعلیل | " | فَاذْکُرُوا اللّٰهَ کَمَا هَدَاکُمْ |
| ۴- للاستعلاء | " | کَخَیْرٍ فی جواب من کَیْفَ اَصْبَحْتَ ای علی خیرٍ |
| ۵- للاقتران والاتصال | " | جِئْتُكَ کَمَا طَلَعَتِ الشمس |
| ۶- للترجی ای بمعنی لعلّ | " | لا تشتم کما لا تُشتَم |
| ۷- للاستقصاء | " | ان من حروف العلة لا یقبل الحرکة کالالف |
| ۸- للمفاجات | " | کما خرجت رَأَیْتُ زَیْدًا |
| ۹- للتشابه | " | اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی محمد کما صلیت علی ابراهیم |
| ۱۰- للمصاحبت | " | کخیر فی جواب من قال کیف اصبحت ان بخیر |
| ۱۰- بمعنی مثل | " | یضحکن عن کالبرد المنهم |

**اللّام** - لام جاره په (۲۷) معانیو سره راځی

| | | |
|---|---|---|
| ۱- للاختصاص | مثال | الحمد لله - لهم جنات تجری من تحتها الانهٰر |
| ۲- للزیادة | " | رَدِفَ لکم ای ردفکم |
| ۳- للتعلیل | " | جئتك لاکرامك |
| ۴- للعاقبه | " | لزم الشر للشقاوة |

| دلام جارہ کیا رہ معانی | امثال |
|---|---|
| ۵- للتمم | لِلّٰهِ لایُؤخر الاجل |
| ۶- بمعنی عن | قلت لزید ای عن زید |
| ۷- للاستحقاق | الجل للفرس |
| ۸- للنفع | تعالی لها ما کسبت |
| ۹- للتعدیة | فهب لی من لدنك |
| ۱۰- للملك | المال لزید |
| ۱۱- للاستعانة | یالزید النصر |
| ۱۲- للتهدید | یالزید لا قتلك |
| ۱۳- بمعنی الی | بان ربك اوحٰی لها |
| ۱۴- بمعنی وقت | المستحاضة تتوضأ لکل صلوٰة ای لوقت کل صلوٰة ای وقت کل صلوٰة |
| ۱۵- بمعنی بعد | اقم الصلوٰة لدلوك الشمس ای بعد دلوك الشمس |
| ۱۶- بمعنی عند | کتبوالخمس خلوة ای عند خمس ومن احسن من الله حکماً القوم یوقنون ای عند قوم |
| ۱۷- بمعنی فی | ونضع الموازین بالقسط لیوم القیمة ای فی یوم القیمة |
| ۱۸- بمعنی من | نحن افضل لکم یوم القیمة ای منکم |
| ۱۹- بمعنی علی | وان اسأتم فلها ای فعلیها |
| ۲۰- بمعنی للجحود | وماکان الله لیعذبهم |
| ۲۱- بمعنی للتعجب | یاللماء ویاللدواهی |
| ۲۲- بمعنی کی | اسلمت لادخل الجنة |
| ۲۳- للتبلیغ | قلت له |
| ۲۴- للتملیك | وهبت لزید |
| ۲۵- لتقویة العمل | فعال لمایرید ان کنتم للرؤیا تعبرون |
| ۲۶- بمعنی الفاء | إِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ اخرج حَیًّا ای فسوف |
| ۲۷- بمعنی ان | وَمَا اُمِرُوْا اِلَّا لِیَعْبُدُ اللهَ ای ان یعبدوالله |

## حرف الواو۔

(۱) - وَاوْ عاطفه - مثال، فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَصْحَابَ السَّفِيْنَةِ

(۲) - واو حالیه - جَاءَ زَيْدٌ وَالشَّمْسُ طَالِعَةٌ

(۳) - ناصب مفعول معه ، جَاءَ البردُ والجباتُ

(۴) - قسميه - وَاللهِ

(۵) - بمعنی او په وخت دَ تقسیم کے مثال هی اسم وفعل وحرف

(۶) - حرف نِداء سره مثال وا زَيدا ه

(۷) - اسم فعل بمعنی اعجب و ابابی انت وفوك الا شب۔

## (د من بحث) ضابطی مع امثال سره

من په درے قسمه سره دے (۱)

۱- یو من اسمی دے . دا من اسمی هغه ته وائی چه دا من مراد لفظ عَلَمْ وی دَ پارهٔ دَهغه من چه مستعلیږی په تراکیبو کښے . مثال من حرف جرٌ

۲- من فعلی دے ۔ دا هغه من دے چه صیغه دامر حاضر معلوم ده ۔ مَانَ یمِین ۔مَیْنًا مثال ،کَبَاعَ ،یَبِیْعُ ، بَیْعًا ۔ بمعنی دروغ گفتن -

۳ - هغه من دے چه حرفی وی او دا هغه من دے چه داخلیږی په اسم باندے او اسم لره جر ورکوی . دغه من په کلام د عربو کښے په (۱۹) معانی سره راځی

| شماره | معانی | مثال |
|---|---|---|
| ۱ | لابتداء الغاية | سرت من البصرة الى الكوفة |
| ۲ | للتبيين | فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ |
| ۳ | للتبعيض | اخذت من الدراهم اى بعض الدراهم |
| ۴ | للزيادة | يغفر لكم من ذنوبكم |
| ۵ | للقسم | من ربى لا فعلن كذا |
| ۶ | للبدل | ارضيتم من الحيوة الدنيا |

| شمارہ | معانی | مثال |
|---|---|---|
| ۷ | للتفضیل | زید افضل من عمرو |
| ۸ | للسبب | مِمَّا خطیئاتهم اغرقُوْا فاد خلوا نارًا |
| ۹ | للتجرید | لقیت اسد من زَیدٍ |
| ۱۰ | للاستعانة | یَنظُرُوْنَ مِن طرف خفیٍّ ای بطرف خفی |
| ۱۱ | للظرفیة | اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ ای فی یوم الجمعة |
| ۱۲ | للمجاورة | یَاوَیْلَنَا قَدْ کُنَّا فِیْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا |
| ۱۳ | للفصل | وَاللّٰهُ یَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ |
| ۱۴ | بمعنی عند | لَا تُغْنِیْ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَا اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَیْئًا ای عند اللّٰه |
| ۱۵ | بمعنی الی | قربت منه ای قربت الیه |
| ۱۶ | للاستغراق | مَاجَاءَنِیْ مِنْ اَحَدٍ |
| ۱۷ | للاتصال | اَنْتَ مِنِّیْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُّوْسٰی |
| ۱۸ | للاستعلاء | وَیَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ای علی الّذین |
| ۱۹ | للتشبیه | خلقت المرئة من الظلع |

که الف لام په المرئة کښے عهد خارجی شی مراد بیا مِنْ پخپل معنیٰ سره دے
که الف لام استغراقی شی بیا من بمعنیٰ کاف سره دے. تشبیه مثال المرئة کالظلع
بل مثال الشجرة من الجنّة ای مثل شجر الجنة - الکان من المن ای مثل المنّ
دَ ما بقیه تفصیل په شرح مائة عامل کښے نظر او کړئ. او دَ حروف مشبه بالفعل معنیٰ هم په
نحو میر کښے تیره شویده په متن کښے -

## دریم بحث دَ ضوابطو

**دَ مذ او منذ ضابطه** - مذ او منذ دوه قسمه سره دے (۱) اسمی (۲) حرفی -
او فرق په مابین دَ مذ او منذ اسمی او حرفی کښے ثابت دے لفظًا او معنًى - فرق دَ لفظًا دا دے
چه مذ خول دَ مذ او منذ اسمی به مرفوع وی او مد خول دَ مذ او منذ حرفی به مجرور وی
او معنیٰ فرق دا دے چه مذ او منذ حرفی راځی دَ ابتداء الغایة دَپاره یعنی په معنیٰ دَ من

سره ـ کله چه مستعمل شی په زمانه ماضی کښې ـ مثال لکه مَا رَاَيْتُهٗ مُذْ يوم الجمعة اومنذ يوم الجمعة اى ابتداء عدم دويتى اياه كان من يوم الجمعه الى الآن ـ او په معنیٰ دَ فی سره راځی ـ کله چه دا مذ اومنذ حرفی مستعمل شی په زمانه حاضره کښې مثال مَارَاَيْتُهٗ مذ يومنا اى فى يومنا ـ او مذ او منذ اسمی راځی ـ په معنیٰ دَ اول المدة سره ـ که مدخول ئې معرفوی حقیقة یا حکماً ـ مثال مارَاَيْتُهٗ مذ يوم الجمعة اى اول مدة زمان عدم رؤيته يوم الجمعة ـ او په معنیٰ دَ جميع المدة سره راځی ـ که مدخول دَدے نکره وی ـ مثال مَارَاَيْتُهٗ مذ يومَانِ اى جميع اجزاء مدة زمان عدم رؤيته يومان لا ازيد ولا انقص

۱ - دَحاشا، خلا ، عدا ، ضابطه ـ دادّیے وارہ حرفی هم راځی اوفعلی هم راځی اوفرق په مابین دَ حرفی او فعلی کښې دا دے :

۲ - ضابطه ـ که مدخول دَدے منصوب وی نو بیا دوی فعلی دی او بیا داجمله حال واقع کیږی دَ ماقبل دَپاره ـ مثال جَاءَ فى القوم حاشا زَيْدًا ـ داحَاشَا بمعنیٰ تَنَزَّهُ دے اوتَنَزَّهُ فعل دے او ضمیرمستتر چه راجع دے الله تعالیٰ ته دے هغه ورته فاعل دے ـ اوزَيْدًا منصوب ورته مفعول به دے ـ او دا فعل سره دَ فاعل او سره دَ مفعول به جمله حال واقع شویدے دَ القوم نه نو بیا دَدے معنیٰ دا رنګه شوه چه راغلے ږوما ته قوم په حال کون دَدے قوم کښې چه پاک کړے ږو الله تعالیٰ د زید نه

۳ - ضابطه ـ که مدخول ئې مجرور وو ـ نو بیا دوئی حرفی دی او بیا دا الفاظ راځی استثناء دَپاره یعنی دادَ اَدا تو دَ استثناء ونه شو ـ

ضابطه په رُبَّ کښې ـ دا رُبَّ راځی دَ انشاء دَ تقلیل دَپاره حقیقةً اودَ انشاء دَ تکثیر دَپاره مجازاً ـ اودا انشاء دَ تقلیل حقیقت مهجوره دے ـ او انشاء دَ تکثیر مجازاً متعارف دے ـ نودا معنیٰ حقیقی به اداکولے شی مع القرينه ځکه حقیقة مهجوره پشان دَ مجاز دَ په اقتضاء دَ قرینه کښې ـ او معنیٰ مجازی الادا کولے شی بلا قرینه ځکه مجاز متعارف پشان دَ حقیقت دے په عدم اقتضاء دَ قرینه کښې ـ داوو تحقیق په رُبَّ کښې ـ

۱ - ضابطه ـ دا رُبَّ صدارت دَکلام غواړی په شان دَ کم غونډے ـ

۲ - ضابط ـ مدخول دَرُبَّ به نه راځی مګر نکره موصوفه ـ

۳ - ضابطه ـ جواب دَ رُبَّ نه راځی مګر فعل ماضی ـ مثال رُبَّ رَجُلٍ كَرِيْمٍ لَقِيْتُه

۴۔ضابطه:۔ اوکله مدخول دَ رُبَّ ضمیرِ مبهم راشی. بیا تمیز دَ هغی راځی نکرة موصوفه مثال دَ هغی لکه رُبَّ رَجُلاً جَوَاداً لَقِیْتُهٗ۔

۵۔ضابطه:۔ مطابقت دَ ضمیر دَ رُبَّ دَ تمیز سره په افراد و تثنیه ، جمعیت، تذکیر او تانیث کښې ضروری دے که نه دے؟ (جواب) په دیکښې دوه مذهبه دی (۱) یو مذهب دَ بصریینو حضراتو دے (۲) مذهب دَ کوفیانو حضراتو دے. بصریین حضرات وائی چه مطابقت دَ ضمیر دَ رُبَّ به دَ تمیز سره نشی کولے. ځکه چه ضمیر مطابق وی دَ مرجع سره اوداتمیز دَ دے دَپاره مرجع نه دے بلکه داضمیر مبهم دے. لِهٰذا وائے به ته رُبَّهٗ رَجُلاً۔ رُبَّ رَجلین، رُبَّ رِجالاً ۔ رُبَّ اِمْرَئَۃً، رُبَّ امرأتین، رُبَّ نِسَاءً۔

او کوفیین حضرات وائی چه مطابقت دَ ضمیر دَ رُبَّ سره ضروری دے فی التذکیر والتانیث والافراد والتثنیه والجمعه. ځکه چه مرجع دَ دے ضمیر دَپاره دا تمیز دے او ضمیر مطابق کولے شی دَ مرجع سره. مثال ۔ رُبَّ رَجُلاً ، رُبَّهُمَا رَجُلَیْنِ ، رُبَّهُمْ رِجَالاً ، رُبَّهَا اِمْرَأَۃً رُبَّهُمَا اِمْرَأَتَیْنِ ، رُبَّهُنَّ نِسَاءً۔

ضابطه په فی کښې ۔ فِیْ راځی په درے تقسیم کښې (۱) اسمی (۲) حرفی (۳) فعلی۔

۱۔ فِیْ چه اسمی راځی. دا یو اسم دے دَ اسماء ستّه مکبره نه. بیا ضابطه داده چه دا به مرفوع دی بالواو. په حالت رفعی کښې اعراب بالحرف به وی او منصوب دی بالالف په حالت نصبی کښې. او مجرور به وی بالیاء په حالت جری کښې. او په معنی خُلے سره راځی لکه کلمته وفُوْهُ الی فِیَّ۔

۲۔ فعلی دے. دا بیا په صیغه واحد مؤنث امر حاضر معلوم سره راځی دَ وَفٰی یَفِیْ نه لکه فِیْ دَ وَقٰی یَقِیْ نه راځی. او (فِ) صیغه واحد مذکر حاضر ده. پشان دَ (قِ) غونډے او معنئ ئے ده وفاکردن۔

۳۔ هغه فِیْ حرفی ده ۔ او دا داخلیږی په اسم صریحی باندے یا تأویلی باندے او هغه لره جر ورکوی. او دغه فِیْ په لس معانو سره راځی: (۱) للظرفیة (۲) للاستعلاء (۳) للمصاحبة (۴) للتعلیل (۵) بمعنی الی (۶) للزیادة (۷) للبدل (۸) بمعنی الباء (۹) بمعنی عند (۱۰) بمعنی بین۔

ضابطه په عن کښې ۔ دا دره ۔ عن په درے قسمه دے (۱) عن فعلی (۲) عن اسمی (۳) عن حرفی

۱- عن فعلی راځی په تشدد دَ نون سره په معنیٰ دَظهور سره دی.
۲- عن اسمی په معنیٰ دَجانب سره راځی اوعلامه ئے داده چه په دے باندے به بل حرف داخل شوے وی. لکه داقول دَ شاعر.

لقد ارانی للرماح دریئة - من عن یمینی تارة وامامی. ای من جانب یمینی
۳- حرفی - دا عن حرفی دَ تسیماً نو په نزد په دوه قسمه سره دے.
۱- عن حرفی مصدریه - لکه اعجبنی عن تفعل - دلته دا عن په معنیٰ دَ اَنْ مصدیة سره دے. اوویته بیا عَنْعَنَه تمیمی وائی.
۲- قسم - عَنْ حرفی جارة - دا بیا په (۹) قسمه معانیو سره راځی (۱) للبعد (۲) للبدل (۳) للاستعلاء (۴) للاستعانة (۵) للتعلیل (۶) بمعنی بعد (۷) للزیادة (۸) بمعنی من (۹) للظرفیه
ضابطه په علیٰ کښے - علیٰ په درے قسمه سره دے (۱) علیٰ اسمی (۲) علیٰ فعلی (۳) علیٰ حرفی.
۱- علیٰ اسمی دا راځی په معنیٰ دَ فوق سره. اوعلامه کَدے داده چه په دے باندے به بل حرف جر داخل شوے وی. مثال زَیْدٌ سقط من علی الجدار.
۲- علیٰ فعلی دے - دا راځی دَ باب دَ نصر دفعت دا به ماخوذ وی دَ عَلَا یَعْلُوْ نه.
۳- قسم - علیٰ حرفی جاره دے. او دا علیٰ حرفی جارة بیا په (۱۳) قسمونو سره راځی.
(۱) للاستعلاء (۲) بمعنی الباء (۳) للمصاحبة (۴) بمعنی فی (۵) للتعلیل (۶) بمعنی عن (۷) بمعنی من (۸) للاستدراك (۹) للصرر (۱۰) بمعنی عند (۱۱) للمقابلة (۱۲) بمعنی الی (۱۳) للعوض (۱۴) بمعنی الشر.
الیٰ راځی په شپږ معنو سره (۱) لانتهاء (۲) للمصاحبة (۳) للظرفیة (۴) بمعنی عند (۵) بمعنی من (۶) بمعنی اللام.

# بحث دَحروف مشبه بالفعل

دویم قسم دَحروفو عامله دَ اسم نه حنه حروف مشبه بالفعل دی. اوحروف مشبه بالفعل شپږ دی. لکه شاعر وائی:
اِنَّ بَاَنَّ کَاَنَّ لَیْتَ لٰکِنَّ لَعَلَّ - ناصب اسم مند رافع درخبر ضد ما ولا

۱- ضابطه - دا حروف داخلیږی په مبتداء او خبر باندے.

۲- ضابطه - بیا مبتداء لره نصب ورکوی او خبر لره رفع ورکوی عند البصرین. لکن عمل د دے مشروط دے په شرطونو سره (۱) رعایت الترتیب بین الاسم والخبر (۲) عدم وجود ماء الکافة بعدها.

۳- ضابطه - داچه تقدیم د خبر د اِنَّ په اِنَّ جائز نه دے. په دے شرط چه دا خبر ظرف یا جار مجرور نه وی. او که خبر ظرف او جار مجرور وُو بیا نو دا اسم د اِنَّ به خالی نه وی یا به نکره وی او یا به معرفه. که نکره وه نو بیا تقدیم د خبر واجب دے په اسم د اِنَّ باندے. لکه: اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا - اِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرٌ اِنَّ مِنَ الشِّعْرِ لَحِكْمَةٌ. او که دا اسم د اِنَّ معرفه وُو. نو بیا به خالی نه وی. یا به متلبس بلام التاکید وی یا نه. که وُو اهم تقدیم د خبر په اسم باندے لازم دے. مثال لکه قوله تعالیٰ وَاِنَّ مِنْ شِيعَتِهٖ لَاِبْرَاهِيْمُ. او که نه وُو نو بیا به خالی نه وی یا به متلبس وی په ضمیر باندے چه راجع وی جز د خبر ته. یا به متلبس نه وی. که متلبس وو نو بیا تقدیم د خبر واجب دے په اسم د اِنَّ باندے. مثال لکه اِنَّ فِي الدَّارِ صَاحِبَهَا. او که متلبس نه وو نو بیا جائز دے لکه مثال اِنَّ اِلَيْنَا اِيَابَهُمْ وَاِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ.

## خبر د اِنَّ په اعتبار د تقدیم سره په اسم د اِنَّ باندے

داقسم تقسیم په درے قسمه سره راځی (۱) واجب التقدیم فی ثلاثة مواضع (۲) جائز التقدیم (۳) ممتنع التقدیم - (۱) واجب التقدیم فی ثلاثة مواضع -

۴- ضابطه - داچه لام تاکید به په خبر د اِنَّ کښے راځی په کثرت سره او په خبر د لٰکِنَّ کښے په قلت سره. او په خبر د باقی حروف مشبه بالفعل کښے نه راځی.

۵- ضابطه - دریم داچه عطف په محل د اِنَّ او د لٰکِن باندے او د هغه اَنَّ چه په حکم د اِنَّ کښے وی. لکه داقع وی درو ستو د افعال قلوب نه نو دا جائز دے. او عطف په محل د اسم د باقی حروف مشبه بالفعل نه دا نه دے جائز.

۶- ضابطه - اِنَّ په اعتبار د حرکت د همزے سره درے قسمه سره دے (۱) مکسورة الهمزة وجوبًا. کومے دا مقام د جملے وُو. (۲) قسم مفتوحة الهمزة وجوبًا. کومے دا

مقام مقام دَ مفرد وی (۳) جوازدَ وجهین .کہ چرے دا مقام محتمل دَ احتمالین وُو -

۷- ضابطه - دَ إنَّ مکسورة الهمزه هغه لس ځایونه (مقامونه) دی -

۱- ابتداء الکلام حقیقةً . مثال إِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ . او حکماً مثال كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغٰى . اَلَا إِنَّ اولِيَاءَ اللهِ (۲) بعد القول مثال قَالَ إِنِّيْ عَبْدُ اللهِ (۳) جواب القسم مثال وَاللهِ إِنَّكَ لَصَادِقٌ (۴) صلة الموصول مثال جاء الذی انه مجتهدٌ (۵) اذا وقعت مع ما بعد ها حالاً مثال قصدته وَ إِنِّيْ واثِقٌ بِهٖ (٦) اذا وقعت بعد حيث او اذا مثال اجلس حيث إِنَّ خليلاً جالسٌ (۷) اذا وقعت بعد عامل علق باللام مثال علمت ان خليلا لَمُخْلِصٌ (۸) اذا وقعت خبراً عن اسم ذات او صفة له مثال سليم انه كريم جاء خليل انه فاضل (۹) اذا وقعت جملة استنافية مثال يزعمون انَّ متكا سلٌ (۱۰) بعد حتى الابتدائيه مرض سليم حتى انَّهٗ لايرجونه .

لا یَنْصُرْ. مثال دَ حرف شرط اِنْ تَنْصُرْ اَنْصُرْ۔

پوه شه اے طالبه! په دے خبره باندے چه اِنْ په دوه جملو باندے داخلیږی۔ مثال اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ۔ اولے جملے ته شرط وائی او دویمے جملے ته جزاء وائی۔ ادات شرطی دَ پاره دَ مستقبل اګرچه په ماضی داخل شی۔ مثال لکه اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ. بیا دغه مقام کښے جزم تقدیری وی ځکه چه ماضی معرب نه ده۔

پوه شه اے طالبه! هرکله چه دَ شرط جزاء جمله اسمیه وی یا امر وی یا نهی وی یا دعاوی نو نو بیا په جزاء کښے داودل لازم وی۔ لکه چه ته وائی۔ که ته ما ته راغلے نو ته به عزتمنده یا ستا به عزت وکړے شی۔ او که تا زید ولیده نو دَ هغه عزت اوکړه۔ او که تا ته عمرو راغے نو ته دَ هغه اهانت مکوه۔ او که تا ما عزت اوکړ نو خدائے پاک به تاله بدله درکړی۔

# تشـــریحات

دلته لابدی ده دَ معرفت دَ امورو خښتو نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ مشق (۴) ذکر دَ امثالو (۵) دَ بعضو جملو ترکیب۔

**اول بحث دَ تحقیقاتو:** دویم قسم دَ حروفو عامله ؤ نه هغه حروف دی چه فعل مضارع ته جزم ورکوی۔ دَ دوی کُلْ تعداد پنځه دی ( لَمْ ۔ لَمَّا ۔ لَامُ اَمْرٍ ۔ لائی نهی ۔ اِنْ شرطی ) هغه اول قسم چه صِرف یو فعل ته جزم ورکوی۔ د ابیا پنځو کو دکښے په دوه قسمه سره دے یو هغه حروف دی چه صرف یو فعل ته جزم ورکوی دَ هغے تعداد څلور دی ( لَمْ ۔ لَمَّا لَامُ امر ۔ لائی نهی ) دویم قسم هغه حروف دی۔ دوه فعل ته جزم ورکوی هغه بیا صرف یو حرف شرط دے چه اِنْ دے۔

دَ هغے څلورو حروفو نه هر یو حرف چه په فعل مضارع باندے داخل شی نو دَ فعل مضارع څلور مفرد صیغو نه چه صحیح وی۔ ناقص واوی یائی نه دی حرکت ساقط کوی۔ جزم ورله ورکوی۔ هغه څلور صیغے دادی (۱) واحد مذکر غائب (۲) واحد مذکر مخاطب (۳) واحد متکلم (۴) جمع متکلم ۔ لکه مثال مذکورو کښے ذکر شو۔ او که دغه څلور صیغو دَ فعل ناقص واوی یا فعل ناقص یائی وی نو بیا دَ حرکت په ځائے به حرف علت ساقط کوی مثال لکه ۔ لَمْ تَدْعُ ۔ لَمْ یَرْمِ ۔ لَمَّا یَدْعُ ۔ لَمَّا یَرْمِ ۔ لِیَدْعُ ۔ لِیَرْمِ ۔ لَا تَدْعُ ۔ لَا تَرْمِ

اِنْ تَنْعِ اَدْعُ - اِنْ تَرْمِ اَرْمِ . دَادْه صیغو نه نون اعرابی ساقط کوی . هغه اوه صیغے داځ غلوړ تثنیه . دوه جمع مذکر . یو واحده مؤنثه مخاطبه (۴+۲+۲=۶+۱=۷) کیږی (۷+۴=۱۱) شو . دوه صیغے د جمع مؤنث دی چه هغه مبنی دی . هغه کښے اختلاف نه راځی (۱۱+۲=۱۳) شو

## فرق په مابین دَلَمْ او لَمَّا کښے

سوال :- لَمْ او لَمَّا کښے څه فرق دے ؟

جواب :- لَمْ او لَمَّا کښے څلور څیزونو کښے فرق دے او پنځه څیزونو کښے اتحاد دے فرق دا دے :- (۱) لَمَّا راځی د پاره د استغراق . یعنی استغراق د نفی را ولی د جمیع اجزاء د زمانے ماضی لره . او په لَمْ کښے استغراق نشته .

(دویم فرق) - لَمَّا نه حذف د فعل کیږی غالبًا نه د لَمْ نه .

(دریم فرق) - د لَمَّا مدخول متصل په باَنْ سره . نه د لَمْ .

(څلورم فرق) - لَمَّا چه په ماضی باندے داخل شی بیا ظرفیه شرطیه شی . په مضارع چه داخل شی عمل د جزم کوی . او په وسط چه داخل شی نو بیا په معنیٰ د اِلَّا استثنائیه وی . مثال لکه اَتَتْهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ یَدْعُوْهُ . مثال ثانی لکه لَمَّا یَضْرِبُ . مثال ثالث دَاِنْ کُلٌّ لَمَّا جَمِیْعٌ لَدَیْنَا مُحْضَرُوْنَ .

په پنځه څیزونو کښے اتحاد دے . (۱) چه دواړه حروف وی (۲) په دخول کښے په فعل مضارع باندے داخلیږی (۳) دواړه د مضارع صیغو ته جزم ورکوی (۴) مضارع ماضی منفی جوړوی (۵) دواړه د نفی د پاره راځی .

دریم لام امر دے . دغه لام دا به مکسور وی . ځکه چه دا مشابهت لری د لام جاره سره په اختصاص کښے . یعنی څرنګه چه لام جاره خاص دے تر اسماؤ پورے دغه رنګه لام امر هم خاص دے تر افعالو پورے . نو لام جاره خو مکسور وو دا هم مکسور شو . لام جاره خو ځکه مکسور وو چه خپل مدخول باندے عمل د جر کوی دوی یا لام جاره مؤثر شو او دا جرنے ورته اثر شو . نو دا مقرون شو په حرکت سره چه هغه اثر د دے وو . د پاره د دے چه موافقت راشی په مابین د مؤثر او اثر کښے .

کله د ے خپل شکل بدلوی . په سکون سره راځی . داهغه وخت په سکون سره راځی چه په دے باندے دَخول دَ (فاء - وَاوْ - ثُمَّ) اوشی . مثال لکه : فَلْیَضْحَکُوْا قَلِیْلًا مثال دَ وَاوْ لکه : وَلْیَبْکُوْا کَثِیْرًا . مثال دَ ثم لکه : ثُمَّ لْیَقْضُوْا تَفَثَهُمْ

**دوم قسم** - هغه حرف چه دوؤه فعل ته جزم ورکوی هغه صِرف یوحرف دےچه اِنْ حرف شرط دے . دغه اِنْ حرف شرط په دوؤه جلو باندے داخلیږی . مثال لکه اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ . تَضْرِبْ یوه جله ده اَضْرِبْ بله جمله ده . اولے جلے ته شرط وائی او دو یمے جملے ته جزاء وائی .

**سوال** :- اولے جملے ته شرطیه ولے وائی اودو یمے جملے ته جزاء ولے وائی ؟

**جواب** :- اولے جملے ته شرط ځکه وائی . چه شرط په لغت کښے علامے ته وائی . دا اوله هم علامه ده په وجود دَجملے ثانی باندے . ځکه چه جله اوله موجود شی نو جمله ثانی جله موجودیږی . او جملے ثانی ته جزاء ځکه وائی چه ځرنګکه جزاء حقیقی موقوفه ده په بدل دَخپل عمل باندے . نو دا سی لکه داجزاء نحوی هم موقوفه ده په شرط باندے داجله اوله چه شرط ده دا به جله فعلیه وی . او اسمیه نشی راتلے . ځکه چه دخول دَاِنْ به راشی په جمله اسمیه باندے . حال دادے چه اِنْ داخلیږی په فعل باندے نه په اسم . ځکه چه دخول دَاِنْ په جله اسمیه باندے په کلام دَعربوکښے نه دے موندل شوے . اوجملے ثانیه داجزاء ده . نو داجله فعلیه او اسمیه دواړه راتلے شی.

**سوال** :- مصنفؒ ولے دَاِنْ بحث مستقل ذکرکړے په لفظ دَبدلاَنْ سره هغوئ نورو سره ذکر نکره ؟

**جواب** :- دَدے دے خصوصیا تو دَوجه نه ئے داځانله ذکر کړه (۱) دنورو حروفو تعلق یو فعل سره وی او دَاِنْ تعلق دوؤه فعل سره (۲) دَنورو حروفو معمولات فعل مضارع ده . او دَاِنْ معمولات فعل مضارع اوفعل دواړه دی . (۳) چه دا اِنْ په ماضی داخل شی . دَدوئ معنی به هم دَمستقبل په معنیٰ کړځوی اګرچه عمل دَاِنْ جزم وی خو په ماضی باندے تقدیرًا عمل کوی ځکه چه هغه مبنیٰ دے مبنی باندے اعراب نه جاری کیږی

خلورحالات یقی سره راځی (۱) شرط اوجزاء دواړه فعل مضارع وی (۲) یا دواړه

فعل ماضی وی (۳) یا به شرط فعل مضارع وی او جزاء به فعل ماضی وی (۴) یا به شرط فعل ماضی وی او جزاء به فعل مضارع وی.

که دواړه مضارع وی نو اِنْ به عمل دَجزم کوی په دواړو کښې وجوبًا. له وجه دَوجود دَعامل نه چه اِنْ دے. له وجه دَصلاحیت محل نه چه فعل مضارع دے.

که دواړه فعل ماضی وی. نو دواړه د بانده عمل محال دے. عمل به تقدیری وی ځکه ماضی مبنی ده. لکه اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ

که شرط مضارع وی جزاء ماضی وی. نو بیا شرط بانده عمل واجب او جزاء بانده عمل تقدیری له وجه دَعلت مذکوره جانبین

که شرط فعل ماضی وی او جزاء فعل مضارع وی. شرط بانده عمل نشته او جزاء بانده جائز دے. جزم جائز ترك دَجزم هم جائز. جزم جائز له وجه دَوجود دَعامل نه له وجه دَوجود صلاحیت دَمحل نه. او ترك دَجزم له وجه دَوجود فاصل بین العامل والمحل والفاصل الماضی (تفکر)

اِنْ چه فعل مضارع داخل شی. حالیت معنی ختم استقبالیت قائم. او که اِنْ فعل ماضی بانده داخل شی معنی د ماضیت ختم شی معنی دَاستقبالیت قائم شی. مثال لکه اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ. مثال ثانی لکه اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ. نو مصنفؒ ځکه فرمائی چه اِنْ راځی دَپاره دَمستقبل. اګرچه دے په ماضی داخل شی هم معنی دَمضارع مستقبل به کوی اعراب به پکښې تقدیراً وی. ځکه چه هغه معرب نه دے

## دویم تحقیق په جزاء او شرط کښې

فعل مضارع چه واقع شی د دوستو دَجزاء دَشرط نه او مقترن دی وَاو او فاء عاطفه سره په هغه کښې درې اعرابه جائز دی (۱) رفع لانه جلة مستأنفة (۲) جزم لانه معطوف علی الجزاء (۳) نصب بتقدیر اَنْ مثال لکه قوله تعالیٰ وَاِنْ تُبْدُوْا مَافِيْ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَاءُ بالرفع فیغفر بالجزم فیغفر بالنصب

او له دغه فعل مضارع واقع شوی وی په مابین دَشرط او جزاء کښې. هغه کښې دوه وجه جائز دی (۱) نصب بتقدیر اَنْ (۲) جزم علی العطف.

کله کله په دے جزاء دَ شرط باندے فاء راځي نو بیا جزاء به په اعتبار دَ دخول دَ فاء سره په درے قسمه سره راځي (۱) ممتنع الفاء (۲) جائز الفاء (۳) واجب الفاء.

تفصیل دَ دے خبرے دا دے که جزاء دَ شرط فعل ماضی متصرف وُو لفظاً یا معنیً او خالي وي دَ قَدْ نه لفظاً او تقدیراً او په مقام دعا کښے هم نه وو مستعمل نو فاء داخلول په دغه جزاء کښے ممتنع دے. مثال لکه اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ شو.

او که جزاء د شرط فعل مضارع مثبت وو او خالي وو دَ سین اودَ سوفَ نه یا جزاء فعل مضارع منفي وو په لَا سره نو په دغے کښے جواز دَ وجهیات دے یعني دخول دَ فاء او عدم دخول دَ فاء علاوه دَ دغه مذکور نه چه جزاء هر شے راشي نو په دغے باندے فاء راوړل واجب دي علاوه دَ دے مذکور نه (اتّهٔ) صورتونه نور راځي چه په دغے باندے فاء جزائیه راوړل واجب دي (۱) جزاء دَ شرط جمله اسمیه وي (۲) یا امر وي (۳) یا نهي وي (۴) یا فعل مضارع منفي په ما سره (۵) یا فعل مضارع مثبت وي په سین او سوف سره (۶) یا فعل ماضي غیر متصرف جزاء واقع شي (۷) یا فعل ماضي متصرف جزاء واقع شي مع القد لفظاً یا تقدیراً (۸) یا جزاء فعل ماضي متصرف وي او خالي وي دَ قد نه لفظاً او تقدیراً خو دا مقام مقام دَ دعا وي.

## دریم تحقیق په شرط او جزاء کښے

(۱) شرط او جزاء غالباً دواړه مذکور وي (۲) شرط حذف کیږي وجوباً مع بقاء جزاء ف مواضع الخمسة (۱) بعد الامر مثال قوله علیه السّلام. قُولُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تُفْلِحُوْا شرط محذوف دے. ای اِنْ تَقُلْتُمْ لَا اِلٰهَ (۲) بعد النهي مثال لکه لا تشتم یکن خیراً لك ای ان لا تشتم (۳) بعد الاستفهام مثال لکه اینَ بیتك ازرك ای اِنْ تعرفینه (۴) بعد التمنی مثال لکه لیت لی مالا انفقه ای ان ارزقه (۵) بعد العرض مثال لکه الا تنزل بنا نصیب خیراً ای ان تنزل. دغه مذکوره مواضع خمسه وُو نه ما بقیه مقامونو کښے شرط حذف کول شي جواز په وخت دَ وجود د قرینه دالّ کیږي په تعین د محذوف سره. مثال لکه قوله تعالیٰ. فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ دا جمله اسمیه جزاء واقع شوي دَ شرط محذوف دَ پاره ای اِنْ ارادوا اولیاء بحق فاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ.

او کله جزاء حذف کولے شي بغیر دَ مسئله نه سره د بقاء دَ شرط. مثال لکه دَ اِنْ کَانَ کَبُرَ

عَلَيْكَ اِعْرَاضُهُمْ نو دا جزاء ده شرط محذوف دے چه هغه فَاء دَ فعل ده وقوله تعالیٰ وَلَوْ تَرٰى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ جزاء دَ دے حذف شویده چه لَرَاَيْتَ اَمْرًا عَظِيْمًا وقوله تعالیٰ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ جزاء دَ دے حذف شوید۰ ای اعرضوا

کله جزاء حذف کیږی سره دَ بقاء دَ شرط نه او سره دَ سد مسد نه ، مثال لکه: قوله تعالیٰ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ نو جزاء محذوف ده چه فَاصْبِرْ یا جزاء وَلَا تَحْزَنْ دا فقد کذبت دال بالجزاء ده ۰ اتما مصنفؒ فَا داو رل ضروری کریدی . لیکن څومره څومره صود تو نو کښے چه فاء راځی هغه ئے نه دی ذکر کړی نو فاء خو ځکه ذکر کوو چه دغه اِنْ حرف شرط تاثیر نه دے . هر کله چه تاثیر دَ اِنْ دا نشی نو بیا فعل ماضی مضارع ته نه ده منتقل نو تخصیص هم را نغے ځکه لا یدی شوه دَ ربط نه ما ربط نه دی لکه لفظاً فَاء داو رل ضروری شو ( فتفکر )

## دویم لفظ ذکر دَ ضوابطو

---

۱- ضابطه :- شرط او جزاء کښے څلور صورتونه دی (۱) دواړه فعل مضارع وی نو دواړو باندے جزم واجب شو (۲) شرط مضارع وی فقط شرط باندے جزم واجب دے (۳) فقط جزاء مضارع وی نو جزم او رفع جا نبین جائز شو (۴) دواړه ماضی دی جزم به نه وی .

۲- ضابطه :- فعل مضارع دَ (اتی) څیزو نو جواب کښے واقع کیږی او فاء نه بغالی وی . اوله جمله به ثانی دَ پاره سبب وی او فعل مضارع به مجزوم وی له وجه دَ اِنْ مقدر ه مثال لکه (۱) امر (۲) نهی (۳) استفهام (۴) تمنی (۵) عرض (۶) دعا (۷) تخصیص (۸) نفی .

۳- ضابطه :- فعل مضارع چه واقع شی ورو سته دَ جزاء دَ شرط نه او مقترن دی په وَاو او فاء عاطفه سره . په هغه کښے درے اعراب جائز دی ( رفع - نصب - جزم )

۴- ضابطه :- کله جزا فعل ماضی دی بغیر دَ قد نه بیا دَ هغے مخکښے فاء راوړل جائز نه دی . مثال لکه اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ .

۵ - ضابطه :- کله جزاء فعل مضارع مثبت وُو یا منفی فعَ په لَا سره نو فاء داورل اونه داورل دواړه جائز دی . مثال لکه إِنْ يَكُنْ مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا ، وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ اللَّهُ مِنْهُ -

۶ - ضابطه :- کله چه جزاء فعل ماضی بغیر دَ قَدْ نه وی اوجزاء فعل مضارع مثبت یا منفی په لَا سره هم نه وو . یعنی خلاصه دا شوه چه غلور ے او پنځمے ضابطے قوانین پکښے نه وُو . بیا فا داورل واجب دی . مثال إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُ مِن قَبْلُ - وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ -

۷ - ضابطه - که دغه فعل مضارع واقع شی په ما بین دَ شرط اوجزاء کښے هغے کښے دوه وجهه جائز دی (۱) نصب بتقدیر اَنْ (۲) اوجزم علی العطف

۸ - ضابطه - دغه حروفِ جوازم چه فعل ته جزم ورکوی په دوه قسمه سره دے یو هغه حروف جوازم دی چه صِرف یو فعل ته جزم ورکوی . هغه څلور حروف دی (لَمْ - لَمَّا - لَامِ امر - لَا دے) چه داځی په نهی کښے -

۹ - ضابطه - کله کله دغه لام امر لا ئی نهی استعمارسره خلق غواړی دعاجاره بیا به هم فعل مضارع ته جزم ورکوی . مثال لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ - لَا تُؤَاخِذْنَا

۱۰ - ضابطه - هغه حروف چه دوه فعلین جزم کوی هغه حقیقةً کښے نهه دی . موږ مثال کښے صِرف یو ذکر کړیدے . له وجه دَ ما تن دَ ذکر کولو نو حقیقةً کښ هغه نهه دی (إِنْ - إِذْمَا - مَهْمَا - مَنْ - مَا - مَتَى - أَيْنَ - أَنَّى - حَيْثُمَا) نو مجموعه نهه داد وکښے إِنْ اتفاق دے . ما بقیه کښے څه ناځه اختلاف شته دے . بیا دغه کود حروف په شیږو برخو باندے تقسیم کیږی . توجه اوکړی مطولاتو ته لکه : شُذُورُ الذَّهَبِ . کتاب دَ ابن هشام متوفی (۷۶۱)

۱۱ - ضابطه - شرط اوجزاء دواړه مذکور وی غالباً -

۱۲ - ضابطه - شرط حذف کیږی وجوباً مع بقاء دَجواز نه په پنځو مواضو کښے کما مرّ تفصیلها آنفاً -

# دریم بحث ذکر د امثالو

لم ينصر ولما ينصر لينصر لا تنصر إن تنصر أنصر
إن تؤمنوا وتتقوا فلكم أجر عظيم إن تعذبهم فإنهم عبادك وإن
تغفر لهم فإنك أنت العزيز الحكيم لما يدخل الإيمان في قلوبكم
إن تنصروا الله ينصركم لا تكفروا تدخل الجنة إن تصبروا وتتقوا
فإن ذلك من عزم الأمور إن جاؤك فاحكم بينهم إن تكفروا فإن
الله غني عنكم وإن تشكروا يرضه لكم وإن لم تفعلوا ولن تفعلوا فاتقوا
النار التي لم يلد ولم يولد اى ما ولد ولا ولد لما يضرب اى ما يضرب
فليضحكوا قليلا وليبكوا كثيرا إن تضرب أضرب إن ضربت ضربت
إن يكن منكم ألف يغلبوا ألفين ومن عاد فينتقم الله منه ومن
يبتغ غير الإسلام دينا فلن يقبل منه ولم يكن له كفوا أحد إن تبدوا
الصدقات فنعما هي لم تستطع عليه صبرا لينفق ذو سعة من سعته
ولنحمل خطاياكم لما يقض ما أمره بل لما يذوقوا عذاب لا تحزن
إن الله معنا ليقض علينا ربك ربنا لا تؤاخذنا وإن تعودوا نعد
إذا ما تقم أقم من يعمل سوءا يجز به وما تفعلوا من خير يعلمه الله
أينما تكونوا يدرككم الموت أي مكان تجلس أجلس وإن لم تفعل
فما بلغت رسالته إن كان قميصه قد من قبل فصدقت فمن يؤمن
بربه فلا يخاف بخسا إن كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله ومن
يكن الشيطان له قرينا فساء قرينا وإن تبدوا ما في أنفسكم أو تخفوه
يحاسبكم به الله فيغفر بالرفع على الاستئناف بالنصب بتقدير أن بالجزم على العطف

## څلورم بحث ذکر د مشق

سوال ـ ا ـ لم ينصر ، وإن لم تفعلوا ولن تفعلوا فاتقوا النار التي ، لم يلد
ولم يولد ، ولم يكن له كفوا أحد ، ولم تستطع عليه صبرا ، وإن لم تفعل فما

دِ سَالَتَہٗ - دغه مذکوره شپږ وجلو با ندے عامل لفظي داخل شويدے يا عامل معنوي؟

جواب - عامل لفظي.

سوال - بيا عامل لفظي کښے حروف عامله - يا افعال عامله يا اسماء عامله دي؟

جواب - حروف عامله دي.

سوال - بيا حروفو عامله داخل په اسم باندے هم دي او په فعل باندے هم دي. دلته کوم يو دي؟

جواب - دلته داخل دي په فعل مضارع باندے.

سوال - په فعل مضارع باندے چه دا حروف عامله داخل دي حروف جازمه دي او که حروف ناصبه دي؟

جواب - دا حروف جازمه دي.

سوال - حروف څومره دي؟

جواب - شپږ ذکر کړيدي نحومير ملا صاحب (۱۵) ذکر کړيدي شُذُوْرُ الذَّهَبْ کتاب دَ ابن هشام. پنځلس ذکر کړيدي قواعد النحويه المسمّی بالضرير ی شپږ ذکر کړيدي العلامات النحوية.

سوال - دَ دغه حروفو عمل څه دے او ضابطه پکښے څه ده؟

جواب - عمل خو هر چا ته معلوم دے چه جزم دے. دَ فعل مضارع معنٰی کرځوي فعل ماضي ته. بيا نفي کوي. خلور صيغونه حرکت حذف کوي (اته) صيغونه نون اعرابي حذف کوي. دوه صيغے پخپل حال باندے باقي وي چه هغه مبني وي او مبني باندے تعرف نشي کيدے. اول نه حذف لَمْ يَنْصُرْ ثاني نه حذف دَ نون اعرابي دَ جمع صيغے.

جواب - جواب کښے امر، نهي نو ناور سره ذکر شوه. فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ، لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ نه حذف دَ حرکت وَلَمْ يَكُنْ اَيْضًا وَلَمْ تَسْتَطِعْ اَيْضًا وَاِنْ لَمْ تَفْعَلْ دا ضابطه ده چه (اِنْ او لَمْ) يو ځائے نشي بيا جواب کښے فا راځي فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ جواب شو.

سوال - (۱) وَلَمَّا يَنْصُرْ (۲) لَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ (۳) لَمَّا يَضْرِبْ (۴) لَمَّا يَقْضِ مَا اَمَرَهٗ (۵) بَلْ لَمَّا يَذُوْقُوْا عَذَابِ. دغه پنځه واړه جملو باندے عوامل

داخل دی او یا نه؟

**جواب** - داخل دی.

**سوال** - عامل لفظی دی که عامل معنوی؟

**جواب** - عامل لفظی.

**سوال** - عامل لفظی درې قسمه دی حروف عامله. افعال عامله. اسماء عامله داکوم یو دی؟

**جواب** - دا حروف عامله دی

**سوال** - په اسم داخل دی که په فعل؟

**جواب** - په فعل

**سوال** - افعال خو ډیر دی داکوم یو دی؟

**جواب** - فعل مضارع.

**سوال** - فعل مضارع بانده خو دوه قسمه عوامل راځی. عوامل ناصبه او عوامل جازمه. داکوم یو دی؟

**جواب** - دا عوامل جازمه دی

**سوال** - نو عوامل جازمه څه عمل کوی؟

**جواب** - د مفرد و صحیح نه حرکت حذف کړی. لکه لَمَّا يَنْصُرْ لَمَّا يَضْرِبْ او د جمع صیغې نه نون اعرابی حذف شوی. او د ناقص مفرد نه حرف علت حذف شوے دے. مثال لکه مونږ کور لَمَّا يَقْضِ. بل لَمَّا يَذُوقُوا نه نون اعرابی ساقط شوی دے لَمَّا يَدْخُلِ الْإِيْمَانُ کښې نسبت الی الفاعل د وجه نه حرکت کسره ساقطه ده ځکه چه سکون ته حرکت ورکوی نو بیا به مکسور وی.

**سوال** - لِيَنْصُرْ، لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ دا څه واقع شوی دی په مونږ کور سوالات کښې؟

**جواب** - دلته حروف عامله ور بانده داخل دی. عامل لفظی دی. بیا جازمه دی دینه لام اَمْرُ وائی. دے هم جزم راولی په فعل مضارع بانده او معنی هم عمل کوی چه د فعل مضارع حقه معنی د حال ختم کوی مکمل مستقبل ته اړوی. لکه مونږ کور امثال کښې ما بقیه امثال بیا قرآن پاک کښې نظر اوکړئ.

سوال :- لَا تَنْصُرْ ، لَا تُؤَاخِذْنَا داخه واقع شویدی؟
جواب :- دلته لائی نهی ورباندے داخل شویدے حکه مجزوم دی. مثال ته توجه اوکړئ
سوال :- اِنْ تَنْصُرْ اَنْصُرْ ، وَاِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ ، اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ ، وَاِنْ تَعُدْ نَعُدْ ، اِذَا مَا تَقُمْ اَقُمْ - دا پخه وایه جلو باندے څه داخل شوے دی؟
جواب :- حروفِ عامله داخل شوے دی .
سوال :- حروف عامله څه عمل کوی ؟
جواب :- دا خو فعل مضارع دی . فعل مضارع باندے یا حروف جازمه داخل دی یا حروف ناصبه . دا اوس حرف جازمه ورباندے داخل دے .
سوال :- دَ دے حرف جازم څه عمل دے ؟
جواب :- حروف جازمه په دوه قسمه سره وُو . یو هغه حروفِ جازمه دی . چه صرف یو فعل جزم کوی . هغه خو څلور حروف دی . او بل هغه حرف دے چه دوه فعل جزم کوی . دا اوس هغه حرف جازم دے چه دوه فعل جزم کوی .
سوال :- دا تاڅنګه معلومه کړه ؟
جواب :- دا خو مے دَ لیسټے ضابطے نه معلومه کړه . بیا هغه (۹) حروفه دی اصل پکښ اِنْ دے .
سوال :- هر کله چه دوه فعلین جزم کوی نو د دواړو فعلینو ته څه وائی ؟
جواب :- اول فعل ته شرط وائی او ثانی جملے ته جزاء وائی .
سوال :- اول ته ولے شرط وائی ؟
جواب :- شرط خو علامے ته وائی دا هم علامه ده دَ ما بعد دَ جزاء دَ پاره .
سوال :- نو لوجزم دے که بعضے کښے شته بعضے کښے نشته ؟
جواب :- بعضو کښے تقدیراً مثلاً فعل ماضی څکه چه هغه مبنی ده . ما بقیه کښ حذف دَ حرکت سره دے . او بعضو کښے حذف دَ نون اعرابی سره دے لکه جمع او تثنیه صیغو کښے نون اکثر حذف کوی . فقط
سوال :- اِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ . اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ، وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ - اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ

إِنْ جَاءُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ ، إِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ د امجموعه جملې
په کلام دَ عربو کښې څه واقع شویدی ؟

**جواب** :- دا اول فعل شرط او جزاء واقع شویدی.

**سوال** :- دا څنګه معلومه شوه ؟

**جواب** :- دا معلومه شوه له وجه دَ ضوابطو نه . هغه دادی چه اِنْ په فعل مضارع باندې عمل کوی او په جواب کښې فاء راځی لکه مذکوره جملو کښې چه فاء اغلې دیر په عجیب انداز باندې سوچ پکښې اوکړئ.

**سوال** :- فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا دا څه واقع شویدی ؟

**جواب** :- دا جمله فعلیه امریه ده چه ورباندې لام امر داخل دے.

**سوال** :- دَ لام مکسور وی . دلته خو ساکن دے ؟

**جواب** :- دا ضابطه ده چه لام امر مکسور وی خو هر کله چه مابعد دَ فاء او دَ واؤ نه واقع شی بیا به مکسور نه وی بلکه ساکن به وی لکه سوال مذکور کښې چه لام لام امر ساکن شوئے

**سوال** :- (۱) مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ (۲) وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ (۳) أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ (۴) أَيُّهُمْ يَقُمْ أَقُمْ مَعَهُ (۵) وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ (۶) قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ (۷) فَمَنْ يُؤْمِنْ بِرَبِّهِ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا (۸) یا دویم قرائت کښې فَلَا يَخَفْ دا ئی بالرفع (۹) وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللَّهُ مِنْهُ . دغه مذکوره جملې باندې چه څومره عوامل داخلی دی دهغې نشان دهی اوکړی ؟

**جواب** :- اول مثال کښې حرف شرط مَنْ دے چه ذی عقل کښې مستعمل کیږی غالباً ځکه يَعْمَلْ کښې جزم راغے . ثانی مثال کښې ما حرف شرط دے استعمال دَ دے په لایعقل کښې ن یات دے غالباً . ثالث مثال کښې حرف شرط أَيْنَمَا دے چه دا وضع شوے دے دَ پاره دَ دلالت مکان . بیا معنٰی شرط دَ پاره متضمن دی بیا حقیقت کښې دردے حرفونه أَيْنَ - أَنّٰى - حَيْثُمَا . ځکه دغه جمع صیغی نه نون اعرابی حذف شویدے . رابع مثال کښې أَيُّهُمْ دے چه دَ مَنْ په مقام کار کوی . نو دغه ای بیا مترددے په څلور واقسامو کښې أَيُّ الرِّجَالِ ، تَقَلَّبُ أَذْنُبْ . دلته دَ مَا په ځائے کار کوی . أَيَّ يَوْمٍ تَصُمْ أَصُمْ دلته

متی په مقام کار کوی. اَیْ مَکَانٍ تَجْلِسْ اَجْلِسْ. دَ اَیْنَ په مقام کار کوی. نو حاصل دا شو چه دغه اَیْ په ظلوف و معنوسره راځی. خامس مثال کښې اِنْ دَ لَمْ سره یو ځائے شویٔ ځکه ئے یو جمله ساکنه کړه او په جواب کښې ئے فاء راغله. سادس مثال کښې دَ حذف حرف شرط دے. جواب کښې فاء راغله. سابع مثال کښې مَنْ دے لیکن فلا یَخَفْ بسکون راځی چه دَ لَا دَ نهی دپاره شی فَلَا یَخَافُ بالرفع راځی چه دَ لَا نفی دپاره داشی (فتفکر) تاسع (۹) مثال جمله اسمیه ده چه محتاج شی فاء ته لکه دَ مَنْ عَادَ فَیَنْتَقِمُ (الله ای فَهُوَ یَنْتَقِمُ الله منه. که دا تقدیر نه وی بیا به جزم راغلےوو فاء به نه وه راغلے.

# پنځم بحث دَ بعضو جملو ترکیب

لَمْ یَنْصُرْ - دا یَنْصُرْ صیغه دَ فعل مضارع معلوم ده چه لَمْ ورباندے داخل شو. نو صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع نفی جزم ورکړ. هُوَ ضمیر پکښې فاعل ده دا جمله فعلیه جازمه شوه په معنی دَ ماضی منفی شوه. نو دغه لَمْ دَ صحیح مضارع نه حرکت حذف کوی. دَ ناقص واوی او یائی حرف علت حذف کوی.

لَمَّا یَنْصُرْ - یَنْصُرْ صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده. کله چه لَمَّا حرف جزم ورباندے داخل شو نو یَنْصُرْ نه یَنْصُرْ مجزوم جوړ شو. جمله فعلیه جازمه ده.

لِیَنْصُرْ - یَنْصُرْ صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده. لام امر مکسور دے بالله داخل شو نو حالیت نه قطع شی. مستقبل کښې مستحکم شو. ځکه مجزوم شو دا هم جمله فعلیه امریه انشائیه شوه. ماقبل کښې دَ ماضی په معنی وو. لَمْ یَنْصُرْ ای مَانَصَرَ لَمَّا یَنْصُرْ ای مَانَصَرَ

لَا یَنْصُرْ - یَنْصُرْ صیغه واحد مذکر غائب لائی ناهیه ورباندے داخل شو منو یَنْصُرُ نه لَا یَنْصُرْ مجزوم جوړ شو. جمله فعلیه امریه ناهیه انشائیه.

اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ - اِنْ حرف شرط تَضْرِبْ صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ضمیر پکښې مستتر دے چه اَنْتَ دے هغه ورته فاعل. فعل مع الفاعل مع الحرف شرط دا جمله فعلیه خبریه فعل شرط. اَضْرِبْ صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم ضمیر پکښې مستتر چه تعبیر ئے کیږی په اَنَا سره هغه ورته فاعل شو. فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه جزاء دَ شرط. فعل شرط مع الجزاء نه دا جمله فعلیه خبریه شرطیه.

إِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ - إِنْ حرفِ شرط ضَرَبْتَ صيغه واحد مذکر مخاطب فعل ماضی معلوم ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیرئے کیږی په اَنْتَ سره هغه دے ته فاعل شو. فعل مع الفاعل د اجمله فعلیه خبریه فعل شرط ضَرَبْتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضی معلوم ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیرئے کیږی په اَنَا سره هغه دے ته فاعل. فعل مع الفاعل چه ضَرَبْتُ اَنَا دے. دا جمله فعلیه خبریه جزاء دَ شرط شوه فعل شرط مع الجزاء دَ شرط نه دا جمله فعلیه خبریه شرطیه شوه -

إِنْ تَأْتِنِیْ فَاَنْتَ مُکْرَمٌ - إِنْ حرف شرط تَأْتِیْ صیغه واحد مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم اَنْتَ پکښے ضمیر فاعل شو. نون وقایه یاء دَ متکلم مفعول به شوه دا جمله فعلیه خبریه فعل شرط. فاء جزائیه اَنْتَ مبتداء مُکْرَمٌ خبر. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه جزاء دَ شرط. فعل شرط مع جزاء دَ شرط نه جمله فعلیه خبریه شرطیه -

وَاِنْ رَأَیْتَ زَیْدًا فَاَکْرِمْهُ - إِنْ حرف شرط رَأَیْتَ صیغه واحد مذکر مخاطب فعل ماضی معلوم ضمیر پکښے مستتر چه اَنْتَ دے هغه دے ته فاعل شو. زَیْدًا دے ته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه فعل شرط فاءُ جزائیه. اَکْرِمْهُ صیغه واحد مذکر امر حاضر معلوم دَ باب افعال نه ضمیر پکښے اَنْتَ مستتر دے هغه دے ته فاعل شو. هُ ضمیر دے ته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول دا جمله فعلیه خبریه جزاء دَ شرط شو. فعل شرط مع جزاء دَ شرط نه دا جمله فعلیه خبریه شرطیه شوه.

وَاِنْ اَتَاکَ عَمْرٌو فَلَا تُهِنْهُ - إِنْ حرف شرط اَتیٰ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم. ضمیر منصوب متصل دے سره هغه مفعول به شو. عَمْرٌو دے ته فاعل شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه فعل شرط فاءجزائیه لا ناهیه تُهِنْ صیغه واحد مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم ضمیر پکښے مستتر چه اَنْتَ دے هغه دے ته فاعل شو. ه ضمیر متصل دے سره مفعول به شو فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه ناهیه انشائیه جزاء دَ شرط شوه. فعل شرط مع جزاء دَ شرط دا جمله فعلیه خبریه شرطیه شوه -

وَاِنْ اَكْرَمْتَنِیْ يُجْزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا - اِنْ حرف شرط اَكْرَمْتَنِیْ اَكْرَمْتَ صیغه واحد مذکر مخاطب فعل ماضی معلوم اَنْتَ ضمیر پکښې فاعل شو. نون وقايه ياء مفعول بہ شو. فعل مع الفاعل مع المفعول بہ دا جمله فعليه خبريه فعل شرط فاء جزائيه - يَجْزَا صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم. كاف ضمير متصل مفعول بہ. لفظ دَ الله ورته فاعل شو. خَيْرًا مفعول بہ شو. جزاء فعل مع الفاعل مع المفعول بہ دا جمله فعليه خبريه جزاء دَ شرط. فعل شرط مع جزاء دَ شرط نه دا جمله فعليه خبريه شرطيه شوه.

تَمَّتْ

بِعَوْنِ الْوَهَّابِ فِیْ يَوْمِ الْاِثْنَيْنِ (۱۱ - ۹ - ۱۴۲۳ھ) 2002-2-12م

# باب دوم در عمل افعال

بدانکه هیچ فعل غیر عامل نیست و افعال در اعمال بر دو گونه است
قسم اول معروف بدانکه فعل معروف خواه لازم باشد خواه
متعدی فاعل را رفع کند چون قَامَ زَيْدٌ وَضَرَبَ عَمْرٌو و شش
اسم را نصب کند اول مفعول مطلق را چون قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا وَضَرَبَ
زَيْدٌ ضَرْبًا دوم مفعول فیه
راچون صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَجَلَسْتُ فَوْقَكَ سوم مفعول معه را
چون جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ أَيْ مَعَ الْجُبَّاتِ چهارم مفعول له
راچون جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا. ششم تمیز را وقتیکه در نسبت
فعل با فاعل ابهامے باشد چون طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا امافعل متعدی
مفعول به را نصب کند چون ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا و این عمل فعل
لازم را نباشد۔

ترجمه:- دوېم باب دَ افعالو دَ عمل په بيان کښے دے.
پوه شه ای طالبه! هيڅ يو فعل غير عامل نشته (خامخا عامل لري) بيا دغه افعال
په عمل کښے په دوه قسمه سره دے. اوّل قسم معلوم افعال دی.
پوه شه ای طالبه! چه فعل معلوم لازمی وی که متعدی وی. فاعل ته رفع ورکوی
مثال لکه قَامَ زَيْدٌ وَضَرَبَ عَمْرٌو (قَامَ فعل لازمی دے زَيْدٌ ورته فاعل دے مرفوع
دے. ضَرَبَ فعل متعدی دے. عَمْرٌو ورته فاعل دے مرفوع دے) دغه افعال شپږ
اسمونو ته نصب ورکوی (اوّل) مفعول مطلق ته نصب ورکوی. مثال لکه قَامَ زَيْدٌ
قِيَامًا (قِيَامًا منصوب دے) اَضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا (ضَرْبًا منصوب دے) (يو مثال دَ لازمی
او دَ متعدی دی) (دوېم) مفعول فيه ته نصب ورکوی. مثال لکه صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ؛
وَجَلَسْتُ فَوْقَكَ (يو ظرف مثال دويم دَ ظرف مکان) دريم مفعول معهٗ ته نصب ورکوی.

مثال لکه جَاءَ الْبَرْدُ وَ الْجُبَّاتِ ای مع الْجُبَّاتِ (مفعول مَعَهٗ) مفعول لهٗ ته نصب ورکوی
مثال لکه قُمْتُ اِکْرَامًا لِّزَیْدٍ وَ ضَرَبْتُهٗ تَادِیْبًا (دپخپل) حال ته نصب ورکوی. مثال
لکه جَاءَ زَیْدٌ رَاکِبًا (سپرېږم) تمیز ته نصب ورکوی کله چه دَ فعل نسبت کښې فاعل
ته ابهام وی. مثال لکه طَابَ زَیْدٌ نَفْسًا یعنی بنه دے زید په څه لحاظ سره
بنه دے ضرورت پیدا شو تمیز ذکر کولو ته نَفْسًا او کیدہ یعنی دَ نفس په لحاظ سره بنه
دے. هرچه فعل متعدی مفعول به ته نصب ورکوی. مثال لکه ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا
دا عمل په فعل لازمی کښے نه دی (فتدبّر)

# تشریحات

دلته لاندی ده دَ معرفت دَ امور خمسه ذو نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو
(۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) دَ بعضو جملو ترکیب.

**اول بحث دَ تحقیقاتو** - هرکله چه مصنفؒ فارغ شو دَ باب اول نه چه هغه حروف
عامله ذو. اوس ئے شروع اوکړه اوکړه په باب ثانی کښے چه هغه افعال عامله دی.
(باب دویم درعمل افعال)

پوه شه ای طالبه! هیڅ یو فعل غیر عامل نه دی سوئ دَ قَلَّ. اوکَثُرَ. اوطَالَ نه
چه کله په دوی باندے مَا کافه داخل شی بیا دوئ ملغی عن العمل کرځی. دغه د لکه
کَانَ زائد هم غیر عامل دی. ما بقیه ټول چه افعال دی متصرف دی که غیر متصرف
تام دی که ناقص دی. لازمی دی که متعدی. معلوم دی که مجهول.

تقسیم دَ فعل اولاً په اعتبار دَ فاعل سره په دوه قسمه سره دے (۱) فعل معلوم (۲)
فعل مجهول. فعل معلوم هغه دے چه دَ هغې نسبت شوے وی فاعل ظاهر ته یا فاعل خفی
فعل معلوم ته ځکه معلوم وائی چه دَ دے فاعل معلوم دے. دَ دیته درے نومونه ورکوے
شی (۱) فعل معلوم (۲) فعل معروف (۳) مبنی للفاعل. فعل مجهول هغه فعل دے
چه فاعل دَ دے معلوم معلوم نه وی. دَ دے هم درے نومونه دی (۱) فعل مجهول (۲)
مبنی للمفعول (۳) فعل مالم یسمّ فاعل.

تقسیم ثانی باعتبار معنٰی - په دوه قسمه سره دے (۱) فعل لازمی (۲) فعل متعدی

فعل لازمی هغه دے چه یوائے په فاعل تمامیږی مفعول ته حاجت نه وی یو سری یا یو شیز ذکر. مثال لکه جَاءَ زَیْدٌ. ذَهَبَ زَیْدٌ فعل لازمی ته ځکه لازمی وائی چه دَ فاعل سره لازم وی. تجاوز دَ فاعل نه مفعول به ته نه کوی.

فعل متعدی دیته وائی چه یوازے په فاعل نه تمامیږی حتماً مفعول به ته محتاج وی یو سرے یو شیز ورته کافی نه دے. فعل معلوم لازمی وی که متعدی فاعل ځل ته دفع ورکوی لکه قَامَ زَیْدٌ - ذَهَبَ زَیْدٌ - جَاءَ زَیْدٌ. فعل متعدی چه مفعول هم ورسره ذکرکیږی. ځکه چه یوازے په فاعل باندے نه تمامیږی. مثال لکه ضَرَبَ زَیْدٌ - نَصَرَ زَیْدٌ - قَتَلَ زَیْدٌ - شَرِبَ زَیْدٌ مَاءً.

فعل لازمی - شپږ اسم ته نصب ورکوی (۱) مفعول مطلق (۲) مفعول فیه (۳) مفعول معه (۴) مفعول له (۵) حال (۶) تمیز ته -

۱- مفعول مطلق - هغه مصدر ته وائی چه دَ فعل مذکور په معنٰی. مثال لکه قَامَ زَیْدٌ قِیَامًا - ضَرَبَ زَیْدٌ ضَرْبًا - اِذَا دُکَّتِ الْاَرْضُ دَکًّا - وَتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا

۲- مفعول فیه - چه کوم وخت یاکوم ځائے کښے فعل دَ فاعل واقع وی. مثال لکه: صُمْتُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ - وَجَلَسْتُ فَوْقَكَ - سُبْحٰنَ الَّذِیْ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لَیْلًا.

۳- مفعول معه - هغه واؤ دے چه په معنٰی دَ مَعَ سره وی. مثال لکه جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ ای مَعَ الْجُبَّاتِ - وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاؤدَ الْجِبَالَ.

۴- مفعول له - هغه دے چه دَ هغے په وجه سره څه فعل صادر شی. مثال لکه قُمْتُ اِکْرَامًا لِزَیْدٍ. وَضَرَبْتُهٗ تَادِیْبًا. وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَکُمْ خَشْیَةَ اِمْلَاقٍ

۵- حال - هغه اسم دے چه دَ فاعل یا مفعول به حالت بیان کړی. یادواړو حالت بیان کړی. مثال جَاءَ زَیْدٌ رَاکِبًا - وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِیْنَ -

۶- تمیز - هغه اسم ته وائی چه دَ اول اسم نه ابهام لرے کړی. مثال لکه طَابَ زَیْدٌ نَفْسًا.

(۱) فعل متعدی مفعول به ته نصب ورکوی. مثال لکه: ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا. او فعل لازمی دیته نه وائی چه فعل فاعل دواړه واقع شی په مفعول باندے.

(۱) فعل متعدی او ۶ اسم ته انصب ورکوی (۱) مفعول مطلق (۲) مفعول فیه (۳) مفعول معه

(۴) مفعول له (۵) حال (۶) تمیز (۷) مفعول به.

## دوېم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه :- مفعول مطلق مصدر د فعل مذکور ته وائی. او مفعول مطلق بیا په درے قسمه سره دے (۱) تاکیدی (۲) نوعی (۳) عددی.

وجه دَ حصر دا ده چه دا مصدر به خالی نه وی. یا به په معنیٰ دَ دے کښے زیادت وی په معنیٰ دَ مصدر دَ فعل مذکور باندے. او یا به نه وی. که نه وُو نو دیته مفعول مطلق تاکیدی وائی. مثال لکه ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا. وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا او که په معنیٰ دَ دے که زیادت وو دَ فعل نه دا بیا به خالی نه وی. یا به پکښے مقصد بیان دَ نوع وی یا به پکښے مقصد بیان دَ عدد وی. که مقصد پکښے بیان دَ نوع وُو. دیته مفعول مطلق نوعی وائی. مثال لکه جَلَسْتُ جِلْسَةً. او که پکښے مقصد بیان دَ عدد وُو نو دیته مفعول مطلق عددی وائی. مثال لکه جَلَسْتُ جَلْسَةً بالکسر نوعی وی بالفتحه عددی دی.

۲- ضابطه :- مفعول مطلق تاکیدی نه تثنیه کیږی. نه جمع کیږی. او مفعول مطلق نوعی او عددی هم تثنیه کیږی او هم جمع کیږی. مثال لکه جَلَسْتُ جَلْسَتَيْنِ او جَلَسْتُ جَلَسَاتٌ.

۳- ضابطه :- مفعول مطلق بیا په دوه قسمه سره دے (۱) یو مفعول مطلق من لفظه. قَعَدْتُ قُعُوْدًا (۲) مفعول مطلق من غیر لفظه. قَعَدْتُ جُلُوْسًا.

۴- ضابطه :- عامل دَ مفعول مطلق کله کله حذف کولے شی جوازًا له وجه دَ وجود دَ قرینے داله نه په تعین دَ محذوف باندے. لکه خیرَ مَقْدَمٍ للقادم من سفرٍ ای قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَ مَقْدَمٍ.

۵- ضابطه :- او کله کله عامل دَ مفعول مطلق حذف کولے شی وجوبًا. بیا دا په دوه قسمه سره دے (سماعی - قیاسی) سماعی په اوو مقامونو کښے راځی کما ذکر فی الکافیه وهدایة النحو وغیرهما.

او عامل دَ مفعول مطلق حذف کولے شی په حذف وجوبی قیاسی سره په یوولس مقامونو کښے کما ذکر فی المطولات فرجع الیها.

# دَ مفعول فیه ضوابط

۱- ضابطه :- داهیشه ظرف وی . ظرف زمان وی یا ظرف مکان . ظرف زمان کښې فی مقدر وی . او ظرف مکان محدود کښې فی ذکر وی . خو ظرف مکان مبهم کښې ف ذکر نه وی . مثال دَ اول سِرْتُ یَوْمَ الْخَمِیْسِ . صُمْتُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ . جَلَسْتُ خَلْفَكَ مثال دَ ظرف مکان محدود جَلَسْتُ فِی الْمَسْجِدِ -

۲- ضابطه :- عامل دَ مفعول فیه حذف کول شی جوازًا په وخت دَ قرینې دا لکه په تعین دَ محذوف بانذے . لکه فَرْسَخَیْنِ ای سافرت فرسخین

۳- ضابطه :- عامل دَ مفعول فیه حذف کول شی په حذف وجوبی قیاسی سره په پنځه مقامونو کښې . (۱) که واقع شی بعد المبتداء - اَنَاعِنْدَكَ . اَنَامبتداء عندك مفعول فیه (۲) که واقع شی بعد الموصول . جَاءَنِی الَّذِیْ عِنْدَكَ (۳) که واقع شی بعد الموصوف مَرَرْتُ بِزَیْدٍ (موصوف) عندك (۴) که واقع شی بعد الحال مررت بزید (الحال) عندك (۵) که واقع شی بعد ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر یَوْمَ الْجُمُعَةِ سَافَرْتُ فیه

# دَ مفعول معه ضوابط

۱- ضابطه :- داهیشه په وَاوْ سره وی هغه واؤ چه په معنی دَ مع سره وی . دَ هغې دَپاره شپږ شرائط دی (۱) اسم وی (۲) فضله وی (۳) وَاوْ بمعنی مع (۴) واو نه بعد وی (۵) جمله نه بعد وی (۶) جمله فعل وی یا شبه فعل .

۲- ضابطه :- عامل دَ مفعول معه دا به خالی نه وی یا به لفظی وی یا به معنوی وی که عامل دَ دے لفظی وُو . نو دا بیا به خالی نه وی . یا به عطف جائز وی یا به نه وی . جائز بلکه ممتنع وی . که عطف ممتنع وُو نو په هغې کښې نصب متعین دے بنا بر مفعول معه مثال لکه ماشانك وعمرًا او که عطف پکښې جائز وُو بیا عطف متعین دے او نصب ممتنع دے بنا بر مفعول له . مثال لکه مَالِزَیْدٍ وَعَمْرٍو .

# دَمفعول له ضابطه

۱- ضابطه :- دا مفعول له هم مصدر وی. لیکن دَ فعل دَ علت اودَ سبب دَپاره وی. بیا مفعول لهٔ په دوه قسمه سره دے (۱) مفعول لهٔ علت مؤثره (۲) مفعول لهٔ علت غائبه - مفعول لهٔ علت مؤثرهغه ته وائی چه هغه مقدم وی په فعل باندے هم په وجود ذهنی کښے اوهم په وجود خارجی کښے. مثال لکه قعدت عن الحرب جبنًا (۲) اومفعول لهٔ علت غائبه هغه ته وائی چه هغه مقدم وی په فعل مذکور باندے په مرتبه دَ تصور کښے او مؤخروی په وجود خارجی کښے. مثال لکه ضَرَبْتُهٗ تَادِيْبًا

۲- ضابطه :- مفعول له منصوب وی په تقدیر دَ لام سره په دے شرط سره چه (۱) چه دا مفعول له مصدر وی (۲) علت دَ فعل مذکور وی (۳) متحد وی فعل مذکور سره په زمانه کښے (۴) متحد وی فعل مذکور سره په فاعل کښے. که دغه خلور واړه شرائط موجود نه وو کلًا یا بعضًا بیا منصوب وی په تقدیر دَ لام سره.

۳- ضابطه :- که دا خلور واړه شرائط معًا موجود وُو دا مفعول لهٔ به خالی نه وی (۱) یا به متلبس باللام وی (۲) یا به مجرد عن اللام والاضافت وی (۳) یا به مضاف وی

۴- ضابطه :- که مفعول له مجرد عن اللام والاضافت وُو. بیا نصب مختار دے جَر جائز دے. مثال لکه ضَرَبْتُ تَادِيْبًا مختارًا ضَرَبْتُ للتاديب جائزًا.

۵- ضابطه :- که مفعول له متلبس باللام وُو نو امر بالعکس وی یعنی دا شوه چه مختار نصب جائز مثال ضَرَبْتُ للتاديبِ مختار ضَرَبت لِلتَّادِيْبَ جائز

۶- ضابطه :- که مفعول لهٔ مضاف وُو نو نصب اوجر دواړه جائز دی. مثال لکه (۱) وَلَا تَقْتُلُوْا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ (۲) خَاشِعًا متصدِّعًا مِنْ خَشْيَةِ اللهِ

# دَ حال ضوابط

۱- ضابطه :- حال هغه شے دے چه دَ فاعل یا دَ مفعول یا دَ دواړو حالت بیانوی بیا په دوه قسم سره دے (۱) مفرد (۲) جمله خبریه - جمله خبریه چه کله حال واقع شی نو بیا په دوه قسمه سره دے (۱) جمله فعلیه (۲) جمله اسمیه - جمله اسمیه بیا په دوه قسمه سره

(۱) جمله اسمیه مثبته (۲) جمله اسمیه منفیه . جمله فعلیه چه حال واقع شي بیا په دوه قسمه سره ده (۱) جمله فعلیه ماضیه (۲) جمله فعلیه مضارعیه . بیا هر واحد دَ ماضیه او مضارعیه دوه دوه قسمه ده (۱) مثبته (۲) منفیه -

۲- ضابطه :- دَ فعل نه بعد اسم فاعل یا اسم مفعول منصوب راشي عام طور سره هغه حال واقع کیږي په دے شرط سره دغه اسم او مفعول دَ افعال ناقصه نه بعد نه وي . که افعال ناقصه نه بعد وي بیا هغه خبر کیږي . مثال دَ كَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيمًا او افعال قلوب نه بعد هم نه وي . که وي بیا هغه مفعول به کرځي عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا

۳- ضابطه :- حال همیشه نکره وي .

۴- ضابطه :- ذوالحال اکثر معرفه وي . که ذوالحال نکره وي نو حال به مقدم کوي په ذوالحال واجب دي .

## دَ تمیز ضوابط

۱- ضابطه :- تمیز هغه مبین ته وائي چه رفع دَ ابهام کوي دَ مفرد نه ، یا دَ نسبت نه . که رفع دَ ابهام کوي دَ مفرد نه . نو دا مفرد په دوه قسمه سره دے (۱) مفرد مقدار (۲) مفرد غیر مقدار .

۲- ضابطه :- تمیز چه رفع دَ ابهام کوي دَ مفرد مقدار نه . دغه مفرد مقدار په پنځه قسمه سره دے (۱) وزن - عندي رطل زیتًا (۲) کیل (۳) مساحت (۴) مقیاس (۵) عدد -

۳- ضابطه :- تمیز چه واقع شي دَ مفرد غیر مقدار نه هغه کښے جر بنا بر اضافت اولیٰ او نصب بنا بر تمیز -

۴- ضابطه :- تمیز مجرور راځي په واسطه دَ من سره

۵- ضابطه :- تمیز په اعتبار د منتصب عنه سره په درے قسمه دے (۱) مختص بالذات (۲) مختص په متعلق پورے (۳) مشترک وي . مثال اول لکه طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا . مثال ثاني طَابَ زَيْدٌ دَارًا . مثال ثالث طَابَ زَيْدٌ أَبًا -

۶- ضابطه :- تقدیم دَ تمیز علی العامل جائز دے او کنه تمیز مقدم کول په عامل جامد

باندے جائز بالاتفاق

۷-ضابطه :- دتمیز تقدیم په خپل عامل باندے چه فعل یا شبه دَ فعل وی جائز دے که نه دے جائز ؟ عندالجمهور لایجوز عندالمبرد والکسائی جائز

## دَ مفعول به ضوابط

۱-ضابطه :- تناسب دَ فواصل کوی. لکه مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰی -

۲-ضابطه :- ایجاز دَپاره راځی .

۳-ضابطه :- تحقیر دَپاره راځی.

۴-ضابطه :- للتعمیم دَپاره راځی

۵-ضابطه :- کله کله عامل دَ مفعول به حذف کولے شی په حذف جوازی په وخت دَ قرینے داله سره. اوکله حذف کولے شی عامل دَ مفعول به په حذف وجوبی سره یا وجوبی سماعی وی یا قیاسی -

۶-ضابطه :- حذف دَ عامل دَ مفعول به په حذف وجوبی سماعی سره په څلورو مقامونو کښے (۱) اِمْرَءَةً وَنَفْسَهٗ ای اترك ونفسه (۲) وَانْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ای عن التثلیث (۳) اهلا (۴) وسهلاً

۷-ضابطه :- حذف دَ وجوبی قیاسی په شپږ ومقامونو کښے (۱) منادیٰ (۲) علاول وکری دَ نعت مجرور نه نصب ته (۳) په مقام دَ اغراء کښے (۴) اختصاص (۵) په ماضمر عامله علیٰ شریطة التفسیر کښے (۶) په تحذیر کښے دَدے تفصیل وروسته راځی -

## دریم بحث په ذکر دَ امثالو کښے

قَامَ زَيْدٌ ضَرَبَ عَمْرٌو قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَجَلَسْتُ فَوْقَكَ جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ أي مع الْجُبَّاتِ قُمْتُ إِكْرَامًا لِزَيْدٍ ضَرَبْتُهٗ تَادِيْبًا جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا ضَرَبَ زَيْدٌ خَالِدًا اُذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا قُمْ إِكْرَامًا لِاُسْتَاذِكَ جَلَسَ الْمُدَرِّسُ اَمَامَ الطُّلَّابِ جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا ضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُوْدًا

لَا تَأكُلِ الْبَطِيخَ وَالْعَسَلَ جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِي جَلَسْتُ جَلْسَةً لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكَارٰى جَاءَ زَيْدٌ قَدْ خَرَجَ غُلَامُهُ جَاءَ زَيْدٌ يَسْعٰى حَلَّ زَيْدٌ نَسَبًا فَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَاِذِ ابْتَلٰى اِبْرَاهِيْمَ رَبُّهٗ بِكَلِمَاتٍ جَاءَ زَيْدٌ وَالْكِتَابَ زَيْدٌ اَكَلَ جَالِسًا اِشْتَرَيْتُ رِطْلًا زَيْتًا اِسْتَوَى الْمَاءُ وَالْخَشَبَةَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ضَرَبْتُ ضَرْبَتَيْنِ يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِيْ اٰذَانِهِمْ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ جَاءَ الْبَرْدُ وَالطَّيَالِسَةَ فَاَجْمِعُوْا اَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا اِنِّيْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً -

# څلورم بحث ذکر د مشق

سوال :- (۱) قَامَ زَيْدٌ (۲) وَضَرَبَ عَمْرٌو (۳) قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا (۴) ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا (۵) صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ (۶) وَجَلَسْتُ فَوْقَكَ - دغه شپږ واړه جملو کښې عوامل لفظي دي که عوامل معنوي؟

جواب :- عوامل لفظي دي.

سوال :- عوامل لفظي خو دری قسمه سره دي. دا د کوم يو نه دي؟

جواب :- عوامل لفظي د افعال عامله نه دي.

سوال :- افعال ډیر دي دا کوم یو دي؟

جواب :- دا فعل دي.

سوال :- فعل بیا په دوه قسمه سره دے دا کوم یو دی؟

جواب :- فعل معروف :

سوال :- فعل معروف بیا په دوه قسمه (لازمي - متعدي) سره دي. دا د کوم يو نه دي؟

جواب :- د دواړو نه دي.

سوال :- اول نه واخله تر شپږ مه مثاله پورې نښان دهي اوکړئ ؟

جواب :- قَامَ زَيْدٌ فعل لازمي . ضَرَبَ عَمْرٌو فعل متعدي (ثالث مثال) دَ فعل لازمي چه مفعول مطلق ورسره ذکر وي (رابع مثال) دَ فعل متعدي چه مفعول مطلق ورسره ذکر وي (خامس مثال) مفعول فيه ظرف زماني (سادس مثال) مفعول فيه ظرف مکان

سوال :- (۱) جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ (۲) قُمْتُ إِكْرَامًا لِزَيْدٍ (۳) ضَرَبْتُهُ تَادِيبًا (۴) جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا (۵) طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا (۶) ضَرَبَ زَيْدٌ خَالِدًا (۷) اُذْكُرُ اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيرًا (۸) قُمْ إِكْرَامًا لِزَيْدٍ سَنَتَا ذَلِكَ (۹) جَلَسَ الْمُدَرِّسُ اَمَامَ الطُّلَّابِ (۱۰) جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا - دغه لس واړه جملې په سوالاتو مذکوره کښې څه واقع شويدي؟

جواب :- په سوالاتو اوجوابا توکښې شريك دي مګر فرق صرف مفاعيل خمسه کښې دے (اول مثال) د مفعول معه دے (دويم مثال) دَ مفعول لهٔ لازمي (ثالث مثال) دَ مفعول لهٔ متعدي (رابع مثال) دَحال چه واقع شي دَفاعل نه (خامس مثال) دَتميز شو (سادس مثال) دمفعول به شو (سابع مثال) د مفعول مطلق (ثامن مثال) دَ مفعول له (تاسع مثال) ظرف مکان (عاشر مثال) دَحال شوچه واقع دَ فاعل دَپاره

سوال :- (۱) ضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُوْدًا (۲) لَا تَأْكُلُ الْبِطِّيْخَ وَالْعَسَلَ (۳) جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِيْ (۴) جَلَسْتُ جَلْسَةً (۵) لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكَارٰى (۶) جَاءَ زَيْدٌ قَدْ خَرَجَ غُلَامُهٗ (۷) جَاءَ زَيْدٌ يَسْعٰى (۸) حَلَّ زَيْدٌ نَسَبًا (۹) فَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا - دغه نهه واړه په سوالاتو اوجوابا توکښې پوشے دے که فرق لري ؟

جواب :- په سوالاتو اوپه جوابا تو مذکوره کښې يوشے دے ليکن صرف په مفاعيل خمسه اوحال کښې دے (اول مثال) حال واقع دےَ مفعول نه (دوهم مثال) دَمفعول لهٔ دے . والعسل اى مع العسل (ثالث مثال) دَ نوع دَپاره دے (رابع مثال) دَعدد دَپاره (خامس مثال) دَحال دے . هغه حال دے چه حال جمله اسميه وي (سادس مثال) دَ حال دے هغه چه فعل ماضي وي بيا قَدْ ورسره ذکر کيږي (سابع مثال) دَهغه حال چه جمله فعليه حال واقع شوي وي (ثامن مثال) دَ تميز دے (تاسع مثال) دَتميز دَمفعول

سوال :- (۱) ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا (۲) وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ (۳) وَاِذِ ابْتَلٰى اِبْرٰهِيْمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ (۴) جَاءَ زَيْدٌ وَالْكِتَابَ (۵) زَيْدًا اَكَلَ جَالِسًا (۶) اِشْتَرَيْتُ رِطْلًا

زَيْتًا (۷) اِسْتَوَى الْمَاءُ وَالْخَشَبَة (۸) يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ (۹) وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا (۱۰) وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ـ دغه لس واړه جملې په سوالات مذکوره کښې څه واقع شویدی ؟

**جواب** :- په سوالاتِ مذکوره کښې اوپه جواباتو مذکوره کښې برابر دی . لیکن فرق څلو کښې لرې په مفاعیل خمسه ، حال او تمیز کښې . لکه (اول مثال) دَمفعول بهٖ (ثانی) ایضًا (ثالث) ایضًا بتقدیم دَ مفعول به لحصرِ (رابع مثال) دَمفعول معه (خامس مثال) دَحال دے چه دَ فاعل نه حال واقع وی (سادس مثال) دحال دعچه مقدار نه حال وی (سابع مثال) مفعول معه (ثامن مثال) ایضًا (تاسع مثال) دَمفعول مطلق (عاشر مثال) ایضًا دَ مفعول مطلق -

حُمادَعزت ملکرو طلباء کرامو او علماء کرامو ! تاسو نه دا خواهش لرم چه خَيْرُالْكَلَامِ مَاقَلَّ وَدَلَّ باندے اکتفیٰ اوکرم . ما بقیه تاسو پخپله قیاس اکړی . الله تعالیٰ تاسو ته په علم کښې فهم کامل ، علم کامل ، صبر جمیل ، عدل وافر نصیب اوکړی اوماته هم دعا اوکړئ او دُعا دا لا ینو ته هم -

## پنځم بحث دَ بعضو جملو ترکیب

قَامَ زَيْدٌ - قَامَ فعل ماضی معلوم لازمی صیغه واحد مذکر غائب باب دَقَامَ يَقُوْمُ نه لازمی . قیاس دے په نَصَرَ يَنْصُرُ باندے . زَيْدٌ ورته فاعل دے . قام فعل مع الفاعل چه زَيْدٌ دے دا جمله فعلیه خبریه . دا مثال دَفعل لازمی دے -

ضَرَبَ عَمْرٌو - ضَرَبَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم عَمْرٌو ورته فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه - دا مثال دَ فعل متعدی دے -

قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا - قَامَ فعل ماضی معلوم زَيْدٌ ورته فاعل قِيَامًا ورته مفعول مطلق دے . فعل مع الفاعل مع المفعول المطلق دا جمله فعلیه خبریه شوه .

ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا - ضَرَبَ فعل ماضی معلوم زَيْدٌ ورته فاعل شو او ضَرْبًا ورته مفعول مطلق . فعل مع الفاعل مع المفعول المطلق دا جمله فعلیه خبریه شوه

صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ - صُمْتُ فعل فاعل يَوْمَ مضاف الْجُمُعَةِ مضافٌ الیه . مضاف

مع المضافُ الیه دا مفعول فیه شو. فعل مع الفاعل مع المفعول فیه جمله فعلیه خبریه
جَلَسْتُ فَوْقَكَ - جَلَسْتُ فعل فاعل فَوْقَ مضاف کاف ضمیر مضافٌ الیه. مضاف
مع المضافٌ الیه مفعول فیه. فعل مع الفاعل مع المفعول فیه جمله فعلیه خبریه.
جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ ای مَعَ الْجُبَّاتِ - جَاءَ صیغه واحد مذکر غائب فعل
معلوم اَلْبَرْدُ فاعل وَاوْ بمعنی مع مضاف اَلْجُبَّاتِ مضافٌ الیه. مضاف مع
المضافٌ الیه دا مُفَسَّرْ شو. ای حرف تفسیر مع مضاف اَلْجُبَّاتِ مضاف الیه. مضاف
مع المضاف الیه دا مُفَسِّر شو. مفسَّر مع المفسِّر نه دا مفعول معه شو. فعل مع الفاعل
مع المفعول معه چه دا لْجُبَّاتِ دے. ای مع الْجُبَّاتِ دا جمله فعلیه خبریه.
قُمْتُ اِكْرَامًا لِزَيْدٍ - قُمْتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضی معلوم ضمیر پکښے مستتر دے
چه تعبیر ئے کیږی په اَنَا سره هغه ورته فاعل شو اِكْرَامًا دا مصدر دے لام حرف جَرْ
زَيْدٍ مجرور. جار مع المجرور دا ظرف لغوه تعلق نیسی تر اِكْرَامًا مصدر پورے
اِكْرَامًا مصدر مع المتعلق نه دا مفعول لهٗ شو دَ پاره دَ قُمْتُ. قُمْتُ فعل مع الفاعل
مع المفعول لهٗ نه دا جمله فعلیه خبریه شوه.
وَضَرَبْتُهٗ تَادِيْبًا - وَاوْ عاطفه یا حرف استأنف ضَرَبْتُ فعل اَنَا ورته فاعل شو
هٗ ضمیر منصوب متصل ورته مفعول به شو. تَادِيْبًا ورته مفعول له شو. فعل مع
الفاعل مع مفعول به مع المفعول لهٗ دا جمله فعلیه خبریه شوه.
جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا - جَاءَ فعل ماضی معلوم زَيْدٌ ورته ذو الحال رَاكِبًا ورته حال
ذو الحال مع الحال دا فاعل شو دَ پاره دَ جَاءَ. جَاءَ فعل مع الفاعل مع الحال جمله
فعلیه خبریه.
طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا - طَابَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم زَيْدٌ ممیز
نَفْسًا ورته تمیز. ممیز مع التمیز دا فاعل شو. فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه
ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا - ضَرَبَ فعل ماضی معلوم زَيْدٌ ورته فاعل شو عَمْرًوا ورته
مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه.
صُمْتُ يَوْمَ السَّبْتِ - صُمْتُ فعل فاعل يَوْمَ مضاف السَّبْتِ مضافٌ الیه. مضاف
مع المضافٌ الیه دا مفعول فیه شو د پاره دَ فعل. دا جمله فعلیه خبریه شوه

ضَرَبْتُ زَیْدًا مَشْدُوْدًا ۔ ضَرَبْتُ فعل زَیْدًا ورا ذو الحال مَشْدُوْدًا حال ۔ ذو الحال مع الحال را مفعول بہ شود پارہ ضَرَبْتُ ۔ فعل مع الفاعل مع المفعول نہ را جملہ فعلیہ خبریہ

فصل بدانکہ فاعل اسمیست کہ پیش از وے فعلے باشد مسند بداں اسم بر طریق قیام فعل بداں اسم چوں زَیْدٌ در ضَرَبَ زَیْدٌ و مفعول مطلق مصدر لیست کہ واقع شود بعد از فعلے وآں مصدر بمعنی آں فعل باشد چوں ضَرْبًا در ضَرَبْتُ ضَرْبًا و قِیَامًا در قُمْتُ قِیَامًا و مفعول فیہ اسمیست کہ فعل مذکور در واقع شود واو را ظرف گویند وظرف بر دو گونہ است ۔ ظرف زمان چوں یَوْمَ در صُمْتُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ وظرف مکان چوں عِنْدَ در جَلَسْتُ عِنْدَكَ و مفعول معہ اسمیست کہ مذکور باشد بعد از واو بمعنی مَعَ چوں وَالْجُبَّاتِ در جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ اے مَعَ الْجُبَّاتِ و مفعول لہ اسمیست کہ دلالت کند بر چیزے کہ سبب فعل مذکور باشد چوں اِکْرَامًا در قُمْتُ اِکْرَامًا لِزَیْدٍ وحال اسمیست نکرہ کہ دلالت کند بر ہیئت فاعل چوں رَاکِبًا در جَاءَ زَیْدٌ رَاکِبًا یا بر ہیئت مفعول چوں مَشْدُوْدًا در ضَرَبْتُ زَیْدًا مَشْدُوْدًا یا بر ہیئت ہر دو چوں رَاکِبَیْنِ در لَقِیْتُ زَیْدًا رَاکِبَیْنِ و فاعل و مفعول را ذو الحال گویند وآں غالبا معرفہ باشد و اگر نکرہ باشد حال را مقدم دارند چوں جَاءَنِیْ رَاکِبًا رَجُلٌ وحال جملہ نیز باشد چنانچہ رَأَیْتُ الْاَمِیْرَ وَهُوَ رَاكِبٌ و تمیز اسمے است کہ رفع ابہام کند از عدد چوں عِنْدِیْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا یا از وزن چوں عِنْدِیْ رِطْلٌ زَیْتًا یا از کیل چوں عِنْدِیْ قَفِیْزَانِ بُرًّا یا از مساحت چوں مَا فِی السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا و مفعول بہ اسمیست کہ فعل فاعل برو واقع شود چوں ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا ۔ بدانکہ ایں ہمہ منصوبات بعد از تمامی جملہ باشند و تمامی جملہ بفعل و فاعل تمام شود و بدیں سبب گویند کہ ۔

المنصوب فضلۃ

ترجمه :- دا فصل دے . پوه شه اے طالبه ! فاعل یو اسم دے چه د دینه مخکښے فعل یا شبه فعل وی مسند دے . دغه اسم ته په دے طریقه چه فعل قائم دے دغه سره مثال لکه ضَرَبَ زَیْدٌ . ضَرَبَ فعل دے . زَیْدٌ ورته فاعل دے . او مفعول مطلق هغه مصدر دے چه واقع شی پس د یو فعل نه او دغه مصدر په د دغه فعل په معنیٰ وی . مثال لکه ضَرْبًا په ضَرَبْتُ ضَرْبًا کښے او قِیَامًا په قُمْتُ قِیَامًا کښے او مفعول فیه هغه اسم دے چه فعل مذکور په د یکښے واقع کیږی او دیته بیا ظرف وائی . او ظرف په دوه قسمه سره دے (ظرف زمان - ظرف مکان) ظرف زمان مثال لکه یَوْمَ شو په صُمْتُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ کښے . د ظرف مکان مثال لکه عِنْدَ شو په جَلَسْتُ عِنْدَكَ کښے . او مفعول معه هغه اسم دے چه مذکور وی پس د واو نه هغه واو چه په معنیٰ د مَعَ وی . مثال لکه وَالْجُبَّاتِ په جَاءَ الْبُرْدُ وَالْجُبَّاتِ کښے یعنی مَعَ الْجُبَّاتِ شو . مکسور ځکه راغی چه جمع مؤنث ده . نصب تابع د جر وی . او مفعول له هغه اسم دے چه دلالت کوی په یو شی باندے چه سبب د فعل مذکور وی . مثال لکه اِکْرَامًا شو په قُمْتُ اِکْرَامًا لِزَیْدٍ کښے . او حال هغه اسم نکره دے چه دلالت کوی د فاعل په هیئت باندے مثال لکه رَاکِبًا شو په جَاءَ زَیْدٌ رَاکِبًا کښے یا دغه حال دلالت کوی په هیئت د مفعول باندے . مثال لکه مَشْدُوْدًا شو په ضَرَبْتُ زَیْدًا مَشْدُوْدًا کښے . یا حال دلالت کوی په هیئت د دواړو باندے . مثال لکه رَاکِبَیْنِ شو په لَقِیْتُ زَیْدًا رَاکِبَیْنِ کښے او فاعل او مفعول ته ذو الحال وائی او هغه اکثر معرفه وی او کچیرے نکره وی نو حال به مقدم وی په ذو الحال باندے (چه فرق راشی په مابین د ذو الحال او د حال او د صفت او موصوف کښے) مثال لکه جَاءَنِیْ رَاکِبًا رَجُلٌ او حال جمله هم وی . مثال لکه رَاَیْتُ الْاَمِیْرَ وَهُوَ رَاکِبٌ . او تمیز هغه اسم دے چه دفع د ابهام کوی د عدد نه . مثال لکه عِشْرِیْنَ شو په اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا کښے . یا د وزن نه دفع د ابهام کوی . مثال لکه عِنْدِیْ شو په عِنْدِیْ رَطْلٌ زَیْتًا کښے . یا دغه تمیز رفع د ابهام کوی د کیل نه مثال لکه عِنْدِیْ قَفِیْزَانِ بُرًّا . ما سره دوه قفیزه د غنمو دی . یا دغه تمیز رفع د ابهام کوی د مساحت نه مثال لکه مَا فِی السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا لکه وائی نشته په آسمان کښے د ورغوی په برابر وریځ او مفعول به هغه اسم دے چه د فاعل فعل په هغه واقع کیږی . مثال لکه ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا -

پوه شه اے طالبه ! دا څه چه او ویلے شو دا قول منصوبات دی چه د جملے پوره کیدو نه بعد

راځي. او جمله په فعل او په فاعل پوره کیږي. له دې وجې نه علماء وائي چه منصوبات فضله دي.

# تشریحات

زده کړه دا خبره چه د دې اسماء تشریحات په سابق کښې مع ضوابط تیر شویدي او ترکیبونه ئې هم تیر شویدي. که تاسو لږ غوندې پکښې سوچ او کړئ نو هیڅ فرق نلري سابق بحث او دا بحث. ځکه مونږ خواهش دا کوو چه د اختصار نه کار واخستې شي ویره به آسان دي چه کتاب هم طویل نشي. بعضې خبرې چه حالت نه دي شوي د هغې یادونه کوو. مثال لکه د اسم مفعول له د پاره سوئ د لام نه نور د حروفونو سره هم راځي مثال لکه مِنْ سره. لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَیْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْیَةِ اللّٰهِ مِنْ خَشْیَةِ اللّٰهِ مفعول له دې او کله راځي په باء سره لکه فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِیْنَ. او کله راځي په فی سره لکه اِنَّ اِمْرَاَةً دَخَلَتِ النَّارَ فِیْ هِرَّةٍ. او کله راځي په لام سره لکه متن کښې چه لِزَیْدٍ شو. لام ئې ځکه ذکر کړو چه مشهور دې نسبتًا د نورو نه. او لام کله کله مقدر کیږي. تقدیر د لام د پاره درې شرائط دي (۱) دا مفعول له به حدث وي یعنې جامد به نه وي. مصدر به وي. که جامد وي بیا نه مقدر کیږي (او دویم شرط) فاعل د فعل معلله او د مفعول له یو وي. که یو نه وي حلته به هم مقدر نه وي (۳) شرط - دا مفعول له به مقارن وي د فعل معلله سره. په دې شان سره چه زمانه د وجود دواړو یوه وي. که یوه نه وي بیا مقدر نه راځي. تمیز رفع د ابهام کوي. لکه ترجمه مذکوره کښې تیر شو. لیکن بعضې جزئیات پاتې شویدي. د هغې ذکر کوو. مثال په طور سره دغه اسم چه رفع د ابهام کوي نو م دې کله دې مُحَوَّل عن الفاعل وي. یعنې به حقیقت کښې هغه اول فاعل وي. بیا ترې تمیز جوړ شوې وي. مثال لکه د رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَیْءٍ عِلْمًا. دغه عِلْمًا اوس تمیز دې. اصل حقیقت کښې دې فاعل ؤ. تقدیر د عبارت داسې کیږي د رَبَّنَا وَسِعَ عِلْمُكَ كُلَّ شَیْءٍ. او کله دې محول عن المفعول وي. یعنې به حقیقت کښې دې جمله مفعول وي بیا ترې به تمیز جوړ شوې وي. مثال لکه فَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُیُوْنًا - دا عُیُوْنًا تمیز دې. حقیقت کښې دې مفعول ؤ. تقدیر د عبارت داسې کیږي د فَجَّرْنَا عُیُوْنَ الْاَرْضِ. او کله محول عن المبتداء

دی. مثال لکه اَنَا اَکۡثَرُ مِنۡكَ مَالًا وَّوَلَدًا - نو مَالًا دا تمیز دے . په اصل کښے دا مبتداء ؤو. نو تقدیر دَ عبارت به داسے لکه شی وَمَالِیۡ اَکۡثَرُ مِنۡكَ - او کله مُحَوَّل دَیُو نه هم نه وی مثال لِلّٰهِ دَرُّهٗ فَارِسًا شو. کما جاء فی کتب المطولات.

**سوال :-** تمیز منصوب ولے وی ؟

**جواب :-** ځکه چه دا مشابهت لری اسم مفعول سره په واقع کښے په مرتبه ثالث کښے ځکه فعل اوله مرتبه - فاعل دویمه مرتبه - مفعول دریمه مرتبه - ممیز اوله مرتبه متمم دَ اسم ممیز په مرتبه ثانی کښے او تمیز ورته په مرتبه ثالث کښے - متمم دَ تمیز خلور دی (۱) نون دَ تثنیه (۲) نون دَ جمع (۳) تنوین (۴) او مضاف الیه - مراجعت او کړئ علل النحویة یا شذور الذهب ته یا دروس النحویة یا جامع الدروس ته -

## دَ بعضو جملو ترکیب

اول دوا ړه نه چه حال واقع وی (۲) نکره دی حال مقدم وی (۳) حال جمله وی (۴) دَ تمیز دَ عدد (۵) تمیز دَ وزن وی (۶) تمیز دَ مساحت نه وی (۷) دَ مفعول به -

دَ دغه اوو وارو ترکیب به په شمار سره کوو . اِنۡ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰی

۱- لَقِیۡتُ زَیۡدًا رَاکِبَیۡنِ - لَقِیۡتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضی معلوم قیاس دے په سَمِعَ یَسۡمَعُ باندے (لَقِیَ - یَلۡقِیۡ) ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په اَنَا سره هغه ورته فاعل شو ذوالحال او زَیۡدًا ورته مفعول به دے دا هم ذوالحال شو او رَاکِبَیۡنِ دَ تثنیه صیغه ده. دا ورته حال شو دَ دواړو نه . فعل مع الفاعل مع المفعول به مع الحالین دَ دواړو نه دا جمله فعلیه خبریه شوه -

۲- جَاءَنِیۡ رَاکِبًا رَجُلٌ - جَاءَ فعل نون وقایه یا مفعول به رَاکِبًا حال رَجُلٌ ذوالحال مؤخر. حال مع الذوالحال دا فاعل شو دَ پاره دَ جَاءَ . جَاءَ فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه .

۳- رَأَیۡتُ الۡاَمِیۡرَ وَهُوَ رَاکِبٌ - رَأَیۡتُ فعل فاعل اَلۡاَمِیۡرَ ورته مفعول به ذوالحال وَاوٌ حرف عطف هُوَ مبتداء رَاکِبٌ ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر نه دا جمله اسمیه خبریه حال واقع شو دَ پاره دَ اَلۡاَمِیۡرَ ذو الحال نه- ذو الحال مع الحال نه دا مفعول به شو دَ پاره

دَ رَأَیْتُ. دا جمله فعلیه خبریه.

۴- عِنْدِیْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا - عِنْدَ مضاف ی متکلم مضافٌ الیه. مضاف مع المضاف الیه دا مفعول فیه مقدم شو دا ظرف شو. تعلق نیسی تر ثابتٌ مقدر پورے. ثابتٌ صیغه دَ اسم فاعل هُوَ ورته فاعل. اسم فاعل مع الفاعل مع المتعلق دا خبر مقدم شو. اَحَدَ عَشَرَ عدد مبهم ممیز دِرْهَمًا ورته تمیز. ممیز مع تمیز دا مبتدا مؤخر شو. مبتدا مؤخر مع خبر مقدم دا جمله اسمیه خبریه شوه.

۵- عِنْدِیْ رِطْلٌ زَیْتًا - عِنْدِیْ مضاف یاء متکلم مضافٌ الیه. مضاف مع المضافٌ الیه دا ظرف مستقر تعلق نیسی تر ثابتٌ مقدر پورے کما مرَّ دا خبر مقدم شو رِطْلٌ ممیز زَیْتًا ورته تمیز دے. ممیز مع تمیز مبتدا مؤخر شو. مبتدا مؤخر مع خبر مقدم دا جمله اسمیه خبریه شوه

۶- عِنْدِیْ قَفِیْزَانِ بُرًّا - عِنْدِیْ کما مرّ ترکیبهٗ خبر مقدم قَفِیْزَانِ ممیز بُرًّا ورته تمیز ممیز مع تمیز مبتداء مؤخر. مبتداء مؤخر مع خبر مقدم دا جمله اسمیه خبریه.

۷- مَافِی السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا - مَامشابه دَ لَیْسَ سره اسم مرفوع خبر منصوب بجواز فِیْ حرف جر السَّمَآءِ مجرور. جار مع المجرور دا ظرف مستقر تعلق نیسی تر ثابتًا مقدر پورے ثابتًا صیغه دَ اسم فاعل ضمیر پکښے هُوَ ورته فاعل. اسم فاعل مع الفاعل مع المتعلق دا خبر مقدم شو دَپاره دَ مَا ځکه ثابتًا منصوب دے قَدْرُ مضاف رَاحَةٍ مضافٌ الیه. مضاف مع المضافٌ الیه دا مرکب اضافی ممیز شو سَحَابًا ورته تمیز شو. ممیز مع تمیز دا اسم مؤخر شو دَپاره دَ مَا. مَا مع اسم مؤخر مع خبر مقدم چه فِی السَّمَآءِ دے دا جمله اسمیه خبریه شوه.

دَ مفعول به ترکیب آسان دے.

فصل بدانکه فاعل بر دو قسم است مظهر چوں ضَرَبَ زَیْدٌ ومضمر بارز چوں ضَرَبْتُ ومضمر مستتر یعنی پوشیده چوں زَیْدٌ ضَرَبَ کہ فاعل ضَرَبَ هُوَ است در ضَرَبَ مستتر بدانکه چوں فاعل مؤنث حقیقی باشد یا ضمیر مؤنث علامت تانیث در فعل لازم باشد چوں قَامَتْ هِنْدٌ وَهِنْدٌ قَامَتْ ای هِیَ ودر مظهر مؤنث غیر حقیقی ودر مظهر

جمع مکسر دو وجہ روا باشد چوں طَلَعَ الشَّمْسُ وَطَلَعَتِ الشَّمْسُ وَقَالَ الرِّجَالُ وَقَالَتِ الرِّجَالُ قسم دوم مجہول بدانکہ فعل مجہول بجائے فاعل مفعول بہ را برفع کند و باقی را بہ نصب چوں ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيرِ ضَرْبًا شَدِيدًا فِي دَارِهِ تَادِيبًا وَالْخَشْبَةَ وفعل مجہول را فعل مالم یسم فاعلہ گویند و مرفوعش را مفعول مالم یسم فاعلہ گویند ـ

ترجمه :- پوه شه اے طالبه ! چه فاعل په دوه قسمه سره دے (۱) اول اسم ظاهر دے مثال لکه ضَرَبَ زَيْدٌ شو . ضَرَبَ فعل دے زَيْدٌ ورته فاعل دے او زَيْدٌ اسم ظاهر دے (دویم) ضمیر دے چه بارزوی یعنی هغه ضمیر نه ظاهروی . مثال لکه ضَرَبْتُ دیکښے تُ ضمیر فاعل دے او ظاهر . او بل هغه ضمیر دے ... . مثال لکه زَيْدٌ ضَرَبَ شو او س زَيْدٌ مبتدا او دا ضَرَبَ فعل دے او ضمیر پدے ... دے چه تعبیرئے ترینه کیږی په هُوَ سره هغه ورته فاعل شو .

پوه شه ای طالبه ! هرکله چه فاعل مؤنث حقیقی وی یا ضمیر د مؤنث وی نو علامه د تانیث په فعل کښے به بیا لازم وی . مثال لکه قَامَتْ هِنْدٌ یا هِنْدٌ قَامَتْ ای جوړ شو . او س قَامَتْ فعل دے هِنْدٌ ورته مؤنث حقیقی دے ځکه قَامَتْ کښے تائی تانیث راغله . او هِنْدٌ مبتداء دا قَامَتْ فعل دے . فاعل ورته ضمیر دے چه جوړ دے ځکه قَامَتْ کښے علامه د تانیث پکښے تائی تانیث راغلله - تفکر اوکړئ

او په هغه فاعل چه اسم ظاهر وی او په مؤنث غیر حقیقی کښے وی . یا هغه اسم ظاهر چه فاعل د جمع تکسیر وی . نو دوه طریقے پکښے جائز دی . مثال لکه طَلَعَ الشَّمْسُ یا طَلَعَتِ الشَّمْسُ یا قَالَ الرِّجَالُ یا قَالَتِ الرِّجَالُ . دا فاعلونه چه ذکر شو دا په اول قسم کښے راځی .

دویم قسم د فاعل - پوه شه اے طالبه ! فعل مجهول په ځاے د فاعل باندے مفعول به ته رفع ورکوی . او ما بقیه مفعولونو له نصب ورکوی . مثال لکه ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

اَمَامَ الْاَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِىْ دَارِهٖ تَاْدِيْبًا وَالْخَشْبَةَ او فعل مجهول ته فعل مالم يُسَمّ فاعله فاعله وائى - دغه مذكور چه څومره مفعولونه ذكر شو نولو باندے نصب دے اِنْشَآءَ اللّٰهُ الْعَزِيْز په تشريح كنبے به واضح شى -

## تشـريحات

دلته لابدى ده دَ معرفت دَ اوو سبقونه (۱) تحقيقات (۲) ذكر دَ ضوابط (۳) ذكر دَ امثالو (۴) ذكر دَ مشق (۵) ذكر دَ تركيب -

**اول بحث دَ تحقيقاتو :-** هر كله چه فارغ شو مصنف عليه الرحمة دَ بيان دَ نفى فاعل دَ فعل نه او تعريف دَ هغے نه . او س ئے شروع اوكړه په بيان دَ اقسامو دَ فاعل كنبے نو حكمه ئے اوفرمائيل . بيشكه پوه شه اے طالبه! فاعل هم په دوه قسمه سره دے . مظهر - مظهر بارز - مضمر مستتر .

مظهر هغه اسم ظاهر ته وائى چه ضمير نه وى . مثال لكه ضَرَبَ زَيْدٌ (اووهه زيد) دلته اسم ظاهر دے . يا به فاعل ضمير وى خو ظاهر به وى . مثال لكه ضَرَبْتُ وهل اوكړو ما ضَرَبَ فعل دے . او تُ ضمير واحد متكلم فاعل دے ظاهر دے . دېته ضمير بارز وائى يعنى بنكاره ضمير . يا به فاعل ضمير وى خو پټ وى لكه زَيْدٌ ضَرَبَ او س زَيْدٌ مبتداء ده فعل دے او ضمير پكښے مستتر دے يعنى پټ دے چه هُوَ دے راجع دے زَيْدٌ ته . نو دغه اول قسم فاعل دوه شو (اسم ظاهر - ضمير بارز - ضمير مستتر) دَ بارز معنى ظاهره . مستتر معنى پټ دى .

پوه شه اے طالبه! كله چه فاعل دَ فعل مؤنث حقيقى وى . اسم ظاهر وى يا ضمير وى نو علامه دَ تانيث په فعل لګول ضرورى دى . داهغه وخت چه په مابين دَ دغه فعل او فاعل كښے فصل نه وى . او كه فصل وى بيا دغه قانون ضرورى نه دے چه خامخا به په فعل كښے علامه دَ تانيث راوړے . مثال لكه قَامَتْ هِنْدٌ شو . چه ودر يده هنده . قامت فعل دے (ت) تائى ساكنه ورته علامه دَ فاعل دَ مؤنث كيدو ده چه هِنْدٌ مؤنث حقيقى دے او دويم طريقه كښے هِنْدٌ قَامَتْ دے . هِنْدٌ خو مبتداء شوه قَامَتْ دلته دا فعل دے په ده كښے علامه دَ تانيث موجود ده چه تائى ساكنه ده . نو معلومه شوه چه فاعل

دَ دے مؤنث بہ ضمیر وی چہ هغه ته ئې دے چه راجع دے هِنْدٌ ته دَ امثالونه دَ هغه فعل شو چه فاعل اسم ظاهر او ضمیر وی . او مصنفؒ مثال دَ غیر حقیقی نه دے ذکر کړے . بلکه وروسته چه کوم ذکر راځي هغه دَ مؤنث غیر حقیقي امثال دی . نو مثال دَ فاعل چه ضمیر وی او مؤنث وي سره غیر حقیقي دی . لکه اَلشَّمْسُ طَلَعَتْ . اَلشَّمْسُ مرفوع لفظاً مبتدا او دا طَلَعَتْ فعل ضمیر پکښے مستتر چه هي دے چه راجع دے شمس ته هغه مؤنث غیر حقیقي دے ځکه چه مؤنث سماعي دے نه قیاسي .

دریم صورت دا دے چه فاعل اسم ظاهر وی مگر مؤنث غیر حقیقي وی یا فاعل اسم ظاهر وی مگر جمع مکسر وی نو په دغه دوارو صورتونو کښے په فعل کښے دَ تانیث نکولو اختیار لری یا به نکوی یا به ئے نه نکوی . یعني حاصل دا شو . الحاق دَ علامه دَ تانیث او ترک دَ علامه دَ تانیث یو لحاظ دَ لفظ شو او بل لحاظ دَ معنیٰ شو . دَ لفظ په اعتبار سره مؤنث دَ معنیٰ په اعتبار سره مذکر دے . نو مونږ لحاظ دَ دوارو اوکړو . او دَ جمع مکسر حالت دا دے ځکه چه که تاویل دَ جماعةٌ اوکړے شی نو مؤنث به وی . او که تاویل دَ جماعة اونشی نو مذکر به وی . مثال به څرنګه وی لکه طَلَعَ الشَّمْسُ دا مثال چه فاعل اسم ظاهر وی مگر مؤنث غیر حقیقي وی فعل ورته مذکر ذکر شی دا جائز دے . او یا طَلَعَتِ الشَّمْسُ دا مثال چه فاعل مؤنث غیر حقیقي وی او فعل ورته مؤنث ذکر شی . او بل مثال دَ جمع مکسر قَالَ الرِّجَالُ . قَالَ فعل دے او فاعل ورته اسم ظاهر دے مگر جمع تکسیر دے او فعل ورته مذکر دے . وَقَالَتِ الرِّجَالُ دا مثال دَ هغه دے چه فاعل اسم ظاهر وی مگر جمع تکسیر وی او فعل ورته مؤنث وی . او که فصل منځ کښے راغلے وی . دَ هغے مثال مصنفٌ نه دے ذکر کړے بلکه بعضے شُرّاحو ذکر کړے دے . لکه الفجر المستطیر مُلا مثلاً لکه حَضَرَةِ الْقَاضِيْ اِمْرَئَةٌ نو دلته اِمْرَئَةٌ فاعل دے د حَضَرَةِ دَ پاره او منځ کښے مفعول به فاصل راغلے دے چه قاضِيَ دے . نو دلته هم جواز دَ دواړو وجهونو دے . دا ځکه چه تانیث دَ فاعل ضعیف دے له وجه دَ فصل نه ځکه سرایت هم ونکړو تانیث دَ فعل ته په طریقه دَ وجوب سره ځکه دوارو وجه جائز شوے .

او دویم قسم دَ پاره ۲ . کله چه مصنفٌ فارغ شو دَ بیان دَ فعل معلوم نه نو اوس ئے شروع اوکړه په فعل مجهول کښے نو وئے ویل قسم دوم فعل مجهول است . مجهول صیغه دا سم مفعول ده

معنی دَدے فاعل معلوم نه وی او نسبت نے شوے وی مفعول ته نو دَدے قوت بیا دا دے چه کلهٔ دے دَفاعل په مقام کښے راشی نو دے به مرفوع وی . من تام فی مقام غیرهٖ فله حکم غیره . نو دغه مفعول بهٖ چه منصوب راشی عادتاً او تا نوناً نو کله چه دے دَبل په مقام راشی نو بیا به مرفوع راشی . او ما بقیه نور مفعولات لکه مفعول مطلق ـ مفعول فیه مفعول معه ـ مفعول لهٗ ـ دا به تول منصوب وی . مثال لکه ضَرَبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اَمَامَ الْاَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِي دَارِهٖ تَادِيْبًا وَالْخَشَبَةَ . معنی ، وهلے شوے زید په ورځ دَجمعے مبارکے په مخ دَ امیر کښے په د هلو سخت سره په کور دَ هغه کښے دَپاره دَ ادب سره دَ لرګی نه یعنی یو لرګی سره نے وهل کړیدی . دغه فعل مجهول مخالف دے دَفعل معروف نه . دلته مفعول بهٖ ته رفع ورکوی ځکه دَ معروف مخالف شو . معروف خو فاعل ته رفع ورکوی نور هر قسم مفعول ته نصب ورکوی لکه مثال مذکور کښے په نظر راځی . نو ګویا زید دَفاعل نائب دے . اصل فاعل پوشیده شویدے څه نکتے دَوجے نه نو فعل معروف فاعل خو مرفوع وی . او دغسے دَ فعل مجهول نائب فاعل هم مرفوع ځکه دَفاعل ذکر نشته . نو دغه فعل مجهول ته فعل مالم يُسَمَّ فاعله ویلے شی . یعنی مفعول دَهغه فعل چه دَهغے فاعل په الفاظو کښے نوی ذکر کړے شوے . او س زَيْدٌ مفعول بهٖ نائب فاعل دے . يَوْمَ الْجُمُعَةِ ظرف زمان دے اَمَامَ الْاَمِيْرِ ظرف مکان ضَرْبًا شَدِيْدًا مفعول مطلق دے فِي دَارِهٖ جار مجرور متعلق دے تَادِيْبًا مفعول له دے وَالْخَشَبَةِ مفعول معه نو ضُرِبَ به دغه تولو کښے عمل کړے دے . اول کښے دَ رفع . ما بقیه کښے نصب .

## دویم بحث ذکر دَضوابطو

۱ ـ ضابطه :- ضمایرو نه علاوه تول اسما ؤ ته اسم ظاهر ویل کیږی .

۲ ـ ضابطه :- فاعل چه اسم ظاهر وی نو فعل به همیشه دَپاره مفرد وی . لکه دَ هدایة النحو ملا دانی . کله چه دَ فعل نسبت اسم ظاهر ته وشی وحد الفعل ابداً نو بیا دا برابره خبره ده . چه دغه فاعل مفرد وی او که جمع وی او که تثنیه وی مثال لکه قَامَ زَيْدٌ ـ قَامَ الزَّيْدَانِ قَامَ الزَّيْدُوْنَ .

۳ ـ ضابطه :- که فاعل ضمیر وی بیا مطابقت واجب دے . مثال لکه زَيْدٌ قَامَ ـ

اَلزَّیْدَانِ قَامَا - اَلزَّیْدُوْنَ قَامُوْا -

۴ - ضابطه :- ضمیر مرفوع متصل خپل عامل سره پیوست وی. دا په دوه قسمه سره راځی ( بارز او مستتر ) دَبارز معنی ظاهر دَ مستتر معنی ده پټ.

۵ - ضابطه :- ضمیر مرفوع مُتصل بارز دَ ماضی (۱۲) صیغو کښے راځی. صرف دَدوه صیغو نه علاوه نورو تولو کښے بارز راځی. هغه دوه صیغے دادی واحد مذکر غائب ( ضَرَبَ ) واحده مؤنثه غائبه (ضَرَبَتْ ) یو کښے هُوَ مستتر دے بل کښے هِیَ مستتر دے.

۶ - ضابطه :- په مضارع کښے ضمیر مرفوع متصل بارز په (نهٔ) صیغو کښے راځی. څلور تثنیه ضمیر به الف وی (۲) جمع مذکر ضمیر به دَاو وی. (۲) جمع مؤنث ضمیر به پکښے نون وی. او یوه تَضْرِبِیْنَ صیغه کښے چه یا ضمیر مرفوع متصل بارز دے. دَدے تولو صیغو ضمائر څلور دی ( الف - وَاوْ - نون - یاء)

۷ - ضابطه :- دغه ضمائر چه په مضارع ( نهٔ) صیغو کښے بارز راغلل دا هم په فعل جحد اولن ناصبه امر او نهی - فتفکر ولا تکسل -

۸ - ضابطه :- دَ مستتر ده چه هغه په دوه قسمه سره دے. واجب الاستتار - جائز الاستتار. واجب الاستتار هغه ضمیر دے چه هغه هیشه دَپاره پټ وی. جائز الاستتار دا هغه ضمیر دے چه کله پټ وی کله ښکاره.

۹ - ضابطه :- واجب الاستتار ضمائر دَپاره دَ مضارع په درے صیغو کښے وی هغه هم درے ضمائر دی ( اَنْتَ - اَنَا - نَحْنُ ) واحد مذکر مخاطب - واحد متکلم - جمع متکلم - نو مضارع نه علاوه په فعل جحد بلم - لن ناصبه - امر - نهی کښے دغه درے ضمائر پټ وی. او په ماضی کښے دغه ضمائر هډو شته نه -

۱۰ - ضابطه :- دَ جائز الاستتار ضمائر دَپاره دَ افعالو په دوه صیغو کښے راځی (اول) واحد مذکر غائب (دوهم) واحده مؤنثه غائبه - یو کښے هُوَ - بل کښے هِیَ مستتر دے نو دغه دوه صیغو دَ فاعل ته پکښے فاعل وائی. ځکه چه کله ضمیر وی. کله اسم ظاهر وی دَدے ضابطه داده چه تفکر پکښے اوکړی.

۱۱ - ضابطه :- کله ضمیر وی کله اسم ظاهر. ضابطه داده چه کله کلام دَ فعل نه شروع شی او ضمیر ورسره پیوست نه وی نو فاعل دَدے به اسم ظاهر وی. مثال لکه :

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ ، ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا ، اِذْ قَالَ رَبُّكَ ، سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ
اوس کړے دغه دوه صیغے دَ افعالو په مینځ کښے را شی بیا به دَ دے فاعل ضمیر وی. مثال لکه: اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ - اوس په يَبْسُطُ کښے ضمیر هُوَ دے راجع دے مبتدا ته چه اَللّٰهُ دے.

نو ماډعزت ملکرو تاسو ډیر دلچسپ نه کار داخلی - علم عظیم صفت دَ خالق دے. الله دے ماله دا نعمت نه بات کړی او تا سوله هم (آمین)

۱۲- ضابطه :- که دغه صیغے په مینځ کښے واقع شی بیا شپږ مطالبه لری (۱) خبره پاره دَ مبتدا او واقع کیږی (۲) صله دَ پاره دَ موصول (۳) صفت دَ پاره دَ موصوف (۴) ذوالحال دَ پاره دَ حال شی (۵) معطوف علیه دَ پاره دَ معطوف (۶) یا حکاً څه قرینه موجوده وی ماقبل کښے

۱۳- ضابطه :- شپږ صورت ته دی (۲) صورت نو کښے فعل مؤنث راوړل ضروری دی یعنی علامه دَ تانیث پکښے ذکر کول واجب دی. او څلور صورتونو کښے فعل مذکر او مؤنث دواړه جائز دی. هغه دوه صورت ته دا دی چه فاعل مؤنث حقیقی وی بلا فصله دریم ضمیر مؤنث دے دغه دوه صورت نو کښے مؤنث واجب دے. مثال متن کښے تیر شو قَامَتْ هِنْدٌ - هِنْدٌ قَامَتْ . هغه څلور صورت تونه (۱) فاعل مونث حقیقی وی خو جدا وی (۲) فاعل مؤنث غیر حقیقی وی (۳) فاعل جمع مکسر وی (۴) فاعل مؤنث حقیقی. او فعل نِعْمَ او بِئْسَ وی. یعنی افعال مدح ذم وی. مثال لکه قَامَ الْيَوْمَ هِنْدٌ - وَ قَامَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ قَالَ الرِّجَالُ - قَالَتِ الرِّجَالُ - طَلَعَ الشَّمْسُ - طَلَعَتِ الشَّمْسُ - نِعْمَ الْمَرْأَةُ - نِعْمَتِ الْمَرْأَةُ -

۱۴- ضابطه :- فاعل دَ فعل حذف کول هم جائز دی چه ضرورت را شی -

## دریم بحث ذکر دا مثالو

ضَرَبَ زَيْدٌ   قَتَلَ زَيْدٌ   عَلِمَ زَيْدٌ   نَصَرَ زَيْدٌ   شَرُبَ زَيْدٌ   حَسِبَ زَيْدٌ
أَكْرَمَ زَيْدٌ   ضَرَبْتُ   نَصَرْتُ   عَلِمْتُ   حَسِبْتُ   شَرُفْتُ   مَنَعْتُ
أَكْرَمْتُ   زَيْدٌ ضَرَبَ   زَيْدٌ نَصَرَ   زَيْدٌ عَلِمَ   زَيْدٌ شَرُفَ   زَيْدٌ قَتَلَ
قَامَتْ هِنْدٌ   هِنْدٌ قَامَتْ   قَالَ نِسْوَةٌ   قَالَتِ الْيَهُوْدُ   طَلَعَ الشَّمْسُ

طَلَعَتِ الشَّمْسُ قَالَ الرِّجَالُ قَالَتِ الرِّجَالُ ضَمِنَ اللّٰهُ رِزْقَ كُلِّ اَحَدٍ ضَاقَتِ
الْاَرْضُ قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ صَلَّ الْمُسْلِمُوْنَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ اَلرَّجُلَانِ
مَاتَا وَدَّتْ طَائِفَةٌ اَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا
ضُرِبَ زَيْدٌ عُلِمَ زَيْدٌ نُصِرَ زَيْدٌ فُتِحَ بَابٌ ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا
يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ ضَرَبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اَمَامَ الْاَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا
فِيْ دَارِهٖ تَاْدِيْبًا وَالْخَشَبَةَ قَامَ الْيَوْمَ هِنْدٌ قَامَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ نِعْمَ الْمَرْاَةُ
نِعْمَتِ الْمَرْاَةُ خَتَمَ اللّٰهُ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَجُلًا اِذْ قَالَ رَبُّكَ سَيَقُوْلُ
السُّفَهَاءُ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ اَلَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ
خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ قَدْ رَكِبَ اَلَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا
كِتَابُ الْحَجِّ كِتَابُ الصَّلٰوةِ كِتَابُ الزَّكَاتِ خَلَقْتُ نَصَرْتُ ضَرَبْتُ
اَعْلَمُ نَعْلَمُ عَلِمْتُ يَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَاءُ قَتَلْتَ نَفْسًا خَلَقَ اللّٰهُ -

# څلورم بحث ذكر د مشق

---

**سوال :-** (۱) ضَرَبَ زَيْدٌ (۲) قَتَلَ زَيْدٌ (۳) عَلِمَ زَيْدٌ اِلٰى اَكْرَمَ زَيْدٌ پورې جمله فعليه دى كه جمله اسميه دى ؟

**جواب :-** جمله فعليه دى -

**سوال :-** دَ څه نه د اخبره تا ته معلومه شوه چه دا جمله فعليه دى ؟

**جواب :-** دا قانون دے چه كله اول جزء فعل راشي بيا جمله فعليه وى -

**سوال :-** دا مجموعه جملے فاعل مظهر دے كه مضمر ؟

**جواب :-** دَ دے مجموعه جملو فاعل مظهر دے .

**سوال :-** په مظهر او مضمر كنبے څه فرق دے ؟

**جواب :-** د مظهر نسبت اسم ظاهرته كيږى . او دَ مضمر نسبت ضميرته كيږى .

**سوال :-** د غه دواړو فاعلو كښے پوخ فاعل كوم يو دى ؟

**جواب :-** پوخ فاعل ضمير دى او د غه مظهر كله وى او كله نه وى ځكه ديته كچه فاعل وائي

**سوال :-** دا څنګه معلوميږى ؟

جواب :- که دَ ماضی په دوؤ صیغو کښے خبره راشی لکه واحد مذکر غائب ، واحدهٔ مؤنثه غائبه . نو فاعل دَ دے کښے دے . او که (۱۲) صیغو کښے خبره راشی بیا فاعل دَ دوئ پوخ وی . بدلیږی نه . لکه مذکوره سوالونو کښے فاعل اسم ظاهر دے . که دغه اسم ظاهر نه وے بیا به احتیاج د اتلهٔ ضمیر مستتر ته . نو احتیاج د اعلامه ده دکښے ولے

فجهد ولا تکسل ولا تکن غافلاً ÷ فندامت عقبیٰ لمن یتکاسل

سوال :- ضَرَبْتُ اِلیٰ اَکْرَمْتُ پورے څه واقع شویدی ؟

جواب :- دا هم جمله فعلیه دی .

سوال :- دَ څه نه معلومه شوه ؟

جواب :- دَ اول جزء نه معلومه شوه .

سوال :- دَ دے ټولو جملو فاعل مظهر دے که مضمر ؟

جواب :- مضمر .

سوال :- مضمر کښے بارز دے که مستتر ؟

جواب :- بارز .

سوال :- هغه کوم ضمیر دے ؟

جواب :- هغه ضمیر مرفوع متصل بارز دے چه عبارت دے دَ تُ نه .

سوال :- مرفوع ولے دے ؟

جواب :- ځکه چه دا فاعل دے .

سوال :- متصل ولے دے ؟

جواب :- ځکه چه خپل عامل سره پیوست دے .

سوال :- بارز ولے دے ؟

جواب :- ځکه چه په سترګو ښکاری .

سوال :- زَیْدٌ ضَرَبَ الی زَیْدٌ قَتَلَ پورے دا جملے څه واقع شویدی ؟

جواب :- دا ټولے جملے جمله اسمیه واقع شویدی .

سوال :- دا دَ څه نه معلومه شوه چه دا جمله اسمیه دی ؟

جواب :- ځکه جزء اول دَ دوئ اسم دے چه زَیْدٌ دے . نو دا قانون دے چه جزء اول

اسم وی. حفه ټولو جملو ته جمله اسمیه وائی

سوال :- دوئیم جزخو فعل دے. دَ دوئ فاعل اسم ظاهر دے که مضمر دے ؟

جواب :- دَ دوئ فاعل مضمر دے.

سوال :- بارز دے که مستتر دے ؟

جواب :- مستتر دے.

سوال :- واجب الاستتار دے که جائز الاستتار دے ؟

جواب :- جائز الاستتار دے.

سوال :- دا دَ څه نه معلومه شوه چه دلته جائز الاستتار دے. دلته واجب الاستتار دے؟

جواب :- دا دَ نهمي او لسمي ضابطے نه معلومیږی.

سوال :- دا څنګه معلومیږی چه دا اسم ظاهر دے او دا اسم مضمر دے ؟

جواب :- دا معلومیږی دَ یوولسمي ضابطے نه. که شروع دَ کلام دَ فعل نه وشی ضمیر ورسره پیوست نه وی. نو دَ دے فاعل به اسم ظاهر وی. لکه خَتَمَ اللّٰهُ یا اول سوال تیر شو.

سوال :- تَبَّلَا، قَالُوْا، قَالَتَا، ضَرَبْنَ، قَتَلْتَ، اَكْمَلْتُ، ظَلَمْتُمْ، جَعَلْتَ جَعَلْتِ، ضَرَبْنَا، عَلِمْتُنَّ، جَعَلْتُمَا. دغه مجموعه جملو کښے فاعل معلوم کړئ ضمائر دی که اسم ظاهر دی ؟

جواب :- دغه ټولو کښے ضمائر دی. تَبَّلَا کښے الف قَالُوْا کښے واؤ قَالَتَا کښے الف ضَرَبْنَ کښے نون قَتَلْتَ کښے تَ اَكْمَلْتُ کښے تُ ظَلَمْتُمْ کښے تُمْ جَعَلْتَ کښے تَ جَعَلْتِ کښے تِ ضَرَبْنَا کښے نَا عَلِمْتُنَّ کښے تُنَّ جَعَلْتُمَا کښے تُمَا. دغه دَ دوئ فاعلونه دی. او س څومره تفریعات چه کولے شئ په دوئ ورقیاس کړئ په تفکر سره.

سوال :- قَامَتْ هِنْدٌ، هِنْدٌ قَامَتْ، قَالَ نِسْوَةٌ، قَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى، طَلَعَ الشَّمْسُ، طَلَعَتِ الشَّمْسُ، قَالَ الرِّجَالُ، قَالَتِ الرِّجَالُ. دغه مجموعه کښے کوم اعتبار جائز دے ؟

جواب :- په قَامَتْ هِنْدٌ او هِنْدٌ قَامَتْ کښے خو یو وجه جائز ده چه مؤنث دَ فعل دے. مابقیه کښے دوه وجے جائز دی چه مذکر او مؤنث دی. کله چه مؤنث غیر حقیقی

وی . او ضمیر پکښې وی یا فاعل جمع تکسیر وی نو که مثال مذکور شو . قَالَ فعل مذکر
دے نِسْوَةٌ وس ته مؤنث فاعل دے خو جمع تکسیر دہ . یَهُوْدُ کښې ایضًا او طَلَعَ الشَّمْسُ
او طَلَعَتِ الشَّمْسُ کښې مؤنث غیرحقیقی فاعل واقع شوید ے ځکه دواړه وجې جائز شوے
چه فعل مذکر هم راځی مؤنث هم . او قَالَ الرِّجَالُ وَقَالَتِ الرِّجَالُ کښې هم جمع تکسیر دہ
او س قَالَ الْمُسْلِمُوْنَ صحیح دے ځکه چه دا جمع سالم دہ . قَالَتِ الْمُسْلِمُوْنَ غلط دے .

سوال :- دا خو دَ جمع صیغه دہ او فعل وس ته مفرد راغے ؟

جواب :- کله چه نسبت دَ فعل وشی اسم ظاهر ته وُحِّدَ الْفِعْلُ اَبَدًا نکه چه په دوئم
ضابطه کښې تیر شو .

سوال :- ضَمِنَ اللّٰهُ رِزْقَ - ضَاقَتِ الْاَرْضُ - قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ - صَلَّ الْمُسْلِمُوْنَ
حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ - اَلرَّجُلَانِ مَاتَا - وَدَّتْ طَائِفَةٌ - اَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا -
قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا . دَ دوی جملو فاعل څه واقع شوید ے په مذکوره سوالاتو کښې ؟

جواب :- ضَمِنَ اللّٰهُ اسم ظاهر دے . ضَاقَتِ الْاَرْضُ کښې مؤنث غیرحقیقی سماعی
دواړه طریقه جائز دی . قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ کښې ایضًا صَلَّ الْمُسْلِمُوْنَ کښې نسبت دَ فعل اسم
ظاهر ته شوید ے . وُحِّدَ الْفِعْلُ اَبَدًا لاند ے راغے . حَبِطَتْ کښې اَعْمَالُهُمْ جمع تکسیر دہ
اَلرَّجُلَانِ مَاتَا کښې موافقت شرط دے . ځکه جزء اول تثنیه دہ مَاتَا به دَ دے موافق
وی . مابقیه ورباندے قیاس کړئ د ډیر په غور سره .

سوال :- ضُرِبَ زَيْدٌ اِلٰى ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ پورے . یا ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ
پورے دا ټولے صیغے مجهولے دی . دیته دوئم قسم دَ فاعل وائی چه کتاب کښې ورته مفعول
مالم یُسَمَّ فاعله وائی . دا به همیشه دَ پاره مرفوع وی . ما بقیه چه څومره مفاعیل راځی هغه
به ور ته منصوب وی . لکه دغه طویل عبادت چه ذکر دے ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اِلٰى
دَ الْخَشَبَةِ پورے . دیته مفاعیل خمسه وائی .

سوال :- قَامَ الْيَوْمَ هِنْدٌ - قَامَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ - نِعْمَ الْمَرْئَةُ - نِعْمَتِ الْمَرْئَةُ
دا څه واقع شوید ی ؟

جواب :- دا خو دَ دیار لسم ضابطے مطابق کار شوید ے . بیا هغه شپږ قسمه دی . څلور
پکښې جائز دی . دوه پکښې وجوبی دی . دا هغه څلورم قسم راځی . توجه او کړئ دیار لسم ضابطه ته

سوال :- خَتَمَ اللّٰهُ ، ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَجُلًا ، سَيَقُوْلُ السُّفَهَاءُ ، اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ اَلَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ ، تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ ، جَاءَنِیْ زَيْدٌ قَدْ رَكِبَ ، اَلَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا ، كِتَابَ اللّٰهِ ، كِتَابُ الْحَجِّ ، كِتَابُ الصَّلٰوةِ ، كِتَابُ الزَّكٰوةِ - داځه واقع شوي دي ؟

جواب :- خَتَمَ اللّٰهُ نه واخله اِلٰی سَيَقُوْلُ السُّفَهَاءُ پورې نسبت دَ فعل اسم ظاهر ته شوي دے. او اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ کښې فعل وسط کښې راغلے ځکه محتاج دے ضمير ته چه راجع شی اللّٰه اسم مبتدا ته. بيا دغه وسط کښې واقع کيدل شين وصول لري. اوّل خبر دَ مبتدا مذکور اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ کښې (دوئيم) صله دَ موصول اَلَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ کښې (دريم) صفت دَ موصوف تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ کښې (څلورم) چه ذوالحال واقع شی دَ پاره دَ حال جَاءَنِیْ زَيْدٌ (پنځم) چه معطوفٌ عَلَيْهِ واقع شی دَ پاره دَ معطوف ځکه چه فِرَاشًا نه بعد دَ السَّمَاءَ ذکر دے. هغے نه بعد وَاَنْزَلَ فعل ذکر دے عطف دے په جَعَلَ باندے. (شپږم) چه څه قرينه موجوده وی. مثال لکه كِتَابَ اللّٰهِ يا كِتَابَ الْحَجِّ دلته حُکمًا حاجی يا مُصَلِّی دَ پاره مذکِّر ذکر دی. ځکه صلٰوة خو به څوک کوی. حج خو به څوک کوی ذکوٰة خو به څوک ورکوی دَدے وجه نه ديته حُکمًا ذکر وائی دا مضاف مضافٌ اليه ذکر کيږی. دَدے ضابطه مخکښے تيره شوے وه چه دوه اسمه يوځلے کښه راشی. اوّل اسم مجرور وی دَ الف لام نه اسم ثانی کښے الف لام وی. بيا به مضاف مضافٌ اليه وی. ځکه دلته كتابَ اللّٰه كتاب الحجِّ ، كتاب الصَّلٰوة ، كتاب الزكاتِ وغيرها کښے مجرور راغی. فتفکر

## پنځم بحث په ترکيب کښے

ضَرَبَ زَيْدٌ نه الی اَكْرَمَ زَيْدٌ پورے يو ترکيب راځی. اوّل جزء فعل ماضی معلوم دے. جزء ثانی ورته فاعل دے. فعل مع الفاعل دا جمله فعليه خبريه شوه.

ضَرَبْتُ نه واخله الی اَكْرَمْتُ پورې فعل فاعل راځی دا هم جمله فعليه خبريه جوړيږی ضمير ورته بارز دے.

زَيْدٌ ضَرَبَ نه الی زَيْدٌ قَتَلَ پورې يو ترکيب دے. زَيْدٌ مرفوع لفظاً مبتدا ده ضَرَبَ فعل ضمير پکښے مستتر دے چه جائز الاستتار دے چه تعبيرے کيږی په هُوَ سره هغه ورته

فاعل شو ـ ضَرَبَ فعل ـ نَصَرَ ، عَلِمَ ، شَرُفَ ، قَتَلَ هم فعل دی مع الفاعل چه هُوَ
ضمیر دے ـ دا جمله فعلیه خبریه خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه زَیْدٌ دے ـ مبتداء مع الخبر
دا جمله اسمیه خبریه شوه ـ مابقیه ورباندے قیاس دی ـ

قَامَتْ هِنْدٌ ، هِنْدٌ قَامَتْ ـ قَامَتْ صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم او هِنْدٌ
ورته مؤنث حقیقی فاعل شو ـ فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه شوه ـ هِنْدٌ مرفوع
لفظاً مبتداء شوه قامت فعل ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په هِیَ سره هغه
ورته فاعل شو ـ فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه خبر شو دَ پاره دَ مبتدا چه هِنْدٌ دے
مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه شوه ـ مابقیه ورقیاس کری ـ

طَلَعَ الشَّمْسُ ـ طَلَعَتِ الشَّمْسُ ـ طَلَعَ فعل صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم
الشَّمْسُ ورته فاعل شو ـ فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه شوه ـ

طَلَعَتِ الشَّمْسُ ـ طَلَعَتِ فعل صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم الشَّمْسُ
ورته فاعل شو دا هم جمله فعلیه خبریه جوړه شوه ـ مابقیه قیاس کری ـ

قَالَ الرِّجَالُ ـ قَالَ فعل صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم الرِّجَالُ ورته
فاعل ـ فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه شوه ـ مابقیه قیاس کری ـ

قَالَتِ الرِّجَالُ ـ قَالَتِ فعل صیغه واحده مؤنثه غائبه الرِّجَالُ ورته فاعل شو ـ فعل
مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه شوه ـ مابقیه ور قیاس کری ـ

---

ضُرِبَ زَیْدٌ یَوْمَ الْجُمُعَةِ اَمَامَ الْاَمِیْرِ ضَرْبًا شَدِیْدًا فِیْ دَارِهٖ تَاْدِیْبًا وَالْخَشَبَةَ
ضُرِبَ صیغه واحد مذکر فعل ماضی مجهول زَیْدٌ نائب دَ فاعل شو یَوْمَ مضاف الْجُمُعَةِ
مضافٌ الیه ـ مضاف مع المضافُ الیه دا ظرف زمان شو ـ اَمَامَ مضاف الْاَمِیْرِ مضافٌ
الیه ـ مضاف مع المضاف الیه دا ظرف مکان شو ـ ضَرْبًا موصوف شَدِیْدًا ورته صفت
موصوف مع صفت دا مفعول مطلق شو دَ پاره دَ ضُرِبَ فِیْ جار دارہ مجرور و مضاف
ه ضمیر مضاف الیه ـ مضاف مع المضاف الیه مجرور شو دَ پاره دَ جار ـ جار مع المجرور دا
ظرف لغو تعلق نیسی تر ضُرِبَ فعل پورے ـ تَاْدِیْبًا مفعول له وَالْخَشَبَةَ مفعول معه ضُرِبَ فعل
مجهول مع نائب الفاعل مع المفاعیله مع المتعلق دا جمله فعلیه خبریه شوه ـ

---

په کاتب عبد اللطیف احسان عظیم ✦ پاکه رب په اوکړے ته ئے لوئے کریم

فصل بدانکه فعل متعدی بر چہار قسم است اوّل متعدی بیک مفعول چوں ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا دوم متعدی بدو مفعول کہ اقتصار بریک مفعول روا باشد چوں اَعْطٰی وانچہ درمعنی او باشد چوں اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا واینجا اَعْطَیْتُ زَیْدًا نیز جائز است۔

سوم متعدی بدو مفعول کہ اقتصار بریک مفعول روا نباشد واین در افعال قلوب است چوں عَلِمْتُ وَظَنَنْتُ وَحَسِبْتُ وَخِلْتُ وَزَعَمْتُ وَرَأَیْتُ وَوَجَدْتُ چوں عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلًا وَظَنَنْتُ زَیْدًا عَالِمًا۔

چہارم متعدی بسہ مفعول چوں اَعْلَمَ وَاَرٰی وَاَنْبَأَ وَاَخْبَرَ وَخَبَّرَ وَنَبَّأَ وَحَدَّثَ چوں اَعْلَمَ اللّٰهُ زَیْدًا عَمْرًا فَاضِلًا بدانکہ این ہمہ مفعولات مفعول بہ اند ومفعول دوم درباب عَلِمْتُ ومفعول سوم درباب اَعْلَمْتُ ومفعول لہ ومفعول معہ را بجائے فاعل نتوان نہاد و دیگر ہارا شاید ودرباب اَعْطَیْتُ مفعول اول بمفعول مالم یسم فاعلہ لائق تر باشد از مفعول دوم۔

ترجمه :- دا فصل دے. پوه شه اے طالبه ! فعل متعدی په څلور قسمه سره دے.
اوّل قسم هغه فعل متعدی دے چه متعدی وی یو مفعول ته مثال لکه ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا. ضَرَبَ فعل زَیْدٌ ورته فاعل عَمْرًا ورته مفعول دے.
دویم قسم هغه فعل متعدی دے چه متعدی وی دوو مفعولو ته او اختصار په یو جائز وی. مثال لکه اَعْطٰی او بل هغه الفاظ چه دَدے په معنیٰ کښے وی. مثال لکه اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا شو. او س اَعْطَیْتُ زَیْدًا نیز جائز است یعنی دغه رنګه دا بل هم جائز دے چه اکتفا په یو مفعول او شی.
دریم قسم هغه فعل متعدی دے چه متعدی وی دوو مفعولو ته چه اختصار دَدے په یو مفعول جائز نه وی. دغه په افعال قلوبو کښے وی مثال لکه عَلِمْتُ، وَظَنَنْتُ، وَحَسِبْتُ، وَخِلْتُ، وَزَعَمْتُ، وَرَأَیْتُ، وَوَجَدْتُ. مثال د جمله لکه عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلًا

یا وَظَنَنْتُ زَیْدًا عَامِلًا شو .
ځلورم قسم هغه فعل متعدی دے چه متعدی وی درے مفعولوته مثال لکه اَعْلَمَ او اَرٰی ، او اَنْبَأَ، او اَخْبَرَ، او خَبَّرَ ، او نَبَّأَ ، او حَدَّثَ . مثال دَ جملے لکه اَعْلَمَ اللّٰهُ زَیْدًا عَمْرًوا فَاضِلًا شو . دا مثال دَ ځلورم شو .
پوه شه اے طالبه! د اول مفعولات مفعول به دی او دویم مفعول دَ باب دَ عَلِمْتُ یا دریم مفعول دَ باب دَ اَعْلَمْتُ او مفعول له او مفعول معه دَ فاعل نائب نشی کیدے او نور مفاعل کیدے شی چه نائب دَ فاعل واقع شی او په باب دَ اَعْطَیْتُ کښے مفعول اول دَ مفعول مَالَمْ یُسَمَّ فَاعِلُه کیدو کښے زیات مناسبت لری دَ دویم مفعول نه . توجه اوکړئ

# تشریحات

دلته لاندی ده دَ معرفت دَ امورو خبره ده (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابط (۳) ذکر دَ امثال (۴) ذکر دَ مشق (۵) ذکر دَ ترکیب .
اول بحث دَ تحقیقاتو : هرکله چه فارغ شو مصنفؒ دَ بیان دَ فاعل او نائب دَ فاعل نه . او س ئے شروع اوکړه په بیان دَ فعل متعدی کښے . بیا دغه فعل متعدی په ځلور قسمه سره دے اول قسم : هغه فعل دے چه متعدی وی یو مفعول ته لکه عام افعال شو . مثلاً ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًوا - او وواهه زید عمرو . ضَرَبَ فعل زَیْدٌ فاعل عَمْرًوا مفعول دے . نو ظاهره خبره ده چه دا یو مفعول دے بل مفعول ته ضرورت نشته .
دویم قسم : هغه فعل دے چه متعدی وی دوه مفعولو ته . بیا یو مفعول ذکر شی دا هم روا دے . مثال لکه اَعْطٰی شو حذف دَ یو مفعول او بقاء دَ مفعول آخر جائز دے .
تقدیر دَ عبارت دا دے لکه کیږی اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا ، ما ورکړل زید ته دوه روپئ ورکړه اَعْطٰی فعل تُ ورته فاعل ضمیر دَ واحد متکلم دے . زَیْدًا مفعول اول دِرْهَمًا مفعول ثانی شو . او س دا هم جائز دی اَعْطَیْتُ زَیْدًا ما زید ته ورکړه نو اَعْطَیْتُ فعل فاعل او زَیْدًا دا ته مفعول به شو . یا دا بے ذکر کولے شی اَعْطَیْتُ دِرْهَمًا مایو روپئ ورکړه . دلته فعل فاعل ذکر شو . دویم مفعول ذکر شو . اول مفعول حذف شو چه دا دی هم چاته ورکړه . دا معلوم نشو . هرچه اول کښے مُعْطٰی معلوم

مُعْطیٰ لہ هم معلوم مُعْطیٰ بہ معلوم نه وُ چه څه ورکړے شوے دی . دا قسم د نورو افعالو نه هم کیدے شي چه متعدی وی دوو ته مفعولو ته او اختصار په یو مفعول باندے جائز دی . لکه کَسَوْتُ زَیْدًا ثَوْبًا ما زید ته جامه واچوله یا سَلَبْتُ زَیْدًا ثَوْبًا ما زید نه جامه کوزه کړه . دا سے هم جائز دی چه کَسَوْتُ زَیْدًا باندے اکتفیٰ شي یا سَلَبْتُ زَیْدًا ذکر شي خلاص نور دریم ذکر نشي .

دریم قسم هغه فعل دے چه متعدی وی دوو ته مفعولو ته لیکن اختصار دے په یو مفعول باندے جائز نه دی . دغه د لکه افعالو ته افعال قلوب وائی . افعال قلوب متعدی کیږی دوو ته مفعولو ته که یو حذف شي نو بل قائم شي . دا سے جائز نه دی . یا به دواړه حذف شي یا به دواړه ذکر شي . مثال لکه عَلِمْتُ ، ظَنَنْتُ ، حَسِبْتُ ، خِلْتُ ، رَأَیْتُ ، وَجَدْتُ دَ افعال قلوب الفاظ شپږ دی . جمله دا سے جوړیږی . مثال لکه عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلًا او یا ظَنَنْتُ زَیْدًا عَالِمًا نو اختصار په افعال قلوبو کښے په یو مفعول باندے جائز نه دے لکه چه په ظاهره کښے دا دوه مفعولونه ښکاری . لیکن حقیقت کښے دا یو مفعول دے دَ مضمون په اعتبار سره . هغه مضمون دا دے چه دَ مفعول ثانی مصدر به مضاف شي مفعول اول ته مثال لکه عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلًا شو . نو مصدر دَ فَاضِلًا فضل دے هغه مضاف کیږی زید ته مثال لکه عَلِمْتُ فَضْلَ زَیْدٍ نو هر کله چه مفعول په حقیقت کښے مضمون دَ دواړو دی که یو مفعول حذف شي او بل باقی پاتے شي نو دا به دا سے شي لکه بعضے اجزاء دَ کلمے حذف کړی او بعضے باقی پریکدی دا جائز نه دی . نو دواړو مطلب یو وی لکه مذکود مثال کښے چه عَلِمْتُ فَضْلَ زَیْدٍ ما ته دَ زید کمال معلوم شو . دیته افعال قلوب حکه وائی چه دَ دے تعلق دَ زړه سره دے . قلوب جمع دَ قلب ده او قلب زړه ته وائی . دَ دے تعلق دَ زړه نه علاوه بل څه نشته . دیته افعال شك او یقین هم وائی .

څلورم قسم هغه فعل دے چه متعدی وی دریو ته مفعولو ته لکه اَعْلَمَ ، اَرٰی ، خَبَّرَ نَبَّأَ ، حَدَّثَ ، اَنْبَأَ - اَخْبَرَ . دغه افعال هر یو فعل دریو ته درے مفعولونه غواړی مثال اَعْلَمَ اللّٰهُ زَیْدًا - عَمْرًوا - فَاضِلًا . اَعْلَمَ فعل دے لفظ دَ اللّٰه فاعل دے زَیْدًا مفعول اول عَمْرًوا مفعول ثانی دے او فَاضِلًا مفعول ثالث دے . معنیٰ پوه کړو اللّٰه پاك زید له په عمرو باندے . دَ هغے دَ فاضل کیدو فعل مع المفعولو ثلا ثه وُ نه جمله فعلیه خبریه

څلور اول افعال دَ باب دَ افعال نه دی . او دریمه ورودستنی دَ باب دَ تفعیل نه دی . کَهٔ دَ
تولو افعالو قسم اول ـ دویم ـ دریم ـ څلورم چه کوم مفاعیل ذکر شویدی دا تول مفعول به دی
لیکن سره دَ دینه چه دا تول مفعول به دی . بیا هم دَ باب عَلِمْتُ مفعول ثانی او دَ باب
اَعْلَمْتُ مفعول ثالث نائب فاعل نشی جوریدے دَ باب عَلِمْتُ افعالو نه هغه افعال یا شبه
افعال مراد دی چه هغه دوؤ مفعولو ته متعدی دی په کومو دوه مفعولو کښے چه اول
مفعول دَ افعال قلوبو دَ داخلیدو نه اول مسند الیه وی ـ
او دویم مفعول مسند وی اګرکه دغه فعل دَ افعال قلوبو نه دی یا نه وی لکه اِعْتَقَدْتُ
زَیْدًا شَاعِرًا نو مثلاً په عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلًا کښے دَ فعل قلب دَ داخلیدو نه مخکښے زید
مسند الیه او عالم مسند وو . لکه حقیقت کښے دا سے وو زَیْدٌ فَاضِلٌ نو مفعول اول خو
نائب دَ فاعل جوړیدے شی لکه عُلِمَ زَیْدٌ فَاضِلًا لیکن دویم مفعول نائب دَ فاعل نشی
جوړیدے . مثلاً عُلِمَ فَاضِلٌ زَیْدًا نشی ویلے غلط دے . دغه رنګه په اعتقدت زَیْدًا
شَاعِرًا کښے شَاعِرًا نائب دَ فاعل نشی جوړیدے ځکه چه کهٔ زَیْدٌ شَاعِرٌ مسند الیه او
مسند دے نو مسند الیه خو نائب کیدے شی مګر مسند نائب فاعل نشی کیدے ځکه چه کهٔ
دویم مفعول نائب فاعل کړے شی . نو دَ دے مطلب به دا وی چه اوس دَ فعل نسبت
مفعول ثانی ته اوشی لکه عُلِمَ فَاضِلٌ زَیْدًا او دا خو غلط دے . ځکه چه کوم مفعول چه دَ
قلب دَ داخلیدو نه مخکښے مسند وو . او س هغه مسند الیه څنګه جوړیدے شی یعنی یو
شے هم مسند او هم مسند الیه نشی واقع کیدے . ځکه چه اجتماع دَ نقیضینو راځی او اجتماع
دا نقیضینو باطل دہ ـ

پاتے شو مفعول له ـ مفعول معه دا هم نائب دَ فاعل نشی واقع کیدے ځکه چه ضَرَبْتُهٗ
تَادِیْبًا صحیح دے . لیکن ضُرِبَ تَادِیْبًا غلط دے . دا ځکه چه نصب دَ مفعول له دلالت
کوی په سببیت باندے او چه نائب دَ فاعل شی نو مرفوع به شی نو دلالت به په معنٰی
دَ سببیت باندے فوت شی . لیکن کله چه مفعول له کښے لام ذکر وی نو بیا نائب فاعل کر څیدے
شی ځکه چه لام دلالت کوی په سببیت باندے نو قائم مقام دَ فاعل شی نو دلالت دَ سببیت
به ختم نشی مثال لکه ضُرِبَ لِلتَّادِیْبِ شو نو دغه وخت کښے به مفعول له مرفوع نه وی بلکه
مجرور به وی له وجه دَ لام نه . پام اوکړئ مطول او کتابونو ته په دقة نظر سره ـ

او هرچه مفعول معه دے دا نائب دَ فاعل نشی واقع کیدے. ځکه چه یا به واؤ ذکر وی یا به حذف وی. که ذکر وی بیا نائب دَ فاعل نشی واقع کیدے. ځکه چه دغه دَ واؤ دلالت کوی په حقیقت عطفیت باندے. اصل په وَاؤ کښے عطف دے او دا تقاضا دَ انفصال کوی او په مابین دَ فعل او نائب دَ فاعل کښے شدت دَ اتصال وی. دا دا سے شو لکه نائب دَ فاعل جزء دَ کلمے وی نو دلته به لازم شی اجتماع دَ نقیضینو او دا صحیح نه دے کما مرّ آنفًا. اجتماع دَ نقیضینو دا سے راځی چه یو اتصال دے او بل انفصال دے. نائب دَ فاعل اتصال دے. وَاؤ عطف انفصال دے دا کله جمع کیږی. او که وَاؤ حذف شی بیا خو مفعول معهٔ نشو او که مفعول معه شی نو دَلالت به مفعول معه باندے نشته ځکه مفعول معه خو بعد الواو وی دلته خو حذف دے بیا څرنګه معلوم شی چه دا مفعول معهٔ دے.

خلاصه دَ سبق دا شوه چه فعل مجهول عمل دَ رفع په مفعول به ثانی دَ باب دَ عَلِمْتُ کښے او مفعول به ثالث په باب دَ اَعْلَمْتُ کښے او په مفعول له او مفعول معهٔ نشی واقع کیدے. او باقی کښے عمل دَ رفع کولے شی. دیته نهایات بحث په شرح جامی یا کافیه یا هدایة النحو کښے پکار دے.

## دویم بحث ذکر دَ ضوابطو

اوله ضابطه :- فعل متعدی په اعتبار دَ تعدیت سره په درے قسمه سره دے. (۱) یو قسم هغه دے چه متعدی وی مفعول واحد ته (۲) قسم متعدی دوه مفعولو ته (۳) قسم متعدی درے مفعولو ته ولا یتجاوز عن ذٰلکَ. درے مفاعیلو نه نهایات نه وی.

۲- ضابطه :- کوم فعل چه متعدی وی دوه مفعولو ته دا بیا په دوه قسمه سره دے (۱) قسم هغه دے چه متعدی وی مفعولینو ته. او مفعول ثانی مغائر وی دَ مفعول اول نه لکه اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا یا کَسَوْتُ یا اَلْبَسْتُ. او س په اَعْطَیْتُ کښے تقدیم دَ مفعول اول اولی دے علی ثانی باندے.

۳- ضابطه :- مفعول ثانی دَ باب دَ اَعْطَیْتُ په اعتبار دَ تقدیم سره په مفعول اول باندے درے قسمه سره دے (۱) واجب التقدیم (۲) جائز التقدیم (۳) ممتنع التقدیم تقدیم دَ مفعول ثانی واجب دے په مفعول اول باندے په درے ځایونو کښے (۱) عند الخوف

اللبس . مثال اَعْطَیْتُ زَیْدًا عَمْرًوا (۲) مفعول اول محصور وی په ثانی پورې . مثال .
مَا اَعْطَیْتُ زَیْدًا اِلَّا دِرْهَمًا (۳) چه مفعول ثانی اسم ظاهر وی او مفعول اول ضمیر وی
مثال اَعْطَیْتُكَ دِرْهَمًا .

۴ - ضابطه :- چه متعدی وی یو مفعول ته هغه په دوه قسمه سره دے . جائز التعدی
لازم التعدی . بیا لازم التعدی په دوه قسمه سره دے (۱) بلا واسطه (۲) بالواسطه

۵ - ضابطه :- هغه فعل چه متعدی وی دوه مفعولو ته . اکتفی په یو باندے جائز وی
هغه حقیقت کښے مبتداء خبر نه وی . که مبتداء خبر وی بیا خو اکتفی په یو جائز نه وو .
هغه فعل چه متعدی دوه مفعولو ته وی اکتفی په یو جائز نه وی هغے ته افعال قلوب وائی .

۶ - ضابطه :- افعال قلوب حقیقت کښے (۱۴) دی . خو دا شپږ دیرش یات مشهور دی
خلك دا ذکر کوی فقط . لیکن یو جائز ده د (۱۴) - (۱) ظَنَنْتُ (۲) حَسِبْتُ (۳) خِلْتُ
(۴) زَعَمْتُ (۵) عَلِمْتُ (۶) رَاَیْتُ (۷) وَجَدْتُ (۸) عد بمعنی ظَنَّ (۹) حجا بمعنی ظَنَّ
(۱۰) دَرٰی (۱۱) جَعَلَ (۱۲) وَهَبَ (۱۳) تعلم (۱۴) اَتَقُوْلَ بمعنی اَتَظُنَّ .

۷ - ضابطه :- دغه افعال قلوب چه متعدی کیږی دوه مفعولو ته دا په څلور قسمه
سره دے (۱) دَ هغے افعال قلوب چه دَ یقین په معنٰی سره وی هغه څلور دی یا پنځه
وَجَدَ ، دَرٰی ، اَلْفٰی ، تَعَلَّمَ بمعنی اَعْلَمَ . پنځه لکه عَلِمْتُ - رَاَیْتُ ، وَجَدْتُ ، دَرٰی
تَعَلَّمَ - ما بقیه قول شك دَ پاره راځی .
(۲) قسم دَ ظن په معنٰی راځی غالباً هغه بیا پنځه دی - جعل . حجا - عدّ - وهب - زعم
(۳) قسم ظن یقین دواړو په معنٰی راځی . لیکن یقین پکښے کثیر الاستعمال دی هغه
صرف دوه لفظ دی - رَاٰی - عَلِمَ .
(۴) قسم چه دواړو په معنٰی مستعمل وی . لیکن ظن پکښے غالب وی هغه درے دی لکه ظَنَّ
حَسَبَ - خَالَ .
دوم قسم هغه فعل چه متعدی کیدے شی دوه مفعولو ته او مفعول ثانی به مغائر د اول
مفعول سره مصداقاً . دا بیا په دوه قسمه سره دو . اول قسم دَ دے افعال قلوب دو . دوېم قسم
دَ دے افعال التحویل او تصییر افعال تصییر مثال لکه جعل - رد - ترك - اتخذ
خلق ، صیر ، وهبا .

۸- ضابطه :- دغه افعالو دپاره درې احکام دي. لکه تنویر ملاواني :-

۱- حکم اعمال دے چه دغه افعال عمل اوکړي لکه اصل په عمل کښے فعل دے.

۲- قسم حکم ملغیٰ عن العمل لفظًا او معنًا عمل باطل شي. بیا دا په دوه قسمه سره دي اوّل چه فعل مابین کښے راشي. مثال زَیْدٌ ظَنَنْتُ قَائِمٌ (۲) فعل دوارو نه وروسته ذکر شي. مثال لکه زَیْدٌ قَائِمٌ ظَنَنْتُ.

۳- قسم حکما لفظا عمل باطل شي معنًا عمل باقي دي. دا به هله شي چه دَ دغې معمولاتو باندے دغه امور و نه کوم امر واقع وي. مثلا لام مبتداء، لام قسم. حرف نفي. اِنْ چه دَ قسم په جواب کښے راځي.

۹- ضابطه :- دا افعال قلوب به مبتداء، خبر باندے راځي دغې ته نصب ورکوي له وجه دَ مفعولیت نه. مثال لکه ظَنَنْتُ زَیْدًا عَالِمًا -

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًوا قَتَلَ عَمْرٌو زَیْدًا نَصَرَ زَیْدٌ غُلَامًا عَلِمَ زَیْدٌ بِکِتَابِهٖ فَتَحَ زَیْدٌ بَابًا اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلًا وَظَنَنْتُ زَیْدًا عَالِمًا رَاَیْتُ سَعِیْدًا ذَاهِبًا وَجَدْتُ رَشِیْدًا عَالِمًا عَلِمْتُ عَمْرًوا اَمِیْنًا زَعَمْتُ اللّٰهَ غَفُوْرًا زَعَمْتُ الشَّیْطٰنَ شَکُوْرًا حَسِبْتُ زَیْدًا فَاضِلًا خِلْتُ خَالِدًا قَائِمًا ظَنَنْتُ بَکْرًا نَائِمًا حَسِبْتُ الْجُوْدَ غَیْرًا ظَنَنْتُ زَیْدًا عَالِمًا خِلْتُ الدَّارَ خَالِیَةً رَاَیْتُ اللّٰهَ اَکْبَرَ کُلَّ شَیْئٍ صَیَّرْتُ الطِّیْنَ خَزَفًا اِتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرَاهِیْمَ خَلِیْلًا جَعَلَ الْاَرْضَ فِرَاشًا خَلَقَ اللّٰهُ الْاِنْسَانَ هَلُوْعًا اَعْلَمَ اللّٰهُ زَیْدًا عَمْرًوا فَاضِلًا لَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْکِتَابَ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَرَاَیْتَ النَّاسَ یَدْخُلُوْنَ فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا اَللّٰهُ یَعْلَمُ اِنَّکَ لَرَسُوْلُهٗ ظَنَّ زَیْدٌ بَکْرًا عَالِمًا رَاَیْتُ بَکْرًا فَاضِلًا -

## څلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال ۱- ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا اِلیٰ فَتَحَ زَیْدٌ بَابًا پورے دا فعل متعدي دَکوم یو نه دے ؟

جواب :- دا ځکه فعل متعدی نه دے چه یو مفعول ته متعدی دی.

سوال :- دا د عام افعالو نه راځی یا د خاص افعالو نه؟

جواب :- دا د عام افعالو نه راځی لکه چه تاسو ورته نظر اوکړی.

سوال :- اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا نه اِلیٰ رَاَیْتُ اللّٰهَ اَکْبَرَ کُلَّ شَیْءٍ پورے د فعل متعدی څلور اقسامو کښے کوم قسم نه دے؟

جواب :- د اد دوه قسمونو نه دی. یو هغه فعل متعدی دی چه متعدی کیږی دوه مفعولو ته. خو اختصار په یو مفعول جائز وی.

دویم قسم هغه فعل متعدی دے چه متعدی کیږی دوه مفعولو ته خو اختصار په یو مفعول جائز نه وی. نو دا مجموعه جملو کښے دواړه قسمه شرکت لری.

سوال :- دا څنګه معلومه شوه چه یو قسم کښے اختصار په یو مفعول جائز او په بل قسم کښے نا جائز؟

جواب :- دا له وجه د ضوابطو نه معلومه شوه او له وجه د تحقیق د ما قبل نه ځکه چه حقیقت کښے هغه دواړه مفعول مبتداء خبر نه وی. لکه اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا اَعْطَیْتُ زَیْدًا هم جائز اَعْطَیْتُ دِرْهَمًا هم جائز.

سوال :- قسم ثانی کښے ولے جائز نه دے اختصار علی مفعول واحد باندے؟

جواب :- دا خو د افعال قلوب څخه دی. مفعول د افعال قلوب دا په شان د جزء د کلے دے. حذف د جزء د کلے جائز نه دے لکه ضَرَبْتُ نه چه ت حذف کول جائز نه دی. ځکه چه د مفعول ثانی مصدر مضاف وی مفعول اول ته نو مجموعه بیا مضمون د جملے کرځی. بیا حذف کول د جملے د یو مضمون څنګه جائز شی. ډیر تفصیل په ضوابطو کښے نظر اوکړئ. نو مفعول اول هم تاسو پیژنئ او مفعول ثانی هم تاسو پیژنئ حاجت قطعًا تفصیل ته نشته. ډیر په توجه سره اشالو ته نظر واچوئ.

سوال :- صَیَّرَتُ الطِّیْنَ خَزَفًا نه واخله اِلیٰ خَلَقَ اللّٰهُ الْاِنْسَانَ هَلُوْعًا پورے څه واقع شویدی؟

جواب :- دا په معنی د تصییر دے ځکه چه د اوومے ضابطے لاندے څلورم قسم بیان نه دے وسته دویم قسم د هغه فعل چه متعدی کیږی دوه مفعولو ته او مفعول ثانی به متحد کړی

اول مفعول سره مصداقاً . دا بیا دوه قسمه سره دی . اول قسم افعال قلوب دی . دویم قسم دَدے افعال التحویل او تصییر دا سوال کښے چه ذکر راغلے دے دا هغه قسم نه دے توجه اوکړی پاس ضوابطو ته او دَ هغے الفاظو ته چه اوه الفاظونه لري

**سوال :-** دَ اَعْلَمَ نه واخله اِلیٰ آخره امثال پورے څه واقع شویدی ؟

**جواب :-** دا هم دَ مختلفو اقسامونه راغلی دی . ځکه هغه فعل متعدی هم شته چه درے مفعوله غواړی لکه اَعْلَمَ هغه فعل هم شته چه دوه مفعوله غواړی چه اختصار ئے په یو مفعول باندے جائز نه دی .

**سوال :-** دیکښے بعضے داسے مفعولونه دی چه هغوئ دَ فاعل په مقام واقع کیږی او بعضے داسے دی چه هغوئ دَ فاعل په مقام نه واقع کیږی . نو تاسونه حیله ده چه اختصاراً او اجمالاً دَ دے نشان دهی اوکړئ ؟

**جواب :-** دا قول چه ذکر شو اول دویم دریم دا قول مفعول به دی . لیکن مفعول به دَ نائب فاعل په مقام واقع کیږی . امّا مفعول دویم دَ باب دَ عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلًا یاظَنَنْتُ زَیْدًا عَالِمًا شو (فَاضِلًا او عَالِمًا) او دریم مفعول دَ باب دَ اَعْلَمْتُ نه لکه اَعْلَمَ اللّٰهُ زَیْدًا عَمْرًا فَاضِلًا دلته هم فَاضِلًا مانعے او مفعول لهٗ شو او مفعول معهٗ شو . دا تقریبًا څلور مفعولات شو چه په ځائے دَ فاعل نشی واقع کیدے . او تفصیلاً توجه اوکړی دَ دے بحث تحقیقاً ترکیب تامکمل طور سره بحث ذکر کړیدے (فتفکر ولا تکسل)

## پنځم بحث دَ ترکیب

اول فعل چه متعدی دی یو مفعول ته . مثال لکه ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا . ضَرَبَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم عَمْرًا ورته مفعول به شو . فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه . مابقیه قیاس کړئ .

دویم قسم :- چه متعدی وی دوه مفعولو ته چه اختصار په یو مفعول جائز وی . مثال لکه اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا . اَعْطَیْتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضی دَ باب دَ افعال منه اَعْطیٰ یُعْطِیْ اِعْطَاءً . نو تُ ورته فاعل دے زَیْدًا مفعول اول دِرْهَمًا مفعول ثانی فعل مع الفاعل مع المفعولین دا جمله فعلیه خبریه شوه .

دریم قسم :- چه متعدی وی دوه مفعولوته . اختصار په یو مفعول جائز نه دی . مثال لکه عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا . وَظَنَنْتُ زَيْدًا عَالِمًا . عَلِمْتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضی معلوم او تُ ورته فاعل شو . او زَيْدًا ورته مفعول اول شو . فَاضِلًا فعل مع الفاعل مع المفعولین دا جمله فعلیه خبریه شوه . ظَنَنْتُ زَيْدًا فَاضِلًا . ظَنَنْتُ فعل فاعل زَيْدًا مفعول اول فَاضِلًا مفعول ثانی . فعل مع الفاعل مع المفعولین دا جمله فعلیه خبریه شوه مابقیه قیاس کړئ .

دریم :- فعل چه متعدی وی دریے مفعولوته . مثال لکه اَعْلَمَ اللّٰهُ زَيْدًا عَمْرًوا فَاضِلًا اَعْلَمَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دَ باب دَ افعال نه . لفظ دَ اللّٰه ورته فاعل شو . زَيْدًا مفعول اول عَمْرًوا مفعول ثانی فَاضِلًا مفعول ثالث شو . فعل مع الفاعل مع المفعولاتو ثلاثه نه دا جمله فعلیه خبریه شوه . مابقیه چه په اشالو کنبے راځی په دغه ځلوره اقسامو باندے ورته قیاس کړئ .

فصل بدانکه افعال ناقصه هفدّه اند کَانَ وَصَارَ وَظَلَّ وَبَاتَ وَاَصْبَحَ وَاَضْحٰی وَاَمْسٰی وَعَادَ وَاٰضَ وَغَدَا وَرَاحَ وَمَازَالَ وَمَا انْفَكَّ وَمَابَرِحَ وَمَا فَتِئَ وَمَادَامَ وَلَيْسَ واین افعال بفاعل تنها تمام نه شوند ومحتاج باشند بخبرے بدین سبب اینهارا ناقصه گویند ودرجملہ اسمیه روند ومسندالیه را برفع کنند ومسند را بنصب چون کَانَ زَيْدٌ قَائِمًا ومرفوع را اسم کَانَ گویند ومنصوب را خبر کَانَ وباقی را برین قیاس کن . بدانکه بعضے ازین افعال در بعضے احوال بفاعل تنها تمام شوند چون کَانَ مَطَرٌ شد باران بمعنی حَصَلَ واورا کَانَ تامه گویند و کَانَ زائده نیز باشند۔

ترجمه :- دا فصل دے (اَیْ هٰذَا الْفَصْلُ) پوه شه اے طالبه ! زده کړه دا خبره چه افعال ناقصه اولسلے دی . مثال لکه (۱) کَانَ (۲) صَارَ (۳) ظَلَّ (۴) بَاتَ (۵) اَصْبَحَ (۶) اَضْحٰی

(۷) اَمْسٰی (۸) عَادَ (۹) اٰضَ (۱۰) غَدَا (۱۱) رَاحَ (۱۲) مَازَالَ (۱۳) مَا اَنْفَكَ (۱۴) مَا بَرِحَ (۱۵) مَا فَتِیَ (۱۶) مَادَامَ (۱۷) لَیْسَ ـ دغه افعال یوازے په فاعل نه تمامیږی. بلکه احتیاج لری خبرته. دَدے دجے نه دوئ ته افعال ناقصه وائی او بل قانون دا لرې چه په جمله اسمیه باندے داخلیږی. او مسند الیه ته رفع ورکوی یعنی مبتداء ته رفع ورکوی او مسند ته نصب ورکوی یعنی خبرته نصب ورکوی مثال لکه کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا. اوس زَیْدٌ مرفوع دے. نو مرفوع ته اسم دَ کَانَ وائی او منصوب ته خبر دَ کَانَ وائی. نو معلومه شوه چه زَیْدٌ اسم دَکَانَ شو او قَائِمًا خبر دَکَانَ شو. او ما بقیه قول په دے قیاس کړئ ـ

پوهه شه اے طالبه! بعضے حالا تو کښے دغه افعال ناقصه په یوازے فاعل تمامیږی مثال لکه کَانَ مَطَرٌ شو (اوشو باران) معنی حاصل شو باران. نو دغه قسم فعل ته تامه وائی. او کَانَ زائد هم وی. نو تاسو دغه افعالو ته توجه اوکړئ تحقیقاتو ته، او امثالو ته، او ضوابطو ته، او مشق ته، او ترکیب ته، لکه څرنګه مونږ ذکر کوو اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تعالٰی

## تشریحات

دلته لا بدی ده دَ معرفت دَ امورخمسه وُنه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) ذکر دَ ترکیب ـ

**اول بحث دَ تحقیقاتو:** ـ هرکله چه مصنف فارغ شو دَ بیان دَ افعال قلوب نه او بیان دَ فعل متعدی نه. نو اوس ئے شروع اوکړه په بیان دَ افعال ناقصه کښے. افعال ناقصه اولس دی. اصل حقیقت کښے افعال ناقصه ویښ دی. لیکن دا بنا بر شهرت دی. دغه افعال ناقصه په دوه قسمه سره دی (۱) تامه (۲) ناقصه ـ وجه دَ حصر پکښے دا ده چه دا افعال به خالی نه دی. یا به تمامیږی صرف په فاعل باندے. یا به نه تمامیږی. که تمامیدل مجرد په فاعل باندے او خبرته محتاجه نه ؤ. دا افعال تامه شو. او که محتاج شو خبرته او مجرد په فاعل تمام نشو نو دا افعال ناقصه شو.

وجه دَ تسمیه دَ دے په افعال ناقصه باندے: ـ افعال ناقصه ته ځکه افعال ناقصه وائی چه دَ ناقصه معنیٰ ده نقصان والا. دے کښے هم نقصان دے ځکه چه هر فعل خپل فاعل باندے تمامیږی

اودے پخپل فاعل باندے نه تمامیږی. بلکه محتاج وی خبرته. ځکه ناقصه شو.

اقسام د افعال ناقصه :- دا په دوه قسمه سره دی (۱) یو افعال ناقصه معنوی دی (۲) افعال ناقصه لفظی دی. افعال ناقصه معنوی دیته وائی چه په اسم خپل باندے تام نه کرځی بلکه محتاج وی ذکر د خبرته. او لفظی افعال ناقصه دیته وائی چه لام کلمه مقابل کښے حرف علت وی. لیکن مقصود دلته اول قسم دے نه ثانی. یعنی افعال معنوی مقصود دی نه لفظی مأخذ (الفجر المستطیر) مثال لکه کَانَ اللّٰهُ عَلِیْمًا خدای علیم دے. کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا. اوس دلته اوله جمله کښے لفظ د الله د کَانَ د پاره اسم دے او عَلِیْمًا ورته خبر دے. او ثانی جمله کښے زَیْدٌ اسم دے. قَائِمًا ورته خبر دے. صَارَ زَیْدٌ غَنِیًّا زید غنی شو ظَلَّ زَیْدٌ صَائِمًا تول ورځ زید روژه ؤو. بَاتَ زَیْدٌ قَائِمًا تول شپه زید ولاړ ؤو. اَصْبَحَ زَیْدٌ قَائِمًا د صباح په وخت کښے زید اودریده. اَضْحٰی زَیْدٌ اَمِیْرًا د څاښت په وخت زید امیر شو اَمْسٰی زَیْدٌ شَاعِرًا د ماښام په وخت کښے زید شاعر شو. دغه مذکور افعال ناقصه کله صرف د صار په معنی هم راځی. بیا د دے مقصد دا دی چه د وخت قید پکښے ملحوظ نه وی عَادَ زَیْدٌ غَنِیًّا زید غنی شو. اٰضَ زَیْدٌ فَقِیْرًا زید فقیر شو. غَدَا زَیْدٌ کَاتِبًا زید کاتب شو. رَاحَ زَیْدٌ شَاعِرًا زید شاعر شو. دغه څلور افعال دوه حالته لری (اول حالت) چه افعال ناقصه شی خو دا په صرف د صَارَ په معنی راځی. بیا لکه مذکوره څلور امثالو کښے چه صرف صار په معنی سره ذکر شو (دویم حالت) دغه څلور افعال کیدے افعال تامه وی بیا به د دے معنی دا بدلے وی چه کرځیدل سره وی. لکه د مثال په طور سره. اٰضَ. واپس شو عَادَ، او کرځیدو. عَادَ - یَعُوْدُ - عَوْدًا. د باب د نصر نه راځی (اٰضَ - یَئِیْضُ - اَیْضًا) ضَرَبَ یَضْرِبُ نه راځی. غَدَا - یَغْدُوْ - غُدُوٌّ - رَاحَ - یَرُوْحُ - رَوْحًا. فَتَحَ - یَفْتَحُ - فَتْحًا - ماښام وخت ته وائی. لکه اوس دا به وایو. عَادَ زَیْدٌ واپس شو زید اٰضَ زَیْدٌ عَنِ السُّوْقِ واپس شو زید د بازار نه. دلته چه تامه شی بیا په معنی د رجوع سره راځی. غُدُوٌّ په معنی د تلل راځی په وخت د صباح کښے لکه غَدَا زَیْدٌ سحر لاړو زید رَاحَ عَمْرٌو راغے عمر په وخت د ماښام مَازَالَ زَیْدٌ رَاکِبًا نه دے زایل شوے زید د مرکب نه یعنی همیشه سور ؤو. دغه څلور واړه تیر شوه. دویم راځی. د دے په معنی کښے نفی موجود ده. او کله چه حرف نفی ورباندے داخل شی بیا معنی ئے اثبات دے ځکه چه نفی خو اول نه ؤو. بیا نفی ته

څه ضرورت دے. نو معلومه شوه چه نفی په نفی داخل شی اثبات فائده کوی مثال لکه مَا زَالَ زَيْدٌ غَنِيًّا زید همیشه غنی دے. مَا بَرِحَ زَيْدٌ نه ولاړ شو زید مَا انْفَكَّ نه دے جدا شو. یعنی مَادَامَ همیشه یعنی اِجْلِسْ مَادَامَ زَيْدٌ جَالِسًا کینه ته چه ترڅو پورې زید ناست وی ما مصدریه سره د خپل اسم او خبر نه د ماقبل جملے ظرف زمان وی. لکه مذکوره جمله شو. یعنی اصل عبارت داسې لکه کیږی. اِجْلِسْ مُدَّةَ جُلُوْسِ زَيْدٍ. د لَيْسَ معنی (نشته) دا په اصل کښې فعل ماضی لَيِسَ دے. د تخفیف د وجه نه د ده کسره حذف شوې. لَيْسَ ساکن الوسط پلټے شو. لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا زید ولاړ نه دے.

دغه افعال ناقصه یواځے په فاعل نه تمامیږی. خامخا محتاج وی خبر ته. ځکه ورته ناقص وائی. او ضابطه پکښے داده چه جمله اسمیه باندے داخلیږی. مسند الیه ته رفع ورکوی او مسند ته خبر. مثال لکه كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا، او س زید اسم د كَانَ دے. قَائِمًا خبر د كَانَ دے ما بقیه خودغه امثالو کښے هم معلوم شو.

بعضے احوالو کښے دوئ تامه راځی یعنی كَانَ یواځے په فاعل تمامیږی. مثال لکه كَانَ مَطَرٌ. او شو باران. دلته دغه كَانَ بیا په معنی د حَصَلَ دے. یعنے حَصَلَ مَطَرٌ حاصل شو باران. دلته كَانَ تامه هم وائی. او کله کله دغه كَانَ زائد هم راځی. مثال لکه كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا. خو که خبرے او کړو مونږ هغه چاسره چه دے په ګواره (ځانګو) کښے وړوکے وی. اوس دلته كَانَ زائد دے. ځکه چه که كَانَ لرے کړے شی نو بیا هم مطلب کښے فرق نه راځی. مثال په طور سره كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا. مونږ څنګه خبرے او کړو د هغه چا سره چه هغه په ځانګو (یا په غیږ) کښے معصوم بچے دے. صرف صَبِيًّا په صَبِيٌّ سره راتلو دغه فرق به راغلے وو. نو فرق به پکښے نه وو راغلے. توجه او کړی تاسو. خو زیاته توجه د دے ضوابطو ته ورکړی. او مشق ته او امثالو ته. ځکه چه دے سره د انسان مطالعه جاری کیږی. الله پاک دے زمونږ مطالع جاری کړی.

## دریم بحث ذکر د ضوابطو

۱ ـ ضابطه:- دا افعال ناقصه په جمله اسمیه باندے داخلیږی. اول جز مرفوع وی هغے ته د فعل ناقص اسم وائی. دوئیم جز منصوب وی هغے ته د فعل ناقص خبر وائی،

لکه کَانَ نَائِمًا قَائِمًا شو.

۲- ضابطه :- دغه افعال ناقصه چه مبتداء ته رفع ورکوی . اسم ورته وائی حقیقةً . او فاعل ورته وائی مجازاً . خبر ته نصب ورکوی . خبر ورته وائی حقیقةً . مفعول ورته وائی مجازاً . یعنی حاصل دا شو که دغه مبتداء ته چا فاعل ووئیل او خبر ته مفعول ووئیل صحیح دی .

۳- ضابطه :- کَانَ - صَارَ - ظَلَّ - بَاتَ - اَصْبَحَ - اَمْسٰی - اَضْحٰی - لَیْسَ - عمل کوی مطلقًا بغیر دَکوم شرط نه . دا اته دی - او انفك - فَتِیَ - بَرِحَ - زَالَ - عمل کوی سره دَ شرط . او شرط دادے چه په هغے بانده نفی داخل وی . او دَامَ دَ پاره شرط دادے چه مَا مصدریه ظرفیه داخل وی .

۴- ضابطه :- دا افعال ناقصه په دوه قسمه سره دی (۱) تامه (۲) ناقصه . تفصیل دَدے تحقیقاتو کښے تیر شویدے .

۵- ضابطه :- خلاصه دَدے ټولو ضابطے دا . هغه داده چه افعال ناقصه درے قسمه شو یو قسم مطلق عمل کوی هغه اته دی . (کَانَ نه اِلیٰ لَیْسَ) پورے . دویم قسم چه شرط پکښے تقدم دَ نفی وی هغه څلور دی (اِنْفَكَّ نه اِلیٰ زَالَ) پورے . دریم قسم چه شرط پکښے تقدم دَمَا مصدریه وی چه نائب دے دَظرف زمان نه . هغه مَادَامَ دے .

۶- ضابطه :- په حذف دَکَانَ کښے دے . دا بیا په درے قسمه سره دے . اول حذف دَکَانَ دے فقط بغیر دَ اسم او خبر نه دا مشروط دے په پنځو شرائطو بانده (۱) واقع شی صله دَ اَنْ (۲) داخل شی په اَنْ حرف تعلیل بانده (۳) چه مقدم شی علت علی المعلول (۴) حرف جار حذف شی (۵) چه راشی کَانَ په یَمَا لفظ سره .

دویم مسئله :- حذف کَانَ مع اسمها وی او ابقاء دَ خبر وی دا جائز دے خو واجب نه دے او شرط دادے چه کَانَ په اِنْ او لَوْ شرط بانده مقدم وی . مثال لکه حدیث پاك کښے راغلی اَلنَّاسُ مَجْزِیُّوْنَ بِاَعْمَالِهِمْ اِنْ خَیْرًا فَخَیْرٌ وَاِنْ شَرًّا فَشَرٌّ . تقدیر دَعبارت اصل کښے داسے دے . اِنْ کَانَ عَمَلُهُمْ خَیْرًا فَجَزَاؤُهُمْ خَیْرٌ وَاِنْ کَانَ عَمَلُهُمْ شَرًّا فَجَزَاؤُهُمْ شَرًّا

دریم مسئله :- حذف دَ نون دَ کَانَ دے . دا هم مشروط دے په امور وسره (۱) چه په لفظ مضارع سره وی (۲) دا کَانَ (۲) مضارع په مجزوم وی (۳) چه کَانَ به دَ نون ساکنه نه بعد

واقع نه وی (۴) دَکَانَ نه بعد به ضمیر متصل واقع وی. مثال: وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَلَمْ اَكُ بَغِيًّا. دلته او س کَانَ جَائِز نه دے. او کُنْ هم جائِز نه دے لانقطاع الفعل هُوَ يَكُوْنُ کښې هم جائِز نه دے. لَنْ يَكُوْنَ کښې هم جائز نه دے. ځکه چه له وجه دَ انتفاء دَجزم نه. دغه رنګه لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا کښې. ځکه چه دلته ساکن موجود دے مابعد دَ کَانَ نه. دغه رنګه په دېکښې هم جائِز نه دے اَنْ يَكُنْهُ فَلَنْ تُسَلَّطَ عليه. دلته ضمیر موجود دے او شرائط نه مخالفت دے. مونږ د پښلے ګودچه کَانَ نه بعد ضمیر به نه وی دلته شته.

۷- ضابطه :- تقدیم دَخبر دے په اسم دَ افعال ناقصه باندے داجائز دے ځکه چه فعل قوی العمل دے. عمل کولے شی مع ترتیب او بلا ترتیب.

۸- ضابطه :- تقدیم دَخبر په ذات دَدے افعالو باندے دا بیا په درے قسمه سره دے (۱) قسم. تقدیم دَخبر په ذات باندے جائز (۲) قسم. تقدیم دَخبر په ذات باندے ناجائز (۳) قسم. هغه دے چه تقدیم دَخبر په ذات باندے علی الاختلاف بین البصرین والکوفین نظر او کړی الفجر المستطیر. او علل النحو او مغنی اللبیب او شذور الذهب ته

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا صَارَ زَيْدٌ فَقِيْرًا ظَلَّ زَيْدٌ صَائِمًا بَاتَ زَيْدٌ قَائِمًا اَصْبَحَ زَيْدٌ فَقِيْرًا اَضْحٰى زَيْدٌ اَمِيْرًا اَمْسٰى زَيْدٌ مُصَلِّيًا عَادَ زَيْدٌ غَنِيًّا اٰضَ زَيْدٌ فَقِيْرًا غَدَا زَيْدٌ كَاتِبًا عَادَ زَيْدٌ مِنْ سَفَرٍ غَدَا زَيْدٌ رَاحَ زَيْدٌ اٰضَ زَيْدٌ اى رَجَعَ زَيْدٌ رَاحَ زَيْدٌ شَاعِرًا مَا زَالَ زَيْدٌ رَاكِبًا مَا انْفَكَّ عَمْرٌو رَاكِبًا اَصْبَحَ زَيْدٌ عَالِمًا مَا بَرِحَ خَالِدٌ صَائِمًا مَا فَتِئَ سَعِيْدٌ فَاضِلًا مَادَامَ زَيْدٌ جَالِسًا مَا زَالَ بَكْرٌ عَالِمًا اِجْلِسْ مَادَامَ زَيْدٌ جَالِسًا لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا كَانَ اللهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا اَصْبَحَ زَيْدٌ ذَاكِرًا مَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ اَمْسٰى زَيْدٌ قَائِمًا لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ اَصْبَحُوْا نَادِمِيْنَ - دَدېنه زیات امثال توجه او کړی تسهیل النحو، تنویر، دروس النحو، شذور الذهب، جامع الدروس

# څلورم بحث ذکر د مشق

سوال :- (۱) کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا (۲) صَارَ زَیْدٌ فَقِیرًا (۳) ظَلَّ زَیْدٌ صَائِمًا (۴) بَاتَ زَیْدٌ قَائِمًا (۵) اَصْبَحَ زَیْدٌ فَقِیْرًا - دا پنځه واړه کښې عوامل لفظي دي که عوامل معنوي ؟

جواب :- دغه پنځو واړو کښې عوامل لفظي دي.

سوال :- بیا عوامل لفظي په څو قسمه سره دي ؟

جواب :- عوامل لفظي په درې قسمه سره دي -

سوال :- دوئ د کوم یو نه دي ؟

جواب :- دوئ عوامل لفظي افعالُ نه دي -

سوال :- افعال عامله یو قسم سره دي که په ډیرو قسمو سره دي ؟

جواب :- ډیرو قسمو سره دي -

سوال :- دوئ ته افعال عامله کښې بیا څه وائي ؟

جواب :- دوئ ته افعال عامله کښې افعال ناقصه وائي.

سوال :- دیکښې د عمل دپاره څه شرط دي. یا بلا شرط دي ؟

جواب :- درېمه ضابطه کښې تیر شو چه اتۀ لفظونو دپاره په عمل کښې شرط نشته بلا شرط عمل کولے شي. پنځۀ د لته ذکر شو. درې پاتے دي. هغه دادي (اَمْسٰی اَضْحٰی - لَیْسَ) دوئ هم عمل کوي بلا شرط. ما بقیه چه څو مره دي قول مع شرط عمل کوي نه بلا شرط. لکه څرنګه چه مونږ سابق کښې ذکر کړے دے.

سوال :- عَادَ زَیْدٌ غَنِیًّا (۲) اَضْحٰی زَیْدٌ فَقِیْرًا (۳) غَدَا زَیْدٌ کَاتِبًا (۴) عَادَ زَیْدٌ مِنْ سَفَرٍ (۵) غَدَا زَیْدٌ (۶) رَاحَ زَیْدٌ مُسْلِمًا (۷) رَاحَ زَیْدٌ (۸) اَضْحٰی زَیْدٌ - دغه اتۀ واړو کښې عوامل معنوي دي که لفظي ؟

جواب :- لفظي.

سوال :- لفظي خو بیا درې قسمه دي. دوئ د کوم یو نه دي ؟

جواب : افعال عامله نه دي.

سوال :- افعال خو بیا څلور قسمه دي. دوئ کوم یو نه دي ؟

**جواب**:- افعال ناقصه نه دی۔

**سوال**:- دَ افعال ناقصه څه ضابطه ده ؟

**جواب**:- خپل اسم ته رفع ورکوی او خبر ته نصب ورکوی. اسم ته اسم دَ فعل ناقصه وائی. او خبر ته خبر دَ فعل ناقصه وائی.

**سوال**:- دا څو تا تکرار ذکر کړو. اَته ترینه جوړ شو ؟

**جواب**:- دا په اصل حقیقت کښې څلور دی. لیکن یو په معنی دَ رجع راځی بل په معنے دَ صار. دَ دے وجه نه دوی اَته شو.

**سوال**:- مَازَالَ زَیْدٌ رَاکِبًا اِلیٰ آخره پورے څه عامل واقع شویدی په دوی باندے؟

**جواب**:- عوامل لفظی، بیا لفظی کښې افعال، بیا افعالو کښې افعال ناقصه.

**سوال**:- دوی کښې څه ضابطه شته. یا بلا ضوابط دی ؟

**جواب**:- مع ضوابط دی۔

**سوال**:- هغه ضابطه پکښې څه ده عیان ئے کړئ ؟

**جواب**:- پنځمه ضابطه کښې راځی چه افعال ناقصه درے قسمه سره دی. اَته پکښې بلا شرط عمل کوی. څلور پکښې مع شرط عمل کوی. او بعضو کښې مَا مصدر یه راځی۔ هغه شرایط دا دی چه بعضو باندے نفی داخل کیږی یا اثبات فائده کوی. لکه دا۔ مَازَالَ نه اِلیٰ آخره پورے قول پکښې راځی۔ بعضے کښې هغه عمل بلا شرط هم پکښې داخل دے لکه مابعد امثالو کښې کَانَ اللّٰهُ عَلِیْمًا حَکِیْمًا ۔ اَصْبَحَ زَیْدٌ ذَاکِرًا ۔ اَمْسیٰ زَیْدٌ قَائِمًا ۔ لَیْسَ عَلَی الْاَعْمیٰ حَرَجٌ ۔ اِصْبَحُوْا نَادِمِیْنَ ۔ دا هغه دی چه عمل ورته بلا شرط راځی. خلاف دَ ما دام نه هغوی کښې شرائط موجود دی ( تفکر اوکړئ )

## پنځم بحث ذکر دَ ترکیب

کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا ۔ کَانَ دا یو فعل دے دَ افعال ناقصه نه. اسم مرفوع خبر منصوب تقاضی کوی. او س زَیْدٌ مرفوع لفظًا مبتداء وُو. او س اسم شو دَ پاره دَ کَانَ او قَائِمًا خبر شو دَ پاره دَ کَانَ. کَانَ مع الاسم مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه ۔ مابقیه قول دربانده قیاس کړی په تفکر سره۔

كَانَ مَطَرٌ - كَانَ دا فعل دے دَ افعال ناقصه ځنه او مَطَرٌ ورته فاعل دے. كَانَ فعل مع الفاعل داجمله فعليه خبريه.

ما بقيه وربانندے قياس كړئ. دَ قياس طريقه داده چه اول به اسم مرفوع لفظاً داخل وي هغه به مبتدا او دوي اَوَّلٌ. بيا اسم دَ كَانَ شو. ما بقيه اسماء چه په نظر كښے راځي چه مبتدا او خبر دي. ديته اسم دَ كَانَ او خبر دَ كَانَ وئيلے شي.

فصل بدانكه افعال مقاربه چاراست عَسىٰ وكَادَ وكَرُبَ وَاَوْشَكَ واين افعال درجمله اسميه روند چون كَانَ اسم رابررفع كنند وخبررا بنصب الاّآنكه خبر اينها فعل مضارع باشد باانْ چون عَسىٰ زَيْدٌ اَنْ يَّخْرُجَ يابے ان چون عَسىٰ زَيْدٌ يَخْرُجُ وشايدكه فعل مضارع باان فاعل عَسىٰ باشدواحتياج بخبرنيفتدچون عَسىٰ اَنْ يَّخْرُجَ زَيْدٌ درمحل رفع بمعنى مصدر-

ترجمه :- دا فصل دے. پوه شه اے طالبه! چه افعال مقاربه څلور دي (۱) عَسىٰ (۲) كَادَ (۳) كَرُبَ (۴) اَوْشَكَ - دغه افعال مقاربه په جمله اسميه داخليږي لكه دَ كَانَ پشان اسم ته رفع وركوي. او خبر ته نصب وركوي. مګر كه دَ دوئ خبر فعل مضارع وي په اَنْ سره. مثال لكه عَسىٰ زَيْدٌ اَنْ يَّخْرُجَ. يابے دَ اَنْ دا شي. مثال لكه عسىٰ زَيْدٌ يَخْرُجُ. كيدے شي چه فعل مضارع په اَنْ سره دَ عَسىٰ فاعل وي او احتياج خبر ته پاتے نشي. مثال لكه عَسىٰ اَنْ يَّخْرُجَ زَيْدٌ په محل دَ رفع كښے دَ مصدر په معنىٰ سره دي. يعني اَنْ يَّخْرُجَ په تاويل دَ مفرد سره فاعل شي دَ عَسىٰ او مرفوع شي محلاً نو بنا به دے قانون عَسىٰ فعل تام اَنْ يَّخْرُجَ فعل زَيْدٌ فاعل. فعل مع الفاعل جمله نه داجمله په تاويل دَ مفرد سره فاعل دَ فعل شو چه عَسىٰ دے -

## تشريحات

دلته الاتنيٰ دے دَ ... دَ اُمور خمسه څخه (۱) تحقيقات (۲) ذكر دَ ضوابطو (۳) ذكر دَ امثالو

(۴) ذکر دَ مشتق (۵) ذکر دَ ترکیب

**اول بحث دَ تحقیقاتو :-** هرکله چه فارغ شو مصنف علیه الرحمة دَ بیان دَ افعال ناقصه نه . نو اوس ئے شروع اوکړه په بیان دَ افعل مقاربه کښے . نو وئے ویل (ابدانکه افعال مقاربه جملة)

**سوال :-** افعال مقاربه ته افعال مقاربه ولے وائی ؟

**جواب :-** مقاربه مشتق دے دَ مقاربت نه او مقاربت وائی نزدیکت ته . نو افعال مقاربه ته ځکه افعال مقاربه وائی چه دوئی هم دلالت کوی په قربت دَ حصول دَ خبر چل با ندے اسم چل لره . خو دا قرب بیا په درے طریقے سره وی (۱) رجائی (۲) حصولی (۳) اخذی دِ جائی . هغه دے چه دَ متکلم امید وی په حصول دَ خبر باندے اسم لره . او دَ دے دَ پاره عَسٰی ، حَرٰی ، اِخْلَوْلَقَ راځی (دویم) حصولی . هغه دے چه دَ متکلم یقین وی په حصول دَ خبر باندے اسم لره . یعنی متکلم خبر ورکوی دَ دے خبره چه حصول دَ خبر اسم ته یقینو دی خو شروع په اسبابو دَ حصول دَ هغے کښے نه دی . دَ دے دَ پاره . کَادَ - کَرُبَ - اَوْشَكَ راځی (دریم) اخذی . هغه دے چه په هغے کښے یقین دَ متکلم په حصول دَ خبر باندے اسم لره خو سره دَ شروع کولو نه په اسبابو دَ حصول دَ دغه څیز کښے . او دَ دے دَ پاره طَفِقَ . جَعَلَ اَخَذَ ، عَلِقَ راځی .

نن ما دَ عزت ملګرو ! دا چه کوم مصنف ذکر کړی دی . دا هغه مشهور افعال مقاربه دی حقیقت کښے دا یوولس دی . (۱) عَسٰی (۲) کَادَ (۳) کَرُبَ (۴) اَوْشَكَ (۵) اِخْلَوْلَقَ (۶) حَرٰی (۷) اَنْشَاَ (۸) طَفِقَ (۹) جَعَلَ (۱۰) اَخَذَ (۱۱) عَلِقَ -

بعضے کښے صرف اووه څیزونه ذکر کوی فقط (۱) عَسٰی (۲) کَادَ (۳) کَرُبَ (۴) اَوْشَكَ (۵) طَفِقَ (۶) اِخْلَوْلَقَ (۷) جَعَلَ -

بعضے کښے نهه ذکر کوی (۱) اَخَذَ (۲) عَلِقَ ورسره نن یا توی . بعضو دیارلس ذکر کړی دی . وَهَبَ - وَهَلْهَلَ ئے زیات کړی . جمله دیارلس کیږی .

**فائدهٔ جمیله :-** اوس فائدهٔ جمیله ذکر کوو . هغه دا ده . چه عسٰی دَ پاره دَ استعمال قانون دوه دی په کلام دَ عربو کښے . یو استعمال دا دے چه ما بعد دَ دینه اسم مرفوع وی او ما بعد دَ هغے اسم مرفوع نه فعل مضارع وی . لکه عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَخْرُجَ . نو په دغه صورت کښے دوه ترکیبه جائز دی . یو دا چه ما بعد اسم مرفوع اسم دَ عسٰی شی . او ما بعد چه فعل مضارع دے هغه

وساته خبر شي . نو دا به ناقصه وي -

او دوېم ترکیب دا دے : چه ما بعد اسم مرفوع فاعل دَ عَسٰی شي . او فعل مضارع بدل شي دَ دغه اسم نه . نو دغه صورت کښې دا تامه وي .

دوېم استعمال دا دے : چه ما بعد دَ عَسٰی نه فعل مضارع وي . او ما بعد دَ فعل مضارع نه اسم مرفوع وي . مثال لکه عَسٰی اَنْ يَّخْرُجَ زَيْدٌ نو په دغه صورت کښې هم دوه ترکیبه راځي .

اوّل . ما بعد اسم مرفوع اسم مؤخر دَ عَسٰی شي . او فعل مضارع خبر مقدم شي دا به ناقصه وي

دوېم ترکیب :- ما بعد اسم مرفوع فاعل دَ فعل مضارع شي . او فعل مضارع په تأویل مصدر بیا فاعل دَ عَسٰی شي نو په دغه صورت کښې دا تامّه وي -

# دوېم بحث ذکر دَ ضوابطو

**۱- ضابطه** :- افعال مقارب به عوامل دي .

**۲- ضابطه** :- افعال مقارب به عوامل لفظي دي .

**۳- ضابطه** :- عوامل لفظي کښې افعال مقارب به افعال عامله دي .

**۴- ضابطه** :- دا افعال مقارب به داخلیږي په جمله اسمیه با ندے . اسم مرفوع او خبر منصوب غواړي .

**۵- ضابطه** :- دا افعال مقارب به په اعتبار دَ معنٰی سره په درے قسمه دي (رجائي . حصولي (اخذي) رجائي دپاره الفاظ دي درے - عَسٰی - حَرٰی - اِخْلَوْلَقَ - امید دَ متکلم دَ خبر ودَ حصول . لیکن یقین ئے نه وي . (دوېم) حصولي - هغے دَ پاره درے الفاظ راځي (کَادَ - کَرُبَ اَوْشَكَ (درېم) اخذي - چه دلالت کوي شروع دَ معنٰی په اسم باندے خبر لره . دَ دے دَ پاره الفاظ ډیر دي . ما بقیه بنا بر اختلاف چه نحو مره ذکر شویدي ما قبل کښې هغه قول یکښې راځي لکه محرنکه دَ دے بحث مَا په تحقیقا نو کښې تفصیلاً ذکر کړیدے . توجه اوکړئ تحقیقا تو ته

**۶- ضابطه** :- افعال مقارب به په اعتبار دَ خبر سره په څلور قسمه دي (۱) خبر دَ کادَ او کَرُبَ فعل مضارع راځي بغیر دَ اَنْ غالبًا او مع اَنْ راځي علی سبیل القلّة (۲) خبر دَ عَسٰی او دَ اَوْشَكَ فعل مضارع مع اَنْ راځي غالبًا او بغیر دَ اَنْ راځي علی سبیل القلّة - (۳) خبر دَ حَرٰی او دَ اِخْلَوْلَقَ فعل مضارع راځي مع اَنْ دائِمًا (۴) خبر دَ اَنْشَاَ - طَفِقَ

جَعَلَ - اَخَذَ اوعَلِقَ وغیرہ فعل مضارع راځي. بدونَ اَنْ دائمًا۔

۷۔ ضابطه :- فرق په مابین دَ افعال مقاربه اودَ افعال ناقصه کښې دا دے چه دواړه داخلیږي په جمله اسمیه باندے. لیکن فرق ئے دا دے چه دَ افعال ناقصه خبر اسم بلاتأویله غالبًا. اودَ افعال مقاربه خبر فعل مضارع وي. بیا تأویلاً مفرد اسم کرځوي. دویم فرق دا دے چه افعال ناقصه جمله اسمیه خبریه وي. او افعال مقاربه جمله انشائیه وي. ځکه چه افعال مقاربه دَ لَعَلَّ په معنٰی سره راځي۔

۸۔ ضابطه :- دَ افعال مقاربه خبر منصوب وي خوکله اسم وي. که فعل مضارع وي بیا به مرفوع وي دَ ځپلے صیغے مطابق سره. لکه عسٰی یَخْرُجُ زَیْدٌ.

۹۔ ضابطه :- په حذف دَ اَنْ کښې ده دَ افعال مقاربه نه اَنْ حذف شي فعل مضارع مرفوع وي. لکه عَسٰی زَیْدٌ یَفْعَلُ - کَادَ زَیْدٌ یَفْعَلُ - یَکَادُ الْبَرْقُ یَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ که اَنْ ورسره ذکر شي بیا به منصوب وي. مثال لکه کَادَ زَیْدٌ اَنْ یَفْعَلَ اوس اثبات دَ اَنْ په عَسٰی اَوْلٰی دے دَ حذف نه او په کَادَ کښې حذف اَوْلٰی دَ اثبات نه۔

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَخْرُجَ عَسٰی زَیْدٌ یَخْرُجُ عَسٰی اَنْ یَخْرُجَ زَیْدٌ عَسٰی رَبُّکُمْ اَنْ یَرْحَمَکُمْ یَکَادُ الْبَرْقُ یَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ کَادَ زَیْدٌ یَفْعَلُ یَکَادُ زَیْتُهَا یُضِیْئُ یُوْشَکُ اَنْ یَاْتِیَنِیْ رَسُوْلَ رَبِّیْ عَسَتِ الْمَرْئَةُ اَنْ تَقُوْمَ کَادَ عَمْرٌو یَذْهَبُ کَرُبَ خَالِدٌ یَجْلِسُ اَوْشَکُ بَکْرٌ اَنْ یَجِیْئَ عَسَی اللّٰهُ اَنْ یَّجْعَلَ بَیْنَکُمْ وَبَیْنَ الَّذِیْنَ عَادَیْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً عَسٰی اَنْ یَّبْعَثَکَ رَبُّکَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا عَسٰی اَنْ یَّکُوْنُوْا خَیْرًا مِّنْهُمْ یُوْشَکُ زَیْدٌ اَنْ یَدْخُلَ الْمَسْجِدَ وَ طَفِقَا یَخْصِفَانِ فَطَفِقَ مَسْحًا۔

## څلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال :- عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَخْرُجَ ، عَسٰی زَیْدٌ یَخْرُجُ ، عَسٰی اَنْ یَخْرُجَ زَیْدٌ عَسٰی رَبُّکُمْ اَنْ یَرْحَمَکُمْ - دغه مذکوره جملو کښې عوامل شته او کنه ؟

جواب :- عوامل شته .

سوال :- عوامل لفظي دي که عوامل معنوي ؟

جواب :- عوامل لفظي دي ځکه دَ اوّلے او دوئيمے ضابطے نه معلوميږي چه افعال مقاربه عوامل هم دي عوامل لفظي هم دي .

سوال :- افعال مقاربه څه غواړي ؟

جواب :- افعال مقاربه اسم مرفوع خبر منصوب غواړي . په شان دَ کَانَ ناقصه

سوال :- بيا دَ افعال ناقصه سره دَ دوئ فرق څه دے ؟

جواب :- افعال ناقصه جمله خبريه دي . دوئ جمله انشائيه دي .

سوال :- دغه مذکوره جملو کښے قول يو شانته دي که اختلاف پکښے شته ؟

جواب :- اختلاف پکښے شته دے . اوّل عَسٰى زَيْدٌ اَنْ يَخْرُجَ کښے دَ دے ترکيبه راځی ترکيب کښے به ئے ذکر کړو اِنْشَآءَ اللّٰهُ تعالىٰ . دغه مذکوره جمله کښے لفظ دَ اَنْ ذکر دے يخرج تاويلا ئے خبر کرځولے دے . منصوب دے . خلاف دَ ثاني جملے نه نو په ثاني اَنْ حذف دے يَخْرُجُ مرفوع ذکر دے . دَ چلے صيغے مطابق مرفوع دے . ثالث جمله کښے خبر مقدم دے منصوب دے په اَنْ سره . رابع جمله کښے رَبُّكُمْ اسم دے اَنْ يَرْحَمَكُمْ ورته خبر دے . ځکه رَبُّكُمْ مرفوع ذکر دے . اَنْ يَرْحَمَكُمْ منصوب ذکر دے ، توجه اوکړه متفکر م

سوال :- يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ . كَادَ زَيْدٌ يَفْعَلُ . يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْئُ يُوْشِكُ اَنْ يَاْتِيَنِيْ رَسُوْلُ رَبِّيْ . عَسَتِ الْمَرْئَةُ اَنْ تَقُوْمَ . كَادَ عُمَرُ يَذْهَبُ كَرُبَ زَيْدٌ يَفْعَلُ . كَرُبَ خَالِدٌ يَجْلِسُ . اَوْشَكَ بَكْرٌ اَنْ يَجِيْئَ . دا څه واقع شو ؟

جواب :- دا هم عوامل دي . بيا عوامل کښے عوامل لفظي دي . بيا لفظي کښے افعال عامله دي . افعال عامله کښے افعال مقاربه دي .

سوال :- قول يو شان دي که فرق پکښے شته ؟

جواب :- فرق پکښے شته . اوله جمله کښے اسم مقدم دے . فعل مضارع مرفوع دے . بلا اَنْ ذکر دے . ثاني کښے ايضًا ثالث کښے ايضًا . او يُوْشِكُ کښے خبر مقدم دے په اَنْ سره هم ذکر دے او . رابع جمله کښے اسم مقدم دے فعل مضارع په اَنْ سره ذکر دے اَنْ تَقُوْمَ خامس کښے اسم مقدم خبر فعل مضارع مرفوع ذکر دے . سادس کښے بيا فعل مضارع مرفوع دے بدون اَنْ

ذکر دے یَجْلِسُ سائِحٌ کښے فعل مضارع په اَنْ سره ذکر ده ان یَجْیئَ - نو دغه فرق ددې
تاسو ته عیان شو چه بعضو کښے فعل مضارع بدون اَنْ داخلے ده او بعضو کښے مع اَنْ۔
بعضو کښے خبر مقدم دے۔

سوال :- عَسَی اللّٰهُ اَنْ یَجْعَلَ بَیْنَکُمْ - عَسٰی اَنْ یَبْعَثَکَ رَبُّکَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا
عَسٰی اَنْ یَّکُوْنُوْا خَیْرًا مِّنْهُمْ اِلٰی آخرہٖ داخه واقع شویدی ؟

جواب :- ددے په شان دَجواب دَ ماقبل دے چه بعضے کښے فعل مضارع چه په اَنْ
ذکر دے خبر مقدم شویدے ۔ بعضو کښے خبر مؤخر شویدے ۔ بعضو کښے په تأدیل سره
فاعل واقع شویدے ۔ امید لرم چه په دقت نظر سره کتنه اوکړی ۔

## پنځم بحث ذکر دَ ترکیب

عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ - عَسٰی دا فعل دے دَ افعال مقاربونه زَیْدٌ اسم دَ عَسٰی دے
اَنْ ناصبه مصدریه یَخْرُجَ صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ضمیر کښے مستتر
دے چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره او راجع دے زَیْدٌ ته هغه ئے فاعل شو د پاره دَ یَخْرُجَ
فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه په تأدیل دَ مصدر سره چه خروج دے منصوب محلاً خبر
شو دَ پاره دَ عَسٰی ۔ عَسٰی مع اسم مع الخبر دا جمله فعلیه انشائیه دیته عسٰی ناقصه وائی
دا اوّل ترکیب شو ۔

دویم ترکیب :- عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ - عَسٰی دا فعل دے دَ افعال مقاربونه فاعل
دَ عَسٰی شو ۔ اَنْ ناصبه یَخْرُجَ منصوب بنا علی التّشبیه ۔

دریم ترکیب :- عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ - عَسٰی فعل دے دَ افعال مقاربونه زَیْدٌ
مرفوع لفظاً مبدل منهٗ اَنْ یَّخْرُجَ بدل الاشتمال دغه دوه ترکیبونو کښے عسٰی تامه دے
عَسٰی اَنْ یَّخْرُجَ زَیْدٌ - د یکښے هم درے ترکیبه دی (۱) عَسٰی په معنٰی دَ قَارَبَ
فعل اَنْ ناصبه مصدریه یَخْرُجَ زَیْدٌ جمله فعلیه په تأدیل دَ مصدر سره فاعل شو
دَ پاره دَ عَسٰی چه په معنٰی قَارَبَ دے ۔ فعل مع الفاعل جمله فعلیه خبریه دیته عسٰی تامه وائی
دویم ترکیب :- عَسٰی اَنْ یَّخْرُجَ زَیْدٌ - عَسٰی فعل دے دَ افعال ناقصه ئې نه اسم مرفوع
خبر منصوب غواړی ۔ زَیْدٌ اسم دَ عَسٰی فعل شو مؤخر اَنْ ناصبه مصدریه یَخْرُجَ فعل

ضمیر پکښې مستتر دے چه راجع دے زَیْدٌ ته هغه ئے فاعل شو. فعل مع الفاعل داجمله خبر مقدم شو دَ عَسٰی دَ پاره. عَسٰی مع الاسم مع الخبر دا جمله فعلیه خبریه شوه. که عسٰی فعل شی دَ افعال مقاربه نه بیا به دغه ترکیب جمله فعلیه انشائیه کیږی په معنٰی دَ لَعَلَّ سره.

دریم ترکیب :- دَ عَسٰی او دَ یَخْرُجَ تنازع راغلله په زَیْدٌ کښې که دا اسم دَ عَسٰی شی نو دَ یَخْرُجَ دَپاره فاعل ضمیر مستتر دے چه هُوَ دے. بیاجمله خبر واقع شوے دَپاره دَ عَسٰی. یا زَیْدٌ فاعل دے دَ یَخْرُجَ دَپاره بیاجمله خبر دَ عَسٰی دے او اسم دَ عسٰی ضمیر مستتر دے په دے عَسٰی کښې چه راجع دے زَیْدٌ ته. بنا په دغه دوه ترکیبو باندے بیا عَسٰی ناقص دے. جمله فعلیه انشائیه کیږی.

عَسٰی زَیْدٌ یَخْرُجُ. عَسٰی فعل زَیْدٌ اسم دَ عَسٰی یَخْرُجُ فعل ضمیر پکښې مستتر دے چه هُوَ دے هغه ئے فاعل. فعل مع الفاعل خبر شو دَپاره دَ عَسٰی. دا منصوب محلاً دے فعل مع الاسم مع الخبر دا جمله فعلیه انشائیه. مابقیه چه څومره تراکیب دی په دے دِ قیاس کړی.

فصل بدانکه افعال مدح وذم چهار است نِعْمَ وَحَبَّذَا برائے مدح وَبِئْسَ وَسَاءَ برائے ذم وہرچہ مابعد فاعل باشد آنرا مخصوص بالمدح یا مخصوص بالذم گویند وشرط آنست که فاعل معرف بلام باشد چوں نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ یا مضاف بسوئے معرف بلام باشد چوں نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ یا ضمیر مستتر ممیز بنکرہ منصوبہ چوں نِعْمَ رَجُلاً زَیْدٌ فاعل نِعْمَ هُوَ است مستتر در نِعْمَ وَرَجُلاً منصوب است بر تمیز زیراکه هُوَ مبہم است وَحَبَّذَا زَیْدٌ حَبَّ فعل مدح است و ذَا فاعل او، و زَیْدٌ مخصوص بالمدح و ہمچنیں بِئْسَ الرَّجُلُ زَیْدٌ وَسَاءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو.

ترجمه :- دا فصل دے. پوه شه اے طالبه! افعال مدح او ذم مجموعه څلور دی نِعْمَ او حَبَّذَا دا دواړه راځی دَپاره دَ مدح. او بِئْسَ او سَاءَ دا دواړه راځی دَپاره دَ ذم او هر هغه اسم چه ما بعد دَ فاعل نه وی هغه ته اسم مخصوص بالمدح یا اسم مخصوص بالذّم وائی

او شرط دا دے چه فاعل به معرف بِلَام وی . مثال لکه نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ او س اَلرَّجُلُ فاعل معرف بلام دے او زَيْدٌ اسم دے وروسته ذکر دے دَ الرَّجُلُ نه دا اسم مخصوص بالمدح شو . یا مضاف وی معرف بلام ته مثال لکه نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَيْدٌ دیرښه دے صاحب دَ قوم چه زید دے . یا به ضمیر مستتروی چه ممیز وی به نکره سره منصوبه سره . لکه نِعْمَ رَجُلاً زَيْدٌ دَ نعم فاعل دلته هُوَ دے چه مستتر دے په نِعْمَ کښے او رَجُلاً چه منصوب دے دَ تمیز کیدو دَپاره ځکه چه هُوَ ځو مبهم دے حَبَّذَا زَيْدٌ حَبَّ فعل مدح دے او ذا فاعل دے او زَيْدٌ مخصوص بالمدح دے . همدا رنګه بِئْسَ الرَّجُلُ زَيْدٌ او سَاءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو شو . دریته مخصوص بالذم وائی -

# تشریحات

دلته لا بدی ده دَ اُمورخمسه ؤ نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَضوابطو (۳) ذکر دامثال (۴) ذکر دمشق (۵) ذکر دَ ترکیب -

**اول بحث دَ تحقیقاتو** :- هر کله چه فارغ شو مصنف عَلَیْهِ الرَّحمة دَ بیان دَ افعال مقاربه ؤ نه . نو او س ئے شروع اوکړه په بیا ن دَ افعال مدح او ذم کښے نو وے دیل (فصل بدانکه افعال مدح وذم چهار ہست) نو مدح او ذم (مَدْحٌ او ذَمٌّ) دوا ړه صیغے دَ مصدر دی یعنے مدح کول او ذم کول . افعال مدح او ذم انشاء دَپاره راځی . افعال مدح او ذم ځلور دی .

**سوال** :- حصر په ځلورو کښے باطل دے له وجه دَ وجود آخرنه لکه مَدَحْتُ اللُّؤْلُؤَ عَلٰی حِسَانِهَا وذَمَمْتُ الشَّیْطَانَ عَلٰی وجهه ؟

**جواب** :- حصر په ځلورو کښے صحیح دے . ځکه چه مراد دَ افعال مدح او ذم نه هغه افعال دی چه راځی دَپاره دَ انشاء او دغه مَدَحْتُ او ذَمَمْتُ دَپاره دَ انشاء نه دی بلکه دوئ دَپاره دَ اخبار دی . کما هو ظاهر -

او س د نه افعال مدح او ذم دوه قسمه سره دی (اول) دَپاره دَ مدح . هغه دَپاره دوه لفظ دی (نِعْمَ . حَبَّذَا) (دویم) دَپاره دَذم هغه دَپاره هم دوه لفظ دی (بِئْسَ او سَاءَ) او مابعد دَ دوئ نه چه کوم اسم ذکر کیږی هغه ته مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم وائی .

شرط په افعال مدح کښې دا دے چه فاعل دَدے به معرف باللام وی. لکه نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ غیر دَحَبَّذَا نه . حَبَّذَا دَ پاره فاعل معرف باللام نه وی . یا فاعل دَدے مضاف وی معرف باللام ته . مثال لکه نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ یا فاعل دَدے به ضمیر مستتر وی . ممیز دې په نکره منصوبه سره مثال لکه نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ فاعل دَ نِعْمَ ضمیر مستتر دے چه هُوَ دے او رَجُلًا منصوب دے بنا بر تمیز ځکه چه هُوَ خو مبهم دے . یا به مضاف وی دغه فاعل معرف باللام ته بالذات لکه مثال مذکور کښې . یا به بالواسطه وی لکه نِعْمَ صاحب لِجَامِ الْفَرَسِ زَیْدٌ . دلته دوارو مقامو کښې فاعل صاحب دے . په اول کښې مضاف بالذات دے . ثانی کښې مضاف بالواسطه دے . دا ځکه چه دا فاعل موافق شی مخصوص سره.

**سوال** :- فاعل چه ضمیر وی نو بیا ورسته ولے نکره منصوبه تمیز راځی ؟

**جواب** :- دا تمیز خو ځکه راځی چه دا ضمیر خو مبهم وی . دفع دَ ابهام ضروری ده . او رفع دَ ابهام کیږی په تمیز سره .

**سوال** :- تمیز بیا ولے نکره وی ؟

**جواب** :- ځکه چه اصل په تمیز کښې نکارت دے ځکه چه غرض دَ تمیز نه هغه رفع دَ ابهام ده او هغه حاصلیږی په نکره سره . او که تعریف ذکر شی بیا بلا فائده پاتے کیږی.

**سوال** :- تمیز منصوب ولے وی ؟

**جواب** :- ځکه چه تمیز دَ منصوباتو نه دے مثال لکه مذکور ذکر په نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ کښې هم لکه بِئْسَ او سَاءَ دے چه دَدے فاعل به هم معرف بالام وی یا به مضاف وی معرف بالام ته یا به ضمیر وی ممیز وی په نکره منصوبه سره .

## دریم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه :- افعال مدح او ذم څلور دی نِعْمَ - حَبَّذَا برای مدح بِئْسَ او سَاءَ برای ذم

۲- ضابطه :- فاعل دَ نِعْمَ او بِئْسَ او سَاءَ په درے قسم سره وی (۱) اسم جنس معرف بالام (۲) هغه اسم چه مضاف وی معرف باللام ته (۳) ضمیر مبهم ممیز په نکره منصوبه سره

۳- ضابطه :- یا ممیز دَدے په کلمه دَ ما سره . مثال لکه فَنِعِمَّا هِیَ شو . درے ترکیبه به کښې راځی انشاء الله تعالیٰ په بحث دَ ترکیب کښې .

۴ ـ ضابطه :ـ مخصوص بالمدح والذّم غالبًا ذکر کولے شی ما بعد دَ نعل نه او کله مقدم کولے هم شی په خِلاف دَ مخصوص دَ حَبَّذَا نه چه تقدیم دَدے جائز نه دے .

۵ ـ ضابطه :ـ مطابقت دَ مخصوص دَ فاعل سره شرط دے په افراد و تثنیه وجمع تذکیر او تانیث کښے په خلاف دَ حَبَّذَا نه چه دا شرط نه لری .

۶ ـ ضابطه :ـ مخصوص بالمدح او ذم حذف کولے شی په وخت دَ وجود دَ قرینے دَ اله کښے په تعین دَ محذوف باندے ، لکه نِعْمَ الْعَبْدُ اِنَّهٗ اَوَّابٌ ـ فَنِعْمَ الْمَاهِدُوْنَ .

۷ ـ ضابطه : نِعْمَ او بِئْسَ د دواړه رفع ورکوی هغه معرف باللام ته یا مضاف ی معرف باللام ته .

۸ ـ ضابطه :ـ نِعْمَ او بِئْسَ نصب ورکوی . کله معرف باللام او مضاف نه وی . او رفع ورکوی خبر ته په کل حال کښے مثال لکه : نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ ـ بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌو ـ نِعْمَ غلام الرَّجُلِ عَمْرٌو ـ نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِیْنَ ـ نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ ـ بِئْسَ رَجُلًا عَمْرٌو ـ بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِیْنَ کَذَّبُوْا الخ ـ سَاءَ رَجُلًا زَیْدٌ ـ سَاءَ مَثَلًا نِ الْقَوْمُ الَّذِیْنَ کَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا ـــ (فجهد ولا تکسل ولا تکن غافلا ـ فندامت عقبٰی لمن یتکاسل)

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ . نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ حَبَّذَا زَیْدٌ بِئْسَ الرَّجُلُ زَیْدٌ بِئْسَ رَجُلًا زَیْدٌ بِئْسَ غلام الرَّجُلِ زَیْدٌ سَاءَ الرَّجُلُ زَیْدٌ سَاءَ رَجُلًا زَیْدٌ سَاءَ غُلَامُ الرَّجُلِ زَیْدٌ سَاءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِیْنَ نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِیْنَ کَذَّبُوْا نِعْمَ الْعَبْدُ اَیُّوْبُ نِعْمَتِ الصَّلٰوةُ هٰذِهٖ ـ بِئْسَ الْمِهَادُ جَهَنَّمُ سَاءَ مَثَلًا نِ الْقَوْمُ الَّذِیْنَ کَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا حَبَّذَا بَکْرٌ نِعْمَ الرَّجُلُ رِضْوَانُ اللّٰهِ

## څلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال :ـ نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ ـ نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ ـ نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ

حَبَّذَا زَیْدٌ ۔ د یکښې عوامل شته اوکه نه ؟

**جواب** :- عوامل شته ۔

**سوال** :- عوامل لفظي دي که عوامل معنوي ؟

**جواب** :- عوامل لفظي ۔

**سوال** :- لفظي عوامل په دڅو قسمه دي ۔ دا کوم يو دي ؟

**جواب** :- دا عوامل لفظي کښې افعال عامله دي ۔ بيا افعال عامله کښې افعال مدح اوذم دي

**سوال** :- دا افعال مدح اوذم څه ضوابط لري ؟

**جواب** :- افعال مدح اوذم خپل خبر ته هميشه دپاره رفع ورکوي او اسم خپل ته رفع او نصب دواړه ورکوي که اسم معرف باللام وي يا مضاف وي بيا رفع ورکوي که مجرود وي دغه دواړو شرائطو نه بيا نصب ورکوي ۔

**سوال** :- دغه مذکوره جملو کښې فرق شته اوکه توله يو شانته دي ؟

**جواب** :- تولو کښې فرق شته ۔ مثلاً نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ نو الرَّجُلُ معرف باللام دے مرفوع دے ۔ نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَيْدٌ ۔ صَاحِبُ مرفوع دے چه مضاف دے معرف باللام ته ۔ ثالث جمله کښې منصوب دے ځکه چه هغه خالي ده د الف لام نه ۔

**سوال** :- بِئْسَ الرَّجُلُ زَيْدٌ (۲) بِئْسَ رَجُلاً زَيْدٌ (۳) بِئْسَ غُلَامُ الرَّجُلِ زَيْدٌ (۴) سَاءَ الرَّجُلُ زَيْدٌ (۵) سَاءَ رَجُلاً زَيْدٌ (۶) سَاءَ غُلَامُ الرَّجُلِ زَيْدٌ دغه شپږ جملو کښې څه واقع شوي دي ؟

**جواب** :- (۱) اول عوامل دي (۲) عوامل لفظي دي (۳) عوامل لفظي کښې افعال عامله دي (۴) افعال عامله کښې افعال مدح، ذم دي (۵) اسم ته نصب اورفع دواړه ورکوي ۔ او خبر ته هميشه رفع ورکوي ۔ مثال دکه اوله جمله کښې اَلرَّجُلُ مرفوع دے ځکه چه معرف باللام دے (ثاني) جمله کښې خالي ده د معرف باللام نه (ثالث) مضاف د معرف باللام هغه هم مرفوع دي لکه ضابطه کښې تير شو ۔ (رابع) کښې معرف باللام دے (خامس) مجرد دے عن الف لام نه (سادس) کښې مضاف دے دغه اسم معرف باللام ته توجه اولري ددے ضابطه ته اوبيه دقت نظر او توجه سره ورته کتنه اوکړئ ۔

**سوال** :- ساءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو (۲) نِعْمَ اَجْرُ الْعَامِلِيْنَ (۳) نِعْمَ رَجُلاً زَيْدٌ

(۴) بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا (۵) نِعْمَ الْعَبْدُ اَيُّوْبُ (۶) نِعْمَتِ الصَّلٰوةُ
هٰذِهٖ (۷) بِئْسَ الْمِهَادُ جَهَنَّمُ (۸) سَاءَ مَثَلاً نِ الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا (۹) حَبَّذَا بَكْرٌ
(۱۰) نِعْمَ الرَّجُلُ رِضْوَانُ الله - دغه لسو جملو کښے څه واقع شوی دی ؟

**جواب** :- عوامل لفظی واقع شوی دی .

**سوال** :- عوامل لفظی خو ډیر دے دی دا کوم یو نه دی ؟

**جواب** :- عوامل لفظی کښے دَ افعال عامله نه دی .

**سوال** :- افعال عامله خو پیا پنځه قسمه دی . دا کوم یو نه دی ؟

**جواب** :- دا دَ افعال مدح اوذم نه دی .

**سوال** :- عمل ئے څه دے ؟

**جواب** :- خپل خبر ته رفع ورکوی همیشه . او اسم ته کله رفع ورکوی مع شرائط
اوکله نصب ورکوی عدم شرائط . او شرائط مخکښے تیر شو .

**سوال** :- دا تول قسمت واحدة دی . که اقسام کثیرة دی ؟

**جواب** :- اقسام کثیرا دی . مثال لکه اوله جمله کښے اسم مرفوع دے ځکه چه معرف
باللام دے . دغسې لکه اسم مرفوع دے په ثانی کښے . په رابع په خامس په سادس په
سابع کښے . او په عاشر کښے وجه معرف باللام یا اضافت معرف باللام ته . ثالث جمله کښے ثامن جمله
کښے منصوب دے ځکه چه مجرد دے دغه اسم د معرف باللام نه . او ضابطه پکښے دا ده چه که
اسم خالی وی عن الف لام یا عن الاضافت دا به منصوب وی (فتفکر)

## پنځم بحث ذکر دَ ترکیب

نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ - کښے پنځه ترکیبونه دی :

۱- نِعْمَ فعل مدح اَلرَّجُلُ فاعل دَ فعل مدح . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه
خبر مقدم زَيْدٌ ورته مبتداء مؤخر شو . مبتداء مع الخبر مقدم نه دا جمله اسمیه خبریه
ترکیبیه انشائیه شوه . دغه قولو کښے مستقبل سره تعلق لری ځکه جمله انشائیه ده .

۲- نِعْمَ فعل مدح الرَّجُلُ مبدل منه او زَيْدٌ ورته بدل شو . مبدل منه مع البدل
دا فاعل شو دپاره دَ نِعْمَ . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه انشائیه شوه -

۳- (ترکیب) نِعْمَ فعل مدح اَلرَّجُلُ مُبَیَّن زَیْدٌ عطف بیان. مبین مع البیان دا فاعل شو دَپاره دَ نِعْمَ. فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه انشائیه شوه. نو دا قوله یو جمله شو

۴- (ترکیب) نِعْمَ فعل اَلرَّجُلُ دې له فاعل. فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه انشائیه زَیْدٌ خبر دے دَپاره دَ مبتدا محذوفه چه هُوَ دے. مبتدا مع الخبر دا جمله اسمیه انشائیه شوه.

۵- (ترکیب) نِعْمَ فعل اَلرَّجُلُ جمله فعلیه انشائیه زَیْدٌ مبتدا او خبر دې ته محذوف دے چه هُوَ دے. مبتدا مع الخبر دا جمله اسمیه انشائیه. په دغه دوه ترکیبونو کښې (۱) جمله فعلیه انشائیه (۲) جمله اسمیه انشائیه. مابقیه افعال مدح، ذم چه معرف باللام دی. دغه تراکیب پکښې رانئی -

نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ - نِعْمَ فعل مدح صاحب مضاف القوم مضاف الیه مضاف مع المضاف الیه فاعل شو دَ نِعْمَ. فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه خبر مقدم زَیْدٌ مخصوص بالمدح مبتداء مؤخر شوه. مخصوص بالمدح مبتداء مع الخبر مقدم نه دا جمله اسمیه خبریه شوه. مابقیه دَدے ترکیب غوندے په دے قیاس کړئ -

نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ - نِعْمَ فعل مدح ضمیر پکښې مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره هغه دې ته ممیز رَجُلًا دې ته تمیز. ممیز مع تمیز دا فاعل شو دَپاره دَ نِعْمَ فعل مدح. فعل مدح مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه خبر مقدم زَیْدٌ مبتداء مؤخر. مبتداء مع الخبر مقدم دا جمله اسمیه انشائیه شوه مابقیه په دے قیاس کړئ -

حَبَّذَا زَیْدٌ - حَبَّ فعل مدح ذَا فاعل. حَبَّ فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه خبر مقدم زَیْدٌ مبتداء مؤخر مخصوص بالمدح دے. مبتداء مع الخبر مقدم نه دا جمله فعلیه خبریه شوه. یا جمله اسمیه خبریه شوه. مابقیه حَبَّذَا مثل په حَبَّذَا قیاس کړئ -

بِئْسَ الرَّجُلُ زَیْدٌ - سَاءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو - دا قیاس دے په نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ باندے په پنځه واړه ترکیب کښې صرف دَ مخصوص بالذم دی او هغه مخصوص بالمدح دی -

نَنِعِمَّاهِيَ ـ کښې درې ترکيبه دی :

۱ـ عند الجمهور نِعْمَ فعل ضمير پکښې مستتر دے چه معبر دے په هُوَ سره هغه مبهم مميز ـ مَا په معنیٰ دَ شيئًا سره تميز ـ مميز مع تميز فاعل دَنِعْمَ شو

۲ـ عند کسائی او سيبويه چه مَا معرفه او تامه دے په معنیٰ اَلشَّيْءُ سره فاعل دَ نِعْمَ دے ـ فعل مع الفاعل دا جمله فعليه انشائيه شوه ـ

۳ـ عند الفراء او مبرد هغوئ وائی چه دا ما موصوله دے او صله ورته محذوف ده ـ موصول مع صله فاعل شو دَ نِعْمَ ـ نو تقدير دَ عبارت دا رنګه شو ـ نِعْمَ الذی فعله هِیَ ـ

او حَبَّذَا زَيْدٌ کښې پنځه تراکيب کښې پښتان دَ نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ دے شپږم ترکيب کښې دا (ذا) ورته زائد فرض کړے شی او زَيْدٌ ورته فاعل شی ـ او ددا تحقيق نظر اوکړی غاية التحقيق ملا ته، او ما بقيه چه څومره په امثالو کښے ذکر راغلی دی ـ نو تا سو ئے په دے مذکوره تراکيبو ـ باندے قياس کړئ په دقت نظر سره ـ بعضے امثال د نحو مير ص۲۲ ح ۴ کښے ذکر دی دَ حَبَّذَا دپاره ـ

فصل بدانکه افعال تعجب دو صيغه از هر مصدر ثلاثی مجرد باشد اوّل مَا اَفْعَلَهُ چوں مَا اَحْسَنَ زَيْدًا چه نيکو است زيد تقديرش اَیُّ شَیْءٍ اَحْسَنَ زَيْدًا ـ مَا بمعنی اَیُّ شَیْءٍ است در محل رفع بابتداء و اَحْسَنَ در محل رفع خبر مبتدا و فاعل اَحْسَنَ هُوَ است در و مستتر و زَيْدًا مفعول به دوم اَفْعِلْ بِهٖ چوں اَحْسِنْ بِزَيْدٍ ـ اَحْسِنْ صيغه امر است بمعنی خبر تقديرش اَحْسَنَ زَيْدٌ اَیْ صَارَ ذَا حُسْنٍ و با زائده است ـ

تمام شد باب دويم تاريخ (۱ ، ۱۰ ، ۱۳۸۱ ه) شب يکشنبه

ترجمه ۱ـ دا فصل دے په بيان دَ افعال تعجب کښے ـ پوه شه اے طالبه ! افعال تعجب دوه صيغ

دَ ثلاثی مجرد دَ هر مصدر نه جوړیږی . اول دَ هغې نه مَا اَفْعَلَهٗ وزن سره راځی . مثال لکه مَا اَحْسَنَ زَیْدًا (څه ښه دے زید) اصل عبارت داسې دے اَیُّ شَیْءٍ اَحْسَنَ زَیْدًا مَا دلته په معنیٰ دَ اَیُّ شَیْءٍ ده . او دَ رفع په محل کښې ده دَ مبتدا کیدو په وجه او اَحْسَنَ هم دَ رفع په محل کښې دے چه هغه خبر دَ مبتدا دے . او فاعل دَ اَحْسَنَ هُوَ دے چه په دَ اَحْسَنَ کښې پټ دے او زَیْدًا مفعول به دے . دویم وزن دَ افعل تعجب دَپاره دے اَفْعِلْ وضع شوے دے . مثال لکه اَحْسِنْ بِزَیْدٍ . اَحْسِنْ صیغه دَ امر ده بمعنیٰ دَ خبر سره وی یعنی اَحْسَنَ . امر به په معنیٰ دَ ماضی صیغې سره وی . نو حاصل دا شو چه اَحْسِنْ به اَحْسَنَ په معنیٰ وی . تقدیر دَ عبارت به داسې شی اَحْسَنَ زَیْدًا ای صَارَ ذَا حُسْنٍ زَیْدًا . صَارَ فعل ذَا مضاف حُسْنٍ ورته مضافٌ الیه . مضاف مع المضافُ الیه دا فاعل دَ صَارَ شو . بَا زائده ده . زَیْدًا ورته مفعول به واقع شو . دَ با محاورې ترجمه دا سے کیږی چه زید خومره حسین شو .

# تشریحات

دلته لابدی ده دَ امور خمسه ؤنه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) ذکر دَ ترکیب .

**اول بحث دَ تحقیقاتو :-** هر کله چه مصنف علیه الرحمة فارغ شو دَ بیان دَ افعال مدح اوذم نه او شروع ئے اوکړه په بیان دَ افعال تعجب کښې نو دے ئے دیل فصل .

**سوال :-** افعال تعجب ته ولے افعال تعجب وائی ؟

**جواب :-** تعجب وائی چه یو ناآشنا شئ په نظر کښې راشی په هغې تعجب وشی نو دلته هم تعجب یو کیفیت دے چه زړه ته په سبب دَ لیدو دَ یو اس ناآشنا سره راځی لکه دا افعال تعجب انشاء هم ده . څومره جمله چه تیاریږی هغه به انشاء وی

**سوال :-** افعال تعجب خو صرف دوه صیغې دی لکه چه دَ بیان نه معلومه شوه بیا افعال خو صیغه دَ جمع ده دا ئے ولے ذکر کړه ؟

**جواب :-** مصنف چه افعال په صیغه دَ جمع سره ذکر کړی دی دا په اعتبار دَ نوع سره ئے نه دی ذکر کړی . بلکه دا ئے په اعتبار دَ افراد و سره ذکر کړی دی .

افعال تعجب دا مضاف او مضافٌ الیہ دی . افعال مضاف تعجب مضاف الیہ . معنیٰ دَ تعجب افعال اصطلاحی په وضع سره افعال تعجب هغه افعال دی چه واضع وضع کړیدی دَپاره دَ انشاء . قول تدیمی کتابونه دا دائی چه افعال تعجب دَ هر ثلاثی مجرد مصدر نه دوه صیغې راځی . لیکن مونږ که دَ حقیقت په توګه نظر واچوو داکوم وزن چه دوی اختیار کړیدی چه مَا اَفْعَلَهٗ ، وَ اَفْعِلْ به دی . نو دغه دواړه وزنونه دَ باب افعال نه راځی . لکه مثال په طور سره اَحْسَنَ دے دَ اَکْرَمَ په وزن سره برابر دے . صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دَ باب افعال او اَحْسِنْ دے دَ اَکْرِمْ په وزن سره برابر دے . صیغه واحد مذکر امر حاضر معلوم دَ باب افعال نه . نو حقیقت کښې دا دَ باب اِفْعَال نه جوړ دے . دقت نظر کړئ طریقه دَ جوړولو : افعال تعجب دَ هر هغه مصدر نه جوړیږی چه دَ هغه مصدر په معنیٰ کښې رنګ او ظاهری عیب نه وی . مثال لکه مَا اَحْسَنَهٗ وَ اَحْسِنْ بِهٖ .

دویم دَ ثلاثی رباعی دَ هغه مصادرو نه چه په هغې کښې دَ رنګ یا دَ عیب معنیٰ وی . دَ هغې نه دَ افعال تعجب دَ جوړولو طریقه دا ده چه دَ کوم فعل نه فعل تعجب جوړول مقصود وی دَ هغه فعل دَ مصدر په سر کښې به مَا اَحْسَنَ یا مَا اَقْبَحَ یا مَا اَضْعَفَ وغیره او لیکلے شی او دَ دے نه مابعد به دغه مصدر او لیکلے شی . او دغه مصدر به یا مفعول به شی دَ دغه فعل دَپاره یا به مجرور شی په حرف جَرْ سره . لکه څنګه چه دَ افعال تعجب دَ دغه دواړو صیغو طریقه ده . لکه دَ مثال په طور سره مَا اَشَدَّ اِخْضِرَارَهٗ (دَ دغه شین والے څه ده دے) دلته مَا اَشَدَّ فعل ضمیر مستتر فاعل اِخْضِرَارَ مضاف ه ضمیر مضاف الیہ . مضاف مع المضافٌ الیہ دا مفعول بہ شو دَ پاره دَ اشد فعل . فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه انشائیه شوه . یا دا بہ هم راځی اَشْدِدْ بِاِخْضِرَارِهٖ دا هم جار مجرور متعلق شو تو فعل پورے . فعل مع الفاعل مع المتعلق دا جمله فعلیه انشائیه شوه .

## دویم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱ ـ ضابطه :- افعال تعجب دَ دغه دوه وزن نه نور وزن نه لری . دغه دوه وزن که په ثلاثی مجرد کښې وی که په مزید و کښې وی او یا وغیره .

۲ ـ ضابطه :- افعال تعجب به هغه مصدر نه جوړیږی چه په هغې کښې رنګ او دَ عیب ظاهری نه

پاك وی۔

۳۔ضابطہ :۔ افعال تعجب راځی دَ پاره دَ انشاء ځکه چه تعجب وی دَپاره دَهغه شی چه ناآشنا په نظر کښې راشی۔

۴۔ ضابطہ :۔ دَثلاثی مزید فیه او دَرباعی طریقه داده چه مصدر به مابعد کښې ذکر کړی دغه مصدر به مفعول به شی دَ دے فعل دَپاره۔

۵۔ ضابطہ :۔ مَا اَحْسَنَ دَپاره درې مذاهب دی۔ احسن به کښې دوه مذهبه دی حاصل دا شو مَا اَحْسَنَ دَپاره درې تراکیب دی۔ اَحْسِنْ به دَپاره دوه ترکیبه دی۔

۶۔ضابطہ :۔ متعجب منه حذف کول هم جائز دی کله کله مثال لکه اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ

۷۔ضابطہ :۔ متعجب منه دَ مَا اَفْعَلَ متصل منصوب وی همیشه او افعل بِهٖ کښې متصل متعجب منه مجرور به وی همیشه په واسطه دَحرف جَرّ سره۔

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

مَا اَحْسَنَ زَیْدًا مَا اَحْسِنْ بِهٖ مَا اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ مَا اَشَدَّ اِخْضِرَارُهٗ مَا اَشْدِدْ بِاِخْضِرَارِهٖ اَسْمِعْ بِهٖ وَاَبْصِرْ ای مَا اَسْمَعَهُمْ وَ مَا اَبْصَرَهُمْ مَا اَحْسَنَ الدِّیْنَ وَالدُّنْیَا اِذَا اجْتَمَعَا مَا اَقْنَعَ عَمْرًوا مَا اَحْلَمَ زَیْدًا اَحْسِنْ بِزَیْدٍ۔

## څلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال :۔ مَا اَحْسَنَ زَیْدًا ، مَا اَحْسِنْ بِهٖ نه واخله اِلیٰ اَحْسِنْ بِزَیْدٍ پورې چه آخره جمله ده۔ دا څه واقع شوی دی ؟

جواب :۔ دا عوامل دی۔

سوال :۔ عوامل څو دوه دی۔ یو عوامل لفظی او بل عوامل معنوی۔ دوی دَکوم یو نه واقع شوی دی ؟

جواب :۔ دوی دَ لفظی نه۔

سوال :۔ عوامل لفظی هم درې قسمه سره راځی۔ دوی دَکوم یو نه واقع شوی دی ؟

جواب :- دوی عوامل لفظی دَ افعال عامله نه واقع شویدی .

سوال :- افعال عامله خو بیا په څلورو یا پنځه قسمه سره دی . دوی دَکوم یونه واقع شویدی ؟

جواب :- دوئ دَ افعال تعجب نه واقع شویدی .

سوال :- افعال تعجب څه کار دے ؟

جواب :- (۱) افعال تعجب جمله فعلیه انشائیه راځی جمله فعلیه خبریه نه راځی . (۲) افعال تعجب متعجب منه ته نصب ورکوی چه ما افعله سره متصل شی او خبر ورکوی چه کله ما اَفْعِلْ بِهٖ سره متصل شی (۳) او کله کله متعجب منه قرینه حذف کیږی.

سوال :- دغه مذکوره امثالو کښے توله یو شان نه دی او که فرق پکښے موجود دے ؟

جواب :- فرق پکښے موجود دے . بعضے فعل ماضی دی بعضے امر حاضر معلوم دی بعضو کښے متعجب منه ذکر دے . بعضو کښے حذف دے .

سوال :- هغه کوم بعضے دی چه متعجب منه قرینه حذف شویدے ؟

جواب :- هغه اَسْمِعْ بِهٖ وَاَبْصِرْ دی . اصل کښے مَا اَسْمَعَهُمْ وَمَا اَبْصَرَهُمْ دی . یا اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ . مابقیه کښے ذکر دی . توجه او کړئ امثالو او ضوا بطوته .

## پنځم بحث ذکر دَ ترکیب

مَا اَحْسَنَ زَيْدًا - کښے په اعتبار دَ اصل وضع سره درے مذهبونه دی (۱) مذهب دَ سیبویه (۲) مذهب دَ فراء (۳) مذهب دَ اخفش .

۱- مذهب چه دَ سیبویه دے . هغه وائی چه دا (مَا) په معنیٰ شَيْءٌ منکره تنوین دَپاره دَ تعظیم دے مبتداء شوه . تقدیر دَ عبارت دا رنګه کیږی . شَيْءٌ عَظِيْمٌ اَحْسَنَ زَيْدًا شَيْءٌ موصوف عَظِيْمٌ ورته صفت . موصوف مع صفت دا مبتداء شوه اَحْسَنَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دَ باب افعال نه اَحْسَنَ يُحْسِنُ اِحْسَانًا نه شو ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر نے کیږی په هُوَ سره هغه ورته فاعل شو او زَيْدًا مفعول به شو . فعل چه اَحْسَنَ دے مع الفاعل چه هُوَ ضمیر مستتر دے مع المفعول به چه زَيْدًا دے دا جمله فعلیه خبر دے لپاره دَ مبتداء چه شَيْءٌ عَظِيْمٌ دے . مبتداء مع الخبر جمله اَحْسَنَ زَيْدًا

جمله دے. داجمله انشائیه تعجبیه شوه -

۲- دویم مذهب دفراء صاحب دے هغه وائی چه دا (مَا) استفهامیه دے په معنیٰ دَ اَیُّ شَیْئٍ سره مبتداء واقع شوے دے. اَحْسَنَ زَیْدًا ورته خبر دے. نو تقدیرِ عبارت داسې کیږی عند الفراء. اَیُّ شَیْئٍ اَحْسَنَ زَیْدًا. اَیُّ مضاف شَیْئٍ مضاف الیه مضاف چه اَیُّ دے مع المضاف الیه چه شَیْئٍ دے دا مبتداء شوه. اَحْسَنَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دَ باب دَ افعال نه ضمیر پکښې مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره هغه ورته فاعل او زَیْدًا ورته مفعول بهٖ شو. فعل چه اَحْسَنَ دے مع الفاعل چه هُوَ ضمیر مستتر دے مع المفعول بهٖ چه زَیْدًا دے دا جمله فعلیه خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه اَیُّ شَیْئٍ دے. مبتداء مع الخبر دا جمله انشائیه تعجبیه شوه.

۳- دریم مذهب دَ اخفش دے. هغه فرمائی چه دا مَا موصوله دے دَ هغه په مذهب باندے دوه ترکیبونه راځی. اول. چه مَا موصول شی. دویم چه مَا موصوف شی. مَا چه موصول شی تقدیرِ دَ عبارت به داسې وی اَلَّذِیْ اَحْسَنَ زَیْدًا شَیْئٌ عَظِیْمٌ دلته خبر ورته محذوف ساقی اَلَّذِیْ موصول اَحْسَنَ فعل صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دَ باب افعال نه هُوَ ضمیر ورته مستتر فاعل او زَیْدًا ورته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول بهٖ دا جمله فعلیه صله شوه دَ پاره دَ موصول. موصول مع صله دا مبتداء شوه. او شَیْئٌ موصوف عَظِیْمٌ ورته صفت. موصوف مع صفت دا ورته خبر شو. مبتداء مع الخبر دا جمله انشائیه شوه -

دویم ترکیب عند الاخفش، اَیُّ شَیْئٍ اَحْسَنَ زَیْدًا شَیْئٌ عَظِیْمٌ دا ورته خبر محذوف راوباسی اَیُّ مضاف شَیْئٍ ورته مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه دا موصوف اَحْسَنَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دَ باب دَ افعال نه ضمیر پکښې مستتر دے چه هُوَ دے. هغه ورته فاعل شو او زَیْدًا ورته مفعول بهٖ شو. فعل مع الفاعل چه اَحْسَنَ او هُوَ ضمیر دے مع المفعول بهٖ چه زَیْدًا دے دا جمله فعلیه صفت شو دَ پاره دَ موصوف. موصوف مع صفت دا مبتداء شوه. او خبر ورته محذوف دے چه شَیْئٌ عَظِیْمٌ دے. شَیْئٌ موصوف عَظِیْمٌ ورته صفت دے. موصوف مع صفت دا خبر شو دَ پاره دَ مبتداء. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه شوه. حاصل دَ سبق دا شو چه،

مَا اَحْسَنَ زَیْدًا کښې شلوړ ترکیبه داغلل (نتفکرولا تکسل)

اَحْسِنْ بِزَیْدٍ - په دے مذکوره جمله کښې دوه مذهبه دی (۱) یو مذهب دَ سیبویه (۲) مذهب دَ جمهورو علماؤ -

تاکید دا مبتداء شوه ۔ قَائِمٌ ورته خبر شو ۔ مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه شوه ۔
ضَرَبَ ضَرَبَ زَیْدٌ ۔ ضَرَبَ اول مؤکد ضَرَبَ ثانی ورته تاکید ۔ مؤکد مع تاکید
دا فعل شو زَیْدٌ ورته فاعل شو ۔ فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه شوه ۔
اِنَّ اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ ۔ اِنَّ اول مؤکد اِنَّ ثانی ورته تاکید ۔ مؤکد مع تاکید
دا یو حرف دے دَحروفو مشبه بالفعل نه تقاضی کوی دَاسم منصوب او خبر مرفوع زَیْدًا
اسم دے او قَائِمٌ ورته خبر شو ۔ اِنَّ مع الاسم او مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه شوه ۔
جَاءَنِیْ زَیْدٌ نَفْسُہٗ ۔ جَاءَ فعل نون وقایه یاء متکلم مفعول به زَیْدٌ مؤکد نَفْسُ
مضاف ہٗ ضمیر ورته مضاف الیه ۔ مضاف مع المضاف الیه دا تاکید شو دپاره دَمؤکد
چه زَیْدٌ دے ۔ مؤکد مع تاکید دا فاعل شو دپاره دَجَاءَ فعل ۔ فعل مع الفاعل مع
المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه ۔
جَاءَنِی الزَّیْدَانِ اَنْفُسُهُمَا ۔ جَاءَ فعل نون وقایه یاء متکلم مفعول به اَلزَّیْدَانِ
ورته مؤکد اَنْفُسَ مضاف هُمَا مضاف الیه ۔ مضاف مع المضاف الیه دا تاکید شو
دپاره دَزَیْدٌ مؤکد ۔ مؤکد مع تاکید دا فاعل شو دپاره دَجَاءَ فعل ۔ فعل مع الفاعل
مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه ۔
جَاءَنِی الزَّیْدُوْنَ اَنْفُسُهُمْ ۔ په دوئی ورته قیاس کړی په ترکیب ۔ دغه رنګ جَاءَنِی الْقَوْمُ
کُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ۔ دا کتعون الخ هم ورته قیاس کړئ فقط ۔

سوم بدل واو تابعے است کہ مقصود بہ نسبت او باشد وبدل برچہار قسم است بدل الکل وبدل الاشتمال وبدل الغلط وبدل البعض۔ بدل الکل آنست کہ مدلولش مدلولِ مبدل منہ باشد چوں جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَخُوْکَ وبدل البعض آنست کہ مدلولش جزوِ مبدل منہ باشد چوں ضُرِبَ زَیْدٌ رَاْسُہٗ۔ وبدل الاشتمال آنست کہ مدلولش متعلق بمبدل منہ باشد چوں سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُہٗ وبدل الغلط آن است کہ بعد از غلط بلفظے دیگر یاد کنند چوں مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ۔

ترجمہ:- دریم قسم دَ ښځو توابعونہ هغہ بدل دے. نو بدل هغہ تابع دے چہ مقصود پہ نسبت سرہ داوی چہ مقصود دنسبت وشی ورتہ. او بیا بدل پہ څلور قسمہ دے

(۱) بدل کل (۲) بدل الاشتمال (۳) بدل الغلط (۴) بدل البعض۔

بدل الکل:- هغہ بدل دے چہ دَهغے مدلول دَ مبدل منہ مدلول وی. مثال ئے لکہ جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَخُوْکَ شو. او بدل البعض هغہ بدل دے چہ دَهغہ مدلول دَ مبدل منہ جزء وی. لکہ ضُرِبَ زَیْدٌ رَاْسُہٗ۔ او بدل الاشتمال هغہ بدل دے چہ دَهغہ مدلول دَ مبدل منہ سرہ متعلق وی. مثال لکہ سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُہٗ۔ او بدل الغلط هغہ بدل دے چہ دَ بل غلط لفظ نہ بعد یاد کړے شی. مثال لکہ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ دلتہ حِمَارٍ دَ رَجُلٍ نہ بدل راغلے دے. دا بدل غلط دے.

## تشریحات

دلتہ لاندی دہ دَ معرفت دَ اُمورو خسہ ڈنہ (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دامثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) ذکر دَ ترکیب

اول بحث دَ تحقیقاتو:- هرکلہ چہ مصنف عَلَیْہِ الرَّحْمَۃ فارغ شو دَ بیان دَ تابعانو او مونږ شروع اوکړہ پہ بیان دَ بدل کښے نو وئے ویل (سوم بدل) دریم

قسم دَ توابع نه هغه بدل دے. بدل په لغت کښے عوض شئ ته وائی. او په اصطلاح کښے صاحب دَ نحومیر پخپله ذکر کړیدی. بدل په څلور قسمه دے (۱) بدل الکل (۲) بدل البعض (۳) بدل الاشتمال (۴) بدل الغلط

وجه دحصر:- په مینځ دَ دے اربع کښے داده. چه دا بدل به خالی نه وی یا به مدلول او مصداق دَ دے بدل بعینه مصداق دَ مبدل منه وی یا به مصداق دَ بدل جزء وی دَ مصداق دَ مبدل منه نه. او یا به دا سے نه وی. که مصداق دَ بدل بعینه مصداق دَ مبدل منه وُو هغه بدل الکل دے. او که مدلول دَ بدل جزء وو دَ مدلول دَ مبدل منه نو هغه بدل البعض دے. او که مصداق دَ بدل بعینه مصداق دَ مبدل منه هم نه وی. او جزء دَ هغه هم نه وی نو بیا به خالی یا به علاقه وی په مینځ دَ بدل او مبدل کښے. او یا به نوی. که علاقه په مینځ دَ بدل او مبدل منه کښے وه. نو بدل الاشتمال شو. او که نه وو نو بیا بدل غلط شو. دَ تشریح نه مخکښے دَ بعض الفاظو معنیٰ او تشریح ضروری ده.

اول- دَ مدلول نه مراد دلته مبدل منه هغه لفظ دے چه دَ دے په ځائے بدل راځی. لکه زَیْدٌ اَخُوْكَ. زید ستا ورور دے. زید مبدل منه دے او اَخُوْكَ بدل دے. دَ (اَخُوْكَ) معنیٰ ده ورور ستا. او دے معنیٰ ته مدلول وئیلے شی.

تعریف دَ بدل:- دا هغه تابع دے چه دَ یو شی نسبت په ځائے دَ مبدل منه بدل ته مقصود وی. مثال لکه جَاءَ زَیْدٌ اَخُوْكَ. راغلے وُو زید ورور ستا. دلته دراتلو نسبت اگرچه په ظاهره زید ته شوید ے مگر په حقیقت کښے دغه نسبت اَخُوْكَ لفظ ته دے. اگر که دلته اتفاقاً دَ زید او دَ اَخُوْكَ مدلول یو دے.

اقسام دَ بدل:- څلور دی (۱) بدل کل (۲) بدل بعض (۳) بدل الاشتمال (۴) بدل الغلط

۱- بدل الکل:- دَ بدل او مبدل منه مصداق یو وی. مثال لکه جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَخُوْكَ

۲- بدل البعض:- چه بدل دَ مبدل منه دَ مصداق جزء وی. مثال لکه ضُرِبَ زَیْدٌ رَأْسُهٗ

۳- بدل الاشتمال:- چه بدل دَ مبدل منه سره متعلق وی. مثال لکه سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُهٗ

۴- بدل الغلط:- چه دَ غلطی نه پس صحیح لفظ سره ذکر شوے وی مثال لکه مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ

---

# دویم بحث ذکر دَضوابطو

۱- ضابطه :- کله چه دَ لقب نه بعد نوم ذکرشی نوعام طور باندے دغه مبدل منه کرځی. مثال لکه قال الشیخ الامام الاجل الزاهد ابوالحسن احمد دا ابوالحسن احمد دَشیخ نه بدل دے۔

۲- ضابطه :- چه کلکښے دَیوشیز تعداد دَعدد په ذریعه سره بیان شی او بیا ددستو دَ هغه تفضیل وی نو په تفضیل کښے یوصیغه بدل هم کرځیدلے شی ما قبل دَپاره. مثال لکه مائة عامل لفظیة ومعنویة دا ترینه بدل شو۔

۳- ضابطه :- کله چه اسم اشارے نه بعد الف لام والا اسم ذکر وی نو په ترکیب کښے دَصفت په شان بدل او عطف هم کرځیدلے شی. لکه ذٰلِکَ یَتَرِحُ هٰذَا الْکِتٰبَ عَلٰی

۴- ضابطه :- معرفه بدل واقع کیږی دَ معرفے نه. مثال لکه جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَخُوْكَ شو. او نکره بدل واقع کیږی دَ نکرے نه. مثال لکه جَاءَنِیْ رَجُلٌ غُلَامٌ لَكَ

۵- ضابطه :- او معرفه بدل واقع کیږی دَ نکرے نه. مثال لکه جَاءَنِیْ رَجُلٌ غُلَامُ زَیْدٍ

۶- ضابطه : نکره بدل واقع کیږی دَمعرفے نه. مثال بِالنَّاصِیَةِ نَاصِیَةٍ کَاذِبَةٍ

۷- ضابطه :- اسم ظاهر بدل کل واقع کیږی دَضمیر غائب نه. مثال لکه خَلَقَهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ

۸- ضابطه :- اسم ظاهر بدل بعض واقع کیږی دَضمیر غائب نه لکه دَمَا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِیْلٌ مِّنْهُمْ

۹- ضابطه :- اسم ظاهر بدل الاشتمال واقع کیږی دَضمیر غائب نه. مثال لکه زَیْدٌ کانه ابتهاجة کانه مبدل منه شو ابتهاجة بدل الاشتمال شو.

۱۰- ضابطه :- فعل بدل کل واقع کیږی دَ فعل نه. مثال لکه وَمَنْ یَفْعَلْ ذٰلِكَ یَلْقَ اَثَامًا یُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ

۱۱- ضابطه :- فعل بدل البعض واقع کیږی دَ فعل نه. مثال لکه اِنْ تُصَلِّ تَسْجُدْ لِلّٰهِ یَرْحَمْكَ اللّٰهُ.

۱۲- ضابطه :- فعل بدل الاشتمال واقع کیږی دَ فعل نه. مثال لکه من یصل الینا یستعن بنا یحن.

۱۳- ضابطه :- فعل بدل غلط واقع کیږی دَ فعل نه. مثال لکه قَامَ قَعَدَ زَیْدٌ۔

۱۴- ضابطه :- اوجل بدل بعض واقع کیږی ډجملے نه . مثال لکه امدکم بما تعلمون امدکم بالقاء بنین

۱۵- ضابطه :- اوجل بدل الاشتمال واقع کیږی ډجملے نه -

فتفکر ولا تکسل ولا تکن غافلاً ؏

# دریم بحث ذکر ډ امثالو

جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَخُوْكَ ضُرِبَ زَیْدٌ رَأْسُهٗ سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُهٗ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ اَلشَّیْخُ الْاِمَامُ الْاَجَلُّ الزَّاهِدُ اَبُو الْحَسَنِ اَحْمَدُ مِأَةٌ مِثْلٍ لَفْظِیَّةٍ وَمَعْنَوِیَّةٍ جَاءَنِیْ رَجُلٌ غُلَامُ زَیْدٍ رَبِّ یَسِّرْ هٰذَا الْکِتٰبَ عَلَیَّ جَاءَنِیْ رَجُلٌ غُلَامٌ لَكَ بِالنَّاصِیَةِ نَاصِیَةٍ کَاذِبَةٍ خَلَقَهُنَّ سَبْعَ السَّمٰوٰتِ وَمَا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِیْلٌ مِّنْهُمْ زَیْدٌ کَاتَهٗ اِبْتِهَاجَهٗ وَمَنْ یَّفْعَلْ ذٰلِكَ یَلْقَ اَثَامًا یُّضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ مَنْ یَّصِلْ اِلَیْنَا یَسْتَعِنْ بِنَا یُعَنْ قَامَ تَعَدَ زَیْدٌ اَمَدَّکُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ اَمَدَّکُمْ بِاَنْعَامٍ وَّبَنِیْنَ - فتفکر .

# څلورم بحث ذکر ډ مشق

سوال :- جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَخُوْكَ ، ضُرِبَ زَیْدٌ رَأْسُهٗ ، سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُهٗ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ - دغه څلور واړه امثالو کښے فرق شته یا نه ؟

جواب :- دغه څلور واړه یو ډبل نه جدا جدا دی . ځکه چه بدل پشان څلور قسمه ډے څلور قسمه امثالونه وړنه ذکر کړه (۱) مثال ډ بدل کل دے (۲) مثال ډ بدل بعض دے (۳) مثال ډ بدل الاشتمال دے (۴) مثال ډ بدل غلط دے

سوال :- دغه څلور واړو کښے څه فرق دے ؟

جواب :- بدل کل کښے بدل او مبدل منه مصداق یو دے . مثال لکه اول شوچه اَخُوْكَ زید بدل دے . چه بدل ډ مبدل منه ډ مصداق جزء وی . ډ بدل الاشتمال کښے چه بدل ډ مبدل منه سره متعلق وی . او بدل غلط کښے ډ غلطۍ نه پس صحیح لفظ ذکر شی . لکه څلورم مثال کښے . ډدے پوره تفصیل په تحقیق کښے وکورئ -

سوال :- اَلشَّيْخُ الْاِمَامُ الْاَجَلُّ الزَّاهِدُ اَبُو الْحَسَنِ اَحْمَدُ ، مِأَةُ عَامِلٍ لَفْظِيَّةٍ وَمَعْنَوِيَّةٍ
دغو امثالو کښے کوم بدل راغلے دے.

جواب :- دَ اُولے ضابطے نه معلومیږی چه کله دَ لقب نه بعد نوم ذکر شی نو عام طور سره دغه مبدل منهٔ کرځی. لکه دغه الشَّيْخُ دا دې سره صفت مبدل منه شو او ما بعد چه اَبُو الْحَسَنِ اَحْمَدَ دے. دا بدل شو. توجه اوکړئ ضابطے ته. او مِأَةُ عَامِلٍ لَفْظِيَّةٍ وَمَعْنَوِيَّةٍ. دَ دُوئیمے ضابطے نه معلومیږی چه اول یو خِیز تعداد دَ عدد په ذریعه سره بیان شی. او بیا وروسته دَ هغے تفصیل وی. او تفصیل کښے هم یو بدل هم کرځیدلے شی. لکه مذکور مثال شو.

سوال :- جَاءَنِي رَجُلٌ غُلَامُ زَيْدٍ ، رَبِّ يَسِّرْ هٰذَا الْكِتٰبَ عَلَيَّ ، جَاءَنِي غُلَامٌ لَكَ بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ - دغه مذکوره امثالو کښے دَ بدل دَ کوم قسم نه دی ؟

جواب :- اول مثال دَ بدل کل دے دا بدل دَ معرفه دے دَ نکرے دَ پاره. دویم مثال دَ بدل بعض دے چه دَ (دریمے) ضابطے نه دا خبره معلومیږی چه دَ اسم اشاره نه بعد الف لام والا اسم ذکر وی نو هغه دَ صفت په شان بدل هم کرځی. دریم مثال دَ بدل کل دے ضابطه یکښے دَ خلورم چه نکره بدل دَ نکره واقع کیږی. څلورم مثال نکره بدل واقع کیږی دَ معرفے دَ پاره. دا بدل بعض شو.

سوال :- خَلَقَهُنَّ سَبْعَ السَّمٰوٰتِ ، وَمَا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ دغه دواړه مثالونه دَ څه دی؟

جواب :- اسم ظاهر بدل کل واقع کیږی دَ ضمیر غائب دَ پاره. دویم مثال دَ بدل بعض دے چه اسم ظاهر بدل بعض واقع کیږی دَ ضمیر غائب نه.

ما بقیه امثال په دقت نظر سره توجه اوکړی او په ضابطه کښے توجه اوکړی اِنْشَاءَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ سوال به حل شی.

## پنځم بحث ذکر دَ ترکیب

جَاءَنِي زَيْدٌ اَخُوْكَ - جَاءَ فعل نون وقایه یاء مفعول به زَيْدٌ مبدل منه اَخُوْ مضاف کاف مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه دا بدل کل شو دَ پاره دَ مبدل منهٔ بدل مع المبدل منه فاعل شو دَ پاره دَ جَاءَ فعل. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله

فعلیه خبریه شوه۔

دَبدل بعض مثال. ضُرِبَ زَیْدٌ رَأْسُهٗ. ضُرِبَ صیغه واحد غائب فعل ماضی مجهول زَیْدٌ مبدل منه رَأْسُ مضاف هٗ ضمیر مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه دابدل بعض شو دَپاره دَمبدل منه. مبدل منه مع البدل دا نائب فاعل شو دَپاره دفعل. فعل مع النائب فاعل دا جمله فعلیه خبریه شوه۔

بدل الاشتمال مثال. سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُهٗ. سُلِبَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول زَیْدٌ مبدل منهٗ ثَوْبُ مضاف هٗ ضمیر مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه دا بدل الاشتمال شو دَپاره دَمبدل منه. مبدل منه مع البدل دا نائب فاعل شو دَپاره دَسُلِبَ فعل سُلِبَ فعل مع النائب فاعل چه زَیْدٌ ثَوْبُهٗ دے دا جمله فعلیه خبریه شوه۔

دَبدل غلط مثال. مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ شو. مَرَرْتُ صیغه واحد مذکر متکلم فعل ماضی معلوم ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیرئے کیږی په اَنَا سره هغه ورته فاعل شو باء حرف جر رَجُلٍ مجرور مبدل منهٗ او حِمَارٍ ترینه بدل الغلط شو. مبدل منه مع البدل غلط نه دا مجرور شو دَپاره دَجار. جار مع المجرور دا ظرف لغوه تعلق نیسی تر مَرَرْتُ پورے. مَرَرْتُ فعل مع الفاعل مع المتعلق چه بِرَجُلٍ حِمَارٍ دے دا جمله فعلیه خبریه شوه ما بقیه چه څومره امثال ذکر دی دَهغے ترکیب پخپله سوچ اوفکر سره اوکړی. وَبِاللّٰهِ التَّوْفِیْق

چهارم عطف بحرف واوتابعے است که مقصود باشد بنسبت با متبوعش بعد از حروف عطف چوں جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَعَمْرٌو وحروف عطف ده است در فصل سوم یاد کنیم انشاء الله تعالیٰ و اورا عطف نسق نیز گویند پنجم عطف بیان واوتابعے است غیر صفت که متبوع را روشن گرداند چوں اَقْسَمَ بِاللّٰهِ اَبُوْحَفْصٍ عُمَرُ وتیکه علم مشهور تر باشد وجَاءَنِیْ زَیْدٌ اَبُوْعَمْرٍو وقتیکه بکنیت مشهور تر باشد۔

ترجمه:۔ څلورم قسم دَهغه پنځو تابعو نه عطف دے په واسطه دَحرف سره. دا هغه

تابع دے چه په نسبت کښې دَ چل متبوع سره مقصود وی وړو سته دَ حروف عطف نه واقع وی. مثال لکه جَاءَ نِيْ زَيْدٌ وَعَمْرٌو. او حروف عطف لسَ دی په دریم فصل کښې به نے بیان کړو اِنْشَاءَ اللهُ تعالیٰ. او داؤته عطف نسق هم وائی. نسق وئیلے شی ترتیب ورکونکی ته. دے سره هم ترتیب راځی۔

پنځم قسم دَ هغه پنځو توابعونه دَ عطف بیان دے. او دا عطف بیان هغه تابع دے چه صفت نه وی. لیکن متبوع لره ښکاره کړی. مثال لکه اَقْسَمَ بِاللهِ اَبُوْحَفْصٍ عُمَرُ قسم خوړی ابوحفص. ابوحفص څوک دے. عُمَرْ صاحب دے. کله چه متبوع په عَلَمْ ډیر مشهور وی او جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَبُوْ عَمْرٍو دا هغه وخت کښې دے چه په کنیت سره ډیر مشهور وی.

# تشریحات

دلته لا بدی ده دَ معرفت دَ امور خمسه وُنه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثلو (۴) ذکر دَ مشق (۵) ذکر دَ ترکیب۔

**اول بحث دَ تحقیقاتو :۔** هرکله چه مصنف عَلَيْهِ الرَّحْمَةُ فارغ شو دَ بیان دَ بدل نه. او س نے شروع اوکړه په بیان دَ عطف بحرف او دَ عطف بیان نه. عطف بالحرف هغه تابع ته وئیلے شی چه هغه منسوب وی وړو سته دَ یو حرف عطف نه لکه او. عطف بیان په لغت کښې املی او اظهار ته وائی. او په اصطلاح کښې نحو میں پخپله ذکر کړیدی.

خلورم قسم دَ توابع نه هغه عطف بالحرف دے چه حرف عطف سره دَ متبوع سره په نسبت کښې مقصود وی. لکه جَاءَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو (راغے زید او عمرو) دلته زید او عمرو دَ حرف عطف په ذریعے دَ یو بل سره تړلی دی. او دَ دواړو نسبت دواړو ته برابر دے زَيْدٌ معطوف علیه دے. وَاو حرف عطف عَمْرٌو معطوف دے. او حروف عطف لس دی دَ عطف معنٰی یو شی دَ بل شی سره تړل. دغه حرف عطف ته عطف نسق هم وائی او دَ نسق معنٰی ده ترتیب. یعنی اول زید راغے بیا عمرو راغے. دا ترتیب راتله دواړو ته شامل شو۔

---

په مُنِیْب او مُنَادِق نه رحم اوکړے ❊ ته نے شرم پرده او ساتے غفّاره

پنځم قسم دَ توابع نه هغه عطف بیان دے . تعریف دَ عطف بیان دادے چه دا هغه تابع دے چه دَ متبوع صفت خو نوی البته دَ متبوع وضاحت ضرور کوی مثال لکه . اَقْسَمَ بِاللّٰهِ اَبُوْحَفْصٍ عُمَرُ (حضرت عمرؓ دَ خدای په نامه قسم اوخوړل) دلته عمرؓ عطف بیان دے دَ ابوحفص تابع دے مګر دَ هغه صفت نه دے . ځکه ابوحفص غیر معروف دو نو عمرؓ سره دَ هغه تعریف اوکړے شو . نو ابوحفص معلوم شو چه دا دَ امیر المؤمنین حضرت عمر فاروقؓ نوم دے . نو اسم کنیه غیر معروف وی . او اسم محضه نے معروف وی . او که کله اسم محضه غیر معروف وی او اسم کنیه نے معروف وی نو بیا به کنیه ورته عطف بیان وی . او اسم محضه معطوفٌ علیه او کنیه به معطوف وی . د معطوف په ذریعه دَ معطوفٌ علیه تشریح مطلوب وی . مثال لکه جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَبُوْعَمْرٍو . راغلے وو ماته زید چه ابو عمرو دے . دلته زید غیر معروف او ابو عمرو معروف دے او ابو عمرو ورته عطف بیان دے

## دویم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه :- عطف دَ اسم په ضمیر مرفوع متصل کولی بانده کولے شی په طرق ثلاثه و سره . (۱) عطف دَ اسم په ضمیر موفوع کولے شی پس دَ تاکید نه په ضمیر مرفوع منفصل سره . مثال لکه دا قول دَ الله تعالیٰ شو . اُسْکُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ (۲) عطف دَ اسم په ضمیر مرفوع بانده کولے شی په فصل سره . مثال مَا اَشْرَکْنَا وَلَا اٰبَاءُنَا (۳) عطف دَ یو اسم کولے شی په ضمیر مرفوع متصل بانده په تاکید او فصل دواړو سره . مثال فَکُبْکِبُوْا فِیْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ .

۲- ضابطه :- عطف دَ اسم په ضمیر مجرور متصل بانده کولی په اعاده دَ جار سره . او جار عام دے که حرف وی او که اسم وی . مثال دَ اول لکه قول دَ الله تعالیٰ لَهَا وَلِلْاَرْضِ عَلَیْهَا وَعَلَی الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ . قُلِ اللّٰهُ یُنَجِّیْکُمْ مِّنْهَا وَمِنْ کُلِّ کَرْبٍ .

۳- ضابطه :- عطف دَ اسمینو په معمولین دَ عامل واحد بانده جائز دے بالاتفاق . مثال هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ لَکُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَاءَ بِنَاءً

۴- ضابطه :- عطف دَ جمله خبریه په جمله انشائیه بانده جائز نه دے بالاتفاق

۵- ضابطه :- عطف دَ جملې په مفرد اسم جامد محضه باندې جائز نه دے بالاتفاق

۶- ضابطه :- عطف دَ مشتق په جمله فعلیه باندې جائز دے بالاتفاق۔
مثال قوله تعالیٰ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَ مُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ

## دَعطف بیان ضوابط

۱- ضابطه :- عطف بیان غالباً وضاحت دَمتبوع کوی. مثال آمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ. رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ.

۲- ضابطه :- اوکله وضاحت دَ متبوع راځی په ذکر کولو دَ تابع او متبوع دواړو سره یعنی مبین او عطف بیان دواړه سره. لکه جَاءَنِيْ اَبُوْعَمْرٍو وعبد الله

۳- ضابطه :- کله کله عطف بیان راځی دَ تخصیص دَ پاره. که نکره عطف بیان واقع شوے وه دَ نکرے دَ پاره. مثال قوله تعالیٰ مِنْ مَّاءٍ صَدِيْدٍ. اوكَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ اوکفاره مبین دے اوطعام مسٰکین عطف بیان دے.

۴- ضابطه :- اوکله عطف بیان راځی دَ پاره دَ مدح. مثال لکه جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ۔

۵- ضابطه :- عطف بیان تابع دَ متبوع خپل وی په لسو امورو کښې چه (رفع- نصب جر- تذکیر- تانیث- مفرد- تثنیه- جمع- تعریف- تنکیر)

۶- ضابطه :- فرق معنوی په مینځ دَعطف بیان او دَ بدل کل کښې ثابت دے په ځائے کښې په دے شان سره چه که ثانی مقصود بالحکم وو. نو اول نو بدل او که بالعکس وو نو عطف بیان

۷- ضابطه :- فرق لفظی په مینځ دَعطف بیان او بدل کل کښې ثابت دے په دوئے ځایونو کښې (۱) چه تابع واقع شی دَ اسم متلبس باللام مضاف الیه دَ پاره. اومضاف صفت متلبس باللام دی. مثال انا ابن التارك البكرى بشرٍ . عليه الطير ترقبه وقوعًا
دا تابع عطف بیان دے. نه بدل کل. ځکه بدل په حکم دَ تکرار دَ عامل کښې وی (۲) دا چه تابع واقع شی دَ منادی مفرد معرفه مبنی علی ما یرفع به دَ پاره مفرد معرفه معرب وی. مثال لکه یا غلام زیدًا دا عطف بیان دے نه بدل کل. ځکه چه تابع دَ منادی مفرد معرفه مبنی علی مایرفع به چه مفرد معرفه عطف بیان واقع شی نو ترفع او تنصب او تابع دَ منادی مفرده معرفه مبنی

عَلٰی مایرفع بہ چہ مفرد معرفہ بدل واقع شی نو صفہ مبنی علٰی مایرفع دی . او نصب پکښے نہ دے جائز . ځکہ چہ حکم لحکم المنادٰی المستقل مطلقاً (۳) دا چہ تابع دَ منادٰی مفرد معرفہ اسم متلبس باللام راشی . مثال یَا زَیْدُ الْحَارِثُ نو دا عطف بیان دے . بدل نہ دے . ځکہ بدل پہ حکم دَ تکریر دَ عامل کښے دی . او دُخول دَ حرف ندا پہ اسم متلبس باللام بانسے بے دَ توسط دَ اَیُّ او ھٰذَا نہ جائز نہ دے ۔

۸ - ضابطہ :- اسم اشارہ چہ ذکر شی سرہ دَ مشار الیہ نو پہ ھغے کښے درے ترکیبہ جائز دی (۱) پہ طریقہ دَ کلیت سرہ . او څلورم ترکیب جائز دے پہ طریقہ دَ جزئیت سرہ چہ مبتدا او خبر دی . جَاءَنِیْ اَخُوْكَ کښے دوہ ترکیبہ جائز دی (۱) زید مبدل منہ اَخُوْكَ بدل کل (۲) زید مبین او اَخُوْكَ عطف بیان دے . (فتفکر ولا تکسل)

## دریم بحث دَ ذکر دَ امثالو

جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَعَمْرٌو جَاءَ زَیْدٌ اَبُوْعَمْرٍو اَقْسَمَ بِاللهِ اَبُوْحَفْصٍ عُمَرُ سَافَرَ خَالِدٌ اَخُوْكَ جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَعَمْرٌ رَاَیْتُ حِمَارًا ذَاظَهْرٍ اَكَلْتُ السَّمَكَ رَاْسَهٗ اَعْجَبَنِیْ اَخُوْكَ عِلْمُهٗ اَعْجَبَنِیْ سَعِیْدٌ دَرْسُهٗ جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَبُوْكَ قَالَ نُعْمَانُ اَبُوْ حَنِیْفَةَ رَاَیْتُ خَالِدٌ عَمَّكَ اِلٰی ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صَالِحًا خَدَمَ اَبُوْحَمْزَہ اَنَسٌ رض النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَ سَنَةً اُسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ مَا اَشْرَكْنَا وَلَا اٰبَاءُنَا فَكُبْكِبُوْا فِیْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ لَهَا وَلِلْاَرْضِ عَلَیْهَا وَعَلَی الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ جَاءَنِیْ اَبُوْعُمَرُ وَعَبْدُاللهِ اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ رَبِّ مُوْسٰی وَهَارُوْنَ مِنْ مَّاءٍ صَدِیْدٍ او كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِیْنَ

## څلورم بحث دَ ذکر دَ مشق

سوال :- جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَعَمْرٌ ، جَاءَ زَیْدٌ اَبُوْعَمْرٍو ، اَقْسَمَ بِاللهِ اَبُوْحَفْصٍ عُمَرُ ، سَافَرَ خَالِدٌ اَخُوْكَ - دغہ مذکورہ جملو کښے فرق اوکړی او ضابطہ ورتہ تعین کړئ ؟

جواب :- اول مثال دَ عطف بالحرف دے . اشارہ ئے اوکړہ چہ دا دواړہ پہ مجیت کښے شریک دی . لیکن صرف ترتیب کښے فرق دے . چہ اول زید راغے بیا ورپسے عَمْرٌو -

دوئیم مثال دَ عطف بیان دے چه مشهور دی په عالم سره. ځکه چه زید چا نه پیژندلی لیکن ابوعمر کنیة سره مشهور ؤد نو اسم محضه دَ پاره عطف بیان کښې اسم کنیه ذکر کړه ثالث مثال کښې عطف بیان دے. خو دلته اسم کنیه غیر مشهور دے او اسم محضه مشهور دے نو ذکر دَ اسم کنیه مراد تری نه اسم محضه شو. (رابع) مثال دَ بدل کل دے.

سوال :- رَاَیْتُ حِمَاراً ظَهِیْراً څه مثال دے ؟

جواب :- دا دَ بدل بعض مثال دے.

سوال :- اَکَلْتُ السَّمَكَ رَأْسَهُ څه مثال دے ؟

جواب :- دا دَ بدل البعض مثال دے

سوال :- اَعْجَبَنِیْ اَخُوْكَ عِلْمُهُ. یا اَعْجَبَنِیْ سَعِیْدٌ دَرْسُهُ. یا جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَبُوْكَ دا هم دَ بدل بعض مثال دے. قال نعمان ابوحنیفةؒ د لته ذکر دَ محض ابوحنیفهؒ دی نه عطف بیان دے. رَاَیْتُ خَالِدٌ عَمَّكَ دا دَ بدل بعض مثال دے. مابقیه امثال دَ تفکر دَ لاره نه او دَ ضابطے دَ لارے نه مشق حاصل کړی.

زما دَ عزت مکرو طلباء کرامو تا سوله پکار دی چه ډیر مشق پځله اوکړئ -

# پنځم بحث ذکر دَ ترکیب

جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَعَمْرٌو - جَاءَ فعل ماضی معلوم نون وقایه یاء مفعول به زَیْدٌ معطوفٌ علیه وَاوْ حرف عطف عَمْرٌو ئے معطوف. معطوفٌ علیه مع المعطوف دا فاعل شو دَ پاره دَ جَاءَ فعل. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه.

اَقْسَمَ بِاللّٰهِ اَبُوْحَفْصٍ عُمَرُ - اَقْسَمَ فعل ماضی معلوم دَ باب افعال نه. باء جار لفظ دَ الله مجرور. جار مع المجرور دا ظرف لغو شو تعلق نیسی ترا اَقْسَمَ فعل پورے. اَبُوْ مضاف حَفْصٍ مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه دا مبین شو. عُمَرُ ورته عطف بیان شو. مبین مع عطف بیان دا فاعل شو دَ پاره دَ اَقْسَمَ فعل. فعل مع الفاعل مع المتعلق دا جمله فعلیه خبریه شوه.

جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَبُوْ عَمْرٍو - جَاءَ فعل نون وقایه یاء مفعول به زَیْدٌ مبین اَبُوْ مضاف عَمْرٍو مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه دا عطف بیان شو دَ پاره دَ مبین. مبین مع

عطف بیان دا فاعل شو دَپارهٔ دَجاءَ فعل۔ فعل مع الفاعل مع المفعول بہ دا جملہ فعلیہ خبریہ شوہ۔

فصلِ دوم دربیانِ منصرف وغیر منصرف منصرف آنست کہ ہیچ سبب از اسبابِ منعِ صرف درونہ باشد وغیر منصرف آنست کہ دو سبب از اسبابِ منعِ صرف درو باشد۔ واسبابِ منعِ صرف نہ است عدل ووصف وتانیث ومعرفہ وعجمہ وجمع وترکیب ووزنِ فعل والف و نون مزیدتان۔ چنانچہ در عُمَرُ عدل است وعلم ودر ثُلٰثَ ومَثْلَثَ صفت است وعدل ودر طَلْحَۃُ تانیث است وعلم ودر زَیْنَبُ تانیث معنوی است وعلم ودر حُبْلٰی تانیث است بالفِ مقصورہ ودر حَمْرَآءُ تانیث است بالفِ ممدودہ وایں مؤنث بجائے دوسبب است ودر اِبْرَاھِیْمُ عجمہ است وعلم ودر مَسَاجِدُ ومَصَابِیْحُ جمع منتہی الجموع بجائے دوسبب است و در بَعْلَبَکُّ ترکیب است وعلم ودر اَحْمَدُ وزنِ فعل است وعلم ودر سَکْرَانُ الف ونون زائدتان است ووصف ودر عُثْمَانُ الف ونون زائدتان است وعلم وتحقیقِ غیر منصرف از کتبِ دیگر معلوم شود۔

ترجمہ:- دویم فصل پہ بیان دَ منصرف او غیر منصرف کښے دے۔ منصرف هغه دے چه هیڅ سبب هم دَ منع صرف دَ اسبابو نه په هغه کښے نه وی۔ او غیر منصرف هغه دی چه دوهٔ سببونه دَ اسبابو دَ منع صرف په هغه کښے دے۔ او هغه اسباب دَ منع صرف مجموعه (نهه) دی (۱) عدل (۲) وصف (۳) تانیث (۴) معرفه (۵) عجمه (۶) جمع (۷) ترکیب (۸) وزن فعل ۹ الف نون مزید تان۔ دَ مثال پطور سره چه عُمَرُ عدل دے۔ دیکښے یو عالمیت دے او بل عدل دے۔ او په ثُلٰثَ او مَثْلَثَ کښے دَ اسباب دَ غیر منع صرف نه یو صفت دے بل عدل دے۔ او په طَلْحَۃُ کښے یو تانیث لفظی دے او بل عالمیت دے۔ حقیقت کښے داخو مذکر دے۔ او په زَیْنَبُ کښے یو تانیث معنوی دے بل عالمیت دے او په حُبْلٰی کښے یو تانیث دے چه هغه الف مقصوره دے۔ دا یو سبب قائم دے په مقام د دوه سببینو کښه

حکمًا . او په حُمْرَآءُ کښې تانیث دے په الف ممدوده سره . دا یو سبب قائم دے په مقام د دوه سببو کښې . او اِبْرَاهِیْمُ کښې یو عجمه دے او بل عالمیت دے او په مَسَاجِدُ کښې او مَصَابِیْحُ کښې دا صیغه دَ منتهی الجموع ده یو سبب قائم دے په مقام د دوه سببو کښې . او په بَعْلَبَکُّ کښې یو ترکیب دے او بل عالمیت دے . او په اَحْمَرُ کښې یو وزن د فعل دے او بل عالمیت دے . او په سَکْرَانَ کښې الف نون زائد تان دی . او بل وصفیت دے . او په عثمان کښې الف نون زائد تان دی . او بل عالمیت دے . او تحقیق دَ غیر منصرف معلومیږی دَ نورو کتابونو نه . لیکن زما دَ عزت مکرو ! تاسو ته معلومه ده چه ما دَ دوی بحث دَ نحومیر په صرف کښې پوره تشریح سره ذکر کړیدے . مع ضوابط والامثال والمشتق والترکیب . اُمید لرم چه تاسو دَے صفحه باندے چه کوم شرح لیکل شوید ه صفحه ته توجه اوکړی چه تسلی دل به تاسو ته حاصل شی (فتفکر ولا تکسل ولا تکن غافلاً)

فصل سوم در حروف غیر عامله و آں شانزده قسم است اول حروف تنبیه و آں سه است اَلَا و اَمَا و هَا دوم حروف ایجاب و آں شش است نَعَمْ و بَلٰی و اَجَلْ و اِیْ و جَیْرِ و اِنَّ سوم حروف تفسیر و آں دو است اَیْ و اَنْ کقوله تعالیٰ نَادَیْنَاهُ اَنْ یَّا اِبْرَاهِیْمُ چهارم حروف مصدریه و آں سه است مَا و اَنْ و اَنَّ . ما و اَنْ در فعل روند تا فعل به معنی مصدر باشد .

ترجمه :- دریم فصل دَ حروفِ غیر عامله په بیان کښې دے . دا حروف غیر عامله شپاړس قسمه دی . اول قسم حروف تنبیه کښې دے . او هغه دری دی اَلَا . وَ اَمَا . وَ هَا . دویم حروف ایجاب دی او هغه شپږ دی . نَعَمْ . بَلٰی . اَجَلْ . اِیْ . جَیْرِ . او اِنَّ . دریم قسم حروف تفسیر دی . او هغه دوه دی اَیْ او بل اَنْ لکه دا قول دَ الله پاک شو . وَ نَادَیْنَاهُ اَنْ یَّا اِبْرَاهِیْمُ . څلورم قسم حروف مصدریه دی او هغه دری دی مَا . اَنْ . اَنَّ . مَا

او اَنْ دا په فعل دا خلیږی. او فعل په معنیٰ مصدر یه سره کرځوی۔

# تشریحات

دلته لا بدی ده دَ معرفت دَ اُمور خمسه ؤنه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) بیان دَ ترکیب۔

**اول بحث دَ تحقیقاتو :۔** هرکله چه مصنف علیه الرّحمة فارغ شو دَ بیان دَ حرفونو عامله او اسماء عامله اودَ افعال عامله نه. نو اوس ئے شروع اوکړه په بیان دهغه حرفونو غیر عامله کښے نو دے دَ ویل (فصل سوم در حروف غیر عامله وآں شانزده قسم است)

دریم فصل په بیان دَ حرفونو غیر عامله کښے دے چه هغه شپاړس قسمه سره دی. دیته لهٰذا حروف غیر عامله وائی چه د دیٔ په بله کلمه کښے هیڅ قسم عمل نکوی (څه اعرابی تبدیلی نه راولی) اول قسم دَ دغو شپاړسو قسمونو نه هغه حروف تنبیه دی. حروف تنبیه ویلے شی خبردارے ورکولو ته او دا درے دی (اَلَا ۔ اَمَا ۔ هَلَّا) دی. دویم قسم حروف ایجاب دی یعنی په سوال او جواب کښے چه کوم حروف مستعمل کیږی. دا په تعداد کښے شپږ دی (نَعَمْ) معنیٰ ۔ جی هو (بَلیٰ) معنیٰ ولے نه ۔ اَجَلْ ۔ اِیْ معنی او اِنَّ معنیٰ جی

**تنبیه :۔** په لغت کښے خبردار کولو ته وائی. نو حروف تنبیه هم راځی دَ مخاطبه بیدار کولو دَ پاره. تنبیه صیغه د مصدر دَ باب تفعیل نه ده . او س تفصیل دا شو. اَلَا د هَلَّا په معنیٰ هم لوستلے شی. مثال اَلَا اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ دَ تنبیه نه علاوه دَ نورو معنو دَ پاره هم راځی ۔ (۱) تمنی دَ پاره. مثال اَلَا تَزُوْلُ عِنْدِیْ (۲) دَ توبیخ او انکار دَ پاره مثال اَلَا زَیْدٌ قَائِمٌ (۳) عرض مثال اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ یَّغْفِرَ اللّٰهُ (۳) دَ تحضیض دَ پاره مثال اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا (دوئم) اَمَا دا په معنیٰ دَ حَمَّا او عَمَّا هم لوستلے شی اکثر اوقاتو کښے . دَ دے نه بعد قسم راځی . مثال اَمَا والذی ابکی و اضحی الذی امات و احیا۔

(دریم) حرف تنبیه هَا ده چه اسم اشاره او ضمیر بانده چه مبتدا او واقع دی راځی مثال هٰذَا۔ هَا اَنْتُمْ ۔ هٰؤُلَاءِ ۔ یَا اَیُّهَا الرَّجُلُ . هَا اسم په فعل کښه په معنیٰ دَ خُذْ هَآ حرف تنبیه الف مقصوره او الف ممدوده سره راځی. مثال هَا ۔ هَاءَ او دَ هغے آخر کښے حرف خطاب هم ملحق کیږی. مثال هَاكَ ۔ هَاءَكَ ۔ هَاءَ واحد منکر دَ پاره راځی

هَاءِ واحدهٔ مؤنثه دپاره راځي . هَاءَمَا تثنيه دپاره راځي . هَاءُمْ جمع مذکر دپاره راځي . هَاؤُنَّ جمع مؤنث دپاره راځي . مثال هَاؤُمُ اقْرَءُوْا كِتَابِيَهْ . دریم حرف ایجاب . ایجاب صیغه دَمصدر ده دَباب افعال نه معنٰی ئې ده ثابتول . نَعَمْ راځي دَپاره دَاثبات دکلام سابق . برابره خبره ده چه خبر وي اوکه انشاء وي . مثبت وي اوکه منفي وي (بَلٰی) راځي دَپاره دَاثبات دَایجاب لره یعنی کلام دَمنفي نه مثبت جوړوي او اِيْ راځي دَپاره دَاثبات دَکلام سابق په جواب دَاستفهام کښې سره دَقسم نه لکه یوسړے وائي یوطالب علم ته اَجَاءَ مُفْتِيٌّ اِلٰى دَرْسِهٖ نوطالب علم دې ته وائي : اِيْ وَاللّٰهِ . او اَجَلْ راځي او جَيْرِ راځي او اِنَّ راځي دَ تصدیق دَخبر . برابره خبره ده چه منفي وي کلام اوکه مثبت وي . .

دریم حروف تفسیر دي :- چه دَ شپاړسو قسمونو نه هغه حروف غیرعامله دي چه راځي دَپاره دَ تفسیر . دوئ ته حروف تفسیر ځکه وائي چه وضاحت راځي په دوئ سره او هغه حروف دوه دي ، اَيْ دے او اَنْ دے . اَيْ راځي دَپاره دَ تفسیر دَهرمبهم ته چه برابره خبره ده که مفرد وي اوکه جمله وي . مثال دَ مفرد لکه جَاءَ زَيْدٌ اَيْ اَبُوْعَبْدِ اللّٰهِ . مثال دَجمله لکه قُطِعَ رِزْقُهٗ اَيْ مَاتَ . اَنْ راځي دَپاره دَ تفسیر دَ مفعول مقدر . مثال وَنَادَيْنَاهُ اي بلفظ اَنْ يَّااِبْرَاهِيْمُ . دینه علاوه نورې تفصیل ته توجه اوکړئ تنویر ته کتاب العلل ته . دروس النحو ته . تسهیل النحو ته .

څلورم حروف مصدریه دي :- حروف مصدریه درې دي . اول دَهغې نه مَا مصدریه ده . هغه بیا په دوه قسمه سره ده (۱) زمانیه (۲) غیرزمانیه . دزمانیه مثال مَادُمْتُ حَيًّا دَغیرزمانیه مثال عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَاعَنِتُّمْ . (دوهم) اَنْ ماضي او مضارع دواړو باندے داخلیږي . دَمصدر په معنٰی سره راځي . لیکن عمل صرف په مضارع کښې کوي . (دریم) اَنَّ مشدد یا مخففه دا هم مصدریه تاویل سره کرځوي . دواړو صفتو نو کښې عمل کوي مثالونه لکه : وَضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ اَيْ مَعَ رُحْبِهَا . اَعْجَبَنِيْ اَنْ ضَرَبْتَ اَيْ ضَرْبُكَ . او اَنَّ مشدد داخلیږي په جمله اسمیه باندے .

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكَاتِبِهٖ وَلِمَنْ اَمَّنَ وَلِنَاشِرِهٖ . (آمِيْنَ يَارَبَّ الْعٰلَمِيْنَ)

## دوېم بحث دَ ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه :- حروف تنبیه همیشه دَپاره دَ جملې په ابتداء کښې راځي. برابره خبره ده چه دا جمله اسمیه وي او که جمله فعلیه وي.

۲- ضابطه :- دَ حروف ایجاب دا دي چه نَعَمْ راځي دَپاره دَ اثبات دَ کلام سابق برابره خبره ده چه خبریه وي او که انشائیه وي. مثبت وي او که منفي وي.

۳- ضابطه :- اِيْ راځي دَپاره دَ اثبات دَ کلام سابق په جواب دَ استفهام کښې سره دَ قسم نه

۴- ضابطه :- اَجَلْ - جَيْرَ او اِنَّ - دا درې واړه راځي دَپاره دَ تصدیق دَ خبر- برابره خبره ده چه منفي وي او که مثبت وي.

۵- ضابطه :- دوه حروف د تفسیر دي - حروف تفسیر راځي دَپاره دَ وضاحت. هغه کلام چه ابهام وي. که جمله وي. که مفرد وي.

۶- ضابطه :- دَ حروف مصدریه ده- مَا او اَنْ داخلیږي په جمله فعلیه بانده په تاویل دَ مصدر په سره کړځوي. او اَنَّ داخلیږي په جمله اسمیه بانده.

## درېيم بحث دَ ذکر دَ امثالو

نَادَيْنَاهُ اَنْ يَا اِبْرَاهِيْمُ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ اَعْجَبَنِيْ اَنْ تَضْرِبَ اَعْجَبَنِيْ اَنَّكَ قَائِمٌ اَلَا اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ هٰؤُلَاءِ قَوْمُنَا اَمَا زَيْدٌ قَائِمٌ قَالُوْا نَعَمْ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى قُلْ اِيْ وَرَبِّيْ اِنَّهُ لَحَقٌّ اَجَلْ اِنَّهُ قَائِمٌ جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَيْ اَبُوْ عَمْرٍو. اَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اَلَمْ يَعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰهُمْ عَجِبْتُ اَنْ ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا لَوْلَا اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ مَا يَكُوْنُ لَنَا اَنْ نَتَكَلَّمَ بِهٰذَا - مابقیه امثال په قرآن پاک کښې اوګوري

## څلورم بحث دَ ذکر دَ مشق

سوال :- نَادَيْنَاهُ اَنْ يَا اِبْرَاهِيْمُ دے بانده حروف عامله داخل دي که غیر عامله؟

جواب :- حروف غیر عامله.

سوال :- حروف غیرعامله خو شپارس قسمه دی . دا دکوم یو نه دی ؟

جواب :- دا د حروفو تفسیر نه دی .

سوال :- حروفِ تفسیر خو بیا م دوه حروفه دی . دا کوم یو نه دی ؟

جواب :- دا دَ اَنْ حروف تفسیر نه دے .

سوال :- نو تفسیر څه کړے دے ؟

جواب :- دا اَنْ راغلے دے دَ پاره دَ تفسیر دَ مفعول مقدر ره چه لفظ تقدیر دَ عبارت

دا ښکاره دے . وَنَادَيْنَاهُ بِلَفْظٍ هو قلنا يَا اِبْرَاهِيْمُ .

سوال :- وَضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ . دے بانسے څه واقع دی ؟

جواب :- دے بانسے هم حروف غیرعامله واقع دی .

سوال :- حروف غیرعامله خو شپارس حروفه دی . دا دکوم یو نه دی ؟

جواب :- دا حروف مصدریه دی .

سوال :- حروف مصدریه خو درے دی . دا کوم یو دی ؟

جواب :- دلته مَا دَ پاسے داخل دے .

سوال :- نو دے به څرنګه په تأویل دَ مصدر په سره کړخوی ؟

جواب :- دا مَا خو داخلیږی په جمله فعلیه باندے . دا بِمَا رَحُبَتْ اى رُحْبِهَا

سوال :- اَعْجَبَنِیْ اَنْ تَضْرِبَ - اَعْجَبَنِیْ اَنَّكَ قَائِمٌ دے باندے هم حروف مصدریه

داخل دی ؟

جواب :- هو دوی باندے هم حروف مصدریه داخل دی . تأویل څرنګه کیږی . تاویل

دا رنګه کیږی . اَعْجَبَنِیْ اَنْ ضَرَبْتَ اى ضَرْبُكَ اعْجَبَنِیْ قِيَامُكَ .

سوال :- اَلَا اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ کښے څه واقع دے ؟

جواب :- حرف تنبیه واقع دے .

سوال :- هٰؤُلَاءِ قَوْمُنَا اَمَا زَيْدٌ قَائِمٌ . دیکښے څه واقع دے ؟

جواب :- دیکښے اَمَا حرف تنبیه واقع دے .

سوال :- اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى . دیکښے څه واقع دی ؟

جواب :- دیکښے حروف ایجاب واقع دے .

سوال :- حروف ایجاب خو دَ استفهام دَپاره دی ؟

جواب :- حروف استفهام خو اَلَسْتُ کښے دے همزه ده ۔ او قَالُوْا بَلٰی کښے بلیٰ ئے جواب دے

سوال :- قُلْ اِیْ وَرَبِّیْ اِنَّهٗ لَحَقٌّ ۔ کښے څه واقع شویدی ؟

جواب :- دیکښے هم حروف ایجاب دی چه اِیْ دے ۔ اِنَّهٗ کښے اِنَّ دے ۔

سوال :- اَجَلْ اِنَّهٗ قَائِمٌ کښے څه واقع دے ؟

جواب :- دیکښے هم حروف ایجاب دے چه هغه اَجَلْ دے ۔ مابقیه ورقیاس کړئ ۔

## پنځم بحث ذکر دَ ترکیب

نَادَیْنَاهُ اَنْ یَّااِبْرَاهِیْمُ ۔ نَادَیْنَا دا صیغه دَمتکلم فعل ماضی معلوم دَباب مفاعله نَادٰی، یُنَادِیْ ، مُنَادَاةً ۔ ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په نَحْنُ سره هغه ورته فاعل شو. هٗ ضمیر مفعول بهٖ اول شو ۔ مفعول ثانی ورته محذوف دے چه هغه بِلَفْظٍ دے ۔ باحرف مُفَسِّرْ اَنْ حرف تفسیر یا حرف نداء قَائِمٌ مقام دَاَدْعُوْ صیغه واحد متکلم بحث اثبات فعل مضارع معلوم ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په اَنَا سره هغه ورته فاعل شو ۔ اِبْرَاهِیْمُ منادیٰ مفعول بهٖ نَادَیْنَا فعل مع الفاعل مع المفعول دا جمله فعلیه خبریه په تاویل دَ مصدر سره مُفَسِّرْ شو دَپاره دَ مُفَسَّرْ ۔ مُفَسِّرْ مع المُفَسَّرْ دا مجرور شو دپاره دَجار ۔ جار مع المجرور دا مفعول ثانی شو دَپاره دَنَادَیْنَا ۔ نَادَیْنَا فعل مع الفاعل مع المفعولین دا جمله فعلیه خبریه شوه ۔

وَضَاقَتْ عَلَیْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ اَیْ بِرُحْبِهَا ۔ وَاوْ حرف عطف ضَاقَتْ صیغه واحد مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم ۔ علیٰ حرف جار هم ضمیر مجرور ۔ جار مع المجرور دا ظرف لغو تعلق نیسی تر ضَاقَتْ فعل پورے ۔ اَلْاَرْضُ ورته فاعل شو ۔ باحرف جار مَا مصدریه رَحُبَتْ صیغه واحدهٔ مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم ۔ قیاس دے په باب کَرُمَ یَکْرُمُ باندے ضمیر پکښے مستتر دے چه هِیَ دے هغه ورته فاعل شو ۔ رَحُبَتْ فعل مع الفاعل دا مُفَسَّرْ ای حرف تفسیر ۔ باء حرف جار رُحْبُ مجرور مضاف هَا ضمیر مضاف الیه ۔ مضاف مع المضاف الیه دا مجرور شو دَپاره دَجار ۔ جار مع المجرور دا مُفَسِّرْ ۔ مُفَسِّرْ مع المُفَسَّرْ مُفَسَّرْ بِمَا رَحُبَتْ دے ۔ مُفَسِّرْ بِرُحْبِهَا دے دا جمله په تاویل دَ مصدر سره مجرور شو

دَپاره دَجار . جار مع المجرور دا ظرف لغوه تعلق يې تر ضَا تَتْ فعل پورې . فعل مع الفاعل مع المتعلقينو نه . متعلق اول عَلَيْهِمْ دے او متعلق ثاني بِمَا دَحُبّتْ دے . دا جمله فعليه خبريه شوه -

ہ ہرکس وفاکردم عاقبت ازوی جفاد یدم ÷ امید من بتو بود تو ہم بے وفا دیدم

أَعْجَبَنِيْ اَنْ تَضْرِبَ اَیْ ضَرْبُكَ - أَعْجَبَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معلوم دَباب افعال نه . أَعْجَبَ يُعْجِبُ اِعْجَابًا نون وقايه ياء متكلم مفعول به اَنْ ناصبه مصدريه . تَضْرِبُ صيغه واحد مذكر مخاطب فعل مضارع معلوم ضمير پکښې مستتر دے چه تعبير ئے کيږی په اَنْتَ سره هغه دے ته فاعل شو. تَضْرِبُ فعل مع الفاعل دا جمله فعليه په تاويل دَ مصدر سره مُفَسَّرْ اى حرف تفسير ضَرْبَ مضاف كاف ضمير مضافٌ اليه مضاف مع المضافٌ اليه دا مُفَسِّر شو دَپاره دَ مُفَسَّرْ . مُفَسَّرَ مَعَ الْمُفَسِّرْ دا فاعل شو دَپاره دَ اَعْجَبَ فعل . فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعليه خبريه شوه .
اُميد لرم چه په دقت نظر سره توجه اوکړی -

پنجم حروف تحضیض وآں چہار است اَلَّا وهَلَّا ولَوْلَا و لَوْمَا
ششم حرف توقع وآں قَدْ است برائے تحقیق در ماضی وبرائے تقریب ماضی بحال و در مضارع برائے تقلیل هفتم حروف استفہام وآں سہ است مَا وهمزه وهَلْ هشتم حرف ردع وآں كَلَّا است به معنی باز گردانیدن وبه معنی حَقًّا نیز آمده است چوں كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ
نهم تنوین وآں پنج است . تمکن چوں زَيْدٌ وتنکیر چوں صَهٍ اى اُسْكُتْ سُكُوْتًا مَّا فِىْ وَقْتٍ مَّا اما صَهْ بغیر تنوین بمعناه اُسْكُتِ السُّكُوْتَ الْاٰنَ وعوض چوں يَوْمَئِذٍ ومقابله چوں مُسْلِمَاتٌ وترنم كه در آخر ابیات باشد شعر اَقِلِّى اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَنْ وَقُوْلِىْ اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ ؛ وتنوین ترنم در اسم وفعل وحرف رود اما چہار اولین خاص است باسم -

ترجمه :- پنځم قسم حروف د شپارسو حروفو غیر عامله نه هغه حروف تحضیض دی . او هغه څلور دی ( اَلَّا - هَلَّا - لَوْلَا - لَوْمَا ) دی . شپږم قسم حروف د شپارس حروفو غیر عامله نه هغه حروف توقع دی . لکه هغه قَدْ دے د تحقیق دپاره راځی په ماضی باندے داخل شی د ماضی حالت قریب کوی . او په مضارع داخل شی دپاره د تقلیل راځی . اووم قسم حروف د شپارس حروفو غیر عامله نه هغه حروف استفهام دی . او هغه حروف استفهام درے دی ( مَا - همزه - هَلْ ) اتم قسم حروف د شپارس حروفو غیر عامله نه هغه حرف ردع دی . هغه کَلَّا دے . دا په معنیٰ د منع کولو سره دے او دا په معنیٰ د حقا سره هم راغلے دے . مثال لکه کَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ . نهم قسم د هغه شپارس حروف عامله نه بحث د تنوین دے . دا تنوین په پنځه قسمه سره دے (۱) تمکن دپاره راځی . مثال زَیْدٌ (۲) تنکیر دپاره . مثال لکه صَهٍ اَیْ اُسْکُتْ سُکُوْتًا مَّا فِیْ وَقْتٍ مَّا . اَمَّا صَهْ بغیر تنوین فمعناه اُسْکُتِ السُّکُوْتَ الْآنَ (۳) د عوض دپاره . مثال لکه یَوْمَئِذٍ (۴) د مقابله دپاره . مثال لکه مُسْلِمَاتٌ (۵) ترنم دپاره چه د شعر آخر طرف ته دی . مثال لکه

اقلی اللوم عاذل و العتابن ÷ وَقولی ان اصبت لقد اصابن

او تنوین ترنم په اسم او په فعل او په حرف باندے راځی . هرچه دا څلور اولنی دی دا خاص دی تر اسمه پورے چه هغه ( تمکن - تنکیر - عوض - مقابله ) دی .

## تشریحات

دلته لا بدی ده د معرفت د امورو خمسه نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر د ضوابطو (۳) ذکر د امثالو (۴) ذکر د مشق (۵) ذکر د ترکیب .

اول بحث د تحقیقاتو :- هر کله چه مصنفؒ فارغ شو د بیان د څلورو قسمو د حرف غیر عامله نه . نو اوس ئے شروع اوکړه په بیان د پنځم قسم د حروف تحضیض نه اخلهٔ تر نهم قسم د تنوین پورے . پنځم قسم بحث د حروف تحضیض دے . حروف څلور دی ( اَلَّا - هَلَّا - لَوْلَا - لَوْمَا ) دی . او لَوْمَا ته تحضیض ځکه وئیلے شی . تیزی ورکولو ته وائی . او دا هم راځی دپاره د تیزی ورکولو مخاطب ته ( شپږم ) قسم حروف هغه حرف توقع دے او دا حرف قَدْ دے او دغه حرف توقع ځکه وائی چه توقع وائی اُمید کولو ته او دا هم د اُمید معنیٰ فائده کوی

سوال :- حرف توقع خو يو دے . نو مصنفؒ ولے متن کښے جمع صيغه سره ذکر کړه ؟

جواب :- دا په اعتبار د معنیٰ سره ذکر کړيد ے . ځکه معنیٰ د دے تقريباً په پنځه قسمه سره راځی . (۱) قَدْ راځی د پاره د تحقيق په ماضی کښے داخل شی نو زمانه د ماضی حال ته قريب کوی (۲) قَدْ که په مضارع داخل شی تحقيق مع التقليل (۳) کله تقصير د پاره راځی قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ (۴) صرف تحقيق د پاره راځی قَدْ اَفْلَحَ (۵) کله تحقيق مع التقريب فائده کوی مع الاميد او کله تحقيق فائده کوی مع التقريب بغير د اُميد نه دی .

(اووم) قسم حرف استفهام دے . استفهام د باب د استفعال نه دے . معنیٰ طلب د فهم کولو او دا حروف هم راځی د پاره د طلب د فهم کولو . او هغه درے دی (مَا - همزه - هَلْ) همزه راځی د پاره د طلب د تصور او تصديق . او هَلْ راځی د پاره د طلب د تصديق . او ما بقيه استفهام راځی د پاره د طلب د تصور . مثال مالك ما اسمك مثال اَزَيْدٌ كَاتِبٌ . هَلْ زَيْدٌ قَائِمٌ جمله فعليه وی او که اسميه وی .

اتم قسم حروف ردع دی . دا صرف كَلَّا دے .

سوال :- دا خو صرف يو دے . دلته ماتنؒ جمع ذکر کړيدی ؟

جواب :- دا په اعتبار د معنیٰ سره . نه په اعتبار د لفظ سره (نتفكر) ځکه كَلَّا کله راځی د پاره د منع کولو . او کله راځی د پاره د حقا په معنیٰ سره . يعنی د كَلَّا معنیٰ داسے ده خبر که چه تاسو ګمان کوی اے کافرانو . يا دا سے معنیٰ کوو كَلَّا حَقًّا دے چه قيامت به خامخا راتلونکے ورځ ده . دلته كَلَّا بمعنیٰ حقًّا .

خلاصه :- په كَلَّا کښه درے مسلک چليږی (۱) د کسائیؒ او د هغے د متبعينو په نيز په معنیٰ د حقًّا سره (۲) د ابوحاتم او د هغه د متبعين په نيز په معنیٰ د اِلَّا ابتدائيه سره (۳) نصر بن شميل او فراء په نيز د نَعَمْ په معنیٰ سره راځی . صاحب مغنی اللبيب ابو حاتم ته ترجيح ورکړيده . مثال لکه كَلَّا وَالْقَمَرِ .

نهم قسم د شپارسو قسمونو نه هغه تنوين دے . تنوين صيغه د مصدر ده د باب تفعيل نه ده . ويلے کيږی نَوَّنْتُهٗ معنیٰ ما داخل کړه په دے کښے تنوين . او په اصطلاح کښے نُوْنٌ ساکنه تابع حرکاته حرف الآخر . او نون چه ذکر شو مِنْ او لَدُنْ او لم يکن وغيره نو دينه خارج شوه .

سوال :- ستا تعریف ناقص شو په نون تاکید خفیفه سره . ځکه چه دا هم نون ساکنه ده چه پیوست کیږی په آخر دَکلمه پورې . او حال دا دے چه تنوین نه دے ؟

جواب :- تنوین نون ساکنه ده . لیکن هغه نون ساکنه چه دَ تاکید دَ فعل دَپاره نه وی نون خفیفه خو تاکید دَ فعل دَپاره راځی . نو هغه ترینه خارج شو . هغه پنځه دی .

۱- تمکن :- مثال لکه زَیدٌ شو . تمکن دا ئی قدرت ورکولو ته . دا هم آخر دَ معرب راځی دلالت کوی په انصراف دَکلمے باندے .

۲- تنکیر :- راځی دَ نکارت دَپاره دا هم دلالت کوی په نکارت دَ اسم باندے .

۳- مثال لکه صَهٍ شو . معنیٰ دَ عربیٔ په ژبه سره اُسْکُتْ سُکُوْتًا مَّا فِیْ وَقْتٍ مَّا . معنی چپ شه . یو قسم چپ کیدل په یو وخت کښے دَ اوقاتو نه . او کله بغیر دَ تنوین نه دا لفظ راځی . لکه صَهْ معنیٰ اُسْکُتِ السُّکُوْتَ الْاٰنَ . معنیٰ چپ شه . خاص چپ کیدل په دے وخت کښے . اول قسم کښے نکارت او دویم قسم کښے تعریف دے .

۳- عوض :- هغه تنوین دے چه عوض کښے راورل کیږی دَ مضافٌ الیه محذوفه مثال یَوْمَئِذٍ .

۴ - مقابله دے :- دا هغه تنوین دے چه مقابله دَ جمع مذکر سالم کښے راځی . ځکه چه جمع مذکر سالم کښے نون راځی . مثال مُسْلِمَاتٍ .

۵ - ترنم دے :- دا هغه تنوین دے چه په فعل کښے هم راځی او په اسم کښے هم راځی په حرف کښے هم راځی . لکه مثال په دغه شعر کښے شو . اوس عَاذِلُ په اصل کښے یَاعَاذِلَتُهُ وُو . یا حرف ندا حذف شو او په منادیٰ کښے ترخیم وشو . نو تاء دَ آخر نه حذف شوه . په ترخیم سره نو عاذلُ معنیٰ کمه کړه ملامتیا ای عاذلهٔ اوکه زه حق ته ورسیدم نو دا به ته چه په تحقیق سره حق ته ورسیدلے . او په تنوین کښے دا خلوص تنوین اولنی دا حرف دَ اسم دَپاره راځی . او ترنم خو عام دے لکه دَ الْعِتَابَنْ شو . دا دَ نون په شکل سره لیکلے شویدے . او اَصَابَنْ کښے هم .

## دریم بحث دَ ذکر دَ ضوابطو

۱- ضابطه :- دَ حروف تحضیض ده . هغه دا ده چه دوی په شمار کښے خلور دی .

(اَلَّا ۔ هَلَّا ۔ لَوْلَا ۔ لَوْمَا) که دوئ په فعل ماضي داخل شي نو دَ زورنے معنىٰ ورکوي او که په فعل مضارع داخل شي نو دَ ترغيب معنىٰ ورکوي. مثالونه ورو وسته ذکر کيږي په بحث دَ امثالو کښے۔

۲۔ **ضابطه** :۔ دَ حرف توقع ده چه دَ اُميد په معنىٰ راځي. که په فعل ماضي داخل شي نو دَ تحقيق مطلب اداکوي. او ماضي زمانه حال ته قريبه کوي. او چه په فعل مضارع داخل شي نو تقليل معنىٰ ورکوي. او کله په مضارع داخل شي حرف تحقيق معنىٰ ورکوي مثال لکه قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ ۔

۳۔ **ضابطه** :۔ دَ حروف استفهام ده ۔ او دا درے حروف دي (مَا۔ همزه ۔ هَلْ) همزه او هَلْ په جمله داخليږي. که جمله اسميه وي او که جمله فعليه وي. او مَا استفهاميه داخليږي په جمله اسميه باندے ۔

۴۔ **ضابطه** :۔ دَ حرف ردع ده. دَ منع دَپاره هم راځي او دَ تحقيق په معنىٰ هم راځي امثالو کښے سوچ اوکړئ ۔

۵۔ **ضابطه** :۔ دَ تنوين ده. دا په پنځه قسمه سره دے (۱) تنوين تمکن دے. او دا سم معرب نبنه ده. او بل تنوين دَ تنکير دے چه دلالت کوي په نکارت باندے ۔

## دريم بحث ذکر دَ امثالو

اَلَّا ضَرَبْتَ زَيْدًا (تا ولے نه دے وهلے زيد) هَلَّا اَكْرَمْتَ خَالِدًا (تا ولے دَ خالد اکرام نه دے کړے) لَوْلَا جِئْتَنِيْ (ته ما ته ولے نه يے راغلے) لَوْمَا اَكَلْتَ (تا خوراک ولے نه دے کړے) هَلَّا تَقْرَءُ فَتَكُوْنَ عَالِمًا (ته ولے سبق نه وائے چه عالم شے) قَدْ رَكِبَ الْاَمِيْرُ اَلْجَوَادُ قَدْ يَبْخَلُ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ اَزَيْدٌ قَائِمٌ هَلْ زَيْدٌ كَاتِبٌ اَقَامَ زَيْدٌ هَلْ جَاءَ خَالِدٌ فُلَانٌ يَشْتِمُكَ قَالَ فِي الْجَوَامِعِ كَلَّا كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ جَاءَ زَيْدٌ اُسْكُتْ سُكُوْتًا مَا فِيْ وَقْتٍ مَّا يَوْمَئِذٍ

## څلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال :۔ ضَرَبْتَ زَيْدًا ۔ هَلَّا اَكْرَمْتَ خَالِدًا ۔ لَوْلَا جِئْتَنِيْ ۔ لَوْمَا اَكَلْتَ دا جملے

باندے څه داخل شوے دی ؟

جواب :- دوئ باندے حروف تحضیض داخل شویدی ۔

سوال :- حروف تحضیض څو دی ؟

جواب :- څلور دی۔

سوال :- تحضیض څه معنیٰ ؟

جواب :- تحضیض تېزی ورکولو ته وائی ۔

سوال :- دیکښے ضابطه څه ده ؟

جواب :- دیکښے ضابطه داده چه که دوی په ماضی داخل شی نو دَ ندامت په معنیٰ سره به راځی ۔ اوکه په مضارع داخل شی نو دَ ترغیب په معنیٰ سره راځی ۔

سوال :- هَلَّا تَقْرَءُ فَتَكُوْنَ عَالِمًا دا دَ مضارع مثال شو مابقیه معنیٰ دَ دوئ په بحث دَ امثالو کښے تیر شوی دے ۔

سوال :- قَدْ رَكِبَ الْاَمِيْرُ څه واقع شویدی ؟

جواب :- دے باندے حرف تحقیق داخل دے ۔ که په ماضی باندے داخل شی ضابطه وائی چه دَ تحقیق معنیٰ ورکوی ۔ دلته هم دَ تحقیق معنیٰ ورکوی ۔

سوال :- اَلْحَرَّارُ قَدْ يَبْخُلُ باندے څه داخل دی ؟

جواب :- په دے قَدْ داخل دے ۔

سوال :- قَدْ څه فائده اوکړه ؟

جواب :- دلته خو قَدْ په مضارع داخل دے دَ تقلیل معنیٰ ئے ورکړه ۔

سوال :- قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ کښے هم قَدْ داخل دے دلته څه معنیٰ ورکوی؟

جواب :- دلته تقلیل معنیٰ نه ورکوله اګرچه صیغه خو دَ مضارع ده لیکن دلته دَ تحقیق معنیٰ ورکوی ۔

سوال :- اَزَيْدٌ قَائِمٌ کښے څه واقع دی ؟

جواب :- دلته خو همزه دَ استفهام واقع ده ۔ اَقَامَ زَيْدٌ او هَلْ جَاءَ خَالِدٌ دا اول مثال دَ جمله اسمیه دے او بل مثال دَ جمله فعلیه دے ۔ فعل او اسم او حرف او کلمه کښے فرق وی ۔ که دَ کلام په اول کښے اسم وی جمله اسمیه او که فعل وی جمله فعلیه دی ۔

سوال :- کَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ کښې څه واقع شوي دي ؟
جواب :- کَلَّا دَ حَقًّا په معنیٰ سره راغلې دے . او دَ تنوين بحث په تنوين کښې ذکوري

# پنځم بحث دَ ترکیب

اَلَّا ضَرَبْتَ زَيْدًا - اَلَّا حرف تحضيض . ضَرَبْتَ صيغه واحد مذکر مخاطب فعل ماضي معلوم ضمير پکښې مستتر دے چه تعبير ئے کيږي په اَنْتَ سره هغه ورته فاعل شو . او زَيْدًا ورته مفعول بهٖ دے . فعل مع الفاعل مع المفعول بهٖ دا جمله فعليه خبريه تحضيضيه

هَلَّا اَكْرَمْتَ خَالِدًا - هَلَّا حرف تحضيض اَكْرَمْتَ صيغه واحد مذکر مخاطب فعل ماضي معلوم دَ باب افعال نه ضمير پکښې مستتر چه اَنْتَ دے هغه ورته فاعل شو او خَالِدًا مفعول بهٖ شو . فعل مع الفاعل مع المفعول بهٖ دا جمله فعليه خبريه تحضيضيه -

لَوْلَا جِئْتَنِيْ - لَوْلَا حرف تحضيض جِئْتَ صيغه واحد مذکر مخاطب فعل ماضي معلوم ضمير پکښې مستتر دے چه اَنْتَ دے هغه ورته فاعل شو . نون وقايه ياء متکلم مفعول بهٖ فعل مع الفاعل او مع المفعول بهٖ دا جمله فعليه خبريه تحضيضيه شوه -

لَوْمَا اَكَلْتَ - لَوْمَا حرف تحضيض اَكَلْتَ صيغه واحد مذکر مخاطب فعل ماضي معلوم ضمير پکښې مستتر دے چه تعبير ئے کيږي په اَنْتَ سره هغه ورته فاعل شو . فعل مع الفاعل دا جمله فعليه خبريه تحضيضيه شوه -

قَدْ رَكِبَ الْاَمِيْرُ - قَدْ حرف تحقيق رَكِبَ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم اَلْاَمِيْرُ ورته فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعليه خبريه تحقيقيه -

اَلْجَرَادُ قَدْ يَبْخُلُ - اَلْجَرَادُ مبتدا ، قَدْ حرف تحقيق يَبْخُلُ صيغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ضمير پکښې مستتر دے چه تعبير ئے کيږي په هُوَ سره هغه ورته فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعليه خبريه تقليليه خبر شو دَپاره دَ مبتدا . مبتدا مع الخبر دا جمله اسميه خبريه شوه .

مَا اِسْمُكَ - مَا استفهاميه مبتدا اسم مضاف کاف ضمير مضاف اليه . مضاف مع المضاف اليه دا خبر شو دَپاره دَ مبتدا . مبتدا مع الخبر دا جمله اسميه خبريه استفهاميه

اَزَيْدٌ قَائِمٌ - اَ همزه استفهاميه زَيْدٌ مرفوع لفظاً مبتدا قَائِمٌ ورته خبر شو . مبتداء

مع الخبر دا جمله اسميه خبريه شوه .

كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ـ كَلَّا دا حرف ردع سَوْفَ دا يو عامل دے دَ فعل دَ پاره چه دَ استقبال بعيد معنى ورکوى . تَعْلَمُوْنَ صيغه واحد مذكر مخاطب فعل مضارع معلوم ضمير پکښے مستتر دے چه تعبير ئے کيږى په اَنْتُمْ سره هغه ور ته فاعل شو . فعل مع الفاعل دا جمله فعليه خبريه شوه .

صَه اى اُسْكُتْ سُكُوْتًا تَامًّا فِىْ وَقْتٍ مَّا ـ صَه مُفَسَّرْ اى حرف تفسير اُسْكُتْ صيغه واحد مذكر امر حاضر معلوم ضمير پکښے مستتر دے چه تعبير ئے کيږى په اَنْتَ سره هغه ور ته فاعل شو . سُكُوْتًا موصوف تَامًّا ور ته صفت شو . موصوف مع صفت دا مفعول به شو دَ پاره دَ اُسْكُتْ . فِىْ حرف جار وقت و د ته مجرور موصوف مَّا ور ته صفت . موصوف مع صفت مجرور شو دَ پاره دَ جار . جار مع المجرور دا ظرف لغو تعلق نيسى تر اُسْكُتْ فعل پورے . فعل مع الفاعل او مع المفعول به او مع المتعلق دا جمله فعليه خبريه تفسير شو دَ پاره دَ مُفَسَّرْ . مُفَسَّرْ مع تفسير دا جمله فعليه انشائيه تفسيريه .

اَقِلِّى اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَنْ ؛ وَقُوْلِى اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ

اَقِلِّى صيغه واحده مؤنثه امر حاضر معلوم ضمير پکښے مستتر دے چه تعبير ئے کيږى په اَنْتِ سره هغه ور ته فاعل شو . اَللَّوْمَ دا موصوف عَاذِلَ يا عَاذِلَةُ يا حرف نداء ـ عَاذِلَ ور ته منادى مفرد معرفه مبنى بر ضمه معطوفٌ عليه وَاوْ حرف عطف اَلْعِتَابَنْ معطوف . معطوفٌ عليه مع المعطوف نه دا صفت شو دَ پاره دَ موصوف . موصوف مع صفت دا مفعول به شو دَ پاره دَ اَقِلِّى . اَقِلِّى فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعليه انشائيه معطوفٌ عليه . وَاوْ حرف عاطف . قُوْلِى صيغه واحده مؤنثه امر حاضر معلوم ضمير پکښے مستتر دے چه تعبير ئے کيږى په اَنْتِ سره هغه ور ته فاعل شو . قُوْلِى فعل مع الفاعل دا جمله فعليه انشائيه قول . اِنْ حرف شرط اَصَبْتُ صيغه واحد متكلم فعل ماضى معلوم دَ باب افعال نه ضمير پکښے مستتر دے چه اَنَا دے هغه ور ته فاعل شو . اَصَبْتُ فعل مع الفاعل دا جمله فعليه فعل شرط . لام تاكيد قَدْ حرف تحقيق اَصَابَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضى معلوم دَ باب افعال نه ضمير پکښے دے چه تعبير ئے کيږى په هُوَ سره هغه ور ته فاعل شو . فعل مع الفاعل دا جمله فعليه جزاء دَ شرط شوه . شرط مع الجزاء

داجمله فعلیه خبریه شرطیه مقوله شوه دپاره دَ قول چه قَوْلِیْ دے. قَوْلِیْ مع المقوله داجمله معطوف شو دپاره دَ معطوفٌ علیم. معطوفٌ علیم مع المعطوف داجمله فعلیه انشائیه. اوکه دا سه ترکیب کوی چه اَللَّوْمُ معطوفٌ علیه شی وَالْعِتَابُ ورباندے عطف شی یا عَاذِلَ عَاذِلَةٌ شی. داجمله منادیٰ مفعول به شوه دپاره دَ اَتْلِیْ. دا هم صحیح دے (تتفکر)

دهم [۱۰] نونِ تاکید در آخرِ فعلِ مضارع ثقیله وخفیفه چوں اِضْرِبَنَّ واضْرِبَنْ یازدهم [۱۱] حروفِ زیادت وآں هشت حرف است اِنْ و اَنْ وما و لا و مِنْ وکاف وبا ولام چهار آخر در حروفِ جر یاد کرده شد دوازدهم [۱۲] حروفِ شرط وآں دو است اَمَّا ولَوْ. اَمَّا برائے تفسیر وفا در جوابش لازم باشد کقوله تعالیٰ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيْدٌ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ فَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ. ولَوْ برائے انتفائے ثانی بسبب انتفائے اول چوں لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا سیزدهم [۱۳] لَوْلَا وا و موضوع است برائے انتفائے ثانی بسبب وجود اول چوں لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ چهاردهم [۱۴] لام مفتوحه برائے تاکید چوں لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو پانزدهم [۱۵] مَا بمعنی مَادَامَ چوں اَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ شانزدهم [۱۶] حروفِ عطف وآں ده است واو و فا و ثُمَّ و حَتّٰی و اِمَّا و اَوْ و اَمْ و لَا و بَلْ و لٰكِنْ. فقط

ترجمه :- لسم قسم دَ هغه شپارسو قسمونو نه نون تاکید دے چه دَ فعل مضارع په آخره کښه راځی. برابره خبره ده چه نون تاکید ثقیله وی اوکه نون تاکید خفیفه وی. مثال لکه اِضْرِبَنَّ او اِضْرِبَنْ. یوولسم قسم دَ هغه شپارسو قسمونو نه هغه حروف زیادت دی. او

حروف زیادت هغه اته دی (۱) اِنْ (۲) اَنْ (۳) مَا (۴) لَا (۵) مِنْ (۶) کاف (۷) بَا (۸) لَامْ
دغه ټولو (۸) اته واړو آخرنی حروف په حروف جارو کښې یاد کړے شوی دی -
دولسم قسم دَ هغه شپاړسو قسمونو نه هغه حروف شرط دی او حروف شرط دوه دی .
(اَمَّا - لَوْ) اَمَّا راځی دَپاره دَ تفسیر او نابیا دَ دے په جواب کښې لازماً راځی. مثال لکه قول دَ الله پاك فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّ سَعِيْدٌ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ . او (لَوْ) راځی دَپاره دَ انتفاء په سبب دَ انتفاء دَ اول سره مثال لکه لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا . او س فساد خو نشته دے دا ثانی دے . فساد ولے نشته لوجه نفی دَ اول نه چه اِلٰهَ نشته .
دیارلسم :- قسم دَ هغه شپاړسو قسمونو نه هغه (لَوْلَا) دے . او دا لَوْلَا موضوع دے دَپاره دَ انتفاء دَ ثانی په سبب دَ وجود دَ اول سره . مثال لکه لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ که علی صاحب موجود نه وے نو عمر صاحب به هلاك شوے وُو . او س عمر صاحب خو هلاك نه دے ځکه چه علی صاحب موجود دے . نو وجود دَ علی صاحب دا سبب شو دَپاره دَ وجود دَ عمر صاحب لره . امثالو کښې سوچ اوکړئ
څلوارلسم قسم دَ هغه شپاړسو قسمونو نه هغه لَامْ مفتوحه دے . دا راځی دَپاره دَ تاکید. مثال لکه لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو . خامخا زید افضل دے دَ عمر نه .
پنځلسم قسم دَ هغه شپاړسو قسمونو نه هغه حرف (مَا) دے . چه په معنی دَ مَادَامَ سره راځی . مثال لکه اَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ . زه به ولاړیم ترڅو چه امیر صاحب ناست وی
شپاړسم قسم دَ هغه شپاړسو قسمونو نه هغه حروف عطف دی چه هغه مجموعه لس دی
(۱) وَاوْ (۲) فَا (۳) ثُمَّ (۴) حَتّٰى (۵) اَمَّا (۶) اَوْ (۷) اَمْ (۸) لَا (۹) بَلْ (۱۰) لٰكِنْ
دا ټول دَ حرف عطف بیان . پوره تفصیل انشاء العزیز په تحقیقاتو کښې راځی -

## تشریحات

دلته لا بدی ده دَ معرفت دَ امورو خمسه نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) بحث دَ ترکیب -
اول بحث د تحقیقاتو :- هرکله چه مصنف علیه الرحمة فارغ شو دَ بیان دَ حرف

تحضیض نه داخله تر تنوین پورې . نو اوس نې شروع اوکړه په بیان دَ نون تاکید نه داخله الی حروف عطف پورې . نو دې ویل ( دهم در نون تاکید در آخر فعل مضارع الی شانزدهم در حروف عطف پورې په هر یو امثالو کښې سوچ اوکړئ .

اوس لسم قسم دَ حروف غیر عامِلو نه نون تاکید دې چه راځی په آخر دَ فعل مضارع کښې دا بیا پچل کړه کښې په دوه قسمه سره دې . یو نون تاکید ثقیله دې او بل نون تاکید خفیفه دې .

سوال :- اوس نون تاکید ته ولې نون تاکیدهٔ وائی ؟

جواب :- نون تاکیدهٔ ته ځکه نون تاکیدهٔ وائی چه دې راځی د پارهٔ دَ تاکید دَ طلب دَ فعل . او دا راځی دَ پارهٔ دَ تاکید دَ ترلک دَ فعل . بیا نون په دوه قسمه سره دې یو ثقیله او بل خفیفه . ثقیله ته ځکه ثقیله وائی . چه دا مشدد دې . په لسان ثقیل لری . او خفیفه ته ځکه خفیفه وائی چه په دیکښې خفت موجود دې له وجه دَ سکون نه .

فان قیل :- فرق په ما بین دَ ثقیله او خفیفه کښې څه دې ؟

جواب :- فرق دا دې چه ثقیله کښې کثرت دَ حروفو دې . او کثرت دَ حروفو دلالت کوی په کثرت دَ معنٰی باندې . او په خفیفه کښې قِلت دَ حروفو دې . او قلت دَ حروفو دلالت کوی په قِلت دَ معنٰی باندې .

یولسم قسم کښې دَ حروفو زیادت بحث دې . حروف زیادت ته ځکه حروف زیادت وائی . چه دا کله زائد راځی په کلام کښې او معنٰی دَ زیادت نې په کلام کښې دا ده چه په حذف دَ دوی سره نقصان نه راځی معنٰی دَ کلام ته . او په ذکر سره زیادت نه راځی په معنٰی دَ کلام کښې . اصل مقصد دا شو دَ دوی نه علاوه دَ کلمې معنٰی تامه وی .

سوال :- بیا دَ دې ذکر کولو ته څه حاجت دې ؟

جواب :- دَ عربو په اصطلاح کښې دا دې مختلف اغراضو دَ پارهٔ کیږی . اصل دا ده چه کله دا راځی صرف دَ تنوین کلمې دَ پارهٔ وی . کله دَ وزن دَ برابری دَ پارهٔ راځی . بیا اته حروف دی . لکه مذکور .

دولسم قسم حروف شرط دی . او هغه صرف دوه حروف دی ( اَمّا او لَوْ ) دی . اَمّا دَ تفسیر دَ پارهٔ راځی . او دَ دې جواب کښې فاء راځی لکه آیت مذکوره کښې . دویم لَوْ دې .

دا ئې نو. دے ذ پاره چه دا دویم شئ نشته. ځکه چه اول شئ نشته یعنې مقصد دا شو چه دَ اول شي دَ نشت والی ثبوت دادے چه دویم شئ نشته. مثال لکه لَوْكَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا. او س دلته فساد نشته دا ثانی دے. ځکه چه خدایان هم نشته. صِرف یو خدائے واحد لا شریك دے.

دیارلسم :- لَوْلَا دے. دَدے دَ استعمال طریقه داده چه دویم شے نشته. ځکه چه اول شئ موجود دے. یعنې حاصل دا شو چه دَ اول شئ وجود دَ دویم شي دَپاره دَ نفی ثبوت دے. مثال لکه لَوْلَا عَلِیٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ. دَ علیؓ صاحب وجود سبب شو دَ عمر صاحب عدم هلاکت ته. واقعه دا سے ده چه یو تا ملغ کښې حضرت عمرؓ دَ یوے حاملے ښځے په حق کښې دَ رجم حکم دکړو. حضرت علی كَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ موجود وُو. هغه ورته عرض اوکړو چه دَ حاملے ښځے دَ وضع دَ حمل پورے به رجم نشي وركولے. نو حضرت عمرؓ اوفرمائیل لَوْلَا عَلِیٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ.

څوارلسم قسم. لام مفتوحه دے. دا صرف تاکید دَپاره راځي. مثال لکه لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍ

پنځلسم قسم :- مَا دے. چه دے دَ مَادام په معنی سره راځي. مثال لکه اَقُوْمُ مَاجَلَسَ الْاَمِيْرُ

شپاړسم قسم. حروف عطف دی. حروف عاطفه لس دی. عاطفه صیغه دَ اسم فاعل ده چه معنی دَ مصدر ورکوی. چه دَ عطف معنی یو شے دَ بل شي سره په څه حکم کښې یو ځائے کول. لکه جَاءَ حَمِيْدٌ وَحَامِدٌ دلته دَ حمید او دَ حامد را تله شریك دی دَ واؤ عاطفه په ذریعه سره.

## دویم بحث ذکر دَ ضوابطو

۱- **ضابطه** :- دَ نون تاکید ده. که ثقیله وی که خفیفه. خو داخلیږی په فعل مضارع باندے. معنی کښې یو شان دی. او په اسم کښې نه راځي. ځکه چه دلته راځي دَپاره دَ طلب. او طلب په فعل کښې وی نه په اسم کښې. بیا فعل ماضی باندے هم نه داخلیږی ځکه چه مخکښې بیا طلب نشته. بیا فعل مضارع کښې هم استقبال سره خاص دے نه په حال کښې. ځکه چه حال کښې طلب نه وی. فعل مضارع کښې چه طلب راځي هغه وخت چه دا فعل مضارع موجود شی په ضمن دَ (۶) اشیاؤ کښې (۱) امر (۲) نهی

(۳) ترجي (۴) استفهام (۵) تمنى (۶) نداء (۷) قسم (۸) عرض شو.

۲- ضابطه :- دَ حروفو دَ زیادت ده . چه هغه (ګته) حروف دي . (اِنْ) بالکسرة الهمزة اکثره اوقات زائد راځي . دَ مَا نافیه نه بعد راځي دَ تاکید دَ پاره . مثال لکه مَا اِنْ رَأَیْتُ اَحَدًا . (اَنْ) بالفتح . اکثر اوقات زائد راځي او دَ لَمَّا نه بعد راځي . مثال لکه فَلَمَّا اَنْ جَاءَ الْبَشِیْرُ (مَا) داهیشه دَ پاره دَ اذا او دَ متی او دَ ای او دَ اَیْنَ او اِنْ سره زائد راځي . لیکن هغه کلمه چه په دے توله حروفو کښے دَ شرط معنی وی . مثال لکه اِذَامَا تَخْرُجُ اَخْرُجُ (کله چه ته اوځې نو زه به هم اوځم) او مَتٰی تَذْهَبُ اَذْهَبُ (کله چه ته ځې نو زه هم ځم) او بل اَیًّامَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَاءُ الْحُسْنٰی (دَ الله پاك په نومونو کښې کوم نوم چه اخلې نو دَ خدائے نومونه ټول ښه دي) او اَیْنَ مَا تَجْلِسْ اَجْلِسْ (په کوم مقام کښې چه ته کینے نو زه به هم کینم) او اِمَّا تَرَیِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا (که ته دَ انسانانو نه څوك اووینے) او دَ (لَا) دَ نفی نه پس دَ واو عاطفه سره زائد استعمالیږی . لکه مَا جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَلَا عَمْرٌو (ماته زید راغلے دے او نه عمرو) په لَا اُقْسِمُ کښے لَا زائد دے او مِنْ ، ك ، ب ، ل ، زائد و بیلے شی . لیکن دا حروف جاره دي . دوی ته زائد ویل دا صحیح نه دي . ځکه که دوی زائد هم دي . لیکن دَ جر ورکولو عمل خو کوی مثال لکه لَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ . کاف زائد دے . بیائے هم لام ته جر ورکړے دے . مِنْ په کلام غیرموجب منفی کښے زائد وی . لکه مَا جَاءَنِیْ مِنْ اَحَدٍ . او باء دَ لَیْسَ او دَ مَا نافیه په خبر کښے او دَ هَلْ په ذریعه دَ استفهام په خبر کښے زائده وی . مثال لکه: لَیْسَ زَیْدٌ بِقَائِمٍ او مَا زَیْدٌ بِکَاتِبٍ او هَلْ زَیْدٌ بِقَائِمٍ .

۳- ضابطه :- دَ حروف شرط دي او هغه حروف دوه دي (اَمَّا او لَوْ) دي . اَمَّا راځي دَ پاره دَ تفصیل . او په جواب کښے فاء راځي . لکه آیت مذکوره کښے .

۴- ضابطه :- دَ لَوْ ده - لَوْ راځي دَ پاره دَ نفی ثانی په اعتبار دَ نفی اول سره . مثال لکه آیت شریف کښے لَوْ کَانَ فِیْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا .

۵- ضابطه :- دَ لَوْلَا ده . دَ دے استعمال صرف نفی دَ ثانی دَ پاره راځي . له وجه د وجود اول نه . مثال لکه لَوْلَا عَلِیٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ .

۶- ضابطه :- دَ لام مفتوحه ده - دا صرف دَ تاکید دَ پاره راځي .

٧- ضابطه :- دَ مَا دَه . چه پهٔ معنیٰ دَ مَا دَامَ سره راځي . مثال لکه اَقُوْمُ مَاجَلَسَ الْاَمِیْرُ . او مَا په فعل داخلیږي . او اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ او لام تاکید په اسم داخلیږي.

٨- ضابطه :- دَ حروف عاطفه ده . لیکن دَ دے ضابطه - امثال . مشق او ترکیب په سابق کنجه تیر شویدي په ص ٢٨ دَ نحومیر کښے . او دینه مخکښے هم تیر شویدي.

## دریم بحث ذکر دَ امثالو

اِضْرِبَنَّ وَاِضْرِبَنْ مَا اِنْ رَاَیْتُ اَحَدًا فَلَمَّا اَنْ جَاءَ الْبَشِیْرُ اِذَامَا تَخْرُجْ اَخْرُجْ مَتٰی تَذْهَبْ اَذْهَبْ اَیًّا مَاتَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَاءُ الْحُسْنٰی اَیْنَ تَجْلِسْ اَجْلِسْ اِمَّا تَرَیِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا مَاجَاءَنِیْ زَیْدٌ وَلَاعَمْرٌو مَاجَاءَنِیْ مِنْ اَحَدٍ لَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ لَیْسَ زَیْدٌ بِقَائِمٍ مَازَیْدٌ بِکَاتِبٍ هَلْ زَیْدٌ بِقَائِمٍ فَمِنْهُمْ شَقِیٌّ وَسَعِیْدٌ فَاَمَّا الَّذِیْنَ شَقُوْا فَفِی النَّارِ وَاَمَّا الَّذِیْنَ سُعِدُوْا فَفِی الْجَنَّةِ لَوْکَانَ فِیْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا لَوْلَا عَلِیٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ لَزَیْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو اَقُوْمُ مَاجَلَسَ الْاَمِیْرُ جَاءَ زَیْدٌ وَعَمْرٌو جَاءَ حَامِدٌ فَخَالِدٌ مَاتَ حَمِیْدٌ ثُمَّ حَامِدٌ قَدِمَ الْحُجَّاجُ حَتَّی الْمُشَاةُ (حاجیان راغلل تر دے چه پیاده هم راغلل) اَلْعَدَدُ اِمَّا زَوْجٌ اَوْفَرْدٌ جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَوْ عَمْرٌو اَزَیْدٌ عِنْدَكَ اَمْ عَمْرٌو جَاءَنِیْ زَیْدٌ لَاعَمْرٌو جَاءَنِیْ زَیْدٌ بَلْ عَمْرٌو مَاجَاءَنِیْ زَیْدٌ لٰکِنْ عَمْرٌو اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ ضَرَبَ زَیْدٌ وَعَمْرٌو . وَاَوْحَیْنَا اِلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَاِسْمٰعِیْلَ وَاِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ - الخ

## څلورم بحث ذکر دَ مشق

سوال :- اِضْرِبَنَّ او اِضْرِبَنْ کښے څه فرق دے ؟

جواب :- په یو کښے نون ثقیله او په بل کښے خفیفه دے .

سوال :- فرق څه لري ؟

جواب :- توجه او کړه ضوابطو ته .

سوال :- دا په څه داخلیږي ؟

**جواب :-** داپه فعل داخلیږی.

**سوال :-** په قولو افعالو باندے که په بعضو باندے ؟

**جواب :-** په بعضو باندے چه هغه فعل مضارع ده. بیا فعل مضارع کښے هغه معنی دَ استقبال پکښے موجود دی. بیا په ضمن دَ امر، نهی، ترجی، استفهام، تمنی، نداء قسم. عرض.

**سوال :-** مَا اِنْ رَأَيْتُ اَحَدًا، فَلَمَّا اَنْ جَاءَ الْبَشِيْرُ. اِذَا مَا تَخْرُجْ اَخْرُجْ کښے څه واقع دی ؟

**جواب :-** اول کښے مَا نافیه نه بعد اَنْ زائد راغلے دے په معنی دَ شرط سره دے ځکه دوا ړه جملے په سکون کړی دی. او ثانی مثال لَمَّا نه بعد اَنْ زائد راغلے دے. ثالث کښے مَا اِذَا سره پیوست شویدے دَ شرط په معنی راغلے دے. ځکه دواړه جملے ساکن کړی دی.

**سوال :-** مَتٰی تَذْهَبْ اَذْهَبْ، اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَاءُ الْحُسْنٰی، اَيْنَ تَجْلِسْ اَجْلِسْ کښے څه واقع شویدی ؟

**جواب :-** اصل دَدے شرط قوانین اوضوابط سابق کښے تیر شویدی. ځکه تکرار ته ضرورت نشته. ما بقیه قولو کښے دقت نظر سره توجه اوکړئ. په دغه امثالو کښے چه تاسو سوچ اوکړئ. یو یو سوال ځان باندے اوکړی او پخپله بیا دَ هغے جواب اوکړئ-

## پنځم بحث ذکر دَ ترکیب

اِضْرِبَنَّ او اِضْرِبَنْ - فعل امر ضمیر پکښے هغه ورته فاعل . فعل مع الفاعل جمله فعلیه امریه انشائیه ثقیله او خفیفه .

مَا اِنْ رَاَيْتُ اَحَدًا - مَا نافیه اِنْ زائد رَاَيْتُ فعل فاعل اَحَدًا ورته مفعول به فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه انشائیه نافیه -

فَلَمَّا اَنْ جَاءَ الْبَشِيْرُ - فا تعقیب لَمَّا تفصیل اَنْ حرف زائد جَاءَ فعل اَلْبَشِيْرُ معرفه مرفوع لفظًا فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه تفصیلیه -

اِذَا مَا تَخْرُجْ اَخْرُجْ - اِذَا حرف مَا زائد تَخْرُجْ فعل اَنْتَ فاعل . فعل مع الفاعل دا فعل شرط اَخْرُجْ ورته فعل انا فاعل . فعل مع الفاعل دا جمله جزاء دَ شرط - فعل شرط

مع جزاء نه جمله فعليه شرطيه .

ما بقيه په دے ورته قياس كړئ . څومره امثال چه ذكر شويدي صرف نحومير شريف كښې بعضے چه ذكر دي دَ هغې تركيب به اوكړم .

فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيْدٌ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ - فاء تفصيليه مِنْ حرف جار هُمْ ضمير مجرور محلاً . جار مع المجرور دا په اعتبار دَ متعلق سره خبر مقدم شو . شَقِيٌّ معطوفٌ عليه وَاوْ حرف عاطفه سَعِيْدٌ معطوف . معطوفٌ عليه مع المعطوف نه دا مبتداء مؤخر مبتداء مؤخر مع الخبر مقدم نه دا جمله اسميه خبريه . فاء تفصيليه اَمَّا حرف شرط براى تفسير اَلَّذِيْنَ موصول شَقُوْا صيغه دَ جمع فعل ماضى معلوم ضمير پكښې مستتر دے چه تعبير ئے كيږى په هُمْ سره هغه ورته فاعل شو . فعل مع الفاعل دا جمله فعليه صله شوه دَ پاره دَ موصول . موصول مع صله دا شرط . فاء جزائيه فِيْ جار النَّار مجرور . جار مع المجرور په اعتبار دَ متعلق سره دا شبه جمله خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه هم دے مقدر . مبتداء مع الخبر دا جمله اسميه خبر شو دَ پاره دَ شرط . شرط مع الجزاء دا جمله اسميه معطوفة عليه . وَاوْ حرف عاطفه . اَمَّا حرف شرط براى تفسير اَلَّذِيْنَ موصول سُعِدُوْا صيغه جمع فعل ماضى مجهول ضمير پكښې مستتر چه هُمْ دے هغه ئے نائب دَ فاعل . فعل مع نائب الفاعل دا جمله فعليه صله شوه دَ پاره دَ موصول . موصول مع صله دا شرط شو . فاء اول جزائيه فاء ثانيه جار الجنة مجرور . جار مع المجرور په اعتبار دَ متعلق سره دا شبه جمله خبر شو دَ پاره دَ مبتداء چه محذوف دے چه هُمْ ضمير دے . مبتداء مع الخبر دا جمله اسميه خبريه جزاء شوه دَ پاره دَ شرط . شرط مع الجزاء دا جمله اسميه معطوف . معطوفة[2] عليه مع المعطوف نه دا جمله اسميه معطوفة عليه .

لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا - لَوْ حرف شرط كَانَ فعل دے دَ افعال ناقصه نه اسم موفوع خبر منصوب غواړى فى جار هُمَا ضمير مجرور محلاً . جار مع المجرور په اعتبار دَ متعلق سره خبر مقدم شو اٰلِهَةٌ موصوف اِلَّا په معنىٰ دَ غَيْرُ او صفت ئے شو مع تقدير ے اى غير الله غير مضاف الله مضاف اليه . مضاف مع المضاف اليه دا صفت شو دَ پاره دَ موصوف . موصوف مع صفت دا اسم مؤخر شو دَ پاره دَ كَانَ . كَانَ مع الاسم مع الخبر دا جمله فعليه فعل شرط . لام تاكيد فَسَدَتَا صيغه دَ تثنيه مؤنثه غائبتين فعل ماضى معلوم ضمير دَ الف ورته

فاعل شو یا ضمًا دی ته فاعل شو. فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه جزاء دَ شرط شوه. فعل شرط مع جزاء دَ شرط دا جمله فعلیه شرطیه شوه.

لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ - لَوْلَا دا یو حرف دے دَ غیر عامله نه عَلِيٌّ مبتداء او خبر دی ته محذوف چه مَوْجُوْدٌ دے. مَوْجُوْدٌ صیغه دَ اسم مفعول ضمیر پکښے مستتر دے چه تعبیر ئے کیږی په هُوَ سره هغه دی ته نائب دَ فاعل شو. اسم مفعول مع الفاعل نه دا شبه جمله خبر شو دَ پاره دَ عَلِيٌّ. مبتداء مع الخبر نه دا جمله اسمیه خبریه.

لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو - لام تاکید زَيْدٌ مبتداء اَفْضَلُ صیغه دَ اسم تفضیل ضمیر پکښے مستتر دے چه هُوَ دے هغه دی ته فاعل شو. مِنْ جار عَمْرٍو مجرور. جار مع المجرور دا ظرف لغوه تعلق نیسی ترا فْضَلُ پورے. فعل اسم تفضیل مع الفاعل مع المتعلق دا شبه جمله خبر شو دَ پاره دَ مبتداء. مبتداء مع الخبر دا جمله اسمیه خبریه.

اَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ - اَقُوْمُ صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم ضمیر پکښے موجود دے چه اَنَا دے هغه ور ته فاعل شو. مَا په معنٰی دَ مَادَامَ سره دے جَلَسَ فعل ماضی معلوم اَلْاَمِيْرُ فاعل. فعل مع الفاعل دا مفعول به شو دَ پاره د اَقُوْمُ فعل. فعل مع الفاعل مع المفعول به شو دَ پاره دَ اَقُوْمُ. فعل مع الفاعل مع المفعول به چه مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ دا جمله فعلیه خبریه شوه.

مابقیه توجه اوکړی طویلا توته - یوم السَّبت - ۱۳۸۱/۱۱/۲۵ هـ ش ۱۴۲۳/۱۲/۱۳ هـ ق

حون بحث مستثنیٰ در کتاب نحو میر نبود برای فائده طلاب افزوده شد بدانکه مستثنیٰ لفظیست که مذکور باشد بعد الّا و اخوات آن یعنی غیر و سوی و سوآء وحاشا و خلا و عدا و ماخلا و ماعدا ولیس ولایکون تا ظاهر گردد که منسوب نیست بسوی مستثنیٰ آنچه نسبت کرده شده است بسوی ماقبل وی و آن بردو قسم است متصل و منقطع. متصل آنست که خارج کرده سود از متعدد بلفظ الّا و اخوات وے مثل جَاءَنِی الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا پس زید که در قوم داخل بود از حکم مجئ خارج کرده شد. و منقطع آن باشد

که مذکور بود بعد الّا و اخوات وے وخارج کرده نشود از متعدد بسبب آنکه مستثنیٰ داخل نباشد در مستثنیٰ منهٗ مثل جاءَنی القَومُ اِلّا حمارًا . که حمار درقوم داخل نبود -

**ترجمه** :- هرکله چه په نحو میر کښې دَ مستثناء بحث تیر شو - نو دَ طالبانو دَ فائدے دَپاره داسے یاد کړے شی .

پوه شه اے طالبه ! چه مستثنیٰ هغه لفظ دے چه ذکر وی دَ اِلّا نه بعد یا دَ هغې اخواتو نه بعد مثال لکه غیر او سویٰ - او حَاشَا او خَلَا او عَدَا - او ما خَلَا او مَاعَدَا - او لَیْسَ . او لا یکون . یا دوی نه بعد ظاهر شی چه مستثنیٰ ته هغه شے نه دے منسوب هغه چه نسبت نے کړے شوے ماقبل مستثنیٰ ته . او د مستثنیٰ په دوه قسمه سره ده یو مستثنیٰ متصل او بل منقطع - مستثنیٰ متصله هغه ده چه خارج کړے شوے وی دَ متعدد نه په لفظ دَ اِلّا سره او دَ اخواتو دَ اِلّا سره . مثال لکه جاءَنِی القَومُ اِلّا زَیدًا : پس زید په قوم کښې داخل وو . لیکن دَ اِلّا په ذریعه سره دَ مجیئت دَ قوم نه خارج کړے شو . مستثنیٰ منقطع هغه ده چه مذکور وی بعد دَ اِلّا نه یا اخواتو دَ دینه خارج و نه کړے شی دَ متعدد نه دَ دے وجه نه چه مستثنیٰ داخل نه وی په مستثنیٰ منهٗ کښې مثل جَاءَنِی القَومُ اِلّا حِمَارًا . چه حمار په قوم کښې داخل نه دے

## تشریحات

د دله لا بدی ده دَ معرفت دَ امور ځلورو نه (۱) تحقیقات (۲) ذکر دَ ضوابطو (۳) ذکر دَ امثالو (۴) ذکر دَ مشق (۵) ذکر دَ بحث د ترکیب

**اول بحث دَ تحقیقاتو** :- هرکله چه مصنف " فارغ شو دَ نحو میر شریف دَ ختم نه . لیکن دَ طالبانو دَ فائدے دَپاره دا مستثنیٰ بحث زیات اوکړے شو .

مستثنیٰ صیغه دَ اسم مفعول ده دَ باب استفعال نه . په لغت کښې ایستلے شوے ته وائی او په اصطلاح کښې هغه دے چه صاحب دَ نحو میر ذکر کړے دے .

مستثنیٰ په دوه قسمه سره ده . یو منصله او بل منقطعه . وجه دَ حصر یکښې داده

چه د مستثنیٰ به خالي نه وي یا به داخله وي محکښې د استثناء نه په حکم د ما قبل کښې مفهوماً. یا به داخله نه وي. که اول ؤو متصله او که ثاني وو نو منقطع شوه -

## اختلاف په مستثنیٰ متصله او منقطعه کښې

دیکښې اختلاف دے په ما بین د عامو علماؤ او د محققینو کښې. عام علماء وائي چه مستثنیٰ متصله هغه ده چه د مستثنیٰ منه د جنس نه وي. مثال لکه جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا - زید نو جنس د قوم نه دے. او منقطع هغه مستثنیٰ ده چه د مستثنیٰ منهٗ د جنس نه نه وي. مثال لکه جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا -

دویم مذهب د محققینو او هغه دا دے چه مستثنیٰ متصله هغه ده چه داخله وي په حکم د مستثنیٰ منهٗ کښې مخکښې د استثناء نه مفهوماً او خارجه کړے شوے وي په واسطه د اِلَّا سره. او د هغې د اخواتو سره. او منقطعه مستثنیٰ هغه ده چه داخل نه وي په حکم د مستثنیٰ منهٗ کښې مخکښې د استثناء نه او خارجه کړے شوے نه وي د حکم د مستثنیٰ منهٗ نه په واسطه د اِلَّا او د هغې د اخواتو سره. او مختار مذهب عند المصنفؒ مذهب د محققینو دے. نو ځکه مصنفؒ تعریف خپل بنا کړو په مذهب د محققینو باندې

**سوال** :- جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا. جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا. اول مثال ته اتفاقاً متصل وائي او ثاني ته اتفاقاً منقطع وائي. بیا فرق څه شو په ما بین د مذهبینو کښې؟

**جواب** :- عام علماء جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا ته مستثنیٰ متصله ځکه وائي چه هغوی وائي مستثنیٰ دلته د جنس د مستثنیٰ منهٗ نه دے او محققین دے ته متصل مستثنیٰ ځکه وائي چه هغوی مستثنیٰ داخله کړی په حکم د مستثنیٰ منهٗ کښې مخکښې د استثناء نه. او جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا کښې په نزد د عامو علماؤ مستثنیٰ منقطعه ده. ځکه چه حمار د مستثنیٰ منهٗ د جنس نه نه دے. او عند المحققین ځکه منقطعه ده چه مستثنیٰ داخل نه ده په حکم د مستثنیٰ منهٗ کښې مخکښې د استثناء نه -

دویم تقسیم د باطني دے. اول خو ظاهري ؤو چه زَيْدًا د قوم د جنس نه دے او حِمَارٌ د قوم د جنس نه نه دے. که قوم نه مراد خاص قوم شي نو زید د هغې د جنس نه نه دے د بل قوم د جنس نه وي. بیا خو منقطع شو عند المحققین. او په حمار کښې بوا ځي قوم وانه خلے

بلکه قوم داخلے مَعَ لواحقات نو بیا دا مستثنیٰ متصله شو عند المحققین -

سوال :- اول صورت کښے منقطع ولے دہ او ثانی صورت کښے متصل ولے دہ؟

جواب :- اول صورت کښے خو منقطع ځکه دہ چه مستثنیٰ دَ مستثنیٰ منه دَ جنس نه نه دہ . او ثانی کښے مستثنیٰ په مستثنیٰ منه کښے داخل دہ -

الفائدة جمیلة :- دا تقسیم دَ مستثنیٰ متصل او منقطع ته په اعتبار دَ دخول دَ مستثنیٰ سره دے په حکم دَ مستثنیٰ منهٔ کښے مخکښے دَ استثناء نه او په اعتبار دَ عدم دخول سره او په اعتبار دَ حذف دَ مستثنیٰ منه او ذکر دَ مستثنیٰ منهٔ سره دے .

مستثنیٰ بیا هم په دوه قسمه سره دہ . یو مفرغه او بل غیر مفرغه . مفرغه هغه دہ چه مستثنیٰ منهٔ محذوف وی . او غیر مفرغه هغه دہ چه مستثنیٰ منهٔ ذکر وی مفرغ ته او مفرغ ته ځکه مفرغ وائی چه دا په اصل کښے مفرغ لهٔ وُو . لهٔ قرینه حذف شوے لہ وجه دَ اختصار نه . او معنیٰ دَ مفرغ لهٔ دا دے . هغه شی چه فارغ والے کړے شوے دَ پاره دَ هغه . او دلته هم مستثنیٰ منهٔ محذوف دہ . نو عامل فارغ کړے شوے دے دَ پاره دَ عمل کولو په دے مستثنیٰ کښے . او غیر مفرغ ته غیر مفرغ ځکه وائی چه په دے کښے مستثنیٰ منه مذکور دہ . نو عامل نه دے فارغ کړے شوے دَ پاره دَ مستثنیٰ -

خلاصه دَ سبق دَ مستثنیٰ ما بقیه مباحث لکه ضوابط . امثال . مشق او ترکیب وروسته به ذکر کوو اِنْشَاءَ اللّٰهُ الْعَزِیْز -

> بدانکه اعراب مستثنیٰ بر چهار قسم است اول آنکه اگر مستثنیٰ بعد اِلَّا درکلام موجب واقع شود پس مستثنیٰ همیشه منصوب باشد نحو جَاءَنِی الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا وکلام موجب آنکه در آں نفی و نہی واستفہام نباشد . وہمچنیں درکلام غیر موجب اگر مستثنیٰ را بر مستثنیٰ منه مقدم گردانند منصوب خوانند نحو مَا جَاءَنِیْ اِلَّا زَیْدًا اَحَدٌ .
> ومستثنیٰ منقطع همیشه منصوب باشد واگر مستثنیٰ بعد خلا واقع شود بر مذهب اکثر علماء منصوب باشد وبعد مَا خَلَا ومَا عَدَا ولَیْسَ ولَا یَكُوْنُ همیشه منصوب باشد نحو جَاءَنِی الْقَوْمُ خَلَا زَیْدًا

وَعَدَا زَيْدًا الخ
دوم آنکه مستثنیٰ بعد اِلّا درکلام غیر موجب واقع شود و مستثنیٰ منہ
ہم مذکور باشد پس دراں دو وجہ رواست یکی آنکہ منصوب باشد
بر سبیل استثنار دیگر آنکہ بدل باشد از ماقبل خویش
چوں مَاجَاءَنِیْ اَحَدٌ اِلَّا زَیْدًا وَاِلَّا زَیْدٌ۔
سوم آنکہ مستثنیٰ مفرغ باشد یعنی مستثنیٰ منہ مذکور نباشد
و در کلام غیر موجب واقع شود. پس اعراب مستثنیٰ بہ اِلّا
دریں صورت بحسب عوامل مختلف باشد نحو مَاجَاءَنِیْ اِلَّا زَیْدٌ
وَمَارَاَیْتُ اِلَّا زَیْدًا وَمَامَرَرْتُ اِلَّا بِزَیْدٍ۔
چہارم آنکہ مستثنیٰ بعد لفظ غَیْر وسِوٰی وسَوَاء واقع شود
پس مستثنیٰ را مجرور خوانند وبعد حاشا برمذہب اکثر نیز مجرور
باشد وبعضے نصب ہم جائز داشتہ اند چوں جَاءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ
زَیْدٍ وَسِوٰی زَیْدٍ وَسَوَاءَ زَیْدٍ وَحَاشَا زَیْدٍ۔
وبدانکہ اعراب لفظ غَیْرٌ مثل اعراب مستثنیٰ بہ اِلّا باشد درجمیع
صورتہای مذکورہ چنانکہ گوئی جَاءَنِی الْقَوْمُ غیرَ زَیْدٍ وَغیرَ حِمَارٍ
وَمَاجَاءَنِیْ غَیْرَ زَیْدٍ نِ الْقَوْمُ وَمَاجَاءَنِیْ اَحَدٌ غیرُ زَیْدٍ
وَغَیْرُ زَیْدٍ وَمَاجَاءَنِیْ غَیْرُ زَیْدٍ وَمَارَاَیْتُ غَیْرَ زَیْدٍ
وَمَامَرَرْتُ بِغَیْرِ زَیْدٍ۔
وبدانکہ لفظ غیر موضوع است برای صفت وگاہ برای استثنار آید
چنانکہ اِلّا برائی استثنار موضوع است وگاہ درصفت مستعمل
شود نحو قولہ تعالیٰ لَوْكَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا یعنی
غَیْرُ اللّٰهِ وہمچنیں لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔

ترجمه :- پوه شه اے طالبه! اعراب دَ مستثنیٰ په څلور قسمه دی. اول داچه
که مستثنیٰ دَ اِلّا نه پس په کلام موجب کښے واقع شی نو مستثنیٰ به همیشه منصوب

وی. مثال لکه جَآءَنِی الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا - او کلام موجب هغه دے چه په هغے کښ نفی. نهی. استفهام نه وی. او دغه رنګه په کلام غیر موجب کښے هم که مستثنیٰ په مستثنیٰ منهٗ باندے مقدم ذکر شی نو دا به منصوب لوستل کیږی. مثال مَاجَآءَنِی اِلَّا زَیْدًا اَحَدٌ. او مستثنیٰ منقطع همیشه دپاره منصوب وی. او که چرے مستثنیٰ د خَلَا نه پس واقع شی. نو د اکثرو علماؤ په مذهب باندے دا به منصوب وی. او د روسته د مَاخَلَا او مَاعَدَا او لَیْسَ او لَایَکُوْنُ واقع شی نو همیشه دپاره به منصوب وی مثال لکه جَآءَنِی الْقَوْمُ خَلَا زَیْدًا. او عَدَا زَیْدًا اِلٰی آخره پورے.

دویم قسم دادے چه مستثنیٰ کله چه د اِلَّا نه بعد په کلام غیر موجب کښے واقع شی او مستثنیٰ منهٗ هم مذکور وی بیا په دے کښے دوه وجے جائز دی. یو دا چه منصوب وی د استثناء په وجه سره. دویم دادے چه مستثنیٰ بدل وی د ماقبل نه. مثال لکه مَاجَآءَنِی اَحَدٌ اِلَّا زَیْدًا او اِلَّا زَیْدٌ نو اول منصوب بنابر استثناء دویم مرفوع بنابر بدلیت.

دریم قسم دادے چه مستثنیٰ مفرغ وی. یعنی مستثنیٰ منه مذکور نه وی. او په کلام غیر موجب کښے واقع شی نو د مستثنیٰ به اعراب د اِلَّا په ذریعه سره په دے صورت کښے د عاملو په حسب سره وی. مثال لکه مَاجَآءَنِی اِلَّا زَیْدٌ وَمَارَأَیْتُ اِلَّا زَیْدًا او مَامَرَرْتُ اِلَّا بِزَیْدٍ.

څلورم قسم دادے چه مستثنیٰ پس د لفظ د غَیْرُ او سِوٰی او سَوَآءَ واقع شی. نو مستثنیٰ به بیا مجرور لوستل کیږی. او روسته د حَاشَا نه په مذهب د اکثرو علماؤ باندے هم مجرور وی. او بعضے علماء ورته نصب هم جائز وائی. مثال لکه جَآءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ او سِوٰی زَیْدٍ او سَوَآءَ زَیْدٍ او حَاشَا زَیْدٍ.

پوه شه ای طالبه! چه اعراب د لفظ غیر په شان د اعراب د مستثنیٰ چه په اِلَّا سره وی په تولو صورتونو کښے چه مذکور دی. مثال لکه چه ته وائی جَآءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ او غَیْرَ حِمَارٍ او مَاجَآءَنِی غَیْرُ زَیْدٍ نِ الْقَوْمُ او مَاجَآءَنِی اَحَدٌ غَیْرُ زَیْدٍ اَوْ غَیْرَ زَیْدٍ او مَارَأَیْتُ غَیْرَ زَیْدٍ او مَارَأَیْتُ بِغَیْرِ زَیْدٍ.

پوه شه اے طالبه! چه لفظ د غیر موضوع دے د پاره د صفت. کله د پاره د استثناء

۲- اځې لکه اِلَّا چه راځي دَپاره دَ استثناء. او کله دَ صفت په معنیٰ مستعمل کیږي مثال لکه د اقول دَ الله تعالیٰ شوچه لَوْكَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا یعنی غَیْرُالله او حل غه رنګه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ هم دے ( فتفکر ولا تکسل )

## تشریحات

د لته لا بدی ده دَ معرفت دَ امور اربعه ؤنه (۱) ضوابط (۲) امثال (۳) مشق (۴) ترکیب -

## اوّل بحث دَ ضوابطو

جو نکه دَ امثالو او دَ متن نه هم دَ دے ضابطه معلومیږی. لیکن بیا وضاحت کول ضروری دی. او تحقیقات خو اوّل تقسیم کښے تیر شویدی. دوباره اعاده کولو ته ئے حاجت نشته. دلته صِرف دَ تقسیم په اعتبار دَ اعرابو سره ذکر کیږی. دَ دے په وجه سره دَ دے تقسیم هم کیږی چه په څلور قسم کښے ئے دا تقسیم کړ -

۱- ضابطه ۱- دَ مستثنیٰ اعراب څلور دی (۱) نصب (۲) نصب او بدل (۳) په حسب دَ عوامل سره (۴) جَرُ -

۲- ضابطه :- مستثنیٰ په پنځو ځایونو کښے منصوب وی (۱) چه مستثنیٰ متصله وی دَ اِلَّا نه بعد وی او په کلام موجب کښے وی (۲) چه مستثنیٰ منقطع وی (۳) چه مستثنیٰ وی پس دَ اِلَّا نه وی او په کلام غیر موجب کښے وی. او چه مستثنیٰ هم مقدم وی. مثال لکه مَاجَاءَ نِيْ اِلَّا زَيْدًا اَحَدٌ (۴) چه مستثنیٰ وی دَ خَلَا او عَدَا نه بعد واقع دی په نِزد دَ اکثرو علماؤ دا به منصوب وی. مثال مَاجَاءَ نِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا (۵) چه مستثنیٰ دَ مَاخَلَا - مَاعَدَا - لَيْسَ او لَا يَكُوْنُ نه بعد واقع وی. مثال جَاءَ نِي الْقَوْمُ مَاخَلَا زَيْدًا -

۳- ضابطه :- دَ نصب او دَ بدل چه مستثنیٰ دَ اِلَّا نه بعد وی په کلام غیر موجب کښه او مستثنیٰ منه مذکور وی. نو بیا دواړه وجے پکښے جائز دی. نصب لوستل هم جائز او بدل جوړول هم جائز. مثال لکه مَاجَاءَ نِي اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا او اِلَّا زَيْدٌ

**۴- ضابطه:-** په حسب دَ خوا مادرسے وی چه مستثنیٰ دَ اِلّا نه بعد وی . کلام غیر موجب کښے وی . او مستثنیٰ منه محذوف وی . نو اعراب دَ مستثنیٰ به بحسب العوامل سره وی . یعنی تشریح دا ده چه که عامل رافع وی نو مرفوع به وی . که عامل ناصب وو نو منصوب به وی . او کچرے عامل مجرور وُو نو مجرور به وی . مثال لکه مَاجَاءَنِیْ اِلَّا زَیْدٌ - وَمَا رَاَیْتُ اِلَّا زَیْدًا ، وَمَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَیْدٍ -

**۵- ضابطه:-** دَ اِلّا نه بعد چه کله جار مجرور راشی نو هغه اکثر مستثنیٰ مفرغه وی -

**۶- ضابطه:-** دَ جَرُّ ده . چه مستثنیٰ دَ غَیْرُ او سِوٰی او سَوَاءَ نه بعد وی نو مستثنیٰ به مجروره وی . چه مستثنیٰ دَ حَاشَا نه بعد واقع وی . نو په نِزد دَ اکثرو علماؤ باندے به مستثنیٰ مجرور وی . او په نِزد دَ بعضو باندے به منصوب وی . لکه جَاءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ او سِوٰی زَیْدٍ او حَاشَا زَیْدٍ .

**۷- ضابطه:-** دَ غَیْرُ اعراب ده . چه کوم اعراب دَ مستثنیٰ په اِلّا سره وے . هم هغه اعراب به دَ لفظ دَ غَیْرُ هم وی . اصل مقصد دا شو چه په کومو صورتونو کښے چه مستثنیٰ منصوبه وی . کچرے په دغه صورتونو کښے په ځائے دَ اِلّا باندے لفظ دَ غیر راشی نو هغه به هم منصوب وی . مثال لکه جَاءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ او په کوم صورت کښے چه په مستثنیٰ باندے نصب او بدل دواړه جائز وی په دغه صورت کښے چرته په ځائے دَ اِلّا باندے غیر لفظ راشی نو په هغے باندے به هم نصب او بدل دواړه راځی . مثال لکه مَاجَاءَنِیْ اَحَدٌ غَیْرُ زَیْدٍ او غَیْرَ زَیْدٍ . او په کومو صورتونو کښے چه مستثنیٰ معرب علیٰ حسب العوامل وی . که چرے په دغه صورتونو کښے په ځائے دَ اِلّا باندے لفظ دَ غیر راشی نو دَ هغے اعراب به هم علیٰ حسب العوامل وی . عامل رافع کښے رفع . عامل ناصب کښے نصب . عامل جاره کښے جَرّ . مثال لکه مَاجَاءَنِیْ غَیْرُ زَیْدٍ وَمَا رَاَیْتُ غَیْرَ زَیْدٍ . وَمَامَرَرْتُ بِغَیْرِ زَیْدٍ -

**۸- ضابطه:-** لفظ دَ غیر دَ صفت دَ پاره وضع شوے دے او کله کله دَ استثناء دَ پاره هم استعمالیږی . مثال لکه جَاءَنِی الْقَوْمُ غَیْرُ اَصْحَابِكَ دغه شان وضع دَ اِلّا استثناء دَ پاره ده ، لیکن کله کله صفت دَ پاره هم استعمالیږی . دغه وخت دا اِلّا بیا په معنیٰ دَ غیر شی . مثال لکه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ الرَّسُوْلُ اللّٰهِ کښې . د لته کښې دا اِلّا صفت

ذ پارہ دے پہ معنیٰ دَ غَیرُ سرہ دے ۔
تاسو ندخُما وینرنیات خواهش دادے چه امثالو کنبے نریا ته توجه اوکرئی۔

## دویم بحث ذکر دَ امثالو

جَاءَ فِی الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا جَاءَ فِی الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا جَاءَ فِی الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا مَاجَاءَ فِی اِلَّا زَیْدًا اَحَدٌ جَاءَ فِی الْقَوْمُ خَلَا زَیْدًا اَوعَدَا زَیْدًا مَاجَاءَ فِی اَحَدٌ اِلَّا زَیْدًا اَواِلَّا زَیْدٌ مَاجَاءَ فِی اِلَّا زَیْدٌ مَارَأَیْتُ اِلَّا زَیْدًا مَامَرَرْتُ اِلَّا بِزَیْدٍ جَاءَ فِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ اوسویٰ زَیْدٍ اوسَوَاءَ زَیْدٍ اَوْ حَاشَا زَیْدٍ جَاءَ فِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ اوغَیْرَحِمَارٍ مَاجَاءَ فِی غَیْرَ زَیْدٍ مِنَ الْقَوْمِ مَاجَاءَ فِی اَحَدٌ غَیْرَ زَیْدٍ مَاجَاءَ فِی اَحَدٌ غَیْرُ زَیْدٍ مَاجَاءَ فِی غَیْرُ زَیْدٍ مَارَأَیْتُ غَیْرَ زَیْدٍ مَامَرَرْتُ بِغَیْرِ زَیْدٍ لَوْکَانَ فِیْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا اِیْ غَیْرُ اللّٰهِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مَاجَاءَ فِی اِلَّا زَیْدًا اَحَدٌ جَاءَ فِی الْقَوْمُ خَلَا زَیْدًا جَاءَ فِی الْقَوْمُ مَاخَلَا زَیْدًا فَاَنْجَیْنَاهُ وَاَهْلَهُ اِلَّا امْرَأَتَهُ مَاکَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ اِلَّا اَنْ قَالُوْا اَخْرِجُوْا اٰلَ لُوْطٍ فَاِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّیْ اِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ ۔

## دریم بحث ذکر دَ مشق

سوال :- جَاءَ فِی الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا ، جَاءَ فِی الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا ، جَاءَ فِی الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا ۔ دا څه واقع شویدی ۔ متصله دی ۔ که مستثنیٰ منقطع دی ؟

جواب :- اول مثال د مستثنیٰ متصله دے ۔ ثانی مثال دَ مستثنیٰ منقطع دے ۔

سوال :- په مستثنیٰ متصله او منقطعه کنبے څه فرق دے ؟

جواب :- که مستثنیٰ دَ مستثنیٰ منهٔ دَ جنس نه وی متصله شو ۔ او که مستثنیٰ دَ مستثنیٰ منهٔ دَ جنس نه نه وی نو منقطع شو ۔ نو زید دَ قوم دَ جنس نه دے متصله شو ۔ حمار دَ قوم دَ جنس نه نه دے منقطع شو ۔ دغه رنګه اِلَّا اِبْلِیْسَ کنبے ابلیس دَ ملایکو دَ جنس نه نه دے منقطع شو ۔ دَ قرآن پاک په تفاسیرو کنبے نظر اوکرئی

سوال :- مَاجَاءَ فِی اِلَّا زَیْدًا اَحَدٌ ، جَاءَ فِی الْقَوْمُ خَلَا زَیْدًا یاعَدَا زَیْدًا ۔ دیکښے

څه فرق دے ؟

جواب :- دیکښے به منصوب وی

سوال :- دَ منصوب وجه څه ده ؟

جواب :- په دویمه ضابطه کښے تیر شو چه دَ نصب دَ مستثنیٰ دَپاره پنځه وجے دی هغه پنځمه وجه یکښے دَخَلَا ده چه دا به منصوب وی په نیز دَ اکثرو علماؤ لکه مذکورسوال کښے چه جَاءَ فِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا - ماته قوم راغلل بے دَ زید نه - دلته په خَلَا کښے او په عَدَا کښے هم یوضمیر دے پټ چه هغه دَ دوی فاعل وی او زَیْدًا ورته مفعول دے څکه زَيْدًا منصوب دے - فعل سره دَ فاعل او سره دَ مفعول بہ دا بیا دَ مستثنیٰ منه حال شو او بعضے علماء ورته مجرور دائی - څکه چه هغوی خَلَا دَ حروف جاره نه شمارکوی - نو حرف جاره خو جر ورکوی نو دوی هم جر ورکوی - او که مَاخَلَا او مَاعَدَا او لَيْسَ اولَايَكُوْنُ نه بعد مستثنیٰ واقع شی بیاخو به خامخا منصوب وی - لکه امثالوکښے به مذکوروی توجیه یکښے اوکړئ -

سوال :- اومَاجَاءَنِيْ اِلَّا زَيْدًا اَحَدٌ - ماته دَ زید نه علاوه هیڅوک نه دی راغلی دلته څه واقع دی ؟

جواب :- دلته منصوب واقع دے - څکه چه کلام غیر موجب دے - څکه چه منفی دے مگر مستثنیٰ دَ اِلَّا نه بعد او مستثنیٰ منه مقدم ده - څکه منصوب دے -

سوال :- مَاجَاءَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا ، مَاجَاءَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدٌ ، مَارَاَيْتُ اِلَّا زَيْدًا ، مَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ - دغه دوه وارو کښے څه فرق دے ؟

جواب :- دغه مذکورو دریے داړو کښے فرق ظاهر دے - کلام غیر موجب دے هر کله چه کلام غیر موجب وی او مستثنیٰ منه هم مذکور وی - نو هغه کښے ضابطه داده چه دوه وجه جائز دی بنابر استثناء - بنابر بدلیت - که دَ استثناء لحاظ وشی بیا به منصوب وی او که دَ بدلیت لحاظ وشی بیا به مرفوع وی - اول کښے بنا بر استثناء ده - ثانی کښے بنابر بدلیت ده - او ثالث او رابع کښے بنا بر حسب عوامل سره اعراب ورکول کیږی -

سوال :- جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ ، او سِوٰى زَيْدٍ - جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ حِمَارٍ دلته څه واقع دی ؟

جواب :- دا خلوړمه ضابطه ده چه بعد دَ لفظ دَ غیر نه مستثنیٰ واقع شی نو جر به وی همیشه. لکه مذکوره مثالو کښې عند اکثر العلماء وعند البعض یجوز جرّهٗ ونصبه لیکن اصل خبره داده چه اعراب دَ غیر دا په شان دَ اعراب دَ اِلَّا دے په جمیع احوالو کښے. لکه مذکوره امثالو کښے نظر اوکړئ. یا ما بقیه امثالو کښے نظر اوکړی. مثال په طور سره جَاءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ او غَیْرَ حِمَارٍ دا مثال دَ کلام موجب وُو. او مثال دَ کلام غیر موجب داده ے مَا جَاءَنِی غَیْرَ زَیْدٍ نِ الْقَوْمُ یا مَاجَاءَنِیْ اَحَدٌ غَیْرَ زَیْدٍ مَاجَاءَنِیْ اَحَدٌ غَیْرُ زَیْدٍ الخ څرنګه چه هغه منصوب راتله دے به هم منصوب راتله څرنګه چه هغه مرفوع راتله دے به هم مرفوع راتله. څرنګه چه هغه مجرور راتله دے به هم مجرور راتله. لکه امثال مذکوره کښے نظر اوکړئ

سوال :- لَوْ کَانَ فِیْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا دلته دغه استثناء څه واقع شوی؟ ؟

جواب - دا استثناء دَ صفتی دَپاره دے. استثناء صفتی بیا په معنیٰ دَ غَیْرٌ سره وی دلته معنی دا شوه لَوْکَانَ فِیْهِمَا اٰلِهَةٌ غَیْرُ اللّٰهِ لَفَسَدَتَا. نو دغه غَیْرٌ اصلی استعمال په صفتی کښے دے. لیکن قلیل وخت دَپاره په استثناء کښے هم مستعمل کیږی. او اِلَّا اصلی استعمال دَ دے په استثناء کښے دے. لیکن قلیل وخت دَپاره په صفتی کښے هم مستعمل شی. لکه دلته اوس په صفتی کښے مستعمل شو.

سوال :- بیا ضابطه څه ده په اِلَّا صفتی کښے ؟

جواب :- کله دا اِلَّا صفتی راشی نو اعراب دَ ما بعد به په موافق دَ اعراب دَ موصوف سره وی. نو که موصوف مرفوع وی. دے به هم مرفوع وی. او که موصوف منصوب وی دے به هم منصوب وی. که موصوف مجرور وی دے به هم مجرور وی. او س مثال مذکور کښے چه لَوْکَانَ فِیْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ دے. نو اٰلِهَةٌ دلته موصوف دے دا مرفوع دے نو دَ اِلَّا صفتی نه بعد چه کوم مستثنیٰ راځی هغه به هم مرفوع وی. دلته خو لفظ دَ الله راغے دا هم مرفوع شو. نو اِلَّا اللّٰهُ ویل کیږی. اِلَّا اللّٰهَ منصوب نه ویل کیږی.

سوال :- اٰلِهَةٌ ولے مرفوع دے ؟

جواب :- اٰلِهَةٌ خو ځکه مرفوع دے چه اسم دَ کَانَ واقع شوی دے مُؤَخَّرًا. نو

دا سے به و ٻیل کیږی لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ غَيْرُ اللهِ لَفَسَدَتَا نوځکه موافق دَ موصوف سره اعراب مالغے .

سوال :- دا سے امثال به در ته د بنایم چه اِلّا صفتی موافق دَ موصوف سره وی په کلام دَ عربو کښې ؟

جواب :- نعم لکه مَا أَيْتُ قَوْمًا اِلَّا زَيْدًا دا مثال دَ منصوب شو. مَرَرْتُ بِقَوْمٍ اِلَّا زَيْدٍ دلته اِلّا صفتی دے. نوځکه زَيْدًا منصوب شوچه هلته قَوْمًا موصوف منصوب دے. زَيْدٍ دلته ځکه مجرور دے چه هلته بِقَوْمٍ مجرور دے .

سوال :- قَوْمًا ولے منصوب دے او قَوْمٍ ثانی کښې ولے مجرور دے ؟

جواب :- اول کښې خو ځکه منصوب دے ځکه چه فعل فاعل ور باندے داخل شو نو تقاضی دَ مفعولیت کوی. او ثانی کښې ځکه مجرور شوچه باء حرف جرّ ور باندے داخل شو. فتفکر ولا تکسل. ما بقیه ور قیاس کړئ .

## څلورم بحث ذکر دَ ترکیب

جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا ۔ جَاءَ فعل ماضی معلوم نون وقایه یاء متکلم مفعول به اَلْقَوْمُ مستثنیٰ منه اِلَّا حرف استثناء زَيْدًا منصوب لفظاً مستثنیٰ متصله . مستثنیٰ منهٗ مع المستثنیٰ متصل نه دا فاعل شو دَپاره دَجَاءَ فعل . فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه استثنائیه متصله شوه .

جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا ۔ جاء فعل ماضی معلوم نون وقایه یاء متکلم مفعول به اَلْقَوْمُ مستثنیٰ منه اِلّا حرف استثناء حِمَارًا مستثنیٰ منقطع . مستثنیٰ مع المستثنیٰ منه دا فاعل شو دَپاره دَجَاءَ فعل. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه استثنائیه منقطعه شو

مَا جَاءَنِي اِلَّا زَيْدًا اَحَدٌ ۔ مَا نافیه جَاءَ فعل ماضی معلوم نون وقایه یاء متکلم مفعول به اِلّا حرف استثناء زَيْدًا مستثنیٰ متصله مقدم اَحَدٌ مستثنیٰ منه مؤخر . مستثنیٰ منه مؤخر مع مستثنیٰ مقدم دا فاعل شو دَپاره دَجَاءَ فعل . فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه په کلام غیر موجب کښې ۔

جاءنی القوم خلا زیدا و عدا زیدا ۔ جاء فعل ماضی معلوم نون وقایه یاء متکلم مفعول به

اَلْقَوْمَ ذو الحال خَلَا صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دَ باب نَصَرَ یَنْصُرُ اوخَلَا یَخْلُوْ نه دے. ضمیر پکښې مستتر دے چه تعبیرئے کیږی په هُوَ سره هغه ورته فاعل شو. او زَیْدًا ورته مفعول به شو. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه حال شو دَپاره دَ ذو الحال. حال سره دَ ذوا لحال نه دا فاعل شو دَپاره دَجاء فعل فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه. او ما بقیه دَ وَعَدَا زَیْدًا دربانده قیاس کړئ په دا سطه دَحرف عطف سره.

مَاجَاءَ نِیْ اِلَّا زَیْدٌ - مَا نافیه جَاءَ فعل ماضی معلوم نون وقایه یاء متکلم مفعول به، اِلّا حرف استثناء زَیْدًا مستثنیٰ شو دَپاره دَمستثنیٰ منه مقدر دَپاره چه اَحَدٌ دے. اَحَدٌ مستثنیٰ منهٗ مع المستثنیٰ دا فاعل شو دَپاره دَجَاءَ فعل. فعل مع الفاعل او مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه.

مَا رَاَیْتُ اِلَّا زَیْدًا - مَا نافیه رَاَیْتُ فعل فاعل اِلَّا حرف استثناء زَیْدًا ورته مستثنیٰ شو دَپاره دَ مستثنیٰ منهُ مقدر چه هغه اَحَدًا دے. اَحَدًا مستثنیٰ منهُ مع المستثنیٰ دا مفعول شو دَپاره دَ رَاَیْتُ فعل فاعل. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه.

مَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَیْدٍ - مَا نافیه مَرَرْتُ فعل فاعل اِلَّا حرف استثناء با حرف جار زَیْدٍ مجرور. جار مع المجرور دا ظرف مستقر تعلق نیسی تر ثَابِتٌ مقدره پورے. ثَابِتٌ صیغه دَ اسم فاعل هُوَ ورته فاعل. اسم فاعل مع الفاعل مع المتعلق دا مستثنیٰ شو دَپاره دَ مستثنیٰ منهٗ مقدر چه بِاَحَدٍ دے. بِاَحَدٍ جار مجرور دا ظرف لغوه تعلق نیسی تر مَرَرْتُ فعل پورے فعل مع الفاعل مع المتعلق دا جمله فعلیه خبریه شوه.

جَاءَ نِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ - جَاءَ فعل ماضی معلوم نون وقایه یاء متکلم مفعول به اَلْقَوْمُ مستثنیٰ منهٗ غیر مضاف زَیْدٍ مضاف الیه. مضاف مع المضاف الیه دا مستثنیٰ شوه مستثنیٰ منهٗ مع المستثنیٰ دا فاعل شو دَپاره دَجَاءَ فعل. فعل مع الفاعل مع المفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه.

جَاءَنِی الْقَوْمُ سِوٰی زَیْدٍ اِلیٰ جَاءَنِی الْقَوْمُ حَاشَا زَیْدٍ پورے دَدے ترکیب په شان دَجَاءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ غوندے دے.

لَوْ کَانَ فِیْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا - لَوْ حرف شرط. کَانَ دا یو فعل دے دَ افعال ناقصه

اسم مرفوع خبر منصوب غواړی . فِیْ جار هُمَا ضمیر مجرور محلاً . جار مع المجرور مع المتعلق دا خبر مقدم شو دَپاره دَ کَانَ اٰلِهَةٌ موصوف اِلَّا حرف استثناء په معنیٰ دَ غَیْرُ صفتی . نو تقدیر دَ عبارت دا دَ نکه شو غَیْرُ اللّٰهِ . غیر مضاف لفظ دَ الله مضاف الیه مضاف مع المضاف الیه دا صفت شو دَپاره دَ موصوف چه اٰلِهَةٌ دے . موصوف مع صفت دا اسم مؤخر شو دَپاره دَ کَانَ . کَانَ مع اسم مؤخر مع الخبر مقدم دا جمله فعلیه فعل شرط . لَامُ تاکید فَسَدَ تَا صیغه دَ تثنیه مؤنثه غائبتین بحث فعل ماضی معلوم هُمَا دے ته فاعل شو . یا دغه الف دے ته فاعل شو . اصل خو الف دے چه هُمَا نه داغلے دے . فعل مع الفاعل دا جمله فعلیه خبریه جزاء شوه دَپاره دَ شرط . شرط مع الجزاء دا جمله فعلیه شرطیه - ای حرف تفسیر هم داغلے دے لیکن توجه ورته اوکړئ .

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ - لَا لنفی الجنس اِلٰهَ اسم دَ لَا شو . خبر ورته محذوف دے چه هغه مَوْجُوْدٌ دے . مَوْجُوْدٌ اسم مفعول ضمیر پکښې مستتر دے هغه ورته نائب دَ فاعل شو اسم مفعول مع نائب فاعل دا شبه جمله خبر شو دَپاره دَ لا لنفی الجنس . مع اسم او مع الخبر نه دا مستثنیٰ منهُ شو . اِلَّا حرف استثناء صفتی په معنیٰ دَ غَیْرُ شو . لفظ دَ الله ورته مستثنیٰ شوه . مستثنیٰ مع المستثنیٰ منه دا جمله اسمیه خبریه شوه -

## تَمَّتْ بِعَوْنِ الْمَلِكِ الْوَهَّابِ

اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الدُّعَاءِ ○ وَتَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ○ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ هٰذِهِ الرِّسَالَةَ الْمُشْتَمِلَةَ عَلَى الْقَوَاعِدِ النَّحْوِيَّةِ بَيْنَ الطُّلَّابِ وَالْعُلَمَاءِ مَقْبُوْلَةً ○ رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِيْ وَاغْسِلْ حَوْبَتِيْ وَاَجِبْ دَعْوَتِيْ وَثَبِّتْ حُجَّتِيْ وَسَدِّدْ لِسَانِيْ وَاهْدِ قَلْبِيْ وَاسْلُلْ سَخِيْمَةَ صَدْرِيْ

تاریخ په شپه دیکشنبه په ساعت دَ دولس بجو ۱۳۸۱/۱۱/۲۷ هـ ش ۱۴۲۳/۱۲/۱۵ هـ ق ۲۰۰۳/۲/۱۶ میلادی - د لوی اختر او په ورځ . دا رساله دَ ابو ستین ثناء عطاء الله بن ... (مدقق) فعلاً مدرس مدرسه احمدیه بابو کړئ . دا چه مالیکل دا زما دَ درجه تخصص د سعادت ابتدائی کال وُو . چه حضرت علامه شیخ الحدیث مفتی سیف الله صاحب مرادت ... په دا ... اخره ختمه کړې - او کتابت ئے دَ عبد اللطیف (اللطیفی) صاحب په قلم سره وشو .